فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

دووم جلد

افادات
محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله
مولانا مفتی **محمد فرید** رحمہ اللہ
جامعه دار العلوم حقانیه اکوڑه خٹک

تخریج وترتیب
مولانا مفتی انور شاه، مولانا مفتی احمد عباس
مدرس دار العلوم صدیقیه زروبی

ترجمه وکمپوزنگ
دار الترجمه وکمپوزنگ سنٹر
عبد الغنی پلازه محله جنگی پشاور

زیر سرپرستی
مولانا حافظ **حسین احمد صدیقی** نقشبندی
مهتمم دار العلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی

ناشر
مکتبه رشیدیه اکوڑه خٹک

دا کتاب pdf کول خالص

دالله (ج)

درضالپاره

دټولو لوستو نکو اوفائده

اخستونکو ددعا فه هيله

دکتاب نوم: فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (دووم جلد)

افادات: محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا مفتی محمد فرید مجددی زروبوی رحمه الله
شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب و تخریج: مولانا مفتی انورشاه، مولانا مفتی احمد عباس
دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه

معاون: مولانا مفتی عصمت الله حقانی

ترجمه وکمپوزنګ: دارالترجمه وکمپوزنګ سنټر
عبدالغنی پلازه محله جنګی پشاور

زیرنګرانی: برهان الدین صدیقی فاضل جامعه دارالعلوم کراچی
ایم اے عربی پشاور یونیورسټی (فون: ۰۳۴۴_۹۱۲۹۰۲۳)

مصححین: (۱) مولانا لطف الرحمن صاحب مدرس ونګران قاسم العلوم شبقدر
(۲) مولانا محمد یعقوب حقانی صاحب

ضخامت: ۶۱۴ صفحات

رومبی چهاپ: مئی ۲۰۱۴ء .... رجب ۱۴۳۵ھ

زیر سرپرستی: مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی
مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی (پاکستان)

ناشر: مکتبه رشیدیه سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

رابطه نمبر: ۰۳۴۴-۹۰۸۴۶۹۳

فهرست مضامین

صفحه	مضمون

كتاب البيوع

باب شرائط البيع وارکانه

باب البیع الفاسد والباطل

مضمون	صفحه

باب خیار العیب

مضمون	صفحه

باب الاقالة

باب بیع المرابحة والتولیة

باب الصرف والسلم

کتاب الرّبا ومسائل البنک

مضمون	صفحه

باب القرض والدین

مضمون	صفحه

باب الحقوق والاستحقاق

كتاب الوكالة والكفالة والحوالة

کتاب القضاء والدعوي

باب التحکیم

کتاب الشّهادة والیمین

كتاب الصّلح والاقرار

كتاب المضاربة

مضمون	صفحه

کتاب الشرکة

كتاب الاجارة

باب ما يجوز من الاجارة وما لا يجوز

صفحه	مضمون

باب اجرة الدلال والنوائب

......

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (اووم جلد)

﴿الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على خاتم الانبياء والمرسلين وعلى اله وصحبه اجمعين وعلى من تبعهم باحسان الى يوم الدين، اما بعد﴾

د الله رب العزت حد درجه شکر گزار یم، د شکریې د الفاظو راوړلو نه معذور یم او په زړه او نفس سره ډیر خوشحال یم چې د هغه په فضل او کرم سره د فتاوی فریدیه اووم جلد په منظر عام باندې راغلو، د الله پاک په دربار کې دعا کوم چې الله پاک دې مونږ ته په اخلاص سره په باقی جلدونو باندې د کار کولو توفیق راکړی.

یقینا ددې فتاوې منظر عام ته په راتلو کې احبابو ډیر انتظار کړې دې، خو د څه عوارضو او نامناسبو حالاتو په تجزیې سره دا په ډیره کمه موده کې وجود ته راغلو، چې په هغې کې د حضرت مفتی رحمه الله د وفات سانحه، د فتاوی فریدیه د نگران زما په مهربان استاذ مولانا مفتی سیف الله حقانی رئیس دار الافتاء دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک باندې د فالج حمله، د هرې مسئلې ترتیب او تخریج، کمپوزنگ او د هغې تصحیح او بعض نور سخت حالات خاص طور سره قابل ذکر دی او د دې ټولو نه علاوه د عاجز کم علمی او ناتجربه کاری هم ناقابل انکار ده.

چونکې مونږ ته په شروع کې د جلد نمبر ۴ مواد د ترتیب او تخریج دپاره راکړې شوې وو په دې وجه په هغې باندې کار ډیر مخکې تکمیل ته ورسیدلو او جلد نمبر ۲ موخر شو. د مخلصینو په دعاګانو سره به د نورو جلدونو دپاره انشاء الله ډیرې زر د انتظار ګړی ختمې شی. په دې جلد کې د کتاب البیوع نه تر د کتاب الاجارة پورې ابواب جمع شوې دی، اکثر د مسئلې دپاره د دوه کتابونو نه د حوالې ورکولو طریقه په عمل کې راوستلې

شوې ده، خو په بعض ځایونو کې د ضخامت نه د بچ کیدو دپاره په مشهور او معروف مسائلو کې په یوه حواله باندې هم اکتفاء کړې شوې ده.

الحمد لله حضرت مفتی صاحب رحمه الله ته د مسودې د تیارئ په وخت د دې جلد اکثر ابواب وښودلې شو او هغوی څو مسائل هم وکتل او د خوشحالئ اظهار ئې هم وفرمائیلو خو د بدقسمتئ نه دا جلد د هغوی په ژوند منظر عام ته رانغلو چې د هغوی د زړه د خوشحالئ مونږ هم نظاره کړې وې او د هغوی دعاګانې مو حاصل کړې وې، خو انشاء الله د حضرت مفتی صاحب د روح تسکین هم زمونږ دپاره د خوشحالئ باعث دې.

زمونږ د خواهش محور او مرکز اګر چې جنت ته اورسیدو، خو غمژنو زړونو ته دلاسه او تسلی ورکونکې او زمونږ په زخمونو باندې مرهم لګونکې د حضرت مفتی صاحب صلبی او روحانی جانشین مولانا خواجه حافظ حسین احمد صدیقی دامت برکاتهم او د حضرت مفتی صاحب د علومو امین او په فقه کې د هغوی جانشین حضرت مولانا سیف الله حقانی مدظله العالی موجودګی زمونږ دپاره د سکون او اطمینان باعث دې، چې د هغوی په رهنمائئ او دعاګانو سره مونږ د فتاوی فریدیه د ګلدستې نظاره کوو، الله پاک دې د هغوی په علم، عمل او عمر کې برکتونه اچولو سره د دنیا او آخرت خوشحالئ ورکړي.

حضرت مولانا مفتی سیف الله صاحب دامت برکاتهم سره د بیمارئ نه د دې جلد هره مسئله په ډیر غور سره وکتله او په بعض ځایونو کې ئې د مفید حواشی اضافه هم وکړه، الله پاک دې د مفتی صاحب سورې زمونږ په سرونو باندې د ډیر وخته پورې قائم او دائم وساتی او هغوی ته دې صحت کامله عاجله مستمره ورکړي. امین ویرحم الله عبدا من قال امینا.

واضحه دې وی چې بنده په دې جلد باندې انفرادا کار نه دې کړې بلکې ما سره زما د ترۀ ځوی حضرت مولانا مفتی احمد عباس مدرس دارالعلوم صدیقیه زروبئ هم اوږه په اوږه کار کړې دې. الله پاک دې د هغوی په علم او عمل کې ترقی نصیب کړي.

په آخر کې عاجز د هغه ټولو احبابو شکریه ادا کوی چې هغوی په څه طریقه هم معاونت کړې وی، بالخصوص مولانا حافظ ولی الرحمن صدیقی چې هغوی د کمپوزنګ کار ډیر په محنت سره وکړو او په پروف ریډنګ کې د مولانا احسان الله تانو او مولانا شکیل احمد حقانی چارسده او په نورو امورو کې د تعاون کونکی ورور محترم مولانا خالد عثمان حقانی، مولانا ارشد احمد حقانی او متعلم صدیم الله د زړه د تل نه مشکور یم او دعا کوم چې الله پاک دې هغوی ته د دواړو جهانونو نعمتونه ورکړی، رب کائنات دې زمونږ دا محنت په خپل دربار کې قبول او منظور کړی او دا کوشش دې زمونږ د استاذانو، مور پلار، خپلو خپلوانو او دوستانو ملګرو دپاره د آخرت ذخیره وګرځوی. آمین بجاه النبی الکریم صلی الله علیه وسلم

محتاج دعا

انورشاه عفی عنه

خادم العلم والافتاء بدارالعلوم صدیقیه زروبئ

۷ محرم الحرام ۱۴۳۳ھ

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

اووم جلد

کتاب البیوع

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

کتاب البیوع

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:
یٰٓاَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْکُلُوْٓا اَمْوَالَکُمْ
بَیْنَکُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَکُوْنَ تِجَارَۃً
عَنْ تَرَاضٍ مِّنْکُمْ قف
(سورۃ النساء)

كتاب البيوع

باب شرائط البيع واركانه

د طرفينو په رضا باندې مقرر کړې شوې ثمن مشروع دې او قابل اعتراض نه دې

سوال: څه فرمائی د شرع متين علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا خلق تېپوسان او باز په لکونو باندې خرڅوی چې په هغې سره په سمندرونو کې مارغان نيسي بيا يې په څو اربونو باندې خرڅوی نو آيا دا معامله جائز ده يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عبدالحميد ايس وی معلم گورنمنټ هائی سکول
جنوبی وزيرستان ضلع ډيره .... ۲۱/رمضان ۱۴۰۳ھ.

الجواب: د طرفينو په رضامندئ چې کوم ثمن مقرر شی هغه مشروع دې[1] که د لکونو تعداد ته رسيدلې وی يا کروړنو پورې. **وهوالموفق.**

مشتبه امورو کې پرېوتل د مسلمان د شان خلاف دی

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې حکومت ځای په ځای ټاؤن جوړوی، د يو قانون د لاندې ځمکه حاصلوی، بيا د هغې نه قلعه

---

۱) وفي الهندية: اما تعريفه فمبادلة المال بالمال بالتراضي.
(هنديه ۳: ۲ الباب الاول في تعريف البيع)
وقال العلامة الحصكفي: وشرعا (مبادلة شئ مرغوب فيه بمثله) ... (علي وجه مفيد (مخصوص) اي بايجاب اوتعاط. وقال العلامة ابن عابدين: (قوله مرغوب فيه)... نعم زاد في الكنز بالتراضي.
(شامي ۴: ۵،۴ قبيل مطلب في بيع المكره والموقوف)

جوړولو سره خرڅوي. که د ځمکې مالکان غواړي یا نه؟ ځمکه په مقرر شوي نرخونو باندې د حکومت په لاسونو خرڅولې شي. نو آیا په شریعت کې داسې پلاټونه اخستل جائز دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: پروفیسر حکیم گورنمنټ کالج کرک. ۲۲/ رمضان ۱٤۱۰ھ

الجواب: په داسې مشتبه څیزونو کې پریوتل بغیر د ضرورت نه د مسلمان د شان سره مناسب نه دي (۱) وهوالموفق

د پیشگی پیسو ورکولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې پیشگی پیسې ورکول څنګه دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: نورالحق

الجواب: پیشگی رقم ورکول ممنوع نه دي (۲) (۳) خو بیع المعدوم (کوم شی چې موجود نه وي) ناجائز ده (٤) وهوالموفق.

۱) عن النعمان بن بشير قال: قال رسول الله ﷺ... فمن اتقي الشبهات استبرأ لدينه وعرضه ومن وقع في الشبهات وقع في الحرام... الخ. وفي المرقاة: وفي شرح السنة هذا الحديث اصل في الورع وهو ان ما اشتبه امره في التحليل والتحريم ولا يعرف له اصل متقدم فالورع ان يتركه ويجتنبه. (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ٦:٣٧ باب الكسب)

۲) قال العلامة ابن عابدين: ولو اعطاه الدراهم وجعل يأخذ منه كل يوم خمسة امناء ولم يقل في الابتداء اشتريت منك يجوز وهذا حلال وان كان نيته وقت الدفع الشراء لانه بمجرد النية لا ينعقد البيع وانما ينعقد البيع الآن بالتعاطي والآن المبيع معلوم فينعقد البيع صحيحا. (شامي ٤:١٤ قبيل مطلب في بيع الاستجرار)

۳) جبکہ پیشگی کی وجہ سے مروجہ ثمن میں کمی نہ کی جاری ہو. (امداد الفتاوي) (مفتي سيف الله حقاني)

٤) وفي الهندية: ومنها في المبيع وهو ان يكون موجودا فلا ينعقد بيع المعدوم وماله خطر العدم. (فتاوي عالمگبرية ٤:٢ الباب الاول في تعريف البيع وركنه)

په مبیع کښې د زیادت راتلو نه پس په ثمن کښې د اختلاف حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې یو چیلی خرڅه کړې شوه د هغې بچی هم پیدا شو. اوس د بائع او مشتری په ثمن کښې اختلاف شو. آیا تحالف (دواړو نه قسم ورکول) به وی که یو ته به حلف (قسم) ورکولې شی. بینواتوجروا

المستفتی: هیډ ماستر صاحب پانړه سراب.... ١٠ محرم الحرام ١٣٩٥ھ

الجواب: په صورت مسئوله کښې به مشتری قسم خوری. د تحالف حکم به نه جاری کیږی کمافی الدر المختار مع ردالمحتار ٤٣١/٤ (١) وهوالموفق

په حرام مال باندې یو څیز اخستل

سوال: څه فرمائی علماء دین شرع متین د دې مسئلې په باره کښې چې یو سړی څه خمکه اوکور واخستلو اوکومې پیسې ئې چې اداکړې هغه د جوارئ وې. په دې صورت کښې به دا اخستل او خرڅول صحیح وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد دوست مدرسه رحمانیه شینکا اټک

لزد بهبودی ٢٤ شعبان ١٤٠٣ھ

الجواب: چونکې مشهوره داده چې د اخستلو خرڅولو په وخت د ثمن تعین

---

١) قال العلامة الحصكفي: (ولا) تحالف اذا اختلفا (بعد هلاک المبیع او خروجه عن ملكه او تعیبه بما لا یرد به (وحلف المشتري). قال العلامة ابن عابدین: (قوله اذا اختلفا) اي في مقدار الثمن... (قوله او تعیبه الخ) فیه انه داخل في الهلاک لانه منه تامل ثم ان عبارتهم هكذا او صار بحال لا یقدر علي رده بالعیب قال في الكفایة بان زاد زیاده متصلة او منفصلة اي زیادة من الذات كسمن وولد وعقر.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٤: ٤٧٩ باب التحالف)

(بالاشاره) نه وی لهذا دا اختستل او خرڅول صحیح دی.(۱) خو په دې اختستونکی باندې لازم دی چې هغوی هغه د مال خاوندانو ته د هغوی مالونه (د جوارئ مال) واپس کړی او که نامعلوم وی نو هغه مالونه دې په مسکینانو باندې نقد صدقه کړی.(۲) وهوالموفق

یو څیز مختلف ګاهکونو ته په مختلفو قیمتونو باندې ورکول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دولس ګزه تهان (توټه) دې، بائع یو ګاهک ته په دولس انې ګز ورکړو، دویم ته ئې په یو

۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله اكتسب حراما الخ) توضيح المسئلة ما في التتارخانية حيث قال رجل اكتسب مالا من حرام ثم اشتري فهذا علي خمسة اوجه اما ان دفع تلك الدراهم الي البائع اولا ثم اشتري منه بها او اشتري قبل الدفع بها ودفعها او اشتري قبل الدفع بهاودفع غيرها او اشتري مطلقا ودفع تلك الدراهم او اشتري بدراهم اخر ودفع تلك الدراهم قال ابو نصر يطيب له ولا يجب عليه ان يتصدق الا في الوجه الاول... وقال الكرخي في الوجه الاول والثاني لا يطيب وفي الثلاث الاخيرة يطيب... لكن الفتوي الآن علي قول الكرخي دفعا للحرج عن الناس.

(ردالمحتار ۴: ۲۴۴ مطلب اذا اكتسب حراما ثم اشتري فهو علي خمسة اوجه)

۲) قال العلامة ابن عابدين: وفي منية المفتي مات رجل ويعلم الوارث ان اباه كان يكسب من حيث لا يحل ولكن لا يعلم الطالب بعينه ليرد عليه حل له الارث والافضل ان يتورع ويتصدق بنية خصماء ابيه وكذا لا يحل اذا علم عين الغصب مثلا وان لم يعلم مالكه لما في البزازية اخذ مورثه رشوة او ظلما، ان علم ذلک بعينه لا يحل له اخذه والا فله اخذه حكما اما في الديانة فيتصدق به بنية ارضاء الخصماء اه، والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه.

(شامي ۴: ۱۴۶ مطلب فيمن ورث مالاحراما)

روپئ او دریم ته ئې په یو روپئ خلور انې باندې ګز ورکړی، آیا داسې کول صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...

الجواب: کله چې بیع د دروغو او دهوکې نه خالی وی نو متعاقدین چې په کوم قیمت باندې راضی شی په دې کې هیڅ باک نشته.(۱) لان الممنوع هو الغرر والکذب لحدیث بذلك.(۲) وهوالموفق

---

۱) وفي الهندية: واما تعريفه فمبادلة المال بالمال بالتراضي.
(هندية ۳:۲ الباب الاول في تعريف البيع)
قال العلامة ابن عابدين: بل التراضي شرط لثبوت حكمه شرعا وهو الملك.
(ردالمحتار ۷:۴ قبيل مطلب في حكم البيع مع الهزل)
۲) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: نهي رسول الله ﷺ عن بيع الحصاة وعن بيع الغرر رواه مسلم.
(مشكواة المصابيح ۱:۲۴۷ باب المنهي عنها من البيوع)
وعن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ عليكم بالصدق فان الصدق يهدي الي البر وان البر يهدي الي الجنة وما يزال الرجل يصدق ويتحري الصدق حتي يكتب عند الله صديقا واياكم والكذب فان الكذب يهدي الي الفجور وان الفجور يهدي الي النار وما يزال الرجل يكذب ويتحري الكذب حتي يكتب عند الله كذابا، متفق عليه. (مشكواة المصابيح ۴۱۲ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)
وقال العلامة الحصكفي: وشرعا (مبادلة شيئ مرغوب فيه بمثله... (علي وجه مفيد (مخصوص) اي بايجاب او تعاط. وقال ابن عابدين: (قوله مرغوب فيه)... نعم زاد في الكنز بالتراضي.
(ردالمحتار مع الدرالمختار ۴:۴،۵ قبيل مطلب في بيع المكره والموقوف)

د اراضی په انتقال نه کولو باندې هم مبیع د مشتري ملکیت دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې حاجی میاں او د هغه خور حسن جان خپل پنځلس کناله او درې مرلې ځمکه د دوه ګواهانو په مخکې محمد اسلم باندې خرڅه کړه. ګواهان اوس وفات شوې دی. او پیسې ئې هم وصول کړی دی. هغه وخت د اشتمال اراضی په وجه باندې انتقال وغیره بند وو په دې وجه هغه وخت د ځمکې انتقال د محمد اسلم په نوم باندې ونشو خو په ټوله ځمکه باندې ئې قبضه وکړه. د انتقال د آزادیدو نه پس کله چې محمد اسلم د مبیع د انتقال مطالبه وکړه نو دواړه ورور خور د زمکې د بیع نه منحرف شو، د ډیرو لانجو نه پس د اته کناله او درې مرلو انتقال وشو خو د اووه کنالو نه انکاری شو. د حاجی میاں د وفات نه پس د درې نیمو مرلو ځمکه د میراث په طور د هغوی لور ریشم جان ته ملاؤ شوه او نوره درې نیم کناله محمد اسلم ته ملاؤ شوه. آیا د شریعت په رڼا کې اووه کناله ځمکه محمد اسلم ته ملاویدل پکار وو؟

۲: کوم میراث چې محمد اسلم ته ملاؤ شو د هغه دپاره دا جائز دې یا نه؟

۳: د خپل متوفی پلار د آخرت د برابرولو دپاره ریشم جان له دا ځمکه د هغې شرعی مالک محمد اسلم ته حواله کول پکار دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اسلم پرنسپل فلینګ فیکټری P.O.F واه کینټ. ۱۹۸٦ء/ ٦/ ٢٤

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا ټوله ځمکه د هغه مشتری ملکیت دې په دې کې د ریشم جان هیڅ شرعی حق نشته (۱) **وهوالموفق**

---

(۱) وفي شرح المجلة: البيع ينعقد بايجاب وقبول.

(شرح المجلة ۲: ۲۷ المادة: ۱٦۷ الفصل الاول فيما يتعلق بركن البيع)

وفي الهندية: واما حكمه فثبوت الملک في المبيع للمشتري وفي الثمن للبائع.

(هندية ۳: ۳ كتاب البيوع، الباب الاول في تعريف البيع وركنه الخ)

په کاغذاتو کښې د بل چا په نوم باندې اخستلو کې د مشتري په ملکیت باندې هیڅ اثر نه پریوځي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما په دوه ترونو کې یو مشر دې او دویم کشر، چې دواړه وفات شوې دی. والد صاحب د هغوی مینځنې ورور وو، دې درې وارو د پلار په مشرئ کی کارونه کول. یعنی په شراکت کې هغوی پیسې جمع کړې او د ځمکې د اخستلو پروګرام ئې جوړ کړو، زمونږ د مشر ترهٔ وادهٔ د کلی نه درې څلور میله لرې په موچند نومې ځای کې وشو او هلته هغه ته ځمکه د اخستلو دپاره ملاؤ شوه خو چونکې انتقال زمونږ د نیکهٔ په نوم باندې ونشو په دې وجه د مشر ترهٔ د ښځې په نوم وکړې شو په دې شرط چې د شفعې نیته تیره شی نو دا ځمکه به زمونږ په نوم لیکلې شی خو کله چې نیته راغله نو قباله غلط قسم وه او د بل سړي په نوم باندې وه، عدالت دا فیصله وکړه چې په دې دوران کې یعنی په خاص موده کې هغه سړې حاضر نه شو نو جائیداد به ستاسو وی. جائیداد تقریبا لس مرلې او یو کنال دی او بل چې مونږ کوم اخستلې وو هغه یو مرله او یو کنال دې او هغه هم د هغه زنانه په نوم دې، اوس تقریبا شل کاله د دې خبرې وشو هغه زنانه په دې جائیداد باندې قابض ده او انتقال د هغې په نوم باندې دې، په شریعت کې د دې فیصلې څه حکم دې؟ مهربانی وکړئ د دې مسئلې جواب را کړئ. بینواتوجروا

المستفتي: مظفر خان پشاور ۱۹۷۲ء/۲/۳۰

الجواب: په صورت مسئوله کې که ایجاب او قبول یا تعاطی، د هغه ورونو او د بائع ترمینځه متحقق شوې وی نو بیشکه دا ځمکه به د دې ورونو ملکیت وی.(۱) په دې زنانه باندې ضروری ده چې دا ځمکه باقاعده د خپل

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله وحکمه ثبوت الملک) اي في البدلین لکل منهما في بدل وهذا حکمه الاصلي والتابع وجوب تسلیم المبیع والثمن.
(ردالمحتار ۴:۶ کتاب البیوع)

نوم نه منتقل کړی او که دې وروڼو د هغه زنانه په نوم باندې اخستلې وی نو بیا هم دا حکم دې. ﴿لما فی الدر المختار فی فصل الفضولی والحاصل انه بیعه موقوف الا فی هذه الخمسة فباطل قید بالبیع لانه لو اشتری لغیره نفذ علیه، قال العلامة الشامی ای علی المشتری. (١٣٤/٤)﴾ ⁽¹⁾ او که هغې زنانه په خپل نوم باندې اخستلې وی نو دا ملکیت د هغې زنانه دې او پیسې به په هغې باندې قرض وی. ⁽²⁾ فقط. وهوالموفق

په سیل (بند) شوې ځیزونوکې د ملاوټ په صورت کې مجرم څوک دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین په دې مسئله کې چې د حکومت رجسټر شوې اداری، چې د هغوی نه حکومت ټیکس اخلی، د هغه ادارو سربند مهر شوې ځیزونه مثلا چائې د چینو بند سیل شوې بورئ، د وریژو سیل شوې بورئ، کورکمان، مرچ، مصالحه جات، په بندو ډبو کې بسکټ وغیره ځیزونه دکاندار په دې بند حالت کې د دې ادارو نه یا د لویو دکاندارانو نه اخلی او بیا ئې وړاندې خرڅوی، بیا د دې وړو دکاندارانو نه نمونې حاصلولو سره

١﴾ (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴: ۱۵۶ فصل في الفضولي)

وفي الهندية: اذا باع الرجل مال الغير عندنا يتوقف البيع علي اجازة المالک... ولو اشتري لغيره نفذ عليه.

(فتاوي هندية ۳: ۱۵۲ الباب الثاني عشر في احكام البيع الموقوف)

وفي الخلاصة: اذا اشتري شيئاً لغيره هذا علي وجوه ان قال البائع بعت هذا من فلان وقال الفضولي قبلت او اشتريت لفلان اولم يقل لفلان يتوقف ولو قال بعت منک فقال الفضولي اشتريت او قبلت لفلان لا يتوقف وينفذ عليه بالاتفاق.

(خلاصة الفتاوي ۳: ۸۴ كتاب البيوع، شراء الفضولي)

٢﴾ وفي الهندية: واما حكمه فثبوت الملک في المبيع للمشتري وفي الثمن للبائع اذا كان البيع باتا. (فتاوي عالمگيرية ۳: ۲ كتاب البيوع، الباب الاول)

ئې د حکومت کارکنان يوسى که په هغې کې ملاوټ وى نو لويه جرمانه وصولولې شى، د پوښتنې مسئله داده چې آيا په دې صورت کې شرعا ماخوذ دواړه دکانداران دى يا هغه ادارې کوم چې دې څيزونو لره سيل کولو سره مهرلګولونه پس دکاندارانو باندې خرڅوى حال دا چې په بندو څيزونو کې د ملاوټ تقريبًا دې دکاندارانو ته علم نه وى، شرعا وضاحت وفرمايئ؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمد اسماعيل آف ايبټ آباد...... يكم اكتوبر ١٩٨٨ء

الجواب: په ملاوټ باندې د علم کيدو نه پس که دا دکاندار اخستونکى ته د ملاوټ (خلط کولو) نقص ښکاره کړى نو دا دکاندار صرف قانونى مجرم دې اسلامى مجرم نه دې (١) والله اعلم بالصواب

د ايجاب او قبول نه بغير صرف نرخ مقرر کول بيع نه ده

سوال: څه فرمائى علماء کرام په دې مسئله کې چې مونږ د خپل جائيداد اختيار نامه عمر حيات ته ورکړې وه، په کرک کې مو د افسر دستخط هم واخستلو، او بيا کراچۍ ته د روزګار دپاره لاړم نو عمر حيات ډير په ارزان قيمت باندې معراج ګل ته د دوه زره او دوه سوه روپئ کنال په حساب سره ورکړه، مونږ ته په کراچۍ کې چا د دې خبر راکړو او ويې ويل چې که تاسو ١٢/٢/٨٠ باندې د کرک جج ته ونۀ رسيدلې نو ستاسو دغه درې کناله او اووۀ مرلې زمکې تصديق به خرڅ شى (٢) لهذا مونږ د کراچۍ نه د کرک د

---

١) وعن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال من حمله علينا السلاح فليس منا ومن غشنا فليس منا (الصحيح لامام المسلم ١: ٧٠ باب قول النبي ﷺ من غشنا فليس منا)

وفي شرح المجلة: اذا ذكر البائع ان في المبيع عيب كذا وكذا وقبل المشتري مع علمه بالعيب لا يكون له الخيار بسبب ذلك العيب.

(شرح المجلة ٢: ٣٠٢ المادة: ٣٤١ اذا ذكر البائع ان في المبيع عيب)

٢) ما في الجواب ددې جملې نه مستنبط معلوميږى. (مفتى سيف الله حقانى)

جج په نوم باندې درخواست ولیږلو چې دا اختیار نامه ختنمه (Cancel) شي او تصدیق هم، نو جج دواړه ختمه (Cancel) کړل. اوس عرض دا دې چې دا ځمکه د معراج گل شوه او که زمونږه؟ بینواتوجروا

المستفتي: میر سلیمان صورق کله کرک.....٢٥ ربیع الاول ١٤٠٢هـ

الجواب: په صورت مسئوله کې ظاهرا صرف نرخ مقرر کړې شوې دې او وعده کړې شوې ده نه ایجاب او قبول شوې دې او نه تعاطی شوې ده، دې معاملې ته به بیع نه شي ویلې.(١)

نوټ: موکل کله چې وکیل معزول کړي او اختیار نامه منسوخ کړي نو وکیل پردې شي او د هغه اختیار ختم شي.(٢) وهوالموفق

د بلیک تعریف او د هغې حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بلیک څه تعریف دې؟ او دا جائز دې او که ناجائز؟ د دې په تفصیل لیکلو باندې د شکریه ادا کولو موقع راکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد شریف تحصیل هنگو، تل ضلع کوهاټ.....٢٨ محرم ١٤٠١هـ

الجواب: د کومو څیزونو اخستل خرڅول چې حکومت ممنوع کړې وي نو د

---

(١) قال العلامة الحصكفي: وشرعا مبادلة شيئ مرغوب فيه بمثله... علي وجه مفيد مخصوص اي بايجاب او تعاط... ويكون بقول او فعل.

(الدر المختار ٤: ٥٤ كتاب البيوع، قبيل مطلب شرائط البيع الخ)

(٢) قال العلامة المرغيناني: للموكل ان يعزل الوكيل عن الوكالة لان الوكالة حقه فله ان يبطله... فان لم يبلغه العزل فهو علي وكالته تصرف جائز حتي يعلم لان في العزل اضرار به من حيث ابطال ولايته.

(الهداية ٣: ١٩٩ باب عزل الوكيل)

هغې اخستلو او خرڅولو ته بلیک او سمګلنګ (غلا) وائی.(١) په موجوده دور کې بلیک کول صرف قانونی جرم دې ځکه چې په دې سره انتظام ته نقصان رسیږی په کومو ملکونو کې چې د ارتداد دروازې خلاصې وی او د اسلامی نظام نه مخالفت او مقابله ممنوع نه وی نو په داسې ملکونو کې به بادشاهان د څه کردار په صله کې واجب الاطاعة شی؟(٢) وهوالموفق

د ځمکې په کم راختلو مشتری بائع ته رجوع کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء کرام په دې مسئله کې چې یو سړی خپله ځمکه خرڅه کړه نو د هغه نزدې ګاونډی په خرڅه شوې ځمکه باندې شفعه وکړه نو په شفعې سره ځمکه هغه ته ملاؤ شوه د ځمکې اولنې قیمت زر روپۍ فټ مقرر وو، هم په دې قیمت باندې هغه ځمکه واخستله، اول مشتری ته هغه پنځه سوه روپۍ پرینبودلې وې یعنی په پنځه نیم زره ئې خرڅه کړې وه او د خرڅولو په وخت بائع ویلې هم وو چې ځمکه ناپ کړئ، خو دویم مشتری وویل چې هیڅ ضرورت نشته د دې نه وروستو کله چې ځمکه ناپ کړې شوه نو یو نیم فټ کمه وختله آیا د دې پیسې واپس کیدې شی؟ بینواتوجروا

المستفق: حضرت جمال حقانی خطیب جی ټی ایس لوشهره... ۱۹۸۵ء/۷/۲۵

---

١) قال المولوي فیروز الدین: بلیک مارکیټ: د مقرره قیمت نه په زیاده قیمت باندې په پټه مال خرڅول (فیروز اللغات ٢١٤ ب، ل)

٢) وقال الدکتور وهبة الزحیلي: وحدد الماوردي واجبات المسلمین نحو الحاکم بامرین وهما، (١)الطاعة في غیر معصیة، (٢) النصرة مالم یتغیر حاله، فقال اذا قام الامام بما ذکرنا من حقوق الامة فقد ادي حق الله تعالي فیما لهم وعلیهم، ووجب له علیهم حقان الطاعة والنصرة مالم یتغیر حاله... وبذل الطاعة مشروط بقیام الحاکم بواجباته التي ذکرت سابقا ومضمونها التزام اوامر الشریعة. (الفقه الاسلامي وادلته ٨: ٦١٩٠ حقوق الامام الحاکم)

الجواب: که د فتوارئ په حساب سره اخستل خرخول شوي وي نو دویم مشتری به په هغه بائع باندې رجوع کوی.(۱) **وهوالموفق**

په دروغه باندې حاصل شوې مال مملوک وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د یو ډسترکټ ممبر نه سیمنټ پرمټ (رسید) دوه سوه د سیمټو بورئ د دې غرض دپاره واخستلې چې پنځوس بورئ به خپله استعمالوم، او باقی یو نیم سل بورئ به په ګټه باندې خرڅوم یا د مدرسې دپاره به ئې خرڅ کړم؟ نو آیا دا ګټه د ذاتی اخراجاتو دپاره لګول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حافظ محمد ایوب...... ۳۰ رجب ۱۴۰۵ھ بمطابق ۲۱ اپریل ۱۹۸۵ء

الجواب: دروغ ویونکې مجرم او ګنهګار وی.(۲) خو په دروغو ویلو سره اخستل شوې مال مملوک وی دا مالک د دې د اخستلو او خرڅولو مختار وی. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي: وان قال في بيع المذروع كل ذراع بدرهم اخذ الاقل بحصته بصيرورته اصلا بافراده بذكر الثمن او ترك لتفريق الصفقة، (درمختار). وقال العلامة ابن عابدين: (قوله المذروع) كثوب وارض (درمنتي).

(درمختار مع ردالمحتار ۴: ۳۴، ۳۵ كتاب البيوع)

وقال العلامة الكاساني: وعلي هذا جميع المذروعات من الارض والخشب... وان سمي لكل ذراع ثمنا علي حدة بان قال كل ذراع بكذا فالبيع جائز... وان وجده انقص تسقط حصته من الثمن.

(بدائع الصنائع ۴: ۳۶۳ كتاب البيوع، حكم المذروعات من الثوب والارض)

۲) قال العلامة ابن عابدين: ان كل مقصود محمود يمكن التوصل اليه بالصدق والكذب جميعا فالكذب فيه حرام. (ردالمحتار ۵: ۳۰۲ قبيل كتاب أحياء الموات)

په لرګی اخستلو کښ یو فیصده حصه بغیر د پیمائش نه ورکول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه وانا (وزیرستان) کې په بعض منډو کې د لرګو سوداګر کله چې لرګې اخلی نو په پیمائش کې مثلا یو فیصده حصه بغیر د پیمائش نه اخلی، بعض علماء کرام دې ته ربوا وائی، لهذا شرعا دا معامله څنګه ده.؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم......طالب علم حقانیه

الجواب: چونکې د پیمائش په ذریعه صرف قیمت معلوموړلې شی او مبیع مجموعه لرګې وی نه هر یو فټ، لهذا په دې معامله کې هیڅ ګناه نشته خصوصا کله چې دعرف په بناء دا اکرام او مسامحه کې داخل دې (۱)، (۱)

وهوالموفق

---

(۱) عن جابر بن عبد الله رضي الله تعالیٰ عنهما ان رسول الله ﷺ قال رحم الله رجلا سمحا اذا باع واذا اشتري واذا اقتضي.

قال العلامة العيني رحمه الله تعالیٰ : تحت هذا الحديث: وفيه الحض علي المسامحة وحسن المعاملة.

(عمدة القاري شرح الصحيح للامام البخاري ۱۸۸،۱۸۹: ۱۱ باب السهولة والسماحة في الشراء والبيع)

قال العلامة سليم رستم باز: حط البائع مقدارا من الثمن المسمي بعد العقد صحيح ومعتبر. (شرح المجلة ۲: المادة ۲۵۶)

وقال رحمه الله تعالیٰ: كذلک لو باع من ارضه الف ذراع بعشرة آلاف قرش ثم بعد العقد زاد البائع مائة ذراع وقبل المشتري في المجلس فتملک رجل الارض المبيعة بالشفعة كان لهٰذا الشفيع اخذ جميع الالف ومائة ذراع المبيعة والمزيدة بعشرة آلاف قرش. (شرح المجلة ۱۸۵: ۲ المادة ۲۵۸)

وقال ایضا : اذا حط البائع من ثمن المبیع مقدارا کان جمیع المبیع مقابلا للباقي من بعد التنزیل والحط مثلا لو بیع عقار بعشرة آلاف قرش ثم حط البائع من الثمن الف قرش کان ذلک العقار مقابلا لتسعة آلاف قرش الباقیة.

(شرح المجلة ۱۸۷:۲ المادة ۲۶۰)

۱) او عرف شرعاً معتبر دي، په عقود رسم المفتی کي دی:

والعرف في الشرع له اعتبار

ولذا علیه الحکم قد یدار

(مفتی سیف الله حقانی)

باب البیع الفاسد والباطل

د عقد بیع په وخت د ثمن د نه معلومیدو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د مکئ (ګیډئ) په عمر باندې خرڅې کړې. د خرڅولو په وخت زید اخستونکی ته وویل چې د دې حجم د عام (ګیډو) نه زیات دې، مشتری وویل صحیح ده زیات دې خو قیمت مقرر نه شو. تقریبا څلور میاشتې پس ئې یو بل سره حساب وکړو نو اخستونکی عمر د زیات قیمت د ورکولو نه انکار وکړو او وبې ویل چې زه خو به د عام قیمت مطابق پیسې درکوم، د دې شرعی حل څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی محمد فهیم احاطه نمبر ۱۲ سرور روډ نوبنار

۵ ربیع الاول ۱۴۰٤ھ بمطابق ۱۱ دسمبر ۱۹۸۳ء

الجواب: دا بیع فاسد ده (۱) په مشتری باندې ضروری ده چې مناسب قیمت بائع ته ورکړی (۲) والله اعلم

---

۱) و في الفتاوي الخانيه : و لو باع و سكت عن ذكر الثمن كان فاسدا. (الفتاوي الخانيه علي هامش الهندية ۱۳۴ : ۲فصل في البيع الباطل) (و مثله في تنقيح الحامدية ۲۶۰ : ۱)

و في الدرالمختار : و فسد بيع ما سكت اي وقع السكوت فيه عن الثمن كبيعه بقيمته. (در مختار ۱۱۸ : ۴باب البيع الفاسد)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي : و اذا قبض المشتري المبيع برضا بائعه صريحا او دلالة في البيع الفاسد ولم ينهه البائع عنه ملكه بمثله ان مثليا و الا فبقيمته يعني ان بعد هلاكه او تعذر رده يوم قبضه.

(در مختار مختصرا ۱۳۸ : ۴ ، ۱۳۹ ، ۱۴۰ قبيل مطلب ردالمشتري فاسدا الي بائعه فلم يقبله)

د هبه کړې شوې ځمکې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا هبه کړې شوې ځمکه خرڅیدلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: شوکت علی خیبر بازار پشاور..... ۱۹۷۵ء/۸/۲۷

الجواب: د باقاعده هبه کیدو نه پس موهوب له هغه موهوبه ځمکه خرڅولې شی. لانها سبب الملك عند القبض.(۱) وهوالموفق

د نهر د اوبو خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو نهر د څلورو کسانو دې د هغې په شروع کې یوه ځمکه ده د چا حق چې په هغه نهر کې نشته، اوس په دې څلورو کسانو کې درې کسان په دې نهر کې حق نه لرونکی باندې اوبه خرڅوی خو یو سړې انکار کوی نو آیا د دې اوبو په دې صورت کې خرڅول جائز دی. بینواتوجروا

المستفتی: وزیر محمد بلوچستانی...۱۴۰۱/۶/۱۸

الجواب: دا بیع ناجائز ده، اوبه د احراز نه مخکې نه شی خرڅولې.

---

۱) و في الهندیه :و اما شرائطها ... منها ان یکون الموهوب مقبوضاحتي لا یثبت الملک للموهوب له قبل القبض واما حکمها فثبوت الملک للموهوب له.

(فتاوي هندیه ۳۷۴: ۴کتاب الهبه ،الباب الاول في تفسیر الهبه)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: و شرط المعقود علیه ستة ... کون الملک للبائع فیما یبیعه لنفسه... فلم ینعقد بیع ما لیس مملوکا له.

(ردالمحتار ۶: ۴کتاب البیوع ، مطلب شرائط البیع انواع اربعة)

لعدم الملك عليه، كما في شرح المجلة ص٨٨ (١) وهوالموفق

د شرابو اخستل او خرڅول او د جوارئ نه د حاصل شوی مال حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په کفارو باندې د شرابو خرڅول جواز لري او کنه؟ او د جوارئ نه د حاصل شوې مال څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خٹک اپریشن انگلینڈ.... ۱۹۷٦ء/۳/۱۷

الجواب: د مسلمان دپاره د شرابو خرڅول حرام او بیع باطل ده اګر چې په کفارو باندې خرڅولې شی، د دې متعلق حدیث هم راغلې دې ﴿ وهوان رسول الله ﷺ حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والاصنام...... متفق عليه ﴾(٢) او روایات فقهیه هم راغلی دی، (٣) بله دا چې د جوارئ په ذریعه حاصل شوې مال حرام دې، قال الله تعالى فى حقه: رجس من عمل الشيطان.(٤) د مردارې او د شرابو حکم یو دې لکه چې په مخکې حدیث کې صراحت دې. داسې مالونه خپلو مالکانو ته واپس کول ضروری دی او د مالکانو د نه کیدو په وخت ئې په مسکینانو طالبانو وغیره باندې صدقه کول ضروری دې (٥) په دې کې زکاة وغیره نه واجبیږی. وهوالموفق

---

١) و قال العلامة خالد الاتاسي رحمه الله تعالي: و بقي عليه من الشروط الستة المذكورة الشرط الرابع و هو كونه مملوكا في نفسه فيبطل بيع ما ليس بمملوك في نفسه كالحر ... والماء في نهر و بئر والصيد والحطب والحشيش قبل الاحراز (شرح المجله ٨٨: ٢، المادة ١٩٩)

٢) (مشكوة المصابيح ٢٤١ باب الكسب و طلب الحلال)

٣) و قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي: و بطل بيع مال غير متقوم كخمر و خنزير و ميتة. (الدر المختار ١١٦، ١١٥: ٤ باب البيع الفاسد)

٤) (سورة المائدة آيت ٩٠)

٥) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي: والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له و يتصدق به بنية صاحبه. (ردالمحتار ١٤٦: ٤ مطلب فيمن ورث مالا حراما)

د ونو د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: مایقول العلماء فی المسئلة الآتیة:(١) هل یجوز بیع الاشجار فی الارض الموقوفة قبل القلع ام لا؟(٢) فی صورة الایجاب ماذا نفعل بثمنه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ....١٠ جمادی الثانی ١٤٠٥ھ

الجواب: جاز بیع الاشجار مطلقاً اذا کان موضع القلع معلوماً، نعم لا یجوز اذا بیعت مع الارض الموقوفة، وعرف دیارنا البیع بلا ارض وکذا مع الاصل الداخل فی الارض فلا خفاء فی الجواز، هذا هو مأخوذ من جزئیات کتاب البیوع وکتاب الوقف من ردالمحتار (١) والهندیه(٢) والخلاصة(٣) فلیراجع. وهوالموفق

---

١ ﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي: اشتري شجرة للقلع يؤمر بقلعها بعروقها و ليس له حفر الارض الي انتهاء العروق بل يقلعها علي العادة الا ان شرط البائع القطع علي وجه الارض ... و لو اشتري نخلة و لم يبين انها للقلع او للقرار، قال ابو يوسف: لا يملك ارضها و ادخل محمد ما تحتها و هو المختار و ان اشتراها للقطع لا تدخل الارض اتفاقا و ان للقرار تدخل اتفاقا.

(رد المحتار ٤٢: ٤مطلب في بيع الثمر والزرع والشجر مقصودا)

٢ ﴾ و في الهنديه: اشتري اوراق التوت ولم يبين موضع القطع لكنه معلوم عرفا صح .(هنديه ١٠٧: ٣الفصل الثاني في بيع الثمار و انز ال الكروم)

٣ ﴾و في الخلاصة: و اما بيع الاشجار الموقوفة مع الارض فلا يجوز قبل القلع كبيع الارض و بعد القلع يجوز و هكذا نقل عن الفضلي رحمه الله تعالي و قال ايضا الاشجار الموقوفة اذا كانت غير مثمرة يجوز بيعها قبل القلع لانها هي الغلة.

(خلاصة الفتاوي ٤١٩: ٤كتاب الوقف)

د وینې د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا زمونږ په علاقه کې په بعض ځایونو کې د ځناورو وینه خرخیږی بیا هغه په نورو ځیزونو کې ګډولو سره د چرګانو فارم باندې خرڅوی، په شریعت کې د دې حکم څۀ دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: صوفی محمد یعقوب باره هوتی مردان ...... ۱۲ ذوالقعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: واضحه دې وی چې د وینې اخستل او خرڅول حرام دی. کمافی شرح التنویر وبطل بیع ما لیس بمال کالدم المسفوح، هامش رد المحتار ۱۰۰/۴ (۱) وبمعناه فی جمیع کتب الفقه. (۲) پس په صورت مسئوله کې چونکې وینه په هر صورت کې باقی ده د هغې حقیقت نه بدلیږی او بله دا چې څه ضرورت هم ورته نشته لهذا دا معامله حرامه ده. بخلاف ما تغیر الی المسك. (۳) وبخلاف المعالجة بها عند الضرورة. وهوالموفق

---

۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۱۱۲: ۴باب البیع الفاسد)

۲) وفي الهندیة: فالباطل ما لم یکن محله ما لا متقوما کما لو اشتري خمرا او خنزیراً او صید الحرم او المیتة او دما مسفوحا فهو لا یفید الملک.

(الفتاوي الهندیه ۱۴۶: ۳الباب الحادي عشر في احکام البیع الغیر الجائز)

و في شرح المجلة: فبیع المیتة والدم والحر باطل و کذا البیع به.

(شرح مجلة ۱۰۳: ۲المادة ۲۱۰بیع مالایعد مالا بین الناس والشراء به باطل)

وقال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالي: (قوله لم یجز بیع المیتة والدم) لانعدام المالیة التي هي رکن البیع. (البحر الرائق ۷۰: ۶باب البیع الفاسد)

۳) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالي: (قوله طاهر حلال) لانه و ان کان دما فقد تغیر فیصیر طاهرا کرماد العذرة خانیة، والمراد بالتغیر الاستحالة الي الطیبیة و هي من المطهرات عندنا...(قوله فیؤکل بکل حال)اي في الاطعمة والادویة لضرورةاو لا.

(ردالمحتار ۱۵۳: ۱مطلب في المسک والزباد والعنبر)

د ریډیو د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام په دې مسئله کې چې (۱) یو سړې وائی چې زه ریډیو اخلم صرف د خبرونو دپاره، د ریډیو اخستل څنګه دی؟

(۲) دویم سړې وائی چې زه د بل چا د ریډیو نه خبرونه اورم په دې کې ګناه شته یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحق آف مصری بانډه

الجواب: (۱) چونکې ریډیو یوه آله ده د آواز د راښکلو لهذا د دې اخستل چې صرف د خبرونو دپاره وی جائز دی، خو داسې خلق ډیر کم دی.

(۲) او چونکې خبرونه اوریدل څه ګناه نه ده لهذا دا سړې مجرم نه دې.

نوټ: چونکې دا د ګانې بجانې دپاره استعمالولې شی لهذا عام طور سره به د دې اخستل او خرڅول حرام وی.(۱) وهوالموفق

د ډپو هولډر څیز بچ کولو سره وړاندې خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د ډپو هولډر ته بعض حقدار افراد هغه ته د چینو اخستلو دپاره نه راځی او د بعضو سره ټال مټول کوی، بهر حال د ډپو د کهاتې نه څه چینی بچ کولو سره هغه د عمرو په

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: و قد منا ثمه معزيا للنهر ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريما و الا فتنزيها.

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۵:۲۷۷فصل في البيع ،كتاب الحظر والاباحة)

لاس باندې خرڅوي، مثلا دوه منه يا يو من، نو د دې چينو خرڅول جائز دي
يا ناجائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي كريم الدين لياقت آباد منډي مياںوالى ... ٢٣ جمادي الاول ١۴٠٢هـ

الجواب: چونكې دا ډپو هولډر بائع دې وكيل نه دې لهذا د هغه دا كار صرف قانوني خيانت دې كه حكومت د دې ډپو هولډر نه قيمت نه وصولولې او وكيل وې نو بيا به اسلامي خيانت وې. وهوالموفق. (ماقال الشيخ تحت نظركم ولعله يكون وكيلا وخيانته خيانة الوكيل. (مفتي سيف الله حقاني)

د سلو بورو د پرمټ ليږلو حكم

سوال: څه فرمائي علماء كرام په دې مسئله كې يو سړي سره د سلو بورو پرمټ دې او هغه دا پرمټ خرڅ كړو، دا بيان كړئ چې د دې كاغذ بيع جائز ده يا نه؟ كه جائز وي نو دا كاغذ خو مال نه دې او په دې كاغذ كې چې څه ليكلې شوې دي هغه خو معدوم دي نو دا د معدوم بيع شوه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالمستعان......١٢٩ كتوبر ١٩٧٦ء

الجواب: دا پرمټ مال متقوم دې.(١) بله دا چې په نزول عن الحق باندې معاوضه اخستل جائز دي. نظيره مصالحة الحسن رضي الله تعالى عنه معاوية رضي الله تعالى عنه بالنزول عن الوظيفة.(٢) پس د دې اخستل خرڅول پخپله قابل اعتراض نه دي. وهوالموفق

---

١) قال ابن عابدين رحمه الله تعالي: والمالية يثبت بتمول الناس كافة او بعضهم والتقوم يثبت بها و باباحة الانتفاع به شرعا(ردالمحتار ٣: ۴مطلب في تعريف المال والملک والمتقوم)

٢) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي:(قوله و عليه فيفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال)... واستدل بعضهم بنزول سيدنا الحسن بن سيدنا علي رضي الله تعالي عنهما عن الخلافة لمعاوية رضي الله تعالي عنه علي عوض و هو ظاهرايضا و هذا اولي مما قدمناه في الوقف عن الخيرية من عدم الجواز.(رد المحتار ١٧،١۶: ۴مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

مشترکه مال بغیر د اذن د شریک نه اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د عبدالوهاب او حفيظ الحق ترمينځ يوه مشترکه ځمکه ده او حفيظ الحق په زور باندې مشترکه ځمکه بغير د شريک د رضا نه خرڅه کړې ده او بل شريک د بې وسئ د وجې نه خاموش پاتې شو، آيا هغه خپلې حصې ته رجوع کولې شي يا نه؟ او رجوع به په بائع کوی که په مشتری؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عبدالوهاب آف دير .... ١٤ صفر المظفر ١٤٠٥هـ بمطابق ٧ نومبر

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط به دا شريک د هغه مشتری نه خپله حصه اخلی او هغه مشتری به په بائع باندې رجوع کوی. لان مال الغير لا يصح بيعه الا برضاء هذا الغير فهذا القدر من العقار ليس بمبيع فليراجع الى ردالمحتار ١٣٧/٤ فصل الفضولي (١) وهوالموفق

د ويزې اخستل او خرڅول او ددې په بدلون کې کفيل ته رشوت ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په متحده عرب امارات کې ويزه په شپيتۀ درهم ټکټ لګولو سره د عربو په ضرورت باندې

---

(١) و في الدرالمختار: (هو من يتصرف في حق غيره بغير اذن شرعي كل تصرف صدر منه) تمليكا كان كبيع و تزويج (وله مجيز) اي لهذا التصرف من يقدر علي اجازته (حال وقوعه انعقد موقوفا، (درمختار) مختصرا، وتحته في ردالمحتار (قوله انعقد موقوفا) اي علي اجازة من يملک ذلک العقد و لو کان العاقد نفسه.
(ردالمحتار ١٥١: ٤فصل الفضولي)

وفي الهندية: ولا يجوز لاحدهما ان يتصرف في نصيب الآخر الا بامره و كل واحد منهما كالاجنبي في نصيب صاحبه.
(فتاوي عالمگيرية ٣٠١: ٢الباب الاول في بيان انواع الشركة)

وتلې شی بیا خلق دا ویزې پاکستان ته رالیږی او بیا په دې باندې شپیته زره یا اتیا زره روپۍ د کار مناسب او د تنخواه مناسب اخلی، کله چې دا سړې امارات ته راشی نو یوه میاشت یا دوه میاشتې نورو خلقو ته ګوری چې کار آسان دې او زیاته تنخواه اخلی او د هغه کفیل یا کمپنی بله وی نو دا سړې خپله ویزه بدلولو سره بلې کمپنۍ ته لاړ شی خپل کفیل ته دوه درې زره دراهم ورکولو سره ځان فارغ کړې او بلې کمپنۍ کې شپږ یا اووۀ زره درهم ورکولو سره کار حاصل کړی، مطلب دا چې مخکې ئې زر درهمه تنخواه وه اوس هغه دوه زره شوه یا مخکې بې روزګاره وو اوس په روزګار شو، اوس دا شپږ یا اته زره درهم ورکول دوه درې زره کفیل ته ورکول یا کمپنۍ ته ورکول څنګه دی؟ یا په امارات کې د ویزې اخستل یا بدلول یا د هغې نه آزادی اخستل په پیسو باندې څنګه دی؟ بغیر د پیسو نه کار نه کیږی دې باره کې شرعی حکم څه دې؟ بله دا چې د عربی په نوم باندې ټیکسی (ګاډې) اخستل څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګلستان خان پوسټ بکس نمبر ۱۵۲۹۰، العین، U.A.E

الجواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته امابعد! پس ویزه د نوټ په شان مال متقوم دې.(۱) او د دې خرڅول جائز دی، خو کفیل ته د بدلون وغیره پیسې ورکول رشوت دې، پس دا کفیل بهرحال مجرم دې او دا ورکونکې که مجبور نه وی نو دې هم مجرم دې.(۲) او دا د عربی په نوم باندې د ګاډی لیکل یو

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي : والمالية تثبت بتمول الناس كافة او بعضهم والتقوم يثبت بها و بإباحة الانتفاع به شرعا.
(ردالمحتار ۳: ۴مطلب في تعريف المال والملك والمتقوم)
(ومثله في البحر الرائق ۵:۲۵۶ كتاب البيع)

۲)قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي: دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه و ماله ولاستخراج حق له ليس برشوة يعني في حق الدافع ...[بقيه برصفحه آئنده..

قانوني هیله ده په دې سره دغه عربي مالک کیږي نه. وهوالموفق

د شاملاتو د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د څو کسانو مشترکه ځمکه ده بغیر د نورو شریکانو د تپوس نه یو سړی د هغې څه حصه خرڅه کړه، نو آیا دا اخستل خرڅول جائز دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: که شاملات د مشترک غیر مقسوم نوم وي نو د هغې خرڅول جائز نه دي او دا بیع کالعدم او ناجائز ده، کما في شرح التنویر: فلو مملوکة لم تکن مواتاً، هامش رد المحتار ٣٨١/٥ (١) قلت وهي مملوکة لقوم معین فافهم، وفیه ایضا اما لو باعه علی انه لنفسه، فالبیع باطل کذافي هامشه ١٣٦/٤، ١٣٧. (٢) وهوالموفق

د پخیدو نه مخکې یا وروستو د میوو خرڅولو او اخستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ١: د میوو اخستل او خرڅول د بائع په اونو (میوو) باندې د رنګ او خوند د پریوتلو نه

... بقیه ازحاشیه گذشته] (ردالمحتار ٥:٣٠٠فروع فصل في البیع من کتاب الحظر والاباحة) وفي فتح القدیر: ثم الرشوة اربعة اقسام؛ منها ما هوحرام علي الآخذ والمعطي و هو الرشوة علي تقلید القضاء والامارة، الثاني ارتشاء القاضي لیحکم و هو کذلک حرام من الجانبین، الثالث اخذ المال لیسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع و هو حرام علي الآخذلاالدافع، الرابع ما یدفع لدفع الخوف من المدفوع الیه علي نفسه و ماله حلال للدافع حرام علي الآخذ. (فتح القدیر مختصرا ٣٥٩،٣٥٨: ٦کتاب ادب القاضي)

١) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ٥:٣٠٦کتاب احیاء الموات)

٢ (الدرالمختار هامش ردالمحتار ١٥٣، ١٥٢: ٤فصل في الفضولي)

مخکې یا د پخیدو نه مخکې جائز دی یا نه؟ که جائز نه وی نو د میوو
ښکاره کیدل په کومه درجه کې د جواز دپاره شرط دې؟
۲: زید د مالک په حیثیت د باغ د مالک د باغ میوې مخکې د ظهور نه د
عمرو په لاس باندې مطلقا بغیر د څه شرط نه خرڅوی یعنی بغیر د ذکر د
قطع یا ترک علی الاشجار نه، او عمرو د بیع په شروع کې د زید د میوو د
غټیدلو او پخیدلو دپاره د میوو بوټو ته اوبه ورکول ضمنی شرط تصور
کوی، اوس بکر په دې باندې اعتراض کوی چې بیع مذکور په دې شرط
باندې مبنی ده چې که زید د عمرو په میوو باندې خپلې اوبه بندې کړی یا د
وخت نه مخکې عمرو د میوو په راشوکولو باندې مجبور کړی نو عمرو به په
شروع کې دا بیع نه وه کړې ځکه چې معمول عام طور سره هم په دې طریقه
باندې راروان دې او دې شرائطو لره د **المعروف کالمشروط** په شان ګڼلو سره
دې ته بیع فاسده وائی او دلیل دا بیانوی چې په دې کې مشتری بائع ضمنی
طور جبرا د دې امر پابند ګڼی چې هغه به میوې اوبه کوی او میوې به د
شوکولو د وخته پورې په ونو باندې پریږدی چې د هغې موده تقریبا پنځه
میاشتې ده، که داسې ونشی او بائع خپل اختیارات د مشتری د خواهش
خلاف استعمال کړی نو ضرور به د بائع او مشتری ترمینځ شخړه واقع کیږی
په دې باره کې شرعی حکم څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولاداد..... ۲۲ شعبان ۱٤۰۱هـ

الجواب: د باغونو د میوو اخستل او خرڅول چې د پوخ والی نه مخکې وی
(د میوو د مرضونو نه په امن کیدو نه مخکې وی) ناجائز دی کله چې په ونو
باندې بقاء مشروط وی یا معروف (شامی) (۱) خو که بعض پخ شوې وی او

---

۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ظهر صلاحها او لا)قال فی الفتح لا
خلاف فی عدم جواز بیع الثمار قبل ان تظهر ولا فی عدم جوازه بعد الظهور قبل بدو الصلاح
بشرط الترک ...لکن بدو الصلاح عندنا ان تؤمن العاهة والفساد.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٤۲:٤مطلب فی بیع الثمر والزرع والشجر مقصودا)

بعض کچه وی نو په اخستلو او خرڅولو کې څه پروا نشته. (ماخوذ از هندیة)

(۱) وشرح المجلة (۲) د المعروف کالمشروط په بناء باندې دا اخستل خرڅول ناجائز دی.(۳) خو که اخستل خرڅول د شوکولو په شرط سره وکړی او وروستو تصریح وکړی چې زه به تبرعاً (احساناً) دا کارونه کوم نو د تصریح په مقابله کې دلالت کالعدم وي (۴)

نوټ: مناسب ده چې د باغ مالک دې سوداګر سره وعده وکړی بیع دې نه کوی، د پخیدو نه وروستو دې بیع وکړی چې د ګناه نه بچ شی والله‌اعلم

ژوندئ چرګې په تول سره د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء د دې مسئلې په باره کې چې د ژوندو چرګو په تول سره اخستل او خرڅول جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم ...... یکم جولائی ۱۹۷۳ء

---

۱)و في الهندية: لو اشتري ثمرة بدا صلاح بعضها و صلاح الباقي يتقارب و شرط الترک جاز عندُ محمد رحمه الله تعاليٰ.

(الفتاوي العالمكيرية ۱۰۷: ۳الفصل الثاني في بيع الثمار)

۲)و في شرح المجلة: و قد نطقت المادة (۴۳)ان المعروف عرفا كالمشروط شرطا علي قول محمد المفتي به من جواز بيعها بشرط الترک اذا بدا صلاح بعضها و تقارب بدو صلاح الباقي.

(شرح المجلة للاحكام ۹۸: ۲المادة (۲۰۷)

۳)وفي الهداية :وان شرط تركها علي النخيل فسد البيع لانه شرط لا يقتضيه العقد.

(هداية ۲۶: ۳كتاب البيوع)

٤)و في شرح المجلة: والحاصل ان المعروف عرفا کا لمشروط ذکرا عند عدم التصريح بخلافه و الا فا لعبرة لما صرح به لا للعرف.

(شرح المجلة للاحكام ۱۰۱: ۱المادة ۴۳المعروف عرفا كالمشروط شرطا)

الجواب: واضحه دې وی چې حیوان (ساه لرونکې) د مثلیات نه نۀ دې، بلکې په عددی متفاوت کې داخل دې، کما هو واضح وصرحوا به فی باب السلم. (۱) والقرض (۲) بله دا چې په حیوان کې نه باقاعده پیمانه جاری کیږی او نه وزن، واما الکیل فظاهر واما الوزن فلما فی فتح القدیر ۲۹۱/۵ وانما قلنا ان الحیوان لیس بموزون لانه لا یوزن عادة فلیس فیه احد المقدارین الشرعیین الوزن اوالکیل لان الحیوان لا یعرف قدر ثقله بالوزن لانه یثقل نفسه ویخففها فلا یدری حاله انتهی. (۳) که د اخستلو خرڅولو په وخت وزن کول د تعین مقدار دپاره وی چې د هغې موافق پیسې متعین شی نو دا بیع فاسد ده. (۴) بخلاف شراء اللحم الغیر المعین وزنا اذ وزن فی مجلس العقد لان اللحم من الموزونات، او که دا وزن په دې وجه باندې کولې شی چې په دې سره تخمین او اندازه ولګولې شیٔ د ثمن او قیمت، او د هغې نه پس بیع

---

۱) قال العلامة الکاساني رحمه الله تعالی: ولا یجوز السلم في العددیات المتفاوتة من الحیوان والجواهر. (بدائع الصنائع ۴۴۲: ۴ ما لا یجوز السلم فیه)

۲) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی: (وصح) القرض (في مثلي لا في غیره) من القیمیات کحیوان و حطب و عقار و کل متفاوت.
(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۱۹۱: ۴ فصل في القرض)

۳) فتح القدیر ۱۶۷: ۶ باب الربوا)

٤) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالي (و شرط لصحته معرفة قدر) مبیع و ثمن
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۲۳: ۴ کتاب البیوع)

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالي: و اما شرائط الصحة ...و منها ان یکون المبیع معلوماً والثمن معلوماً علما یمنع من المنازعة فا لمجهول جهالة مفضیة الیها غیر صحیح. (البحر الرائق ۲۶۰: ۵ کتاب البیع)

تعاطی (دادن وگرفتن) کولې شی نو په دې کې څه مانع او حرج نشته (١) لانه بیع عددا لا وزنا او په ظاهر کې شق اول رائج معلومیږی لهذا د دې نه اجتناب کول پکار دی. وهوالموفق

د نابالغ د ځمکې خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مونږ دوه ورونه یو، زمونږ د والد صاحب ځمکه وه، زمونږ د والد صاحب د وفات نه پس دا ځمکه زمونږ مشر ورور زمونږ حصه او خپله حصه زما په وړوکوالی کې خرڅه کړه، چونکې زه هغه وخت نابالغ وم او اوس مشر ورور وائی چې ما ستا نه په کم عمرئ کې ګوته لګولې وه، جناب عالی ! زما دپاره خپله ځمکه واپس کول د شریعت په رڼا کې جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: فقیر محمد ٢٠/٢/٧٤

الجواب: د نابالغ ځمکه خرڅول کله چې بغیر د ضرورت نه وی نامنظور ده، او دا نابالغ دا د بلوغ نه پس واپس کولې شی، والتفصیل فی اداب الاوصیاء علی هامش جامع الفصولین ١٣٤/٢ (٢) وهوالموفق

---

١) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالي: (قو له و بتعاط) اي و يلزم البيع با لتعاطي ايضا لان جوازه باعتبار الرضا و قد وجد. (البحر الرائق ٢٦٩ :٥ كتاب البيع)

٢) و في الهندية : انما يجوز بيع العقار با حدي الشرائط الثلاث : اما ان يرغب المشتري بضعف قيمته او للصغير حاجة الي ثمنه او علي الميت دين لا وفاء له الا به. (الفتاوي العالمگيرية ١٧٦ : ٣ الباب السابع عشر في بيع الاب والوصي والقاضي مال الصغير)

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالي :(و شراء ما لا بد للصغير منه و بيعه للعم والام والملتقط لو في حجرهم) يجوز لهؤلاء الثلاثة ان يشتروا للصغير و يبيعوا ما لا بد منه .... و اصله ان التصرفات علي الصغير علي ثلاثه اقسام نفع .... [بقيه بر صفحه آئنده....

ګاډي د قبض کولو نه مخکې خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو ګاډې په شوروم باندې ولاړ دې، اخستونکې پارټئ د شوروم يا د ګاډی د مالک نه د ګاډی قيمت مبلغ درې لاکه روپئ متعين کړې دې او اخستونکې پارټی مونږ نه راغله چې په دې ګاډی کې يو نيم لاک روپئ تاسو جمع کړئ چې د هغې منافع به پنځوس زره روپئ وی مونږ به دا پيسې تاسو ته سره د ګټې په قسطونو کې ادا کړو او د ګاډی اخستونکې پارټی وائی چې ترڅو پورې زه ستاسو پيسې واپس نه کړم تر هغه وخته پورې به دا ګاډې ستاسو په نوم باندې رجسټرډ وی، آيا دا جائز دی يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: حاجی عظيم خان راوی روډ لاهور...... ۵ رمضان المبارک ۱۴۰۹ هـ

الجواب: که دا يو نيم لاک روپئ تاسو هغه اخستونکی ته د قرض په طور ورکړې وی نو ستاسو دپاره دا منافع سود دې، **کما قالوا کل قرض جر نفعاً فهو رباً** (۱) او که دا يو نيم لاک روپئ تاسو هغه اخستونکی ته په طور د قيمت ورکړې وی چې هغه په تاسو باندې نيم ګاډې خرڅ کړې دې او تاسو په

... بقيه ازحاشيه گذشته] محض فيملكه كل واحد هو في عياله ... و نوع هو ضرر محض كالعتاق والطلاق فلا يملكه عليه احد و نوع متردد بين النفع والضرر مثل البيع والاجارة للاسترباح فلا يملكه الا الاب والجد و وصيهما.

(البحر الرائق ۸:۲۰۹ فصل في البيع)

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي: (قوله كل قرض جر نفعا حرام) اي اذا كان مشروطا. (ردالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

هغه باندې دا ګاډې مخکې د قبض نه په دوه لاک روپۍ خرڅ کړو نو دا بیع فاسد او ناجائز ده.(١) وهوالموفق.

د شائع حصې خرڅول صحیح دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو بې اولاده سړې وفات شو، او د هغه میراث صرف یو آباد کور دې چې د هغې ډیر حقداران دی خو په هغې باندې یو وارث قبضه کړې ده، په داسې صورت کې نور وارثان د تقیسم وراثت نه مخکې او د خپلې خپلې حصې معلومولو نه بغیر دا ذکر شوې کور خرڅ کړی نو د شریعت په رڼا کې به د هغې څه حکم وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحلیم صوابی مردان..... ١٩ ربیع الاول ١٤٠٣ھ

الجواب: کله چې حصې معلومې نه وی نو عدم تقسیم (شیوع) د اخستلو او خرڅولو نه مانع نه دې. هدایة(٢) وشامی(٣)، وهوالموفق

---

١) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالي: و من اشتري شيئا مما ينقل و يحول لم يجز له بيعه حتي يقبضه، لانه نهي عليه الصلاة والسلام عن بيع ما لم يقبض.
(هداية ٧٤: ٣باب المرابحة والتولية)

٢) وفي الهداية: و يجوز بيع احدهما نصيبه من شريكه في جميع الصور و من غير شريكه بغير اذنه.
(هدايه ٦٢٤: ٢كتاب الشركة)

٣) و في الدر المختار: فصح له بيع حصته و لو من غير شريكه بلا اذن الا في صورة الخلط، و تحته في ردالمحتار: (الا في صورة الخلط)... والفرق ان الشركة اذا كانت بينهما من الابتداء بان اشتريا حنطة او ورثاها كانت كل حبة مشتركة بينهما فبيع كل منهما نصيبه شائعا جائز من الشريک والاجنبي.
(ردالمحتار ٣٦٥: ٣كتاب الشركة)

د کمپنۍ حصې د اصل قیمت نه په کم یا زیاتو پیسو باندې خرڅول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو تجارت یا صنعت دپاره په کروړونو روپو ته ضرورت دې خو چا سره دومره پیسې نشته نو په زرګونو کسان رایوځای شی، څوک لس روپۍ واچوی څوک سل، څوک زر او څوک لاک، دغه شان پیسې برابر شی او خلق د بازار نه برخې اخلی او اکثر د برخو مالکان شی، بیا دا برخې د اصل قیمت نه په زیات قیمت باندې خرڅوی، دغه شان دوه مسئلې پیدا کیږی:
الف: آیا یوې حصې لره د هغې د قیمت نه په زیات باندې خرڅول جائز دی؟ مثلا د یو سړی په یوه کمپنۍ کې د سلو روپو حصه ده او هغه په یو نیم سل یا دوه سوه روپۍ باندې خرڅه کړی. ب: آیا داسې قیمت کمول یا زیاتول جائز دی؟ دې عمل ته د برخو په کاروبار کې ستهه وائی. **بینواتوجروا**

المستفتی: له طرف د ټول اینډ مشینری کمپنی لاهور، ۱۱۶ کتوبر لاهور

الجواب: خپلې برخې لره په دواړو صورتونو کې خرڅول شرعي جرم نه دې. (١) **وهوالموفق**

---

١) چونکې د کمپنۍ برخې د سامان رسید او سند وی. چه دا سړې په دومره مقدار سره په کمپنۍ کې شریك دې نودا د سامان اخستل خرڅول شو او سامان د طرفینو په رضامندۍ سره چه په څومره قیمت سره خرڅوی جائز ده.
وفي الهندية :اما تعريفه فمبادلة المال بالمال بالتراضي.
(فتاوي عالمگيرية ٢ :٣الباب الاول في تعريف المبيع)
وقال العلامة السرخسي رحمه الله تعالي: فان كان يتراضيان بينهما و لم يتفرقا حتي قاطعة علي ثمن معلوم وأتما العقد عليه فهو جائز لانهما ما افترقا الا بعد تمام شرط صحة العقد .(المبسوط للسرخسي ٨ :١٣باب البيوع الفاسد)

په مشترکه ځمکه کښې د ذیلې حصې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې یوه ځمکه د دوه مالکانو ترمینځ شریکه وی او د تقسیم نه مخکښې په هغوی کښې یو خپله حصه خرڅه کړی نو دا بیع صحیح ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اسلام شیوه کلې تحصیل ڈاک مردان..... ۱۵ ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: هر شریک خپله حصه د تقسیم نه مخکښې خرڅولې شی (۱) په دې کښې د چا هم اختلاف نشته. والدلیل علیه صحة شفعة الشریك.(۲) **وهوالموفق**

د میوې د راوتلو نه مخکښې د باغونو د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې آیا د باغونو د میوو د راوتلو نه مخکښې بیع جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: انور کریانه سټور مین بازار ٹنڈو محمد خان حیدر آباد سندھ.

الجواب: باطل ده. لانه بیع المعدوم.(۳) **وهوالموفق**

---

۱) وفي شرح المجلة :بیع حصة شایعة معلومة کالنصف والثلث والعشر من عقا ر قبل الافراز صحیح لانه لا یشترط في صحة البیع الافرازعند التسلیم لاتفاقهم علي صحة بیع مشاع لا یمکن افرازه .(شرح المجله ۲:۱۰۷،المادة ۲۱۴)

۲) و في الهدایة :الشفعةواجبة للخلیط في نفس المبیع .
(هدایة ۴:۳۸۹،کتاب الشفعة)

۳) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالي: (ومن باع ثمرة بارزة)اما قبل الظهور فلا یصح اتفاقا.(در مختار ۴:۴۲ ،مطلب في بیع الثمر والزرع والشجر مقصودا)
(و مثله في الهندیة ۳:۱۰۶،الفصل الثاني في بیع الثمار)

د باغ د بیع فاسد په صورت کښې په دویمه بیع کولو باندې دویم مشتری ته د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زید وائی چې د امونو بیع د میوې د لګیدو نه مخکښې بلکې په بعض ځایونو کښې څو کاله مخکښې په ټیکه باندې اخستلې شی، نو دا بیع باطل ده او بعض کچه امونه د لګیدو نه پس اخلی نو د صلاحیت پورې هغه په خپلو بوټو کښې وی چې په هغې سره د مشتری امونه د بائع د ونو نه انتفاع حاصلوی، نو دا د بیع فاسد صورت دې، هم دا آمونه بازارونو ته راځی لهذا د دې خوراک. اخستل تول ناجائز دی، بکر وائی چې دا عموم بلوی ده، مونږ څو ئې په پیسو باندې اخلو. خوراک او اخستل خرڅول هر څه ئې جائز دی، نو په زید او بکر کښې څوک صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شبیر احمد خطیب نورانی مسجد میرپور خاص

الجواب: که دې ټیکیدار دا باغ د میوې د لګیدو او پخیدو نه مخکښې اخستلې وی نو دا بیع فاسد ده. **لکون البقاء مشروطا او معروفا وهو مفسد کمافی ردالمحتار ۳۹/۴** (۱) خو د دې ټیکیدار نه اخستونکې د هر قسم تصرف مجاز دې، **کمافی ردالمحتار ۱۳۰/۴ بخلاف المشتری شراء فاسدا اذا باعه من غیره بیعا صحیحا فان الثانی لا یومر بالرد الخ.** (۲) او که دې ټیکیدار د میوې

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي: (قوله لكن في القهستاني عن المضمرات) حقه ان يقول عن النهاية ،لان عبارة القهستاني مع المتن و شرط تركها علي الشجر والرضاء به يفسد البيع عندهما و عليه الفتوي.
(ردالمحتار ۴: ۴۳ مطلب في بيع الثمر والزرع والشجر مقصودا)

۲) (ردالمحتار علي هامش الدر المختار ۱۴۵ : ۴ قبيل مطلب البيع الفاسد لا يطيب له)

لګیدو نه مخکې اخستلې وی نو بیع باطل ده، لکونه بیع المعدوم.(۱) خو د باغ د مالک د اذن او اجازت په وجه باندې به هر قسم تصرفات مباح وی بخلاف الربا. وهوالموفق

د ثمن نه ذکر کولو په صورت کې د بیع حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې سوداګرخلق زمونږ په خواکې دکپاس تجارت کوی، هغوی کپاس د زمیندارانو نه اخستلو سره کارخانې ته لیږی، کارخانې والا هغه مال خپل ځان سره کیږدی او په خپل کار ئې راولی، سوداګر ته دا اختیار حاصل وی چې د ۲ فروری پورې په کوم تاریخ باندې کارخانې والو سره نرخ مقرر کولو سره پیسې وصول کړی، هغه نرخ ګورنمنټ (حکومت) روزانه مقرر کوی او د مال د خرڅولو په وخت نرخ نه مقرر کیږی نو آیا دا تجارت صحیح دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: غلام الله پنو عاقل سکهر .....۲۲ ستمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: که اخستل خرڅول د نرخ مقرر کیدو نه پس کیږی او د هغې نه مخکې دا مال (کپاس) په طور د امانت محفوظ وی نو په دې معامله کې هیڅ فساداوحرمت نشته،اوکه داکپاس دنرخ دمقررکیدومخکې استعمالیږی او مملوک متصور کیږی نو دا بیع فاسد بلکې باطل ده.(۲) وهوالموفق

د ماشوم د خرڅولو او اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا په ورو

---

۱) قال العلامة الکاساني رحمه الله تعالی: منها ان یکون موجودا فلا ینعقد بیع المعدوم ...و کذا بیع الثمر والزرع قبل ظهوره لانهما معدوم.

(بدائع الصنائع ۳۶۶: ۴فصل ما یرجع الی المعقود علیه)

۲) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی: و بطل بیع صرّح بنفي الثمن فیه لانعدام الرکن و هوالمال. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱۱۸: ۴باب البیع الفاسد)

وړو کلو کې دکانداران دکانونه کوی، په کلو کې اکثر واړهٔ هلکان یا جینکۍ د کور دپاره د خوراک څښاک د څیزونو اخستل خرڅول کوی، صراحة دا پته نه وی چې دا معامله د اولیاء په اذن کوی که په خپله رائې باندې، آیا په دې مسئله کې اذن عرفی معتبر دې یا نه؟

دویم دا کله چې کله د خوراک څیزونه د خپل ځان د پاره اخلی معلومه نه وی چې اذن د اولیاء د هغې سره مقرون دې او که نه خو صراحة منع نه کوی، آیا د دکاندار دپاره د جواز حیثیت لری یا نه؟ مهربانی وکړئ د دې مسئلې جوابات مکمل او مدلل سره د حوالې د دین د کتابونو نه په صفحاتو ولیکئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد ضیاء الدین وارډ نمبر ٤/c

سهنوریم دادر هسپتال مانسهره ٤ ربیع الثانی ۱٤۹۰ھ

الجواب: نابالغ هلک یا جینۍ کله چې هوښیار وی، یعنی په ګټه او تاوان کې تمیز کولې شی نو د هغوی بیع او شراء به نافذ وی په دې شرط چې ماذون وی، یا وکیل وی کنه نو بیع به موقوف او معلق وی او واضحه دې وی چې اذن د تصریح سره مخصوص نه دې بلکې دعرف نه هم معلومیدلې شی یدل علی جمیع ما ذکرت ما فی الهندیة ٥: ١٢٣، اذا اذن لصبی یعقل البیع والشراء یجوز یرید انه یعقل معنی البیع والشراء بأن عرف ان البیع سالب للملک والشراء جالب و عرف الغبن الیسیر من الغبن الفاحش لا نفس العبارة(١)، وفی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٥: ١٥٠ وباع ساکتا عن اذنه وحجره کان ماذونا استحسانا وتعریف الصبی والمعتوه الذی یعقل البیع والشراء (الی ان قال) فان اذن لهما الولی فهما فی شراء وبیع کعبد ماذون فی کل احکامه وفی ردالمحتار فیصیر ماذونا بالسکوت(٢) وفی الدر المختار فی

---

١) (هندیه ١٠: ٥، الباب الثانی عشر فی الصبی والمعتوه یأذن له ابوه)

٢) (الدر المختار مع ردالمحتار ١٢١: ٥مبحث فی تصرف الصبی و من له الولایة علیه)

باب الوکالة ثم ذکر شرط التوکیل فقال اذا کان الوکیل یعقل العقد ولوصبیا او عبدا محجورا(١) وبمعناه فی غیرواحد من الکتب(٢) وهوالموفق.

د دکان پرمټ خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام په دې مسئله کې چې زمونږ د مدرسې دپاره حکومت د دکان پرمټ منظور کړې دې، اوس که مونږ صرف د پرمټ کاغذ په چا باندې خرڅ کړو نو دا جائز ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی : اراکین مدرسه تعلیم الاسلام لکی مروت

الجواب: پرمټ د نوټ په شان مال متقوم دې (٣) د هغې اخستل خرڅول جائز نه دی.

لاسیما اذا کان من قبیل النزول عن الحق کما ان الحسن بن علی نزل من حق الخلافة بالوظیفة ولم ینکر علیه احد(٤). وهوالموفق

---

١) (درمختار ٤٤٥ کتاب الوکالة)

٢) و في الفتاوي الخانية : الاب اذا اذن لابنه في التجارة ان کا ن الصبي يعقل البيع والشراء و يعرف أن البيع يزيل الملک و يعرف الغبن الفاحش واليسير صح اذنه و ان لم يعرفه لا يصح و ان کان يقدر علي التلفظ بالبيع والشراء.

(الفتاوي الخانيه علي هامش الهنديه ٦٢٧،٦٢٦ :٣کتاب الماذون)

٣) و في ردالمحتار :والمالية تثبت بتمول الناس کافة او بعضهم والتقوم يثبت بها وباباحة الانتفاع به شرعا.

(ردالمحتار ٤:٣کتاب البيوع ،مطلب في تعريف المال والملک والمتقوم)

٤) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي :(قوله و عليه فيفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال) ...واستدل بعضهم بنزول سيدنا الحسن بن سيدنا علي رضي الله تعالي عنهما عن الخلافة لمعاوية رضي الله تعالي عنه علي عوض و هو ظاهر ايضا و هذا اولي مما قدمناه في الوقف عن الخيرية من عدم الجواز.(ردالمحتار ١٧،١٦ :٤مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

د تصویر ویستلو کاروبار

سوال: څهٔ فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زما نه یو فوټو ګرافر تپوس وکړو چې زه د خلقو فوټو (تصویر) وباسم او بیا د هغې فریم جوړوم آیا په شریعت اسلام کې زما دا کاروبار جائزدې یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: فیض الله متعلم دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

الجواب: تصویر ویستل او په هغې اجرت حرام دی.[1] کله چې جاندار وی، د داسې سړی دپاره ضروری ده چې بل څه جائز کاروبار شروع کړی. جائز اسباب هم ښه ډیر دی.

قال رسول الله ﷺ: اشد الناس عذاباً عند الله المصورون متفق علیه[2] و عن سعید بن الحسن قال کنت عند ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما اذ جاءه رجل فقال یاابن عباس انی رجل انما معیشتی من صنعة یدی وانی اصنع هذه التصاویر فقال ابن عباس لا احدثك الا ما سمعت من رسول الله ﷺ سمعته یقول من صور صورة فان الله معذبه حتی ینفخ فیه الروح ولیس بنافخ فیها ابدا (رواه البخاری)[3] فقط.وهوالموفق

که مبیع نقد وی او قیمت قرض نو دا معامله جائز ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د عمرو دپاره کپړه په داسې طریقه واخستله چې عمرو زید ته وویل چې ته زما دپاره کپړې واخله زه به درته د هرې پور نرخ درکړم، او رنګ به هم زه خوښوم، پس

---

[1] قال العلامة العيني رحمه الله تعالیٰ: فيه ان تصوير ذي روح حرام و ان مصوره توعد بعذاب شديد. (عمدة القاري ۱۲:۳۹، باب بيع التصاوير)

[2] مشکوٰة المصابيح ۳۸۵ باب التصاوير، الفصل الاول)

[3] الصحيح البخاري ۲۹۶:۱ باب بيع التصاوير التي ليس فيها روح)

مونږ دواړه لاهور ته لاړو، زید کپړه واخستله او قرض ئې ورکړه عمرو ته، او د هری پور پورې کرایه هم زید ورکړه او دا ئې هم وویل چې که کپړه په لاره کې ورکه شوه نو زه د هغې ذمه دار یم او د دې کپړې قیمت به شپږ میاشتې پس ماته راکوې، نو آیا په دې کې ربا راځی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی سردار خان هری پور

الجواب: چونکې په مذکوره مسئله کې نه سود موجود دې او نه په قرض منافع موجود ده لهذا دا جائز ده. (١) **وهوالموفق**

د مشتری د قیمت ادا کولو نه مخکې په بل چا باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د حکومت پاکستان د قوانین مطابق د هاؤسنګ سکیم د لاندې د زید دپاره د کور اخستلو نه څه ممانعت هم نشته، پس زید ته یو کور الاټ شو، زید نه د کور پوره قیمت ادا کړو او نه هغه سره څه پیسې شته پس د زید دوست بکر هم دا کور د سرکاری قیمت نه په زیات قیمت باندې د زید نه اخستل غواړی. د ګورنمنټ (حکومت) د طرف نه د زید دپاره د کور خرڅولو نه څه ممانعت هم نشته، نو آیا د زید دپاره دا جائز دی چې داسې کور په منافع خرڅ کړی؟ مهربانی وکړئ د قرآن پاک او احادیث نبوی ﷺ په رڼا کې حکم شرعی بیان وفرمایئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا صاحب شاه نائب خطیب ٥٨ ایس اینډ ٹی بٹالین ... جون ١٩٨٨ء

---

(١) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: و اما الثالث و هو شرائط الصحة فخمسة و عشرون منها عامة و منها خاصة فالعامة لکل بیع شروط الانعقاد المارة ...و عدم التوقیت و معلومیة المبیع و معلومیة الثمن و خلوه عن شرط مفسد والرضاء و الفائدة والخاصة معلومة الاجل في البیع الموجل ثمنه ...والمماثلة بین البدلین في اموال الربا والخلو عن شبهة الربا. (ردالمحتار ٦: ٤مطلب شرائط البیع انواع اربعة)

الجواب: که زید د دې کور مالک شوې وی نو د دې کور خرڅول ممنوع نه دی.(۱) وهوالموفق

د افیون، چرس، سیگریټ او هیروئن د تجارت حکم

سوال: څۀ فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د افیون، چرس، سیگریټ او هیروئن کاروبار جائز دې یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیب الرحمن دار العلوم حقانیه اکوړه خټک ..... ۲۳ ربیع الاول ۱۴۱۱ھ

الجواب: سوا د تمباکو نه د دې نورو څیزونو کاروبار مکروه تحریمی دې. (ماخوذازشامی(۲) وغیره(۳)). وهوالموفق

د باغ خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید خپل د سیوانو باغ هغه وخت چې د سیوانو گلونه هم نه وو ښکاره شوې یا ښکاره وو خو میوه ښکاره نه وه په عمرو باندې د وزن په حساب سره خرڅ کړو مثلا

---

۱) و في الهندية :واما شرائط الانعقاد فانواع ...منها ان يكون مملوكا في نفسه و ان يكون ملک البائع فيما يبيعه لنفسه ...ولا بيع ما ليس مملوكا له و ان ملكه بعده. (فتاوي عالمگيرية ۳،۲:۳،الباب الاول في تعريف البيع و ركنه و شرطه)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعاليٰ: و شرط المعقود عليه ستة ...كون الملک للبائع فيما يبيعه لنفسه ...فلا بيع ما ليس مملوكا له وان ملكه بعده. (ردالمحتار ۴:۶مطلب شرائط البيع انواع اربعة)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعاليٰ:(قوله و صح بيع غير الخمر)...ثم ان البيع و ان صح لكنه يكره.(ردالمحتار ۵:۳۲۳، كتاب الاشربة)

۳) و في بدائع الصنائع :و يجوزبيعها عند ابي حنيفة رحمه الله تعاليٰ مع الكراهة. (بدائع الصنائع ۲۸۱:۴كتاب الاشربة)

د اتیا روپئ من په حساب سره ئې ورکړو، آیا دا بیع جائز ده یا ناجائز؟

بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد خان کوئٹه بلوچستان. ۲۳ جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا دواړه بیعې ناجائز دی خو وعده ناجائز نه ده.

اما عدم جواز الاول فلما فی شرح المجلة ص۹۸ بیع المعدوم باطل فبطل بیع ثمرة لم تبرز اصلا(۱)، و بمعناه فی الفتاوی(۲) واما عدم جواز الثانی فلکون البقاء علی الاشجار مشروطا او معروفا کما فی شرح المجلة ص۹۹(۳) وان شرط فی البیع ترکها علی الشجر فسد البیع الا اذا تناهت الثمرة فیصح الشرط علی قول محمد وبه یفتی (تنویر)(۴) وقالو المعروف کالمشروط ،فلیراجع الی ردالمحتار ص:۳۸، ۳۹(۵). وهوالموفق

---

۱) (شرح المجلة، ۹۲: ۲، المادة۲۰۵ الفصل الثاني فیما یجوز بیعه وما لا یجوز)

۲) قال العلامة الکاساني رحمه الله تعالیٰ: منها ان یکون موجودا فلا ینعقد بیع المعدوم ...و کذا بیع الثمر والزرع قبل ظهوره لانهما معدوم.

(بدائع الصنائع ،۳۲۶: ۴فصل ما یرجع الي المعقود علیه)

۳) و في شرح المجلة: و شرط ترکها علي الشجر والرضاء به یفسد البیع و علیه الفتویٰ کما في النهایه. (شرح المجلة ۹۴: ۲، المادة ۲۰۶)

۴) (تنویر الابصار ،۴۳: ۴مطلب في بیع الثمر والزرع والشجر مقصودا)

۵) و في ردالمحتار: (قوله لکن في القهستاني عن المضمرات)حقه ان یقول عن النهایه لان عبارة القهستاني مع المتن و شرط ترکها علي الشجر والرضا به یفسد البیع عندهما و علیه الفتویٰ کما في النهایة ولا یفسد عند محمد ان بدا صلاح بعض و قرب صلاح الباقي و علیه الفتویٰ کما في المضمرات. (ردالمحتار ۴۳: ۴مطلب في بیع الثمر والزرع والشجر مقصودا)

د چرس، افیون او بنګو تجارت او د هغې د خوراک حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په ملک کې د افیون، بنګ او چرسو تجارت رائج دې چې د هغې په باره کې ستاسو نه پوښتنه کوو چې که جزئی مسئله وی نو هغه ولیکئ، که جزئی نه وی نو په تفصیل سره یې ولیکئ چې داسې تجارت جائز دې یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: غوث احمد فاضل حقانیه دا کخانه ستروغه تحصیل ټانک، ډی آئی خان، ٢٦ صفر ٨٩ھ

الجواب: ١: د افیون او چرس تجارت مکروه تحریمی دې.

فی الدر المختار: وصح بیع غیر الخمر مما مر ومفاده صحة بیع الحشیشة والافیون قلت وقد سئل ابن نجیم عن بیع الحشیشة هل یجوز؟ فکتب لایجوز، فیحمل علی ان مراده بعدم الجواز عدم الحل .قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ٥:٤٠١،ثم ان البیع وان صح لکنه یکره کمافی الغایة، و قال العلامة الشامی ناقلا عن ابن الشحنة انه یودب بائعها (الحشیشة) انتهی.(١) قلت والتادیب انما یکون فی المکروه التحریمی والافیون فوق الحشیشة فیکون بائعه اولی بالتادیب.

٢: د دوائی دپاره د نشې دمقدار نه کم جائز دې او زیات حرام دې.

فی الدر المختار: یحرم اکل البنج والحشیشة والافیون، وفی ردالمحتار٥:٤٠٤، الصواب ان مراد صاحب الهدایة و غیره اباحة قلیله للتداوی و نحوه و من صرح بحرمته اراد به القدر المسکر منه(٢) فقط .وهوالموفق

---

١) (شامي ٥:٣٢٣ کتاب الاشربة)

٢) (شامي ٥:٣٢٥ کتاب الاشربة)

د نشې والا څیزونو بیع په کرایه باندې وړل او د سمګلنګ (دحکومت نه په غلا یو شی بل ځای ته وړل) حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د هیروئن تجارت جائز دې یا نه؟ که ناجائز وی نو حرام دې یا مکروه؟ او د هغې په کرایه باندې وړل جائز دی یا ناجائز؟
۲: زمونږ په ملک کې اوړه او وریژې افغانستان ته سمګل (وړلی) کولې شی او هلته مجاهدین او غیر مجاهدین ټول دا خوری، دا کاروبار جائز دې یا ناجائز؟ ۳: دمجاهدین او مهاجرین نه وسله، غنم او تیل وغیره شیان په بیع اخستل جائز دی یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا وزیر محمد صاحب ضلع پشین بلوچستان، ٦ ربیع الثانی ۱٤۰۸ھ

الجواب: ۱: سوا د شرابو نه د نورو نشیی توکو خرڅول مکروه تحریمی دی.
کما فی شرح التنویر: وصح بیع غیرالخمر، وفی ردالمحتار ۵:۴۰۱(۱) ثم ان البیع و ان صح لکنه یکره کما فی الغایة وفیه ایضا وذکر ابن الشحنة انه یودب بائعها ۵:۴۰۲(۲) فافهم. او د هیروئن په کرایه باندې وړل جائز نه دی.
وهومذهب الصاحبین وهوالاستحسان فلیراجع الی ردالمحتار ۵:۳۴۵(۳).
۲: دا خو قانوناً ممنوع دی خو شرعا ممنوع نه دی، په پاکستان او

---

۱) (ردالمحتار ۵:۳۲۳ کتاب الاشربة)
۲) (ردالمحتار ۵:۳۲۵ کتاب الاشربة)
۳) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله و حمل خمر ذمي) قال الزیلعي و هذا عنده و قالا هو مکروه لانه علیه الصلوة والسلام لعن في عشرة و عد منها حاملها...و قولهما استحسان.
(ردالمحتار ۵:۲۷۷ فصل في البیع، کتاب الحظر والاباحة)

افغانستان دوارو کې اسلام په خطره کې دې خو په پاکستان کې مسلمان، شیعه، مرزائی او مرتدین ټول په امن دی.

۳. که د دې مجاهدینو مهاجرینو مقرر معاونت د ژوند د ضروریاتو او محاذ دپاره ناکافی وی نو جائز دې. **وهوالموفق**

د آزادې زنانه د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام په دې مسئله کې چې یو سړې خپله ښځه د هوش او عقل په حالت کې په خپل پلار یا نورو خپلوانو باندې د غوا چیلی په شان خرڅه کړی، نو آیا هغه ته د طلاق حاجت باقی پاتې شو او که په خرڅولو سره طلاق واقع کیږی؟اوکه شل یا پنځویشت کاله پس په ژبه طلاق ورکړی نو د هغې عدت به د کومې مودې نه شروع کیږی او د طلاق ورکولو نه پس به د هغې سره نکاح جائز وی که د عدت تیریدلو نه پس؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: آباد شیر آفریدی

الجواب: که د دې سړی (خاوند) خرڅول حقیقی خرڅول وی نو دا سړې فاسق او فاجر شو او دا پیسې به د هغه دپاره حرام وی. **لان بیع الحرباطل لعدم کونه مالا.**(۱) **وقال رسول الله ﷺ ورجل اعتبد محررة رواه ابوداؤد**(۲) لهذا باقاعده د طلاق ورکولو نه مخکې دا زنانه د لومړي خاوند په نکاح کې ده، بیشکه د طلاق ورکولو نه پس کله چې عدت تیر شی نو دا زنانه په بل خای کې نکاح کولې شی که د هغه پیسو ورکولو والا سره نکاح کول غواړی یا بل

---

۱ قال في شرح تنویر الابصار: (بطل بیع ما لیس بمال کالدم والحر والبیع به اي جعله ثمنا. (در مختار ۱۱۲: ۴باب البیع الفاسد)

۲) عن عبد الله بن عمر رضي الله تعالی عنه ان رسول الله ﷺ کان یقول ثلاثة لا تقبل الله منهم صلوة ... ورجل اعتبد محرره.

(سنن ابي داود ۸۸: ۱باب الرجل یوم القوم وهم له کارهون)

سړی سره، په دې زنانه باندې هیڅ جبر او زور نه نشته او که دا مراد وی چې ما دا زنانه د نکاح نه خارج کړه او دا پیسې به په هغه دویم سړی باندې واجب الاداء وی نو دا خلع ده او صحیح ده، وفي الدرالمختار: والخلع یکون بلفظ البیع والشراء والطلاق والمبارأة. (باب الخلع) (۱) وفي ردالمحتار ۲: ۷۸۲، و في الفصولين اذا ضمنه الاب او الاجنبي وقع الخلع الخ (۲) او د عقد خلع د وخت تیریدلو نه پس به نکاح منظور وی کله چې د هغې په مرضئ باندې وی، خو دعرف نه دشق اول مراد کیدل معلومیږی ځکه چې اخستونکی خپل ځان مختار ګڼی چې خپله نکاح وکړی یائې په بل سړی باندې خرڅه کړی. وهوالموفق

ویزه اخستل او په بل چا باندې ګرانه خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې په عربستان کې ویزه د خپل ځان دپاره واخلی بیا هغه په ګران قیمت باندې خرڅوی، نو آیا دا صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: ډاکټر بهادر سید ریاض سعودی عرب ص ب ۲۹۵٤

الجواب: واضحه دې وی چې ویزه یو قسم کاغذ دې او مال متقوم دې. (۳) د هغې اخستل او خرڅول جائز دی اګر که په هر څومره قیمت باندې وی، خو د دواړو طرفونو راضی کیدل ضروری دی، بلکه دا چې په نزول عن الحق باندې عوض اخستل جائز دی، کما نزل سیدنا الحسن رضی الله تعالی عنه

---

۱) (درمختار ۲۰۷: ۲باب الخلع)

۲) (ردالمحتار ٦١٦: ۲مطلب في خلع الصغيرة)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: والمالية يثبت بتمول الناس كافة او بعضهم والتقوم يثبت بها و باباحة الانتفاع به شرعا. (ردالمحتار ۵: ۴مطلب في تعريف المال والملک والمتقوم) (و مثله في البحر الرائق ۲۵٦: ۵كتاب البيع)

لمعاوية رضى الله تعالى عنه على عوض (۱) وفى مسئلتنا ينزل بأئمه هذا عن حقه فافهم. وهوالموفق

د ويزې په اخستلو او خرڅولو کې د شرط فاسد حکم

سوال: څه فرمائى علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد په قطر کې هره ويزه په پنځه زره روپئ اخستلې ده او اوس ئې په عمر او بکر وغيره باندې په لس زره روپئ خرڅوى او قطر ته ئې رسوى خو ورسره دا وعده هم د هغوى نه اخلى چې هر يو کس به ماته درې سوه روپئ د مياشتې راکوئ، د دې شرط څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: د ويزې اخستل او خرڅول بذات خود مشروع دى. لكونه مالا متقوما (۲) كالنوت اولكونه من قبيل النزول عن الحق (۳) خو د نورو شرائطو فاسده ؤ د وجې نه د دې عقد فاسد کيدل ممنوع نه دى. (۴) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قوله و عليه فيفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال...واستدل بعضهم بنزول سيدنا الحسن بن سيدنا علي رضي الله عنهما عن الخلافة لمعاوية رضي الله تعالى عنه علي عوض و هو ظاهر ايضا و هذا اولي مما قدمناه في الوقف عن الخيرية من عد م الجواز. (ردالمحتار ۴:۱۷ مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

۲) قال العلامة ابن عابدين: والمالية يثبت بتمول الناس كافة او بعضهم والتقوم يثبت بها وباباحة الانتفاع به شرعا. (ردالمحتار ۴:۵ مطلب في تعريف المال والملک والمتقوم).
(ومثله في البحر الرائق ۵:۲۵۶ كتاب البيع)

۳) قال العلامة الحصكفي: وعلي هذا لا يجوز الاعتياض عن الوظائف... لكن افتي كثير باعتباره وعليه فيفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال.
(الدرالمختار ۴:۱۵،۱۶ مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

۴) وفي الهداية: وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسد. (الهداية ۳:۵۹ باب البيع الفاسد)

په ویزه کې د بائع مشتري ته د دهوکې ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام په دې مسئله کې چې یو سړی د سعودي عرب نه شل ویزې راوړې او وایي چې دا آزادې ویزې دی او دیرش زره روپۍ د دې قیمت دې، کله چې هغه ته وویلې شو چې هسې نه چې داسې وشی چې مونږ سعودیه ته تلو سره بې روزګاره ګرځو، هغه وویل چې زه اقرار کوم چې دا آزادې ویزې دی خو تاسو به تر شپږو میاشتو پورې مونږ سره یئ که کار وی او که نه وی او د شپږو میاشتو تیریدلو نه پس به مونږ تاسو ته ویلیز متهر درکوو او په ښه کمپنۍ کې به تاسو ته کار ملاؤ شی. هم په دې اقرار باندې دیرش زره روپۍ دهر کس ورکړې شوې، سعودیه ته رسیدلو سره معلومه شوه چې دا ویزې د زمیندارۍ د مزدورانو دی چې هغوی سوا د زمیندارۍ نه په بله هیڅ کمپنۍ کې کار نه شی کولې، ددې بې روزګارۍ د وجې نه هغه د ورور نه پنځوس زره روپۍ وغوښتلې، زمونږ ذکر شوې دواړو بچو یو لاک لس زره روپۍ خرچ کړې. فی الحال د زراعت په یو معمولی فارم باندې په درې زره روپۍ ملازمان دی، اوس هغه صاحب وائی چې هغوی په روزګار باندې دی حال دا چې دا ویزه په درې زره روپۍ باندې ملاویږی او هغه دیرش زره روپۍ د هر کس نه اخستلې دی. دخپل ورور نه ئې هم پنځوس زره روپۍ اخستلې دی. اوس سوال دا دې چې د دې دهوکې څه حکم دې او شرعا مونږ له څه کول پکار دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: باغی شاه چراټ نوښار.......٤ محرم ۱٤۰۵ھ

الجواب: دا مدعی علیه د ویزو خرڅونکې به د دهوکې ورکولو د وجې نه پیسې واپس کوی (۱) او که مدعی د تسلۍ دپاره قسم وخوری نو د شریعت خلاف نه دې (۲) **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة الحصکفي: (ان غره) اي غر المشتري البائع او بالعکس او غره الدلال فله الرد. (درمختار ۱۷۸:٤ باب المرابحة والتولية)

(۲) وفي الهندية: فان صحت الدعوي سأل المدعي عليه عنها فان اقر او انکر فبرهن المدعي قضي عليه والا حلف بطلبه. (هنديه ۱۳:٤ الباب الثالث في اليمين)

د ایجنسئ حکم، د کمپنئ د نرخ نه په زیات قیمت باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د حکومت نه د یوې ایجنسئ اخستل څه حکم لری؟

۲: زمونږ د سیمنټ ایجنسی ده، د سیمنټ د حکومت نه مقرر نرخ پنځوس یا شپیتهٔ روپئ بورئ دې، اوس که مونږ د دې نرخ نه په زیات قیمت باندې سیمنټ خرڅ کړو نو دا به جائز وی یا ناجائز؟ او د فیکټرئ قانون دادې لیکلې شی!

الف: سیمنټ کمپنئ والا زیاتولې هم شی او کم هم. ب: هر قسم سیمنټ د حکومت د فیکټرئ والا سپلائی کولې شی. ت: د سیمنټ اخستلو دپاره به پیسې اول د کمپنئ سره جمع کوی. د: په خپله علاقه کې چې څوک سیمنټ خرڅوی او کوم ریټ چې حکومت ورکړې دې هم په هغې باندې به یې خرڅوی وغیره؟ بینواتوجروا

المستفتی: عزیز الرحمن بنوں متعلم حقانیه اکوړه خټک......۱۰ رجب ۱۴۰۳ هجری

الجواب: د ایجنسئ اخستلو والا اګر چې د ایجنسئ په اخستلو کې ګنهګار دې، **لکونه شراء وبیعا بشرط.**(۱) خو د دې باوجود د مقرر نرخ نه مخالفت صرف قانونی جرم دې (۲) **لکونه مالکا یتصرف فی ملکه کیف شاء. وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الکاساني: والصحیح قولنا لما روي عن ابي حنیفة... ان رسول الله ﷺ نهي عن بیع وشرط والنهي یقتضي فساد المنهي عنه فیدل علي فساد کل بیع وشرط.
(بدائع الصنائع ۴:۳۸۷ الشروط الفاسدة)

۲) وفي الهدایة: ولا ینبغي للسلطان ان یسعر علي الناس... فان کان ارباب الطعام یتحکمون ویتعدون عن القیمة تعدیا فاحشا وعجز القاضي عن صیانة حقوق المسلمین الا بالتسعیر فحینئذ لا بأس به... فاذا فعل ذلک وتعدي رجل عن ذلک وباع بأکثر منه اجازه القاضي. (هدایة ۴:۴۷۲ فصل في البیع، کتاب الکراهیة)

یو سړی وعده وکړه چې ته ګاډی واخله بیا نې په ما باندې په ګران قیمت خرڅ کړه، څه حکم دی؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې حاجی عبدالله خان ته یو سړې وائی چې په کراچئ کې لارئ په پنځه لاکه روپئ باندې خرخیرې هغه زما دپاره واخله زه تاته یو لاک روپئ ګټه درکوم دا وعده ده یا بیع؟ بعض خلق وائی چې دا بیع ده او ناجائز ده، ځکه چې په بیع مالیس عنده کې داخل ده، بهر حال حاجی عبدالله خان لارئ اخلی او قبض کوی ئې د هغې نه وروستو د وعدې مطابق سوداګانې کوی آیا د وعدې مطابق ګټه اخستل جائز دی او که بیع ختمولو سره نوې عقد وکړی. **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی عبدل......۱۹۹۸ء/۳/۲۲

الجواب: دا معامله جائز ده ځکه چې د زید مقصد دا وی چې ته مالدار سړې ئې، لارئ په پنځه لاکه روپئ باندې واخله او د هغې نه پس ئې په ما باندې په اووه لاکه روپئ خرخه کړه نو په دې کې د عدم جواز هیڅ وجه نشته؟، دا حاجی د وعدې مطابق په بیع تعاطی سره په زید باندې لارئ خرخوی په دې کې هیڅ توکیل نشته.(۱) وهوالموفق

اهل حقوق ته دحقوق رسولونه پس بقایا مال په بلیک باندې خرڅول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې زه بغیر زما د طلب کولو ډپو هولډر مقرر کړې شوم دې وخت کې خلق د حاجت نه کیدو د وجې نه راشن نه وصولوی، ما د مجبورئ د وجې نه ووېل وروڼو زما پیسې بندې دی تاسو راشن نه اوچتوئ په دې باندې به مشرانو ووېل چې خپلې پیسې نقدې کړه او په بازار کې ئې په دکاندارانو باندې خرڅ کړه، نتیجتا به ئې

---

(۱) د سوال نه دا معلومیږی چه لارئ ددې بل سړی دپاره اخستلې شی او بیا دهغه نه د اداشوی قیمت نه زیاتې روپئ اخستلې کیږی لهذا دا سودی معامله ده او جائز نه ده. فافهم...(مفتی سیف الله حقانی)

ماته د بلیک طریقې نبودلې، یو کرت ما دهمکی ورکړه چې یا ماته د بلیک اجازت راکړئ یا زه ډېر پرېږدم، خلقو ماته په یو ځای د دې اجازت راکړو اوس ماته پریشانی دا ده چې کیدې شی دا کار ناجائز وی، د الله پاک په دربار کې حاضریدل دی، لهذا تاسو واضحه کړئ چې پورته ذکر شوې اخستل او خرڅول د خلقو په اجازت سره جائز دې یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالمتین ډېر هولډر ۱۹۷۵ء/۹/۲

الجواب: عوامو ته دهغوی دحق رسولو نه پس چې کوم راشن بچ شی یا دبعض کسانو خپل حق په خوشحالئ سره پریښودلو نه پس چې کوم بچت وشی هغه تاسو په بلیک باندې خرڅولې شئ، په دې کې هیڅ خیانت نشته. **وهوالموفق**

د بائع بیعانه د ضبط کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حاجی غلام محمد په اسماعیل باندې کور خرڅ کړو، په پنځه ویشت زره روپئ قیمت باندې فیصله شوې ده او فریق ثانی د کور اخستلو والا اقرار نامه استامپ اخستلو سره د هر دواړو ډلو نه دستخطونه سره د ګواهانو وکړل او پنځه زره روپئ بیعانه مونږته راکړې شوه او دا شرط تحریری واخستلې شو چې ۱۰/۲/۷۹ء تا ۱۰/۴/۷۹ء په میعاد کې که کور خرڅونکې انکاری شو نو لس زره روپئ به ادا کوی، په نه ادا کولو باندې به عدالت ته رجوع کوی، که اخستونکی یعنی مشتری رجستری ونکړی نو د هغه بیعانه به ضبط کولې شی، او میعاد ئې ختم شوې وې، نه اسماعیل د مهلت استدعا کړې ده نه ئې رجستری کړې ده نو په دې لحاظ سره داسودا ختمه شوې ده، اوس د شریعت په رڼا کې د بیعانه د ضبط کولو ماته حق حاصل دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی غلام محمد جهلم .... ۵/ رمضان المبارک

الجواب: چونکې دا عقد د شرط فاسد د وجې نه فاسد دې (۱) لهذا بائع او

---

(۱) قال العلامة شیخ الاسلام برهان الدین المرغینانی: وکل شرط لا یقضیه العقد وفیه منفعة لاحد المتعاقدین او للمعقود علیه وهو من اهل الاستحقاق یفسده.
(هدایه ۳:۵۹ باب البیع الفاسد)

مشتری هر یو د فسخ کولو او کالعدم کولو مجاز دي، خو د شرعی اصولو د لاندې دا بائع د بیعانه ضبط کولو مجاز نه دي (۱) وهوالموفق

د وسلې اخستل او خرڅول

سوال. څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا د وسلې اخستل او خرڅول د حکومت د اجازت نه بغير جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: دا اخستل او خرڅول صرف قانونی جرم دې. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي: وبيع العربون هو ان يشتري الرجل شيئا فيدفع الي البائع من ثمن المبيع درهما او غيره مثلا علي انه ان نفذ البيع بينهما احتسب المدفوع من الثمن وان لم ينفذ يجعل هبة من المشتري للبائع ... واختلف فيه العلماء فقال الجمهور انه بيع ممنوع غير صحيح فاسد عند الحنفية ... لان النبي ﷺ نهي عن بيع العربان.
(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۴۳۴ بيع العربون)

وفي المرقاة: قال نهي رسول الله ﷺ عن بيع العربان... هو ان يشتري السلعة ويدفع الي صاحبها شيئا علي انه ان امضي البيع حسب وان لم يمض البيع كان لصاحب السلعة ولم يرتجعه المشتري وهو بيع باطل عند الفقهاء لما فيه من الشرط والغرر.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ۶:۸۰ باب المنهي عنها من البيوع)

وقال الشيخ السهانفوري: قلت ويرد العربان اذا ترك العقد علي كل حال بالاتفاق.
(بذل المجهود في حل ابي داؤد ۲۸۷ باب في العربان)

۲) قال العلامة شيخ الاسلام برهان الدين المرغيناني: ويكره بيع السلاح في ايام الفتنة ... وقد بيناه في السير وان كان لا يعرف انه من اهل الفتنة لا بأس بذلک لانه يحتمل ان لا يستعمله في الفتنة فلا يكره بالشک. (هداية ۴:۴۷۲ فصل في البيع)

په کالو کې د سپينو زرو او تانبې ټانکه لګولو سره د سرو زرو په نرخ بانديې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو توله د سرو زرو کالی جوړولو کې يو ماسه ټانکه لګولې شی او په بعض کې درې ماسې، په يو ماسه سرو کې دوه رتۍ چاندی او يو رتۍ تانبه يوځای کولو سره ټانکه لګولې شی، د دې ټانکې نه بغير کالی نه جوړيږی. مونږ د دې ټانکې سره وزن کولو بانديې د سرو زرو په قيمت بانديې ورکوو او کله چې مونږ د ګاهک نه کالی اخلو نو د يوې تولې په ځای د يولس ماسو په قيمت ورکوو.او د اصلی سرو زرو د نرخ نه دوه سوه روپۍ هم کمې ورکوو، آيا دا جائز دی يا ناجائز؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: عصمت الله جيولرز بنوں........١١ رمضان المبارک ١٤٠٥هـ

الجواب: دا معامله جائز ده. په دې کې نه دهوکه موجود ده او نه سود، ټانکو او چاندۍ لره د سرو په نرخ بانديې خرڅول په هيڅ مذهب کې منع نه دی خصوصاً کله چې د الحاظ وکړې شی چې په غالب الذهب اوخالص الذهب کې فرق معتبر نه وی (١) او که زرګران د کالو د اخستلو په وخت د دوه زره روپو کالې په اتلس سوه بانديې اخلی نو په دې کې ربا نشته.(٢) سود دا دې چې يو توله کالې په يولس ماسې سرو بانديې واخلی.(٣) **وهوالموفق**

---

١ ﴾ وفي الهندية: وان كان الغالب علي الدنانير الذهب فهي ذهب ويعتبر فيها من تحريم التفاضل ما يعتبر في الجياد حتي لا يجوز بيع الخالصة بها ولا بيع بعضها ببعض الا متساويا في الوزن. (فتاوي عالمگيرية ٣:٢١٩ الفصل الاول في بيع الذهب والفضة)

٢ ﴾ قال العلامة الحصكفي: (وان عدما حلا) كهروي بمرويين لعدم العلة.
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ٤:١٩٩ باب الربا)

٣ ﴾ وفي الهندية: وهو في الشرع عبارة عن فضل مال لا يقابله عوض في معاوضة مال وهو محرم في كل مكيل وموزون بيع مع جنسه.
(فتاوي عالمگيرية ٣:١١٧ الفصل السادس في تفسير الربا)

په سود خور باندې د یو څیز د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سود خور یا په بله طریقه باندې حرام مال گټونکو والا انسان باندې د یو څیز خرڅول څنګه دی؟ کله چې دکاندار ته د هغه مال معلومات وی. **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحئ بمعرفت مبارک شاه دارالسلام

الجواب: د حرام مال د مبیعې په عوض اخستل هم حرام دی، لقول الفقهاء الحرمة تنتقل (۱) وهوالموفق. (کتبه مفتی سیف الله حقانی)

پنشن په حکومت باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې سرکاری ملازم کله چې ملازمت پوره کړی نو سرکار ئې په پنشن باندې ډسچارج کوی، خو سرکار د پنشن نه څلور حصې خپله اخلی، او څلور حصې ملازم خپله په سرکار باندې خرڅې کړی او دوه حصې د ملازم دپاره د میاشتې د گورنمنټ (حکومت) نه د اخستلو دپاره باقی پاتې شی. ۱: سرکار چې د ملازم نه په زبردستئ باندې ۴/۱ حصه اخلی آیا د سرکار دپاره چې کوم قیمت د اخستلو دې او د ملازم دپاره چې کوم قیمت د خرڅولو دې پیسې جائز دی یا نه؟ ۲: پنشن والا چې په خپله مرضئ سره خپل پنشن په سرکار باندې خرڅوی آیا دا قیمت جائز دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحمید ایس وی معلم گورنمنټ هائی سکول لڈھا
ډی آئی خان...... ۱۰ رمضان المبارک ۱۴۰۳ھ

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: الحرام ينتقل فلو دخل بامان واخذ مال حربي بلا رضاه واخرجه الينا ملكه وصح بيعه لكن لا يطيب له ولا للمشتري منه، (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله الحرام ينتقل) اي تنتقل حرمته وان تداولته الايدي وتبدلت الاملاک، (قوله ولا للمشتري منه فيكون بشرائه منه مسيئا لانه ملكه بكسب خبيث وفي شرائه تقرير للخبث ويؤمر بما كان يؤمر به البائع من رده على الحربي. (الدرالمختار ۴:۱۴۵ مطلب البيع الفاسد لا يطيب له ويطيب للمشتري منه)

الجواب: دا پنشن د حکومت د طرف نه ورکړه او امداد دې، پس پنشن ټول یا بعض په حکومت باندې خرڅول که په خوښه وی او که جبرا قابل اعتراض امر نه دې، په ورکړه کې ورکوونکی هر قسم تصرف کولې شي. وهوالموفق

دقیمت د وصولولو نه مخکې مبیع دوباره په بائع باندې په کم قیمت خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی لنډی کوتل کې بعض سوداګرو دا کاروبار اختیار کړې دې چې مثلا سعید یو فریج په شپږ زره روپۍ د دوه میاشتو په وعده باندې د زید په لاس خرڅ کړې بیا سعید د زید نه دا فریج په څلور زره روپۍ باندې اخلی او هغه ته څلور زره روپۍ نقدې ورکوی ځکه چې زید ته د پیسو ضرورت وو پس هغه دوه زره روپۍ تاوان برداشت کولو سره څلور زره روپۍ د سعید نه نقدې واخستلې او شپږ زره روپۍ به دوه میاشتې پس سعید ته ورکوی زمونږ خلقو دا قسم طریقه خپله کړې ده، لهذا تاسو حکم شرعی بیان کړئ بینواتوجروا

المستفتی: عثمان خیل دکاندار لنډی کوتل ٤ جمادی الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا معامله ناجائز ده، لما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۴: ۱۱۴، ۱۱۵ وفسد شراء ما باع بنفسه اوبوکیله من الذی اشتراه ولو حکما کوارثه بالاقل من قدرالثمن الاول قبل نقد کل الثمن الاول (۱). وهوالموفق

د ولی د یتیم دمال خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې متوفی د خپل ځان نه وروستو یو زوجه او څه نابالغ اولاد پریښودلې دې،، په میراث کې هغه کور هم دې په کوم کې چې هغوی اوسیدل، خو د هغه د وفات نه پس په هغه کور کې د هغه د بچو اوسیدل ګران دی، کونډه او د

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱۲۸:۴ باب البیع الفاسد)

هغې سرپرست خپلوان دې کور لره خرڅولو سره د هغې په عوض کې په بل ځای کور جوړول غواړي. آیا د هغوی دا عقد بیع هرکله چې ماشومان نابالغ دی صحیح ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: حافظ مولانا احتشام الحق خطیب سي ایم ایچ نوښهره

الجواب: ولي (سرپرست) د یتیم په مال کې تصرف نافعه کولې شي (۱) کما في اداب الاوصياء على هامش جامع الفصولين ۱۴۵/۲ اولحاجة اليتيم الى ثمنه. وهوالموفق

د ریډیو او ټي وي د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې په دکان کې د نور سامان سره ریډیو او ټي وي هم خرڅوي نو د هغه ټي وي تجارت صحیح دې یا نه دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: تبلیغي حضرت صابر جنرل ستور کوچي مارکیټ

نوښار صدر...... ۱۸/ربیع الثاني ۱۴۰۳هـ

الجواب: ریډیو او ټي وي بذات خود آلات دي، په جائز او ناجائز دواړه قسم کارونوکې په کارراوستلې کیږي خوچونکې عموماً آلات دلهواولعب دپاره اخستلې شي لهذا د قواعدوپه رڼا کې ددې خرڅول ممنوع دي. خوکه څوک ئې په نیک نیت باندې اخلي نو په هغه باندې خرڅول منع نه دي. (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: (و) جاز شراء مالا بد للصغير منه وبيعه) اي بيع مالابد للصغير منه لاخ وعم وام. (درمختار ۵:۲۷۶ فصل في البيع، كتاب الحظر والاباحة)

وفي الهندية: ولو باع الوصي ماله من اجنبي بمثل قيمته يجوز وقيل انما يجوز تصرفه باحد شروط ثلاثة اما ان يبيع بضعف قيمته او للصغير حاجة الي ثمنه.
(هندية ۳:۱۷۶ مطلب في بيع القاضي وشرائه مال اليتيم)

(۲) قال العلامة الحصكفي: (وجاز بيع عصير) عنب (ممن) يعلم انه (يتخذه خمرا) لان المعصية لا تقوم بعينه بل بعد تغيره وقيل يكره لا عانته علي المعصية... ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريما والا فتنزيها. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۳۷۶، ۳۷۷ فصل في البيع، كتاب الحظر والاباحة)

په کفارو باندې افیون او هیروئن خرڅول

سوال: څه فرمائی د شرع متین علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د پاکستان نه افیون او هیروئن برآمد کولو سره مغربی ملکونو ته رسوی، د بعض علماء کرامو خیال دې چې چونکې یورپی ممالک دارالکفر دې او د مسلمانانو په مخالفت کې څه کمې نه پریږدی په دې وجه په طور د دشمنئ په دې ملکونو کې د دې سړی تجارت صحیح دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد عثمان فاضل دارالعلوم کراچۍ کورنګی.... ۱۴/محرم ۱۴۰۵ھ

الجواب: د مسلمانانو دپاره د افیون او هیروئن وغیره خرڅول مکروه تحریمی دی برابره خبره ده که دا خرڅول په کفارو باندې وی او که په مسلمانانو باندې. اما الکراهیة فلما فی اشربة شرح التنویر، وصح بیع غیر الخمر وفی ردالمحتار ۵:۴۰۱ ثم ان البیع وان صح لکنه یکره کما فی الغایة(۱) واما کونها تحریمیة فلورود التادیب فی ماهوادنی منها(۲) واما الاطلاق فظاهر من اطلاقهم، پس په یورپی کفارو باندې د افیون خرڅول په حقیقت کې د دین هیرول بلکې د دین خرڅول دی. وهوالموفق. وفیه تامل: (مفتی سیف الله حقانی)

د افیون د تجارت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د افیون تجارت څنګه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی عبدالعزیز درګۍ ملاکنډ ایجنسی.....۲۱/جولائی ۱۹۷۹ء

---

۱) (درمختار مع ردالمحتار ۵:۳۲۳ کتاب الاشربة)

۲) وقال العلامة الحصفکي: وممن جزم بحرمة الحشیشة شارح الوهبانیة في الحظر ونظمه فقال:... وافتوا بتحریم الحشیش وحرفه وتطلیق محتش لزجر:: وقرروا لبائعه التادیب والفسق اثبتوا. (درمختار ۵:۳۲۷ کتاب الاشربة)

الجواب: د افیون تجارت مکروه تحریمی دې کله چې دا تداوی د پاره نه وی، اما الكراهة فلما فی ردالمحتار ۶: ۴۰۴ ثم ان البیع وان صح لكنه یكره كما فی الغایة(١) واما التحریم فلكونها مطلقه ولروایة تأدیب بائع الحشیشة كما صرح به قبیل الصید(٢) وهومثل الافیون بل دونه واقله ضررفافهم. وهوالموفق

تمباکو، د خشخاش او افیون اخستل او خرخول او خوراک، د بینک د ملازمت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا په ځمکه باندې تمباکو او خشخاش کرل جائز دی یا ناجائز او کومه ګټه چې د تمباکو د پانو یا د خشخاش د تخم او افیون نه حاصلیږی هغه حرام دې یا حلال؟ او د خشخاش تخم استعمالول حرام دی یا حلال؟ دا قسم نور معلومات که راکړې شی نو ډیره مهربانی به وی، د بینک د ملازمت په باره کې د علماء کرامو متفقه فیصله څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: سید جمال شاه نیشنل بینک آف پاکستان

مینګوره سوات.....۲۳ | صفر ۱۳۹۰ھ

الجواب: الف: چونکې د تمباکو څښل په غرض صحیحه سره مباح دی لهذا ددې کرل او اخستل خرخول هم مباح دی. قال العلامة الشامی: فانه لم یثبت اسكاره، ولا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فی الاشیاء الاباحة(٣).

---

١) (ردالمحتار ۵: ۳۲۳ کتاب الاشربة)

٢) وقال العلامة الحصكفي: وممن جزم بحرمة الحشیشة شارح الوهبانیة في الحظر ونظمه فقال: ... وافتوا بتحریم الحشیش وحرقه وتطلیق محتش لزجر
و قرروا لبائعه التادیب والفسق اثبتوا.
(درمختار ۵: ۳۲۷ کتاب الاشربة)

٣) (ردالمحتار ۵: ۳۲۶ کتاب الاشربة)

[ب]: د خشخاش تخم بیشکه حلال او جائز دي ځکه چې نه مسکر دې او نه مفتر (١) [ت]: د افیون اخستل او خرڅول مکروه دی. صرح به رد المحتار کتاب الاشربة. (٢)

ج : د بینک په ملازمت کې تعاون علی المعصیة موجود دې کوم چې حرام دې. لقول رسول الله ﷺ لعن آکل الربوا وموکله وکاتبه (رواه النسائی) (٣). قال الله تبارك وتعالی: ولاتعاونوعلی الاثموالعدوان (٤). وهوالموفق

د ملازم سرکاری څیز په زیات قیمت باندې خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د سرکاری ډاکخانې لفافه او پوسټ کارډ د مقرر قیمت نه په زیات قیمت باندې خرڅول او ګټه پرې کول جائز دی یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد ایوب خان بمعرفت حاجی شیر زمان وانا کیمپ وزیرستان. ربیع الاول ١٣٩٤ھ

الجواب: د ډاکخانې د ملازمینو دپاره د مقرر نرخ نه په زیات قیمت باندې خرڅول جائزنه دی ځکه چې دا خلق د حکومت د طرف نه وکیلان دی او د حکومت په نزد په زیادت باندې خرڅول جرم دې. (٥) خو کوم سړې چې د

---

١) قال العلامة ابن عابدین : ولیس الاحتیاط في الافتراء علي الله تعالیٰ باثبات الحرمة او الکراهة اللذین لا بد لهما من دلیل بل في القول بالاباحة التي هي الاصل. (ردالمحتار ٥:٣٢٦ کتاب الاشربة)

٢) قال العلامة ابن عابدین : (قوله صح بیع غیر الخمر)... ثم ان البیع وان صح لکنه یکره کما في الغایة. (ردالمحتار ٥:٣٢٣ کتاب الاشربة)

٣ (سنن نسائي ٢:٢٨٠ الموتشمات وذکر الخلاف علي عبد الله بن مرة والشعبي في هذا، کتاب الزینة)

٤) (سورة المائدة آیت: ٢)

٥) قال العلامة الکاساني : واما الوکیل بالبیع فالتوکیل بالبیع لا یخلو اما ان یکون مطلقا واما ان یکون مقیدافان کان مقیدایراعي فیه القید بالاجماع (بدائع الصنائع ٥:٢٦ کتاب الوکالة)

د اکخانې نه لفافې واخلی. او د هغې نه پس ئې په زیاتو پیسو خرڅوی نو بیع صحیح ده خود وعدې خلاف کار کولو باندې به گنهگار وی. وهوالموفق

د اخستلو او خرڅولو په مجلس کې په مختلفو قیمتونو سره نرخ مقررولو باندې بیع کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو کمیشن ایجنټ مونږ ته د بازار نه کپړه په لاندې لیکلې شوې شرطونو باندې راکوی:

۱: د نقد ادا کولو په صورت کې په اته انې فی سینکړه. (یعنی سل جوړې)

۲: په لس دولسو ورځو کښې د ادا کولو په صورت کې په یوه روپئ فی سینکړه ۳: یو میاشت یا د هغې نه د زیاتې په صورت کې یوه روپئ او اته انې فی سینکړه، نو آیا په دې پورته ذکر شوې شرطونو باندې ورکول جائز دی او که په سود کې داخلیږی. بینوا توجروا

المستفتی: شیخ زاهد علی بمعرفت ضیاء کلده هاؤس ریل بازار لائکپور. ۱۵/۷/۸۲

الجواب: که هم د دې اخستلو او خرڅولو په مجلس کې جنس او قیمت متعین کړې شوې وی نو د نقد د وجې نه کمې او د غیر نقد په صورت کې زیادت جائز دې.(۱) لان الحرام هی الزیادة عوض الاجل لا لاجل الاجل صرح به العلامة اللکهنوی فی فتاواه ۱: ۵۴۷(۲). وهوالموفق

---

۱) وفي خلاصة الفتاوي: رجل باع شيئا علي انه بالنقد بكذا وبالنسيئة بكذا والي شهرين بكذا والي شهر بكذا لم يجز.

(خلاصة الفتاوي ۳:۶۰ جنس آخر فيما يتعلق بالثمن)

۲) قال العلامة عبد الحي اللكهنوي: د ثمن زياتوالي د اجل (نيټې) په وجه بيشکه صحيح دي ددې ثبوت د هدايه د کتاب المرابحه د عبارت نه ډيرښه کيږی. په هدايه کې دی الا تري انه يزاد في الثمن لاجل الاجل... فصيح الدين هروي رحمه الله د شرح وقايه په کتاب المرابحه کې داسې ليکی في النسيئة يزاد الثمن...[بقيه برصفحه آئنده...

د میلو د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې میلو ښکار کړی او په هغه باندې تکبیر ویلو سره ئې ذبح کړی نو د هغه میلو غوښه د اوښ یا د غوا د طاقت زیاتولو دپاره یا د هغه تیل د نورو فائدو دپاره خرڅول جائز دي یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی گل ولی خان ۱۵/۱/۱۹۶۹

الجواب: چونکې میلو حرام دې لهذا د هغه د غوښې او وازګې پخپله خوړل او په بل باندې خوړل هم حرام دی.

فی الهندیة: فذوالناب من سباع الوحش مثل الاسد... والدب والقرد فلا خلاف فی هذه الجملة الافی الضبع فانه حلال عندالشافعی ۵: ۳۲۱ (۱)

بیشکه کله چې ذبح شرعی موجوده شی نو غوښه او وازګه اګر چې نجس نه ده خو د هغې پخپله خوړل اوپه انسان باندې خوړل حرام وی. او نورې فائدې ترې نه اخستل جائز دی.

قال فی الهندیة ۵: ۳۱۸ واما حکمها فطهارة المذبوح وحل اکله من الماکول وطهارة غیر الماکول للانتفاع لا بجهة الاکل کذا فی محیط السرخسی (۲). فقط

...بقیه ازحاشیه گذشته] لاجل الاجل اوپه البحر الرائق کې دی: لان للاجل شبها بالمبیع الاتري انه یزاد في الثمن لاجل الاجل اوهم په دې کتاب څو کرښې پس لیکی: الاجل في نفسه لیس بمال ولا یقابله شيء من الثمن حقیقة اذا لم یشترط زیادة الثمن بمقابله قصدا ویزاد في الثمن لاجله اذا ذکر الاجل بمقابلة زیادة الثمن قصداً.

(مجموعة الفتاوي ۲: ۱۲۴ کتاب البیع)

۱) (فتاوي هندیة ۵: ۲۸۹ الباب الثاني في بیان مایؤکل من الحیوان وما لا یؤکل)

۲) (فتاوي هندیه ۵: ۲۸۶ کتاب الذبائح، الباب الاول في رکنه وشرائطه وحکمه)

نیلام او په هغې کې بولۍ نه کولو والو ته د پیسو ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د حکومت د طرف نه هر وخت د مختلفو څیزونو د نیلام کولو احکامات جاری کیږی او په هغې باندې بولی کولې شی کوم چې زمونږ د علاقې د څو مخصوص کسانو اجاره داری جوړه شوې ده، د حکومت کسان د نیلامۍ په ورځ باندې موجود وی او هم هغه مخصوص کسان په بنده کمره کې کیناستلو سره خپل مینځ کې فیصله کوی چې مثلا لس زره د یو څیز قیمت دې په مونږ کې دې څوک هم د دوه زرو نه زیاته بولی نه کوی په هغوی کې به یو د درې زرو بولی کوی، او بولی به دهغه په حق کې شی، اوس چې چا بولی اخستلې ده هغه به مونږ لسو کسانو ته هر یو کس ته سل سل روپۍ راکوی ددې په بدل کې چې مونږ د هغه په بولی یعنی د درې زرو نه د زیاتی رقم بولی نه ده کړې، آیا دا پیسې جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی امتیاز خان سکنه میرا کبر غوریواله بنوں

الجواب: نیلام (بیع من یزید) بذات خود جائز ده : کما ورد فی حدیث الترمذي وغیره.(۱) وصرحه به جمیع فقهاء الحنفیة (۲) خو د ملکیت غیر نیلام (اخستل او خرڅول) بغیر د اذن شرعی نه حرام دې.(۳) بله دا چې بولی نه

---

(۱) عن انس بن مالک رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ باع حلساً وقدحاً وقال من یشتري هذه الحلس والقدح فقال رجل اخذتهما بدرهم فقال النبي ﷺ من یزید علي درهم فاعطاه رجل درهمین فباعهما منه (جامع الترمذي ۱:۳۶۱ ابواب البیوع ،باب ماجاء في بیع من یزید)

(۲) قال العلامة الحصكفي : لا یکره ... بیع من یزید وقد باع علیه الصلوٰة والسلام قدحا وحلسا ببیع من یزید . (الدرالمختار ۱۴۹،۱۴۸ :۴ باب البیع الفاسد)

(۳) وفي الهندیة : اما شرائط الانعقاد فانواع منها ان یکون مملوکا في نفسه وان یکون ملک البائع فیما یبیعه لنفسه فلا ینعقد بیع الکلاء ولا بیع ما لیس مملوکا له وان ملکه بعده. (فتاویٰ هندیة ۳،۲:۳ کتاب البیوع ، الباب الاول)

کونکو اشخاصو ته څه پیسې ورکول د رشوت کیدو د وجې نه ، اخستل او ورکول دواړه حرام دی. (۱) وهوالموفق

په حرام مال باندې د اخستلې شوی څیز د استعمال حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې کوم سړې په حرام مال باندې یو څیز واخلی نو د هغې د استعمال به څه حکم وی، په تفصیل سره بیان کړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: چونکې زمونږ په علاقو کې د ثمن تعین نه شی کولې بلکې عقد علی الاطلاق نه پس ثمن او رقم ورکولې شی او هم د دې په شان صورت کې مبیعه حلاله راځی. لهذا په دې طریقه سره د اخستلې شوې څیز په استعمال کې باک نشته او د تعین صورت که وی نو مبیعه به حلاله نه وی. ردالمحتار (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين : الرشوة بالكسر ما يعطيه الشخص الحاكم وغيره ليحكم له او يحمله علي ما يريد ... وفي القنية الرشوة يجب ردها ولا تملك وفيها دفع للقاضي او لغيره سحتا لاصلاح المهم فاصلح ثم ندم يرد ما دفع اليه.
(ردالمحتار ۴:۳۳۷،۳۳۸ مطلب في الكلام علي الرشوة)

(۲) قال العلامة ابن عابدين : (قوله اكتسب حراما الخ) توضيح المسألة ما في التتارخانية حيث قال رجل اكتسب مالاً من حرام ثم اشتري فهذا علي خمسة اوجه اما ان دفع تلك الدراهم الي البائع اولا ثم اشتري منه بها او اشتري قبل الدفع بها ودفعها او اشتري قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشتري مطلقا ودفع تلك الدراهم او اشتري بدراهم اخر ودفع تلك الدراهم قال ابو نصر يطيب له ولا يجب عليه ان يتصدق الا في الوجه الاول واليه ذهب الفقيه ابو الليث... وقال الكرخي في الوجه الاول والثاني لا يطيب وفي الثلاث الاخيرة يطيب وقال ابوبكر لا يطيب في الكل لكن الفتوي الآن علي قول الكرخي دفعا للحرج عن الناس. (ردالمحتار ۴:۲۴۴ مطلب اذا اكتسب حراماً ثم اشتري فهو علي خمسة اوجه)

د (سپینې) خاورې په بدل کې په موسم کې مکئ ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې زمیندار اکثر غریب دی او دکاندار هغوی ته خاوره د مکئ په بدله کې ورکوی یعنی یو بورئ خاوره ورکوی او فیصله کوی چې په موسم راتلو باندې به دوه منه اوچ مکئ زما دکان ته رارسوې آیا دا بیع جائز ده یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: شیخ محمد میر سوات.....۸ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: د نیټې د جهالت د وجې نه ناجائز ده. (هدایة) (۱) وهوالموفق

ډالډه غوړو لره د کورنی غوړو په نرخ باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ډالډه غوړی، کوم چې د خالص کورنو غوړو په شان ښکاریږی او بائع او مشتری دواړه ئې کورنی غوړی ګڼی، هغه د کورنو غوړو په قیمت باندې خرڅول جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد علی خان سکنه غوریواله ضلع بنون...۱۹۷۶ء/۲/۲۵

الجواب: د دې خاص غوړو د کورنو غوړو په نرخ باندې خرڅول جائز دی،

---

(۱) قال العلامة المرغيناني: لا يجوز البيع الي قدوم الحاج وكذلک الي الحصاد والدياس والقطاف والجزار لانها تتقدم وتتاخر.
(هداية ۳:۶۱ باب البيع الفاسد)

وقال العلامة الحصكفي: وصح بثمن حال ومؤجل الي معلوم لئلا يفضي الي النزاع، وقال العلامة ابن عابدين: (قوله لئلا يفضي الي النزاع) واما مفهوم الشرط المذكور وهو انه لا يصح اذا كان الاجل مجهولا.
(شامي ۴:۲۵ مطلب في التأجيل الي مجهول)

خو دهوكه وركول او دې غوړو ته كورنى غوړي ويل حرام دي. لما رواه مسلم ان النبى ﷺ نهى عن بيع الغرر. (۱) پس تاسو توبه وكړئ او زياتى قيمت واپس كړئ. (۲) وهوالموفق

د بائع د ثمن نه زيات ليكلې شوې پيسې د مشترى نه اخستل

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې يو بائع په مشترى باندې د ځمكې يوه ټكړه په لس زره روپۍ باندې خرڅوى، مشترى اوس دا شرط لګوى چې زه به سنا د ورونو او حقداران شفعه د وجې نه په كاغذونو كې پنځلس زره روپۍ وليكم او س كه بائع پنځلس زره روپۍ اخستلو سره انكار وكړى چې زه بقايا پيسې نه دركوم نو په صورت مذكوره كې بقايا پيسې چې پنځه زره روپۍ دى د بائع دپاره اخستل جائز دى يا ناجائز؟ بينواتوجروا

المستفتى: مولانا عبدالرؤف مقام ودا كخانه ويسه ضلع كيمبلپور

الجواب: د بائع دپاره دا زياتى پيسې اخستل حرام دى ځكه چې دا رقم په ثمن كې داخل نه دې. (۳) والهزل لايؤثرفى البيع(۴) وهوالموفق

---

۱) عن ابي هريرة رضي الله تعالي عنه قال نهي رسول الله ﷺ عن بيع الحصاة وعن بيع الغرر. (الصحيح للامام المسلم ۲:۲ باب بطلان بيع الحصاة والبيع الذي فيه غرر)

۲) قال العلامة الحصكفي: ان غره المشتري البائع او بالعكس فله الرد.
(درمختار ۱۷۸:۴ باب المرابحة)

۳) وفي شرح المجلة: الثمن ما يكون بدلا للمبيع ويتعلق بالذمة.
(شرح المجلة ۲:۲ المادة ۱۵۲)

۴) قال العلامة ابن عابدين: (قوله ولم ينعقد مع الهزل)... فان تواضعا علي الهزل باصل البيع اي توافقا علي انهما يتكلمان بلفظ البيع عند الناس ولا يريدانه واتفقا علي البناء اي علي انهما لم يرفعا الهزل ولم يرجعا عنه فالبيع منعقد لصدوره من اهله في محله لكن يفسد البيع لعدم الرضاء بحكمه (ردالمحتار ۷،۸:۴ كتاب البيوع ،مطلب في حكم البيع مع الهزل)

په بلیک باندې مال خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: په باره کې دکانونه د حکومت پاکستان ملکیت دی، د هغې کرایه حکومت پاکستان وصولوی او هلته مختلف سهولتونه مثلاً بجلی وغیره حکومت پاکستان ورکوی.

۲: د بارې نه مختلف څیزونه پیښور یا پنجاب ته د رسولو په وخت بعض وخت کسټم والا پریږدی او بعض وخت کېږه وغیره اخلی.

۳: په پیښور کې یو کوچی بازار د بارې نه د راوړلې شوې کپړې نه ډک دې، او بغیر د څه ممانعت نه په هغه بازار کې د دې کاروبار کیږی.

۴: عام طور دوه درې جوړه کپړې یا نور څیزونه په لږ مقدار کې راوړلو سره هغوی نه نیسی خو که زیاته کپړه یا نور څیزونه زیات وی نو نیسی ئې او کله ئې پریږدی هم د دې مسئلې تفصیل راولیږئ. **بینواتوجروا**

المستفتی: غلام علی پی اے ایف پشاور ......۱۸ اگست ۱۹۹۹ء

الجواب: د اسلامی نظام د راتلو نه پس د امیر المومنین هر حکم واجب التسلیم وی او د دې نه مخکې د صدر د حکم مخالفت کول قانونی جرم دې اسلامی جرم نه دې.(۱) په دنیوی خطراتو سره مالی دې او د اخروی خطراتو نه خالی دې. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي: لان طاعة الامام فيما ليس بمعصية فرض. وقال العلامة ابن عابدين: والاصل فيه قوله تعالي واولي الامر منكم وقال ﷺ اسمعوا واطيعوا ولو امر عليكم عبد حبشي اجدع وروي مجدع وعن ابن عمر انه عليه الصلاة والسلام قال عليكم بالسمع والطاعة لكل من يؤمر عليكم ما لم يامركم بمنكر. (شامي ۳:۳۴۰ مطلب في وجوب طاعة الامام) ... [بقیه برصفحه آئنده]...

د غیر د ملک بیع او هغې ته د حلال ویلو حکم

سوال: اطلب من سماحتكم حل المسئلة صورتها رجل خرج من البيت في سبيل الله واعطى ارضه لاخيه من الاب بحضور الرجال من القرية بان تزرع ارضي وتكون الزراعة منصفا بيني وبينك على سواء بشرط ان لاتبدل ولا تبع ارضي بالغير وايضاً هذا القول بحضور الرجال من القرية فقال اتبع كلامك واسلم كلامك وقالت الرجال ان باعها فنحن ضامنون لك، ثم لما ذهب ايام فباع بعضها وبدل بعضها بدون الاجازة من صاحب الارض ايصح هذا البيع املا؟ والا فالزراعة حرام املا؟ وان كانت حراما فيقولون بالحلة بعد العلم بحرمتها فما حكم هؤلاء الناس وايضا ان ولد له ولداً فما حكم ولده بالحلة والحرمة؟ بينوا توجروا

المستفتي: سید غفور متعلم دار العلوم حقانیه اکوړه ختک... ۱۹۶۹ء/۹/۲۵

الجواب: هذا البيع والتبدل حرام وكذا الانتفاع بها قال الله تعالى: ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل (۱) وقال رسول الله ﷺ لا يحل مال امرء مسلم

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وقال الدكتور وهبة الزحيلي: حدد الماوردي واجبات المسلمين نحو الحاكم بامرين وهما (۱) الطاعة في غير معصية. (۲) النصرة مالم يتغير حاله، فقال اذا قام الامام لما ذكرنا من حقوق الامة فقد ادي حق الله تعالي فيما لهم وعليهم ووجب له عليهم حقان الطاعة والنصرة مالم يتغير حاله... وبذل الطاعة مشروط بقيام الحاكم بواجباته التي ذكرت سابقا ومضمونها التزام اوامر الشريعة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۸:۶۱۹۰ حقوق الامام الحاكم)

۱) (سورة النساء آیت ۲۹)

الاعن طیب قلبه(۱)، وفی استحلال هذا البیع والتبدل مع العلم بعدم الاذن خوف الکفر، قال فی شرح العقائد النسفیة ۱۲۰ اذا اعتقد الحرام حلالا فان کانت حرمته لعینه وقد ثبت بدلیل قطعی یکفر والافلا بان یکون حرمته لغیره او ثبت بدلیل ظنی وبعضهم لم یفرق بین الحرام لعینه ولغیره فقال من استحل حراما وقد علم فی دین النبی ﷺ تحریمه فکافر انتهی (۲) باختصار یسیر ولا نقص فی الاولاد لان المغصوب یملك بالاستهلاك، والاکل استهلاك (۳). وهو الموفق

د پلار په ځوی باندې د یو ځیز د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې چې نوم ئې نجیب الله دې د هغه درې ځامن دی دغه مذکوره سړی خپل پوره جائیداد په خپل ژوند کې تقسیم کړو، د پوره جائیداد ئې څلور حصې جوړې کړې درې حصې ئې خپلو درې وارو ځامنو ته ورکړې او یوه حصه ئې خپله واخستله بیا ئې خپله حصه په خپل ژوند کې خپل وړوکی ځوی باندې د زرو روپو په عوض کې خرڅه کړه او د خپلې بوډئ ښځې د ګور کفن او خرج اخراجات ئې هم د وړوکی ځوی په ذمه باندې ولګول، نجیب الله وفات شو

---

۱ ﴾ وفي مشکوٰة المصابیح: عن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه.
(مشکوٰة المصابیح ۲۵۵ باب الغصب والعاریة)

۲ ﴾ شرح العقائد ۱۳۰)

۳ ﴾ وفي الدرالمختار: فان غصب وغیر المغصوب فزال اسمه واعظم منافعه او اختلط المغصوب بملك الغاصب بحیث یمتنع امتیازه او یمکن بحرج ضمنه وملکه بلاحل انتفاع قبل اداء ضمانه فلو غصب طعاما فمضغه حتي صار مستهلکا یبتلعه حلالا في روایة.
(الدرالمختار ۱۳۵: ۱۳٤: ۵ کتاب الغصب)

اوس د هغه نور ځامن د پلار خرڅول نه مني، مهرباني وکړئ اوس د شریعت په رڼا کې دا بیان کړئ چې د پلار دا بیع د کشر ځوی په حق کې صحیح ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: علاقه گدون قومی دواخانه ټلا تحصیل صوابی ضلع مردان ۱۹۶۹ء/۳/۲۲

الجواب: د نجیب الله د کشر ځوی گواهان که موجود وی نو حکم یا حاکم ته دې پیش کړی ځکه چې د پلار په ځوی باندې خرڅول بیشکه صحیح دی (۱) خو ثبوت ضروری دې. (۲) وهوالموفق

د زمیندار د مالک ځمکې لره خرڅول اولنگی اخستلو سره غیرته قبضه ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بکر د ځمکې مالک دې، عمر د هغه زمیندار دې. آیا دا زمیندار شرعا دا ځمکه خرڅولې شی، او آیا لنگی اخستلو سره د ځمکې د مالک په غیر موجودگئ او بې خبرئ کې د ځمکې قبضه یو غیر کس ته ورکولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: امیر حسن سکنه دیر ۱۹۸۵ء/۳/۱۶

الجواب: دا زمیندار نه د ځمکې مالک دې او نه د ځمکې د مالک وکیل، لهذا دا زمیندار نه خو د ځمکې د خرڅولو اجازه لري(۳)، او نه لنگی

---

۱) قال العلامة الحصكفي: وينعقد ايضا بلفظ واحد كما في بيع القاضي والوصي والاب من طفله وشرائه منه. (الدرالمختار ۴:۲۰ كتاب البيع)

۲) قال العلامة الحصكفي: ونصابها لغيرها في الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره رجلان او رجل وامرأتان. (الدرالمختار ۴:۴۱۳ كتاب الشهادة)

وفي الهندية: وشرط فيها شهادة رجلين او رجل وامرأتين سواء كان الحق مالا او غير مال. (فتاوي هندية ۳:۴۵۱ كتاب الشهادات، الباب الاول)

۳) وفي شرح المجلة: ويشترط لنفاذ البيع ان يكون البائع مالكا للمبيع وان لا يكون في المبيع حق آخر. (شرح المجلة ۲:۳۴۹ المادة۳۶۵) ...[بقيه برصفحه آئنده...

اخستلې شی، او نه داسلامی اصولو خلاف قوانین څه حیثیت لری (۱) وهوالموفق

د مشتری د مبیع سره په غیر مبیع باندې د قبضې کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی لیکلې شوې نمبرو: ۲۱۴۳، ۲۲۴۵، ۲۲۵۸، ۲۲۷۱ او ۲۲۷۴ کې پنځوس کناله او دولس مرلې ځمکه اخستلې ده، اوس دا سړې په یو نمبر کې په دومره مقدار ځمکه باندې قابض شوې دې، په شریعت کې داسې په یو نمبر باندې د قابض کیدو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: شمشاد خان غله منډی پاړ هوتی. ۲/۱۰/۱۹۵۹ء

الجواب: صرف په یو نمبر باندې د ټولې رقبې په مقدار باندې قابض کیدل ناجائز دی ځکه چې دا مبیع نه ده، بیشکه که دا مقبوضه د بائع ملکیت وی او دهغه په اجازې سره مشتری قبضه کړې وی نو بیا جائز دې. (۲) وهوالموفق

...بقیه از حاشیه گذشته]

وفي الهندية: واما شرائطه فانواع ومنها ان يكون ملك البائع فيما يبيعه لنفسه... فلا ينعقد بيع ما ليس مملوكا له. (هندية ۳:۲،۳ كتاب البيوع الباب الاول)

(۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي: ولكن لا تجب الطاعة عند ظهور معصية تتنافي مع تعاليم الاسلام القطعية الثابتة لقوله عليه الصلاة والسلام لا طاعة لاحد في معصية الله، وانما الطاعة في المعروف لاطاعة لمن لم يطع الله. (الفقه الاسلامي وادلته ۸:۶۱۹۱ حقوق الامام الحاكم)

(۲) قال العلامة ابن عابدين: وكون الملك للبائع فيما يبيعه... ولا بيع ماليس مملوكا له وان ملكه بعده. (ردالمحتار ۶:۴ مطلب شرائط البيع انواع اربعة)

وفي الهندية: واما شرائط النفاذ فنوعان الملك اوالولاية والثاني ان لا يكون في المبيع حق لغير البائع (فتاوي عالمگيرية ۳:۳ كتاب البيوع، الباب الاول في تعريف البيع)

وفي شرح المجلة: ويشترط لنفاذ البيع ان يكون البائع مالكاً للمبيع... وان لا يكون في المبيع حق آخر.

(شرح المجلة ۲:۳۴۹ المادة ۳۶۵ الفصل الاول في بيان انواع البيع)

د ناول د کتابونو خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د ناول کتابونه او د لوبو د سامان دکان پرانستلو سره ژوند تیرول څنګه دی؟ د لوستونکی او د خرڅونکی څه جرم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد نثار برج.... یکم فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: د ناول کتابونه په لهو الحدیث کې داخل دی لهذا د هغې اخستل او خرڅول د کراهیت نه خالی نه دی.(۱) د لوبو څیز په غیر مباح لوبو کې استعمالیږی د هغې هم دا حکم دې(۲). وهوالموفق

د شریک د یتیم ځمکه خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید عمرو او بکر درې واړه په یوه ځمکه کې شریکان دی بکر یتیم دې زید د بکر نیکۀ دې او عمرو د بکر ترۀ دې. تقریبا شل کاله مخکې زید او عمر د بکر د حصې سره مشترکه ځمکه د خالد په لاس خرڅه کړه خو دا ئې ښکاره نه کړل چې په دې کې د بکر یتیم هم حصه ده، خو د بیع رقم ئې په تناسب سره د بکر د والد مرحوم په قرضه کې ادا کړو چې د هغې نه بکر منکر نه وو، د بکر د بلوغ

---

۱) وقال الله تبارک وتعالیٰ: ومن الناس من یشتري لهو الحدیث لیضل عن سبیل الله بغیر علم ویتخذها هزوا، اولئک لهم عذاب مهین. (سورة لقمان آیت:۶)

وقال محمد علي الصابوني: اي ومن الناس من یشتري ما یلهي عن طاعة الله ویصد عن سبیله مما لا خیر ولا فائدة فیه قال الزمخشري واللهو کل باطل الهي عن الخیر. (صفوة التفاسیر ۲:۴۴۸)

۲) قال العلامة الحصکفي: وقدمنا ثمه معزیا للنهر ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما والا فتنزیها.

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۴:۲۷۷ کتاب الحظر والاباحة، فصل في البیع)

پورې مالي متصرف سوا د زید نه بل څوک هم نه وو. خو زید د بکر شرعا وصي یا وکیل نه دې. خو د ځمکې د حدودو به تولو حصو باندې حاوي دی اوس بکر دعوی دائر کړه چې چونکې زه یتیم اوم او ماته د دې علم نه وو په دې وجه دې ماته زما ځمکه واپس کړې شي تاسو دا وضاحت وفرمایئ چې دا ځمکه بکر ته واپس کیدې شي یا نه؟ که کیدې شي نو زر ضمانت به د کوم وخت په اعتبار سره ادا کولې شي؟ ځکه چې د خالد مشتری نه هغه وخت د بیع پیسې وصول کړې شوې دی. او د بکر د والد په قرض کې هم هغه وخت ورکړې شوې دی بینواتوجروا

المستفتی: قاضي فقیر محمد ضلع سوات....۳۰/جمادی الثانی ۱۴۰۱ هـ

الجواب: چونکې دا خرڅونکی نه اولیاء دی او نه اوصیاء صرف شریکان دی لهذا د هغوی دا اقدام نامنظور او کالعدم دې.(۱) دا بکر به خپله حصه واپس اخلی او دا حصه د قیمت به باقاعده مشتری ته واپس کوی او دا مشتری به بکرته دهغه د دویشتو کالو اجرت (اجاره) ورکوی.(۲) وهوالموفق

تنبیه د دې جواب مبنی دا ده چې د قرض د ادا کولو دپاره د مرحوم د زمکې

---

(۱) قال العلامة الحموي: لو ادعي يتيم بعدم بلوغه ان بيع عقاره بغير مسوغ فادعي المدعي عليه المسوغ فالقول قول اليتيم وعلي المدعي عليه البينة لان اليتيم ينكر خروجه عن ملكه اذبيعه والحالة هذه عندنا باطل كما صرح به في التتارخانية.
(شرح الاشباه والنظائر للحموي ۳:۲۶۳ كتاب الوصايا)

وقال العلامة ابن نجيم: لا يجوز للوصي بيع عقار اليتيم عند المتقدمين ومنعه المتأخرون ايضا الا في ثلاثة كما ذكره الزيلعي، اذا بيع بضعف قيمته وفيما اذا احتاج اليتيم الي النفقة ولا مال له سواه وفيما اذا كان علي الميت دين لا وفاء له الا منه. (الاشباه والنظائر ۲۹۱ كتاب الوصايا)

(۲) قال العلامة الحصكفي: اشتري دارا وسكن ثم ظهر انها وقف او كانت للصغير لزمه اجر المثل صيانة لمال الوقف والصغير. (الدرالمختار ۵:۱۳۱ كتاب الغصب)

نه علاوه نور مال موجود دي (سیف)

د حکومت د اشتمال په خرچ باندې

د خلقو نه کټ کړې شوې ځمکې اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حکومت د اشتمال اراضی کار شروع کړو، د حکومت قانون دې چې څومره خرچه په اشتمال باندې راځی د خلقو نه ئې وصولوی خو د سهولت په لحاظ د ځمکې د هر خاوند نه یو یو مرله او دوه دوه مرلې هم دغه شان د تناسب مطابق ځمکه کټ کولو سره یو ځای ته جمع کړی کوم ته چې شاملات وائی چې د هغې په ذریعه حکومت نیم خرچ وصول کړی او باقی خرچ د خلقو نه په طور د نقد وصولوی، دا ځمکه تقریبا شکل کناله ده کومه چې د بیع من یزید په شان خرڅیږی د دې ځمکې اخستل شرعا څنګه دی؟

۱: سره د دې چې دا ځمکه په کاغذاتو کې یو ځای ته جمع کړې شوې ده مستقل نمبر والا ده او بیا د دې خپلو خپلو ځمکو سره یوځای کول ممکن نه دی ۲: که دا ځمکه وانخستلې شی نو خواوشا نزدې خلق په دې ځمکه باندې ناحق قابض کیږی او د بیع په صورت کې د ځمکې هر مالک ته د هغې په قیمت کې خپله حصه پوره ملاویدو سره د اشتمال د خرچ نه مستثنی کولې شی او باقی خرچ به د نقد په طریقه باندې وصولولې شی

۳: خو بعض خلق په دې اشتمال باندې د بعض وجو نه خفه دی خو حکومت اوس دا جبراً نافذ کوی څکه چې کاغذات کامل مکمل شو او ډیر خرچ په دې باندې شوې دې.

۴: او کوم خلق چې راضی دی کوم چې د اکثریت حکم لری په هغې کې ممبرانو د دې ځمکې په خرڅولو باندې په قیمت معین باندې راضی کیدو سره دستخطونه کړی دی او د عامو خلقو نه فردا فردا تپوس کول او

دستخط اخستل ګران دی نو آیا په دې خیال به د دې ځمکې اخستل شرعاً جائزوی؟چې هرحقدار ته په دې شاملات کې خپلې پیسې ملاؤشي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: عبدالغنی مسجد عبداللطیف باچا شمسی روډ محله تلیا

ډاکخانه ومقام هوتي مردان

الجواب: په دې کې شک نشته چې دا ځمکه (شاملات) د شریکانو حق دې او په دې کې هم شک نشته چې په داسې ځمکه باندې ډېر په سرعت سره جبراً قبضه کولې شي پس که ټولو یا اکثر مالکانو په اشتمال باندې رضامندی ښکاره کړې وی نو د اشتمال لوازم (یعنی خاص طور سره خرچ وصولولو باندې) به هم راضی وی لهذا د **مبادلة الارض بالارض** په شان به د **مبادلة الارض بالدارهم** هم حکومت مجاز وی او په دې اخستلو او خرڅولو کې به څه نقصان نه وی. **قال علیه السلام لا ضرر ولا ضرار رواه مالك في الموطا(۱)، وفي الاشباه والنظائر یتحمل الضرر الخاص لاجل دفع ضرر العام(۷۶)(۲) وایضا لما جاز بیع خشب المسجد وانقاضه عند خوف التغلب، کما في ردالمحتار۳: ۵۱۴(۳) فیکون هذا البیع جائزا بطریق الاولی. فقط**

---

۱) (موطا امام مالک ۶۲۳ القضاء في المرفق)

۲) الاشباه والنظائر ۸)

۳) قال العلامة ابن عابدین: والذي ینبغي متابعة المشایخ المذکورین في جواز النقل بلا فرق بین مسجد او حوض ولا سیما في زماننا فان المسجد او غیره من رباط او حوض اذ لم ینقل یأخذ انقاضه اللصوص والمتغلبون کما هو مشاهد ... سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعي مسجدها الي الخراب، وبعض المتغلبة یستولون علي خشبه وینقلونه الي دورهم هل لواحد اهل المحلة ان یبیع الخشب بامر القاضي، ویمسک الثمن لیصرفه الي بعض المساجد او الي هذا المسجد؟ قال نعم.

(ردالمحتار ۳:۴۰۷ کتاب الوقف، مطلب في نقل انقاض المسجد ونحوه)

د گنی او د غنمو د کرلی شوی تخم بیع

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د عمر نه په ځمکه کې کرلې شوې دگنی اوغنموتخم واخستلو،آیا داجائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: حیدرخان... ۱۹۷۶ء/۳/۱۲

الجواب: وفی ردالمحتارلا یصح بیع الزرع قبل صیرورته بقلا لانه لیس بمنتفع به ۲۸:۴(۱). وهوالموفق

د بیع فضولی حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ ځمکه کومه چې د اووۀ منو ده زما ورور خرڅه کړې ده او زما اجازت په هغې کې نه وو کله چې ماته خبر راورسید نو ما پیسې مشتری ته واپس کړې او اجازت مې ورنکړو او هغه مشتری پیسې وانخستلې په دې باندې دویشت کاله تیر شو او زه هغه ته وایم چې پیسې واخله او ځمکه پریږده، تاسو حضرات راته شرعی حکم بیان کړئ. بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم علاقه مهمند.... یکم ذی قعده۱۴۰۱ه

الجواب: که په دې ځمکه کې د دې مدعی شرکت منلې شوې یا په شهادت سره ثابت شوې وی نو د هغه بیع صحیح نه ده او دا بیع د فضولی ده، لما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۱۳۶/۴ (۲) او واضحه دې وی چې

---

۱ ﴾(ردالمحتار ۴:۴۲ مطلب في بيع الثمر والزرع والشجر مقصوداً)
(ومثله في شرح المجلة ۲:۹۹ المادة: ۲۰۷)
وفي الخلاصة : ولو باع الزرع ان لم يصر بقلا لايجوز.
(خلاصة الفتاوي ۳:۲۹ كتاب البيوع ، جنس اخر في الزرع والثمر)

۲ ﴾ قال العلامة الحصكفي : واصطلاحا من يتصرف في حق غيره بغير اذن شرعي كل تصرف صدر منه تمليكا كان كبيع... وله مجيز حال وقوعه انعقد موقوفا ومالا مجيز له حالة العقد لا ينعقد اصلا... [بقیه برصفحه آئنده...

محکم سره د تاخیر د دعوې د وجې نه ساقط او ناقابل سماعت نه وی، کما فی رد المحتار ۳۴۳/٤ الثانی ان النهی حیث کان للقاضی لاینافی سماعها عن المحکم.(۱) وهوالموفق

د بیع فاسد په صورت کې به د مشتری ملکیت کله ثابتیږی؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو باغ سیوان په ونو کې ښکاره شی خو پاخه نه وی، نو په داسې وخت کې اخستونکی راشی او وائی چې په دې باغ کې څومره سیوان دی د هغې برابر ئې زه فی سیر مثلا په سل روپئ باندې اخلم. هغه وخت کې ئې بائع هم په خوشحالئ باندې قبول کړی، مشتری بائع ته بعض ثمن خو اوس ورکړی او بعض ثمن ورته د سیوانو تللو نه پس ورکوی، دا دې هم واضحه وی چې د عقد په وخت نه د تاجیل ثمن ذکر کیږی او نه د تاجیل مبیع ذکر کیږی. خو دا خبره واضحه ده چې د سیوانو راشوکول د پخیدو نه پس وی او بیا ئې وزن هم د عقد نه درې څلور میاشتې وروستو وی. کله چې سیوان پاخهٔ شی. خو د عقد په وخت ئې د شوکولو او نه شوکولو څه ذکر نه وی شوې په داسې صورت کې بیع جائز ده یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: چونکې دا بیع د څو وجوهاتو د وجې نه بیع فاسد ده لهذا په دې

...بقیه ازحاشیه گذشته]

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱۵۲،۱۵۱:۴ فصل في الفضولي)

وفي شرح المجلة: البيع الذي يتعلق به حق الغير كبيع الفضولي وبيع المرهون ينعقد موقوفا علي اجازة ذلک الآخر.

(شرح المجلة ۳۵۱:۲ المادة:۳۶۸ الفصل الاول في بيان انواع البيع)

۱) (ردالمحتار ۳۸۱:۴ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

کې به د مشتری ملکیت د قبض کولو نه پس ثابتیږی. کما هو حکم البیوع الفاسدة. (۱) او ددې قبض نه مخکښې به د بائع ملکیت برقرار وی او عشر به هم په هغه باندې واجب وی،

والاصل ما ذکره فی شرح التنویر: ولو باع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر علی المشتری ولو بعده فعلی البائع،(هامش ردالمحتار ۲: ۷۴)(۲). وهوالموفق

د یتیم جائیداد جبرا خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې محمد شهزاد او فقیر سعید د پلار د وفات د وجې نه یتیمان شو په دې دور کې د یتیمانو د رهائش والا علاقې باندې د یو جابر حکمران حکومت وو د ذکر شوې جابر حکمران کارندو مشر یتیم ورورلره څان سره بوتلواو ټول پاتې شوې جائیداد د هغه نه په زور په بیعه واخستلو او وړوکی ورور ته علم هم نشته او کارندګانو د مشر یتیم نه د دواړو ورونړو د طرف نه په بیع نامه باندې ګوتې ولګولې نوآیا د یتیمانوجائیداد خرڅیدلې شی په داسې حال کې چې د نابالغ کیدو د وجې نه په زبردستئ د هغوی نه ګوتې ولګولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد شهزاد چکدره ضلع دیر ......۱۰ ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

---

۱) وفي شرح المجلة : البيع الفاسد يفيد حكماً عند القبض يعني ان المشتري اذا قبض المبيع باذن البائع صار مالكاً له.
(شرح المجلة ۳۵۹:۲ المادة: ۳۷۱)

وقال العلامة الحصكفي : واذا قبض المشتري المبيع برضا بائعه صريحا او دلالة بان قبضه في مجلس العقد بحضرته في البيع الفاسد... ولم ينهه البائع عنه ملكه. (الدرالمختار مختصرا ۱۳۹،۱۳۸ : ۴ كتاب البيوع)

۲) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۶۰:۲ باب العشر)

الجواب: که دا خرڅونکې بذات خود یتیم وی او د هغې باوجود غیر عاقل وی نو دا خرڅول کالعدم او نامنظور دی. لما في شرح التنوير ٤/٥ وشرطه اهلية المتعاقدين اي كونهما عاقلين ولا يشترط البلوغ. (١) او دا دې هم واضحه وی چې که دا جبر او اکراه مسلم یا ښکاره وی نو دا بیع نا منظور او کالعدم ده. كما في شرح التنوير على هامش ردالمحتار ٤:٥ ولذا لا يلزم بيع المكره وفي ردالمحتار قدمنا ان بيع المكره فاسد موقوف على اجازة البائع(٢). وهوالموفق

د پټکی د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید دکان په یو لاک روپۍ پټکی باندې واخستلو، اوس دا سړې دکان په بل سړی باندې په دوه لاکه روپۍ خرڅوی، آیا د پټکی دا اخستل او خرڅول جائز دی یا نه دی؟ علت هم ولیکئ؟ بینواتوجروا

المستفتي: متعلم حافظ منیر محمد.... ٦/اپریل ١٩٨٦ء

---

١ (ردالمحتار ٤:٥ مطلب شرائط البيع انواع اربعة)

وفي الهندية: اما شرائط الانعقاد فانواع منها في العاقد وهو ان يكون عاقلا مميزا كذا في الكافي فيصح بيع الصبي والمعتوه اللذين يعقلان البيع واثره.
(فتاوي هندية ٣:٢ كتاب البيوع، الباب الاول)

٢ (شامي ٤:٧ قبيل مطلب في حكم البيع مع الهزل)

وقال العلامة المرغيناني: واذا اكره الرجل علي بيع ماله... و اكره علي ذلك بالقتل او بالضرب الشديد او بالحبس فباع او اشتري فهو بالخيار ان شاء امضي البيع وان شاء فسخه ورجع بالمبيع.
(الهداية ٣:٣٤٦ كتاب الاكراه)

الجواب: د پتمکی دا خرڅول او اخستل ناجائز رسم دې ځکه چې دا پیسې نه اجرت معجله او نه د نزول عن الحق معاوضه ده، بلکې رشوت دې (۱) ناحقه اخستل دی. بخلاف ما اذا اخذه لما ذكرنا فانه مشروع (۲) فافهم

بغیر د ځمکې نه د اوبو خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې اوبه بغیر د ځمکې نه خرڅول څنګه دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: متعلم حافظ منیر محمد ۶/اپریل ۱۹۸۶ء

الجواب: د مفتی به قول او ظاهر الروایة په بناء دا اخستل او خرڅول ناجائز

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: الرشوة بالكسر ما يعطيه الشخص الحاكم وغيره ليحكم له او يحمله علي ما يريد... وفي الفتح ثم الرشوة اربعة اقسام: منها ما هو حرام علي الآخذ والمعطي وهو الرشوة علي تقليد القضاء والامارة. الثاني: ارتشاء القاضي ليحكم وهو كذلک ولو القضاء بحق لانه واجب عليه. الثالث: اخذ المال ليسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو حرام علي الآخذ فقط، الرابع: ما يدفع لدفع الخوف من المدفوع اليه علي نفسه او ماله حلال للدافع حرام علي الآخذ.

(ردالمحتار ۴:۳۳۸ مطلب في الكلام علي الرشوة والهدية)

۲) وفي الهندية: ثم الاجرة تستحق باحد معان ثلاثة اما بشرط التعجيل او بالتعجيل او باستيفاء المعقود عليه.

(فتاوي عالمگيرية ۴:۴۱۳ الباب الثاني في بيان انه متي تجب الاجرة)

وقال العلامة الحصكفي: وعليه فيفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال.

(الدرالمختار ۴:۱۶ مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

دی. (شامی ۳۹۵/۵) ([1]) والله اعلم

د یو شریک په بل شریک باندې د خپلې حصې خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید او عمرو چاته یو یو لاک روپۍ ورکولو سره فریم راوغوښتلو، کله چې هغه سړې کراچۍ ته لاړو نو هغه دواړه لاکه روپۍ را یوځای کولو سره فریم واخستلو، کله چې هغه سړې راغلو نو دلته فریم ډیر قیمت لرلو زید فریم واخستلو اوس چې هر کله فریم د زید په ملکیت کې دې زید عمرو ته یو لاک روپۍ په قسطونو ورکوی نو آیا دا سود دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: مولوی هدایت الله...... ۱۹ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: په ظاهر کې دا معامله جائز ده ځکه چې عمرو خپله حصه په زید باندې خرڅه کړې ده.([2]) **وهوالموفق**

بیع په شرط د اقالې سره د بیع فاسد کیدل او د بیع فاسد حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید ځمکه خرڅه کړه خو ورسره ئې دا شرط هم ولګولو چې که په دریو کاله کې دننه ما پیسې پیدا کړې نو ځمکه به ماته واپس کوې او پیسې به واپس درکوم. مشتری دا شرط ومنلو، خو اوس پیسې واپس اخستلو او ځمکې واپس ورکولو ته تیار نه دې، د دې په باره کې د شریعت څه حکم دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: شفیع الله سکنه جهانګیره مردان...... ۲۳ ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

---

[1] قال العلامة الحصكفي: (ولايباع) الشرب (ولا يوهب ولا يؤجر ولا يتصدق به) لانه ليس بمال متقوم في ظاهر الرواية وعليه الفتوي. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۳۱۷ فصل الشرب)

[2] وقال العلامة المرغيناني: ويجوز بيع احدهما نصيبه من شريكه في جميع الصور. (هداية ۲:۶۲۴ كتاب الشركة)

الجواب: دا بيع فاسد ده.(۱) بيع صحيحه نه ده په بيع فاسده كې په دواړو كښې هريو دا عقد فسخ كولې شي. (شامى) (۲) وهوالموفق

د ميوې د پخيدلو نه مخكې د خرڅولو دپاره حيله

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې د باغ ميوه ښكاره شوې نه وى نو خلق د هغې د بيع د جواز دپاره دا صورت اختياروى چې په بعض پيسو سره ونه او په بعض پيسو باندې ځمكه د معلومې مودې په اجاره اخلى لكه چې په خلاصة الفتاوٰى ۲۹/۳ كې ليكلې شوې دې آيا دا صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: قارى يعقوب

الجواب: الحيلة المسطورة جائزة.(۳) والحوالة صحيحة.(۴) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة المرغيناني: كل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسده.
(الهداية ۳:۵۹ كتاب البيوع ،باب بيع الفاسد)

۲) قال العلامة الحصكفي: ويجب علي كل واحد منهما فسخه قبل القبض... او بعده ما دام المبيع بحاله في يد المشتري. (الدرالمختار ۴:۱۴۰ كتاب البيوع، باب بيع الفاسد)
وفي الهداية: ولكل من المتعاقدين فسخه رفعا للفساد وهذا قبل القبض ظاهر لانه لم يفد حكمه فيكون الفسخ امتناعا منه وكذا بعد القبض الخ.
(الهداية ۳:۵۰ كتاب البيوع، الفصل الخامس في البيع)

۳) وفي الهندية: ولو اراد ان يترک في الارض ويكون له الولاية الشرعية فالحيلة ان يشتري الحشيش واشجار البطيخ ببعض الثمن ويستاجر الارض ببعض الثمن من صاحب الارض اياما معلومة. (فتاوي عالمگيرية ۳:۱۰۷ الفصل الثاني في بيع الثمار الخ)

۴) وفي الخلاصة: وان كان البيع بشرط الترک لا يجوز البيع ولو اراد ان يترک في الارض ويكون له الولاية الشرعية فالحيلة ان يشتري... [بقيه برصفحه آئنده...

د ملکانه ځمکې د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد یو امام ته ملکانه یعنی څه جائیداد چې د مسجد په نوم باندې منسوب وی خرڅه کړی نو آیا په دې امام پسې مونځ جائز دې؟ په داسې حال کې چې هغه جائیداد په اصل کې د مسجد وی صرف مجازی مالک ئې امام وی او هغه د دې نه صرف حاصلات اخستلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: شمشیر گلوزی پشاوری ...... ۲۴ اپریل ۱۹۸۶ء

الجواب: که دا ملکانه د امام په نوم وی (۱) نو اخستل او خرڅول یې جائز دی، کنه نو د عکس په صورت به ناجائز وی. (۲) وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته] الحشیش واشجار البطیخ ببعض الثمن ویستاجر الارض ببعض الثمن من صاحب الارض ایاما معلومة.

(خلاصة الفتاوي ۳:۲۹ کتاب البیوع ، جنس آخر في الزرع والثمر)

۱) یعنی امام ته تملیک ورکړې شوې وی ...(مفتی سیف الله حقانی)

۲) قال العلامة ابن عابدین :وکون الملک للبائع فیما یبیعه لنفسه... ولا بیع ما لیس مملوکا له وان ملکه بعده.

(ردالمحتار ۴:۶ مطلب شرائط البیع انواع اربعة)

وفي الهندیة: واما شرائطه فانواع ومنها ان یکون ملک البائع فیما یبیعه لنفسه... فلا ینعقد بیع ما لیس مملوکاله. (فتاوي عالمگیریة ۳:۲،۳ کتاب البیوع ، الباب الاول)

وفي شرح المجلة: یشترط لنفاذ البیع ان یکون البائع مالکا للمبیع... وان لا یکون في المبیع حق آخر.

(شرح المجلة ۲:۳۴۹ المادة ۳۶۵ الفصل الاول في بیان انواع البیع)

پخپله راختلې ګیا د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زمونږ یو ځنګل دې اوس یو سړی دعوی کړې ده چې په دې ځنګل کې چې کومه ګیا ده په هغې کې زه هم شریک یم او دا هم منم چې دا څمکه ستاسو ده ونې ستاسو دی مونږ صرف په ګیا کې شریک یو دهغه دلیل دا دې چې ستاسو نیکونو په طور د تبرع مونږ ته دا راکړې وه چې په ګیا کې تاسو هم شریک یئ، اوس سوال دا دې چې که هغه په دې باندې ګواهان پیش کړل چې د دې تبرع شوې ده نو دا تبرع به صحیح وی او که نه؟

۲: په صورت د صحت کې دا خلق ځنګل ته سخت نقصان رسوی، د هغې نقصان د وجې نه زه هغوی د ګیا نه منع کولې شم او که نه؟

۳: په ذکر شوې صورت کې که هغه دا دعوی وکړی چې دا ګیا ما ستاسو د نیکۀ نه اخستلې ده نو آیا دا بیع صحیح ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: امین الحق مندوخیل بلوچستان..... ۲۳ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: ومنه الصدق والصواب.... چونکې پخپله راختلې ګیا د حدیث په وجه باندې ﴿المسلمون شرکاء فی ثلاث﴾ (۱) او د فقهاء کرامو د تصریح مطابق فکذا الکلاء النابت فی ملك انسان بلا تعاطی سببه مباح ایضاً. (شرح المجلة ۶۷۸) (۲)

مشترک غیر مملوک ده، لهذا د هغې د قطع کولو نه مخکې خرڅول یا تبرعا ورکول بې قاعدې او ناجائز کارونه دی. وفی شرح التنویر: وفسد بیع المراعی ای الکلاء واجارتها الخ (هامش رد المحتار ۱۱۰/۴) (۳) وهوالموفق

---

۱) عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ المسلمون شرکاء فی ثلاث الماء والکلاء والنار. (مشکوٰة المصابیح ۲۵۹ باب احیاء الموات والشرب)

۲) (شرح المجلة ۱۸۱: ۴ المادة: ۱۲۴۱)

۳) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۱۲۳: ۴ باب البیع الفاسد)

د ټیکه دار د اجازت نه بغیر د مزدور دپاره په غر کې د موندلې شوې کان د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې کوم غر په موجوده دور کې د خلقو په بیع اخستلې شوې وی او هلته کان راوځی نو حکومت هغه په خپله قبضه کې اخستلو سره په ټیکه باندې ورکوی، ټیکه دار په مزدورانو باندې مال راوباسی. او بعض مزدوران د هغې نه مال په غلا خرڅولو دپاره مارکیټ ته راوړی نو د دې مال د اخستلو او خرڅولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: چیف کیمسټ مینګوره سوات ۱۹۷۲ء/۱۰/۱۰

الجواب: غر چې د هغې باقاعده احیاء نه وی شوې د چا مملوک نه شی کیدې په هغې کې اخستل او خرڅول نه شی جاری کیدې. یدل علیه مافی عشر الدر المختار(۱) پس د قاعدې موافق کومه چې ټولو فقهاء کرامو ذکر کړې ده د دې څیزونو پنځمه حصه به حکومت ته ورکولې شی او څلور حصې به د واجدین (مزدورانو) وی.(۲) د هغوی دپاره د دې مقدار خفیه پټ او خرڅول شرعا جائز دی. والله اعلم بالصواب

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: يجب العشر في ثمرة جبل او مفازة ان حماه الامام لانه مال مقصود لا ان لم يحمه لانه كالصيد.

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله ان حماه الامام) فان ثمر الجبال مباح لا يجوز منع المسلمين عنه وقال ابو يوسف لا شيئ فيما يوجد في الجبال لان الارض ليست مملوكة ولهما ان المقصود من ملكها النماء وقد حصل.

(الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۵۳ باب العشر)

(۲) قال العلامة الحصكفي: معدن خلقي خلقه الله تعالي ومن كنز اي مال مدفون ... في ارض خراجية او عشرية ... خمس مخففا اي اخذ خمسه لحديث "وفي الركاز الخمس" وهو يعم المعدن كما مر وباقيه لمالكها ان ملكت والا كجبل ومفازة فللواجد.

(الدر المختار ۲:۴۸،۴۹ باب الركاز)

په سائیکل باندې ټکټ لګولو سره د قرعه اندازۍ په ذریعه یو سړي ته ورکول بیع فاسد ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی یو سائیکل واخستلو بیا هغې لره خرڅول غواړي چې د هغې په قرعه اندازۍ باندې ئې دوه روپۍ ټکټ ولګولو چې په هغې کې تقریبا یو سل او پنځه څلویښت کسان شامل شو چې په هغې کې بنده هم یو ټکټ واخستلو بیا په هغه ټکټونو باندې قرعه اندازي وکړې شوه چې په هغې کې زما ټکټ راووتلو او سائیکل ماته ملاؤ شو، کله چې ما سائیکل خپل ځای ته ورسولو نو خلقو زما په زړه کې شکونه پیدا کړه چې دا واپس کړه نو ماله څه کول پکار دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالرحمن تخت بهائی مردان، ۱۹۷۲ء/۶/۶

الجواب: دا معامله بیع فاسد ده چې ناجائز ده، **لان فیه تعلیق البیع بالشرط الفاسد لانهم ارادوا ان من خرج اسمه عند القرعة یکون مالکاله بالدرهمین فیکون فاسدا، قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ۴: ۲۲۲ ماکان مبادلة مال بمال یفسد بالشرط الفاسد ویبطل تعلیقه ایضا لدخوله فی التملیکات لانها اعم وما لیس مبادلة مال بمال ان کان من التعلیقات او التقییدات یبطل تعلیقه بالشرط فقط**[1] او د بائع دپاره سوا د هغه دوه روپو نه د ټولو کسانو پیسې واپس کول ضروری دی ځکه چې دا رقم ثمن نه دې بلکې بغیر د عوض نه اخستلې شوې دې چې یو قسم رشوت دې[2] پس غوره دا ده چې دا بیع کالعدم کړې شی او بائع ټولې پیسې واپس کړی او

---

[1] (ردالمحتار ۲۴۷: ۴ ما یبطل بالشرط الفاسد ولا یصح تعلیقه به)

[2] قال العلامة ابن عابدین: وفي المصباح الرشوة بالكسرة ما يعطيه الشخص الحاكم وغيره ليحكم له او يحمله علي ما يريد جمعها... الثالث اخذ المال ليسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو حرام علي الآخذ فقط... الرشوة يجب ردها ولا تملك. (ردالمحتار ۳۳۷: ۴ مطلب في الكلام علي الرشوة)

مشتری دې سائیکل واپس کړي او که بائع د پیسو واپس کولو ته تیار نه وي نو د دې مشترۍ دپاره ضروري ده چې دا بیع دې فسخ کړي او د دې نه پس دې دا ټول کسان مشترکه طور سره دا سائیکل خرڅ کړي او قیمت دې په خپل مینځ کې تقسیم کړي، وهو بیع مال من علیه الحق والظفر علی خلاف جنس حقه وهو جائز عند الشافعي وعليه الفتوى عندنا(۱). وهوالموفق

د حکومت د ملک غیر د هغه څیزونو خرڅول چې د هغې دخیره کول ضرري نه دي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې کوم وخت د پاکستان په خوا کې د سوشلزم طوفان په تیزئ سره راغلو، هم د هغې د بندولو د پاره صدر ایوب په پاکستان کې د مساوات حکم جاري کړو او هغې ته ئې د زرعي اصلاحاتو نوم ورکړو چې د هغې د لاندې د لوئې لوئې جاګیردارو دپاره محدود ګزاره پلاټ متعین کړې شو او د هغه سابقه مالکانو دپاره مذکوره فاضله رقبو قیمت سرکاري طور په مناسب شرح باندې مقرر کولو سره د عوضانه په نوم باندې موسوم کړې شو، د دې نه پس هر قابض مستحق زمیندار نه د قبضه فاضله رقبې عوضانه د مقرر کړې شرح مطابق په سرکاري خزانه کې داخلولو سره ذکر شوې رقبه جات د حکومت د هغه مزارع په نوم باندې منتقل کړې شو کوم چې په دې وخت کې مالک متصور وو. ۱: مذکوره بیع حکومت د خپل طرف نه چې په هغې کې د زمیندار یا مالک دخل نه وو. ۲: مذکوره مالکانو د حکم د صدور نه هیڅ خلاف ورزي، انکار یا بغاوت نه دې کړې

۳: اول مالکانو قیمت عوضانه مقرر کړې په شرح باندې هیڅ اعتراض نه دې

(۱) وقال العلامة الحصكفي : ليس لذي الحق ان ياخذ غير جنس حقه وجوزه الشافعي وهو الاوسع ، وقال ابن عابدين : (قوله وجوزه الشافعي) قدمنا في كتاب الحجر ان عدم الجواز كان في زمانهم اما اليوم فالفتوى على الجواز.
(شامي ۲۰۰: ۴ فروع كتاب الحظر والاباحة ، فصل في البيع)

کړي. ۴: بله دا چې ذکر شوې مالکانو په خزانه کې جمع شوې د بیع په قیمت کې تصرف کولو سره په خپل مفاد کې استعمال کړو ۵: د حکومت د طرف نه کوم چې دویم مالک متصور دې دریم مالک زمیندار ته په عوض سره مالکانه حقوق ورکړې شوې دی. ۲: دریم مالکان یعنی زمیندار د دویم مالک (حکومت) نه د قیمت په ادا کولو سره ملکیت حاصل کړې
۷: د پورته ذکر شوې حکم د لاندې چې کومه بیع شوې ده لهذا مونږ فتوی طلب کوو چونکې د پورته حکم د لاندې د متاثرینو تعداد کم از کم یو کروړ اهل اسلام دی لهذا سوال دا دې چې دا بیع صحیح ده یا نه؟ او که فاسد ده نو ددې د پیداوار څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: میاں رسول شاه لوې بازار درګۍ مانسهره....... ۲۴ جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا بیع د ملکیت غیر بیع ده او د داسې څیزونو نه ده چې د هغې ذخیره کول ضرر نه ورکوی، پس په ظاهر کې دا بیع نافذ نه ده، (۱) خو د مقدار مسکن او د ضرر بین احکام جدا دی:

كما يشير اليه ما في شرح التنوير لو خاف الامام على اهل بلد الهلاك اخذ الطعام من المحتكرين وفرق عليهم فاذا وجدوا سعة ردوا مثله هامش ردالمحتار ۵:۳۵۲ (۲) فافهم، وجه الاشارة انه اناط الحكم على الهلاك ولا شك

---

۱) في الهداية: ومن باع ملك غيره بغير امره فالمالک بالخيار ان شاء اجاز البيع وان شاء فسخ. (هداية ۳:۸۸ فصل في بيع الفضولي)

وفي شرح المجلة: يشترط لنفاذ البيع ان يكون البائع مالكا للمبيع.

(شرح المجلة ۲:۳۴۹ المادة: ۳۶۵، فصل في البيع)

۲) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۳۸۳ فصل في البيع)

وقال العلامة ابن نجيم: ولو خاف الامام علي اهل مصر الهلاک اخذ الطعام من المحتكرين وفرقه، فاذا وجدوه ردوا مثله وليس هذا من باب الحجر وانما هو من باب دفع الضرر عنهم كما في حال المخمصة. (البحر الرائق ۸:۲۰۲ كتاب الكراهية، فصل في البيع)

فی اهلاك من الحر والبرد عند عدم المسکن بخلاف المزرعة فأن للرزق اسباباً شتی فلو اذن الملاك فی عقود المزرعات لزالت المفسدة. وهو الموفق

د ملازم په محکمه باندې خپل سامان د بل ځا په نوم خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زید په یو محکمه کې ملازم دې چې د محکمې د سامان په اخستلو او خرڅولو باندې مامور دې. که زید یو څیز په خپلو پیسو باندې واخستلو او بیا ئې هم هغه محکمې ته په ګټه باندې خرڅ کړی نو آیا دا جائز ده؟

۲: زید په دې خرڅولو کې خپل نوم نه پیش کوی بلکې د یو بل سړی په ذریعه ئې خرڅوی نو آیا د دې دویم سړی په نوم باندې به دا خرڅول جائز وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام حیدر کلرک دفتر زراعت ایبټ آباد... ۱۹۷۵ء/۵/۱۵

الجواب: ۱: که ملازمت کونکی ته د محکمې د طرف نه د دې اخستلو او خرڅولو اجازت وی یا ملازم د څه ضائع شوی څیز د عوض رسولو په اراده باندې دا څیزد محکمې د پاره اخستلې وی نو په دې کې هیڅ باک نشته. (۱)

---

(۱) في شرح المجلة: لا يجوز لاحد ان يتصرف في مال الغير بلا اذنه...عدم الجواز شامل لجميع انواع التصرف من استعمال كركوب... وهبة وبيع ورهن ... وجميع ما يجريه من العقود تمليكا بعوض او بغيره يتوقف علي اجازته... فتصرف الغير في مال الغير ممنوع الا ان تكون وصاية او ولاية او تدعوا ضرورة فيجوز.

(شرح المجلة ۱:۲۶۲، المادة ۹۶)

وقال العلامة الحصكفي: والاصل ان المستحق بجهة اذا وصل الي المستحق بجهة اخري اعتبر واصلا بجهة مستحقه ان وصل اليه من المستحق عليه.

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۴:۱۴۱ باب البيع الفاسد)

۲: بغیر د ضرورت نه دروغ ویل ناجائز دی (۱) وهوالموفق

په بیع کښې د غبن فاحش حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې یو سړی غیر منقول جائیداد (کوم چې تقریبا د پنځو زرو روپو دې) خرڅ کړو او مشتری بائع ته دهوکه ورکولو سره زر روپۍ ورکړې نو آیا په دې صورت کښې بائع بیع فسخ کولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: صرف په غبن فاحش سره (چې کله د دهوکې ورکولو نه خالی وی) بیع نه شی رد کیدلې،

وفی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۲۲۰ ولا رد بغبن فاحش فی ظاهرالروایة وبه یفتی ان غره ای غرالمشتری البائع الخ (۲). وهوالموفق

---

۱) عن سفیان بن اسد الحضرمي: قال سمعت رسول الله ﷺ يقول كبرت خيانة ان تحدث اخاك حديثا هو لك به مصدق وانت به كاذب.

(مشكوة المصابيح ۴۱۳ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

وقال العلامة ابن عابدين: كل مقصود محمود يمكن التوصل اليه بالصدق والكذب جميعا فالكذب فيه حرام.

(ردالمحتار ۵:۳۰۳ فروعات كتاب الحظر والاباحة)

۲) (الدر المختار ۱۷۸: ۴ باب المرابحة والتولية، مطلب في الكلام علي الرد بالغبن الفاحش)

وفي شرح المجلة: اذا وجد غبن فاحش في البيع ولم يوجد تعزير فليس للمغبون ان يفسخ البيع الا انه اذا وجد الغبن وحده في مال اليتيم لايصح البيع.

(شرح المجلة ۲:۳۳۵ المادة ۳۵۶ الفصل السابع في الغبن والتغرير)

د ځمکې په بیع کې د ونو او د غیر آباد غرونو د داخلولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: د کوهستان په علاقه کې دوه قسمه ځمکې دی آباد او غیر آباد، په هغې کې ځنګلې دی او په هغې کې دوه قسمه ونې دی یو قسم ګیا وغیره دویم نمبر لکه چې لوئې قسم ونې دی.

۲: غیر آباد ځمکه د آبادې ځمکې سره تبعا خرڅولې شی مثلا بائع وائی چې ما په تاسو باندې د آبادې ځمکې د څلورو جریبو سره د غیر آباد ځمکې شل حصې خرڅې کړې، دا حصې متعین وی خو هغه وخت په ځمکه کې چې کومې ونې وی نو هغه د خرڅولو په وخت مسکوت عنه وی هغه وخت دا دومره قیمتی نه وې اوس چونکې قیمتی جوړې شوې نو اوس بائع وائی چې دویم قسم ونې (چه د هغې نه مونږ تیرونه جوړو) مو نه وو خرڅ کړې هغه زما دی او اول قسم ونې (کوم چې صرف ګډې بیزې خوری) هغه د مشتری ملکیت دې، مشتری وائی چې هر څه زما دی نو آیا دا ذکر شوې ځنګلې د بائع دی او که د مشتری دی؟

۳: که آباده ځمکه ئې داسې خرڅه کړې وی چې ما دا ټوله ځمکه د ټولو متعلقاتو سره په تاسو باندې خرڅه کړه او د غیر آباد ځمکې د حصو تعین ئې ونکړو، نو آیا په دې کې غیر آباد غرونه شامل دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی عبدالحق مدرس مدرسه شیر گرھ ضلع مردان.... ۲۲ رمضان/ ۱٤۰۵ھ

الجواب: ونې د غارس مملوکه وی او یا د پخپله راختلو په صورت کې د ځمکې د مالک ملکیت وی.(۱) مرعٰی او مختطب وغیره مرافق دی خو هغه

---

(۱) وفي شرح المجلة: الاشجار النابتة بلا غرس في ملک احد هي ملکه ليس لآخر ان يحتطب منها الا باذنه. (شرح المجلة ۱۸۲: ۴ المادة ۱۲۴۴)

وقال العلامة ابن عابدين: الشجر له ساق فلا تدخل فيه حتي يجوز بيعها اذا نبتت في ارضه لکونها ملکه. (ردالمحتار ۱۲۳: ۴ قبيل مطلب صاحب البئر لايملک الماء)

د آبادۍ ځمکې په مرافق کې شمار کول صحيح نه دى، لعدم كونهما من مشتملات العامرة ولا من اجزائها الحكمية، په کومو ونو کې چې قرار مقصود وى نو هغه تبعا للارض خرڅيږى لا اذا صرح بعدم بيعها. (ماخوذ من شرح الجملة ورد المحتار) (۱)

پس که په صورت مسئوله کې د دې غير آباد متعلق تصريح نه وى شوې نو د عرف په بناء باندې دا مشترى مدعى عليه دې او بائع مدعى لانه يدعى ملك غير العامرة وملك اشجارها والمشترى ينكره وهو متمسك بالظاهر. (۲)

او که د دې غير آباد اونو د خرڅ متعلق تصريح شوې وى نو معامله واضح ده.

وهوالموفق

د پښيمانتيا شرط لګولو سره د بيع کولو حکم

سوال: څه فرمائى علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړى څلور کناله ځمکه په دويشت زره روپۍ باندې خرڅه کړه او دا شرط ئې ولګولو چې که زه پښيمانه شوم نو زه به تاته دوه زره روپۍ درکوم او که ته پښيمانه شوې نو ته به ماته دوه زره روپۍ راکوې اخستونکى دوه زره روپۍ خرڅونکى سره جمع کړې، اوس خرڅولو والا پښيمانه شو نو آيا دا ځمکه

---

۱ ﴾ وفي شرح المجلة: وفي العرصة تدخل الاشجار المغروسة علي ان تستقر لان جميع المذكورات لا تفصل عن المبيع فتدخل في البيع بدون ذكر ولا تصريح.
(شرح المجلة ۱۴۶:۲ المادة ۲۳۱)

وقال العلامة الحصكفي: ويدخل الشجر في بيع الارض بلا ذكر مثمرة كانت اولا صغيرة او كبيرة اذا كانت موضوعة فيها للقرار.
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳۹:۴ فصل فيما يدخل في البيع تبعا الخ)

۲ ﴾ وفي شرح المجلة: المدعي من يلتمس خلاف الظاهر والمدعي عليه من يتمسك بالظاهر. (شرح المجلة ۵:۵ الكتاب الرابع عشر في الدعوي)

هغه واپس اخستلې شي؟ او آیا داد پښیمانتیا دوه زره روپۍ اخستل حلال دی که حرام؟ بینواتوجروا

المستفتي: بخت حسین متعلم حقانیه مصري بانړه. ۲۳/صفر المظفر ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا بیع د شرط د وجې نه فاسده ده او هر یو طرف دا عقد فسخ کولې شي. لما في ردالمحتار ۱۲۱/٤ (۱) وهداية ۶٤/۳ (۲) او دا پښیمانتیا رشوت او حرام دې. وهوالموفق

پښتله راختلې ګیا اخستل او خرڅول او په ګانه کې د کینودلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو ځمکه یا یو غر دې او په هغې کې شرعا د چا د ملکیت او تصرف حق نشته او هغه مشترک او متنازع دې خو اهل بلد هغه د یو خاص سړی په ملکیت او تصرف کې ورکړې دې اوس سوال دا دې چې په ځمکه یا غر کې ګیا راختلې ده د هغې په ګانه کې ورکول جائز دی یا نه؟ حال دا چې شرعا دا سړې د دې مالک نه دې بلکې عرفا ئې مالک جوړ شوې دې او د دې ګانه شوی څیز نه

---

۱) قال العلامة ابن عابدين (قوله قبل القبض او بعده) لكن ان كان قبله فلكل الفسخ يعلم صاحبه لابرضاه، وان كان بعده فان كان الفساد في صلب العقد بان كان راجعا الي البدلين المبيع والثمن كبيع درهم بدرهمين وكالبيع بالخمر او الخنزير فكذلک، وان كان بشرط زائد كالبيع الي اجل مجهول او بشرط فيه نفع لاحدهما فكذلک عندهما لعدم اللزوم وعند محمد لمن له منفعة الشرط. (ردالمحتار ۴:۱۴۰ كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، قبيل مطلب ردالمشتري فاسد الي بائعه فلم يقبله)

۲) قال العلامة المرغيناني: ولكل واحد من المتعاقدين فسخه، رفعا للفساد، وهذا قبل القبض ظاهر؛ لانه لم يفد حكمه، فيكون الفسخ امتناعا منه، وكذا بعد القبض اذا كان الفساد في صلب العقدلقوته، وان كان الفساد بشرط زائد فلمن له الشرط ذلک دون من عليه؛ لقوة العقد؛ الا انه لم يتحقق المراضاة في حق من له الشرط.
(الهداية ۳:۶۴ باب البيع الفاسد، فصل في احكامه)

فائده اخستل د جواز حکم لری یا نه؟ د دې اخستل او خرڅول جائز دی یا نه؟
بینواتوجروا

المستفتی: امداد الله توحیدی کراچی نمبر ۲۵ شاه فیصل کالونی نمبر ۲۱

الجواب: دپخپله راختلې ګیا که په مملوکه ځمکه کې راختلې وی یا غیر مملوک کښ، بهر حال دا د چا مملوک نه ده د دې اخستل او خرڅول وغیره ناجائز او کالعدم دی، لحدیث: المسلمون شرکاء فی ثلاث فی الماء والکلاء والنار ای شرکة اباحة لا شرکة ملك فمن سبق الی شئ من ذلك فی وعاء او غیره واحرزه فهواحق به وهوملك له دون من سواه الخ کذا فی شرح التنویروشرحه ردالمحتار ۵: ۴۴۰ فلیراجع(۱). وهوالموفق

په شرط فاسد سره اخستلې شوې د غیر مقبوضه ځمکې بیع فسخ کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دا کور د چا حق دې (چه په هغې کې بنګله ده او رقبه ئې تقریبا یو کنال ده) دعویداران ۱: اکبر شاه ولد حیات خان د دکان مالک بائع، ۲: شیرجان ولد عبدالرحمن المعروف رحمن متوفی د مُشتری دوه ځامن دی شیرجان او میر عباس خان. ۳: مسماة بستی، مسماة پشاوری دختران اکبر شاه بائع محمد میر ولد سلیم وارث میراث اکبر شاه بائع

د نمبر ۱ بیان: اکبر شاه اقبالی دې چې ما متنازع فیه کور عبدالرحمن ته رهن قطعی په ذریعه استامپ ۱۹۳۲ء کې خرڅه کړې ده خو زبانی شرط دا وو

(۱) (شامي ۵:۳۱۲ فصل الشرب)
وعن ابن عباس رضي الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ المسلمون شرکاء في ثلث الماء والکلاء والنار. (مشکوة المصابیح ۲۵۹ باب احیاء الموات والشرب)
وفي شرح المجلة: الماء والکلاء والنار مباحة والناس في هذه الاشیاء الثلاثة شرکاء... ان دلیل اشتراکها حدیث الناس شرکاء في ثلاث.
(شرح المجلة ۴:۱۷۵ المادة ۱۲۳۴ الفصل الاول)

چې په پیسو .ر اپس کیدو باندې به کور د بائع وی، نه د مشتری، دواړه ستهامپونه د مشتری د ځوی شیرجان سره موجود دی په دې وجه شیرجان دې دخپلې حصې رقم اخستلو سره کور پریږدی لکه چې دویم ورور میر عباس خان د خپلې حصې رقم اخستلو سره د کور نه لاس واخستلو.

د مدعی نمبر ۲ بیان : شیرجان اقبالی دې چې کور قطعی طور باندې والد عبدالرحمٰن په بیع اخستلې دې او زبانی شرط دا وو چې ستاسو د ژوندی کیدو پورې تاسو (یعنی نمبر ۱ اکبر شاه) به په کور کې قیام پذیر وی د وفات نه پس یا د نقل مکانئ په صورت کې به په کور باندې مشتری (شیرجان) د قبضې کولو حقدار وی، زما ورور میر عباس خان انفرادی قسم خوړلې وو چې هغوی به خپل جائیداد په خپل ورور شیرجان باندې نه خرڅوی، ورور میر عباس خان پیسې قرض اخستلو سره د اکبرشاه په مطالبه باندې د کور نیمه حصه زبانی طور په قبضه کې ورکړه، ما اقرار کونکی ته په دویمه ورځ پته ولګیده نو ورور ته مې په ذریعه د اکبرشاه، سید اکبر رقم ورکول وغوښتل او د کوټې لګولو مې ورته وویل خو میر عباس خان انکار وکړو او معامله هم هغه شان پاتې شوه.

د مدعی نمبر ۳ بیان : مسماة بستی، محمد میر کوم چې دې وخت کې په کور باندې قابض دې وائی چې که اکبر شاه کور خرڅ کړې دې نو د خرڅولو په وخت مونږ ته پته نه وه کنه نو نه به مو خرڅولې.

نوټ : د خرڅولو په وخت هغوی دواړه پیدا هم نه وو که معاملې د مقدمې صورت اختیار کړو، نو میر عباس خان د شیرجان ورور خپله حصه چې زبانی خرڅه کړې وه، د ستهامپ په ذریعه به ئې دوباره طلب کوی. **بینواتوجروا**

المستفتی: شیر جان ضلع بنوں.... ۱۹۶۹ء/۱/۷

الجواب: د طرفین د بیاناتو نه معلومیږی چې دا بیع چې کومه شوې ده بیع فاسد ده ځکه چې مدعی او مدعی علیه دواړه په دې خبره باندې متفق دی چې د بائع د منفعت دپاره څه نه څه شرط مقرر شوې دې او دا هم معلومه ده

چې قبضه تر اوسه پورې مشتري او د مشتري وارثانو ته نه ده ورکړې شوې لهذا دا کور تر اوسه پورې مشتري او د هغه د وارثانو په ملکيت کې نه دي داخل شوي او اکبر شاه د دې بيع په فسخ کې هر وخت مستقل دی

قال في الهداية كل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسده(۱) وفيها ايضاً ولكل واحد من المتعاقدين فسخه رفعاً للفساد وهذا قبل القبض ظاهر لانه لم يفد حكمه فيكون الفسخ امتناعاً منه وكذا بعد القبض الخ(۲). فقط والله اعلم

د وخت د حاکم په اکراه (مجبوره کولو باندې) د بيع او اقرار حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو بادشاه په يوه علاقه باندې عشر مقرر کړو، او د ټول يا اکثر ملک عشر ئې په خپل خاندان کې تقسيمولو سره په مختلف علاقو باندې د خپل خاندان افراد مقرر کړل او جبری طور ئې د خلقو نه بيګار هم واخستلو. او په بعض ځمکو باندې ئې نيمه حصه مقرر کړه او جبراً ئې د خلقو نه اقرار نامې هم وليکلې چې تاسو دا اقرار وکړئ چې دا ټوله ځمکه د فلانی خان يا نواب ده او په نه کولو باندې ئې د خپلو جائيدادونو نه بې دخل کوی او سوا د دې ظالم حکمران نه بل يو

---

۱) (الهداية ۳:۵۹ باب البيع الفاسد) وفي خلاصة الفتاوي: وان لم يرد الشرع به في صورة ولا هو متعارف ولكن فيه منفعة البائع او المشتري او المعقود عليه فان كان في الشرط منفعة المعقود عليه والمعقود عليه من اهل ان يستحق حقا علي الغير... لا يجوز العقد... ولو كان في الشرط منفعة لاحد المتعاقدين... يفسد العقد.

(خلاصة الفتاوي ۳:۵۰ كتاب البيوع، الفصل الخامس في البيع)

۲) (الهداية ۳:۶۴ فصل في احكامه، باب البيع الفاسد)

قال العلامة الحصكفي: ويجب علي كل واحد منهما فسخه قبل القبض... او بعده مادام المبيع بحاله في يد المشتري.

(الدر المختار ۴:۱۴۰ كتاب البيوع، باب البيع الفاسد)

منصف عادل حاکم یا حکومت هم نشته چې د مظلوم عوامو فریاد هلته ورسوی، دغه شان د خلقو نه اقرار او دستخط اخلی وروستو یو بل منصف او قانونی حاکم په دې علاقې باندې حکمران شو او مقدمات د شریعت په رڼا کې حل کیدل شروع شو نو د هغه سابق حکمران خاندان خلقو زمونږ په ځمکو باندې دعوې شروع کړې چې دا زمونږ ځمکې دی او د خپل اثبات دپاره ئې دستخطونه او اقرار کوم چې جبرا او اکراها اخستلې شوې وو پیش کړل او عوامو هم دعوی وکړه چې دا جائیداد زمونږ دې ځکه چې دا د ظالم حکمران د راتلو نه مخکې زمونږ په قبضه کې وو او مونږ ذاتی مالکان وو او دې ظالم حکمرانانو په مختلف قسم حیلو سره جبرا زمونږ په املاک باندې قبضه وکړه او دستخطونه ئې اخستلې دی نو اوس عرض دا دې چې دا مظلوم او محکوم عوام د چا نه چې املاک اخستلې شوې دی نه کافر دی او نه باغیان، بادشاه او د هغوی د خاندان خلق په زور یا په حمایت د انګریز حکمران کیدو سره د عوامو په جائیدادونو او املاک باندې قبضه کوی او اکراها او جبراً دا اقرار او دستخطونه اخلی آیا دا اقرار او دستخطونه د عوامو د حق غورځونکی دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحلیم ٹیکیدار دود باضلع دیر ۱۹۶۹ء/۱۰/۱۵

الجواب: ۱: که عوام د خپل ملک او حاکم په اکراه او زوال اکراه نه پس عدم رضا علی البیع لره ثابت کړی نو دا بیوع به فسخ کولو سره جائیدادونه عوامو ته حواله کولې شی او حکامو ته به قیمتونه واپس کولې شی،

فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵:۱۱۲ (۱) وامر السلطان اکراه وان لم یتوعده (وفیه ایضاً ۱۱۰) (۲) فلو اکره بقتل او ضرب شدید او حبس اوقید

---

۱) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۹۱ کتاب الاکراه)

۲) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۸۹ کتاب الاکراه)

مديدين حتى باع او اشترى فسخ ما عقد ولا يبطل حق الفسخ بموت احدهما وفى ردالمحتار فيقوم ورثة كل مقامه كورثة المشترى وبمعناه فى الهندية ٥:٣٩(١). فقط

په متعلقه استفتاء باندې د اضافي جواب:

الجواب: كه عوام آبائى ملك او د سلطان اكراه ثابت كړى نو دا اقرار لغو او لا حاصل دي، كما فى الدر المختار: امر السلطان اكراه وان لم يتوعده وفيه ايضا فلو اكره بقتل اوضرب شديد اوحبس اوقيد مديدين حتى باع او اشترى او اقر او آجر فسخ ما عقد ولا يبطل حق الفسخ بموت احدهما، وفى ردالمحتار ٥:١١٠ فيقوم ورثة كل مقامه(٢) وفى الهندية ٥:٣٩، وان كان قولا لا يستوى فيه الجد والهزل كالبيع والاقرار والاجارة فحكم الاكراه فساد ذلك القول(٣). فقط

بائع ته په كالو واپس كولو كې د كالو نه كټوتى او په كم قيمت باندې د اخستلو حكم

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې كله چې ګاهک سرۀ او سپين زر اخستلو دپاره راځى نو هغه ته ويلې شى چې په دې حساب سره به ئې اخلې او كله چې ئې واپس كوي نو دوه ماسې فى توله به كټ كولې شى او ارزان نرخ به ادا كولې شى، آيا دا د شريعت په رڼا كې جائز دى؟ مهربانى كولو سره د دې سوال جواب راكړئ؟ بينواتوجروا

المستفتى: نامعلوم....١٩٨٨ء/٢/٧

---

(١) وفي الهندية: فلو اكره علي بيع او شراء او اقرار او اجارة بقتل او ضرب شديد او حبس مديد خير بين ان يمضي البيع او يفسخ.
(فتاوي عالمگيرية ٥:٣٥ كتاب الاكراه، الباب الاول في تفسيره شرعا)

(٢) (ردالمحتار ٨٩، ٥:٩١ كتاب الاكراه)

(٣) (فتاوي عالمگيرية ٥:٣٥ كتاب الاكراه، الباب الاول في تفسيره شرعا)

الجواب: د واپسئ والا خبره ناجائز ده.(۱) خو د اخستلو د خبرې د ختمولو نه پس دا د واپسئ والا خبره ضرری نه ده. **وهوالموفق**

په دروغ ویلو سره حاصل شوې مال د حکومت د نرخ نه په زیات نرخ باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د سیمنټ فیکټرئ ملازمانو ته پوره سروس کې په طور دخپل حق اویا ټنه یا کم او زیات سیمنټ د سروس د عهدې په لحاظ په رعایتی قیمت باندې ملاویږی ملازم په دې خپله منظور شوې کوټه کې څه سیمنټ مثلا لس ټنه د کور د جوړولو په بهانه درخواست سره د فرضی څمکی منظور کړی بیا دا د مارکیټ د ریټ مطابق په اضافې باندې خرڅوی آیا شرعا داسې کول جائز دی یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اهالیان ایم سی ایل ایبټ آباد....... ۱۲، جمادی الثانی ۱۴۰۱هـ

الجواب: دروغ ویل ناجائز دی (۲) خو په دروغ ویلو سره حاصل شوې مبیع مملوک دې.(۳) او د حکومت د نرخ نه په زیات نرخ باندې خرڅول صرف

---

۱) وفي الهداية : وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسده. (هداية ۵۹:۳ باب البيع الفاسد)

۲) قال ابن عابدين : ان كل مقصود محمود يمكن التوصل اليه بالصدق والكذب جميعا فالكذب فيه حرام.
(ردالمحتار ۳۰۳:۵ قبيل كتاب احياء الموات)

۳) قال العلامة ابن حجر العسقلاني : (قوله باب ما يكره من الخداع في البيع) كانه اشار بهذه الترجمة الي ان الخداع في البيع مكروه ولكنه لا يفسخ البيع.
(فتح الباري ۳۳۷:۴ باب ما يكره من الخداع في البيع)

وقال العلامة العيني : (باب ما يكره من الخداع في البيع) اي هذا باب في بيان كراهة الخداع في البيع ولكن الخداع لا يفسخ به البيع ... الاول مذهب الحنفية والشافعية علي ان الغبن غير لازم فلا خيار للمغبون سواء قل الغبن او كثر وهو الاصح.
(عمدة القاري ۲۳۳:۱۱ باب مايكره من الخداع في البيع)

قانوني جرم دي (۱) وهوالموفق

د بيع نه پس په مبيع کې د نقصان راتلو په صورت کې د قيمت کمولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې اته ورونه دي چې په هغې کې دوه بالغ او باقي نابالغ دي د هغوی د سيوانو يو باغ دې او په خپل وخت باندې مثلا پنځوس زره روپۍ باندې د هغوی مشر ورور په يو ټيکيدار باندې خرڅ کړو. کله چې د سيوانو د پخيدو نه پس وشوکولې شو نو ټيکيدار اويل چې ما څه نقصان اوچت کړې دې مهرباني وکړئ ماته دې څه پيسې د اصل رقم نه کم کړې شي اوس چونکې د دې باغ په مالکانو کې بعض نابالغ دي نو آيا مشر ورور د اصل قيمت نه څه پيسې پرېښودلې شي يا نه؟ د علاقې معمول هم دا دې چې د ټيکيدار په درخواست باندې څه نه څه پرېږدي؟ بينواتوجروا

المستفتي: عبدالستار ساکن کوئټه بلوچستان علاقه زيارت

الجواب: که ټيکيدار د سيوانو شوکولو نه مخکې مطالبه کړې وي نو مناسب دا ده چې بيع سابق کالعدم کړي. لکونه باطلا وفاسدا. (۲) اوپه کم ثمن باندې د نوي سر نه بيع وکړي او که بيع سابق صحيح وي، وهونظير

---

۱) قال العلامة برهان الدين المرغيناني: فاذا فعل ذلک وتعدي رجل عن ذلک وباع باکثر منه اجازه القاضي. (هداية ۴۷۲:۴ کتاب الکراهية، فصل في البيع)

وفي الهندية: فان سعر فباع الخباز باکثر مما سعر جاز بيعه.

(الفتاوي العالمگيرية ۲۱۴:۳ فصل في الاحتکار)

۲) في شرح المجلة: وشرط ترکها علي الشجر والرضا به يفسد البيع وعليه الفتوي کما في النهاية. (شرح المجلة ۹۴:۲ المادة: ۲۰۶)

العنقاء...نو وصی وغیره د عیب د وجې نه په ثمن کې کمی کولې شی نه د نورو عوارض د وجې نه، هذاماخوذمن الشامی فی باب المأذون.(۱)

وهوالموفق

د میلو د تیلو خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه یو دکاندار یم، او خلق په بازار کې د میلو تیل راوړی او مونږ دکانداران دهغوی نه دا تیل اخلو او بیا ئې په خلقو باندې خرڅوو او دا تیل ریح (باد) او د دردونو دپاره دوائی ده نو د دې شرعی صورت څۀ دې او د دې تیلو اخستل او خرڅول جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: شیخ محمد خیر دا کخانه کروړه تحصیل الهوری شانگله پار.... ۱۹۷۶ء/۵/۱۳

الجواب: د دې خرڅول ناجائز دی.(۲) او اخستل ئې جائز دی او استعمال ئې هم جائز دی کله چې د هغې نه په تُندئ سره جوړیدل یقیني وی.(۳) هذا

---

(۱) في الدرالمختار: ويحط من الثمن بعيب قدر ما يحط التجار. وتحته في الشامية (قوله بعيب) فلا يحط بدونه اذ هو تبرع محض منح.

(ردالمحتار ۵:۱۱۳،۱۱۴ كتاب الماذون)

(۲) قال العلامة الحصكفي: ونجيز بيع الدهن المتنجس والانتفاع به في غير الاكل بخلاف الودک (درمختار) وقال ابن عابدين: (قوله بخلاف الودک) اي دهن الميتة لانه جزوٴها فلا يكون مالا ابن ملک اي فلا يجوز بيعه اتفاقا وكذا الانتفاع به.

(شامي ۴:۱۲۸ باب البيع الفاسد)

(۳) قال العلامة ابن عابدين: (قوله اختلف في التداوي بالمحرم) ففي النهاية عن الذخيرة يجوز ان علم فيه شفاء ولم يعلم دواء آخر... وافاد سيدي عبد الغني انه لايظهر الاختلاف في كلامهم لاتفاقهم علي الجواز للضرورة ...ولذا قال والدي في شرح الدرر ان قوله لا للتداوي محمول علي المظنون والا فجوازه باليقيني اتفاق......

[بقيه بر صفحه آئنده...

حسب ما تقتضيه القواعد لم اجده صريحا نعم الطلى اهون من الاكل والشرب. وهوالموفق

د بيع العربان حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بیعانه ورکولو نه پس که سړې ئې واپس اخستل غواړی نو آیا هغه ته حق حاصل دې؟بینواتوجروا

المستفتی: یونیورسل ستور جنرل مرچنټس اینډ پروویژن ستور

اسراج کوره بازار اسلام آباد

الجواب: شرعا ستاسو دپاره د دې بیعانه واپسی ضروری ده.

لحديث رواه مالك وابوداؤد وابن ماجة عن عمروبن شعيب عن ابيه عن جده قال نهى رسول الله ﷺ عن بيع العربان (مشكوٰة ۲۴۰)(۱) وفى اللمعات: وهوان يشترى السلعة ويعطى البائع درهما اواقل اواكثرعلى انه ان تم البيع حسب من الثمن والالكان للبائع(۲). وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه گذشته]

لكن قد علمت ان قول الاطباء لا يحصل به العلم والظاهر ان التجربة يحصل بها غلبة الظن دون اليقين الا ان يريدوا بالعلم غلبة الظن وهو شائع في كلامهم.

(شامي ۱۵۴:۱ قبيل فصل في البئر)

۱ ﴾(مشكوٰة المصابيح ۲۴۸ باب المنهي عنها من البيوع، الفصل الثاني)

۲ ﴾(حاشية المشكوٰة عن اللمعات نمبر ۲۴۸: ۶ تحت هذا الحديث)

وفي المرقاة: وهو ان يشتري السلعة ويدفع الي صاحبها شيئا علي انه ان امضي البيع حسب وان لم يمض البيع كان لصاحب السلعة ولم يرتجعه المشتري.

(مرقاة المفاتيح علي مشكوٰة المصابيح ۶:۸۰ باب المنهي عنها من البيوع)

قال الشيخ السهارنفوري: قلت ويرد العربان اذا ترک العقد علي كل حال بالاتفاق.

(بذل المجهود في حل ابي داؤد ۲۸۷:۴ باب في العربان)

د پنشن د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په حکومت کې د يو سړی عمر دوه شپيتۀ کاله مقرر کولې شی هغه ته پنشن ورکولې شی چې د هغه پنشن څلور سوه وی نو هغه دوه سوه روپۍ خرڅولې شی په دې لحاظ سره چې دچا عمر زيات وی هغه ته پيسې کمې ملاويږی او د چا عمر چې کم وی هغه ته زياتې پيسې ملاويږی دا طريقه د شريعت په رڼا کې جائز ده يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: صوبيدار عبدالسلام گوجرانواله کينټ

الجواب: پنشن په حقيقت کې عطاء ده او دا بيع او شراء صوری بيع او شراء ده، په حقيقت کې دا ورکړه يا نزول عن الحق دې، پس د هر تقدير په بناء باندې دا خرڅول جائز دی.(۱) وهوالموفق

د بيع الوفاء تحقيق او په هغې کې زکاة په چا باندې دې؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې د بيع الوفاء (بيع صحيحې) تحقيق وليکئ؟ بينواتوجروا

المستفتی: عبدالغفار ديروی .... (دورة حديث)

الجواب: ذكروافى بيع الوفاء تسعة اقوال والصحيح انه رهن كما فى ردالمحتار ۴: ۲۴۶ عن جواهر الفتاوى وهورهن وحكمه الرهن وهو الصحيح اه، وفيه ايضاً عن الخيرية والذى عليه الاكثرانه رهن لايفترق عن الرهن فى حكم من الاحكام الخ(۲)

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: وعلي هذا لا يجوز الاعتياض عن الوظائف ... فيفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴: ۱۵،۱۶ مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

(۲) (ردالمحتار ۴: ۲۷۴ قبيل كتاب الكفالة)

قلت والاعتبار في العقود للمعاني دون الالفاظ(١) والمعنى هناك معنى الرهن وقلت ايضاً ان الثمن في بيع الوفاء يكون ديناً على البائع فيكون الزكوٰة واجبة على المشترى كما في ردالمحتار ٢:٧ ينبغي لزومها على المشترى فقط على القول الذى عليه العمل الآن من ان بيع الوفاء منزل منزلة الرهن وعليه فيكون الثمن ديناً على البائع تأمل(٢). وهوالموفق

د بيع العينه حكم

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې ماسره يو عربى ډرائيور ګاډي چلوى يوه ورځ د هغه د خولې نه دا خبره ووتله چې كله څوک د چا نه مالى امداد طلب كړى نو نقد مال قرض نه وركوى مثلاً زيد د بكر نه لس زره روپۍ قرضه وغوښتله بكر اويل چې ټهيک ده، بكر د دكاندار نه د لسو زرو روپو كپړه اخستلو سره هغه ته حواله كړه او زيد ته ئې وويل چې ته به د يو كال تيريدلو نه پس ماته پنځلس زره روپۍ راكوئ. نو زيد راضي كيدو سره كپړه اوچته كړه، كله چې ما دا خبره واوريدله نو زما په زړه كې د سود آواز راغلو ما وويل چې ماته پوره علم نشته هغه وويل چې په ټولو عربو كې دا لين دين عام دې او دا حرام نه دې، نو آيا دا حرام ده كه حلال؟ **بينواتوجروا**

المستفتى: حضرت الله المذنب المقيم السعودية العربية ...... ٩/رمضان المبارك

الجواب: دا معامله بيع العينه ده چې په هغې كې د قرض وركولو نه اعراض

---

١) وفي شرح المجلة: العبرة في العقود للمقاصد والمعاني لا للالفاظ والمباني ولذا يجري حكم الرهن في بيع الوفاء.
(شرح المجلة ١٦:١ المادة:٣)

٢) ردالمحتار ٦:٢ مطلب في زكاة ثمن المبيع وفاء)

دي او مکروه تنزیهی ده، او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد دا سړې فی الجملة ماجور دې (رد المحتار ۲۷۳/۵) (۱) وهوالموفق

د مجنون د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د لیونی د بیع او شراء جواز لري او کنه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نور الحق (دیر) ۳۰/جمادی الثانی ۱۳۹۸ء

الجواب: د لیونی اخستل او خرڅول او هبه نامنظور او کالعدم ده (۲) والمسئلة من الموضحات فلا حاجة الی نقل العبارة...وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين : (قوله في بيع العينة) اختلف المشائخ في تفسير العينة التي وردالنهي عنها قال بعضهم تفسير ها ان يأتي المحتاج الي آخر ويستقرضه عشرة دراهم ولا يرغب المقرض في الاقراض طمعاً في فضل لا يناله بالقرض فيقول لا اقرضک ولكن ابيعک هذا الثوب ان شئت باثني عشر درهما وقيمته في السوق عشرة ليبيعه في السوق بعشرة فيرضي به المستقرض فيبيعه كذلک فيحصل لرب الثوب درهمان وللمشتري قرض عشرة... عن ابي يوسف العينة جائزة مأجور من عمل بها... قال في الفتح ولا كراهة فيه الا خلاف الاولي لما فيه من الاعراض عن مبرة القرض.

(ردالمحتار ۲۴:۷۲ مطلب في بيع العينة)

(۲) قال العلامة الحصكفي : كما يطل بيع صبي لا يعقل ومجنون.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۱۱۷ باب البيع الفاسد)

وفي الهندية : ولا يجوز تصرف المجنون المغلوب اصلا.

(الفتاوي العالمگيرية ۵:۵۴ كتاب الحجر)

د ناخوښه ځیز بغیر د دهوکې نه د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په دکان کې پنځوس تهانه کېږه ده، په هغې کې اته څلویښت تهانه زر زر خرڅیږی او دوه تهانه د خلقو نه خوښیږی اوس چې یو ګاهک راغلو نو ما دوه تهانه مخامخ وغورځول چې دا واخلئ مونږ به ئې خرڅوو او په ټولو تهانونو کې هیڅ نقص نشته صرف ددې رنګ د خلقو خوښ نه دې، هغه واخستلو نو آیا صحیح دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: چې د عیب نه خالی وي (صرف په رغبت کې کمې دې) نو دا دهوکه نه ده، **فقط.(۱) وهوالموفق**

د ضبط شوې ځمکې د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي قتل کولو سره وتختیدلو، حکومت د هغه ځمکه ضبط کړه. دا ضبط شوې ځمکه یو بل سړی واخستل او بل چا سره ئې د هغې تبادله هم وکړه. دا بیع او تبادله جائز ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب غلام بنوں......۲۹ مارچ ۱۹۷۶ء

الجواب: تعزیر بالمال منسوخ دې، کمافی الدرالمختار لاباخذ المال فی

---

(۱) قال العلامة وهبة الزحيلي: فالشروط العامة هي التي يجب ان تتحقق في كل انواع البيع لتعتبر صحيحة شرعا وهي اجمالا ان يخلو عقد البيع من العيوب الستة وهي الجهالة، والاكراه، والتوقيت، والغرر، والضرر، والشروط المفسدة. (الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۳۴۵،۳۳۴۶ شروط صحة البيع)

المذهب هامش ردالمحتار ۳/۲۴۶ (۱) پس د دې ضبط شوې څمکې اخستل او خرڅول د دې مالک د رضا نه بغیر ناجائز او کالعدم دي کما فی رد المحتار ۴/۱۳۶ (۲) لهذا دا بیع او تبادله به نامنظور وی. وهوالموفق

د کافر نه د شرابو او د خنزیر د پیسو اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی یو مارکیټ کمیشن باندې واخلي. او په هغې کې دهوبی، درزی، نائی وغیره کار کوی، او صرف په یو دکان کې چینی باشنده، د خنزیر غوښه خرڅوی دا تیکیدار کله چې هغه منع کوی نو افسر هم ناراضه کیږی او په کاروبار باندې هم ډیر بد اثر پریوزی، د دې نه علاوه هغه دکاندار کله چې د خنزیر غوښه خرڅوی نو څه پیسې هغه تیکیدار ته هم ورکوی لهذا دا نقدې پیسې دې تیکیدار له اخستل په شریعت کې څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانادوست محمد جلوزئی نوشهره....۲۸/نومبر ۱۹۷۲ء

الجواب: که دکاندار د خنزیر غوښه په کفارو باندې خرڅوی نو دا بیع صحیح او نافذ ده او د دې دکاندار نه په پیسو اخستلو کې فی نفسه هیڅ باک نشته او که په مسلمانانو باندې ئې خرڅوی نو دا بیع باطل ده.

---

۱) قال العلامة الحصکفي: (لا باخذ المال في المذهب)... وفي المجتبي انه کان في ابتداء الاسلام ثم نسخ.
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳: ۱۹۵،۱۹۶ مطلب في التعزیر بالمال)

۲) قال العلامة الحصکفي: قال في الفتح ان التراضي لیس جزء مفهوم البیع الشرعي بل شرط ثبوت حکمه شرعا اه.
(ردالمحتار ۴: ۴ مطلب في بیع المکره والموقوف)

وقال العلامة ابن عابدین: ولیس للامام ان یخرج شیئا من ید احد الا بحق ثابت معروف. (ردالمحتار ۳: ۲۸۱ مطلب القول لذي الید ان الارض ملکه وان کانت خراجیة)

والدليل على الاول ان الخمر والخنزير مال متقوم عندهم(۱) فتكون مبادلة المال بالمال والدليل على الثاني ما في الدر المختار: وبطل بيع مال غير متقوم اي غير مباح الانتفاع به ابن كمال فليحفظ كخمر وخنزير وميتة انتهى (۲) قلت وكذا الشراء لانه شراء ما ليس بمال متقوم،
او دا پیسې د هغه بائع سره امانت دي خو نورو مالونو سره خلط کولو د وجې نه بائع د دې مالک جوړ شو او په بائع باندې زمان لازم شو او د ضمان د راتللو نه پس په دې مال کې د بائع دپاره مالکانه تصرفات جائز دی
صرح به في ايداع ردالمحتار(۳) قلت اما الاذن والاباحة معروفان من المشتري فلا حرج في التصرف. وهو الموفق

د بنکو د کرلو او د تجارت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بنګو کرل جائز دی یا ناجائز؟ او د هغې تجارت حلال دې یا حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي: صوبیدار اختر خان، قوم مشق میله
تبلیغی مرکز ضلع کوهاټ ... ٤ رمضان ۱۴۰۹ھ

---

۱) قال العلامة المرغيناني: وجه الفرق ان الخمر مال وكذا الخنزير مال عند اهل الذمة. (الهداية ۳:۴۹ باب البيع الفاسد)

۲) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۱۱۶،۱۱۵:۴ باب البيع الفاسد)

۳) قال العلامة الحصكفي: (وكذا لو خلطها المودع) بجنسها او بغيره (بماله) او مال آخر. ابن كمال (بغير اذن) المالك (بحيث لا تتميز ضمنها) لا ستهلاكه بالخلط. و قال ابن عابدين: (قوله لاستهلاكه) واذا ضمنها ملكها ولا تباح له قبل اداء الضمان ولا سبيل للمالك عليها عند ابي حنيفة رحمه الله. (ردالمحتار ۴:۵۵۴ كتاب الايداع)

الجواب: د بنګو کرل د انګورو د کرلو په شان خپله جائز دی خو د چرسو جوړولو په اراده ناجائز دی ځنګه چې د انګورو کرل د شرابو په اراده باندې ناجائز دی، لکونه تعاونا علی المعصیة کما اشار الیه فی شرح التنویر.(۱) خو دا ګناه په نسبت د شوکې وغیره کمه ده. **وهوالموفق**

د یو څيز په پوخ سیر باندې اخستلو سره په کلو باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دلته سوداګر حضرات مثلا یو جنس په شپیته روپۍ پوخ سیر باندې اخلی او هم هغه جنس په شپیتۀ روپۍ کلو باندې خرڅوی او حال دا چې کلو دیارلس نیمې چټاکۍ وی. آیا د هغوی دا عمل صحیح دې؟**بینوا توجروا**

المستفتی: عبدالشکور مین بازار کوهاټ......۹/شوال ۱۴۰۴ھ

الجواب: چونکې په بیع او شراء کې دهوکه ورکول نشته لهذا دا رویه جائز ده.(۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي : (و) جاز (بيع عصير) عنب (ممن) يعلم انه (يتخذه خمرا) لان المعصية لا تقوم بعينه بل بعد تغيره وقيل يكره لاعانته علي المعصية ونقل المصنف عن السراج والمشكلات ان قوله ممن اي من كافر اما بيعه من المسلم فيكره ومثله في الجوهرة والباقاني وغيرهما زاد القهستاني معزيا للخانية انه يكره بالاتفاق... (و)جاز تعمير كنيسة و (حمل خمر ذمي) بنفسه او دابته (باجر) لا عصرها لقيام المعصية بعينه .

و قال ابن عابدين : ولعل المراد هنا عصر العنب علي قصد الخمرية فان عين الفعل معصية بهذا القصد. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۵:۲۷۶،۲۷۷ فصل في البيع ، كتاب الكراهية)

۲) قال العلامة وهبة الزحيلي : فالشروط العامة هي التي يجب ان تتحقق في كل انواع البيع لتعتبر صحيحة شرعا وهي اجمالا ان يخلو عقد البيع من العيوب الستة وهي الجهالة، والاكراه، والتوقيت، والغرر، والضرر، والشروط المفسدة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۳۴۵،۳۳۴۶ شروط صحة البيع)...[بقيه برصفحه آئنده...

د مجبورئ دوجې نه د زيات قيمت والا څيزپه کم قيمت باندې خرڅول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو څيز په بازار کې په يوه روپئ شل سيره ملاويږي او د قرض په صورت کې اتلس سيره ملاويږي دغه شان يو څيز نقد په سل روپئ خرڅيږي او د قرض په صورت کې په شپږ شلې روپئ، نو آيا په دې کې څه کراهت شته؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم......

الجواب: په دې دواړو مسئلو کې څه اختلاف نشته يو مجبور سړې کله چې د څه مجبورئ د وجې نه زيات قيمت والا څيز ارزان خرڅ کړی نو د هغې اخستل مکروه دی (۱) او کله چې قرض (غير نقد) باندې خرڅ کړی او په قيمت کې زيادت وکړی نو اخستل او خرڅول ئې بغير د کراهت نه جائز دی (۲) **وهوالموفق**

...بقيه ازحاشيه گذشته]

وقال العلامة المرغيناني: ويجوز بيع الطعام والحبوب مكايلة ومجازفة... ويجوز باناء بعينه لا يعرف مقداره وبوزن حجر بعينه لا يعرف مقداره لان الجهالة لا تفضي الي المنازعة.

(هداية ٢٢،٢١:٣ كتاب البيوع)

۱ ﴾ قال المحدث علي القاري: (قال نهي رسول الله ﷺ عن بيع المضطر)... والثاني ان يضطر الي البيع لدين ركبه او مؤنة ترهقه فيبيع ما في يديه بالوكس للضرورة وهذا سبيله في حق الدين والمروأة ان لا يبايع علي هذا الوجه ولكن يعار ويقرض الي الميسرة او يشتري الي الميسرة او يشتري السلعة بقيمتها فان عقد البيع مع الضرورة علي هذا الوجه صح مع كراهة اهل العلم له.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح ٨٠:٦ باب المنهي عنها من البيوع)

۲ ﴾ قال العلامة المرغيناني: لان للاجل شبها بالمبيع الايري انه يزاد في الثمن لاجل الاجل. (هداية ٧٤:٣ باب المرابحة والتولية)

د مجبور سړی نه د زيات قيمت والا څيز په کم قيمت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی سره څه مال دې د خرڅولو دپاره او هغه ئې فورا خرڅول غواړی ځکه چې هغه سره د خوراک او د وخت د ګزارې دپاره څه نشته، د هغه نه دا مال په ډير کم قيمت باندې اخستلې شی دغه شان د دې سړی ضروريات پوره کيږی نو د دې مجبور سړی نه مال په کم قيمت باندې اخستل جائز دی يا نه دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: ازطرف ټول اينډ مشينری کمپنی لاهور........۶ | اکتوبر ۱۹۸۹ء

الجواب: داسې سړی له قرض ورکول پکار دی او هغه سره امداد کول پکار دی دهغه نه يو څيز په کم قيمت باندې اخستل د فتوی په طور جائز دی خو د تقوی مخالف دی. (۱) **وهوالموفق**

د حکومت د يو سړی ځمکه جبرا د اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: يو سړی د خپل ذاتی کور د جوړولو او د هغې نه علاوه د تجارت په غرض د پولټری فارم د پرانستلو دپاره پنځه کاله مخکې د ځمکې يو حصه خلور کناله په بيع قطعی اخستلې وی، د بيع قطعی د انتقال فيس هم حکومت وصول کړې وی چې د هغې ثبوت د سرکاری مالک جائيداد سره موجود وی، او د هغې د منلو نه موجوده حکومت انکار کوی.

---

(۱) قال العلامة القاري: (نهي رسول الله ﷺ عن بيع المضطر)... والثاني ان يضطر الي البيع لدين ركبه او مؤنة ترهقه فيبيع ما في يديه بالوكس للضرورة وهذا سبيله في حق الدين والمروأة ان لا يبايع علي هذا الوجه ولكن يعار ويقرض الي الميسرة او يشتري الي الميسرة او يشتري السلعة بقيمتها فان عقد البيع مع الضرورة علي هذا الوجه صح مع كراهة اهل العلم له.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ۶:۸۰ باب المنهي عنها من البيوع)

۲: موجوده حکومت د ځمکې د مالک د مرضئ خلاف، چې په یو قیمت باندې هم خپل جائیداد خرڅول نه غواړي، بغیر د څه خبر ورکولو نه انګریزی قانون ایکټ مجریه ۱۸۹۴ء د لاندې جبرا قبضه کولو سره په هغې باندې تعمیر شروع کړو. دغه شان د یو نیم کال نه د ځمکې مالک ته نقصان ورسیدلو. ۳: موجوده حکومت د نرخ لسمه حصه جبرا ورکوی.
۴: د دې جائیداد په خوا کې د جائیداد خرڅول د عوامو په مینځ کې په موجوده بازاری قیمت باندې شوې وی، او د دې جائیداد د موجوده بازاری قیمت په حکومتی کاغذاتو کې ثبوت انتقال بیع قطعی موجود وی چې د هغې د منلو دپاره د حکومت کاریګر تیار نه وی آیا دا جائز دې؟
مهربانی وکړئ د فقه حنفی په رڼا کې جواب راکړئ. **بینواتوجروا**

المستفتی: ډاکټر فضل معبود محله شیخان اکوړه خټک پشاور... ۱٤۰۵ھ/۱۹۸۶ء/۱۵/٦

الجواب: چونکې د حکومت حکم اکراه دی په دې وجه دا بیع بیع المکره ده او د زوال اکراه په وخت دا بائع یا د هغه وارثان دا ځمکه واپس کولې شی، **کما فی اکراه شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۵:۱۱۲ امر السلطان اکراه وان لم یتوعده(۱) وفیه ایضا ص ۱۱۰ فلو اکره... حتی باع اواشتری... فسخ ما عقد ولا یبطل حق الفسخ بموت احدهما الخ(۲). وهوالموفق**

د مملوکه اوبو د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې: ۱ ما اوریدلې دی چې د اوبو اخستل او خرڅول ممنوع دی او نن صبا خلق د ټیوب ویل اوبه خرڅوی، آیا دا جائز دي اوکه ناجائز؟

---

۱ ﴾ (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۹۱ کتاب الاکراه)
۲ ﴾ (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۸۹،۹۰ کتاب الاکراه)

۲: زمونږ په علاقه کې حکومت ټیوب ویل لګولي دي او مالیه نه اخلی لهذا په دې کې به د عشر څه حکم وی او که حکومت آبیانه وصولول شروع کړی نو بیا به څه حکم وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: ۱: چونکې د ټیوب ویل اوبه په پائپ او ټینکئ کې د داخلیدو نه جمع کیږی لهذا د هغې اخستل او خرڅول ګناه نه ده. (شامی باب الشراب) (۱)

۲: په پیسو باندې اخستلې شوې اوبو باندې د اوبه شوې ځمکې په فصل کې نیم عشر واجب وی او کله چې مفت وی نو عشر به واجب وی (شامی باب العشر) (۲) وهوالموفق

خرڅ کړې شوې څیزد مشتری نه دوباره په کم قیمت باندې داخستلوحکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بائع په مشتری باندې په څوارلس زره روپئ باندې مبیع په قرض خرڅ کړو، بیا مشتری دا مبیع په دولس زره روپئ نقدو باندې د بائع په لاس باندې خرڅ کړو آیا دا جائز ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد دراز، دار العلوم حقانیه. ۱۹۷۸ء/۱۰/۱۰

الجواب: په صورت مسئوله کې دا بیع فاسد ده، کما فی شرح التنویر ۱/۱۱۴، ۱۱۵ _ کما فی شرح التنویر ۱: ۱۱۴، ۱۱۵ وفسد شراء ما باع بنفسه اوبوکیله من

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله لم یحرز باناء) الاولي في اناء فلو احرزه في جرة او جب او حوض مسجد من نحاس او صفر او جص وانقطع جریان الماء فانه یملکه. (ردالمحتار ۵:۳۱۱ فصل الشرب)

(۲) قال العلامة الشامي: نعم لو کان محرزا باناء فانه یملک فلو اشتري ماء بالقرب او في خوض ینبغي ان یقال بنصف العشر لان کلفته ربما تزید علي السقي بغرب او دالیة. (ردالمحتار ۲:۵۵ باب العشر)

الذی اشتراه ولوحکماکوارثه بالاقل من قدر الثمن الاول قبل نقد کل الثمن الاول (۱). وهوالموفق

د ملاوټ (خلط) کړې شوو څیزونو د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې درې قسم وریژې وی :نمبر ۱ : سیله کرنل قیمت نهه سوه (۹۰۰) روپی بوری
نمبر ۲: سیله اری قیمت اته سوه (۸۰۰) روپئ بورئ
نمبر ۳: سیله شېړ سوه (۲۰۰) روپئ بورئ، دا درې واړه بورئ مکس کولو سره په اته نیم سوه روپئ بورئ خرڅول څه حکم لری؟ او د دې دواړه قسم وریژو یوځای کول څنګه دی؟ حال دا چې دا لږې ارزانې پریوځی او خلق د دې اخستل خوښوی.
هم دغه شان د کینیا چای ګریډ نمبر ۱ د هغې قیمت اتیا روپئ دې، ګریډ نمبر ۲ په اویا روپئ کلو او ګریډ نمبر ۳ په شپیتهٔ روپئ کلو دی، دا ټولې دوه سوه او شل شوې، اوس چې دا ټولې یوځای کړې شی نو اویا روپئ کلو پریوځی د دې پنځه اویا روپئ کلو خرڅول څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حافظ محمد نور صاحب، اندرون لکی ګیټ بنوں شهر. ۱۹۸۷ء/۱۲/۲

الجواب: ملاوټ (خلط) بذات خود حرام نه دې بلکې د دهوکې د ورکولو د وجې نه حرام دې. (۲) پس که تاسو اخستونکی ته د یو قسم نوم نه اخلئ او

---

۱) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۱۲۸ قبیل مطلب الدراهم والدنانیر جنس واحد في مسائل)

۲) وفي المشکوٰة: وعن ابي هريرةؓ ان رسول الله ﷺ مر علي صبرة طعام فادخل يده فيها فنالت اصابعه بللا فقال ما هذا يا صاحب الطعام؟ قال اصابته السماء يا رسول الله! قال افلا جعلته فوق الطعام حتي يراه الناس من غش فليس مني... عن علي قال نهي رسول الله ﷺ عن بيع الغرر. (مشکوٰة المصابيح ۱:۲۴۸ باب المنهي عنها من البيوع)

خرخوئ ئې نو دا شرعا ناجائز نه ده (بلکه جواز لري). (۱)، (۲) وهوالموفق

د نقصان د پوره کولو دپاره سامان په زيات قيمت باندې خرخول

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې د درآمدی تجارت په سلسله کې پاکستانی مصنوعات د نورو ملکونو د مصنوعاتو نه ډير گران دی په دې وجه په زياته خرچه باندې يا په څه کم مال باندې برآمد کولې شی مثلا که خرچه پرې سل روپئ وی نو بيرونی ملکونو ته ئې په نوی يا پنځه نوی او په بعض حالاتو کې په اتيا روپو باندې هم خرخولې شی، دغه شان سوداگرته نقصان کيږی، ددې نقصان د پوره کولو دپاره سوداگر هم هغه مال د پاکستانی صارفينو په لاس باندې په ډير زيات قيمت باندې خرخوی کله خود سلو روپو د خرچې مال د دوه سوو يا درې سوو روپو پورې لاړ شی دغه شان صارفينو ته د پاکستان جوړ شوی څيزونه د بين الاقوامی قيمتونو نه دوه يا درې چنده پورې گران ملاويږی د دې څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: منجانب ټول اينډ مشينری کمپنی لاهور .... ۱۶ اکتوبر ۱۹۸۹ء

الجواب: کله چې طرفين يعنی اخستلو او خرخولو والا راضی وی نو په دې کې هيڅ باک نشته. (۳) گناه په دروغو او دهوکه کې ده. (۴) وهوالموفق

---

(۱) وفي شرح المجلة: اذا كان المبيع حاضرا في مجلس البيع تكفي الاشارة الي عينه لان الاشارة ابلغ اسباب التعريف وجهالة قدره ووصفه بعد ذلک لا يفضي الي المنازعة فلا يمنع الجواز... مثلا لو قال البائع للمشتري بعتک هذا الحيوان وقال المشتري اشتريته وهو يراه صح البيع قال في البحر لان المشار اليه مبيعا كان او ثمنا لا يحتاج الي معرفة قدره ووصفه. (شرح المجلة ۲:۹۰ المادة ۲۰۲ الفصل الاول في حق شروط المبيع واوصافه)

(۲) چې دکان په ملاوټ نه کولو سره مشهور نه وی .... (مفتی سيف الله حقانی)

(۳) قال العلامة ابن عابدين: بل التراضي شرط لثبوت حكمه شرعا وهو الملک. (ردالمحتار ۷:۴ كتاب البيع)

(۴) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال نهي رسول الله ﷺ عن بيع الحصاة وعن بيع الغرر رواه مسلم. (مشكوة المصابيح ۱:۲۴۷ باب المنهي عنها من البيوع)

د کیسټ د کاروبار حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د کیسټ اخستلو، خرڅولو کاروبار څنګه دې؟ جائز دې یا ناجائز؟ آیا په دې باندې زکاة شته یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: عجب خان آفریدی خیبر بازار پشاور ....۲۵ مارچ ۱۹۸۸ء

الجواب: که دا کیسټ په سرود او ګانو باندې مشتمل وی نو د نورو بیکاره آلاتو په شان د دې اخستل او خرڅول مکروه تحریمی دی. (عالمګیری) (۱) او کومه ګټه چې د دې نه حاصله شی هغه مال مملوکه دې امانت نه دې لهذا د زکوة نه خلاصې نشته. کبیع الافیون وغیره. (۲) وهوالموفق

---

۱) وفي الهندية: ويجوز بيع البربط والطبل والمزمار والدف والنرد واشباه ذلک في قول ابي حنيفة رحمه الله وعندهما لا يجوز بيع هذه الاشياء قبل الكسر ذكر المسئلة في اجارات الاصل من غير تفصيل وذكر في السير الكبير تفصيلا علي قولهما فقال ان باعها ممن لم يستعملها ولا يبيع هذا المشتري ممن يستعملها فلا بأس ببيعها قبل الكسر فان باعها ممن يستعملها او يبيعها هذا المشتري ممن يستعملها لا يجوز بيعها قبل الكسر ... والفتويٰ علي قولهما.
(الفتاويٰ العالمگيرية ۳:۱۱۶ الفصل الخامس في بيع المحرم الصيد وفي بيع المحرمات)
(ومثله في الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۱۴۹ قبيل مطلب في ضمان الساعي من كتاب الغصب)

۲) قال العلامة ابن عابدين: (قوله وصح بيع غير الخمر) اي عنده خلافا لهما في البيع والضمان لكن الفتويٰ علي قوله في البيع وعلي قولهما في الضمان ... ثم ان البيع وان صح لكنه يكره كما في الغاية.
(ردالمحتار ۵:۳۲۳ كتاب الاشربة)

د ژوندي حيوان د ځرمنې خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد د قربانۍ د شريکانو نه د قربانۍ ځرمن تقريبا د پنځه ديرشو روپو په عوض واخستله او حال دا چې ځرمن ئې هم د مذبوح نه نۀ وه کوزه کړې، د قربانۍ د شريکانو نه يو سړې د وکيل په حيثيت شريک وو خو موکل وکيل ته نه خو د ځرمنې د خرڅولو اجازت ورکړې وو او نه ئې د خرڅولو نه مخکې منع کړې وو، ټول بائعان د بازار د نرخ نه ناواقف وو او مشتری (د ځرمنې سوداګر) خبر وو د خبريدلو نه پس په دويمه ورځ خرڅونکو پيسې واپس کولو سره ځرمن واپس غوښتل خو مشتری انکاري وو، اوس فريقين په شرعي فيصله باندې رضامند دی، مهرباني وکړئ د شرعي فيصلې نه پس مو د دلائلو نه هم خبر کړئ؟ بله دا چې زمونږ په عرف کې ځرمن وزني څيز دې او په صورت مذکوره کې مشتری بائعانو سره د اټکل په طور باندې مبينه عقد کړې دې او بائعان د وجې د لا علمۍ نه د دهوکې ښکار شوي دی. **بينواتوجروا**

المستفتي: فضل الرحمن آف هزاره ١٤فروري ١٩٧٣ء

الجواب: چونکې دا بيع فاسد ده، لهذا بائعين دا فسخ او کالعدم کولې شي، **في الدرالمختار (وصوف على ظهر غنم) وجوزه الثاني ومالك وفي السراج لو سلم الصوف واللبن بعد العقد لم ينقلب صحيحا وكذا كل ما اتصاله خلقي كجلد حيوان** (١) بله دا چې په ظاهر کې معلوميږي چې سوداګر هغوی نه دهوکه کولو سره په غبن فاحش کې اخته کړې دی، او په دې صورت کې هم رد او واپسي جائز ده. **كما في الفتح امافي مغبون غريكون له حق الرد** (هامش الرد ١٥٩/٤) (٢) **وهوالموفق**

---

١) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ٤: ١٢١ باب البيع الفاسد)

٢) (ردالمحتار ٤: ١٧٨ مطلب في الكلام علي الرد بالغبن الفاحش)

د پیسو د نه ادا کولو په صورت کښې د بائع مبیع لره د کم، زیات یا برابر قیمت باندې د واپس کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زید په عمرو باندې اوبښ خرڅ کړو او د پیسو د ادا کولو دپاره ئې یوه میاشت نیټه مقرر کړه د یوې میاشتې تیریدلو نه پس بائع د مشتری نه د قرض مطالبه وکړه نو مشتری ووئیل چې اوس ماسره پیسې نشته آیا د بائع دپاره دا جائز دی چې هغه د مشتری نه اوبښ په زیات قیمت باندې واپس کړی یا دریم سړی د هغې قیمت مقرر کړی بیا ئې په هغې باندې واپس واخلی یا ئې د مخکې قیمت نه په کم قیمت باندې بائع په خپله مرضۍ باندې واپس واخلی یا به بائع د مشتری د ثمن ادا کولو دپاره انتظار کوی. واضحه دې وی چې مشتری به جبرا دا اوبښ خرڅوی، د شریعت په رڼا کښې څه حکم لري؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: محمد زرین شاه حقانی

الجواب: دا بائع دا اوبښ په ثمن سابق یا زائد باندې واپس اخستلې شی خو په کم ثمن باندې ئې نه شی اخستلې.

كما في الدر المختار: وفسد شراء ما باع بنفسه او بوكيله من الذى اشتراه ولو حكما كوارثه بالاقل من قدر الثمن الاول قبل نقد كل الثمن الاول (هامش ردالمحتار ۴: ۱۱۴)(۱) وبمعناه في الهداية ۳: ۵۷)(۲)

بله دا چې د مفتی به قول په بناء باندې دا جائز ده چې دا بائع دې اوبښ لره خرڅولو سره خپل قیمت حاصل کړی که دا مشتری د مطل یا د نه ورکولو اراده لري، وهو مسئلة الظفر فليراجع الى ردالمحتار ۵/ ۳۷۳. (۳) وهو الموفق

---

۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۱۲۸ : ۴ باب البيع الفاسد)

۲) قال العلامة المرغيناني : ومن اشتري جارية بالف درهم حالة او نسيئة فقبضها ثم باعها من البائع بخمس مائة قبل ان ينقد الثمن لايجوز البيع الثاني (هداية ۵۷ : ۳ باب البيع الفاسد)

۳) قال العلامة ابن عابدين : (قوله يعني بلا امره) لان للدائن ان يأخذ بيده اذا ظفر بجنس حقه بغير رضا المدين فكان للقاضي ان يعينه. زيلعي. (ردالمحتار ۵ : ۱۰۵ كتاب الحجر)

د محاقله (د ولاړو غنمو فصل په صفا غنمو باندې د خرڅولو) حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې اکثر خلق په بل پټی کې د غنمو ولاړ فصل د تیارې غلې په بدل کې اخلی، بوس وغیره په هغې کې شامل وی آیا دا محاقله ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نور الحق

الجواب: که مبیع او ثمن متحد وی نو دا معامله محاقله ده. (۱) (فتفکر... مفتی سیف الله حقانی) **وهوالموفق**

د شفیع په بائع باندې خرڅول ممنوع نه دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی یوه ځمکه خرڅه کړه د هغه ورور په هغه باندې د شفعې دعوه وکړه خو مشتری انکار وکړو آخر بائع او مشتری شفیع ته د ځمکې په ورکولو باندې متفق شو پس قاضی صاحب د ګواهانو په حضور کې د شفیع دپاره فیصله وکړه. فیصله نامه بائع خان سره وساتله او څو کلونه پس (بائع) بیا دا ځمکه په یو سړی باندې خرڅه کړه او دعوی ئې وکړه چې دا ځمکه زما ده اوس د شریعت په رڼا کې دا ځمکه د چا ملکیت دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: تاجبر خان دیر..... ۲٤/دسمبر ۱۹۸۳ء

---

(۱) وفي المسلم: عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ نهي عن المحاقلة والمزابنة والمخابرة... والمحاقلة ان يباع الحقل بكيل من الطعام معلوم. (الصحيح لمسلم ۱۱: ۲ باب النهي عن المحاقلة والمزابنة)

وقال العلامة الكاساني: وعلي هذا تخرج المزابنة والمحاقلة انهما لا يجوزان... والمحاقلة بيع الحب في السنبل بمثل كيله من الحنطة خرصا لا يدري ايهما اكثر. (بدائع الصنائع ۴۱۹: ۴ حكم المزابنة)

الجواب: د دې دعوې د عدم سماعت هيڅ وجه نشته. (۱) د شفيع په بائع باندې خرڅول ممنوع امر نه دې. (۲) وهوالموفق

په سامان باندې د قبضې کولو نه بغير وړاندې خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی په لندن کې مال واخستلو او مال هم هلته دې د مال د مالک سره نه کاغذات شته او نه رسيد يا ورسره کاغذات او رسيد شته خو مال موجود نه دې نو په داسې صورتونو کې مالک، مال له په پاکستان کې خرڅولې شي يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: حاجی خائسته خان پشاور....... ۱۳/جمادی الاول ۱۳۹۵ھ

الجواب: که دې سړی (مشتری) په دې مال باندې اصالة يا وکالة هيڅ قسم قبضه نه وی کړې نو د هغه دپاره په بل چا باندې خرڅول ناجائز دی اګر چې رسيد يا کاغذات ورسره وی. (ماخوذ از هداية ۷٤/۳) (۳) وهوالموفق

---

(۱) وفي الهندية: "وأما شروط صحتها فمنها عقل المدعي والمدعیٰ عليه ...ومنها حضرة الخصم ...ومنها أن يكون المدعیٰ به شيئاً معلوماً ...ومنها مجلس القضاء ...ومنهاعدم التناقض في الدعوٰي ...ومنها أن يكون المدعي يحتمل الثبوت.

(فتاوٰي هندية ۳،۲: ٤كتاب الدعوٰي ،الباب الأول)

(۲) وأيضاًفيها :اذا كانت الدارفي يدالبائع وقضٰي القاضي للشفيع بالشفعة فطلب الشفيع من البائع الأقالة فأقاله البائع فالاقالة جائزة ......ويجعل في حق المشتري كأنّ البائع اشترٰي الدار من الشفيع.(فتاوٰي هنديه۱۹۸: ۵كتاب الشفعة،الباب السابع عشر في المتفرقات)

(۳) وقال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالٰي :ومن اشتري شئاممابنقل ويحوّل لم يجز له بيعه حتٰي يقبضه لأنه ﷺنهي عن بيع مالم يقبض ولأن فيه غررانفساخ العقدعلٰي اعتبار الهلاک.

(الهداية ۷٤: ۳باب المرابحة والتولية)

د مهاجر په جعلی راشن کارډ سره د بل مهاجر دپاره راشن اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بعض مهاجرین زیات شناختی کارډونه جوړوی په هغې سره د بل سړی دپاره غله اخستل جائز دی یا نه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: (مفتی) محمد سردار (شیخ الحدیث) دارالعلوم عربیه ټل ... ۱۹ صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: دروغ ویل او دهوکه ورکول ناجائز دی.(۱) خو په منظور شوي راشن کارډ سره راشن حاصلول ناجائز نه دی. **وهوالموفق**

د راشن کارډ د اخستلو او خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مهاجرین نه د هغوی راشن کارډ نور مهاجرو یا ملکی اوسیدونکو لره اخستل جائز دی یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: (مفتی) محمد سردار (شیخ الحدیث) دارالعلوم عربیه ټل ... ۱۹ صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: راشن کارډ په حقیقت کې د استحقاق نوم دې، نو د کومو علماء کرامو په نزد چې په نزول عن الحق باندې عوض اخستل جائز دی، د هغوی

---

(۱) عن سفیان بن اسدالحضرمي رحمه الله قال سمعت رسول الله ﷺ یقول کبرت خیانة أن تحدث اخاک حدیثا هولک به مصدق وانت به کاذب رواه ابوداوٗد.
(مشکٰوة المصابیح ۴۱۳ باب حفظ اللسان والغیبة والشتم)
وقال الامام البخاري تعلیقا: قال النبي ﷺ الخدیعة في النار.
(الصحیح البخاري ۲۸۷: ۱ باب النجش)
وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله "کل مقصودمحمود یمکن التوصل الیه بالصدق والکذب جمیعا فالکذب فیه حرام".
(ردالمحتار ۵:۳۰۳ من فروع کتاب الحظروالاباحة)

په نزد دا اخستل او خرڅول هم جائز دي. (۱) کله چې د نورو موانعو نه خالي وي. وهوالموفق

د ځمکې په بیع کې د ونو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د عمر نه ځمکه واخستله او پنځه حصې ئې ترې د باندې هم واخستلې چې په هغې کې ډیرې ونې لګیدلې دی خو د بیع په وخت د ونو تعین ونکړې شو اوس زید د ونو دعوی کوی او عمر انکار کوی چې د ونو تعین نه دې شوې، شرعا د دې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: جمعه خان مهتمم دارالعلوم کوهستان ۱۴ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: که د ونو استثناء د عقد په وخت کې نه وی شوې نو دا ونې به د هغه مشتری مملوک شماریږی. کمافی شرح المجلة ۱۱۶: وفی بیع العرصة تدخل الأشجار المغروسة على أن تستقر لأن جمیع هذه المذکورات لاتفصل عن المبیع فتدخل فی البیع بدون ذکر ولا تصریح ولافرق فیما اذاکانت الأشجار مثمرة أولا صغیرة أوکبیرة الخ. (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصکفي رحمه الله: وفي الاشباه لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق الشفعة...فیفتي بجواز النزول عن الوظائف بمال. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: واستدل بعضهم للجواز بنزول سیدنا الحسن بن سیدناعلي رضي الله عنهما عن الخلافة لمعاویة علي عوض وهو ظاهر أیضا وهذا أولي مماقدمناه في الوقف عن الخیریة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱۵:۴ مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

۲) (شرح المجلة لسلیم رستم باز ۱۱۶ المادة ۲۳۲)

وفي الهندیة: ثم ان محمد رحمه الله ذکر أن الشجر یدخل في بیع الأرضین من غیر ذکر ولم یفصل بین المثمرة وغیر المثمرة ولابین الصغیرة والکبیرة والأصح أن الکل یدخل من غیر ذکر.

(فتاوی هندیة ۳۳:۳ الفصل الثاني في ما یدخل في بیع الأراضي والکروم)

د غیر مملوکه غرونو ونې د پرې کولو نه مخکې خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د غر ونې د تقسیم نه مخکې په خپلو کلی والو باندې خرڅوی نو آیا دا پیسې جائز دی یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد ادریس

الجواب: د غر ونې د چا ملکیت هم نه وی، لهذا د هغوی تقسیم یا اختتل او خرڅول صحیح نه دی یعنی کله چې د ریبلو نه مخکې وی.

کما یشیر الیه عبارة الهندیة ۱: ۱۹۷: وما یجمع من ثمار الأشجار التی لیست بمملوکة کأشجار الجبال (۱) واعلم أنها لیست داخلة فی الکلاء (۲) کما لایخفی، نعم الشرکة فیها متحققة. وهوالموفق

د تیوب ویل اوبه د فصل د معین حصې په عوض کې خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د پنجاب مالدار خلق د علاقې د آبادئ دپاره تیوب ویل لګوی او د هغې اوبه د پیدوار د معینې حصې په عوض کې خرڅوی، نو دا جائز ده یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

---

۱) (فتاوي عالمگیریه ۱۸۶: ۱ الباب السادس في زکاة الزرع والثمار)

ویدل علي عدم جوازبیعه ما في دررالحکام: لکل أحد احتطاب الأشجار النابتة من نفسها في الجبال المباحة ولیس لأحد منع الآخرمن ذلک ...... اذاأخذ أحد بلا اذن الحطب الذي احتطبه أخر من الجبال المباحة وترکه فیها لیأخذه بعد ذلک فیکون غاصباً.....لأن الحطب أصبح ملکاًلمحتطبه.

(دررالحکام ۲۸۱، ۲۷۹ المادة ۱۲۵۸، ۱۲۵۵)

۲) قال العلامة الشامي رحمه الله تعالي: بخلاف الأشجار ،لأن الکلاء ما لا ساق له والشجرله ساق فلا تدخل حتي یجوز بیعها اذانبتت في أرضه لکونها ملکه.

(ردالمحتار ۱۲۳: ۴ قبیل مطلب صاحب البئرلا یملک الماء)

المستفتي: منظور احمد دار الافتاء دار العلوم قاسم العلوم ملتان. ۳ اپریل ۱۹۹۰ء

الجواب: دا معامله ناجائز ده كه دي نه بيع وويل شي يا اجاره. په دي چي دا ثمن يا اجرة نا معلوم دي او نه حالا موجود دي، او دا په (فتاوی) هنديه (عالمکیری) کي ليکلي شوي دی چي دا جهالت او عدم تحقق مفسدات دی (۱) وهوالموفق؛

د ذخيره کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دي مسئلي په باره کي چي غله اخستلو سره وروستو هغه په ګران قيمت باندي خرڅول څه حکم لری؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی محمد محسن عباسه

الجواب: كه هغه سړی غله د بلي علاقي (ښهر) نه واخستله نو احتكار نه دي كنه نو احتكار دي. وتمام البحث في رد المحتار ۳۵۲/۵ (۲) وهوالموفق

---

۱) وفي الهنديه :وأما شرائط الصحة...ومنها أن يكون المبيع معلومًا والثمن معلومًا علمًا يمنع من المنازعة فبيع المجهول جهالة تفضي اليها غير صحيح.

(فتاوي هنديه ۳ : ۳ كتاب البيوع ،الباب الأول في تعريف البيع الخ)

وأيضاً فيها :وأما شرائط الصحة ...ومنها أن تكون الأجرة معلومة.

(فتاوي هنديه ۴۴۱ : ۴ كتاب الاجارة ،الباب الأول)

۲) وقال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالي" ولا يكون محتكرا بحبس غلة أرضه بلا خلاف و مجلوبه من بلد آخر .(درمختار) ،و قال العلامةابن عابدين " (قوله ولا يكون محتكراً الخ) و الظاهر أن المراد أنه لا يأ ثم إثم المحتكر و إن أثم بانتظار الغلاء أوالقحط لنية السوء للمسلمين (قوله و مجلوبه من بلد آخر) لأن حق العامة إنما يتعلق بما جمع في المصر و جلب إلي فنا ئها ، هداية ، قال القهستاني و يستحب أن يبيعه فإنه لا يخلو عن كراهة.

(ردّ المحتار : ۵ : ۲۸۳ كتاب الحظر والا باحة ، فصل في ال

ټیکه په کمیشن باندې خرڅول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د حکومت قاعده ده چې کوم څيز خپله نه شي کولې نو ټیکیدار ته ئې په ټیکه باندې ورکړي کوم ته چې ټینډر وائي او حکومت د هغې نرخ خپله مقرر کوي چې په فلاني نرخ باندې به مال درکوو. اوس چې دا ټیکه په کوم نوم باندې وي هغه مثلاً زید پ، عمر باندې په طور د کمیشن خرڅه کړي په دې طریقه باندې چې زید عمر ته وائي چې ټیکه ته چلوه. او د منافع په پیسو کې به زما یوه آنه یا دوه آنې وي، دا یوه آنه یا دوه آنې کومې چې زید د عمر نه اخلي د شریعت په رڼا کې دا پیسې اخستل څنګه دي؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: مولوی حبیب الرحمن امام مسجد حاجان ....۱۳ رمضان المبارک ۱۳۸۸ھ

الجواب: زید چې د عمر نه کوم مال اخلي هغه رشوت او حرام دې.(۱) او د ټیکې اکثر صورت بذات خود هم حرام وي، لکونها بیعاً فاسداً.(۲) اواجارة فاسدة(۳) والتفصیل سیکتب عند تفصیل الصور. فقط

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: وفي المصباح الرشوة بالكسر ما يعطيه الشخص الحاكم وغيره ليحكم له او يحمله علي مايريد... وفي القنية الرشوة يجب ردها ولا تملك وفيها دفع للقاضي اولغيره سحتا لاصلاح المهم فاصلح ثم ندم يرد ما دفع اليه.
(ردالمحتار ۳۳۸،۳۳۷:۴ مطلب في الكلام علي الرشوة والهدية)

۲) قال العلامة ابن عابدين: باب البيع الفاسد... انه معصية يجب رفعها، وسيأتي في باب الربا ان كل عقد فاسد فهو ربا يعني اذا كان فساده بالشرط الفاسد.
(ردالمحتار ۱۱۱:۴ باب البيع الفاسد)

۳) قال العلامة ابن عابدين: لان اجر المثل في الاجارة الفاسدة طيب وان كان الكسب حراما. (ردالمحتار ۳۱:۵ باب الاجارة الفاسدة)

باب خیار العیب

داطلاع علی العیب نه پس د مالکانه تصرف په صورت کې د خیار عیب حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا د اطلاع علی العیب نه پس د مشتری په مبیع کې تصرف یا د هغې خرڅول دا رضا بالعیب ده یا نه؟

۲: مبیع په بائع باندې واپس کولې شی یا د هغه نه تاوان اخستلې شی یا نه؟

۳: دا رضا بالعیب، کله چې د دواړو څیزونو نه ثابته شی، قسم د بائع نه ساقط کوی یا نه؟ اګر چې د عیب دعوی د یو کال نه پس هم وی بله دا چې مبیع ئې هم په لاس کې نشته هغه ئې خرڅه کړې ده، پورته درې سوالونه معروضی سوالات دی. بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد شریف پینګ ...... توپې ضلع مردان

الجواب: د اطلاع علی العیب نه پس مبیعې لره خرڅول یا نور مالکانه تصرف کول مانع عن الرجوع دی یعنی نه مشتری مبیعه واپس کولې شی او نه رجوع بالنقصان کولې شی.

صرح به جمیع ارباب الفتاوی(۱) قال فی شرح المجلة ۱۸۵ بعد اطلاع المشتری

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: وفي الكفاية كل تصرف يسقط خيار العيب اذا وجده في ملكه بعد العلم بالعيب فلا رد ولا ارش لانه كالرضا به.
(ردالمحتار ۴:۹۲ مطلب فيما لو اكل بعض الطعام)

وفي الهندية: الاصل ان المشتري متي تصرف في المشتري بعد العلم بالعيب تصرف الملاک بطل حقه في الرد.
(فتاوي عالمگيرية ۳:۷۵ الفصل الثالث فيما يمنع الرد بالعيب وما لا يمنع)

على العيب فى المبيع اذا تصرف فيه تصرف المالك سقط خياره مثلاً لو عرض المشترى المبيع للبيع بعد اطلاعه على عيب الخ(١)

پس نه د مشترى دعوىٰ صحيح ده او نه اقامة بينه او نه حلف د بائع صحيح دي. وهوالموفق

...

١) (شرح المجلة ٢:٣٠٧، ٣٠٨، المادة: ٣٤٤، بعد اطلاع المشتري علي عيب)

باب الاقالة

په ویزه کې د لګولې شوې شرطونو په نه پوره کولو باندې د عقد د فسخ کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بنده حاجی دلیل خان د ورارهٔ کلیم خان دپاره د حاجی میر صاحب خان نه یو ویزه په دې شرط واخستله چې مسمٰی کلیم خان به مخصوص عربی د کور مالک د خپل کور په کار باندې لګوی، یعنی خاص مزدور به ئې ساتی، او زر ریاله به ورته سره د خوراک نه ورکوی، او د ویزې قیمت کوم چې اته دیرش زره روپۍ دې هغه به زه ادا کوم، حاجی میر صاحب خان شرطونه قبلولو سره ویزه حواله کړه او مونږ ذکر شوې پیسې ورکړې او هغه مو د عربی د کور د خدمت دپاره حواله کړو. عربی حیله جوړولو سره د هغه نه اته میاشتې کار واخستلو او مزدوری ئې ورله ډیره کمه ولګوله. یعنی دوه نیم سوه ریاله ئې د ټولو میاشتو ورکړل. کلیم خان د مجبورئ نه د مزدورئ په لټون کې ووتلو څکه چې شرطونه پوره نه شو، ما میر صاحب خان ته خبر ورکړو نو هغوی ټیلیفون کولو سره دا فیصله وکړه چې که په مقرر شوې مزدورئ باندې هغه نه وی لګولې شوې نو زه به ویزه سره د باقی تنخواه ګانو په پاکستان کې درکړم آیا دا دعوی شرعا دائر کول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی دلیل خان .... ۲۳ جمادی الثانی ۱۴۰۷ھ

الجواب: چونکې دا بیع د دې اشتراط د وجې نه بیع فاسد ده. (۱) او په بیع

---

۱ ﴾ قال العلامة المرغيناني: وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسده.
(هداية ۳:۵۹ باب البيع الفاسد)

فاسد کې د مبیع د هلاکت د وجې نه عقد فسخ کول ناممکن شي نو د مشتری په ذمه قیمت واجبیږی نه ثمن. کما فی شرح التنویر علی هامش رد المحتار ۱۲۵/٤ والا فبقیمته یعنی ان بعد هلاکه اوتعذرردہ.(۱) وهوالموفق

وضاحت: دا جواب په هله وی چې مبیعه وغیره د ورارۂ د استعمال د وجې نه ختم شوې وی. (مفتی سیف الله حقانی)

په مقرر شوي بیع باندې بغیر د معتبر اقالې نه انحراف جائز نه دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په یو کور کې څو وارثان شریک دی په هغوی کې یو د مړی ښځه ده، د مړی ښځې خپله څلورمه حصه، کومه چې به هغه ته په کور کې ملاویده، دڅه سامان په عوض کې ئې مونږ ته راکړه ددې معاملې په باره کې زمونږ دوه ګواهان هم موجود دی. اوس هغه زنانه هغه کور دوباره خرڅول غواړی نو دا معامله د زنانه دپاره جائز ده یا نه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: امیر حسین ډیره اسماعیل خان

الجواب: د دې زنانه دپاره د دې بیع نه واپس کیدل جائز نه دی، قال الله تعالی ﴿ یا ایها الذین امنوا اوفوا بالعقود ﴾(۲) وقالوا ان الاقالة لا تصح الا بالرضاء(۳) وهوالموفق

---

۱ ﴾(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱٤۰: ٤باب البیع الفاسد)

۲ ﴾(سورة المائدة آیت: ۱)

۳ ﴾وفي الهندية: وشرط صحة الاقالة رضا المتقائلین.

(هندیة ۱۵۷: ۳مطلب شروط صحة الاقالة)

وقال العلامة الحصکفي: ومن شرائطها... رضا المتعاقدین.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱٦۲: ۳باب الاقالة)

باب بيع المرابحة والتولية

په بيع مرابحة كې په خيانت ثابتيدلو باندې مالي جرمانه اخستل او بيع فسخ كول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په پنجاب کې غوا، میښه خرڅولو کې د بائع او مشتری ترمینځه یو قانون دې هغه دا چې مشتری د بائع نه غوا وغیره اخلی، بائع وائی چې ما په پنځه زره روپۍ باندې دا میښه اخستلې ده او زه دوه سوه روپۍ منافع غواړم. اوس که بائع رشتینې دې نو ډیره ښه ده، کنه نو د دروغو په صورت کې بیا دا مشتری د دې بائع نه د دې علاقې د قانون مطابق د دوه سوه روپۍ منافع د هرې روپۍ په عوض کې یولس روپۍ اخستلې شی،اوس مشتری که په ګواهانو سره د دې سړی (بائع) دروغ ثابت کړی نو آیا مشتری د دې بائع نه دا حساب اخستلې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالمتين تهي كوهاټ..... ۱۹ صفر ۱۴۰۲هـ

الجواب: دا بیع بذات خود جائز ده دې ته بیع مرابحه وائی، (هداية) (۱) وشامی (۲) وهندية) (۳) په دې کې خیانت حرام دې خو د ثبوت خیانت په تقدیر

---

۱) قال العلامة المرغيناني: المرابحة نقل ما ملكه بالعقد الاول بالثمن الاول مع زيادة ربح. (الهداية ۳:۷۰باب المرابحة والتولية)

۲) قال العلامة الحصكفي: المرابحة شرعا بيع ما ملكه من العروض ولو بهبة او ارث او وصية او غصب فانه اذا ثمنه بها قام عليه وبفضل.
(الدرالمختار ۴:۱۷۱كتاب البيوع، باب المرابحة والتولية)

۳) وفي الهندية: المرابحة بيع بمثل الثمن الاول وزيادة ربح.
(فتاوي عالمگيرية ۳:۱۶۰الباب الرابع عشر في المرابحة والتولية)

باندې جرمانه اخستل د تعزیر بالمال کیدو د وجې نه حرامه ده، کمافی شرح التنویر ۲٤٦/۳ (۱) خو دا بائع بیع فسخ کولې شی، کما فی الهندیة ۷۱/۳ (۲) وغیرهما. وهوالموفق

د ایجنټ په ویزې باندې زیاتې پیسې اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حکومت کوم ایجنټان مقرر کړې دی او خلق بهر ملکونو ته لیږی هغه ایجنټانو ته د حکومت د طرف نه مبلغ دوه زره روپۍ مقرر دی او ویزې د بهر ملکونو نه مفت راځی ځکه چې کمپنو ته د مزدورانو وغیره ضرورت وی خو ایجنټ د دوه زره روپو په ځای د حکومت نه په غلا باندې دیارلس زره روپۍ اخلی، ضرورت مند د مجبورۍ د وجې نه دا ویزې اخلی ځکه چې بیا ئې هغوی ورکوی نه، نو آیا د دوه زرو روپو نه زیاتې اخستل د هغوی دپاره جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: سمیع الله تور ډهیر مدرس پرائمری سکول

الجواب: که د حکومت د طرف نه په زیاتی رقم وصولولو باندې پابندی نه وی نو په دې کې هیڅ باک نشته (او جواز لری). (۳) وهوالموفق

په مرابحه کې ګز او میټر له بیانول ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د کپړې یو

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصكفي: ويكون به وبالحبس ... لا باخذ مال في المذهب.
(الدرالمختار ۳:۱۹۵ باب التعزير، مطلب في التعزير باخذ المال)

۲ ﴾ وفي الهداية: فان اطلع المشتري علي خيانة في المرابحة فهو بالخيار عند ابي حنيفة رحمه الله ان شاء اخذه بجميع الثمن وان شاء تركه.
(الهداية ۳:۷۱ باب المرابحة والتولية)

۳ ﴾ او په ظاهره پابندي موجوده ده لهذا حرج لازم دي (مفتی سیف الله حقانی)

دکاندار دې هغه ته بعض مال د گزونو په حساب سره ملاویږي او بعض کپړه د میټر په حساب سره، یو گاهک د دکاندار نه د کپړې اخستلو په غرض راغلو، دکاندار ته وائی چې یوه روپۍ گټه مانه واخله، دکاندار د اخستلو بل ښودلو سره کپړه ورکوی خو گاهک دکاندار ته د گز او میټر فرق نه ښائی آیا دا به جائز وی که خیانت به وی؟ **بینواتوجرو**

المستفتي: فضل احد بټ خیله ملاکنډ..... ۲۷ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: په بیع مرابحه کې دا اقدام خیانت دې او حرام دې، **قال صاحب الهداية**: وهذا كان مبناهما على الامانة والاحتراز عن الخيانة ۳/۷۳(۱) **وهوالموفق**

د قرض د وجې نه په ثمن کې زیادت او د ډاټسن او ټوپک په قیمت کې د زکاة حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د یو ډاټسن نقدی قیمت درې لاکه روپۍ دې او که په قسطونو روپۍ ورکول وی نو بیا څلور لاکه روپۍ دې آیا دا اخستل او خرڅول جائز دی او که سود دې؟

۲: د یو ټوپک قیمت نقدی پنځلس زره روپۍ دې آیا په قرض ئې په شل زره روپۍ باندې خرڅول صحیح دی؟ بله دا چې په ډاټسن او ټوپک باندې به زکاة فرض وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: قاری مغل حسین گورنمنټ هائی سکول اشکر کوټ جنوبی وزیرستان ۱۹۹۰ء/۲/۱۰

الجواب: ۱: په قرض باندې د خرڅولو د وجې نه په ثمن کې زیادت کول جائز دی. (مجموعة الفتاوی) (۲) او دا مشتری (اخستونکې) د کال تیریدلو نه

---

۱) (هداية ۳:۷۱ باب المرابحة والتولية)

وقال العلامة ابن عابدين: لانها مبنية علي الامانة والاحتراز عن شبهة الخيانة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۱۷۷ باب المرابحة والتولية)

۲) قال العلامة عبد الحي اللكهنوي: د اجل (نیتې) په وجه د ثمن زیاتوالي بېشکه صحیح دې ددې ثبوت د هدایه د کتاب المرابحه د عبارت نه... [بقیه برصفحه آئنده...

پس د زکاة د مالونو نه قرض لرې کولو سره به د باقي مالونو نه زکاة ورکوي

نوټ: د واښسن او د ټوپک په قیمت کې زکاة فرض نه دې. (۱)، (۲) **وهوالموفق**

په تولیه کې د اصل قیمت زیات بیانولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما یو څیز په سل روپۍ باندې واخستلو او ګاهک ته مې یو سل او دیرش روپۍ یادې کړې او دیرش روپۍ منافع ده آیا دا جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب الرحمن پیښور بهر دبګری

الجواب: دا کار خیانت دې، حرام دې او واجب الرد دې. (۳) **وهوالموفق**

...بقیه ازحاشیه گذشته]

ډیر ښه معلومیږی په هدایه کې دی:

الا تري انه يزاد في الثمن لاجل الاجل، آیا تا ته دا معلومه نه ده چه د مودې په وجه په ثمن کې زیاتوالې کیږی او همدغه شان عبارتونه په نورو ډیرو کتابونو کې هم موجود دی

(مجموعة الفتاوي ۱۲۴:۲ كتاب البيع)

۱ ﴾ قال العلامة المرغيناني: وليس في دورالسكني وثياب البدن واثاث المنازل ودواب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكوة لانها مشغولة بالحاجة الاصلية وليست بنامية ايضا.

(هداية ۱۸۶:۱ كتاب الزكاة)

۲ ﴾ خو چې د تجارت دپاره نه وی (مفتی سیف الله حقانی)

۳ ﴾ وقال العلامة الحصكفي: (وله الحط) قدر الخيانة (في التولية).

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱۷۴:۴ باب المرابحة والتولية)

وفي الهندية: وان خان في التولية حطها من الثمن وهذا عند ابي حنيفة رحمه الله. (فتاوي عالمگیریة ۱۶۲:۳ الباب الرابع عشر في المرابحة والتولية)

د قرض د وجې نه په ثمن کې زیادت کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د قرض سودا د وجې نه د پیسو اضافه جائز ده یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: اکبر حسین ماسټر کلې او ډاکخانه کوزه بانډه ضلع سوات... ۱۹۷۶ء/۳/۲۴

الجواب: د نیتې د وجې نه (یعنی په قرض سودا کښې) په ثمن کښې اضافه جائز ده (۱) خو که بائع د مشتری د ضرورت نه فائده اوچتولو سره په ثمن کې زیاته اضافه وکړی نو دا به ظلم وی، قال الله تعالی: والله لا يحب الظالمين .... (۲) خو په بیع کله چې مشتری راضی شو نو په هر قیمت باندې به جائز وی. (۳) وهوالموفق

المجیب: عبدالحلیم کلاچوی خادم الافتاء حقانیه

الجواب: صحیح مسطور فی مجموعة الفتاوی (۴) محمد فرید عفی عنه

---

۱) قال العلامة ابن نجيم: لان للاجل شبها بالمبيع الا تري انه يزاد في الثمن لاجل الاجل. (البحر الرئق ۶:۱۱۴ باب المرابحة والتولية)

وقال العلامة ابن عابدين: لان للاجل شبها بالمبيع الا تري انه يزاد في الثمن لاجله. (ردالمحتار ۴:۱۷۷ باب المرابحة والتولية)

۲) (سورة آل عمران آيت: ۱۴۰)

۳) وفي الهندية: اما تعريفه فمبادلة المال بالمال بالتراضي.

(فتاوي عالمگيرية ۳:۲ الباب الاول في تعريف البيع)

وقال العلامة ابن عابدين: بل التراضي شرط لثبوت حكمه شرعا وهو الملک.

(ردالمحتار ۴:۷ كتاب البيوع)

۴) قال العلامة اللكهنوي:

د اجل (نیتې) په وجه د ثمن زیاتوالې بېشکه صحیح دې ددې ثبوت د هدایه د کتاب المرابحه د عبارت نه ډیر ښه معلومیږی په هدایه کې دی ... [بقیه برصفحه آئنده...

خپل مال په گټه باندې خرڅول سود نه دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې اکثر دکانداران د کابل نه د تجارت مال راوړي او په زرو روپو کې شپیتۀ روپۍ منافع اخلی نو آیا دا سود دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: میاں محمد رحمن معلم دینیات هائی سکول سخاکوټ ملاکنډ ایجنسی...۹ اکتوبر ۱۹۷۲ء

الجواب: په ظاهره کښې پدې کې هیڅ سود نشته. بلکې خپل مال په گټه باندې خرڅوی او په دې کې هیڅ باک نشته (۱)، (۲) وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته]

الا تري انه يزاد في الثمن لاجل الاجل ،

آیا تا ته دا معلومه نه ده چه د مودې په وجه په ثمن کې زیاتوالې کیږی او همدغه شان عبارتونه په نورو ډیرو کتابونو کې هم موجود دی.

(مجموعة الفتاوي ۲:۱۲۴ كتاب البيع)

(۱) وفي الهندية: المرابحة بمثل الثمن الاول وزيادة ربح ... والكل جائز.

(فتاوي هندية ۳:۱۶۰ الباب الرابع عشر في المرابحة والتولية)

وقال العلامة الحصكفي: (المرابحة) شرعا (بيع ماملكه) من العروض (بما قام عليه وبفضل) مؤنة وان لم تكن من جنسه كأجر قصار ونحوه ثم باعه مرابحة علي تلك القيمة جاز.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۱۷۰،۱۷۱ باب المرابحة والتولية)

(۲) لان الفقهاء يطلقون العبارة ويقولون: البيع مبادلة المال بالمال بالتراضي.

(مفتي سيف الله حقاني)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

اووم جلد

باب الصرف والسلم

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

باب الصرف والسلم

عن ابی سعید الخدری رضی اللہ عنہ قال:
لا تبیعوا الذهب بالذهب الا مثلاً بمثلا.
(الحدیث)

وقال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم
من اسلف فی شئ فلیسلف فی کیل معلوم
ووزن معلوم الی اجل معلوم
(الحدیث)

....

باب الصرف والسلم

د سلم شرطونه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بيع سلم شرطونه څه دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: شيخ محمد مير سوات......۸ دسمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: د سلم شرطونه دا دی : بيان جنس، نوع، صفت، قدر، اجل، راس المال، مکان ايفاء، قبض راس المال الخ......(۱) **وهوالموفق**

قرض ورکولو سره د فصل په موسم کې په کم نرخ باندې غنم اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د موجوده غنمو قيمت فی من څلويښت روپئ دي نو يو سړی بل ته دوه سوه روپئ ورکړې او وبې ويل چې د راتلونکې ګرمئ په موسم کې به ماته يو مَن په شل روپئ قيمت باندې ددې دوه سوه روپو غنم راکوې، آيادا طريقه جائزده؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: لعل محمد......۲۳ جون ۱۹۷۶ء

---

۱) قال العلامة المرغيناني : ولا يصح السلم عند ابي حنيفة رحمه الله الا بسبع شرائط جنس معلوم... ونوع معلوم... وصفة معلومة... ومقدار معلوم... واجل معلوم... ومعرفة مقدار رأس المال... وتسمية المكان الذي يوفيه فيه اذا كان له حمل ومؤنة... ولا يصح السلم حتي يقبض رأس المال قبل ان يفارقه فيه. (هداية ۳:۹۵،۹۶ باب السلم)

وفي الخلاصة : وفي شرح الشافي السلم عقد جائز بشرائط منها بيان الجنس وبيان النوع وبيان الصفة وبيان القدر واعلام رأس المال وتسليمه قبل الافتراق بالابدان. (خلاصة الفتاوي مختصراً ۳:۲ كتاب البيوع ، الفصل الاول في السلم)

الجواب: که د سلم شرطونه موجود وی مثلاً د غنمو قسم او د حواله کولو ځای او تاریخ ئې معین کړې وی نو دا معامله جائز ده کنه نو ناجائز ده.
وصرح به فی جمیع کتب الفقه.(۱) فلاحاجة الی نقل العبارات. وهوالموفق

وکیل یا شریک باندې حواله ورکولو سره
د پاکستانی نوټ د افغانی کرنسئ سره بدلول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د صراف سره کاروبار دې، زه د صراف سره لس زره روپئ (کالدارې) جمع کوم، کله چې کابل ته ځم نو د صراف نه افغانئ پیسې اخلم، سل روپئ افغانئ په لسو روپو (کالدارو) باندې کیږی نو لس زره روپئ (کالدارې) یو لاک روپئ وی، مونږ ته صراف درې لاکه روپئ راکوی نو تاسو ته معلومه شوه چې صراف مونږ ته درې زره روپئ قرض راکړې خو د بازار نرخ نقدې سل روپئ افغانئ لس روپئ پاکستانئ دی یعنی د قرض د وجې نه ئې لس روپئ او یو انه یا دوه انو باندې راکړې، اوس مهربانی وکړئ او فتوی راکړئ چې دا سود دې یا نه؟ ځکه چې جنس جدا دې اوپه دې هم خبرشئ چې مونږه افغانی روپئ نه شو وړلې او صراف حواله راکوی یعنی وړه شان پرچه ولیکی چې فلانی سړی ته دومره رقم ورکړه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی فضل رحیم باره ... ۳ مئی ۱۹۷۵ء

---

۱) قال العلامة المرغيناني: ولا يصح السلم عند ابي حنيفة رحمه الله تعالي الا بسبع شرائط جنس معلوم ...ونوع معلوم ...وصفة معلومة ... ومقدارمعلوم ... واجل معلوم ... ومعرفة مقدار رأس المال... تسمية المكان الذي يوفيه فيه اذا كان له حمل ومؤنة ... ولا يصح السلم حتي يقبض رأس المال قبل ان يفارقه فيه. (هداية ۳:۹۵،۹٦ باب السلم)

وفي الخلاصة: وفي شرح الشافي السلم عقد جائز بشرائط منها بيان الجنس وبيان النوع وبيان الصفة وبيان القدر واعلام رأس المال وتسليمه قبل الافتراق بالابدان. (خلاصة الفتاوي مختصراً ۳:۲ كتاب البيوع، الفصل الاول في السلم)

الجواب: واضحه دې وی چې دا معامله سفتجه نه ده، **لعدم الاقراض والاستقراض وخوف الطريق،** بلکې دا اول ذکر شوې سرې خپل وکيل يا شريک ته د کابلی نوټ د ورکولو متعلق امر يا اجازت کوی نو دا معامله به عرفا بيع صرف وی.(١) پس که د بدلون فيصله د اول ذکر شوې سرې سره شوې وی نو د بيع الکالی بالکالی په وجه به ناجائز وی (٢) اوکه د بدلون فيصله د شريك او وکيل سره کيږی نود کومو علماء کرامو په نزد چې نوټ په ثمن عرفی کې داخل دې نو د اجل د جهالة د وجې نه به فاسد وی (٣) او کوم علماء کرام چې نوټ ته سند حواله وائی د هغوی په نزد به مطلقا ناجائز وی.(٤) **وخيرالاموراوساطها...وهوالموفق**

دمختلفو ملکونو د نوټونو تبادله اوبيع کې په قرض باندې څه باک نشته

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په بيرونی ملکونو کې زيد مثلا عمر ته لس زره رياله ورکړه خو زيد د هغې په بدل کې ديرش زره روپۍ ورکوی او عمر هغه ته په پاکستان کې د پيسو د ادا کولو

---

١) قال العلامة المرغيناني: الصرف هو البيع اذا كان كل واحد من عوضيه من جنس الاثمان. (الهداية ٣:١٠٤ كتاب الصرف)

٢) في المشكوة: عن ابن عمر ان النبي ﷺ نهي عن بيع الكالي بالكالي. (مشكواة المصابيح ٢٤٨ باب المنهي عنها من البيوع، الفصل الثاني)

٣) وقال العلامة المرغيناني: والبيع الي النيروز والمهرجان وصوم النصاري وفطر اليهود اذالم يعرف المتبايعان ذلک فاسد لجهالة الاجل وهي مفضية الي المنازعة في البيع. (الهداية ٣:٦١ كتاب البيوع، باب بيع الفاسد)

٤) في الهندية: وان وجد القدر والجنس حرم الفضل والنساء وان وجد احدهما وعدم الآخر حل الفضل وحرم النساء. (هندية ٣:١١٧ الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

دپاره یو پرچه ورکوی په کومې پرچې چې په پاکستان کې بنودلو باندې رقم وصولیږی. آیا دا پرچه د اصل روپۍ قائم مقام کیدې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم.....

الجواب: دا معامله حواله ده، یعنی د بدلون د وجې نه په عمر باندې دیرش زره روپۍ پاکستانی لازم شوې او هغه په حواله کې یو پاکستانی سړی ورکړو او په دې کې هیڅ باک نشته (۱) لکون النوت ثمناً عرفياً كالفلوس فلا يحرم النساء فيه (۲) وهوالموفق

د بیع سلم نه علاوه په بله بیع کې د مبیع موجل کیدل جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو غریب او ضرورت مند زمیندار د یو سړی نه پیسې اخلي او د هغې په بدل کې د فصل تیاریدلو نه مخکې دا سودا مقرر کوی چې ګړه به مثلاً په اویا روپۍ من اخلم، کله چې فصل تیار شی هغه وخت د ګړې نرخ یو سل لس یا یو سل پنځوس روپۍ من وی او هغه سړې ګړه ورکوی او خپله قرضه پوره کوی، آیا دا جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی عبدالرحمن پهتان پهار پور دی آئی خان... ۸ مئی ۱۹۸٤ء

---

(۱) وفي حاشية شرح الوقاية: واما النوت هو القرطاس الرائجة تحكما فيها مكتوب ثمنه اي عشرة اوعشرون او الف فهومهلک في الروبية علي الصحيح لا نسبة له بالذهب فلا يجوز بيعه بالروبية الا متساويا بما كتب فيه لكن التقابض لا يشترط والتقابض مختصة بالذهب والفضة وهو ليس من هذا. (تكملة عمدة الرعاية علي شرح الوقاية ۸۷: ۳ كتاب الصرف)

وفي الهندية: وان عدما حل الفضل والنساء كذا في الكافي.

(فتاوي هندية ۱۱۷: ۳ الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

(۲) د یو ملک په کرنسۍ (روپو) کې په خپل مینځ کې بیعه کې صرف تفاضل جائز دی او د مختلفو کرنسو (نوټونو) په مینځ کښې د بیعې په صورت کې فضل او نساء (زیاتوالي او قرض) دواړه قابل د اعتراض نه دی. البته په دواړو صورتونو کې د بیع د صحت دپاره په مجلس د بیع کې د احد البدلین قبضه ضروری ده. (مفتی سیف الله حقانی)

الجواب: وعده بهر حال جائز ده او سوا د بیع سلم نه د مبیع موجل کیدل ناجائز دی. فلیراجع الی شرح المجلة۹۸،المادة۲۰۵(۱). (۲) وهوالموفق

مسلم فیه چې منقطع شی نه پیدا کیږی نو

رب المال ته به د فسخ او انتظار اختیار حاصل وی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید او عمرو عقد سلم وکړو وروستو مسلم الیه په مسلم فیه باندې قدرت بیا نه موندلو نو دا عقد به څنګه وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: یکم جمادی الثانی۱۴۰۱ھ

الجواب: که مسلم فیه منقطع او ورک شی نو رب المال ته اختیار دې چې انتظار وکړی یا عقد فسخ کړی، کما فی شرح التنویر،ولوانقطع بعد الاستحقاق خیر رب السلم بین انتظار وجوده والفسخ واخذ راس ماله (هامش رد المحتار ۲۰۵/۴) (۳) وهوالموفق

---

۱) في شرح المجلة: ومن بیع المعدوم علي ما في الدرالمختار بیع ما سیملکه قبل ملکه له الا بطریق السلم. (شرح المجلة ۲:۹۲، المادة: ۲۰۵ بیع المعدوم باطل)

وقال العلامة ابن نجیم: فلم ینعقد بیع مالیس بمملوک له وان ملکه بعده الا السلم. (البحر الرائق ۵:۲۶۰ کتاب البیع)

۲) د سوال مطابق په دې صورت کې د ربوا شبه موجوده ده لهذا ددې اجازت نه شی ورکولې (مفتی سیف الله حقانی)

۳) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۲۲۸ باب السلم)

وفي الهندیة: واذا لم یقبض حتي فات المسلم فیه وصار مثله غیر موجود لا یبطل السلم عند علمائنا الثلاثة ولکن رب السلم بالخیار ان شاء انتظر الي وقت وجود مثله فیاخذ منه وان شاء لم ینتظر ولم یصبر الي ذلک الوقت واخذ رأس ماله.

(فتاوي عالمگیریة ۳:۱۸۱،۱۸۲ الفصل الثاني في بیان ما یجوز السلم فیه ومالایجوز)

بيع سلم د فقير او مالدار دواړو دپاره جائز ده

سوال: چه مي فرمائيد علماء دين درين مسئله كه آن غني كه حاجت ندارد به بيع سلم، پس اين غني بيع سلم مطابق شروط مذكوره في الفقه كند پس اين بيع سلم براۍ اين غني رواست وجائز است يا ناجائز؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمد حسن

الجواب: بيع سلم د اغنياء او فقيرانو دواړو دپاره جائز ده.(1) څكه چې څنګه سفر قائم مقام د مشقت دې هم دغه شان نيته قائم مقام د احتياج او افلاس دې، نو څنګه چې هغه مسافر، چې په هغه باندې په سفر كې مشقت نه وي، قصر كولې شي، هم دغه شان هغه غنى كوم چې نيته وكړي، سلم هم كولې شي.

يدل عليه ما في تكملة فتح القدير ۵:۳۳ ولما كان جوازه للحاجة وهي باطنة انيط بأمر ظاهر كما هو المستمر في القواعد الشرع كالسفر للمشقة ونحوه وهو ذكر الاجل فلم يلتفت بعد ذلك الى كون المبيع معدوما من عند المسلم اليه حقيقة او موجودا قادرا هو عليه فقول المصنف ولو كان قادرا على السلم لم يوجد المرخص معناه لو لم يذكر الاجل، والله تعالى اعلم(2). وهو الموفق

---

(1) قال العلامة العيني: وانعقد الاجماع علي جوازه باعتبار الحاجة والضرورة فانه يحتاج اليه الفقير والغني لان الفقير ربما لا يكون عنده عين مال يبيعها وينفق علي نفسه فيحتاج الي اخذ السلم والغني يحتاج الي ان ينفق علي نفسه وعياله فيحتاج الي استرباح.

(البناية علي هداية ۱۱ باب السلم)

(2) (فتح القدير ۶:۲۱۸ باب السلم)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

اووم جلد

کتاب الربوا

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

کتاب الربوا

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ط

(سورۃ البقرۃ)

....

كتاب الرّبا ومسائل البنك

سود گناه نه گڼل او د سود خور د جنازې مونځ او د نکاح وغيره حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې يو مسلمان په سود روپۍ ورکوی د هغې گټه گناه نه گڼی، او د هغې گټه خرچ کول ثواب او خير گڼی بلکې د خپل ځان دپاره ئې د معاش ذريعه گرزولو سره په هغې باندې فخر کوی، ددې سړی حکم به څه وی؟ د نکاح وغيره په باره کې ئې څه حکم دې؟ دې سړی ته که په دې حالاتو کې بغير د توبې نه مرگ راغلو نو د هغه د جنازې څه حکم دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: مولوی کريم الله مقام نارنجی صوابی مردان

الجواب: که مستحل نه وی نو فاسق دې او که مستحل وی نو کافر دې او نکاح ئې فاسده شوې ده، فی شرح العقائد: **واستحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة كفر اذا ثبت كونها معصية بدليل قطعی الخ١٢٠** (١) **وبمعناه فی** رد المحتار (٢) او د داسې خلقو سره ترک موالاة ضروری دې. **وهوالموفق**

بغير د ضرورت نه په بينک کې د پيسو جمع کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په دې زمانه کې زما صرف په بينک باندې اعتماد دې په دې وجه باندې مې بعضې رقم په

---

١) (شرح العقائد ١٢٠)

٢) قال العلامة ابن عابدين: اذا اعتقد الحرام حلالا فان كان حرمته لعينه وقد ثبت بدليل قطعي يكفر والا فلا بان تكون حرمته لغيره او ثبت بدليل ظني وبعضهم لم يفرق بين الحرام لعينه ولغيره وقال من استحل حراما قد علم في دين النبي ﷺ تحريمه كنكاح المحارم فكافر. (ردالمحتار ٢:٢٩٠ مطلب استحلال المعصية القطعية كفر)

بینک کې ایښې دې چې د ضرورت په وخت ئې په آسانئ سره استعمال کې راولم:

الف: اوس زما د پاره په بینک کې رقم کیښودل کوم حده پورې جائز دی؟

ب: په دې باندې منافع (سود) راځی د هغې اخستل جائز دی یا نه؟ که بینک والو ته ئې پرېږدم نو غوره ده یعنی بغیر د سود نه به زما رقم په بینک کې وی او صرف د اصلی رقم حساب کتاب وکړم. **بینوا توجروا**.

المستفتی: شمس الرحمن مقام دهو بیان یار حسین .... ۱۷ ستمبر ۱۹۹۶ء

الجواب: بغیر د ضرورت نه په بینک کې پیسې جمع کول د تعاون علی المعصیت د وجې نه حرام دی (۱) او د جمع کولو د جرم کولو نه پس د هغه سړی د پاره سودی رقم اخستل او په مساکینو باندې بغیر د ثواب د نیت نه تقسیمول د اهون البلیتین کیدو د وجې نه غوره دی په نسبت د نه اخستلو (۲) وهوالموفق

د قرض او د بینک په منافع کې فرق نشته

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې (۱) زما یو دوست د سود تعریف دا کوي چې که یو غریب سړې د یو مالدار نه څه پیسې

---

۱) قال الله تبارک وتعالي: ولا تعاونو علي الاثم والعدوان.
(سورة المائدة، آیت: ۲)

وقال العلامة القاري: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح ۲:۵۹ باب الربا)

۲) قال العلامة الحصكفي: والضابط من ابتلي ببليتين فان تساويا خير وان اختلفا اختار الاخف. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱:۳۰۳-۳۰۲،۳۰۴ قبيل بحث النية)

وفي شرح المجلة: يختار اهون الشرين.
(شرح المجلة ۱:۷۰، المادة:۲۹)

قرض واخلي او هغه امير سړي ئې په دې شرط باندې ورکوي چې زه به دومره رقم (چه څنګه هغه مقرر کړي) د دې رقم نه علاوه اخلم، نو دې ته سود وائي. مطلب دا دې چې مالدار سړی د غريب د مجبورئ نه ناجائزه فائده اوچته کړې ده.(۲) کوم رقم چې مونږ خلق په بينک وغيره کې جمع کوو او بينک مونږ ته منافع يا سود يعنی د هغې نه زياتی رقم (مقرر شده) راکوي چونکې بينک خپله مالداره وي او په خپله خوشحالئ سره منافع يعنی سود ورکوي او هغه غريب نه وي بلکې زمونږ په پيسو باندې ګټه کولو سره مونږ ته راکوي، هغه د سود په الفاظو کې نه راځي بلکې هغې ته منافع وائي حال دا چې زما رائې دا ده چې هغه هم سود دې ځکه چې مقرر شوې دې، زر جواب راکولو سره مو مستفيد کړئ. بينوا توجروا

المستفتي: محمد سليم اعوان نوبهار.... ۱۳ اکتوبر ۱۹۷۸ء

الجواب: دا دواړه صورتونه يعنی د قرض د وجې نه زيادت اخستل او د بينک منافع په سود کې داخل دی، للاصل المشهور: **کل قرض جرنفعا فهو ربا** ... (۱) وروي مرفوعا ايضا (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين : (كل قرض جر نفعا حرام) اي اذا كان مشروطا .
(ردالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

۲) عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا، رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط وله شاهد ضعيف عن فضالة بن عبيد عند البيهقي وآخر موقوف عن عبد الله بن سلام عند البخاري.
(بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم حديث : ۸۱۲)

وفي المنهاج : والآن في بيوت الربا البنک، شاع الربا الحكمي وهو الانتفاع بالقرض . قال النبي ﷺ كل قرض جر نفعا فهو ربا اخرجه الحارث بن ابي اسامة عن علي امير المؤمنين وله شواهد كثيرة روي ابن ماجة عن انس مرفوعا بمعناه وروي عن ابي بن كعب وابن عباس وابن مسعود وفضالة بن عبيد وغيرهم موقوفا.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۲۴ باب ماجاء في الصرف)

د انسانانو، د کورونو، دکانونو، ګاډو او د ګودامونو د بیمه کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په پاکستان کې مروجه بیمه کمپنۍ چې انسانان، ګاډی، کورونه او ګودامونه بیمه کوی نو آیا دا جائز دی یا ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل الله اخیل

الجواب: بیمه کول په ګناه باندې کومك او د ملکیت په شرط باندې د معلق کولو د وجې نه حرام دی، قال الله تبارك تعالى: ولا تعاونوا على الاثم والعدوان.....(۱) والتعليق المذكور هو الميسر فافهم. (۲) وهو الموفق

د ژوند د بیمه کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په حکومتی سطح باندې د ژوند بیمه کول کوم چې د استیټ لائف په نوم باندې نامدار دې یعنی استیټ لائف انشورنس کارپوریشن آف پاکستان، چې حکومت یا فرد واحد یا یوې ادارې ته کوم چې د حکومت وی یا نه وی او یا نیم حکومتی کیدو سره د افرادو نه څه پیسې سالانه، شپږ میاشتې پس، درې میاشتې پس یا د میاشتې په قسطونو کې یا د افرادو د ضروریاتو د وجې نه وصولوی، ترڅو پورې چې، دا فرد یا افراد ژوندی وی نو باقاعدګۍ سره د

---

(۱) (سورة المائدة، آیت: ۲)

(۲) وفي حاشية شرح الوقاية :فبطل الكفالة التي اخترعها اليور بين ويسمونها (بيمه) تفسيرها يأخذون المال من رجل قدرا معينا ويشرطون عليه ان مالك او نفسك او دارك اومر كبك البحري ان هلك في حادثة كذا وكذا فانا ضامن باداء القيمة ان كان مالا وباداء قدر معين ان كان نفسا ومثل ذلك من الشروط الواهية والامان بما لا يد عليها لهم فهو باطل وما حصل منه اولا وآخرا فهو باطل لا صحة لها.

(تكملة عمدة الرعاية علي شرح الوقاية ۹۸:۳ كتاب الكفالة)

قسطونو په صورت کې هغه پیسې جمع کوی خو که الله پاک مه کړه هغه فرد یا افرادو کې څوک بیمې والا طبعی یا حادثاتی مرګ باندې مړ شی نو د بیمې هغه پیسې د هغه وارث یا د هغه وارثانو ته چې د هغې تعین دبیمې ژوند د بیمې په کاغذونو کې کوم چې د دې بیمه دار یا د دې بیمه دارانو د طرف نه مقرر کړې شوې وی، ادا کولې شی، دا قسطونه د یوې خاص مودې دپاره وی که ژوند په بیمه کې شامل فرد یا افراد ژوندی پاتې شی، نو هغه ته یا هغوی ته هغه پیسې، چې د کوم دپاره بیمه کړې شوې وی د دې مودې په اختتام باندې ملاویږی او که د اختتام نه مخکې په مقرر موده کې هغه بیمه دار وفات شی نو وارثانو ته ملاویږی دا کتاب هم ددې په باره کې درلیږم مهربانی وکړئ شرعی حکم بیان کړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خلیل الرحمن انور صوابی.... ۲ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: بیمه حرام ده.(۱) دا سود خورو خلقو د انسانی خیرخواهئ په صورت کې د مال د حاصلولو نوې دام ایښې دې، دا خلق د خپل جیب نه هیڅ

---

۱) وفي حاشية شرح الوقاية: فبطل الكفالة التي اخترعها اليور بين ويسمونها (بيمه) تفسيرها ياخذون المال من رجل قدرا معينا ويشترطون عليه ان مالک او نفسک او دارک او مركبک البحري ان هلک في حادثة كذا وكذا فانا ضامن باداء القيمة ان كان مالا وباداء قدر معين ان كان نفسا ومثل ذلک من الشروط الواهية والامان بما لا يد عليها لهم فهو باطل وما حصل منه اولا وآخر فهو باطل لا صحة لها.

(تكملة عمدة الرعاية علي شرح الوقاية ۹۸:۳ حاشيه نمبر ۱، كتاب الكفالة)

وقال الدكتوروهبة الزحيلي: اما التامين التجاري او التامين ذوالقسط الثابت فهو غير جائز شرعا وهو رأي اكثر فقهاء العصر وهو ما قرر المؤتمر العالمي الاولي للاقتصاد الاسلامي في مكة المكرمة عام (۱۳۹۶ه/۱۹۷۶ء) وسبب عدم الجواز يكاد ينحصر في امرين هما الغرر والربا... الي ان قال بعد الورقتين والخلاصة يشتمل التامين ذي القسط الثابت علي خمسة اسباب تجعله حراما: الربا، الغرر، الغبن، القمار، الجهالة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۳۴۲۸، ۳۴۲۳:۵ موقف الفقه الاسلامي من التامين)

هم ورکول نه غواړی بلکې د بیمه دارو په مالونو باندې سودی معاملات کولوسره کمپنی هم چلوی اوبیمه داران هم باقاعده خوشحاله ساتی. وهوالموفق

سودی رقم د سودی قرضې په بدل کې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: آیا د سود پیسې د بینک نه واخستلې شی او که په بینک کې پرېښودلې شی؟ که واخستلې شی نو په کوم ځای کې خرڅ کړې شی؟

۲: که د یو بینک نه پیسې په سود باندې اخستلې شوې وی او په بل بینک کې د دې مقروض رقم ډیپازټ (بندې) وی نو آیا د مقروض سودی رقم، د دې رقم د سود کوم چې په بل بینک کې ډیپازټ (بندې) دې کې مجره (حساب) کیدې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: الحاج محمد عمر ..... ۵ مئی ۱۹۷٦م

الجواب: واضحه دې وی چې بغیر د ضرورت شرعی نه په بینک کې پیسې جمع کول د ګناه په کار باندې د مدد د وجې نه حرام دی. (۱) خو د جمع کولو (که د ضرورت د وجې نه وی او که بغیر د ضرورت نه وی) دې سودی رقم لره اخستل او په مسکینانو او طالبانو باندې بغیر د قصد د ثواب نه خرچ کول ښه او اهون دی په نسبت د نه اخستلو. (۲) بله دا چې د سودی پیسو د وصولولو نه مخکښې د سودی قرضې په سود کې مجره (حساب) کول د تولو نه غوره دی. وهوالموفق

---

(۱) قال الله تعالي: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان. (سورة المائدة آيت: ۲)

وقال العلامة القاري: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكواة المصابيح ٦:٥٩ باب الربا)

(۲) وقال العلامة الحصكفي: والضابط ان من ابتلي ببليتين فان تساويا خير وان اختلفا اختار الاخف. (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۱:۳۰۳،۳۰۴ قبيل بحث النية)

وفي شرح المجلة: يختار اهون الشرين. (شرح المجلة ۱:۷۰، المادة: ۲۹)

د بینک د موجوده نظام شراکت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بغیر د سود نه د بینکارئ نفع اخستل حلال دی او که حرام؟ ځکه چې د فرورئ نه مې اووه زره روپئ بغیر د سود په بینکارئ کې دی او اوس زه په پریشانئ کښې یم چې د بینک نه کومه نفع حاصل شوې ده هغه واخلم او که نه؟ د پیسو تقریبا یو نیم کال کیدو والا دې. **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی سید زمان شمالی وزیرستان..... یکم جمادی الاول ۱۴۰٤ھ

الجواب: دا موجوده نظام شرکت په ظاهر کې قابل اعتراض نه دې د دې نه حاصله شوې گټه حلاله ده.(۱)، (۲) **وهوالموفق**

د زرگر د ایرې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زرگر په دکان کې یوه کنده ده مونږ په هغې کې دننه ماښام دکان صفا کولو سره گندگی وغیره اچوو درې څلور میاشتې پس یو ماهر راځی هغه د دې کندې نه یو موتې اوچتولو سره بیع کوی چې مثلا کنده په پنځه زره روپئ باندې، نو بیا مونږ د طاقت مطابق څه سرۀ زر هم ورکوو. بیا هغه دې لره صفا کوی او رقم ادا کوی، کله هغه ته نفع ملاویږی او کله نقصان. مهربانی وکړئ د دې سوال جواب مونږ ته ولیکئ. **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم......... ۷ فروری ۱۹۸۸ء

---

۱) قال العلامة المرغيناني: الشركة جائزة لانه ﷺ بعث والناس يتعاملون بها فقر رهم عليه. (هداية ۲:٦۲٤ كتاب الشركة)

۲) د بینك ذمه دارانو ته بار بار د مراجعت نه ماته دا معلومه شوې ده چې د بینك د شرکت معامله د سودی معاملې په شان ده، لهذا ددې د منافعو نه خپل ځان بچ کول پکاردی. (مفتی سیف الله حقانی)

الجواب: کله چې دا قیمت سرۀ زر نه وی، روپۍ وی نو بیا ناجائز نه دی (بلکې جواز لري). (۱) وهوالموفق

ایجنټ ته پیشګی رقم ورکول او په وخت د ضرورت کې بینک کې اکاؤنټ پرانستل

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ایجنټ ته پیشګی پیسې ورکول دغه شان په بینک کې اکاؤنټ خلاصول څنګه دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: مفتي مختار الدين كربوغه شريف ...۳۰ جمادي الثاني ۱۳۹۰ھ

الجواب: ایجنټ ته ټول یا بعض رقم په طور د پیشګی ورکول یا د ضرورت د وجې نه په بینک کې اکاؤنټ خلاصولو کې رخصت دې، ممنوع نه دی. (۲)، (۳) وهوالموفق

---

(۱) وفي الهندية: لو اشتري تراب ذهب بذهب او تراب فضة بفضة لا يجوز الا اذا علم ان ما فيه مثل ما يعطي ... ولو اشتراه بثوب او بعرض من العروض فالشراء جائز ولا يراعي فيه شرائط الصرف. (فتاوي عالمگيرية ۲۲۷،۲۲۶:۳، الفصل الرابع في الصرف المعادن وتراب الصواغين)

(۲) قال العلامة ابن عابدين: ولو اعطاه الدراهم وجعل ياخذ منه كل يوم خمسة امناء ولم يقل في الابتداء اشتريت منك يجوز وهذا حلال وان كان نيته وقت الدفع الشراء لانه بمجرد النية لا ينعقد البيع وانما ينعقد البيع الآن بالتعاطي والآن المبيع معلوم فينعقد البيع صحيحا. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱۴:۴ قبيل مطلب في بيع الاستجرار)

قال العلامة ابن نجيم: الضرورات تبيح المحظورات.

(شرح الاشباه والنظائر ۲۷۵:۱ القاعدة الخامسة الضرر يزال)

وقال العلامة الجصاص: (حرمت عليكم الميتة) الي آخر ما ذكرتم ثم خص من ذلك حال الضرورة وابان انها غير داخلة في التحريم وذلك عام في الصيد في حال الاحرام وفي جميع المحرمات.

(احكام القرآن للجصاص ۳۱۲:۱ قبيل مطلب اسم الطيبات يطلق علي الحلال وعلي المستلذ)

(۳) خود پیشګۍ په وجه د قیمت د کمولو ګنجائش نشته (امداد) او منافع په خپله د استعمالولو هم ګنجائش نشته (مفتي سيف الله حقاني)

د بینک د جوړولو دپاره ځمکه ورکول او د هغې کرایه وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په دې ملک کې د بینک دپاره ځمکه ورکول او د حکومت نه د هغې کرایه وصولول څنګه دی؟ په شریعت کې د دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ پادشاه ګل........۸ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې د بینک کرایه خالص د سودی پیسو نه ورکولې شی لهذا د هغې اخستل او ورکول به حرام وی. لان حکم الربوا هم الفسخ او التصدق بلاقصد الثواب.(۱) او که بالفرض د نور مال نه دا کرایه ورکړې شی نو بیا هم حرامه ده.

لانه نظیر عصر العنب علی قصد الخمریة وهو غیر جائز کما فی ردالمحتار ۳۴۵:۵(۲) فکذلک بناء البیت علی قصد الربوا وایضاً هذا الایجاد فی البلاد التی ظهر فیها شعائر الاسلام فیکون حراما کما یدل علیه ما فی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳۴۶:۵ فلیراجع(۳). وهو الموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: لان سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علي صاحبه. (ردالمحتار ۲۷۳:۵ فصل في البیع، کتاب الحظر والاباحة)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله لا عصرها لقیام المعصیة بعینه)... ولعل المراد هنا عصر العنب علي قصد الخمریة فان عین الفعل معصیة بهذا القصد.
(ردالمحتار ۲۷۷:۴ فصل في البیع، کتاب الحظر والاباحة)

۳) قال العلامة الحصکفي: (و) جاز (اجارة بیت بسواد الکوفة) اي قراها (لابغیرها علي الاصح) واما الامصار وقري غیر الکوفة فلا یمکنون لظهور شعار الاسلام فیها.
(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۲۷۷،۲۷۸:۵ فصل في البیع، کتاب الحظر والاباحة)

بغیر د ضرورت نه په سودی معاملاتو کې پریوتل حرام دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سوداګر د میل (کارخانې) نه مال اخستل غواړی خو میل (کارخانې) والا هغه ته وائی چې مونږ به په تا باندې هغه وخت اعتماد کوو (یعنی قرض مال به درکوو) کله چې تاسو د یو بینک ضمانت (ګارنټی) مونږ ته راکړئ، سوداګر کله چې د بینک سره رابطه وکړه نو د بینک والو جواب ورکړو چې د څومره روپو د ضمانت تاسو ته ضرورت وی نو په هغې کې ۱/۴ حصه نقدی مونږ سره جمع کړئ، د باقی دپاره د خپل جائیداد سرټیفیکیټ جوړولو سره مونږ ته حواله کړه چې د دیوالیه یا د نقصان په صورت کې مونږ ستاسو د جائیداد نه د خپل ضمانت پیسې وصول کړې نو د دې نه پس به مونږ ستاسو دپاره د ملز ضمانت (ګارنټی) درکوو او د دې ضمانت (ګارنټی) د مالیت په تناسب سره هر کال ستاسو نه د ضمانت په عوض کې کمیشن هم اخلو داسې ضمانت ورکولو سره د ملز نه مال اخستل او خرڅول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم.... ۶ جون ۱۹۷۶ء

الجواب: بغیر د ضرورت شرعی نه په سودی معاملاتو کې پریوتل حرام دی، د داسې معاملاتو نه ځان ساتل ضروری دی. (۱) حلال کول پکار دی اګر که لږ وی. (۲) **وهوالموفق**

---

(۱) وفي المرقاة: (عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آكل الربا ومؤكله)... قال الخطابي: سوّي رسول الله ﷺ بين آكل الربا ومؤكله اذ كل لا يتوصل الي اكله الا بمعاونته ومشاركته فهما شريكان في الاثم... والضرورة لا تلحقه بوجه في ان يؤكله الربا لانه قد يجد السبيل الي ان يتوصل الي حاجته بوجه من وجوه المعاملة والمبايعة ونحوها... (وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء).

(مرقاة المفاتيح شرح مشكواة المصابيح ۶:۵۹ باب الربا)

(۲) عن ابي هريرة رضي الله تعالي عنه قال: قال رسول الله ﷺ... [بقيه بر صفحه آئنده...

په جي پي فنډ باندې اضافه سود نه دې

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې جي پي فنډ کوم چې ګورنمنټ (حکومت) لازما کټ کوی په هغې باندې چې کوم سودي (منافع) راځی د هغې اخستل او په خپل ذاتی کاروبار کې استعمالول څنګه دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: شمس الرحمن مقام دهو بیان یار حسین .... ۲۹ شعبان ۱۴۰۶ھ

الجواب: چونکې جي پي فنډ د قبض کولو نه مخکې کټ کولې شی لهذا په دې باندې په سود د بینک والو طرف ته منسوب وی نه د ملازم طرف ته (۱) لهذا د ملازم دپاره به دا منافع ورکړه شمارلې کیږی، د دې اخستل او ذاتی کاروبار کې استعمالول جائز دی. (۲) **وهوالموفق**

په بینکونو کې د موجوده نفع او نقصان کهاته مضاربت نه دې

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا په بینکونو کې د شراکت په نوم باندې چې کومې کهاتې لیکلې شوې دی هغې ته د مضاربت نوم ورکولې شی او خلق په دې نوم باندې پیسې جمع کوی نو آیا د مضاربت دا صورت جائز دی یا ناجائز؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: عمر علی تحصیل صوابی ضلع مردان...... ۲۴ محرم ۱۴۰۳ء

...بقیه ازحاشیه گذشته] ان الله طیب لا یقبل الا طیبا وان الله امرالمؤمنین بما امر به المرسلین فقال یأ یها الرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحا، وقال تعالي : یأ یها الذین امنوا کلوا من طیبات ما رزقنکم. (مشکوة المصابیح ۲۴۱:۱ باب الکسب وطلب الحلال)

۱ ﴾ قال العلامة الحصکفي : هو شرعا (فضل خال عن عوض بمعیار شرعي) وهو الکیل والوزن (مشروط) ذلک الفضل (لا حد المتعاقدین) اي بائع او مشتر (في المعاوضة). (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴: ۱۹۷،۱۹۶ باب الربا)

۲ ﴾ قال الشیخ المفتي محمد شفیع : په زبردستئ سره په پرائیویډنټ فنډ باندې چې کوم د سود په نوم سره رقم ملاویږی هغه شرعاً سود نه دې بلکه د اجرت (تنخواه) یوه برخه ده. (پرا یویډنټ فنډ باندې د زکواة اود سود مسئله ۴)

الجواب: که په دې معامله کې د شرکت شرطونه موجود وی نو دا معامله جائز ده.(۱) او د مضاربت شرطونه په دې معامله کې موجود نه دی په دې وجه دا معامله مضاربت نه دې. وهوالموفق

سودی پیسې اخستل په نسبت د نه اخستلو غوره دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په بینک کې پیسې جمع کړی دی او که دا سړې سود نه اخلی نو بینک والا به سود اخلی او په خپل کار به ئې راولی او که رب المال دا سود واخلی او په غریبانانو ئې تقسیم کړی نو د دې حدیث ﴿لعن رسول الله ﷺ اکل الربا ومؤکله الخ﴾ کوم چې په مشکاة ص۲۴۳ باندې لیکلې دې، د لاندې راځی تاسو تفصیلی جواب راکړئ. بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: د دې سړی دپاره سودی رقم اخستل او په فقیرانو او طالبانو کې بغیر د قصد د ثواب نه تقسیمول په نسبت د نه اخستلو غوره دی، لاصل المشهور وهوان من ابتلی بین البلیتین فلیتخراهونهما.(۲)

---

۱ ﴾ قال العلامة المرغیناني : الشرکة جائزة لانه ﷺ بعث والناس یتعاملون بها فقررهم علیه... الضرب الثاني شرکة العقود ورکنها الایجاب والقبول وهو ان یقول احدهما شارکتک في کذا وکذا ویقول قبلت وشرطه ان یکون التصرف المعقود علیه عقد الشرکة قابلا للوکالة لیکون ما یستفاد بالتصرف مشترکا بینهما فیتحقق حکمه المطلوب منه.
(هدایة ۲:۶۲۴ کتاب الشرکة)

وفي الهندیة : وشرط جواز هذه الشرکات کون المعقود علیه عقد الشرکة قابلا للوکالة وان یکون الربح معلوم القدر... وان یکون الربح جزأ شائعا في الجملة لا معینا.
(فتاوی عالمگیریة ۲:۳۰۲ الباب الاول في بیان انواع الشرکة وارکانها وشرائطها)

۲ ﴾ وقال العلامة الحصکفي : والضابط ان من ابتلي ببلیتین فان تساویا خیر وان اختلفا اختار الاخف. (الدرالمختار ۱:۳۰۳،۳۰۴ قبیل بحث النیة)

وفي شرح المجلة ٢٢ م: ٢٩ يختار اهون الشرين (١) او د دې مسکين وغيره دپاره د دې اخستل بغير د کراهت نه جائز دی. لانه لما لم يمكن الايصال الى المالك ولم يجز الاكل لتقرير المعصية جاز التصدق للضرورة لان رسول الله ﷺ نهى عن اضاعة المال (٢) وفي شرح الاشباه والنظائر ١١٦ وينبغي ان يستثنى الاخذ بالربا للمحتاج فانه لا يحرم كما صرح به المصنف في البحر ويحرم على الدافع الاعطاء بالربا (٣). وهوالموفق

د زرعي بينکونو نه د قرضې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زرعي بينکونو نه د قرضې اخستلو په باره کې د شريعت څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد حسن........ ٤ اپريل ١٩٧٦ء

الجواب: سودي قرضه اخستل حرام دی که د هر چا نه وی. (٤) وهوالموفق

---

١) (شرح المجلة ١:٧٠، المادة: ٢٩)

٢) عن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه قال: قال النبي ﷺ ان الله حرم عليكم عقوق الامهات... وكره لكم قيل وقال وكثرة السوال واضاعة المال.

(الصحيح البخاري ١:٣٢٤ باب ماينهي عن اضاعة المال، كتاب في الاستقراض)

٣) شرح الاشباه والنظائر للحموي ١:٤٤٩ القاعدة الرابعة عشرة ماحرم اخذه حرم اعطاؤه)

٤) قال العلامة ابن عابدين: (قوله كل قرض جر نفعا حرام) اي اذا كان مشروطا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٤:١٩٤ مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

وفي المنهاج: والآن في بيوت الربا البنک، شاع الربا الحكمي وهو الانتفاع بالقرض، قال النبي ﷺ كل قرض جر نفعا فهو ربا اخرجه الحارث بن ابي اسامة عن علي امير المؤمنين وله شواهد كثيرة روي ابن ماجة عن انس مرفوعا بمعناه وروي عن ابي بن كعب وابن عباس وابن مسعود وفضالة بن عبيد وغيرهم موقوفا.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ٥:٢٤ باب ماجاء في الصرف)

د بینک د ملازمت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په بینک کې ملازمت کول څنګه دی؟ او دا معاونت په سود کې داخل دې یا نه دې؟ که داخل وی نو دا نوکری حرامه ده که حلاله؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ...... ۹ جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې په دې ملازمت کې اعانت علی المعصیت موجود دې. (۱) لهذا دا ملازمت حرام دې.

قال الله تعالی: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (۲)، وعن جابر رضی الله عنه قال لعن رسول الله ﷺ آكل الربا ومؤكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم (مشكوٰة ۲۴۳ باب الربوا) (۳)

خو د عوامو دپاره مناسب دی چې اول د جائز ملازمت کوشش وکړی او د دې نه پس دې د دې ناجائز ملازمت نه استعفا ورکړی. لئلا يقع في اشد حرمة. وهو الموفق

د ډاکخانې په ذریعه د سود حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حکومت پاکستان یو سکیم راویستلې وو چې یو سړې په ډاکخانه کې روپئ که هر څومره مقدار کې جمع کړی هغه نه به په ۷۲ء کې ډبل کولو سره ورکولې

---

۱) قال العلامة القاري: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ۶: ۵۹ باب الربا)

۲) (سورة المائدة آيت: ۶)

۳) (مشكوٰة المصابيح ۱: ۲۴۴ باب الربا)

شي، بیا مثلا زید هغه پیسې جمع کړې، اوس ۱۹۷۲ء راتلونکې دې نو دبل پیسې واخستلې شي یا نه؟که واخستلې شي نو هغه په خپل کارکې خرچ کول پکاردی یا نه؟ که نه شي خرچ کولې نو باید چېرته خرچ کړې شي؟ بینواتوجروا

المستفتي: غلام الله پنو عاقل ضلع سکهر .... ۲۲ ستمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: دا زیاتی رقم اخستل حرام دی.(۱) او سود خوری ده خو د دې اخستل او په فقیرانو او طالبانو باندې بغیر د ثواب د نیت نه تقسیمول اهون او افضل دی په نسبت د نه اخستلو. (۲) وهوالموفق

سودی پیسو سره څه وکړې شي؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که د یو کس پیسې په بینک کې جمع وی نو په دې باندې چې کوم سود حکومت ورکوی نو د هغه سړی دپاره څه حکم دې. آیا دا سود د بینک نه واخلی او په فلاحی کارونو کې ئې خرچ کولې شی او که د بینک والو سره ئې پرېږدی؟ ځکه چې بعض علماء کرام وائی چې هغه سود د بینک والا نه نۀ دی اخستل پکار او هم په بینک کې دې پرېږدی، او بعض علماء وائی چې د بینک نه اخستل ضروری دی خو د عام مسلمانانو په فوائدو کښې خرچ کول ضروری دی؟

بینواتوجروا

الجواب: واضحه دې وی چې دا سودی پیسې اخستل هم ګناه ده او اهل

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله كل قرض جر نفعا حرام) اي اذا كان مشروطا.
(ردالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

۲) قال العلامة الحصكفي: والضابط ان من ابتلي ببليتين فان تساويا خير وان اختلفا اختار الاخف. (الدرالمختار ۱:۳۰۳،۳۰۴ قبيل بحث النية

وفي شرح المجلة: يختار اهون الشرين.
(شرح المجلة ۱:۷۰، المادة: ۲۹)

بینک سره پرینښودل ئې هم ګناه ده.

اما الاول فظاهر لانه آكل الربا(۱) واما الثاني فلانه ايتاء المال لا على وجه التصدق وحكم المال الحرام التصدق اذا لم يعلم اربابه كما صرحوا به(۲)

نو د پرینښودلو په نسبت ئې اخستل او بغیر د ثواب د نیت نه په غریبانانو باندې خرچ کول اهون البلیتین دی.

لما قالوا من ابتلى بين البليتين فان تساويا خيروان اختلفا اختار الاخف. (شرح التنوير على هامش ردالمحتار ۱:۳۸۳)(۳). وهوالموفق

په سود کې هر قسم معاونت حرام دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: د بینک د ملازم تنخواه حرامه ده.

---

(۱) قال الله تعالیٰ: واحل الله البيع وحرم الربوا.
(سورة البقرة آیت: ۲۷۵)

وعن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ آكل الربا ومؤكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم.
(مشكوة المصابيح ۱:۲۴۴ باب الربا)

(۲) قال العلامة ابن عابدين: والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه وان كان مالا مختلطا مجتمعا من الحرام ولا يعلم اربابه ولا شيئا منه بعينه حل له حكما والاحسن ديانة التنزه عنه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۱۴۶ مطلب فيمن ورث مالا حراما)

(۳) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱:۳۰۳، ۳۰۴ قبيل بحث النية)

وفي شرح المجلة: يختار اهون الشرين.
(شرح المجلة ۱:۷۰، المادة: ۲۹)

۲: که تاسو د سود نه قلار نه شوئ نو د الله پاک او د رسول ﷺ جنګ ته تیار شئ. ۳: سود کونکي داسې دي لکه بدکار.
۴: سود کولو والا، لیکلو والا او شاهدی ورکونکي ټول په ګناه کې سره برابر دی، که واقعی د دې خبرو دائره اختیار یا دارو مدار د هغه په ملازم باندې دې یعنی هغه هم په دې لویه ګناه کې برابر شریکیدلې شی، چونکې په دې خبره باندې هر مسلمان پوهیږی چې سود حرام دې خو د بینک ملازم خپله سود نه خوری، خو دا خبره ده چې سود وغیره لیکل غواړی، که واقعی د هغه تنخواه په سود کې شاملیدو سره حرام وی نو ماته دې په تفصیل سره وویل شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: ولی عهد تحصیل بټګرام ضلع هزاره

الجواب: جناب عالی! په سود کې هر قسم معاونت حرام دې.(۱) لهذا تاسو د بل ملازمت دپاره کوشش وکړئ او کله چې بل ملازمت ملاؤ شی نو د دې نه استعفی ورکړئ. وهوالموفق

په امانت باندې د سود راتلو په صورت کې د مالک د طرف نه د هغې مطالبه کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زید پیسې د بکر سره وې، بکر هغه پیسې په بینک کې په سیونګ کهاته کې جمع کړې، چې په هغې باندې پنځه زره روپۍ سود راغلو، زید چې کله ملک ته واپس

---

(۱) قال الله تعالیٰ: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان.
(سورة المائدة آیت: ۲)
وقال العلامة القاري: (وکاتبه وشاهدیه) قال النووي فیه تصریح بتحریم کتابة المترابیین والشهادة علیهما وبتحریم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتیح شرح مشکوٰة المصابیح ۶: ۵۹ باب الربا)

راغلو نو بکر هغه ته اصل پیسې ورکړې او سود ئې خپل ځان سره وساتلو او سوچ ئې وکړو چې دا پیسې زما د وجې نه راغلې دی نو هغه ته ئې ولې ورکړم؟ او په غریبانانو ئې تقسم کړې، اوس زید د دې سودی پیسو مطالبه کولې شی یا نه؟

المستفتی : عزت خان تورسک کلې سوات.....۲۰ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: دا سودی رقم به بکر په مسکینانو باندې تقسیموی.(۱) زید ته سوا د خپل رقم نه په نور رقم باندې حق نشته. **والله اعلم بالصواب**

بینکونو سره د لین دین نه کولو په شرط باندې د نفع او نقصان د ادارو سره د کاروبار کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یوه اداره داسې کاروبار کوی چې په هغې کې د ګټې او تاوان دواړو احتمال دې نو په هغې کې پیسې جمع کولو سره د هغې ګټه اخستل جائز دی یا نه دی؟ او دا اداره د بینکونو سره هم لین دین کوی که د پیسو د جمع کولو په وخت هغه سړی د دې ادارې سره دا شرط کیږدی چې زما پیسې بینکونو سره په لین دین باندې مه استعمالوئ او یا دا چې کله ماته منافع راکوئ نو دهغه منافع نه ئې مه راکوئ کوم چې د بینک د لین دین نه حاصل شوې وی یعنی په کوم کې چې د سود شبهه وی نو بیا دا منافع اخستل جائز دی یا نه؟ مهربانی وکړئ د دې مسئلې په باره کې په تفصیل سره بیان وکړئ. **جزاك الله خیرا**

المستفتی: غلام قادر عفی عنه نرګس بنګله مردان......٦ رجب ۱۳۹۳ء

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین : والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین الحرام لا یحل له ویتصدق به بنیة صاحبه.
(ردالمحتار ۴:۱۴۶ مطلب فیمن ورث مالا حراما)

الجواب: غوره دا ده چې په داسې اداره کې پیسې جمع نه کړې شی ځکه چې دا خلق د دې شرطونو پابندی نه کوی.(۱) خو که د دې شرطونو د منلو نه پس پیسې جمع کړې شی نو هیڅ باک نشته، خو یاد ساتئ که تاسو د پیسو د ورکولو په وخت د منافع تعین وکړو مثلا سالانه پنځه فیصده نو دا به ناجائز وی. (۲) ولن یصلح العطاء ما افسده الدهر. وهوالموفق

د سودی رقم مصرف

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په حبیب بینک کې یا نورو بینکونو کې پیسې جمع کړی دی، د دې پیسو سود غریب مسلمان یا محتاج وغیره په خپل استعمال کې راوستلې شی یا نه؟ یا مالک د سود پیسې بینک ته پریږدی نو څه حکم لري؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: ماستر فضل رحیم .... ۱۲ فروری ۱۹۷۴م

الجواب: بغیر د ضرورت شرعی نه په بینک کې پیسې جمع کول حرام دی اگر چې بغیر د سود نه وی، لکونه تعاونا علی المعصیة(۳) او د جمع کولو نه

---

۱) وفي المشكوٰة: وعن النعمان بن بشير قال: قال رسول الله ﷺ الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات لا يعلمهن كثير من الناس فمن اتقي الشبهات استبرأ لدينه وعرضه ومن وقع في الشبهات وقع في الحرام. (مشكوٰة المصابيح ۱:۲۴۱ باب الكسب وطلب الحلال)

۲) وفي الهندية: وشرط جواز هذه الشركات... وان يكون الربح معلوم القدر... وان يكون الربح جزأ شائعا في الجملة لا معينا.

(فتاويٰ عالمگيريه ۲:۳۰۲ الباب الاول في بيان انواع الشركة واركانها وشرائطها)

۳) قال الله تعاليٰ: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان. (سورة المائدة آيت: ۲)

وقال العلامة القاري: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح ۶:۵۹ باب الربا)

پس د دې زیاتې پیسو اخستل او په مساکینو باندې بغیر د ثواب د نیت نه صدقه کول اهون البلیتین دې.(۱) فقط والسلام وهوالموفق

د تعاونی پیسو اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د تعاونی پیسې اخستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل محمود مردان

الجواب: په تعاونی پیسو کې د څه مودې نه پس د سود ورکولو شرط وی لهذا دا هم په سود کې داخل دی.(۲) وهوالموفق

د بینک تعمیر، چوکیداری او چپړاسی جوړیدلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د سړی دپاره د بینک تعمیر، د هغې څوکیداری یا د مزدوری وغیره کار کول صحیح دی یا نه ؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی تاج محمد..........٤ مئ ۱۹۹٦ء

---

۱) قال العلامة الحصكفي :والضابط ان من ابتلي ببليتين فان تساويا خير وان اختلفا اختار الاخف. (الدرالمختار ۳۰۴،۳۰۳:۱ قبيل بحث النية)

وفي شرح المجلة: يختار اهون الشرين. (شرح المجلة ۷۰:۱، المادة: ۲۹)

۲) وقال العلامة ابن عابدين: (قوله كل قرض جر نفعا حرام).

(ردالمحتار ۱۹۴:۴ مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

وفي المنهاج قال النبي ﷺ كل قرض جر نفعا فهو ربا اخرجه الحارث بن ابي اسامة عن علي امير المؤمنين وله شواهد كثيرة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۲۴:۵ باب ماجاء في الصرف)

الجواب: د تعاون علی المعصیت د وجې نه به دا ټول امور مکروه تحریمی وی. (1) وهوالموفق

په نوټونو باندې سرۀ او سپين زر اخستل بيع صرف نه ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دلته د سرو زرو سوداګر سرۀ زر خلکو ته په قرض باندې ورکوی نن صبا په جاری نوټونو باندې د قرض څه حکم دې؟ په مبسوط کې يو عبارت راځی چې ګوتمه يا بغير د غمی والا ګوتمه د څه معين مقدار پيسو په بدله کې واخلی په داسې حال کې چې پيسې دغه سره موجودې نه وی نو هغې ته به صحيح ويلې شی، اګر چې د بيلتون نه مخکښې دواړه قابض شوې وی يا نه. په دې وجه دا په حقيقت کې بيع صرف نه ده لهذا په دې عبارت کې ليکلې شوې پيسو او موجوده کرنسئ کې څه فرق شته دې يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: حاجی در محمد ابو ظهبی......۱۴۰۱ھ

الجواب: نوټ نه سرۀ زر دی او نه سپين زر بلکې د فلوس په شان ثمن عرفی دې او يا وثيقه نامه ده. (2) پس بهر حال په نوټ باندې سرۀ يا سپين زر اخستل بيع صرف ګڼل د منلو قابل نه دی. وهوالموفق

---

1) قال الله تعالیٰ: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان.
(سورة المائدة آيت: ۲)
وقال العلامة القاري: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح ۶:۵۹ باب الربا)

2) وفي المنهاج: اختلف الاكابر في حقيقة النوت قال بعضهم انه قبالة الحوالة وليس بثمن... وقال بعضهم هو ثمن رائج لانه يتوسل به الي حصول الاجناس مثل الدراهم المغلوبة الفضة والفلوس وكذا لا يقصد به عند الاخذ والاعطاء... [بقيه بر صفحه آئنده...

د پاکستانی کرنسی د هم جنس او مختلف الجنس کرنسو سره د بدلون په صورت کې د کمی زیاتی حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د مختلفو ملکونو کرنسی نوټ بدلولو په وخت کميشن کټ کولې شی آیا دا کمیشن اخستل جائز دی یا نه؟ او آیا دا د سود په شمیر کې راځی یا نه؟ ۲: یو سړی د چا نه د پنځو روپو نوټ اخستلو سره د هغې په بدل کې څلور نیمې روپۍ ماتې پیسې ورکړې، آیا دا په سود کې راځی او که نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا سردار علی شاه کاکا صاحب لوهار ... ۵۶/ ۸/ ۱۲

الجواب: ۱: په دې معامله کې سود نشته. (۱) ۲: چونکې نوټ نه ثمن عرفی دې نه سرهٔ زر دی او نه سپین زر لهذا په دې کې د بدلون په وخت کمې زیاتې کول سود نه دې. (۲) وهوالموفق.

د بینک د سودی کاروبار نه د بچ کیدو حیله کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د بهر ملکونو نه کله چې مال په بیع اخستلې کیږی نو په هغې کې دا ممکن نه ده چې لاس

...بقیه ازحاشیه گذشته] الا ما يقصد عند اخذ الدراهم الرائجة والفلوس واعطاء ها ولا يخطر ببال احد ما يقصد من الحوالة والقبالة فافهم... قلت ويؤيد كونه اثمانا رائجة ان المتعارف ان من أقترض عددا من النوت لا يؤدي المقرض الا هذا العدد وان تفاوت الدراهم في قدرالفضة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۳:۱۲۷ باب ماجاء في زكوٰة الذهب والورق)

(۱) قال العلامة الحصكفي: (وان عدما حلا) كهروي بمرويين لعدم العلة.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۱۹۹ باب الربا)

(۲) وفي الهندية: وان وجد احدهما وعدم الاخر حل الفضل وحرم النساء.

(فتاوي عالمگيريه ۳:۱۱۷ الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

په لاس سودا وشی او مال اخستلو سره پیسي ادا کړي شی په دې وجه بینک په مینځ کې خامخا راځی، یو طرف ته بینک د اخستونکی ضمانت ورکوی چې د هغه پیسي به ادا کیږی او دویم طرف ته خرڅونکی ته ضمانت ورکوی چې هغه ته به د مال تولې پیسې ملاویږی، د دې طریقه دا وی چې اخستونکې بینک ته د پوره رقم ۳۰ فیصده نقد اداکوی او بینک د اخستونکی نه په جهاز باندې د مال راوړلو رسید یا بلټی اخستلو سره پوره رقم ادا کړی د دې جهاز بلټی د اخستونکی نه بقایا رقم اخستلو سره ورکوی، خو په دې بقایا رقم باندې د اخستونکی نه د دې تولې مودې سود وصول کړی او دا سود لازمی ورکول دی او ددې نه خلاصې نشته تول برآمد کونکی تاجران دا عمل کوی، بیا دا مال په پرچون باندې تقسیم کونکو تاجرانو باندې خرڅولې شی د دې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: تول اینډ کمپنی لاهور...... ۱۶ اکتوبر ۱۹۸۶ء

الجواب: د دې نه د خلاصی دوه طریقې دی اول دا چې اخستونکې تول رقم (قیمت) په یو ځل ولیږی او داخل ئې کړی او دویم دا چې د بینک مالکان دا سامان واخلي او بیا یې په زیات قیمت باندې خرڅ کړی په دې کې به دواړه طرفونه د سود نه محفوظ وی. وهوالموفق

نوټ لره په تفاضل سره د اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې هل یجوز التفاضل فی اقسام النوت فی بیع الصرف وکان مختلفة الضرب؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی نور محمد مهاجر...... ۱۳ محرم الحرام ۱۴۱۱ھ بمطابق ۵ اگست ۸۰ء

الجواب: نعم یجوز(۱) فانها فی الحکم عروض التجارة، او په حکم د سرو زرو.

---

۱) وفي الهندية: وان وجد احدهما وعدم الآخر حل الفضل وحر...
(فتاوی عالمگیریه ۱۱۷:۳ ال... السادس في تفسير الربا واحك...

او سپینو زرو کښې نه دې ، وليس فيها القدر بل هی من العدديات واذا كانت مختلفة الضرب فالجنس ايضاً مفقود.(۱) وهوالموفق

د سلو روپو نوټ په یو سل پنځه روپۍ باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بینک والا نوی نوټونه مثلاً د سلو روپو نوټونه په یو سل پنځه روپۍ باندې ورکوی او بیا هم دا په بازار کې سهرو والا د یو سل لسو روپو په بدل کې خرڅوی (یعنی دا د سلو روپو نوې نوټونه) نو د دې د بینک نه اخستل او باقی شقوق (یعنی د سهرو والودا د سهرو په شکل کې خرڅول) څهٔ حکم لری؟ بینواتوجروا

المستفتی: بصیر احمد کمره ۶ دار العلوم حقانیه...۱۴ جمادی الثانی ۱۴۰۹هـ

الجواب: نوټ د فلوس په شان مال تجارت یا ثمن رائجه دې نه ذهب دې او نه فضة، په دې کې د طرفین په رضامندئ باندې کمې زیاتې کول ناجائز نه دی (بلکې جواز لري).(۲) وهوالموفق

پاکستانئ او افغانئ کرنسی متحد الجنس دی که مختلف الجنس؟

د کرنسئ په قرض باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د پاکستانئ او افغانئ کرنسئ جنس یو دې او که مختلف؟

---

۱ ﴾وقال العلامة الحصكفي: (وان عدما حلا) كهروي بمرويين لعدم العلة.
(الدرالمختار ۱۹۹: ۴باب الربا)

۲ ﴾وفي الهندية: وان وجد احدهما وعدم الآخر حل الفضل وحرم النساء.
(فتاوي عالمگيريه ۱۱۷: ۳الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

وقال العلامة ابن عابدين: بل التراضي شرط لثبوت حكمه شرعا وهو الملك.
(ردالمحتار ۷: ۴كتاب البيوع)

۲: د افغانی کرنسئ سینکړه په پنځویشت روپۍ ده، هم دا کرنسی په قرض باندې ورکولې شو یا نه؟

۳: نقد پنځویشت روپۍ باندې سینکړه ورکول او قرض په شپږ ویشت روپۍ باندې سینکړه جائز ده که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی رسول گل لنډی کوتل... ۱۹ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: ۱: که دا کرنسی د سرو سپینو زرو قباله وی نو په ظاهره کې افغانی او پاکستانی کرنسی متحد الجنس ده او که کرنسی د ثمن مروج نوم وی نو معامله برعکس ده.

۲: چونکې کرنسی د مثلیاتو نه ده لهذا دې لره په قرض باندې ورکولو کې څه باک نشته.(۱)

۳: د دلائلو په رڼا کې کرنسی په ثمن عرفی کې داخله ده قباله نه ده، پس د تاجیل د وجې نه زیادت معاف دې. نظیره فی الجلبی.(۲) وهوالموفق

د کرنسئ په هر صورت کې بدلول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په نوټ باندې نفع اخستل جائز دی یا نه؟ مثلا په بدلیدونکو پیسو کې سل روپۍ د پاکستانی نوټ په مقابله کې سل روپۍ د سعودی عرب والا نوټ ورکولې شی، واپس راوړلو سره دلته د سلو نوټ په شپږ شلې روپۍ باندې خرڅ کړی آیا دا شرعا جواز لري؟ بینوا توجروا

المستفتی: ضلع بنوں تحصیل لکی مقام و ډاکخانه شهباز خیل فاضل خان دریخالخیل

---

۱) قال العلامة الحصكفي: (وصح) القرض (في مثلي) هو كل ما يضمن بالمثل عند الاستهلاک (لا في غيره) من القيميات كحيوان وحطب.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴: ۱۹۱ فصل في القرض)

۲) قال العلامة اللكهنوي: حاشية چلبي کې دی: يجوز ان يقدر الثمن في المبيع بالمؤجل اكثر مما في المعجل بحيث تقابل كثرة المؤجل تعجيل القليل.

(حاشيه چلبي بحواله مجموعة الفتاوي ۲: ۱۲۳،۱۲۴ كتاب البيع)

الجواب: که نوټ ثمن عرفی ومثلې شی نو په دې معامله کې هیڅ باک نشته، لعدم کونه مکیلا ولا موزونا.(۱) او که د حواله وثیقه او رسید ومثلې شی نو په وثیقو کې تبادله مطلقا جائز ده، لما مر.(۲) او که په دې وثیقو کې عدم تماثل د دې وجې نه ناجائز ومثلې شی چې دا قائم مقام د فضة وغیره وی، کوم چې په حکومت باندې قرض وی نو دا به لازمه شی چې د مساوات په صورت کې هم تبادله ناجائز شی، لانه بیع الکالی بالکالی وهو غیر جائز.(۳) والراجح عند اکثر الاکابر هو الثانی وعند شیخی الراجح هو الاول. وهو الموفق

امریکائی، ایرانی یا افغانی کرنسی د پاکستانی کرنسۍ په بدل کې په قرض خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما د یو سړی نه امریکائی ډالر یا ایرانی کرنسی یا افغانی کرنسی واخستله د پاکستانی کرنسۍ په بدله کښې، اوس به زه هغه سړی ته څلور، پنځه یا لس ورځې پس پاکستانۍ پیسې ورکوم آیا دا معامله د قرض په صورت کې صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عبدالرشید کلاتهه مرچنټس تورنج روډ چمن بلوچستان ۲۱ رجب ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا ډالر وغیره ثمن خلقی نه دې ثمن عرفی دې او دا عددی غیر متقارب دی، نه چې موزونی یا مکیلی، او د دوی ذات د پاکستانی نوټونو

---

۱ ﴾ وفي الهندية: وان وجد احدهما وعدم الآخر حل الفضل وحرم النساء وان عدما حل الفضل والنساء.

(فتاوي عالمگیریه ۳:۱۱۷ الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

۲ ﴾ لما مر اي لعدم كونه مكيلا ولا موزونا.

۳ ﴾ عن ابن عمر رضي الله عنه ان النبي ﷺ نهي عن بيع الكالي بالكالي رواه الدارالقطني.
(مشكواة المصابيح ۱:۲۴۸ باب المنهي عنها من البيوع)

نه مغاير دي، كما في الثوب الهروي والمروي(۱) پس د قواعدو په رڼا کې دا معامله جائز ده. (۲) وهوالموفق

د كارخانې د مشينرۍ د اخستلو متعلق د يو سوال جواب

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې يو سړې کارخانه لګول غواړی نو د هغې دپاره مشينرۍ د بهرملك نه راغوښتل غواړی خو د مروجه قوانينو د لاندې هغه مشينرۍ په سودی قرضه کې دلته راوړلې شی. که يو سړې د سود نه د بچ کيدو په خاطر نقد رقم ادا کولو سره مشينرۍ امپورټ کول غواړی نو په قانون کې د دې نه د خلاصی ګنجائش نشته. نو د مشينرئ نه پس که څوک دا غواړی چې فورا يا د مقرر ميعاد نه په کمه موده کې د قرض نه ځان خلاص کړی چې کم از کم سود ورکړی نو دا هم ممکنه نه ده بلکې په قسطونو کې ادا کول ضروری وی اوس که په دې حالاتو کې چا کارخانه خلاصه کړه نو هغه کارخانه او د هغې ګټه به حلاله وی که حرامه؟ د هغې په ګټه باندې زکاة او حج فرض کيږی يا نه؟ که هغه حرامه وی نو د دې تطهير به په څه شکل وی؟ که د تطهير ئې څه شکل نه وی نو شرعا به د دې کارخانو څه مصرف وی په داسې حال کې چې د هغې ماليت په اربونو او کربونو روپئ وی؟ بينواتوجروا

المستفتی: شمس الحق مسجد خضراء کراچی .... ۱۷ جولائی ۷۵

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: (وان عدما حلا) كهروي بمرويين لعدم العلة.

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله كهروي بمرويين) الاولي ان يزيد نسيئة كما عبر في البحر ليكون مثالا لحل الفضل والنساء بسبب فقد القدر والجنس فان الثوب الهروي والثوب المروي بسكون الراء جنسان ... وليسا بمكيل ولا موزون.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۴:۱۹۹ باب الربا)

(۲) وفي الهندية: وان عدما حل الفضل والنساء.

(فتاوي عالمگيريه ۳:۱۱۷ الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

الجواب: په ظاهر کې دا معلومیږي چې حکومت دا مشینري په هغه سړي باندې خرڅوي او دا مجموعي رقم یعنی اصل سره د سود نه د هغه سړي دپاره ثمن شمارلې شي، لهذا د دې کارخانې د حاصلاتو د غیر طیب احتمال ختمیږي. هذا ما عندي ولعل عند غيري احسن منه. وهو الموفق

په بینک کې پیسې کیښودل او په حالت اضطرار کې د سود حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: په بینک کې رقم جمع کول جائز دي یا نه؟ ۲: د لبنان مفتی ویلې دي چې سود بالاتفاق حرام دې خو د اضطرار په حالت کې حرام نه دې، حلال کیدې شي؟ دا خبره تر کومه حده پورې صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: تاج محمد مردان

الجواب: د قرض د وجې نه چې کومه منافع حاصل شي هغه سود او ربا ده، په قرآن کریم کې د سود په اړه کوم آیتونه راغلي دي د هغې شان نزول هم دا وو چې هغه خلقو به د قرض د وجې نه منافع دپاسه د منافع اخستله. فليراجع الى التفاسير(۱) بلکه دا چې په حدیث شریف کې هم راغلي دي چې (کل

---

(۱) في التفسير المظهري: قال السدي نزلت في العباس وخالدبن الوليد وكانا شريكين في الجاهلية يسلفان في الربوا الي بني عمرو بن عمير ناس في ثقيف فجاء الاسلام ولهما اموال عظيم في الربوا فانزل الله تعالى هذه الآية. (التفسير المظهري ۱۰:۴۱۰، آیت: ۲۷۸)

وقال العلامة الرازي: في سبب نزول الآية روايات فالاولى انها خطاب لاهل مكة كانوا يرابون فلما اسلموا عند فتح مكة امرهم الله تعالى ان يأخذوا رؤس اموالهم دون الزيادة، والثانية، قال مقاتل ان الآية نزلت في اربعة اخوة من ثقيف، مسعود، وعبد ياليل وحبيب وربيعة، بنو عمرو بن عمير الثقفي كانوا يداينون بني المغيرة فلما ظهر النبي ﷺ علي الطائف اسلم الاخوة ثم طالبوا برباهم بني المغيرة فانزل الله تعالى هذه الآية. (التفسير الكبير ۷:۱۰۶، آیت: ۲۷۸)

قرض جر نفعاً فهو ربا) رواه الحارث فی مسنده(۱)

بله دا چې دا مضمون د نورو رواياتو نه کوم چې په ابن ماجه او تاريخ بخاری کې ليکلې شوې دی واضح طور معلوميږی، فليراجع الى المشكاة كتاب البيوع فی الربا.(۲)

او هم دا خبره د امام ابو حنيفه رحمه الله نه روايت ده، كما فی الهندية ۳/۲۶۴. قال محمد فی كتاب الصرف ان اباحنيفة كان يكره كل قرض جر منفعة.(۳)

او په موجوده دور کې د بينکونو په ذريعه دا سود کولې شی،

لهذا دا ربا ناجائز ده لهذا واضحه دې وی چې د ګناه په کار کې تعاون کول حرام دی.

---

۱) قال العلامة اشرف علي التهانوي: وقال ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزي في شرح الجامع الصغير للسيوطي ۳:۷۸۴.
(امداد الفتاوی ۲:۲۱۵ کشف الدجي عن وجه الربوا)

وفي المنهاج: قال النبي ﷺ كل قرض جر نفعا فهو رباً اخرجه الحارث بن ابي اسامة عن علي امير المؤمنين وله شواهد كثيرة.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۲۴ باب ماجاء في الصرف)

۲) وفي المشكوة: عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا اقرض احد كم قرضا فاهدي اليه او حمله علي الدابة فلا يركبها ولا يقبلها الا ان يكون جري بينه وبينه قبل ذلک رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان وعنه وعن النبي ﷺ قال اذا اقرض الرجل الرجل فلا يأخذ هدية رواه البخاري في تاريخه هكذا في المنتقي.
(مشكوة المصابيح ۲۴۶ باب الربوا، كتاب البيوع)

۳) (فتاوی عالمگيرية ۳:۲۵۲ الباب التاسع عشر في القرض والاستقراض)

قال الله تعالی: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (۱) پس بغیر د سود نه پیسې کیښودل (په بینک کښ) هم حرام دی ځکه چې اصل بینک په هغې سره سودی معاملات کوی، واضحه دې وی چې د ضرورت او اضطرار په وخت حرام مباح کیږی، کما فی قوله: الاما اضطررتم (۲)
پس کوم سړې چې د مال حفاظت نه شی کولې او د هغې د ضائع کیدو یقین او ظن غالب ورسره وی نو هغه بغیر د سود نه داخلولې شی که په بینک کې د امانت انتظام نه وی. وهوالموفق

په اسټیټ لائف انشورنس کمپنئ کې په منافع باندې د رقم جمع کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په اسټیټ لائف انشورنس کمپنئ کې خپل رقم په منافع سره جمع کول او خپل ځان د څو کلونو دپاره انشور کول جائز دی یا ناجائز؟

المستفتی: فضل حلیم مدرس هائی سکول بګرا.. ۳مارچ۱۹۷۶ء

الجواب: چونکې کمپنی په دې سره سودی کاروبار کوی لهذا دا معامله د تعاون علی المعصیة دوجې نه حرام ده (۳) لهذا کومې پیسې چې د یو ملازم د تنخواه نه د قبض نه مخکې جبری طور کټ کولې شی او هغې سره د کمپنئ د طرف نه څه رقم ادا کولې شی نو په دې کې هیڅ باک نشته. (۴) وهوالموفق

---

۱) (سورة المائدة آیت: ۲)

۲) (سورة الانعام آیت: ۱۲۰)

۳) قال الله تبارک وتعالیٰ: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان. (سورة المائدة آیت: ۲)
وقال العلامة القاري: (کاتبه وشاهدیه) قال النووي فیه تصریح بتحریم کتابة المترابیین والشهادة علیهما وبتحریم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتیح شرح مشکوٰة المصابیح ۶:۵۹ باب الربا)

٤) قال الشیخ المفتي محمد شفیع: په زبردستئ سره په پرائیویډنټ فنډ باندې چې کوم د سود په نوم سره رقم ملاویږی هغه شرعاً سود نه دې بلکه د اجرت (تنخواه) یوه برخه ده. (پرا یویډنټ فنډ باندې د زکوٰة اود سود مسئله ۴)

د بیک د ملازمینو نه سوا د نورو خلقو

تنخواه گانې د بیک نه اخستل صحیح دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زما لږ شان رقم په بینک کې دې ما بینک والو ته ویلې دی چې که تاسو ماته سود راکول غواړئ نو زه ئې نه اخلم، ډیره موده پس ماته یو عالم دوست وویل چې تاسو په غلطئ باندئ یئ نن صبا د ټولې دنیا مالیاتی نظام دبینک نه دې ستاسو تنخواه هم د بینک نه راځی هر بینک د خلقو په پیسو باندې کار کوی او په هغې باندې ډیره گټه کوی او مال والو ته مناسب حصه د هغې نه ورکوی دا سود نه دې، تاسو منافع اخلئ، اوس زه حیران یم د خپلې تسلئ دپاره ستاسو د علم نه فائده اوچتول غواړم؟ بینواتوجروا

المستفتی: سمندر خان سمندر پشاور... ۱۶ جولائی ۱۹۷۶ء

الجواب: واضحه دې وی چې د قرض د وجې نه چې کومه منافع حاصل شی هغه سود وی، **للاصل المشهور کل قرض جر نفعاً فهو ربا (۱) قلت هو لفظ الحدیث ایضاً.(۲)** بلکه دا چې په قرآن کریم کې د حرمت ربا متعلق د آیت

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله کل قرض جر نفعا حرام) اي اذا کان مشروطا.
(ردالمحتار ۱۹۴: ۴ مطلب کل قرض جر نفعا حرام)

۲) عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ کل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط وله شاهد ضعیف عن فضالة بن عبید عند البیهقي وآخر موقوف عن عبد الله بن سلام عند البخاري.
(بلوغ المرام من ادلة الاحکام ۲۸۲ رقم حدیث: ۸۱۲)
وقال العلامة اشرف علي التهانوي: کل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حدیث حسن لغیره صرح به العزیزي في شرح الجامع الصغیر للسیوطي.
(امداد الفتاوي ۲۱۵: ۵ کشف الدجي عن وجه الربوا)...[بقیه بر صفحه آئنده...

کریمه شان نزول هم دا دې (۱) او دا حقیقت د چا نه پټ نه دې چې د بینک نه کوم رقم اخستلې شي، نو دا مضاربت نه دې، قرضه وي، لهذا حاصل شوي منافع بیشکه او بې شبهې سود وي او حرام ده. (۲) خو چونکې په بینک کې جمع شوې رقم نه ټول په ټول سودی مال وي او نه اکثری طور سره بلکې لږه شان حصه سود وي، لهذا د دې نه تنخواه اخستل وغیره جائز دی، خو چونکې د بینک ملازمینو ته صرف د سودی رقم نه تنخواه ګانې ورکولې شي نه د اصل زر نه، لهذا د هغوی تنخواه ګانې حرام وي. وهوالموفق

د پری پیمنټ سیلز سکیم حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې پری پیمنټ سیلز سکیم یو سکیم دې چې په هغې کې په مقرر تاریخ باندې قرعه اندازی کیږی لکه چې تاسو ته به معلومه وی آیا دا جائز ده یا نه؟ او دا بیع فاسد ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا محمد نسیم کلاچی نجم المدارس دی آئی خان.....۸ جون ۱۹۸۶ء

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وفي المنهاج: والآن في بيوت الربا البنک شاع الربا الحكمي وهو الانتفاع بالقرض قال النبي ﷺ كل قرض جر نفعا فهو ربا اخرجه الحارث بن ابي اسامة عن علي امير المؤمنين وله شواهد كثيرة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۲۴ باب ماجاء في الصرف)

۱) قال العلامة ثناء الله پاني پتي: قال السدي نزلت في العباس وخالد بن وليد كانا شريكين في الجاهلية يسلفان في الربوا الي بني عمر بن عمير ناس في ثقيف فجاء الاسلام ولهما اموال عظيم في الربوا فانزل الله تعالیٰ هذه الآية.

(التفسیر المظهري ۱:۴۱۰ آیت: ۲۷۸)

۲) قال العلامة وهبة الزحيلي: فوائد المصارف (البنوک) حرام حرام حرام.

(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۷۴۱)

الجواب: محترم المقام حافظ محمد نسیم صاحب سلمه الرحمن ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، اما بعد ! پس واضحه دې وي چې دا سکیم (پری پیمنټ سیلز سکیم) د قواعدو په رڼا کې ناجائز او ممنوع دی ځکه کله چې زید د موټر سائیکل د حاصلولو دپاره د دوه سوو روپو قسط ادا کړو او مثلاً اوله قرعه اندازۍ کې د هغه نوم راووتلو نو که زید ته دا داخل شوې قسط واپس کولې شوې نو شرعاً به دې موټر سائیکل ته انعام ویلې شو اوقابل د اعتراض به نه وو، خو ښکاره ده چه ددې سکیم والا داسې نه کوی، لهذا دې موټر سائکل ته به انعام او ورکړه نه وئیلې کیږی، بلکې په دې موټر سائیکل کې دوه احتمالات کیدې شی، اول دا چې د دې موټر سائیکل ۱/۹۰ حصه مبیع او ۹۰/۸۹ حصې انعام دې او دویم دا چې دا ټولې موټر سائیکلې مبیع دی او دا دواړه شقوق ناجائز او ممنوع دی، اول شق په دې وجه باندې چې د بیع د صحت دپاره د مبیع تعین ضروری دې.(۱)

او په دې معامله کې مبیع متعین نه دې ځکه چې د ممبر جوړیدو په وخت د ټول موټر سائیکل مبیع کیدل مقرر شوې دی او په قرعه اندازۍ کې د مخکښې وروستو راوتلو د وجې نه مبیع کله ۱/۹۰ حصه او کله ۲/۹۰ او کله ۳/۹۰ وی او باقی حصې به انعام وی.

او شق ثانی د دې وجې نه ناجائز دې چې د بیع د صحت دپاره تعین ثمن (قیمت) ضروری دې (۲) او په دې معامله کې دا مفقود دی ځکه چې د نوم په مخکې وروستو راوتلو سره به کله قیمت دوه سوه روپۍ وی کله څلور سوه او کله شپږ سوه وهکذا.

---

(۱) وفي الهندية : واما شرائط الصحة ... ومنها ان يكون المبيع معلوما والثمن معلوما علما يمنع من المنازعة فبيع المجهول جهالة تفضي اليها غير صحيح.
(فتاوي هندية ۳ : ۳ كتاب البيوع ، الباب الاول في تعريف البيع وركنه وشرطه)

(۲) قال العلامة الحصكفي : وشرط لصحته معرفة قدر مبيع وثمن ووصف ثمن.
(الدر المختار ۴ : ۲۳ كتاب البيوع)

د دې نه علاوه په مبیع کې باقاعده خیار رؤیت او خیار عیب ثابتیږی او په دې معامله کې دبیع ملامسه او منابذه په شان دا حقوق مشتری ته نه شي ورکولې. (۱) وهوالموفق

د حکومت نه ګاډي په قسطونو باندې اخستلو سره د لګیدلي شوې سود نه د بچ کیدلو حیله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حکومت بالاقساط ټریکټر خرڅوی، اول څلورمه حصه قیمت ورکولې شی وروستو چې کوم قیمت دې په هغې باندې د سینکړې په حساب سره دولس روپۍ زیاتی سود اخلی، آیا دا سود دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: لال محمد تور دهیر محله پشتی صوابۍ...... ۱۹۹۶ء

الجواب: که تاسو دا ټولې پیسې (پیشګی او قسط وار مع منافع) لره د ټریکټر د قیمت په حیثیت سره ادا کړئ نو تاسو به مجرمان نه یئ. (۲) تاسو

---

۱ ﴾ وفي جامع الفصولين: واما الخيارات التي تثبت في عقود تحتمل الفسخ انواع، منها خيارشرط ورؤية وعيب وتعين. (جامع الفصولين ۱:۲٤۱ الفصل الخامس والعشرون في الخيارات)

وقال العلامة محمد خالد الآتاسي: من اشترى شيئاً ولم يره كان له الخيار الي ان يراه فاذا رآه فان شاء قبله وان شاء فسخ البيع ويقال لهذا الخيار خيار الرؤية... ما بيع مطلقا اذا ظهر فيه عيب قديم يكون المشتري مخير ان شاء قبله بثمن المسمي وان شاء رده.

(شرح المجلة ۲:۲۶۸،۲۹۰ المادة ۳۲۰،۳۳۷ الباب السادس في بيان الخيارات)

۲ ﴾ قال العلامة اللكهنوي: د يوسف چلپي رحمه الله په حواشي شرح وقايه کې دی: يجوز ان يقدر الثمن في المبيع بالمؤجل اكثر مما في المعجل بحيث تقابل كثرة المؤجل تعجيل القليل.

(مجموعة الفتاوي ۲:۱۲۹ كتاب البيع)

وقال العلامة المرغيناني: لان للاجل شبها بالمبيع الا يري انه يزاد في الثمن لاجل الاجل. (هداية ۳:۷٤ باب المرابحة والتولية)...[بقيه برصفحه آئنده...

د حکومت د ارادې ذمه دار نه یئ.(۱) وهوالموفق

د بینک منافع او د انعامی بانډ حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې تقریبا د درې کالو نه زما څه پیسې په یونائیټډ بینک کښې دی، اوس کله چې ما د بینک نه معلومات وکړو نو معلومه شوه چې دوه نیم درې درې سوو پورې منافع زما د رقم سره جمع کړې شوې ده، د دې منافع په باره ما د ډیرو حضراتو نه تپوس وکړو خو د علماء کرامو رائې مې پکې مختلفې اوموندلې، د یو جماعت وینا ده چې دا منافع جائز نه ده څکه چې په بینک رقم کیښودنکې د بینک په منافع کې خو شریک ګڼلې شی خو په نقصان او خساره کې اصولا شریك نه وی، لهٰذا دا د سود یو قسم دې دا جماعت په بینک کې پیسې جمع کول هم ښه نه ګڼی، د دې برعکس دویم جماعت د جواز سبب دا بیانوی چې ۱: په بینک کې جمع کړې شوې پیسو نه کار اخستلې شی.

۲: د بینکارئ دا طریقه نه صرف په پاکستان کې بلکې په ټوله اسلامی دنیا کې رائج ده.

۳: که یو بینک مکمل طور په خساره کې راشی نو په هغې کې داخل کړې شوې پیسې خود بخود ضائع شی او چاته هیڅ هم نه ملاویږی، لهٰذا په

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وقال وهبة الزحيلي : جاز الشافعية والحنفية والمالكية والحنابله وزيد بن علي والمؤيد بالله والجمهور بيع الشيئ في الحال لاجل او بالتقسيط باكثر من ثمنه النقدي اذا كان العقد مستقلا بهذا النحو... وهذا ليس من الربا بل هو نوع من التسامح في البيع.

(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۴۶۱ البيع لاجل او بالتقسيط)

(۱) عن عمر بن الخطاب رضي الله تعالي عنه قال قال رسول الله ﷺ انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ ما نوي.

(مشكواة المصابيح ۱۱ قبيل كتاب الايمان)

بینک کې پیسې کیښودل او د بینک د طرف نه په مقرر شوې شرحو باندې منافع اخستل جائز دی، مهربانی وکړئ او د ذکر کړې شوې مسئلې مدلل وضاحت وفرمایئ چې زه هم په صحیح خبره باندې فیصله وکړم او نورو ته هم ویلې شم، د دې نه علاوه ما څه انعامی بانډونه هم اخستلې دی چې په هغې باندې د حکومت د طرف نه هره میاشت د قرعه اندازئ په طور د انعاماتو د ملاویدو امکان وی نو د دې متعلق هم څه خلق د جواز خبره کوی او څه د ممانعت، تاسو مهربانی وکړئ او دا مسئله هم حل کړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: فضل انعام سرحد هاؤس بټ خیله دیر اډه ملاکنډ ایجنسی ۲۵ فروری ۱۹۷۳ء

الجواب: واضحه دې وی چې د **(کل قرض جرنفعاً فهوربا)** د وجې نه دا رقم سود دې (۱) خو د دې اخستل او مسکینانو او طالبانو باندې بغیر د ثواب د نیت نه تقسیمول غوره دی په نسبت د نه اخستلو. **لانه اهون البلیتین** (۲) او دا انعامی بانډ جواری ده. (۳) او د **تعاون علی المعصیة** نه خالی نه دې، لهذا د دې نه هم اجتناب ضروری دې (۴) **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله کل قرض جر نفعا حرام) اي اذا کان مشروطا. (ردالمحتار ۴: ۱۹۴ مطلب کل قرض جر نفعا حرام)

(۲) قال العلامة الحصکفي: الضابط ان من ابتلي ببلیتین فان تساویا خیر وان اختلفا اختار الاخف.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳۰۳،۳۰۴: ۷ باب شروط الصلاة)

(۳) قال الله تبارک وتعالي: انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون.

(سورة المائدة آیت: ۹۰)

(۴) قال الله تبارک وتعالي: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان.

(سورة المائدة آیت: ۲)

آیا هندوستان دار الحرب دي او په دې کې سود اخستل جائز دي؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا په هندوستان کې سود اخستل جائز دی یا نه؟ آیا په هندوستان باندې د دار الحرب اطلاق کیږي؟ بله دا چې د دار الحرب صحیح تعریف (د احنافو په نزد) ولیکئ او د کتاب حواله هم ورکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ..... ۲۰ جمادی الثانی

الجواب: د هندوستان په دارالحرب کیدلو کې علماء مختلف دی. (۱) خو په دارالحرب کې سود اخستل علی القول الراجح حرام نه دی، فلیراجع الی ردالمحتار ۱۸۸/۴ (۲) وخالفه بعض المشائخ فلیراجع الی بوادر النوادر... ۳۸۶/۲ (۳) وهوالموفق

---

۱) قال الشیخ المفتي محمد حسن الجنجوهي: د هندوستان باره کې اختلاف دې اکثره عالمان دې ته دارالحرب وائي او بعضې ددې نه منکر دی، مولانا عبدالحئ صاحب په خپله فتاوی ج۲ ص۲۲۲ کې لیکي: هندوستان کوم چه د نصاراؤ په قبضه کې دې دارالحرب نه دې په هغې کې د کافر نه سود اخستل جائز نه دی.

حضرت شاه عبد العزیز صاحب محدث دهلوی رحمه الله په خپله یوه اوږده فتوی کې او دغسې په نورو ډیرو لیکلو کې هندوستان دارالحرب ګرځوی فرمائي: اذا ثبت الشیي ثبت بلوازمه، یعنی هرکله چه د هندوستان دارالحرب کیدل ثابت شو نو په شرائطو سره سود اخستل هم صحیح دی.

(فتاوی محمودیه ۲۴۶: ۴تا ۲۴۹ باب الربوا، کتب خانه مظهري)

۲) قال العلامة الحصکفي: (ولا بین حربي ومسلم ثمه) لان ماله ثمه مباح فیحل برضاه مطلقا بلا عذر خلافا للثاني والثلاثة. وقال العلامة ابن عابدین: (قوله ثمه) اي في دارالحرب... (قوله لان ماله ثمه مباح) قال في فتح القدیر لا یخفي ان هذا التعلیل انما یقتضي حل مباشرة العقد اذا کانت الزیادة ینالها المسلم. (شامي ۲۰۹: ۴باب الربا)

۳) قال الشیخ اشرف علي التهانوي: چې آیا د حربی مال فئ دې یا غنیمت؟ ایا په کوم یو حالت کې په یو نص سره د حربی د مال معصوم کیدل... [بقیه بر صفحه آئنده...

سودی مال په ذاتی مفاد کې استعمالولو سره دهغې ضمان واجب الادا دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي په بينک کې رقم جمع کولو سره په هغې باندې سود اخلی، په دې سودی رقم سره خپل تعليم جاری ساتی، آيا هغه دا پيسې خرج کولې شی؟ کله چې د هغه دا خيال وی چې زه به خپله ګټلو سره بيا دا پيسې په څه مصرف کې خرج کوم؟ بينواتوجروا

المستفتی: شفيق الرحمن پشاور يونيورسټی ...... ۱۵ اګست ۱۹۷۹ء

الجواب: سودی مال په ذاتی مفاد کې استعمالول د ګناه د پاسه ګناه ده، خو دداسې استعمال په صورت کې ددې ضمان واجب الاداوی(۱) وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه ګذشته] هم ثابتيږی؟

جواب: د تحريم ربا په آيت کې ارشاد دي: يا يها الذين آمنوا اتقوالله وذروا ما بقي من الربوا ان کنتم مؤمنين، او ښکاره ده چه ددې باقی ربا معامله کوم وخت شوې ده اخستونکی ورکونکی ټول حربی وو، نو د تحريم نه پس که چېرته د حربی سره داسې معامله جائز وې نود تحريم نه مخکې خوبه په درجه اولی جائز وه، او دغه روپۍ (مال) به حلال وو، نو ددې پرېښودل به ولې فرض کيدل

اضافه: او ددې سبب د حربی مال محترم يعنی فی نفسه معصوم کيدل نه دی بلکه او دا په عارض سره معصوم کيدل دی، دغه معارض معاهده ده چه ددې په سبب هر يو د بل نه مامون (په امن کې) دې او معاهده عامه ده که قالی وی او که حالی وی، يعنی خپل مينځ کې داسې معاشره چه هيچا ته د بل نه خطره نه وی...الخ

(بوادر النوادر ۲:۳۷۶،۳۷۷ دوسرا نادر درداد خال ربوا دارالحرب درفي)

(۱) قال العلامة الکاساني: واما حالة الحرمة فهو ان يأخذها لنفسه لا لصاحبها... لانه اخذ مال الغير بغير اذنه فيکون بمعني الغصب... واما حالة الضمان فهي ان يأخذها لنفسه لان الماخوذ لنفسه مغصوب وهذا لاخلاف فيه. (بدائع الصنائع ۵:۲۹۵،۲۹۶ کتاب اللقطة)

وفي الهندية: اللقطة امانة... ولو اقر انه اخذها لنفسه ضمنها بالاجماع.

(فتاوی عالمگيرية ۲:۲۹۱ کتاب اللقطة) ...[بقيه برصفحه آئنده...

سودی رقم په انکم ټیکس کې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په انکم ټیکس کې سودی رقم مجره کول (حسابول) جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد یحیی آفریدی مین بازار کوهاټ... ۲۲ فروری ۱۹۷۶ء

الجواب: هر کله چې د دې سودی پیسو نه اخستل جائز دی نو د دې قبل القبض په انکم ټیکس کې مجره کول به په طریقه اولی جائز وی، ځکه چې په ټیکس کې خرچ کیدل په نسبت د خرد برد تعمیری امر دې، خو د قبض نه وروستو به دا مال واجب التصدق وی. لدخوله في الملك.[1] فافهم

د تنخواه د وصولولو نه پس څه حصه دوباره په جی پی فنډ کې جمع کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د ګورنمنټ د ملازمینو د تنخواه نه حکومت ماهانه لس فیصده رقم جبرا په جنرل پراویډنټ فنډ G.P Fund کې جمع کوی، واضحه دې وی چې هر ملازم چې د لسو فیصدو نه که زیات رقم د خپلې تنخواه نه پراویډنټ فنډ کې په خپله مرضئ سره جمع کول غواړی نو هم جمع کولې شی د هر ملازم د میاشتې د

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وقال العلامة الحصكفي: (وندب رفعها لصاحبها) ان امن علي نفسه تعريفها والا فالترك اولي وفي البدائع وان اخذها لنفسه حرم لانها كالغصب.

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله لانها كالغصب) اي حكما من جهة الحرمة والضمان. (شامي ۳:۳۴۸ كتاب اللقطة)

۱) قال العلامة ابن عابدين: : لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد علي صاحبه. (ردالمحتار ۵:۲۷۳ فصل في البيع، كتاب الحظر والاباحة)

وقال العلامة ابن البزاز: ولو بلغ المال الخبيث نصابا لايجب فيه الزكاة لان الكل واجب التصدق. (البزازية علي هامش الهندية ۴:۸۶ كتاب الزكاة، الثاني في المصرف)

تنخواه نه چې کومې پیسې په جنرل پراویډنټ فنډ کې جمع کولې شی په هغې باندې ګورنمنټ د خپل طرف نه د کټې د کمی او زیاتی په لحاظ سره کله پنځه فیصده او کله شپږ فیصده سالانه حساب سره منافع ورکوی چې د هغې مکمل تشریح لاندې لیکلې شی:

مثلاً په جی پی فنډ کې د یو ملازم کل جمع شوې رقم سره د سود نه شپږ سوه روپۍ دې، ګورنمنټ په دې باندې شپږ فیصده سالانه حساب سره سود لګولو سره په شپږو سوو روپو کې جمع کوی یعنی د شپږو سوو روپو سره شپږ دیرش روپۍ د سود یو ځای کولو باندې شپږ سوه او شپږ دیرش روپۍ جوړوی، اوس فرض کړئ چې یو ملازم د خپلې تنخواه نه د میاشتې شل روپۍ په جی پی فنډ کې جمع کول غواړی نو سالانه د هغه د تنخواه نه ۱۲×۲۰=۲۴۰ روپۍ کټ کیدو سره دا رقم په ۲۳۲ روپو کې جمع کولې شی یعنی (۲۳۲+۲۴۰)=۸۲۲ روپۍ جوړیږی، هم د دې ۸۷۲ روپو سره ګورنمنټ شپږ فیصده سود لګوی یعنی ۸۲۲ روپو سره ۲۱ روپۍ سود یوځای کولو باندې ۹۳۷ روپۍ جوړیږی هم په دې طریقې سره د ریټائرمنټ پورې هم دا سلسله جاری وی.

او که یو ملازم ته د جی پی فنډ نه د ضرورت په وخت د څه پیسو د راویستلو ضرورت شی نو هغه د حکومت د منظورئ نه بغیر رقم نه شی اخستلې، بالفرض که یو ملازم د حکومت نه منظوری اخستلو سره شپږ سوه روپۍ د خپل ضرورت دپاره راوباسی نو هم دا رقم د هغه د تنخواه نه د میاشتې په حساب سره په شلو قسطونو کې بیا په جی پی فنډ کې جمع کولې شی دا ټول جمع شوې جنرل پراویډنټ فنډ ملازم ته د ریټائرمنټ نه مخکې نه ملاویږی، خو په پنشن ملاویدو باندې دا ټولې جمعې شوې پیسې ملاویږی، ستاسو په خدمت کې عرض کوم چې په پورته ذکر شوې طریقې سره چې ګورنمنټ ملازمینو ته په جنرل پراویډنټ فنډ باندې سود ورکوی شرعاً د ملازمینو دپاره ددې قسم سود اخستل جائز دی یا نه دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: میاں شمس الهدیٰ ڈاک اسماعیل خیل پشاور ..... ۱۵ جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: د دې فنډ متعلق د علماء کرامو فتوی دا ده چې د ملازم دپاره اصل رقم سره د سود نه اخستل جائز دي ځکه چې دا سود حکومت په خپلو پیسو ورکړې دې، د ملازم دپاره دا سودی پیسې یو بخشش دې (۱) بیشکه کومې پیسې چې ملازم د وصولولو نه واپس کړی دی او په بینک کې ئې داخلې کړې نو دا عمل ناجائز دی او د اصل رقم نه زیات اخستل سود دی. (۲) خلاصه دا ده چې د قبض کولو نه مخکې کټوتی او پس د قبض نه داخله او واپسئ کې حکم یو شان نه دې (۳) فقط

د قبض کولو نه مخکې په جی. پی فنډ کې په خپله مرضئ باندې تنخواه جمع کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ماته ستاسو په وجه باندې دا علم وشو چې دا قبل القبض کټ کولې شی په دې وجه دا د حکومت او د بینکونو په ذمه دې د هغې نه تاسو بری یئ، بلکې د علماء کرامو قول دې چې دا د حکومت د طرف نه یوقسم ورکړه ده کومه چې هغوی په سود کې لیکی اوس قابل طلب امر ستاسو نه دا دې چې حکومت جی پی فنډ د خپل قانون د لاندې د میاشتې لس روپئ د یو استاذ د تنخواه نه کټ کوی، کوم چې په بینک کې د مذکوره استاذ په نوم سره د سود نه جمع

۱) قال العلامة الشیخ المفتي محمد شفیع: په زبردستئ سره په پرائیویډنټ فنډ باندې چې کوم د سود په نوم سره رقم ملاویږی هغه شرعاً سود نه دې بلکه د اجرت (تنخواه) یوه برخه ده. (پرا یویډنټ فنډ باندې د زکواة اود سود مسئله:۴)

۲) قال الله تبارک وتعالی: یا یها الذین امنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان کنتم مؤمنین. (سورة البقرة آیت :۲۷۸)

وعن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا ومؤکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء. (مشکوٰة المصابیح : ۲۴۴ باب الربوا)

۳) په زبردستئ سره د کټ کولو په صورت کې اضافی پیسې سود نه دې او بعد القبض داخله او د اختیاری کټ کولو په صورت کې اضافی رقم اخستل به سود وی. (مفتی سیف الله حقانی)

کیږی اوس که هم دا استاذ د حکومت په تجویز کړې شوې لسو روپو سره پنځه روپۍ په خپله مرضۍ باندې نور زیات کولو سره تولې پنځلس روپې په خپل جی پی فنډ کې په دې غرض جمع کول شروع کړی چې خیر دې حکومت هسې هم رقم کټ کوی نو پنځه دې ورسره نورې هم یوځای کړم چې زما په فنډ کې رقم زیات جمع شی نو آیا په دې صورت کې هم د جی پی فنډ په رقم کې خرابی نه راځی؟ که راځی نو څومره راځی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحمید خان ډیره......۳۰ مارچ ۱۹۷۰ء

الجواب: په خپله مرضۍ سره کټ کول ناجائز دی ځکه چې د بینک مالکان په دې باندې سودی کاروبار کوی نو د دې په خپله مرضۍ کټ کولو کې اعانة علی المعصیة موجود دې چې حرام او منع دې.(۱) وهوالموفق

پی ایل ایس شرعی حیثیت

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نوې بینکاری نظام (پی ایل ایس) چې په هغې کې لاندې لیکلې شوې امور موندلې شی:

۱: د دې لین دین قانونی حیثیت د واجب الادا قرض وی.

۲: بینک خپلې کاتې والو ته د نفع په نوم چې کوم زیاتی رقم ورکوی او د خپلو قرضدارو نه چې کوم زیاتی رقم اخلی د هغې تعین دوخت او د مال تعداد د کمی او زیاتی په لحاظ سره وی، مثلاً سل روپۍ والا کهاته دار دپاره که په کال کې سل روپۍ زیاتوی نو په شپږو میاشتو پنځه روپۍ او په دوه کاله کې شل روپې وی.

۳: د پیسو جمع کونکو ته چې کومه منافع ورکولې شی د هغې زائد تعین به

---

(۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. (سورة المائدة آیت ۲)

وفی المرقاة: (عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه) وقال النووی فیه تصریح بتحریم کتابة المترابیین والشهادة علیها وبتحریم الاعانة علی الباطل.

(مرقاة المفاتیح ۶:۵۹ باب الربا)

فریقین نه کوی بلکې د هغې د تعین کولو اختیار به هر شپږ میاشتې پس د ستیټ بینک ته دې.

۴: بینک قرض دار (کهاتې والا) او قرضدار بینک ته هر کال هغه رقم ضرور ادا کوی، چې د هغې تعین به ستیټ بینک کوی الخ، آیا دا جائز دی یا ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا تاج زرین صاحب مفتی دارالعلوم هیر کړه تحصیل تخت بهائی مردان ... ۲ مارچ ۱۹۸۹ء

الجواب: دا بې علمه خلق دې معاملې (پی، ایل، ایس) لره قرض ګنی خو دا په حقیقت کې شرکت دې او دا خلق دا هم وائی چې دا پیسې په سودی معاملاتو کې نه شی استعمالولې نو په دې بناء باندې چې په دې کهاته کې رقم جمع کول ناجایز نه دی او دا کهاته په نسبت د کرنټ آسانه ده. **لعدم وعد عدم الصرف فی المعاملات الربویة فی حق هذه**... او چونکې دا بې اعتماده خلق دی لکه چې د بعض اهل کارو د بیاناتو نه معلومیږی چې په دې کې او سودی کهاته کې هیڅ عملی فرق نشته لهذا د دې شبهې د وجې نه مناسب دا ده چې بغیر د ضرورت نه په دې کهاته کې هم پیسې جمع کول جائز نه دی (۱)، (۲) **وهوالموفق**

مروجه کمیټی جائز ده یا نه؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا کاروباری خلقو چې کومه طریقه د کمیټۍ په نوم باندې اختیار کړې ده هغه دا چې مثلاً لس سړی جمع شی او خپل مینځ کې د میاشتې سل سل روپۍ

---

(۱) وعن النعمان بن بشیر قال قال رسول الله ﷺ الحلال بین والحرام بین وبینهما مشتبهات لا یعلمهن کثیر من الناس فمن اتقي الشبهات استبرأ لدینه وعرضه ومن وقع في الشبهات وقع في الحرام. (مشکوة المصابیح ۲۴۱ کتاب البیوع، باب الکسب وطلب الحلال)

(۲) اود تحقیقاتو نه معلومه شوې ده چه دا صرف شبه نه ده بلکه حقیقت دې، لهذا د عدم جواز حکم به ورکولې شی. (مفتی سیف الله حقانی)

جمع کوی، بیا په دې پیسو باندې قرعه اندازي کوي چې د چا نوم راوځي هغه ته پیسې ورکولې شي، دغه شان هر میاشت قرعه اندازي کیږي او هر یو ته خپله حصه ملاویږي آیا دا طریقه جائز ده یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتي: گل حلیم شاه کلي او ډاکخانه بنوں تحصیل ټانک... ۳ مارچ ۱۹۸۷ء

الجواب: چونکې دمال مشترک نه یو شریک ته قرض ورکول جائز دی (۱) لهذا دا معامله جائز ده، او چونکې دا قرعه اندازي د طیب خاطر او رفع شغب دپاره ده نه د ګټې او بیلات (تملیک او تملک) دپاره، لهذا دا قرعه اندازي قابل اعتراض نه ده. (۲) او په قرض اخستلو کې سبقت ممنوع نه دې. والله اعلم بالصواب

د بینک ورکړې شوې قرضه قسط وار ادا کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بنده د بینک ملازم وو، د حرام کیدو د وجې نه ئې ملازمت پریښودلو، بنده د ملازمت په دوران کښې د بینک نه قرضه اخستلې وه چې په هغې باندې ما ډاتسن اخستلې دې، اوس قرضه بینک والا غواړي نو د هغې صورت به دا وی چې

---

(۱) وفي شرح المجلة: كيفما يتصرف صاحب الملك المستقل بملكه يتصرف ايضا في الملك المشترك اصحابه بالاتفاق كذلك... يجوز لاحد اصحاب الحصص التصرف مستقلا في الملك المشترك باذن الآخر.

(شرح المجلة ۴:۱۱،۱۲ المادة ۱۰۷۱،۱۰۶۹ الفصل الثاني في بيان كيفية التصرف في الاعيان المشترك)

(۲) قال العلامة العيني: ربما يتهم في ذلك فيستعمل القرعة لتطيب قلوب الشركاء ونفي تهمة الميل وذلك جائز كما استعمل يونس عليه السلام في مثل هذا مع اصحاب السفينة... وكذلك زكريا عليه السلام استعمل القرعة مع الاحبار في ضم مريم عليه السلام ... وكان رسول الله ﷺ يقرع بين نسائه اذا اراد سفرا تطيبا لقلوبهن.

(البناية في شرح الهداية ۱۴،۱۶۱،۱۶۲ كتاب القسمة، فصل في كيفية القسمة)

واخلم به خرڅوم یا به د میاشتې زر روپۍ قرضه بینک ته ادا کوم، نو آیا په دې پیسو باندې به کاروبار صحیح وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: خالد رحمٰن انجنیرنگ ورکشاپ احمدی بانډه ضلع کوک ۲۰ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: تاسو په هر دواړو شقونو باندې عمل کولې شئ یو هم پکې ناجائز نه دې. وهوالموفق

د بینک د کور د تعمیر دپاره پیسې ورکولو سره د هغې کرایه اخستل سود دې یا نه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا خلق د بینکونو نه د تعمیراتو دپاره قرض اخلی د دې طریقه کار داسې وی چې یو سړې دبینک نه یو لاک روپۍ اخلی کله چې کور تیار شی نو پنځه سوه روپۍ (ماهوار قسط دوه سوه روپۍ) کرایه د هغه کور والا بینک ته وصولوی، هغه کور مالک نه شی خرڅولې، ترڅو پورې چې هغه ټولې روپۍ ادا نه کړې شی نو دا کرایه اخستل او ورکول جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی کریم شاه بجلی گهر مردان .... ۸ فروری ۱۹۸۹ء

الجواب: که دا پیسې دې آبادی کونکو ته په طور د قرض ورکړې شوې دی نو د اهل بینک دپاره دا دوه سوه روپۍ کرایه اخستل حرام دی.(۱) ځکه چې د قرض په صورت کې تاسو مالکان شوی یئ. (۲) او د غیر مملوکه آبادۍ کرایه ورکول هیڅ جواز نه لری (۳)

---

۱) في امداد الفتاوي: كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزي في شرح الجامع الصغير. (امداد الفتاوي ۳:۲۷۰ كشف الدجي عن وجه الربوا)

۲) قال العلامة ابن عابدين: ويملكه المستقرض بالقبض كالصحيح.
(ردالمحتار ۴:۱۹۱ فصل في القرض)

۳) في شرح المجلة: وشروط المعقود عليه ستة... وكون الملك للبائع فيما يبيعه لنفسه... وما يكون شرطاً لانعقاد البيع يكون شرطاً لانعقاد الاجارة.
(شرح المجلة ۲:۵۲۷، المادة: ۴۴۴ الفصل الثاني في شروط انعقاد الاجارة)

۲: او که دا پیسې د وکالت په طور ورکړې شوې وی (چه ته زمونږ د طرف نه وکیل نې، د سامان او آبادئ انتظام وکړه، د ناظر په شان) نو دا آبادی د اهل بینک ملکیت دې. (۱) بیا دې ته قرضه ویل غلط دی (مفتی رشید احمد صاحب) په دې باندې کرایه اخستل جائز دی خو دې رقم ته قرضه ویل هیڅ معنی نه لری. وهوالموفق

په تاج کمپنۍ کې د هغې د هدایاتو مطابق پیسې ورکول سود دې یا نه؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه نه خپله سود اخلم او نه ورکوم ماسره څه پیسې دی هغه زه په تاج کمپنۍ کې لګول غوارم، تاج کمپنی والا وائی چې مونږ نفع ورکوو او ما په اخبار کې لوستلې دی چې په تاج کمپنۍ کې پیسه لګول صحیح نه دی. بینواتوجروا

المستفتی: محمد علی کینیډا .... ۱۶ رمضان المبارک ۲ مئی ۱۹۸۸ء

الجواب: په تاج کمپنۍ کې د هغوی د هدایاتو موافق پیسې ورکول بیشکه سود دې، **کل قرض جر نفعاً فهو ربا** (۲) کې داخل دې، د منافع په تعین سره

---

(۱) قال العلامة محمد خالد الآتاسي: لا يشترط اضافة العقد الي الموكل بالبيع والشراء والاجارة والصلح عن اقرار فان لم يضف الي مؤكله واكتفي باضافته الي نفسه صح ايضا وعلي كلتا الصورتين لا تثبت الملكية الا لموكله.

(شرح المجلة ۴۲۶:۴ المادة: ۱۴۶۱ الفصل الاول في بيان احكام الوكالة)

(۲) عن علي رضي الله تعاليٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط.

(بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم حديث ۸۱۲)

وفي امداد الفتاويٰ: كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزي في شرح الجامع الصغير.

(امداد الفتاويٰ ۲۷۰:۳ كشف الدجي عن وجه الربوا)

مضاربت هم فاسدیږی. (شامی) (۱) وهوالموفق.

په سودی رقم سره مدرسه جوړول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بینک نه په حاصل شوې پیسو باندې د دینی مدرسې دپاره د رهائش کمرې جوړول وغیره جائز دی یا نه؟ او دا رقم په غریبانانو، یتیمانو یا طالبانو باندې خرچ کیدلې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: از فتح جنگ مسجد اسد بابا اډه لاریا.......۱۹۷۶ء |۱|۱۱

الجواب: په دې پیسو سره د مدرسې تعمیر جائز دې خو غوره دا ده چې په مسکینانو او طالبانو وغیره باندې بغیر د ثواب د نیت کولو نه تقسیم کړې شی. کمافی فتح الملهم(۲) والهندیة(۳) وردالمحتار(۴) او د مسکینانو دپاره به ئې په اخستلو کې ګناه نه وی.

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: (وكون الربح بينهما شائعا) فلو عين قدراً فسدت.
(الدرالمختار ۴:۵۴۰ كتاب المضاربة).

(۲) قال العلامة الشيخ البنوري: ويستفاد من كتب فقهاء نا كالهداية وغيرها ان من ملك بملك خبيث ولم يمكنه الرد الي المالك فسبيله التصدق علي الفقراء... قال ان التصدق بمثله ينبغي ان ينوي به فراغ ذمته ولا يرجوا به المثوبة.
(معارف السنن ۱:۳۴ ابواب الطهارة، باب ماجاء لا تقبل صلوٰة بغير طهور)

(۳) في الهندية: واذا مات الرجل وكسبه خبيث فالاولیٰ لورثته ان يردوا المال الي اربابه فان لم يعرفوا اربابه تصدقوا به.
(فتاویٰ هندية ۵:۳۴۹ الباب الخامس عشر في الكسب)

(۴) قال العلامة ابن عابدين: ويردونها علي اربابها ان عرفوهم والا تصدقوا لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد علي صاحبه.
(ردالمحتار ۵:۲۷۳ فصل في البيع، كتاب الحظر والاباحة)

كما في شرح الاشباه للحموى ۱۱۶ وينبغي ان يستثنى الاخذ بالربوا للمحتاج فانه لايحرم كما صرح به المصنف في البحر ويحرم على الدافع الاعطاء بالربوا(۱).
وهوالموفق

په بينک کې ختم قرآن کول او په هغې باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې چوتکې حالیه دور کې په لاچی کوهاټ کې بینک پرانستلې شوې دې په هغې کې یو مولوی صاحب د رمضان په میاشت کې ختم القرآن کوی، چونکې دا د سودی کاروبار اداره ده په دې وجه په دې کې د قرآن کریم تلاوت شرعی جواز لری یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالغفور لاچی کوهاټ..... ٤ ستمبر ۱۹۷۷ء

الجواب: په بینک کې د قرآن لوستل د قرآن او اهل علم توهین دې.(۲) بل په دې باندې اجرت اخستل سود خوری ده څکه چې دا اجرت د سودی رقم نه ورکولې شی. (۳) وهوالموفق

---

۱ ﴾(غمزعیون البصائر شرح الاشباه والنظائر ۴۴۹ :۱ القاعدة الرابعة عشرة ما حرم اخذه حرم اعطائه)

۲ ﴾وفي البزازية: واداب القرآن ان لا يقرأ في مثل هذه المجالس والمجلس الذي اجتمعوا فيه للغناء والرقص لا يقرأ فيه القرآن كما لا يقراء في البيع والكنائس لانه مجمع الشيطان.
(البزازية علي هامش الفتاوي العالمگيرية ۶:۳۳۸ التاسع فيما يقال في القرآن والاذكار)

۳ ﴾وفي مشكوة المصابيح: عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آكل الربوا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء.
(مشكوة المصابيح ۲۴۴ باب الربوا، الفصل الاول)

د امانت پیسې په بېنک کې کېښودل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما سره د اکثرو خلقو امانتونه پراته وی خو په کور کې پیسې کېښودل نن صبا د خطرې نه خالی نه دی، د امانت کېښودنکی وائی چې زمونږ پیسې تاسو په بېنک کې کېږدئ بیا به د خطرې سوال نه پیدا کیږی. لهٰذا مطلوب دا ده چې زه د خلقو امانتونه په بېنک کې کېښودلې شم یا نه؟ حال دا چې په بېنک کې په پیسو کېښودلو باندې نفع نه زه اخستل غواړم او نه ئې امانت والا. **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالرحیم ساکن مندنی تحصیل چارسده..... ۱۳۱ کتوبر ۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم! وروسته له سلامه دې واضحه وی چې په تاسو باندې دا ضروری نه ده چې د چا امانت ځان سره وساتئ لهذا ستاسو دپاره د دې پیسو په بېنک کې داخلول اگر چې بغیر د سود نه وی، بغیر د ضرورت کیدو د وجې نه ناجائز دی. قال الله تعالٰی: **ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان**.....(۱) وهوالموفق

د بېنک د نوکرئ د حرمت وجه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په بېنک کې د نوکرئ جواز لري یا نه؟ که حرامه ده نو د دې څه وجه ده؟ حال دا چې نوکر خو دخپلې نوکرئ عوض اخلی، ددې نه علاوه که دا حرام وی نو بیا ټول ملک یا نظام په دې روان دې مهربانی وکړئ ددې مناسب تفصیل وکړئ؟ **بینواتوجروا**

---

۱) (سورة المائدة آیت: ۲)

وفي المرقاة: عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه، قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل. (مرقاة المفاتيح ۶:۵۹ باب الربا، الفصل الاول)

المستفتي: محمد انور از کوهاټ......۱۳۱کتوبر ۱۹۸۸ء

الجواب: واضحه دې وی چې په سودی کاروبار کې ګواه یا منشی کیدل د حرامو مور ده، لورود اللعنة علیهم(۱) که په هغې کې په کتابت یا شهادت باندې څه پیسې ملاویږی او که نه؟ بلـه دا چې په دې معاوضه کې تعاون علی المعصیة دې. (۲) لقوله تعالی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. (۳) د دې نه علاوه دا معاوضه اصل زر نه دی په زائد رقم باندې دا نظام روان دې په خلاف د مالکانو چې د هغوی پیسې ټول په ټول حرام نه شی کیدې، څوک ۱/۲۰ یا ۱/۳۰ حصه سودی رقم وی نو د بینک ټولو پیسو ته حرام ویل بې ځایه او غلط دی. والله الموفق

انعامی بانډونه او لاټری ټکټونه اخستل
او په هغې باندې د نفع اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: بعض خلق انعامی بانډونه اخلی او په هغې باندې د قرعه اندازئ نه پس چې کومه نفع یا صله ملاویږی د هغې شرعی حکم څه دې؟

۲: د لاټرئ ټکټ اخستل او په هغې باندې نفع اخستل څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: بشیر الله سکنه عمرزئ ضلع چارسده...... ۱۳ صفر ۱۴۱۱ھ

---

۱) عن جابر رضي الله تعالي عنه: قال لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم. (مشكوٰة المصابيح ۲۴۴: ۱ باب الربا)

۲) قال العلامة القاري رحمه الله: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكواة المصابيح ۵۹۶ باب الربا)

۳) (سورة المائدة آيت: ۲)

الجواب: دا ټول حرام دی دا معاملات جواری یاد تعاون فی الربا نه خالی نه دي (۱) وهوالموفق

د سودی مال ښه تالاش او فنډ (خزانه) د محکمې د اجازت نه بغیر په کوم مقصد کې استعمالول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عموما سرکاری مدارسو کې فنډ په یو بینک یا ډاکخانه کې جمع کوی چېرته چې په دې باندې سود لګولې شی د دې د جانچ پړتال دپاره مدیرصاحب یو معلم مقرر کوی، کله کله هغه په بل معلم باندې ښه تالاش کولو سره د تلاش کوونکی په ځای خپل دستخط وکړی، اوس تاسو بیان کړئ: ۱: که هیډ ماسټر ما ته د مذکوره کار د پرځای کولو حکم راکړی نو آیا زه انکار کولې شم؟ که د انکار کولو ضرورت نه وی نو زه به دا کار څنګه کوم؟

۲: په بل صورت کښې د تلاش کوونکی په حیثیت سره په دې مذکوره رجسټر باندې دستخط کولې شم یا نه؟ د دې نه علاوه کله کله داسې هم کیږی چې فنډ په یو بل داسې کار خرچ کولې شی چې د محکمې د طرف نه په هغې کې د فنډ د لګولو اجازت نه وی، بیا محکمې ته د صحیح حساب ښودلو دپاره په رجسټر کې جعلی رسیدونو سره فنډز د خپل مقصد دپاره د خرچ کولو اندراج کولې شی آیا دا جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحمید معلم گورنمنټ هائی سکول

ډیره اسماعیل خان...... ٤ ذی القعده ۱۳۸۹ھ

---

(۱) قال الله تبارک وتعالي: انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه. (سورة المائدة آیت: ۹۰)

وقال الله تعالي: ولاتعاونوا علي الاثم والعدوان. (سورة المائدة آیت: ۲)

وفي مشکوٰة المصابیح: عن جابر قال لعن النبي ﷺ آکل الربوا و موکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء.

(مشکوٰة المصابیح ۱:۲۴۲ کتاب الربوا)

الجواب: ۱: چونکې دا هم اعانة على المعصية (الربا) ده لهذا د دې نه پرهيز کول پکار دی، قال رسول الله ﷺ اذا اقرض الرجل الرجل فلا يأخذ هدية رواه البخاري في تاريخه هكذا في المنتقى (مشكاة ۲۶۵) (۱) د دې حديث نه دا اصل او قاعده فقهاء کرامو مستنبط کړې ده چې:

كل قرض جر نفعا فهو ربا (۲) وقال الله تعالى: ولا تعاونوا على الاثم والعدوان (۳) الآية، ولعن رسول الله ﷺ آكل الربوا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم (۴).

۲: تالاش هم اعانت دې (۵) او د محکمې د اجازت نه بغير په څه مقصد کې خرچ کول خيانت دې (۶) وهوالموفق

---

۱) (مشکوٰة المصابيح ۲۴۶ باب الربوا)

۲) وفي مجموعة قواعد الفقه: قاعده ۲۳۰. كل قرض جر نفعا فهو ربا حرام، وعلي حاشيته: وعلي هذا لا يجوز الانتفاع بالمرهون وروي الحارث ابن ابي اسامة في مسنده عن علي رضي الله تعالي عنه بلفظ كل قرض جر منفعة فهو ربا.
(مجموعة قواعد الفقه ۱۰۲)

۳) (سورة المائدة آيت: ۲)

۴) (الصحيح المسلم ۲:۲۷ باب الربا)

۵) وقال العلامة النووي رحمه الله: وكاتبه وشاهديه هذا تصريح بتحريم كتابة المبايعة بين المترابيين... وفيه تحريم الاعانة علي الباطل.
(حاشية النووي علي الصحيح المسلم ۲:۲۷ باب الربوا)

۶) وفي شرح المجلة: لا يجوز لاحد ان يتصرف في مال الغير بلا اذنه وعدم التصرف شامل لجميع انواع التصرف. (شرح المجلة ۱:۲۶۲، المادة ۹۶)

په ترقیاتی پروګرام کې روپئ جمع کولو سره

د سود د احتمال سره حرمت نه ثابتیږي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې د مربوط دیهی ترقیاتی پروګرام دفتر دې، د دفتر عملې په هره علاقه کې د څو ممبرانو کمیټئ جوړې کړې دی کوم چې د هر ممبر نه څه رقم بغیر د سود نه په طور د فنډ (خزانې) جمع کوی د صاحب مال دپاره په دې باندې هیڅ سود نه وی، وړاندې راته دا نه ده معلومه چې هغوی په دې باندې بل څه کاروبار کوی یا نه؟ آیا په دې دفتر کښې ددې ممبرانو دپاره رقم جمع کول جائز دی. بینواتوجروا

المستفتی: محمد علی شاه حسن خیل بنوں...... یکم ربیع الثانی ۱۳۹۷ھ

الجواب: صرف په احتمال سره حلال نه حرامیږي، د یقین یا ظن غالب په صورت کې حرمت ثابتیږي. (۱) وهوالموفق

د دارالحرب تعریف او په هغې کې د سود اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دار الحرب څه ته وائی؟او په دارالحرب کې سود اخستل څه حکم لري؟ د بعض علماء کرامو

---

(۱) قال العلامة ابن نجیم: ما ثبت بیقین لا یرتفع الا بیقین والمراد به غالب الظن ... ولو شک في الحرمة لم یعتبر.

(الاشباه والنظائر ۶۸، ۵۹ القاعدة الثالثة: الیقین لا یزول بالشک)

وفي شرح المجلة: ان الامر المتیقن ثبوته لا یرتفع الا بدلیل قاطع ولا یحکم بزواله بمجرد الشک کذلک المتیقن عدم ثبوته لا یحکم بثبوته بمجرد الشک لان الشک اضعف من الیقین فلا یعارضه ثبوتا وعدما.

(شرح المجلة ۱۸ : ۱، المادة: ۴ الیقین لا یزول بالشک)

نه مو اوریدلي دی چې په دارالحرب کې سود اخستل جائزدی؟بینواتوجروا

المستفتي: گل ضمیر مغربي جرمني سکنه صالح خانه .....۱۴۰۱ھ.....۱۴مئ

الجواب: دار الحرب هغه وطن دې چې په هغې کې د کفارو تسلط او اقتدار وي، اهل اسلام بغیر د اجازت نه د شعائر اسلام مظاهره نه شي کولې. (۱) مثلا، روس، چین، جرمنی، امریکه وغیرها ټول په ټول دارالحرب دی.

۲: په دار الحرب کې د مسلمان د مسلمان نه سود اخستل اجماعا حرام دی، خو د مسلمان د کافر نه سود اخستل مختلف فیه دی د طرفین په نزد جائز دی او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد ناجائز دی. (۲) محققینو عدم جواز ته راجح ویلې دی. (۳) وهوالموفق

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصكفي: لا تصير دارالاسلام دارحرب الا بامور ثلاثة باجراء احكام اهل الشر ك ،وباتصالها بدارالحرب ،وبان لايبقي فيهامسلم اوذمي آمنا بالامان الاول علي نفسه (الدرالمختار ۳:۲۷۷باب المستأمن، مطلب فيما تصير به دارالاسلام دارحرب)

۲ ﴾ قال العلامة ابن نجيم: (قوله ولا بين الحربي والمسلم ثمه) اي لا ربا بينهما في دارالحرب عندهما خلافا لابي يوسف.

وقال العلامة ابن عابدين علي حاشيته: فالظاهر ان الاباحة بقيد نيل المسلم الزيادة وقد الزم الاصحاب في الدرس ان مرادهم من حل الربا والقمار ما اذا حصلت الزيادة للمسلم نظراآلي العلة وان كان اطلاق الجواب خلافه.

(البحر الرائق ۶:۱۳۶باب المستأمن)

۳ ﴾ قال العلامة الجنجوهي: سوال: په دې حربی ښارونو کې خپلې روپۍ ورکول او په هغې باندې سود اخستل جائز دی یا نه؟

الجواب: د کافرانو هم سود اخستل جائز نه دی. فقط والله اعلم.

(فتاوي رشيديه: ۴۱۰سود کی مسائل کا بیان)

وقال العلامة التهانوي: ددې نه پس چه د دواړو قولونو په دلائلو کې نظر اوکړې شو نود ابو یوسف رحمه الله دلائل قوی دی، دهغې نه صرف یو دلیل دې وخت ذکر کوم، د ربٰوا د تحریم په آیاتونو کې ارشاد دې:یآیها الذین آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان كنتم مؤمنين. او ښکاره ده چې ددې بقیه ربٰوا معامله ...[بقيه برصفحه آئنده...

په دار الحرب کښې سودي کاروبار، جواري، د لاټرۍ ټکټونه اخستل او د شرابو د تجارت حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په دار الحرب کې چې علماء احنافو د کوم عقد فاسد اجازت ورکړې دې د هغې په رڼا کې آیا ۱: امریکه، جرمنی، انګلینډ وغیره ملکونو کې سودی کاروبار او سود اخستل جائز دی یا نه؟

ب: په سود اخستلو او ورکولو کې څه فرق شته یا نه؟

۲: کفایة المفتی کتاب الحظر والاباحة ۲۲۹ کې د جواز القمار بالحربی تصریح ده نو په دې لحاظ سره به د لاټرۍ ټکټ اخستل په دار الکفر کې جائز وي یا نه؟

۳: آیا مسلمان په دار الحرب کښې د کفارو سره د شرابو تجارت کولې شی حال دا چې د شرابو بیع فاسد ده؟

۴: کومې پیسې چې په دار الحرب کې په سود سره حاصلې شی هغه په خپل استعمال کې راوستلې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرحمن حقانی امام السالمی سنټر آف سټاکټن (آمریکه) ۱۵ نومبر ۱۹۸۷ء

الجواب: ۱: الف: حربی سره په دار الحرب کې سودی معامله جائز ده. (۱)

...بقیه ازحاشیه گذشته]

کوم وخت شوې ده اخستونکی ورکونکی ټول حربی وو، نو د تحریم نه پس که چیرته د حربی سره داسې معامله جائز وې نود تحریم نه مخکې خوبه په درجه اولی جائز وه، او دغه روپۍ (مال) به حلال وو، نو ددې پریښودل به ولې فرض کیدل، او نص قطعی دې ثبوتاً هم دلالةً هم، اود طرفینو دلیل یا خبر واحد دې یا قیاس، چه دا ظنی دې اود قطعی تقدیم په وجوب ظنی باندې اجماعی دې (امداد الفتاوي ۳:۱۵۷،۱۵۸ کتاب الربوا، رساله رافع الضنک عن منافع البنک)

(۱) قال العلامة الحصكفي: (ولا بين حربي ومسلم) مستأمن ولو بعقد فاسد وقمار. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۲۰۹ قبیل باب الحقوق

ب: او زیادت اخستل جائز دی خو زیادت ورکول زیر غور دی.(۱)

۲: جائز دی.(۲)

۳: جائز دی، مثل المیتة خو په مسلمان باندې خرخول ئې جائز نه دی.(۳)

۴: هرکله چې دا سود وغیره حلال کړې شوې دی نو ذاتی استعمال کې گناه نشته. جمیع هذه المسائل مأخوذة من رد المحتار .... ۱۸۸/٤ قبیل باب الحقوق...وهوالموفق

تنبیه: د دې نه مخکې او په دې مسئله کې تضاد دې، ووجه التطبیق انه ذکر اولاراي المحققین وثانیاً رایه.(مفتی سیف الله حقانی)

آیا بینک ته د کور په کرایه باندې د ورکولو گنجائش شته؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې چې د هغه الحمدلله وسیع کاروبار دې او مختلف کورونه ئې په کرایه باندې ورکړې دی په هغې کې هغه یو دکان بینک ته په کرایه باندې ورکړې دې آیا داکرایه اخستل د هغه دپاره حلال دی؟ په امدادالفتاوی باب الربوا کې د اعانة

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله لان ماله ثمه مباح) قال في فتح القدیر: لا یخفي ان هذا التعلیل انما یقتضي حل مباشرة العقد اذا کانت الزیادة ینالها المسلم... وقد الزم الاصحاب في الدرس ان مرادهم من حل الربا والقمار ما اذا حصلت الزیادة للمسلم نظراً الي العلة وان کان اطلاق الجواب خلافه.

(ردالمحتار ۲۰۹:۴ قبیل باب الحقوق)

۲) ایضاً حاشیه بالا_

۳) قال العلامة ابن نجیم: (قوله ولا بین الحربي والمسلم ثمه) اي لا ربا بینهم في دارالحرب... وکذا اذا باع خمرا او خنزیرا او میتة اوقامرهم واخذالمال کل ذلک یحل له. (البحر الرائق ۱۳۵:۶ قبیل باب الحقوق)

على المعصية په سلسله کې ماته چا اویل چې گنجائش موجود دې په دې وجه مې تاسو ته درخواست دې چې مدلل جواب راکړئ دحوالې سره. بينوا توجروا

المستفتي: قاری محمد امین ازوگنبد ..... یکم جنوری ۱۹۷۰ء

الجواب: دا اجاره د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد جائز ده او د صاحبينو په نزد ناجائز ده. يدل عليه ما في الدر المختار على هامش ردالمحتار ۵: ۳۴۵ وجاز اجارة بيت بسواد الكوفة ليتخذ بيت نار او كنيسة او بيعة او يباع فيه الخمر وقالا لا ينبغي ذلك لانه اعانة على المعصية انتهى (۱)

خو د شيخ الاسلام ميلان د صاحبينو د مذهب طرف ته دې.

قال شيخ الاسلام واراد بهذا اذا استاجرها الذمي ليسكنها ثم اراد بعد ذلك ان يتخذ بيعة او كنيسة فيها فاما اذا استاجرها في الابتداء ليتخذها بيعة او كنيسة لا يجوز (نتائج الافكار تكملة فتح القدير ۸: ۱۲۸) (۲)

د دې عبارت نه معلوميږي چې د شيخ الاسلام ميلان د صاحبينو د قول طرف ته دې او ممکنه ده چې د دې نه مراد د امام الائمة د کلام تاويل وي، بلکه دا چې د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل صاحب د نتائج الافکار په ډيرو جزئياتو سره منقوض کړې دې کوم چې د ذخيرة او محيط او د قاضي خان نه نقل کړې شوې دی. (۳) لهذا د صاحبينو په مذهب باندې عمل کول محتاط معلوميږي

---

۱) (الدر المختار ۲۷۸،۲۷۷:۵ فصل في البيع، كتاب الحظر والاباحة)

۲) (نتائج الافكار تكملة فتح القدير ۴۹۴:۹ فصل في البيع، كتاب الكراهية)

۳) وفي تكملة فتح القدير: اقول ينتقض هذا التعليل المذكور من قبل ابي حنيفة رحمه الله تعالى في هذه المسئلة بمسائل متعددة مذكورة في الذخيرة والمحيط وفتاوى قاضي خان وسائر المعتبرات... منها انه اذا استاجر الذمي من المسلم بيعة ليصلي فيها فان ذلك لا يجوز قال في المحيط والذخيرة لانه استاجرها ليصلي فيها... [بقيه بر صفحه آئنده...

كنه نو گنجائش د جواز هم شته خصوصاً په دار الحرب كښې. فقط

د بينك سره لين دين كول او د بينك د ملازمينو تنخواه گانې او د عربو ملكونو په بينكونو كښې د مال كيښودلو حكم

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كښې چې ۱: آيا د بينك سره لين دين حرام دې؟ ۲: د بينک د ملازمانو تنخواه گانې حرام دى كه حلال؟ ۳: كوم خلق چې په عرب ملكونو كښې په بينكونو كښې خپل مال ږدى د هغې څه حكم دې؟ ۴: كه د پيسو د حفاظت دپاره بغير د بينک نه بل ځاى نه وى نو بيا څه كول پكار دى؟ بينواتوجروا

المستفتي: قاضى علاء الدين كوهاټ ښهر

الجواب: واضحه دې وى چې مسئله مسئوله عنها طويلة الذيل ده لهذا په جواب على طور الانتخاب باندې اكتفاء كولې شى، فى الحال د استيعاب نه معذور يو د جواب ليكلو نه مخكښې څو اصول مسلمه ليكلې شى هغه دا دى: ۱: د قرض په وجه باندې چې كوم زياتى مال حاصل شى هغه سود دې، لحديث: كل قرض جرّنفعاً فهو ربا، رواه الحارث فى مسنده(۱) وهو سبب نزول آية الربا.(۲)

...بقيه ازحاشيه گذشته] وصلوة الذمي معصية عندنا وطاعة في زعمه واي ذلك اعتبرنا كانت الاجارة باطلة لان الاجارة علي ما هو طاعة او معصية لا يجوز، منها انه اذا استاجر المسلم من المسلم بيتا ليجعله مسجدا يصلي فيه المكتوبة او النافلة فان هذه الاجارة لا تجوز في قول علمائنا... ومنها انه اذا استاجر ذمي من ذمي بيتا يصلي فيه لا يجوز قال في المحيط والذخيرة لان صلوتهم طاعة عندهم ومعصية عندنا واي ذلك كان لم تجز الاجارة انتهي. (نتائج الافكار تكملة فتح القدير ۹:۴۹۴ فصل في البيع، كتاب الكراهية)

۱) (بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم حديث: ۸۱۲)

۲) قال العلامة الرازي: في سبب نزول الآية روايات فالاولي انها خطاب لاهل مكة كانوا يرابون فلما اسلموا عند فتح مكة امرهم الله تعالي ان يأخذوا رؤس اموالهم دون الزيادة. (التفسير الكبير ۷:۱۰۶ آيت: ۲۷۸)

ب : تعاون على المعصية حرام دي : لقوله تعالى : ولا تعاونوا على الاثم والعدوان...(۱)

ج : د ضرورت د وجې نه حرام مباح کيږي. لقوله تعالى: الاما ضطررتم(۲).

د : د حيثيت د اختلاف د وجې نه بعض وخت احکام مختلف کيږي، لحديث: لها صدقة ولنا هدية.(۳)

ه : په حرام مال سره د اخستلې شوې اجناس استعمال حلال وی کله چې د هغه دراهمو تعين نه وی کړې شوې يا هغه دراهم د اخستلو نه پس ادا کړې شوې وی. (رد المحتار ۲۱۹/٤) (۴)

و : هر امين په اختلاط سره مالک کيږي او په هغه باندې ضمان واجب

---

۱) (سورة المائدة آيت : ۲)

۲) (سورة الانعام آيت : ۱۲۰)

وفي شرح المجلة : الضرورات تبيح المحظورات.

(شرح المجلة ۱:۵۵ المادة : ۲۱)

۳) (الصحيح البخاري ۱:۲۰۲ كتاب الزكوة، باب الصدقة علي موالي ازواج النبي ﷺ)

٤) قال العلامة ابن عابدين : رجل اكتسب مالا من حرام ثم اشتري فهذا علي خمسة اوجه : اما ان دفع تلک الدراهم الي البائع اولا ثم اشتري منه بها او اشتري قبل الدفع بها ودفعها او اشتري قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشتري مطلقا ودفع تلک الدراهم او اشتري بدراهم اخر ودفع تلک الدراهم...وقال الكرخي في الوجه الاول والثاني لا يطيب وفي الثلاث الاخيرة تطيب وقال ابوبكر لا يطيب في الكل لكن الفتوي الآن علي قول الكرخي.

(ردالمحتار ۴:۲۴۴ مطلب اذا اكتسب حراما ثم اشتري الخ)

کیږی. ردالمحتار ۲/۳۵ (۱)

پس د دې اصولو په بناء په بینک کې بغیر د ضرورت نه مال کیښودل حرام دی اګر چې بغیر د سود نه وی او چونکې ملازمینو ته مشاهرات د زائد مال نه ورکولې شی نه د اصل زر نه لهذا دا تنخواه ګانې اخستل به مشروع نه وی په دې احکاماتو کې په عرب او عجمو کې هیڅ فرق شته بعض مصری متجددینو د سود د جواز ناکام کوشش کړې دې باقی ټولو علماء کرامو دې ته حرام ویلې دی. (۲) او اهل بینک به ئې د اختلاط د وجې نه مالکان نه وی کله چې دا خلط بغیر د اجازت نه وی او په عرف عام کې دا اختلاط مجاز وی لهذا د حیثیت په فرق باندې به اکتفاء کولې شی، د دې مفسده د ازالې طریقه مضاربت صحیحه دې خو هغه هم عقلا ممکن دې دا د اعتماد زمانه نه ده او دا هم یو طریقه ده چې سرمایه دار خلق بغیر د سود نه پیسې کیږدی او اهل اقتدار یا د بینک مالکان په دې پیسو باندې تجارت کوی او د هغې نه په حاصل شوې ګټې باندې ملازمینو ته تنخواګانې ورکوی او خساره د قومی خزانې نه پوره کوی او محتاجو ته بغیر د سود نه قرضه ورکوی. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصكفي: (وكذا لو خلطها المودع) بجنسها او بغيره (بماله) او مال آخر (بغير اذن) المالك (بحيث لا تتميز) الا بكلفة... (ضمنها) لاستهلاكها بالخلط. (الدرالمختار ٤:٥٥٤ كتاب الايداع)

وقال العلامة ابن نجيم: وكذا المتولي الامين اذا خلط بعض اموال الناس ببعض اوالامانة بماله فانه ضامن، فالمودع اذا خلطها بماله بحيث لا يتميز ضمنها. (الاشباه والنظائر ٢٧٥ كتاب الامانات من الوديعة)

۲) قال الد كتور وهبة الزحيلي: ان فوائد المصارف حرام شرعا بنص القرآن والسنة واجماع الصحابة والامة والقول باباحتها مصادم بداهة للادلة الشرعية كلها النصية (القرآن والسنة) والاجتهادية (كالاجماع والقياس) ولا عبرة بقول من غير فقه وورع اوجهل بحقيقة اعمال المصارف.

(الفقة الاسلامي وادلته ٥:٣٧٥٤ فوائد المصارف البنوک حرام حرام حرام)

د مسلم بینک د دکاندارانو د طرف نه قرضه ادا کولو نه پس سره د زیادت نه قسط وار وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په عرب اماراتو کې مسلم بینک دکاندارانو ته قرضې ورکوی چې د هغې طریقه دا ده چې دکانداران د لوئې لوئې سوداګرو نه مال اخستلو سره د بینک منیجر دکان ته راوستلو سره معائنه وکړی خو د بینک والا د پنځوس زرو روپو په ځای درې پنځوس زره روپۍ قسط وار وصولوی او د دې ټولو نه مخکې دکاندار دولس زره روپۍ ضمانت هم په بینک کې جمع کوی او بینک پیسې تاجر ته ادا کوی، دکاندار صرف مال یوسی آیا دا طریقه جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ...... ۱۸ مارچ ۱۹۸۷ء

الجواب: دا معامله د ﴿ **كل نفع جر نفعا** ﴾ (حدیث) او قاعدې په بناء باندې ناجائز ده، او دا دویمه طریقه هم د دې دلیل د وجې نه حرامه ده، (**الحديث رواه الحارث في مسنده** (۱) **والقاعدة ذكرها الشامي في رد المحتار** ۴۲۷/۵ (۲) والهندية ۲۶۴/۳ (۳) **وهوالموفق**

---

۱ ﴾ عن علي رضي الله عنه : قال قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط (بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم حديث : ۸۱۲)

وفي امداد الفتاوي: كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزي في شرح الجامع الصغير.

(امداد الفتاوي ۲۷۰ : ۳ كشف الدجي عن وجه الربوا)

۲ ﴾ قال العلامة الشامي : (قوله كل قرض جر نفعا حرام) اي اذا كان مشروطا.

(ردالمحتار ۱۹۴ : ۴ مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

۳ ﴾ وفي الهندية : قال محمد رحمه الله في كتاب الصرف ان ابا حنيفة رحمه الله كان يكره كل قرض جر منفعة. (فتاوي عالمگيرية ۲۰۲ : ۳ الباب التاسع عشر في القرض والاستقراض)

د پاکستانی نوټ، هنډي او منی ارډر شرعي حیثیت

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د موجوده پاکستانی نوټ څه حیثیت دې، او د هنډي او منی ارډر شرعی حیثیت هم بیان کړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم.....۱٤١٠ھ

الجواب: واضحه دې وی چې که نوټ پاکستانی وی یا غیر پاکستانی نه سرۀ زر دی او نه سپین زر او نه قباله ده بلکې د فلوس په شان ثمن عرفی او ثمن رائج دې. (۱) او دا دې هم واضحه وی چې هنډي او منی ارډر نه بیع ده او نه قرض دې بلکې توکیل بالاجرت یا بلا اجرت دې. (۲) واضحه دې وی کله چې زید په پېښور کې بکر ته مثلا یو لاک روپۍ پاکستانۍ ورکړی او بکر ئې د خپل شریک په نوم چې په کابل کې تجارت کوی زید ته رقعه ورکړی او زید یو معین رقم د هغه شریک نه وصول کړی نو دا د منی ارډر د

---

(۱) قال العلامة وهبة الزحيلي : وبعد الاطلاع علي قرار المجمع رقم (۹) في الدورة الثالثة بان العملات الورقية نقود اعتبارية فيها صفة الثمنية كاملة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۷:۵۱۵۹ قرار رقم (۴) بشان تغير قيمة العلة)

وفي المنهاج : اختلف الاكابر في حقيقة النوت ، قال بعضهم انه قبالة الحوالة وليس بثمن... وقال بعضهم هو ثمن رائج... قلت ويؤيد كونه اثمانا رائجة ان المتعارف ان من اقترض عددا من النوت لا يؤدي المقرض الا هذا العدد.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۳:۱۲۷ باب ماجاء في زكوٰة الذهب والورق)

(۲) وفي شرح المجلة : اذا اشترطت الاجرة في الوكالة واوفاها الوكيل يستحقها وان لم تشترط ولم يكن الوكيل ممن يخدم بالاجرة يكون متبرعا وليس له مطالبته باجرة.

(شرح المجلة ۴:۴۴۵ المادة:۱۴۶۷ الباب الثالث في بيان احكام الوكالة)

وفي الفقه الاسلامي : تصح الوكالة باجر وبغير اجر.

(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۴۰۵۸ كتاب الوكالة ، الوكالة باجر)

نوعیت نه جدا نه دي او په خپل نوم باندې منی آرډر لیږل ممنوع امر نه دې (۱) بهر حال دا توکیل دې نه بیع ده او نه اقراض دې او که بیع وی نو ثمن عرفی (فلوس) کې په بدلین کې د یو قبض کول کافی وی، کمافی رد المحتار ٤/٢٥٠ (۲) او که دا نوټ رسید او قباله وی نو د دې نظیر د هروی او مروی کپړو ترمینځه د بدلون په شان دې لکه چې په هغې کې یو موجل وی، کمافی الدر المختار علی هامش رد المحتار ٤/٢٣٧ (۳) وهوالموفق

تنبیه : د بیع په صورت کې دا بیع بیع بالتعاطی کې داخل ده، وهوالمعمول فی ذلك العصر فحصل المخرج الثانی ...والله اعلم بالصواب

پرائز بانډ د تعاون علی المعصیت د وجې نه حرام دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې پرائز بانډ کوم چې د عام بینکونو نه حاصلیږی دا د لاټرئ یو قسم دې او لاټری خو بالاتفاق علماء کرامو ناجائز کړې ده اوس خبره دا ده چې دا د لاټرئ د عام قسمونو نه دې، په دې کې که د چا نوم راښکلو نو هغه رقم کوم چې هغه داخل کړې دې

---

(۱) قال العلامة اشرف علي التهانوي : منی آرډر مرکب دې د دوه معاملو نه، یو قرض دې کوم چې اصل پیسو سره متعلق دې، دویمه اجاره ده کوم چې د فارم لیکلو او روانولو باندې د فیس په نوم ورکولې شی، او دواړه معاملې جائز دی نو د دواړو مجموعه هم جائز ده او چونکې په دې کې ابتلاء عامه ده په دې و جه دې تاویل سره د جواز فتوی مناسب ده. (امداد الفتاوي ۳:۱۴۶ کتاب الربوا ،تحقیق منی آڈر)

(۲) قال العلامة ابن عابدین : لوعین احد البدلین دون الآخر وفیه صورتان فان قبض المعین منهما صح والا فلا.

(ردالمحتار ۴:۲۰۱ باب الربوا)

(۳) قال العلامة الحصکفي : (وان عدما حلا) کهروي بمرويین لعدم العلة.

(الدرالمختار ۴:۱۹۹ باب الربا)

هغه واپس ورکوی دغه شان په دې کې دا لزوم هم نشته چې د لاټرۍ د راوتلو پورې هغه رقم چې چا فارم کټ کولو سره داخل کړې وی هغه به ئې واپس نه اخلی بعض علماء دې ته جائز وائی ځکه چې په دې کې جواری نشته او د مضاربت په شان دې او بعض علماء دې پرائز بانډ ته ناجائز او حرام وائی او وائی چې په دې کې سود دې او د تردد د وجې نه هم حرام دې لهذا تاسو د قرآن او سنت په رڼا کې تفصیل وکړئ. بینواتوجروا

المستفتی: مولانا عبدالباری صابر چمن بلوچستان .... ۱۲ کتوبر ۱۹۹۰ء

الجواب: دا معامله د تعاون علی المعصیة د وجې نه حرام ده. (۱) دا کپمنی وغیره د خپلو جیبونو نه انعامات نه ورکوی بلکې د اخستونکو په پیسو باندې اعلی سود کوی. (۲) او منافع څه په انعاماتو او څه په ذاتی مفاداتو کې خرچ کوی. وهوالموفق

د لکی ډرا (Lucky Draw) حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د لکی ډرا شرعی څه حیثیت دې؟

المستفتی: فرید سویټ مرچنټ بیرون کچهری گیټ پشاور .... ۲ رمضان ۱٤۰۳ھ

الجواب: دا معامله د لکی ډرا د اسلامی اصولو د لاندې حرام ده په دې سره په سودی کاروبار کې تعاون دې کوم چې حرام دې. لقوله تعالی ولاتعاونو

---

۱) قال الله تبارک وتعالی: ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان.
(سورة المائدة آیت: ۲)

۲) وفي المرقاة: عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه) وقال النووي فیه تصریح بتحریم کتابة المترابیین والشهادة علیهما وبتحریم الاعانة علي الباطل. (مرقاة المفاتیح ٦:٥٩ باب الربا)

على الاثم والعدوان (۱) دا کمپنی د حاتم طائی کمپنی نه ده چې ممبرانو ته د خپل ذاتي مالونو نه انعامات ورکوی بلکه دا چې د دې قرعه اندازئ په ذریعه په قسطونو سره ادا شوې زیاتی مال ګټل دی چې هغې ته جواری وائی. (۲) وهوالموفق

د مورث په بیمه رقم باندې څه وکړې شی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زما ورور نیو جوبلی انشورنس کمپنی' سره خپل ځان بیمه کړې وو، د قدرت معامله وه چې هغه د دنیا نه آخرت ته لاړو، د هغه د وفات نه پس کمپنئ مونږ ته هغه پیسې راکړې یعنی زما ورور چې په کمپنئ کې څومره پیسې جمع کړې وې د هغې نه څو چنده زیاتې پیسې مونږ سره د کمپنئ جمع دی لهذا ستاسو نه تپوس کوم چې تاسو مونږ ته څه رائې راکوئ چې په دې پیسو باندې به مړی ته د قیامت په ورځ څه تکلیف وی او که نه او ماته به وی یا نه؟ او دا پیسې څنګه خرچ کړې شی، که رشته دارو ته ئې ورکړم کوم چې غریبانان دی نو جائز دی یا نه دی؟ په تفصیل سره ولیکئ که دا پیسې په مسجد یا دار العلوم کې خرچ کړې شی نو مړی ته به څه فائده وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی معراج الدین دیر ..... ۱٦ مارچ ۱۹٦۹ء

الجواب: دا پیسې واجب التصدق دی، غریب رشته دارو او طلبة العلم ته ورکول ئې صحیح دی په دې سره به د وارثانو ذمه فارغه شی. ان شاءالله.

---

۱) (سورة المائدة آیت: ۲)

۲) قال الله تبارک وتعالي: یآ یها الذین امنوا انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون. (سورة المائدة آیت: ۹۰)

وقال العلامة الحصکفي: ومن السحت ما یؤخذ اصحاب معازف وقواد وکاهن ومقامر. (الدر المختار مختصرا ۵:۳۰۱ فروع کتاب الحظر والاباحة)

چونکې مړی وصیت نه دی کړی په دې وجه هغه به په خپل فعل جوارئ باندې ماخوذ وی (۱)

فی الهندیة ۵/۳۸۵) اذا مات رجل وکسبه خبیث فالاولی لورثته ان یردوا المال الی اربابه فان لم یعرفوا اربابه تصدقوا به الخ(۲). وهوالموفق

د هاؤس بلډنګ فنانس کارپوریشن (House Building Finance Corporation)د کورجوړه د کرایه په نوم پیسې ورکول سود دی یا نه دی؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د House Building Finance Corporation کې به تاسو ته معلومه وی چې دا اداره قسط وار د کور جوړولو دپاره پیسې ورکوی او خلقو ته هم دا وائی چې دا رقم کرایه ده نو دا به واقعی کرایه وی یا سود؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مناظر خان نثار اینډ کمپنی دکان نمبر ۲۲ شاهنګ سنټر مردان ۱۹ جون ۱۹۹۰ء

الجواب: دا نوې معاملات د سود نه خالی نه وی، دې ته جائز ویل د ناخبره سړی کار وی مثلا کله چې پلاټ (خالی زمکه) د زید ده او پنځوس زره روپئ

---

۱) قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلي: وتجب الوصیة بحق الادمیین کودیعة ومغصوب اذا جهل ولم یعلم. (الفقه الاسلامي وادلته ۱۰: ۷۴۴۴ کتاب الوصایا، نوع حکم الوصیة الشرعي)

وقال العلامة ابن عابدین: وفي المواهب تجب علي مدیون بما علیه لله تعالي او للعباد. (ردالمحتار ۶:۴۵۸ کتاب الوصایا)

۲) (فتاوي هندیة ۵:۳۴۹ کتاب الکراهیة، الباب الخامس عشر في الکسب)

وقال العلامة ابن عابدین: والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین الحرام لا یحل له ویتصدق به بنیة صاحبه وان کان مالا مختلطا مجتمعا من الحرام ولا یعلم اربابه ولا شیئا منه بعینه حل له حکما والاحسن دیانة التنزه عنه. (ردالمحتار ۴:۱۴۶ مطلب فیمن ورث مالا حراما)

دې ادارې د قرض په طور ورکړې نو دا اداره د څه څيز په معاوضه کې زيادت اخلی.(۱) والله اعلم بالصواب

د مسجد جمع شوې سودی رقم په مسجد کې خرچ کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د يو مسجد رقم په ډاک خانه کې دوه زره روپئ جمع کړې شوې وو، د ۱۹۷۳ء نه ۱۹۸۴ پورې هغې سره د منافع پيسې جمع کولو سره اوس ټولې ۲۰۰۰۰ روپئ جوړې شوې دی، آيادا د منافع رقم مونږ په مسجد کې لګولې شو؟ بينواتوجروا

المستفتی: محمد اعظم مری.....۲۰ نومبر ۱۹۸٤م

الجواب: دا سودی مال په مسکينانو او غريبو طالبانو تقسيمول ضروری دی.(۲) په نورو امورو کې د دې خرچ کول خصوصا د مسجد په تعمير کې بيخی ناجائز دی.(۳) وهوالموفق

---

۱) عن علي رضي الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط.

(بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم حديث: ۸۱۲)

وفي امداد الفتاویٰ: كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزي في شرح الجامع الصغير.

(امداد الفتاویٰ ۳:۲۷۰ كشف الدجي عن وجه الربوا)

۲) قال العلامة ابن عابدين: ويردونها علي اربابها ان عرفوهم والا تصدقوا لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد علي صاحبه.

(ردالمحتار ۵:۲۷۳ كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع)

۳) قال العلامة ابن عابدين: (قوله لو بماله الحلال) قال تاج الشريعة اما لو انفق في ذلك مالا خبيثا ومالا سببه الخبيث والطيب فيكره لان الله تعالیٰ لا يقبل الا الطيب فيكره تلويث بيته مالا يقبله اه شرنبلالية (ردالمحتار ۱:٤۸۷ مطلب كلمة لا بأس دليل علي ان المستحب غيره، قبيل مطلب في افضل المساجد) ...[بقيه برصفحه آئنده...

د انشورنس حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې د

...بقيه ازحاشيه گذشته]

وفي مدارک التنزيل: كل مسجد بني مباهاة او رياء او سمعة او لغرض سوي ابتغاء وجه الله او بمال غير طيب فهو لاحق بمسجد الضرار.

(مدارک التنزيل علي هامش تفسير الخازن ۲۸۱:۲ سورة التوبة)

وفي كفاية المفتي: **سوال:** چونکې په مسلمانانو کې د معتمدعليه امين ملاويدل مشکل وو په دې وجه د سورتي جامع مسجد رنګون روپئ په سرکاري بينک کې (د محفوظ کولو په غرض سره، نه د سود حاصلولو په غرض سره) جمع کړې شوې، چه ددې شماره به تقريباً يو لاک روپئ وی چه ددې په وجه بينک دخپلې قاعدې (اصولو) مطابق په سود لګولو سره اندازاً په حساب سره درې څلور سوه روپئ د مياشت، هرکال جمات ته ادا کوی، ليکن ترستيان؟؟ جومات په سود ګټرلو سره دا روپئ اخستل نه خوښوی، که ترستيان؟؟ جومات دې لره د سود اعتقاد اونه کړی بلکه د رضامندئ د عطيې په خيال سره ئې وصول کړی نو شرعاً به جائز وی يا نه؟ په پورته پيش کړې شوی سوال کې دا ښکاره کړې شوی دی چې معتمد عليه امين ملاويدل مشکل وو. په اصل کې دا خبره نه ده بلکې د يوې وړاندينئ مقدمې کومه چې دې جومات سره متعلق ده دهغې نه پس د حکومت (د بينک) د فيصلې مطابق ترستيان جومات مجبوره دی چه د زرو روپو نه زياتې پيسې په بينک کې جمع کړی؟

جواب: سرکاري بينک امين ګټرل او دومره ډيرې روپئ ورته ورکول چې دهغې نه هغه ډيرې لوې لوې فائدې حاصلوی، ناجائز دی، په مسلمانانو واجب دی چه هغوی داسې تعلقات حکومت سره نه ساتی، چې دهغې نه هغوی ته دومره زيات امداد او فائده حاصله شی، خو که چيرې سخته مجبوري وی (لکه چې د سوال په آخر کې ښکاره کړې شوې ده) نو ددې مجبورئ ختمولو پوره کوشش دې اوکړی. اود مجبورئ ختميدلو پورې چې کوم د سود پيسې بينک ورکوی هغه دې اخلی او احتياطاً دې دغه پيسې د غريبانانو او مسکينانو مسلمانانو په ضروورياتو کې د جومات د طرفه خرچه کوی. فقط

(کفايت المفتي ۶۶:۸ باب الربوا «مسجد کي رقم پر سود لينا)

انشورنس کمپنۍ نمائنده دې هغه یو بل سړی ته ویل چې لس زره روپۍ به د یویشت کالو په موده کې په کمپنۍ کې جمع کول وی، په یویشت کالو کې د لسو زرو روپو رقم پنځه دیرش زره جوړیږي آیا شرعي نقطه نظر سره پنځه دیرش زره روپۍ د لس زره روپو جمع کونکی دپاره جائز دی او دا نمائنده دا لس زره روپۍ قسط وار اخستلو سره په دې باندې تجارت کوی که په تجارت کې څه نقصان راشي نو د دې پنځه دیرش زره منافع په ځای د درې دیرش زرو احتمال هم موجود دې او نور نقصان د ټیکس وغیره په ذریعه پوره کولې شي؟ بینواتوجروا

المستفتي: تاج محمد لزه هائی سکول راولپنډی ۱۰ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې د ممبر په رقم باندې سودی معاملات کولې شي. (۱) بله دا چې په دې معامله کې د نفع مقدار هم متعین وی لهذا دا معامله د شریعت په رڼا کې ناجائز ده. (۲) وهوالموفق

د کمپنۍ د کورونو دپاره قرضه ورکولو سره د هغې په کرایه کې شریکېدل سود دې یا نه؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې کمپنۍ او د

---

۱) وفي المرقاة: (عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آكل الربا ومؤكله وكاتبه وشاهديه)
قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل. (مرقاة المفاتيح شرح المشكوٰة المصابيح ۶:۵۹ باب الربا)

۲) وفي شرح المجلة "كون حصص الربح التي تنقسم بين الشركاء كالنصف والثلث والربع جزأ شايعاً شرط فاذا تقاول الشركاء علي اعطاء احدهم كذا قرشا مقطوعا تكون الشركة باطلة.
(شرح المجلة ۲۶۰:۴ المادة: ۱۳۳۷ الفصل الثاني في بيان الشرائط العمومية في شركة)
وقال العلامة الحصكفي: وشرطها اي شركة العقد... عدم ما يقطعها كشرط دراهم مسماة من الربح لاحدهما.
(الدرالمختار ۳:۳۶۹ كتاب الشركة)

ځمکې مالک خپل مینځ کې په شراکت سره کاروبار شروع کړو حال دا چې کمپنۍ والا پیسې ورکوی او د کور مالک په دې پیسو سره کور جوړوی اوس امدنی دواړه برابر تقسیموی اوس ځمکې مالک کمپنۍ والا ته وائی چې زما کومه حصه کته چې راځی هغه د خپلو روپو په عوض کې اخله چې تاسو ته پوره پیسې ملاؤ شی او ماته دا کور ملاؤ شی، داسې کول جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: صدیق شاه پیښور ......۳ مارچ ۱۹۹۱ء

الجواب: دا معامله ناجائز ده ځکه چې که کمپنۍ دا رقم مالک ته د قرض په طور ورکړې وی نو دا تعمیر به هم د ځمکې د مالک مملوک وی.(۱) د کمپنۍ دپاره به نیمه کرائی ورکول سود وی. (۲) او که کمپنۍ دا رقم په طور د شراکت ورکړې وی او نیمه کرایه د ځمکې مالک د ځمکې او نیمه کرایه کمپنی د کور د تعمیر وصولوی نو په ظاهره کي دا ناجائز نه ده خو کله چې کمپنی ټوله کرایه وصولوی نیم په طور د استحقاق او نیم په طور د آبادۍ د قیمت نو دا ناجائز ده ځکه کله چې تعمیر د ځمکې په مالک باندې قسط وار خرڅ شو نو د کمپنۍ حق ختم شو. (۳) وهوالموفق

---

۱ ﴾ قال العلامة ابن عابدين: ويملكه المستقرض بالقبض كالصحيح.
(ردالمحتار ۱۹۱: ۴ فصل في القرض)

وقال الدكتور وهبة الزحيلي: يثبت الملك في القرض عند ابي حنيفة ومحمد بالقبض... لانه خرج عن مالك المقرض وثبت له في ذمة المقترض مثله لاعينه.
(الفقه الاسلامي وادلته ۳۷۹۰: ۵ الفصل الثاني القرض)

۲ ﴾ عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط. (بلوغ المرام من ادلة الاحكام: ۲۸۲ رقم حديث: ۸۱۲)

۳ ﴾ وفي شرح المجلة: وشروط المعقود عليه ستة... وكون الملك للبائع فيمايبيعه لنفسه... وما يكون شرطا لانعقاد البيع يكون شرطا لانعقاد الاجارة.
(شرح المجلة ۵۲۷: ۲ المادة: ۴۴۴ الفصل الثاني في شروط انعقاد الاجارة)

د کمپنۍ سود په بینک کې د جمع شوی د سود د رقم نه ادا کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دلته په انګلینډ کې د کور اخستل او خرڅول داسې کیږی چې مثلا د کور قیمت دولس سوه پاؤنډه دې دا مکمل قیمت نقد هم ورکولې شی، که نقد نه وی نو په قیمت کې څو پاؤنډه مثلا دوه سوه پاؤنډه اول ورکوی او بقایا زر پاؤنډه د دې ځای کارپوریشن یا بله یو کمپنی یا سوسائټی ورکوی چې خرڅونکی ته دولس سوه پاؤنډه پوره ملاؤ شی او اخستونکی ته هر درې میاشتې پس د بقایا رقم ورکولو دپاره د بل رسید راځی او دا پیسې به د ۱۰۰۰ پاؤنډه سود سره ورکول وی.

اوس ابراهیم کور اخستل غواړی او د هغه رقم په بینک کې جمع دې او هر کال په دې رقم باندې سود هم راځی نو ابراهیم په بینک کې جمع شوی سود له د کمپنۍ یا سوسائټی یا کارپوریشن نه د اخستلی شوی رقم په سود کې ورکولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اعظم آف انګلینډ.......۲۹ ستمبر ۱۹۶۹ء

الجواب: ابراهیم که د بینک نه سود اخستلې وی نو هغه پیسې به ضرور صدقه کوی.(۱) او کمپنۍ ته به سود د دې نه نۀ ورکوی او که ابراهیم د وصولولو نه مخکښې د بینک په ذریعه په دې پیسو باندې د کمپنۍ سود ادا کړی نو په دې کې هیڅ باک نشته. **لعدم صحة تصرفه فیه قبل القبض**

---

(۱) وفي تفسیر القرطبي: ان سبیل التوبة من الاموال الحرام ان کانت من ربا فلیردها علي من اربي علیه ویطلبه ان لم یکن حاضراً فان ایس من وجوده فلیتصدق بذلک عنه.
(الجامع لاحکام القرآن للقرطبي ۳:۳۴۹ سورة البقرة آیت :۲۷۹)

وقال العلامة ابن عابدین: ویردونها علي اربابها ان عرفوهم والا تصدقوا بها لان سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علي صاحبه.
(ردالمحتار ۵:۲۷۳ کتاب الحظر والاباحة، فصل في البیع)

شرعافکان اهل البنك تبرعوامن جانبه فی الحقیقة. فقط

دوه ډوډۍ د یوې ډوډۍ سره بدلول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه د سوډې والا ډوډۍ بغیر سوډې والا یوې باندې بدلول جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: جائز دی خو کله چې لاس په لاس وی. (۱) بخلاف الاستقراض (۲) وبخلاف المکافأة (۳) وهوالموفق

د بینک د منیجرۍ، کیشرۍ او نورو ملازمتونو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بینکونو ملازمت که منیجری وی یا کیشئیری یا نور ملازمت جائز دې که حرام؟ بینواتوجروا

المستفتی: تقویم الحق آدینه صوابۍ ..... ۲۲ مارچ ۱۹۸۸ء

---

۱) وفي الهندية: وان وجد القدر والجنس حرم الفضل والنساء وان وجد احدهما وعدم الآخر حل الفضل وحرم النساء. (فتاوي عالمگيرية ۳:۱۱۷ الفصل السادس في تفسير الربا واحكامه)

۲) وفي شرح الوقاية: ويستقرض الخبز وزنا لا عدداً عند ابي يوسف وبه يفتي. (شرح الوقاية ۳:۶۹ باب الربوا)

۳) وفي المرقاة: (فان خير الناس احسنهم قضاء)... وفي الحديث دليل علي ان من استقرض شيئاً يرد مثل ما اقترض... وفيه دليل علي ان من استقرض شيئاً فرد احسن او اكثر منه من غير شرطه كان محسناً ويحل ذلك للمقرض. (مرقاة المفاتيح ۶:۹۸ باب الافلاس والانظار)

الجواب: چونکې په بینک کې مالونه د جمع کونکو په اصل زر کې څه کمې نه راځي، لهذا لازما به دا منل راځي چې د عملې وغیره تنخواه ګانې خالص د سود نه ورکولې شي.(۱) وهوالموفق

په عموم بلوی سره سود نه شي جائز کیدې

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بینک ادارې د حکومت مالیاتي ادارې دي او سودي هم. د ملک په زرګونو کسان دې سره تړلي دي، یعني عموم بلوی ده. نو د دې ملازمت د مذهب په نظر کې څنګه دې؟ او د دې ګټه څنګه ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: قاضي نذیر محمد، تاجوړي لکي مروت......۱۸/ رمضان ۱۳۹۵ هـ

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ــ وروسته له سلامه واضحه دې وي چې سود یقیني طور سره حرام دې.(۲) او دا مروجه سود د مشرکین عرب معمول وو د دې د حرمت متعلق آیة الربا نازل شوې دي او کوم چې عملي منصوصي طور سره حرام وي هغه د عموم

---

۱ ﴾ولا تعاونوا علي الاثم والعدوان . (سورة المائدة آیت ۲)
وعن جابر رضي الله تعالیٰ عنه : قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء. (مشکوٰة المصابیح)
وفي المرقاة: (وکاتبه وشاهدیه) قال النووي فیه تصریح بتحریم کتابة المترابیین والشهادة علیهما وبتحریم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتیح ۵۶:۶ باب الربا)

۲ ﴾قال الله تبارک و تعالي ''احل الله البیع وحرم الربوا''.
(سورة البقرة آیت ۲۷۵)
وقال الله تبارک وتعالیٰ: یأیها الذین امنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان کنتم مومنین''.(سورة البقرة :آیت ۲۷۸)

بلوی د وجې نه نهٔ شئ حلال کیدلې.(۱) لهذا په حکومت باندې ضروري ده چې دا بند کړي او د علماء کرامو مشوره قبوله کړي او سود اخستل او ورکول بند کړي او د مالکانو په اجازت سره په هغه مالونو کې تجارت وکړي، او ملازمینو ته دهغه منافع نه تنخواه ورکړي. او په مضاربت صحیحه سره دې هغوی ته مالونه ورکړي. خو عملا دا ګرانه ده، ځکه چې دمضارب سره د منافع شرح مقررول مفسد عقد ده.(۲) او بغیر د تقرئ نه اعتماد کول د دې دور کار نه دې. وهوالموفق

د بیع په وخت د پیسو په واپسی کې د کمی زیاتی حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دکاندار نه د دوه انو سودا اخستلو سره کله چې مونږ روپئ ورکوو نو هغه دولس پیسې واپس کوی او عام طور سره کله چې خلق د انې په ذریعه لین دین کوی نو په دوه انو اخستلو کې دیارلس پیسې وصولوی او په ورکولو کې بقایا دولس پیسې دغه شان دوه نیمې انې کله چې یو څیز مقرر کولې شی چې د هغې سرکاری شپاړس پیسې وی نو ورکونکې پنځلس پیسې ورکوی خو د روپئ په ذریعه اخستونکې شپاړس پیسې کټ کوی، پس په دې عدم برابرئ یا د کمی زیاتی په لین دین کې د سود ګناه خو نه کیږی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد رفیق امام مسجد راولپنډی ....۱۱ فروری ۶۹ء

---

۱ ﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالي :المشقة والحرج إنما يعتبران في موضع لا نص فيه، وأمامع النص بخلا فه فلا...... ولا إعتبار عنده بالبلوي في موضع النص كما في بول الآدمي فإن البلوي فيه أعم.

(الأشباه و النظائر ۸۳,۸٤القاعدة الثالثة : المشقة تجلب التيسير)

۲ ﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي "وشرطها أمورسبعة....وكون الربح بينهما شائعا فلو عين قدرآفسدت". (الدرالمختار ٥٤٠:٤ كتاب المضاربة)

الجواب: د رضا او ابراء نه بغیر ناجائز ده. الله پاک فرمائی:
﴿ ویل للمطففین ، الذین اذا اکتالوا علی الناس یستوفون واذا کالوهم او وزنوهم یخسرون ﴾(۱) وهوالموفق

د مالک د سودی او غیر سودی رقم په لیکلو باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې زمانیک سوداګر دې او زما کار حساب کتاب ساتل دی. د هغوی لس لاکه درهم په بینک کې پرتې دی، اوس هغه د دولسو لاکهو سودا کوی دوه لاکه روپۍ د بینک نه قرضه اخلی حال داچې بینک والا په دې باندې سود اخلی. زما کار په بینک کې دجمع شوې پیسو لیکل، چیک کټ کول وغیره دی، نو عرض دا دې چې دغه شان دملازم په صورت کې به زما تنخواه حلاله وی که حرامه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: چونکې تاسو د بینک ملازم نه یئ د هغه سوداګر ملازم یئ په دې وجه ستاسو تنخواه مشتبه ده حرامه نه ده.(۲) او په موجوده دور کې د مشتبهاتو نه بچ کیدل ډیر ګران دی. (۳) وهوالموفق

---

۱ ﴾ سورة المطففین آیت ۱،۲،۳ : پاره ۳۰)
قال العلامة القرطبي رحمة الله تعالي " ویل للمطففین أي الذین ینقصون مکاییلهم و موازینهم ...... وفي الموطا قال مالک ویقال لکل شئ وفاء و تطفیف ...... المطفف هو الذي یخسر في الکیل والوزن ولا یو في حسب ما بیناه. (تفسیر القرطبي ، ۱۹ : ۲۱۹)
۲ ﴾ وعن النعمان بن بشیر رضي الله تعالي عنه قال قال رسول الله علیه وسلم الحلال بین و الحرام بین و بینهما مشتبهات لایعلمهن کثیر من الناس فمن اتقي الشبهات استبرا لدینه وعرضه ومن وقع في الشبهات وقع في الحرام.
(مشکوة المصابیح ص ۲۴۱ باب الکسب و طلب الحلال)
۳ ﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالي: لیس زماننا زمان... [بقیه برصفحه آئنده...

د بیمه شرعي حیثیت

سوال: د بیمه شرعي حیثیت څه دې؟ حلال ده که حرام؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل امین ......ماهنامه الحق اکتوبر ۱۹۸۶ء

الجواب: بیمه حرام ده، د بیمه دا ښکلې او شین باغ د محرمات شرعیه نه ډک دې په دې کې سود، غیر شرعي شرطونه او دهوکه ورکول ښکاره موجود دی. (۱)

حرمت اول: بیمه کمپنی چې کومې پیسې د بیمه کونکو نه اخلی نه دا وقف دې او نه هبه بلکې شرکت یا قرض حسنه دې، دا کمپنی دا رقم زیات تر کاروباری کمپنو یا افرادو ته په سود باندې ورکوی او شاذ او نادر ئې په تعمیراتو باندې خرچ کوی، نو لازمی طور به په تنخواه ګانو او حوادثات معهوده کې زیات تر خرچ د دې سودی منافع نه وی صرف د تعمیراتو منافع د دې عظیم اخراجاتو د پوره کولو نه عاجز ده. پس بهر حال په بیمه کولو کې تعاون علی المعصیة موجود دې کوم چې د نص قرآنی په بناء باندې حرام

...بقیه ازحاشیه گذشته] اجتناب الشبهات كما في الخانية و التجنيس.

(الأشباه والنظائر ۲۸۷ كتاب الحظر والاباحة)

۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي: اما التامين التجاري اوالتامين ذوالقسط الثابت فهو غير جائز شرعاً وهو رأي اكثر فقهاء العصر وهوما قرر المؤتمر العالمي الاولي للاقتصاد الاسلامي في مكة المكرمة عام (۱۳۹۶ه/۱۹۷۶م)، وسب عدم الجواز يكاد ينحصر في امرين هما الغرر والربا... الي ان قال بعد الورقتين، والخلاصة: يشتمل التأمين ذي القسط الثابت علي خمسة اسباب تجعله حراماً (۱) الربا (۲) الغرر (۳) الغبن (۴) القمار (۵) الجهالة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۳۴۲۸،۳۴۲۳:۵ موقف الفقه الاسلامي من التأمين)

دي. قال الله تبارك وتعالی: ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان.(۱)
بله دا چې په دې بیمه کارئ کښې ددې ناجائز تعاون نه علاوه د سود خورئ دویم نوعیت هم موجود دې ځکه چې که دا ثابته شي چې دا پیسې بیمه ورکونکی په طور د قرض حسنه جمع کړې دې نو دې بیمه دار ته چې کومې زیاتی پیسې یو وخت کې ورکولې شي هغه به سود وي.
قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: کل قرض جر نفعا فهو ربا (رواه الحارث بن محمد فی مسنده وروی البخاری فی صحیحه فی تاریخه مایدل علیه(۲).

دویم حرمت: کله چې بیمه ورکونکې قسط اول ادا نه کړی نو دا کمپنی د هغه قسط اول ختموی کوم چې د امانت یا قرض غصب دې او صریح ظلم دې (۳) او د بیمه دار جوړیدو په وخت د دې شرط لګول د غیر شرعی شرط لګول دی.

دریم حرمت: لکه چې بیمه دار کله د خپل جائیداد مالیت ښکاره کولو سره کمپنئ ته دهوکه ورکوی او یا ختم شوې بیمه شوې مال لره هلاک کولو سره د کمپنئ نه پوره پیسې وصولوی نو دغه شان دا کمپنی غیر معمولی منافع

---

۱) (سورة المائدة آیت: ۲)
وفي المرقاة: (عن جابر قال لعن رسول الله صلي الله عليه وسلم آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الاعانة علي الباطل.
(مرقاة المفاتيح ۵۹:۶باب الربا)
۲) (بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۱۰ ابواب السلم والقرض)
۳) قال العلامة شمس الدين الذهبي: الكبيرة السادسة والعشرون: الظلم باكل اموال الناس واخذها قال الله تعالي' سيعلم الذين ظلموا اي منقلب ينقلبون. (سورة الشعراء: ۲۲۷). (الكبائر للامام الذهبي ۱۱۸)

لره هضم کوي، او بیمه دار په څو فیصده باندې راضي کوي. بله دا چې کمپنۍ د خطرې په وخت خپله بچ کیږي او نقصان ټول قوم ته ملاویږي. وهوالموفق

محمد فرید عفی عنه

خادم دارالافتاء والحدیث بدارالعلوم حقانیه

د بیمه کمپنۍ دجل

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې جناب عالی! د بیمې د حرمت په باره کې خو ستاسو فتوی په ماهنامه الحق اکتوبر ۱۹۸۲ء په رساله کې او په ماهنامه النصیحة چارسده جلد نمبر ۲ شماره نمبر ۲ په صفحه نمبر ۴۷، ۴۸ باندې شائع شوې ده، خو بیمه ورکونکی حضرات تاسو ته یو فتوی منسوب کوي کومه چې د ماهنامه الحق په جلد نمبر ۲۹ شماره نمبر ۱ صفحه ۳۴ باندې نقل کولو سره جعلي ویلې شوې ده او دستخط ته ئې هم جعلي ویلې دې او ورسره ددې شمارې په صفحه ۳۵ باندې د بیمې د حرمت په باره کې ستاسو فتوی هم نقل کړې ده.

خو تاسو پخپله د دې فتوی وضاحت وکړئ چې آیا دا جعلي ده یا اصلي؟ او د دې فتوې استفتاء څنګه وه؟

او ورسره د بیمه شرعي حیثیت هم مدلل او مفصل بیانولو سره مهرباني وکړئ. شکریه

نوټ: د بیمې والا حضراتو د طرف تاسو حضراتو ته د منسوب کړې فتوې نقل لاندې لیکلې شي:

الجواب: د دې حواله جاتو نه واضحه ده چې دیني مسائل د وخت تیریدلو سره د بد نیتۍ نه پیدا کیږي د برصغیر اکثریت چې د کومو علماء کرامو تابعداري کوي د اکثرو فتوی بیمه ته جائز وائي په دې خبره کې د هیڅ شک او شبهې ګنجائش نشته چې د شرکت مسئله په ظاهر کې قابل اعتراض نه

ده، پس که بیمه کمپنی په دې پیسو سره تجارت، کاروبار، خدمات او نورو شعبو کې ممبرانو ته د منافع په شکل کې څه نه څه ورکوي نو دا به قابل اعتراض نه وي

ددې نه علاوه سائل چې په خپل هر کلي لیک کې د کومو خیالاتو اظهار کړې دې دا رشتیا دی چې ټول حواله جات (اشاره) هغه مشهور او منلې شوې حقائق دی او په دې کې دځه بحث او مباحثې ګنجائش نشته.

حقیقت دا دې چې د انتشار او افتراق نه د بچ کیدو دپاره دا ضروري ده چې په اسلامی حکومت کې اوسیدو سره بار بار پیچیده مسئله نه جوړوی، الغرض د سود نه مراد هغه رقم چې قرض ورکړې شي یا واخستلې شي.

مهر دار العلوم حقانیه

فتوی نمبر: ۳۰۲۲۲

محمد فرید عفی عنه

المستفتی: مولانا حزب الله جان ترناب چارسده

الجواب: د مخکې زمانې نه زما دا فتوی ده چې بیمه حرامه ده په دې کې سود، پدیکې خیانت او دهوکه غوندې جرمونه موجود دی، دا د بیمه معاونین د علماء کرامو نه د جواز فتوی حاصلوی او جواب شائع کوی او سوال نه شائع کوی او عوامو ته دهوکه ورکوی

محمد فرید عفی عنه

مهر دار العلوم حقانیه

فتوی: ۲۳۹۵۷

د مفتی رشید احمد بن مفتی محمد فرید (رحمه الله علیه) جواب

باسمه تعالی: دار الافتاء دار العلوم حقانیه کې د آخری فتوی نمبر ۲۳۹۲۷ دې او ددې موجوده فتوې نمبر ۳۰۲۲۲ ظاهر کړې شوې دې، کوم چې د

ځان نه جوړ کړي دروغو او خیانت باندې صراحة دلالت کوي، تول مسلمانان دې د هغوی د دهوکې نه ځان وساتي. والله اعلم. رشید احمد عفی عنه.

دار الافتاء دار العلوم حقانیه اکوړه خټک ۹۵ء / ۵ / ۳۱

په بیمه کې ورکړې شوې رقم د نه واپس کیدو په صورت کې ضائع کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سرکاری ملازم خپل جی پی فنډ د پنځویشتو کالو دپاره بیمه کړې وو. هغه په قسط وار ادائیګئ کې مبلغ ۷۵۰ روپئ تر اوسه پورې ادا کړی دی اوس هغه ته معلومات وشو چې بیمه ناجائز ده هغه غواړي چې هغه ترک کړي خو ۷۵۰ روپئ مفته کې خرابیږي نو په دې صورت کې څه کول پکار دي؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالقدوس، موضع ماله ډهیري رستم......۸۳ء | ۲ | ۲۳

الجواب: که په څه حیله او تدبر سره پیسې واپس کول ممکن وي نو واپس دې واخلی کنه نو ضائع کیدو ته دې پریږدي. (۱) وهوالموفق

بینکونو لره د سود نه د پاکولو تجاویز

سوال: په پاکستان کې سودی کاروبار لره د دې حرام خورئ نه هر قسم پاکولو دپاره اسلامی نظریاتی کونسل د ماهرین اقتصادیات یو پینل مقرر کړې وو، چې هغوی ماهرینو ته اوښائی چې هغه نور کوم کوم صورتونه کیدې شي چې د بینکارئ نظام قائم خو وي او د هغې نه جائز فائدې حاصلیږي او هغه د سود نه بالکل پاک وي پس هغوی د بحث او تحقیق نه پس څه صورتونه تجویز کړې دي، اسلامی نظریاتی کونسل دا ضروری ګڼی

---

(۱) وفي شرح المجلة :درء المفاسد أولي من جلب المنافع أي رفعها وإزالتها فاذاتعارضت مفسدة و مصلحة فدفع المفسدة مقدم في الغالب لأن اعتناء الشرع بالمنهيات أشدّ من اعتنائه بالمامورات. (شرح المجلة ۱:۷۰ المادة ۳۰)

چې د دې په باره کې د حضرات علماء کرامو رائې هم حاصله کړی چې آیا د شریعت اسلامیه په رڼا کې دا صورتونه جائز دی یا نه؟
تاسو په دې دینی مسئله کې د کونسل سره ښه تعاون وکړئ او په دې مسوده په ټولو صورتونو باندې فقیهانه نقطه نګاه سره ښه غور او خوض فرمائیلو سره د هغې په باره کې مفصل طور د شرعی دلائلو سره خپله رائې مرتب کړئ چې د دې رائې په رڼا کې آخری فیصله کولو سره د ملک صدر ته خپل سفارشات ولیږو

حل طلب مسائل

۱: د اصل نفع او نقصان دپاره ضمانت : موجوده بینکاری نظام په اعتماد باندې قائم دې، بینک د خپلو امانتونو ډیره حصه په کاروبار کې لګوی او یا یې قرض ورکوی. عام معاشی حالت که هرڅنګه وی او د قرض اخستونکی که هر څه حال وی، بینک په هر حال کې اصل زر د سود سره وصولوی په دې وجه د بینک کهاته دارانو ته یقین وی چې د هغوی سرمایه به محفوظ وی، او میعادی امانت دارانو ته به د مقرره شرح مطابق سود هم ملاویږی دا هغه اعتماد دې چې د هغې په بناء باندې په بینکونو کې جمع شوې پیسو کې بالعموم اضافه کیږی. که دا اعتماد د څه وجې نه متزلزل شی نو د بینکارئ نظام ډیرې بدې طریقې سره متاثر کیږی چې د هغې نتائج د ملکی معیشت دپاره هم نقصان ورکونکې کیدې شی، دا زمونږ پوخ یقین دې چې د بینکارئ نظام که د سود په ځای د نفع او نقصان په بنیاد باندې اوچلولې شی نو ډیرې خرابیانې به بند شی کومې چې موجوده سودی نظام پیدا کړی دی خو د دې څیز نه انکار نه شی کیدې چې د دومره موډې پورې د سودی نظام د رائج کیدو په وجه باندې د نظام په دې بدلون سره د خلقو په ذهن کې شکوک او شبهات پیدا کیدې شی، چې د شرکت او مضاربت په اصول باندې د عمل کولو د وجې نه بینک نقصان اوچتولې شی او کیدې شی چې هغوی چې کومې پیسې په بینکونو کې جمع کړی دی هغه ډوبې شی.
د نوی نظام د کامیابئ دپاره به دا ضروری وی چې د کهاته دارو اعتماد په

بینکونو باندې په هر صورت کې قائم وی، یعنی د اهل علم په نزد دې اعتماد لره په هر حال کې د برقرار ساتلو دپاره د ضمانت طریق کار خپلول غواړی خو په دې معامله کې د شرعی حیثیت د تعین ضرورت دې، په دې سلسله کې غور طلب امور لاندې لیکلې شی:

۱: د حکومت دپاره دا جائز ده چې هغوی دا ضمانت ورکړی چې که غیر سودی بینک نقصان وکړو نو بیا به هم د طلب کولو په وخت د کهاتې والو ټوله سرمایه محفوظه وی اگر چې حکومت ئې د خپل کوره ادا کوی.

۲: که بینک ته نقصان ورسیدو نو حکومت به د هغه کهاتې والو د نقصان پوره والې کوی چا چې خپلې پیسې په بینک کې د نفع او نقصان د حصه داریٔ په اصول باندې کینبودلې وې.

۳: که د یو خاص شرح نه کمه نفع شوې وی نو حکومت به دې کمی لره!

الف: په هر حال کښې به دا نقصان پوره کوی.

ب: په هغه حال کې به دا نقصان پوره کوی کله چې نقصان د اتفاقی یا قدرتی وجوه په بناء باندې راغلې وی.

ج: په هغه حال کې به نقصان پوره کوی چې دهغې وجه د حکومت پالیسی وی یا غیر متوقع ملکی او غیر ملکی عوامل وی.

۴: که دا قسم ضمانت ورکړې شی نو آیا دا ضمانتونه د حکومت په ځای بیمه کمپنی هم ورکولې شی؟ یاد ساتیٔ دې وخت کې پاکستانی بینک په قومی ملکیت کې دې.

۲: په نقد او قرض قیمتونو کې فرق:

د بیع په معامله کې نقد او قرض د بیل بیل قیمتونو ساتلو شرعی حیثیت په مختلف مذاهب فقه کې څه دې؟ د هغې دا لاندې شکلونه هم کیدې شی.

۱: زید سامان په قسطونو باندې خرڅوی او داسې سامان چې د هغې نقد قیمت صرف عام طور سل روپیٔ وی د لس روپیٔ میاشت په دولسو قسطونو کې خرڅوی، د قسطونو د ادائیگیٔ د تاخیر په صورت کې په قسطونو کې اضافه نه شی کولې.

۲: زيد يو ځيز قرض خرڅوی او ټولو ته معلومه ده چې هغه د نورو نقد خرڅونکو دکاندارانو نه ګران خرڅونکې دې.

۳: زيد ښکاره وائي چې د سامان نقد قيمت سل روپۍ دې او قرض شپږ شلې روپۍ دې.

۴: زيد په قسطونو باندې خرڅول کوی او اعلان کوی چې که يو سړی ټولې پيسې په يو کرت راکړې نو هغه ته به شل فيصده رعايت ورکولې شي.

۵: زيد خپله تاجر نه دې خو يو سړی (کوم چې دمال په يو ځل قيمت نه شي ادا کولې) معاهده کوی، چې سامان اخستلو سره په لس فيصده نه په زيات قيمت باندې په قسطونو کې وصولوی.

۲: په قرض کې پيسې کټ کول:

يو قرض غوښتونکې که د خپل قرض رقم د مقرر شوې مودې نه مخکې وصولول غواړی د مقروض يا د هغه د وکيل په يقين ورکولو باندې قرض غوښتونکې د دې پيسو د کټ کولو نه مخکې ادا کولې شي، لکه درې مياشتې پس د زرو روپو په بدل کې حاضر کښ د نهه سوه او پنځوس روپو ادا کول، دغه شان د قرض ورکولو شرعی حيثيت څه دې؟ د دې د فيصله کولو په وخت دې لاندې ليکلې شوې نکاتو ته خيال وکړې شي!

۱: نن صبا دا طريقه د هنډی (**Bill of exchange**) د ادا کولو په سلسله کې کولې شي چې د هغې تکنيک لاندې ليکلې شي.

زيد د عمر نه مال واخستلو او درې مياشتې پس ئې د رقم ورکولو وعده وکړه د هغې دپاره زيد عمر ته د يو دستاويز هنډی په شکل کې پيش کړو عمر په بينک الف کې دا هنډی پيش کړه چې د دې په بناء د بينک نه رقم قرض واخلی او بينک دا رقم د مودې د تيريدلو نه پس د زيد يا د زيد د وکيل نه بينک وصول کړې، بينک الف عمر ته هغه رقم ورکوی خو پوره رقم نه بلکې د اصل نه څه حصه د خپل حق په طور وضع کوی، ګويا عمر ته د وخت نه مخکې د رقم د وصولولو دپاره د پيسو د کټ کولو منظورول وی، په دې سلسله کې لاندې ليکلې شوې نکتې د نظر لاندې دی:

الف : حدیث: نهی النبی ﷺ عن الکالی بالکالی اوالدین بالدین او کما قال علیه الصلاة والسلام.

ب : ضعوا وتعجلوا (السرخی، السیر الکبیر) رسول الله ﷺ د بنو نضیر د جلاوطن کولو په وخت فرمائیلې وو.

٤: قوت خرید کې د کمی زیاتی او د حکومت فرض:

د افراط زر (د رقم دکمی) د وجې نه گرانی واقع کیږی، دا افراط زر بعض وخت د قومی مفاد په حق کې د پالیسئ د وجې نه پیدا کیږی، بعض وخت د بیرونی اثراتو د وجې نه او بعض وخت د غلطې پالیسئ د وجې نه د افراط زر د وجې نه د خلقو د اخستلو طاقت کم شی.

په پورته ذکر شوې صورتونو کې آیا په یو صورت کې د حکومت دپاره دا شرعی فرض دې چې هغوی په قوت خرید کې په کمی واقع کیدو باندې د خلقو نقصان پوره کړی؟

په نورو الفاظو کې دهغوی د سکې د قدر ضمانت ورکړی یاد ساتئ کله چې کله د پورته ذکر شوې عوامل په بناء باندې د پیسو د کمیدو کیفیت هم پیدا کیږی، چې د هغې نتیجه بالکل برعکس وی په قوت خرید کې د کمی زیاتی د تعین دپاره د مختلفو څیزونو د قیمتونو نمائنده اشاریه استعمالولې شی، آیا دا اشاریې د مستقبل د ادا کولو د معاهدې په بنیاد باندې جوړولې شی؟ گویا دغه شان د مستقبل د ادا کولو دپاره د سکې ثمنیت په بعینه پاتې نه شی بلکې اضافی به شی چې د هغې استعمال به د کال په کال بدلیدونکې مجموعی قیمتونو په اوسط باندې وی، د دې مثال دا دې چې زید نن سل روپئ ورکړې، چې په هغې سل منه غنم اخستلې کیږی، که درې کاله پس زید خپلې پیسې واپس طلب کړی او هغه وخت د څلور منه غلې قیمت شپږ شلې روپئ وی نو د سلو په ځای دې شپږ شلې روپئ ورکړې شی، خو که دا قیمت اتیا روپئ پاتې شی نو هغه ته دې اتیا روپئ ورکړې شی.

۵: په قرض او شرح مبادله کې بدلون:

زمونږ کاروباری او صنعت کار افراد هم قرض اخلی چې د هغې مصرف د

غیرملکی مشینونوغیره درآمد کول وي، داقرضې دې حضراتوته دپاکستانی سکو په شکل کې ورکولې شی او په دې شکل کې هغه ادا کولې شی، خو د قرض د اصل مقدارمعیار پاکستانی سکه نه ده بلکې غیر ملکی سکه (ډالر) وی، چې هغې سره پاکستان منسلک دې، په دې معیار باندې فریقین د مخکې نه متفق وی خو دغه شان واجب الادا مقدار غیر یقینی شی ځکه چې د سکو اضافی قیمت غیر یقینی دې، د مثال په طور زید پنځه کاله مخکې لس لاکه روپۍ قرض اخستلو سره سامان راطلب کړو، چې د هغې قیمت هغه وخت کې دوه لاکه ډالرې وې، ځکه چې یو ډالر د پنځو روپو مساوی وو خو وروستود پاکستانی سکې قیمت وغورځیدلو، نتیجه ددوه لاکه ډالرو قیمت شل لاکه روپۍ شو دغه شان د لسو لاکهو مقروض پخپله د شلو لاکهو مقروض شو دغه شان وړاندې تلوسره که یو ډالر د درې روپو مساوی شی نو په دې صورت کې د لس لاکهو روپو مقروض صرف د شپږو لاکهو مقروض کیږي، په شرح کې بدلون او د هغې لحاظ سره د واجب الادا رقم فریقین ته د مخکې نه علم نه وو، خو دواړه د دې نوعیت په سودا باندې متفق وی، کوم چې په ظاهر کې غرور دې خو د دې نه بغیر د پاکستان په شان ملکونو گزاره کول ډیر گران دی د دې معاملې شرعی حیثیت باندې دې رڼا واچولې شی؟

۱: (دبعض ماهرینوخیال دې) چې د بینک د اوږدې مودې دپاره په پیداواری قرضو باندې د مقرر شرح سره د سود اخستلو په ځای د خپلو قرضو نیلام اوکړی د دې فرضی مثال به دا وی چې د بینک الف سره لس کروړه روپۍ د اوږدې مودې دپاره قرض ورکولو دپاره پرتې دی، بینک د مودې اوپیسو په لحاظ سره دا پیسې په مختلفو اجزاء کې تقسیم کوی لکه:

پنځوس لاکه روپۍ د درې کالو دپاره، د اووۀ کالو دپاره، د پنځو کالو دپاره د پنځویشت پنځویشت لاکهو روپو اته اجزاؤ کښې د لس لس کالو دپاره، دوه کروړه روپۍ د څلورو کالو دپاره وغیره.

بینک ټینډر طلب کوی، چې کوم سړې مقرره پیسو باندې د مقرر وخت تیریدلو نه پس د سرمایه او د سرمائې زیات نه زیات فیصده د نفع ورکولو کوشش کوی نو هغه ته به دا رقم ورکولې شی، د دې قسم معاملې شرعی حیثیت څه دې؟
۲: د بینکونو نه سود ختمولو سره د نفع او نقصان په بنا باندې چلول په هغه حالت کې قابل عمل دی چې د هغې نه رقم اخستونکې هغه په کاروبار کې لګوی یا د نفع او نقصان د تقسیم عملی امکان موجود وی، هغه قرضې کومې چې د حرفی ضروریاتو دپاره ورکړې شی، غریب او کم سرمایه والا خلقو د کاروباری یا زرعی ضروریاتو دپاره ورکړې شی، په هغې باندې د نفع او نقصان شرط یا خو ممکن نه دې یا نامناسب دې خو په داسې صورت کې د بینک د رقم یوه حصه د نفع نه محروم کیږی، او اصل او د هغې د نفع نه محرومتیا په خپل ځای خپله د تاوان سودا ده، د دې مسئلې د حل دپاره بعض خلق د اصول مسافت د بنیاد جوړولو تجویز پیش کوی هغه په مختصر الفاظو کې لاندې لیکلې شی.
د الجبرا (حساب) په رڼا کښې، پنځه روپۍ د یوې ورځې دپاره برابر دی یوه روپۍ د پنځو ورځو دپاره یا سل روپۍ د یوې ورځې برابر دی لس روپۍ د لسو ورځو دپاره یا لس زره روپۍ د یو کال دپاره برابر دی دوه زره روپۍ د پنځه کالو دپاره.
د دې مساوات د وجې نه که څوک بینک لره د څه حرفی ضروریاتو دپاره د یو کال دپاره په لس زره روپۍ باندې ورکوی، په دې شرط باندې چې مقروض سره کومې دوه زره روپۍ د پنځو کالو دپاره پریږدی نو د کمې مودې د لوئې قرضې په بدل کې د زیاتې مودې د وړوکی قرض دشرط لګولو شرعی حیثیت څه دې؟
د دې دویم شکل دا هم کیدې شی چې بینک قرض غوښتونکی ته د لسو زرو روپو په ځای دولس زره روپۍ قرض منظور کړو، چې په هغې کې لس

زره روپۍ مقروض په خپل کار راوستلې او باقي دوه زره روپۍ په خپل نوم امانتا جمع کړي، یو کال پس مقروض دولس زره روپۍ واپس کړي، او دوه زره روپۍ چې ئې دده د طرف نه د امانت په طور کینبودلې هغه پنځه کاله پس واپس راوباسي.

بینکونو لره د سود نه د پاکولو تجاویز

۱: آیا متبادل قرض شرعا جائز دې؟ مثلا یو سړې د یو بینک نه په دې شرط باندې د یو کال دپاره لس زره روپۍ قرض واخلي، چې هغه به په بینک کې دوه زره روپۍ د پنځو کالو دپاره یا زر روپۍ د لسو کالو دپاره کیږدي، نو آیا داسې لین دین د شریعت په رڼا کې جائز دې؟

۲: واړۀ کاروباري حضرات خپل څه حساب نه ردي نه د هغوی څه خاص کاروبار وي، په داسې صورت کې که څوک د بینک نه قرضه اخلي او بینک هغه ته وائي چې هغه ته د فلاني فلاني کال نه دومره فیصده گټه ملاویږي، لهذا په دې قرض باندې به هم دومره منافع وي.

چه د هغې مقرره (تقدیري) حصه به هغه بینک ته ادا کوي. خو که هغه ته تاوان وشي نو اداره دې ورته د هغې ثبوت ورکولو سره بینک مطمئن کړي نو د هغه نه به تقدیري نفع نه اخستلې کیږي، نو په دې صورت کې به د بینک دپاره تقدیري گټه اخستل جائز وي؟

۳: آیا مشروط قرض جائز دې. بله دا چې د پیسو د قرض په وخت په قرض کې ورکړې شوي رقم نه علاوه نور ډیر ځیزونه (مثلا د سرو زرو) قیمت خرید معیار جوړیدې شي یا نه؟ مثلا یو بینک د زرو روپو د قرضې ورکولو په وخت دا شرط ولکوي، چې د قرض د واپسۍ په وخت به مقروض ته دومره پیسې واپس کوي چې په هغې باندې دومره سرۀ زر اخستلې کیدې شي چې د قرض د اخستلو په وخت په زر روپۍ اخستلې کیدې شو.

المستفتي: جسټس محمد افضل چیمه چیئرمین نظریاتي کونسل پاکستان اسلام آباد

الجواب: الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى اما بعد! پس واضحه دې وی چې په بینک کې مال جمع کونکو (مالکانو) او د بینک د خاوندانو چې په حکومت وغیره کې کوم تعلق او رابطه ده هغه نه شرکت دې او نه مضاربت دې، بلکې د معمولي غور کولو نه پس معلومیږی چې د هغوی ترمینځه تعلق د وکالت عامه دې. یعنی حکومت د ارباب الاموال وکیل عامه دې، سواء د هبة او تصدق نه د نورو تولو یا اکثر تصرفاتو اجازه لري (۱) او هر وکیل که وکیل بالاجرت وی یا بغیر د اجرت نه تبرعا د هر قسم نقصاناتو د پوره کولو ضمانت عرفی کولې شی، په دې کې د یو ذات مطالب او مطالَب کیدو هیڅ خطره نشته، او کله چې وکیل بالبیع تبرعا د مشتری د طرف نه ضمانت عرفی کولې شی، کما فی الدر المختار مع رد المحتار ۳۱۲/۵، طبع حلبی **لا تصح كفالة الوكيل بالثمن للموكل وقيد بالكفالة لانه لو تبرع بأداء الثمن عن المشترى صح كما فى النهر عن الخانية** (۲) نو دا وکیل تبرعا د هر قسم نقصاناتو ضمانت موکل ته په طریق اولی ورکولې شی، **لانه لا يطالب شرعا بالخسارة** (۳) **بخلاف الثمن وبالجملة انه يعلم بعد تنقيح المناط ان الحكم تدور مع التبرع ولذا اجاز تبرع اداء الدين عن الميت وان لم يكن كفالة**

---

۱) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي: التوكيل صحيح و هو خاص و عام هو اقامة الغير مقام نفسه في تصرف جائز معلوم (درمختار). وقال العلامة ابن عابدين: والحاصل أن الوكيل وكالة عامة يملك كل شيئ إلا الطلاق والعتاق والوقف والهبة والصدقة علي المفتي به".

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۴۴۴:۴ كتاب الوكالة)

۲) (الدرالمختار مع رد المحتار ۳۰۱:۴ كتاب الكفالة)

۳) و في الهندية: ومنه أنه (الوكيل) أمين فيما في يده كالمودع فيضمن بما يضمن به المودع و يبرأ به". (فتاوي عالمگيرية ۵۶۷:۳ كتاب الوكالة، الباب الاول)

شرعية(۱) خو د بیمه کمیټۍ د ضمانت (عرفی) نه بچ کیدل ضروری دی. چې د سود په دویمه طریقه کې اخته نه شی(۲) خلاصه دا چې د یو نه تر څلورو پورې ټول شکلونه جائز دی.

۲: په نقد او قرض قیمتونو کې فرق کول جائز دی، دا سود نه دې مولانا عبدالحئ صاحب انصاری په خپله فتاوی کې د حاشیه چلپی او د بحر او نهر د عباراتو نه د دې جواز ثابت کړې دې (۳) خلاصه دا چې د قیمت په نیته کولو سره زیادت ثمن جائز دې، خو د تاجیل په معاوضه کې یو څیز ورکول ممنوع دی. پس په سوالنامه کې د یو نه واخله تر پنځو پورې ټول شکلونه جائز دی.

---

۱ ﴾ وفي الشامية ''ولا تصح بدين ساقط أي بسبب موته مفلساعن ميت مفلس ولو تبرع به أي بالدين أي بايفائه صح اجماعا''.
(ردالمحتار ۴:۳۰۰ كتاب الكفالة)

۲ ﴾ وقال العلامة وهبة الزحيلي: أما التأمين التجاري أو التأمين ذوالقسط الثالث فهو غير جائز شرعا و هو رأي اكثر فقهاء العصر..... وسبب عدم الجواز يكاد ينحصر في أمرين هما الغرر والربا''.
(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۴۲۳ موقف الفقه الاسلامي من التأمين)

۳ ﴾ وقال العلامة اللكهنوي رحمه الله تعاليٰ: په''نهرالفائق شرح كنز الدقاق،، كې دی: ألاتريٰ أنه يزاد في الثمن لاجله .اوپه البحر الرائق كې دی: الاجل في نفسه ليس بمال ولا يقابله شئ من الثمن حقيقة اذا لم يشترط زيادة الثمن بمقابلته قصداً و يزاد في الثمن لاجله اذاذكر الاجل بمقابلة زيادة الثمن قصداً.او د يوسف چلبي په حواشي شرح وقايه كې دی: يجوز أن يقدر الثمن في المبيع بالمؤجل اكثر ممّا في المعجل بحيث تقابل كثرة المؤجل تعجيل القليل.ددې عبارتونو نه ثابته شوه چه قيامت زياتول د نسيئه (قرض) په اندازه سره صحيح دی.''.
(مجموعة الفتاوي ۲:۱۲۹ كتاب البيع)

۳: په قرض کې پیسې کټ کول د شیخ ابویوسف رحمه الله په نزد جائز دی، د سود د بندولو د ضرورت په وجه، دې لره غوره کول قابل اعتراض نه دی.

كما في التكملة ٢: ٢٥٣ طبع حلبي (لا يصح الصلح) عن الف مؤجل على نصفه حالاً وذكر في الكافي للاسبيجابي جواز هذا الصلح مطلقاً على قياس قول ابي يوسف لأنه احسان من المديون في القضاء بالتعجيل واحسان من صاحب الدين في الاقتضاء بحط بعض حقه[1] انتهى. ودت ليس هو بيع الكالئ بالكالئ بل هو اسقاط من الجانبين.

۴: په قوت خرید کې د کمی زیاتی په صورت کې حکومت د نقصان پوره کولو نه ممنوع نه دې، د دې نقصان د پوره کولو نه هیڅ مانع شرعی موجود نه دې. كما مرّ

۵: په قرض او شرح مبادله کې د بدلون کولو متعلق تدبیر او مخرج دا دې چې دې بیوپاریانو ته دې ډالر په طور د قرض ورکړې شی او دا خلق پاکستانی سکې لره د ډالر د موجوده قیمت په حیثیت سره واخلی، نو د دې نه پس د پاکستانی سکې وغیره د غورځیدلو په صورتونو کې به کمې زیاتې هیڅ ضرر نه رسوی. [2]

«د بعض ماهرینو خیال دې» دا تجاویز ناقابل اصلاح دې:

ینکونه د قرضونو د سود نه د پاکولو تجاویز:

نمبر ۱: متعلق دې واضحه وی چې د قرض ورکولو په دوران کنبې قرض غوښتونکی ته په بینک کې د رقم کیښودلو پابند کول ناجائز کاردې، كما

---

۱) (تكملة ردّالمحتار ١٩٩: ٢ كتاب الصلح، فصل في دعوي البيع)

۲) وفي الهندية وان وجد القدر والجنس حرم الفضل والنساء وان عدما حل الفضل والنساء كذا في الكافي.

(فتاوي هندية ١١٧: ٣ الفصل السادس في تفسير الربا)

فی رد المحتار فی باب ما یبطل بالشرط الفاسد ولا یصح تعلیقه به. (١) خو د حکومت دا اعلان کول چې د چا په بینک کې دومره پیسې نه وی هغه ته دې قرضه ورنکړې شی او د دې شرط پابندی منع نه ده، شرعا په دې کې هیڅ باک نشته.

نمبر ۲: متعلق دې واضحه وی چې منافع شائع وی که متعین نه وی نو په دې څه باک نشته. (٢) یعنی کله چې حکومت اصالة یا وکالة دې لره د مضاربت په نوعیت کې خرچ کړی.

نمبر ۳: د دې تدبیر او لاره د خلاصوالي دا ده چې په دې قرض کې سرة زر ورکړې شی، او دا مقروض د سرو زرو په عوض کې حالی قیمت واخلی او حکومت په مستقبل کې د دې مقروض نه د سرو زرو په عوض کې د هغه وخت مطابق قیمت وصول کړی. (٣) وهوالموفق

---

١ ﴾ وفي رد المحتار :في البزازية وتعليق القرض حرام والشرط لا يلزم والذي في الخلاصة عن كفالة الاصل والقرض بالشرط حرام اه نهر أي فالمراد بالتعليق الشرط".

(ردالمحتار ۲۵۴: ۴ مايبطل بالشرط الفاسد ولا يصح تعليقه به)

٢ ﴾ وقال العلامةسراج الدين رحمه الله تعالي "ومن شروطها أن يكون الربح بينها مشاعاً فلو شُرط للمضارب نصف الربح و زيادة شيً فهي فاسدة.

(فتاوي سراجية : ۵۳۱: كتاب المضاربة)

٣ ﴾ وفي شرح الوقاية :فان وجد الوصفان حرم الفضل والنساء وإن عدما حلا".

(شرح الوقاية ۶۵: ۳ باب الربوا)

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

کتاب القرض والدین

قال الله تبارك وتعالیٰ:

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗۤ اَجْرٌ كَرِیْمٌ ﴿۱۱﴾

(سورة الحدید)

....

باب القرض والدین

د حج نه مخکې د قرض ادا کول ضروري دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی باندې زما څلور زره روپۍ، د یو بل عزیز دوه نیم زره روپۍ قرض دې، اته کاله مخکې د ډیرو عزتمندو په موجودګۍ کې هغوی دا پیسې منلې دی او د قرضې د زر پوره کولو لیکل ئې هم کړی دی، د دې نه پس هغوی بنه کافی پیسې اوګټلې، څمکه ئې واخستله، کورونه ئې جوړ کړل خو سره د بار بار یادولو د قرضې په ادا کولو کې د لیت او لعل نه کار اخلی اوس مذکوره سړې د حج د ادا کولو دپاره ځی آیا د هغه دپاره د حج نه مخکې د قرض ادا کول ضروری نه دی؟ آیا په دې حالاتو کې به د هغه حج وشی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اعظم

الجواب: په دې سړی باندې ضروری ده چې اول حقوق العباد (قرضه وغیره) ادا کړی او د هغې نه وروستو حقوق الله حج وغیره ادا کړی. (۱) کنه نو دا سړې به په ظالمانو کې شمار وی: ﴿ قال رسول الله ﷺ مطل الغنی ظلم ﴾ (۲) اګر چې د حج فریضه به د هغه د ذمې نه فارغه شی، لان السیئة لا یذهب بالحسنة. (۳) فقط

---

۱ ﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله لتقدم حق العبد) اي علي حق الشرع ... الا تري انه اذا اجتمعت الحدود وفیها حق العبد یبدأ بحق العبد لما قلنا ... فلو قدم حق الشرع عند الاجتماع بطل حقوق العباد.

(ردالمحتار ۲:۱۵۶ کتاب الحج)

۲ ﴾ (مشکوة المصابیح ۲۵۱ باب الافلاس والانظار)

۳ ﴾ قال العلامة ابن عابدین: لان الکبیرة لا تزیل الطاعة.. [بقیه بر صفحه آئنده...

د دائن د مديون نه مفت د خدمت اخستلو حكم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په یو ګاهک باندې زمونږ سل یا دوه سوه روپئ قرض دې چونکې اوس زمونږ کار شروع شو نو آیا د قرضه اخستونکو نه زه بغیر د پیسو نه خدمت اخستلې شم یا نه؟ دلته رواج داسې دې چې که چا ته ئې قرض ورکړو نو اوس هغه یو قسم دوست جوړ شو، نو آیا اوس مونږ د هغه نه څه کار اخستلې شو؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: که دا خدمت د قرض د وجې نه وی نو ناجائز دې که د کومك او اندیوالئ وغیره د وجې نه وی نو جائز دې. (هندیة ۲۶۵/۳) (۱) **وهوالموفق**

د مديون د امر نه بغير د هغه قرضه ادا کولو سره مطالبه کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه یو داسې سړې یم چې زما پلار نشته اونه مې خپل وروڼه شته د ترۀ ځامنو راسره په وادۀ کې څه امداد ونکړو اوس هغه دعوی کوی چې ما ستا په وادۀ باندې

...بقیه ازحاشیه گذشته]

(ردالمحتار ۳:۳۳۱ مطلب لو تاب المرتد هل تعود حسناته)

وفي منحة الخالق : لان الكبيرة لا تزيل الطاعة.

(منحة الخالق علي هامش البحر الرائق ۵:۱۲۷ باب احكام المرتدين)

۱) وفي الهندية :ولا بأس بهدية من عليه القرض والافضل ان يتورع من قبول الهدية اذا علم انه يعطيه لاجل القرض وان علم انه يعطيه لا لاجل القرض بل لقرابة او صداقة بينهما لا يتورع عنه.

(فتاوي هندية ۳:۲۰۳ الباب التاسع عشر في القرض والاستقراض)

خرچه کړې ده نو زما د اجازت نه بغیر که زما د ترۀ ځوی زما قرضه ادا کړه نو آیا هغه د دې مطالبه کولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: اول دین ڈاک خانه سوجنډه یانډه کیمل پور......۱۳۰کتوبر ۷۷ء

الجواب: که ستاسو د ترۀ ځوئې نه ستاسو وکیل وی او نه شریک وی او نه مجبور وی نو د دې پیسو ستاسو نه مطالبه نه شی کولې. (۱) والله اعلم

د نامعلوم کافر نه د اخستلې شوې قرضې ادا کولو طریقه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسلمان په ذمه د غیر مسلم شل (۲۰) روپئ قرض واجب الاداء وو، غیر مسلم د مودې نه یعنی په ۱۹۴۷ء کښې د ملک د تقسیم کیدو نه پس هندوستان ته لاړو، مسلمان سړی ته دا معلومه نه وه چې هغه په هندوستان کې چېرته مقیم دې دې باره کې شرعی حکم بیان کړئ چې د پورته ذکر شوی رقم سره څه وکړې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی سلطان محمود پلوځ..... ۱۳ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: که دا پیسې د مسلمان وې نو په صدقه کولو سره به ئې ذمه فارغ شوې وې، کما فی لقطة الدر المختار، علیه دیون ومظالم جهل اربابها ولیس من علیه ذلك من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله (۲) بلکه بعض

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: لان من دفع دین غیره بغیر امره فلا رجوع له علي الدائن ... ولا علي المدیون... والمتبرع لا یرجع بما تبرع به علي غیره کما لو قضي دین غیره بغیر امره. (فتاوي تنقیح الحامدیة ۲:۲۴۸ کتاب المداینات)

وقال العلامة المرغیناني: قضي دین غیره بغیر امره فلا یرجع علیه.

(الهدایة ۳:۱۰۳ کتاب البیوع، مسائل منثورة)

۲) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۳:۳۵۳ قبیل کتاب الابق)

فقهاء کرامو لیکلي دي چې په داسې صورت کې به په آخرت کې مواخذه نه وی، کما في ردالمحتار ۳: ۴۴۶، وفي الفصول العمادية لولم يقدر على الاداء لفقره اونسيانه اولعدم مقدرته قال شدادوالناطفي رحمهما الله تعالى لايواخذ به في الاخرة اذاكان الدين ثمن متاع اوقرضا(۱)، خو چونکې دا پيسې د کافر دی په دې وجه د دې صدقه کول به بې فائدې وی خو د عدم قدرت د وجې نه به مواخذه نه وی او ډير احتياط په دې کې دې چې په دې کافر باندې که دچا قرض وی نو هغه ته دې ورکړې شی کنه نود بيت المال مصارف (طلبه مساکين وغيره) کې صرف کړې شی، لانه مال ضائع(۲) وهوالموفق

د قرض په بدل کې پيدوار د مقرره نرخ په حساب سره اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې يو سړې د جرمنی نه راغلې دې هغه دا سودا بازی شروع کړې ده چې کوم سړی ته د پيسو ضرورت وی نو ديرش زره يا د هغې نه زياتې پيسې دې سړی ته د پټی دپاره ورکوی چې په دې باندې څمکه تياره کړه او کله چې فصل تيار شی نو نيم فصل ماته راکوه اوپه دې حساب سره به قرضه پوره شی نو آيا په دې کې حرمت شته يا نشته؟ اودا قيمت په مسجد او مدرسه باندې خرچ کول څنګه دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: مولوی عيسیٰ خان .... ۸ جنوری ۱۹۸۶ء

---

۱) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳: ۳۵۳ قبيل کتاب الابق)

۲) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالي: (فينتفع) الرافع (بها لو فقيرا والا تصدق بها علي فقير... الا اذا عرف انها لذمي فانها توضع في بيت المال.
(درمختار ۳: ۳۵۱ کتاب اللقطة)

وقال العلامة ابن عابدين: لانه بمنزلة المال الضائع والفقراء مصرفه عند جهل اربابه. (ردالمحتار ۳: ۳۵۴ مطلب فيمن عليه ديون ومظالم جهل اربابها)

الجواب: که دا مقرر شوې پیدوار د مقرر شوی نرخ په حساب سره اخلی نو په دې کې هیڅ حرمت نشته. (۱) په مسجد او مدرسه باندې خرچ کول ئې هم صحیح دی. وهوالموفق

پونډ په قرض ورکولو سره څه موده پس د بینک په ریټ باندې په پاکستان کې زیاتې پیسې اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په انګلینډ کې څه پیسې په دې نیت او شرط باندې واخستلې چې زه په پاکستان کې څه ګاډی بک کول غواړم او زمونږ ملک د پابندئ د وجې نه د دومره پیسو د بهر لیږلو اجازت نه ورکوی چې مونږ کاروبار وکړې شو او مونږ ستاسو دا رقم په دې شرط باندې اخلو چې تاسو ته به څلور میاشتې پس د بینک په ریټ په هر پونډ باندې پنځه روپئ په پاکستان کې زیاتی ادا کوو هغه وخت په بینک کې د پاکستانئ روپئ نرخ فی پونډ په ۲۲ روپئ وو هغه ماته پنځویشت روپئ فی پونډ باندې په پاکستان کې ادا کړې نو هغه صرف درې روپئ پونډ کې زیاتې ادا کړې نو دا پیسې اخستل زما دپاره نقصان نه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد الیاس مقام زنګو محله حافظ اباد تحصیل تاتک ... ۱۹ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا معامله ناجائز ده. لکون کل قرض جر نفعا فهو ربا. (۲) دا هُنډی نه ده چې د منی ارډر په شان ده. (۳) وهوالموفق

---

۱) ځکه چې په دې صورت کې نه ربوا راځی او نه شبه ربوا لازمیږی. (مفتی سیف الله حقانی)

۲) عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط.
(بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم الحديث: ۸۱۲)

۳) قال العلامة اشرف علي التهانوي: منی آرډر مرکب دې د دوه معاملو نه، یو قرض دې کوم چې اصل پیسو سره متعلق دې، دویمه اجاره ده کوم چې د فارم لیکلو او روانولو باندې د فیس په نوم ورکولې شي، او دواړه معاملې جائز دی نو د دواړو مجموعه هم جائز ده او چونکې په دې کې ابتلاء عامه ده په دې وجه دې تاویل سره د جواز فتوی مناسب ده. (امداد الفتاوي ۳: ۱۴۶ کتاب الربوا ،تحقیق منی آڈر)

په قرض ورکولو کې شرط فاسد لګول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی بل ته د قرض ورکولو په وخت فاسد شرط ولګولو نو آیا په دې شرط فاسد سره قرض فاسد کیږی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی هدایت الله......۱۸ جنوری ۱۹۷۹ء

الجواب: قرض د شرط فاسد د وجې نه نهٔ فاسد کیږی. **کما فی شرح التنویر**(۱) **وهوالموفق**

د قرضې رسید لره په کم قیمت باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید سره زر روپۍ د یو منډۍ پرچه ده کوم چې یوه میاشت پس واجب الادا دی، د څه سخت ضرورت د وجې نه عمر د زید نه په دې پرچې اخستلو باندې صرف نهه سوه روپۍ ورکوی او بیا یوه میاشت پس زر روپۍ د منډۍ نه وصولوی نو دا سل روپۍ سود دې یا نه؟ جواب د دلیل سره راکړئ. **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی نیاز احمد ضلع پشاور تحصیل چارسده دا کخانه او مقام گل آباد

الجواب: دا سود دې، د روایاتو او احادیثو نه فقهاء کرامو دا اصل او قاعده مستنبط کړې ده چې **﴿کل قرض جرنفعاً فهوربا﴾**(۲) او دا نهه سوه

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصکفي: ههنا اصلان احدهما ان کل ماکان مبادلة مال بمال یفسد بالشرط الفاسد کالبیع ومالا فلا کالقرض.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۲۴۷ ما یبطل بالشرط الفاسد ولا یصح تعلیقه به)

۲ ﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله کل قرض جر نفعا حرام) اي اذا کان مشروطا.

(ردالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب کل قرض جر نفعا حرام)

وفي الهندیة: قال محمد رحمه الله تعالي: في کتاب الصرف ان اباحنیفة رحمه الله تعالي کان یکره کل قرض جر منفعة.

(فتاوي هندیة ۳:۲۰۲ الباب التاسع عشر في القرض والاستقراض)

روپۍ په حقیقت کې قرض وی چې د هغې په عوض کې زر روپۍ وصولولې شي. فقط(۱)، (۲) وهوالموفق

دين په غير مديون باندې د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: سائل د خپلې معاوضې کتابونه (تقريبا د شلو زرو روپو) خپل مهربان بزرګ مثلا الف ته په ۱۹۲۲ء کې په دې غرض ورکړل چې هغه د خپلې خمکې قيمت په دې پيسو سره ادا کړې شي په دې کې نه څه شرط او نه د ادا کولو د نيتې په باره کې څه مقرر شو.

۲: د الف دوه ځامن دی مثلا ب (مشر) او ج (کشر) د معاوضې د کتاب ورکولو نه مخکې ج د ب په معرفت باندې اته زره روپۍ په يو کال کې د ادا کولو په وعده باندې قرض واخستلو.

۳: پورته ذکر شوې معاملاتو (۱، ۲) نه مخکې ب د سائل نه د معاوضې کتابونه په پنځوس فيصده شرح باندې د اخستلو اراده وکړه خو سائل په دې سره اتفاق ونکړو.

۴: په ۱۹۲۳ء کې ج سائل ته څلور زره روپۍ ادا کړې.

۵: څه موده مخکې ب د ج په ذريعه پنځه زره روپۍ ماته راوليږلې بغير د وضاحت نه چې دا معامله د نمبر ۱ متعلق ده يا د نمبر ۲.

۶: په ۱۹۲۴ء کې الف وفات شو د سائل په وينا باندې ب يو کرت اووۀ زره روپۍ او د هغې نه پس دوه زره روپۍ ماته راوليږلې نو د دواړو معاملو

---

۱) اوکه صرف د پرچې بيعه اوکړې شي نودا به د زر روپو د نوټ د بيعې په حکم کې وی. (مفتی سيف الله حقانی)

۲) په سوال کې ذکرشوې صورت په حقيقت کې د بيع الدين ممن ليس عليه الدين صورت دې او لزوم د ربوا نسيئه په وجه ناجائز دې، فافهم. (مفتي سيف الله حقاني)

متعلق (اول او دویم) ماته اتلس زره روپئ ملاؤ شوې، ب د ادا کولو په وخت د دې امر اظهار وکړو، چې د معامله نمبر ۱ رقم ادائیگی په ۵۰ فیصده شرح باندې کړې شوې وه او اوس ټول ادا شو، د ج بیان دې چې د الف سره د معامله نمبر ۱ متعلق په بازاری نرخ ۵۰ فیصده باندې معامله مقرر شوې وه خو سائل ته دا یاد نه دی.

۷: خلاصه د خبرې دا چې د سائل مطالبه ده چې د معاوضې د کتابونو قیمت ماته سل فیصده ملاویدل پکار دی ځکه چې سائل په ۵۰ فیصده باندې تیار نه وو او حکومت اعلان کړې وو چې د معاوضې د کتابونو د باقی پاتې پیسو معاوضه به حکومت پوره پوره ادا کوی که ما ب او ج ته کتابونه نه وې ورکړې نو حکومت به ماته سل فیصده قیمت ادا کړې وې او د ب او ج موقف دا دې چې هغه په نقدو پیسو باندې د ۵۰ فیصده په حساب سره هم هغه وخت سره د بل ځای نه اخستلې شو لهذا د تپوس کولو خبره دا ده چې د شریعت په رڼا کې زه سل فیصده حقدار یم یا د پنځوس فیصده لکه چې د ب او جیم موقف دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: محمد هارون بي فور هومز فليټ پشاور کينټ ...... يکم ربيع الاول ۱۹۷۰ء

الجواب: چونکې د معاوضې په کتابونو کې د لیکلې شوې رقم حکومت مقروض وی یعنی مدیون وی او د هغې کتابونو د بل چا نوم ته منتقل کول د بیع په طور وی نه د توکیل په طور. لهذا دا بیع ناجائز ده، **لما في الاشباه والنظائر** ۳۷۰ **وبيع الدين لا يجوز ولو باعه من المديون او وهبه جاز**(۱) او په اخستونکی باندې ضروری ده چې بعینه هم هغه کتاب واپس کړی یا د هغې مثل واپس کړی. **فقط**

د قرضې په مقاصاة باندې به د اقامت د ګواهانو نه مدیون بری وی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د منور زما په

---

۱) (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۱۴۱:۴ القول في الدين)

ذمه پنځلس زره ریال قرضه وه، ما هغه سره مزدوري وکړه نو زما مزدوري د هغه په ذمه شپاړس زره ریاله جوړ شو د دې حساب کتاب په وخت دوه ګواهان عبدالواحد او امیر شاه موجود وو او خپله ئې اقرار کولو سره وویل چې ماته دا معلومه ده چې ستا په ذمه قرض پاتې نه شو، اوس منور دوباره پنځلس زره ریال غواړی او وائی چې هغه مزدوری په بله قرضه کې ختم شوې ده، عبدالواحد او امیر شاه منوّر ته وویل چې ته ظلم کوې، لهذا تاسو راته شرعی مسئله بیان کړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد درویش ریاض......۱۱۶۸۱ سعودیه عربیه.... ۷ جون ۸۶ء

الجواب: که تاسو سره د دې قرضې د مقاصاة شهادت شرعی موجود وی نو د شهادت د اقامت نه پس به تاسو بری یئ.(۱) بله دا چې که تاسو سره شهادت وی چې منور د قرضی د نه باقی کیدو اقرار کړې دې نو تاسو به بری یئ.(۲) او که تاسو سره شهادت نه وی نو تاسو به منور ته قسم ورکوئ.(۳)

وهوالموفق

---

۱) عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان النبي ﷺ قال: البینة علي المدعي والیمین علي المدعىٰ علیه. (مشکوٰة المصابیح ۳۲۷ باب الاقضیة والشهادات)

وفي الهندیة: فان صحت الدعوي سأل المدعىٰ علیه عنها فان اقراوانکر فبرهن المدعي قضي علیه والا حلف بطلبه. (فتاویٰ عالمگیریة ۱۳: ۴ الباب الثالث في الیمین)

۲) وفي شرح المجلة: اما اذا ادعي الغریم ان صاحب المال ابرأه او حلله وشهد علي اقرار صاحب المال بالاستیفاء فان القاضي یسئل الغریم عن البراءة او التحلیل أكانت بالاسقاط او بالاستیفاء فان قال كانت بالاستیفاء قبلت.

(شرح المجلة ۵:۲۹۴ المادة: ۱۷۰۶ الفصل الرابع في بیان موافقة الشهادة للدعوي)

۳) وفي شرح المجلة: اذا اظهر المدعي العجز عن اثبات دعواه یحلف المدعىٰ علیه بطلبه. (شرح المجلة ۵:۳۹۴ المادة ۱۷۴۲)... وقال العلامة ابن عابدین: (سئل) فیما اذا ادعي المدیون الایصال فانکر المدعي علیه ولا بینة له ...[بقیه بر صفحه آئنده...

د ضروریاتو دپاره په قرضه اخستلو باندې رشوت ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه یو سرکاری ملازم یم د حکومت نه د کور تعمیر کولو دپاره قرضه اخلم خو هغه قرضه ماته بغیر د رشوت نه نۀ ملاویږی نو آیا زما دپاره د دې قرضې د اخستلو دپاره رشوت ورکول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شبیر احمد مکان نمبر: ۳۶۷۲ محله کیگران پشاور
ډبگری گیټ ۸ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: د کور جوړول د ضروریاتو نه دی دې مقصد ته د رسیدو دپاره د رشوت ورکونکې گناهگار نه دې. (۱) خو د دې قرضې نوعیت معلوم کړئ چې په دې کې سود ورکول راځی او که نه؟ **وهوالموفق**

د صاحب حق د غصب یا د دباؤ په ذریعه د غیر جنس نه حق وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په یو دکان باندې ناجائز قبضه کړې ده یعنی د دکان د مالک د وینا مطابق کرایه نه ورکوی او حکومت هم مالک ته قبضه نه ورکوی، د کور مالک د دکان د

...بقیه ازحاشیه گذشته]

فطلب یمینه فقال المدعي اجعل حقي في الختم بمعني احضر حقي ثم استخلفني فهل له ذلک (الجواب) نعم له ذلک في زماننا.

(فتاوي تنقيح الحامدية ۲۲ : ۲ كتاب الدعوي)

(۱) قال العلامة ابن عابدين : ثم الرشوة اربعة اقسام ... الثالث اخذ المال ليسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو حرام علي الآخذ فقط.

(ردالمحتار ۳۳۸ : ۴ مطلب في الكلام علي الرشوة والهدية)

وقال العلامة ابن نجيم : ومنها اذا دفع الرشوة ليسوي امره عند السلطان حل له الدفع ولا يحل للآخذ ان يأخذ.

(البحر الرائق ۲۶۲ : ۶ كتاب القضاء)

کرایه دار نه شرعی حق وصولولو دپاره څه څه تدابیر اختیارولې شی چې په هغې سره د هغه حق حاصل شی آیا د کور مالک ته دا حق حاصل دې چې د هغه د غصب په وجه باندې په هغه باندې په نورو ذرائع سره دباؤ واچوی آیا د دکان کرایه زیاتول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالمنان ....۱۳| اگست ۱۹۸۰ء

الجواب: د صاحب حق دپاره خپل حق وصولول جائز دی اگر چې په غصب یا دباؤ سره وی او اگر چې د غیر جنس حق نه وی (مثلا د سلو روپو په عوض کې چیلی. وغیره واخلی)

کما فی الدر المختار علی هامش رد المحتار ۵/۳۷۳ لیس لذی الحق ان یأخذ غیر جنس حقه وجوزه الشافعی وهو الاوسع.(۱) وهو الموفق.

د قرض د ورکولو نه پس که د مروج سکې قیمت کم شو نو څه حکم دې؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې داسې مالی واجبات چې د هغې د ادا کولو وخت په معاهده کې نه وی مقرر شوې او بیا د هغې ادا کول د کافی مودې نه پس د کرنسی نوټ په شکل کې کولې شی حال دا چې د کرنسی نوټ په قیمت کې ښه کمې راغلې وی نو اسلامی نقطه نظرسره آیا اوس به د دې ادا کول د کرنسئ د نوټونو په تعداد سره کولې شی چې د هغې د تعداد برابر کرنسی نوټ اخستلې شوې وو یا به د هغې تعداد د موجوده کرنسی نوټ د قیمت په اعتبار سره متعین کولې شی مثلا که زر روپئ د خرچې په طور په ۱۹۷۰ء کې واجب الاداء شوې وې او اوس د هغې

---

۱) (الدرالمختار ۵:۳۰۰ کتاب الحظر والاباحة، فروع فصل في البیع)
وقال العلامة الحصکفي: ومثل دینه ولو دینه مؤجلا او زائدا علیه او اجود لصیرورته شریکا اذا کان من جنسه ولو حکما بان کان له دراهم فسرق دنانیر وبعکسه هو الاصح لان النقدین جنس واحد حکما... واطلق الشافعي اخذ خلاف الجنس للمجانسة في المالیة قال في المجتبی وهو اوسع فیعمل به عند الضرورة.
(الدرالمختار ۳:۲۱۹ کتاب السرقة، مطلب في اخذ الدائن من مال مدیونه من خلاف جنسه)

ادا کول په ۱۹۸۵ء کې کیږي نو آیا اوس به هم زر روپۍ ورکوی یا اوس به د زرو روپو دقیمت برابر روپۍ ورکوی وغیره وغیره، اوس اسلامی نقطه نظر سره دا هم ښکاره کول پکار دی چې ایا د کرنسۍ د نوټ په قیمت کې د کمی په باره کې قرض او د نور مالی لین دین معاملات برابر دی یا په دواړو کې فرق دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: پروفیسر انوار الله صاحب اسلام آباد ......۲۱ اکتوبر ۱۹۸۷ء

الجواب: واضحه دې وی چې د کرنسی نوټ متعلق علماء مختلف دی د بعض په نزد دا کرنسی نوټ قباله او حواله ده او د بعض په نزد ثمن عرفی دې لکه د سرواو سپینو نه علاوه د تانبې سکې وغیره ثمن عرفی دی پس که په یو سړی باندې په ۱۹۷۰ء کې زر روپۍ واجب شوې نودفریق اول د علماؤ په نزد به دا سړې د قیمت په لحاظ سره ادائیگی کوی، یعنی د ۱۹۷۰ء په حساب سره په زر روپۍ باندې چې څومره سپین زر ملاویدل نو په دومره چاندۍ (سپینو زرو) باندې به چې ۱۹۷۵ء کې چې څومره کرنسی نوټ ملاویږی ادا کولې شی او د علماء کرامو د دویمې ډلې په نزد به صرف زر کرنسی نوټونه ورکولې شی اوبهرحال د دویمې ډلې نظریه صحیح ده.(۱) قباله اوحواله بغیردنیت، بغیرد ارکانونه تسلیمول خلاف قاعده ده. وهوالموفق

---

(۱) وفي منهاج السنن :اختلف الاكابر في حقيقة النوت قال بعضهم انه قبالة الحوالة وليس بثمن... قال بعضهم هو ثمن رائج لانه يتوسل به الي حصول الاجناس مثل الدراهم المغلوبة الفضة والفلوس وكذا لا يقصد به عند الاخذ والاعطاء الا ما يقصد عند اخذ الدراهم الرائجة والفلوس واعطائها ولا يخطر ببال احد ما يقصد من الحوالة والقبالة فافهم. قلت ويؤيد كونه اثمانا رائجة ان المتعارف ان من اقترض عددا من النوت لا يؤدي المقرض الا هذا العدد وان تفاوتت الدراهم في قدر الفضة.
(منهاج السنن ۳:۱۲۷ باب ماجاء في زكوٰة الذهب والورق)... وقال العلامة الحصكفي: استقرض من الفلوس الرائجة والعدالي فكسدت فعليها... [بقيه برصفحه آئنده...]

د قرض ورکولو نه پس مروجه سکه بدله شوه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید بکر ته د سلو روپو سپینو زرو والا سکې قرض ورکړې وې، تر اوسه پورې هغه قرض نه دې ادا شوې، اوس بکر قرض ادا کول غواړی خو اوس خو د سپینو زرو والا روپئ رائج نه ده که ملاؤ هم شی نو ډیره قیمتی ده لهذا اوس به بکر زید ته قرض څنګه واپس ورکوی؟ بینواتوجروا

المستفتی: بخت یاسین متعلم حقانیه اکوړه خټک ... ۲۷ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا سړې به د سلو روپو د وزن برابر سپین زر یا د هغې قیمت (عند الرضا) دې مقروض ته ورکوی، ونظیره الثمن کما فی الشامیة ۴:۲۵ لمارمن صرح بحکم الدراهم الخالصة او المغلوبة الغش سوی ما افاده الشارح هنا، وینبغی انه لاخلاف فی انه لایبطل البیع بکسادها ویجب علی المشتری مثلها فی الکساد والانقطاع، فافهم(۱). وهوالموفق

د باقاعده بیع په صورت کې په قرض خرڅولو کې هیڅ باک نشته

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د چینو یوه بورئ په اووۀ سوه شپیته روپو باندې خرخیږی هغه د یو کال په قرض باندې په زر روپئ خرڅوی یا په مارکیټ کې کپړه په شپږ روپئ یا اووۀ روپئ فی ګز وی او د یو کال په قرض باندې هم دا کپړه په لس یولس روپئ باندې

...بقیه ازحاشیه گذشته] مثلها کاسدة ولا یغرم قیمتها. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدین: (قوله فلا عبرة بغلائه ورخصه)... واذا استقرض عشرة افلس ثم کسدت لم یکن علیه الا مثلها في قول ابي حنیفة وقالا علیه قیمتها من الفضة یستحسن ذلک. (ردالمحتار ۴:۱۹۲ فصل في القرض)

۱) (ردالمحتار ۴:۲۷ مطلب مهم في احکام النقود اذا کسدت او انقطعت)

خرڅیږي یا د غوړو ډبې د ایجنسئ د ریټ مطابق په دوه سوه روپئ وی د یو کال په قرض باندې هغه ته دوه سوه شپیته روپئ فی ډبې ورکول شرعا څنګه دي؟ آیا داسې نفع سود دې یا نه؟ مهربانی وکړئ د شریعت په رڼا کې جواب راکړئ. بینواتوجروا

المستفتی: حاجی عبدالرحمٰن پټهان دی آئی خان ۸ مئی ۱۹۸۶ء

الجواب: دا درې واړه صورتونه جائز دی، د قرض خرڅولو د وجې نه زیادة فی الثمن جائز دې. (حاشیه چلپی (۱) وغیره) (۲) وهوالموفق

د قرض د وجې نه د مقروض نه څه اخستل جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید عمر ته د پنځه سوه روپئ قرضی ځمکې په عوض کې د لس روپئ کنال په حساب سره یا زیات یا کم ورکړې یعنی په مینځ کې ئې هیڅ ځمکه نشته، پس قرض کړئ چې بائع (عمرو) هغوی ته ځمکه د لسو روپو په حساب په لس روپئ فی کنال ورکولو سره هغوی (زید) هغه ته پنځه سوه روپئ ورکړئ اوس زید د عمرو نه د فی کنال په حساب سره د کال شل سیره غنم وصولوی او زید به د هغه نه دا شل سیره غنم تر هغه وخته پورې وصولوی ترڅو چې عمرو پنځه سوه روپئ نه وی ادا کړې نو آیا دا د زید دپاره سود نه جوړیږی، که جوړیږی نو

---

۱ ﴾ قال العلامة اللكهنوي : په حاشیه چلپي کې دی: يجوز ان يقدر الثمن في المبيع بالموجل اكثر مما في المعجل بحيث تقابل كثرة المؤجل تعجيل القليل.

(مجموعة الفتاوي ۱۲۴ : ۲ كتاب البيع)

۲ ﴾ قال العلامة ابن عابدين : لان للاجل شبها بالمبيع الا تري انه يزاد في الثمن لاجله. (ردالمحتار ۱۷۷ : ۴ باب المرابحة والتولية)

(ومثله في البحر الرائق ۱۱۴ : ۶ باب المرابحة والتولية)

مهرباني وکړئ د کتابونو د حوالې سره وضاحت وکړئ بينوا توجروا

المستفتي: (مفتي) سيف الله مروت متعلم دار العلوم حقانيه

(حالا رئيس دار الافتاء دار العلوم حقانية) اکوړه خټک

الجواب: چونکې د زيد قرض په خپل ځای باقی دې او ددې قرضې د وجې نه دکال د عمرو نه غنم اخستلې شی لهذا دا بغير د شک او شبهې نه ناجائز دی. عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا اقرض احدکم قرضا فاهدی اليه او حمل علی الدابة فلا يرکبه ولا يقبلها الا ان يکون جری بينه وبينه قبل ذلك (رواه ابن ماجة) (۱) وعن النبی ﷺ اذا اقرض الرجل فلا يأخذ هديته (رواه البخاری فی تاريخه) (۲) وعن ابی بردة ابن ابی موسی قال قدمت المدينة فلقيت عبد الله بن سلام فقال انك بأرض فيها الربوا فاش فاذا کان لك علی رجل حق فاهدی اليك حمل تبن او حمل شعير او حبل قت فلا تأخذه فانه الربوا، رواه البخاری (مشکوٰة ۲۴۵) (۳) قال مولانا (۴) علم من هذه الاحاديث ان کل قرض جر نفعا فهو ربوا وحرام (۵) وفی الهندية ۲۶۴:۳ قال محمد رحمه الله فی کتاب الصرف ان ابا حنيفة رحمه الله کان يکره کل قرض جر منفعة فليراجع (۶). وهو الموفق

---

۱) (سنن ابن ماجة ۱۷۷ باب القرض)

۲) (مشکوٰة المصابيح ۲۴۶ باب الربوا)

۳) (مشکوٰة المصابيح ۲۴۶ باب الربوا)

۴) مولانا اي امين الله في الارض مولانا نصير الدين الغورغشتوي (مفتي سيف الله حقاني)

۵) قال العلامة ابن عابدين: (قوله کل قرض جر نفعا حرام) اي اذا کان مشروطا. (ردالمحتار ۴: ۱۹۴ مطلب کل قرض جر نفعا حرام)

۶) (فتاوي عالمگيرية ۲۰۲:۳ الباب التاسع عشر في القرض والاستقراض)

قرض اخستلو سره په هغې باندې د تجارت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی قرض اخستلو سره په هغې باندې تجارت کوی او قرض نه ادا کوی، آیا د دې تجارت به صحیح وی؟ او د هغې گټه به حلال وی یا حرام؟ بینواتوجروا

المستفتی: نذیر احمد وزیرستان ۲۷ ذی قعده ۱۴۰۶ھ

الجواب: د قرض نه ادا کول کبیره گناه ده.(۱) خو چونکې مدیون د دین مالک وی.(۲) لهذا په دې دین (قرض) باندې تجارت کولو کې هیڅ باک نشته، او نه د دې نه په گټه کولو کې څۀ باک شته. وهوالموفق

د محتاج د پاره د سودی پیسو اخستلو حکم

سوال: قال فی الاشباه والنظائر جزء اول القاعدة الخامسة الضرر یزال وفی آخره ۱۱۵ قبیل القاعدة السادسة: وفی القنیة والبغیة یجوز للمحتاج الاستقراض بالربح اه قال شارحه الحموی وذلک نحوان یقترض عشرة دنانیر مثلاً ویجعل لربها شیئاً معلوماً فی کل یوم ربحاً، آیا دا صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولا عبید الله لور الائی ۲۱ مارچ ۱۹۹۰ء

---

(۱) عن ابي موسي عن النبي ﷺ قال ان اعظم الذنوب عند الله ان یلقاه بها عبد بعد الکبائر التي نهي الله عنها ان یموت رجل وعلیه دین لا یدع له قضاء.
(مشکوٰة المصابیح ۲۵۳:۱ باب الافلاس والانظار)

(۲) قال العلامة العلاء الدین الحصکفي: ویملک المستقرض القرض بنفس القبض عندهما. (الدرالمختار ۱۹۳:۴ فصل في القرض)

الجواب: دا مسئله صحیح ده (۱) په ربا، زیادت او بالنسیئة لـ ئی بائع او مشتری دواړه د حرامو ارتکاب کوی (۲) او (کل قرض جر نفعا فهو ربا) او د رشوت په صورتونو کې محتاج د حرامو مرتکب نه وی (۳)، (۴) وهوالموفق

جنس د جنس په بدل کې د قرض ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې جنس په عوض د جنس کې په قرض اخستل جائز دی یا نه؟ مثلا زید یو من غنم د خپل

---

۱) قال العلامة ابن نجيم : وفي القنية يجوز للمحتاج الاستقراض بالربح.
(البحر الرائق ۶:۱۲۶ باب الربا)

۲) قال العلامة القاري :(عن جابر رضي الله عنه لعن رسول الله ﷺ آكل الربا ومؤكله) قال الخطابي سوّي رسول الله ﷺ بين آكل الربا ومؤكله اذ كل لا يتوصل الي اكله الا بمعاونته ومشاركته اياه فهما شريكان في الاثم كما كان شريكين في الفعل.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ۶:۵۹ باب الربا)

۳) قال الحموي : قوله الرشوة لخوف علي ماله الخ هذا في جانب الدافع اما في جانب المدفوع له فحرام... وينبغي ان يستثني الاخذ بالربا للمحتاج فانه لا يحرم كما صرح به المصنف رحمه الله في البحر ويحرم علي الدافع الاعطاء بالربا.
(شرح الاشباه والنظائر للحموي ۱:۴۴۹ القاعدة الرابعة عشرة ما حرم اخذه حرم اعطاؤه)

وفي شرح المجلة ولهذه القاعدة مستثنيات حال الضرورة كمن وقع تحت يد قطاع الطريق وخاف علي نفسه الهلاک منهم ولا يمكن خلاصه الا برشوة يد فعها لهم فالاعطاء غير ممنوع في حق المعطي حرام في حق الآخذ.
(شرح المجلة ۱:۷۱، ۷۸ المادة ۳۴ ما حرم اخذه حرم اعطاؤه)

۴) **نوټ:** جواب او حواله جات صحیح دی خود محتاج تحدید او تعریف قابل د غور دی.
(مفتی سیف الله حقانی)

گاونډي بکر نه په عوض د يو من غنمو د يوې مياشتې دپاره په طور د قرض اخلي آيا دا جائز دې؟

المستفتي: شاد محمد کوهاټ... ۱۸ شوال ۱۴۱۰ھ

الجواب: دامعامله قرض ده او جائز ده (۱) بلکې عبادت دې (۲) وهو الموفق

په قرض گران خرڅولو کې هيڅ باک نشته

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې د دکاندار نه د گاډي قيمت پوښتنه وکړي او هغه ورته پنځه زره روپۍ ووائي خو اخستونکي ووېل چې في الحال به دوه زره روپۍ درکړم او باقي به درته قسط وار درکړم نو آيا دکاندار دمخکښې قيمت پنځه زره روپو نه زياتولو سره د قرض په صورت کې اووۀ زره روپۍ اخستلې شي يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: د قرض د وجې نه په قيمت کې زيادت جائز دې،

لان النقد خير من النسيئة، وفي مجموعة الفتاوي۲: ۵۲۷ في حاشية الچلبي:

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: (وصح) القرض (في مثلي لا في غيره فيصح استقراض الدراهم والدنانير وكذا) كل (ما يكال ويوزن او يعد متقاربا).

(الدرالمختار ۴:۱۹۱ فصل في القرض)

(۲) قال الله تعاليٰ: من ذا الذي يقرض الله قرضا حسنا فيضاعفه له اضعافا كثيرة.

قال العلامة ثناء الله پاني پتي: وفي فضيلة القرض احاديث منها حديث ابن مسعود عن النبي ﷺ قال كل قرض صدقة رواه الطبراني بسند حسن.

(التفسير المظهري ۱:۲۴۵ آيت:۲۴۵)

يجوز أن يقدر الثمن في المبيع بالمؤجل أكثر مما في المعجل الخ(۱) ويشير اليه تعليل النهر والبحر حيث قال الا ترى انه يزاد الثمن لاجل الاجل(۲) انتهى بخلاف الاعتياض عن الاجل فانه حرام فافهم(۳). وهوالموفق

د مشين دپاره قرض ورکولو سره شرط خروب شوي ځمکې نه د معين حصې فصل ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د يو سړی کوهې دې هغه ماته وويل چې تاسو ماته پنځلس زره روپۍ راکړئ چې زه په کوهی باندې مشين ولګوم او د دې کوهی نه چې په کومه ځمکه خروب کيږی په هغې کې به ستاسو ۱/۳ حصه باقی نقصان هم برداشت کوئ ما دا شرط ومنلو او هغه ته مې پيسې ورکړې اوس هغه په کوهی باندې مشين لګولې دې اوس زما دپاره ۱/۳ حصه ګټه جائز ده يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: محمود اينډ محمد امين مهمند ايجنسی...... ۲۶ جون ۱۹۸۷ء

الجواب: دا معامله ناجائز ده او په سود کې داخله ده، لحديث: كل قرض جر نفعا فهوربا، رواه الحارث البغدادی فی مسنده(۴) وهوالموفق

---

۱) (مجموعة الفتاوي اردو ۲:۱۲۴ كتاب البيع)

۲) (البحر الرائق ۶:۱۱۴ باب المرابحة والتولية)

۳) قال العلامة ابن عابدين: (قوله حالا) لانه اعتياض عن الاجل وهو حرام. (ردالمحتار ۴:۵۳۴ فصل في دعوي الدين)

۴) عن علي رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابي اسامة واسناده ساقط وله شاهد ضعيف عن فضالة بن عبيد عند البيهقي وآخر موقوف عن عبد الله بن سلام عند البخاري. (بلوغ المرام من ادلة الاحكام ۲۸۲ رقم حديث ۸۱۲)...[بقيه بر صفحه آئنده...

غنم د غنمو په بدل کې د قرض ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې بل ته یو من غنم ورکړي او هغه ته ووائی چې د فصل نه پس به ته ماته یو من غنم راکوې آیا دا جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: پیش امام سائر وشاه مردان ......۳۰ شعبان ۱۳۹۹هـ

الجواب: عرف ته د مراجعت نه معلومیږي چې دا معامله قرض ده بیع نه ده، پس دا معامله جائز ده (۱) وهوالموفق

سفتجه (د لارې د خطرې د لرې کیدو دپاره د قرض ورکولو حکم)

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د علاقې خلق د مزدورئ کولو دپاره عرب، دبئ، قطر وغیره ته ډیر ځی او کله چې کور والو ته رقم لیږی نو دا صورت اختیاروی چې مثلا زید دا غواړی چې زه درې زره روپئ کورته په څه طریقه باندې ولیږم نو هلته د هغه یو ملګری وویل چې په پیسو کې لس فیصده ماته راکړئ زه به ستاسو رقم ستاسو کور ته ورسوم هغه دا پیسې عمرو ته ورکړې اوس عمرو د هغه ځای نه خپل ورور

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وفي المنهاج: قال النبي ﷺ ... كل قرض جر نفعا فهو ربا اخرجه الحارث بن ابي اسامة عن علي امير المؤمنين وله شواهد كثيرة روي ابن ماجة عن انس مرفوعا بمعناه وروي عن ابي بن كعب وابن عباس وابن مسعود وفضالة بن عبيد وغيره موقوفا. (منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۲۴ باب ماجاء في الصرف)

(۱) وفي الهندية: ويجوز القرض فيما هو من ذوات الامثال كالمكيل والموزون. (فتاوي عالمگيرية ۳:۲۰۱ الباب التاسع عشر في القرض والاستقراض)

وقال العلامة الحصكفي: هو عقد مخصوص يرد علي دفع مال مثلي لآخر ليرد مثله وصح القرض في مثلي. (الدرالمختار ۴:۱۹۱ فصل في القرض)

بکر ته د خط په ذریعه یا تار دا خبر ورکړو چې تاسو دوه زره اووه سوه روپۍ د زید کور کې ورکړې او عمرو هلته درې زره روپۍ ورکړې او د لس فیصده په حساب سره درې سوه روپۍ خپل ځان سره کېښودلې مهربانی وکړئ د دې څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالجلیل

الجواب: که زید د عمر نه دا پیسې قرض اخستلې وی، نو دا معامله او په دې باندې اجرت اخستل دواړه ناجائز دی،

لما فی الدرالمختار: وکرهت السفتجة وهی اقراض لسقوط خطر الطریق(۱) وبمعناه فی جمیع المعتبرات(۲)

او که چېرې دا رقم د وکالت په طور ورکړې شوی وی نو جائز دی.

لجوازاخذ الاجرة علی الوکالة صرحوابه(۳). وهوالموفق

د ګاونډیانو خپل مینځ کې اوړه، چینی وغیره په معین مقدار کې اخستل قرض دې بیع نه ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مثلا په یو کور

---

۱) (الدرالمختار ۳۲۹:۴ مطلب في السفتجة وهي البوليصة)

۲) وفي الهندية: وكره السفاتج وهو قرض استفاد به المقرض سقوط خطر الطريق وقد نهي رسول الله ﷺ عن قرض جر نفعا.

(فتاوي عالمگيريه ۲۹۴:۳ مطلب السفتجة وهي البوليصة)

۳) وفي شرح المجلة: اذا اشترطت الاجرة في الوكالة واوفاها يستحقها... وانما يجب للوكيل اجر علي عمله ان شرط له ذلک صريحا او بدلالة العرف.

(شرح المجلة ۴۴۵:۴ المادة ۱۴۶۷)

وقال العلامة وهبة الزحيلي: تصح الوكالة باجر وبغير اجر لان النبي ﷺ كان يبعث عماله لقبض الصدقات ويجعل لهم عمولة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۲۹۹۷:۴ الوكالة)

کې اوړۀ، چینی یا ډالډا وغیره ختم شی نو ګاونډی په یو لوښی ټاپ اخستلو سره دا څیزونه اخلی د دې څه حکم دې؟ دغه شان که یو دکاندار یا سوداګر هم وکړی چې یو ټیم ډالډا یا یو من اوړۀ واخلی د بل دکاندار نه، او خپل ضرورت پوره کولو سره لس اتۀ ورځو نه پس بالکل هم په هغه انداز متعینه سره بل ته واپس کوی د دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا معین الدین قریشی...... ۱۷ اګست ۱۹۸۹ء

الجواب: دا معامله جائز ده، دا معامله قرض ده (۱) بیع نه ده الفاظ او عرف دواړه د دې د قرض کیدو ګواه دی او په بعض اجناس کې (مثلا مالګه مرچکې وغیره) خالص مسامحه مقصود وی. (۲) وهوالموفق

پاکستانی سکه خپل مینځ کې په قرض خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې کله چې یو دکاندار یا دبل چا نه سل روپۍ د نوټ په بدل کې ماتې روپۍ اخستل وی نو د دې خبرې خیال ساتل ضروری دی چې هغه وخت د هغه دکاندار نه یا د هغه سړی نه چې د هغه نه ئې د نوټ په بدل کې ماتې روپۍ که پنځه وی، د پنځه نوټونه وی یا د لسو نوټونه وی پوره په پوره وصول کړې شی که دې سړی نوی روپۍ وصول کړی او د لسو روپو معذوری ظاهر کړه نو که دا دکاندار یا سړې دا

---

۱) قال العلامة الحصكفي: (وصح) القرض (في مثلي لا في غيره فيصح استقراض الدراهم والدنانير وكذا) كل (ما يكال ويوزن او يعد متقاربا).

(الدرالمختار ۱۹۱: ۴ فصل في القرض)

۲) عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال رحم الله رجلا سمحا اذا باع واذا اشتري واذا اقتضي. قال العلامة العيني: وفي الحديث الحض علي المسامحة وحسن المعاملة واستعمال محاسن الاخلاق ومكارمها.

(عمدة القاري ۱۸۸،۱۸۹: ۱۱ باب السهولة والسماحة في الشراء والبيع)

ووائی چې د لسو روپو کمې به صبا ته پوره کړې نو که داسې وشوه نو دا سود دې یعنی د لسو روپو کمې سود دې یا نه دې؟ بعض دې ته سود نه وائی، وائی کله چې بیع نه وی شوې نو سود هم نه راځی، شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: شاهسوار خان دوسلی میرانشاه شمالی وزیرستان ... ۲۶ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: که د نوټ حقیقت قباله[1] وی یا ثمن عرفی وی «د فلوس په شان» نو په دې کې دا بدلون بیع صرف نه ده بیع صرف په ثمن خلقی کې وی خلاصه دا ده چې نوټ نه سرۀ زر دی او نه سپین زر بلکې یو کاغذ دې یا قباله ده او یا ثمن عرفی دې وهوالراجح عندالتحقیق (۲) په دې کې ربا **کل قرض جرنفعافهوربا**.... په قاعده باندې راتلې شی (۳) خو بیع صرف او یا د ربا زیادة په هغې کې راتلل د فهم نه اوچت دی. **وهوالموفق**

---

(۱) **قباله**: هغه کاغذ چه په هغې سره په څه څیز باندې ملکیت ښکاره شی. (فیروز اللغات ۹۴۷)

(۲) **وفي المنهاج**: اختلف الاکابر في حقیقة النوت، قال بعضهم انه قبالة الحوالة ولیس بثمن ... وقال بعضهم هو ثمن رائج لانه یتوسل به الي حصول الاجناس مثل الدراهم المغلوبة الفضة والفلوس وکذا لا یقصد به عند الاخذ والاعطاء الا ما یقصد عند اخذ الدراهم الرائجة والفلوس واعطاء ها ولا یخطر ببال احد ما یقصد من الحوالة والقبالة فافهم ... قلت ویؤید کونه اثمانا رائجة ان المتعارف ان من أقترض عددا من النوت لا یؤدي المقرض الا هذا العدد وان تفاوت الدراهم في قدر الفضة.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۳:۱۲۷ باب ماجاء في زکوة الذهب والورق)

(۳) قال العلامة ابن عابدین: (قوله کل قرض جر نفعا حرام) اي اذا کان مشروطا.
(ردالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب کل قرض جر نفعا حرام)

سرهٔ زر او سپین زر په نقد پیسو باندې اخستلو

سره په قرض باندې زیادة سره خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: زید د یو صراف نه سرهٔ یا سپین په نقد پیسو باندې واخلی بیا هم هغه سرهٔ زر یا سپین زر په قرض باندې خرڅ کړی او فی توله سل روپئ زیات قیمت لګوی نو آیا دا زیادت جائز دې؟ او دا معامله حرام ده که جائز؟

۲: جمیل سره پنځه تولې سرهٔ زر او لس تولې سپین زر دی نو د زکاة حکم به څه وی؟ تضمین به د کوم طرفه وی؟ او که چا سره یو توله سرهٔ زر او شل تولې سپین زر وی نو زکوة به د څه نه ورکوی. په البحر الرائق ۲:۲۳۲کې دی: وتضم قیمة العروض الی الثمنین والذهب الی الفضة وضم احدی النقدین الی الآخر قیمة،مذهب الامام حتی ان من کان له مائة دراهم وخمسة مثاقیل ذهب تبلغ قیمتها مائة درهم فعلیه الزکوٰة،ددې څه حکم دې؟بینواتوجروا۔

المستفتی: محمد فاضل کلې چینه علاقه بونیر تحصیل وډاګخانه ډګر ضلع سوات. ۲۰ جمادی الثانی ۱۴۰۸ھ هجری

الجواب: ۱: چونکې نوټ ثمن عرفی دې نه فضة دې او نه ذهب، لهذا په دې بیع کې لاس په لاس کیدل ضروری نه دی. (۱) او چلپی وغیره لیکلې دی چې د قرض د وجې نه ثمن زیات مقررول جائز دی. (۲) وکم من فرق بین

---

۱) قال العلامة الحصکفي: (وان عدما حلا) کهروي بمرويين لعدم العلة.
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۱۹۹ باب الربا)

۲) قال العلامة اللکهنوي: حاشیه چلبي مي‌ن ۷۰: یجوز ان یقدر الثمن في المبیع بالمؤجل اکثر مما في المعجل بحیث تقابل کثرة المؤجل تعجیل القلیل.
(مجموعة الفتاوی ۲:۱۲۳،۱۲۴ کتاب البیع)

وقال العلامة ابن عابدین: لان للاجل شبها بالمبیع الاتري انه یزاد في الثمن لاجله. (ردالمحتار ۴:۱۷۷ باب المرابحة والتولیة)

الزيادة لاجل التاجيل وبين الزيادة عوض التاجيل.(۱)

۲. فقهاء کرامو په دې باب کې انفع للفقراء معتبر کړې دې، وهو ضم الذهب الى الفضة في ديارنا. وهوالموفق

المظلوم لا يظلم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد د عمرو نه د بکر قرض واخستلو څه موده پس عمرو د زيد نه سود واخستلو. آيا د دې سود پيسې زيد د بکر نه اخستلې شي يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: في هذه الصورة يقع الملك لزيد سواء وكله بكو بالإستقراض أولم يوكله. الثاني ظاهر. والأول يدل عليه ما في الهندية۳: ۴۳۰: لايصح التوكيل بالاستقراض فلا يثبت الملك فيما استقرض للموكل (۲) الخ فلا وجه للرجوع على بكر مع أن المظلوم لايظلم. (۳) وهوالموفق

---

۱) وفي المنهاج: جازت الزيادة في الثمن لاجل التاجيل كما ذكره الجلبي وقالوا النقد خير من النسيئة بخلاف الاعتياض عن الاجل فانه حرام.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۱۶ باب ماجاء في النهي عن بيعتين في بيعة)

۲) (فتاوي عالمگيرية ۳: ۵۶۴ كتاب الوكالة ،باب الاول)
وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالي" التوكيل بالإستقراض باطل و عليه الفتوى حتي لو وكل به فاستقرض كان له لا للموكل".
(الطحطاوي علي الدر المختار ۳:۲۶۹ قبيل باب الوكالة بالبيع و الشراء)

۳) و في مجموعة قواعد الفقه: المظلوم له أن يدفع الظلم عن نفسه بما قدر عليه لكن ليس له أن يظلم غيره.(مجموعة قواعد الفقه ۱۲۴ :قاعده ۳۳۲)

د قرضې د غیر جنس نه په ادا کولو کې به د وطنی قیمت اعتبار وی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بکر د زید نه ۱۰۰۰ روپئ قرض واخستلې په داسې حال کې چې یوه روپئ شپاړس آنې وه اوس په دې وخت کې یوه روپئ د څلورو انو ده، نو آیا دولس انې کومې چې باقی پاتې کیږی په زید باندې ادا کول ضروری دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ..... ۲۹ رجب ۱۳۹۳ھ

الجواب: په روپئ کې وطنی قیمت معتبر وی نه بین الاقوامی (۱) لهذا نور ورکول به مطلوب نه وی. **وهوالموفق**

د ورک شوو او فوت شوو کسانو د قرضې د ورکولو طریقه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د څو کسانو نه قرضه اخستلې وه، په دوی کې اوس ځینې قرض اخستونکی ورک دی خو ځینې وارثان او رشته دار موجود دی اوس که زید ددې ورک شوې خلقو پیسې د هغوی د ایصال ثواب دپاره خیرات کړی، او یا یې ځینو معلوم قرض غوښتونکو وارثانو ته د هغوی د مورث قرضه ورکړی نو آیا د زید ذمه به فارغه شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نثار محمد پړانګ چارسده ..... ۵ مئی ۶۹ء

الجواب: هو په دې طریقه کار سره د زید ذمه فارغیږی. (۲) **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي ''قوله و عندالثالث يوم اختصما و عبارة الخانية قيمته بالعراق يوم اختصما فأفاد أن الواجب قيمته يوم الإختصام التي في بلد القرض. (رد المحتار ۱۹۲: ۴فصل في القرض)

(۲) وفي الخانية: رجل مات وله علي رجل حق و لم يخلف وارثا قالوا يتصدق المديون بما عليه عن الميت ليكون ذلک وديعة عندالله تعالي فيوصله...[بقيه برصفحه آئنده...

د یتیم مال د قرض په طور اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یتیم مال د قرض په طور اخستلې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حضرت کلیم الله شاه صاحب مسکین پور شریف
ضلع مظفر گرهـ...۱٤ مارچ ۷۳ء

الجواب: د ضرورت په وخت وصی پخپله اخستلې شی چې کله محتاج وی او بیا یې په ورکولو هم قادر وی.(۱) (هامش جامع الفصولین ۱۷۳/۲) وهوالموفق

کافر یا د هغه وارثانو ته قرضه واپس کول ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د یو کافر نه ۱۰۰ روپئ قرض واخستلې او بیا ئې د واپس کولو نه انکار وکړو چې د مشرک مال د مسلمان دپاره قبضه کول جائز دی نو آیا هغه ته رقم واپس کول پکار دی او کنه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا دار خان میرپور سکهر سندهـ.... ۱۵ جنوری ۷۰ء

...بقیه ازحاشیه گذشته] إلي خصمه یوم القیمة".
(الفتاوي الخانیة علي هامش الهندیة ۳:۲۵۸ کتاب الغصب،فصل في براءة الغاصبِ والمدیون)
(کذا في الهندیة ۵: ۱۵۷ کتاب الغصب،الباب الرابع عشر في المتفرقات)
(۱) وقال العلامة الشامي رحمه الله تعالي:"ولا یملک إقراض مال الیتیم فإن أقرض ضمن...ولوأخذه الوصي قرضا لنفسه لایجوز و یکون دینا علیه وقال محمد وأما أنا أرجوأنه لوفعل ذلک وهو قادرعلي القضاء لابأس به"(ردالمحتار ۵:۵۰۳باب الوصي)
(ومثله في المحیط البرهاني ۲۳:۶۲ کتاب الوصایا،النوع الثاني في تصرف الوصي في مال الیتیم)

الجواب: مشرک ته به قرضه واپس ورکولې شي یا د هغه وارثانو ته، د دې مقروض قبضه کول ناجائز دی (۱)

...

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى "فإن إدانه حربي دينا ببيع أوقرض وبعكسه أوغصب أحد هما صاحبه وخرجا إلينالم نقض لأحدبشيء لأنه ماالتزم حكم الإسلام فيما مضي بل فيما يستقبل ويفتي المسلم بردالمغصوب و بردالدين أيضا ديانة لا قضاء لأنه غدر".
(الدر المختار ۳: ۲۷۱باب المستأمن)

باب الحقوق والاستحقاق

د تيريدو حق نه لرونكو د پاره د طريق غير نافذه طرف ته دروازه راويستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې يوه لاره غير نافذه ده صرف د درې کورونو دپاره دا لار ده او يو کور د دې لار نه بهر دې چې د هغې لاره د بلې نافذې لاره طرف ته ده اوس دا کور والا کوم چې د غير نافذه په حد کې نه دې غواړې چې زه په يو زړو ديوال کې دروازه ولګوم چې د غير نافذه لارې په حدودو کې داخل شم، اوس عرض دا دې چې آيا دې کور والا ته شرعا اجازت ملاويدې شي حال دا چې د درې واړه کورونو مالکان، کوم چې په لاره غير نافذه کې دننه دې، د هغوی سخته دشمنی ده او يوه دروازه ئې د مخکې نه لګولې ده، مهربانی وکړئ جواب راکړئ؟ بينواتوجروا

المستفتي: حاجی محمد عل خان داس چوک بنوں شهر ..... ۲۱ شوال ۱۴۰۳هـ

الجواب: ومنه الصدق والصواب... د کوم سړی دپاره چې طريق غير نافذه کې د تلو حق نه وی نو هغه دې طريق غير نافذه طرف ته دروازه نه لګوي، كما في شرح المجلة ۶۶۸: لا يجوز لمن لم يكن له حق المرور في طريق خاص ان يحدث فيه بابا فلو كان لرجل دار بابها في سكة وظهرها في سكة اخرى غير نافذة اي خاصة فاراد ان يجعل لداره بابا في هذه السكة الخاصة فالصحيح انه يمنع عن ذلك اذا لم يكن له حق المرور في هذه السكة (خانية) (١). وهو الموفق

---

١) (شرح المجلة لسليم رستم باز ۶۶۸ المادة ۱۲۰۹ الفصل الثالث في الطريق)
وفي الهندية: فليس لاهل الزائغة الاولي ان يفتحوا بابا في الزائغة القصوي لان فتحه للمرور ولا حق لهم في المرور اذ هو لاهلها خصوصاً.
(فتاوي هندية ۳:۴۴۴ كتاب ادب القاضي الباب الثاني والثلاثون في المتفرقات)

د ځمکې د مالک د پخوانۍ لارې د بندولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید وغیره په یو داسې ځای باندې کورونه جوړ کړي دي چېرته چې په پخوانۍ زمانه کې آبادي تیره شوې ده، جوړ شوي کورونه تقریبا پنځلس شپاړس دي خو د هغه کورونو لار د بعض خلقو په ځمکه باندې تیریږي چې په هغې باندې کورونو والا تقریباً د پنځوس کالو نه تګ را تګ کوي او چا هم بندیز نه لګولو خو اوس بعض د ځمکو والا لاره بندوي چې د هغې د وجې نه ټولو کورونو والو ته سخت تکلیف دې حال دا چې کورونو والا قیمت ورکولو ته هم تیار دي او په دې عوض کې ځمکه هم، اوس سوال دا دې چې آیا د ځمکې مالکانو ته د لارې د بندولو حق شته حال دا چې د پنځوسو کالو نه په دې باندې تګ را تګ جاري وو؟ بینوا توجروا

المستفتی: شفیع الله سکنه جهانګیره مردان..... ۲۳ ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: که دا تیریدل په طور د عاریت یا په طور د کومك وو نود ﴿ ما علی المحسنین من سبیل ﴾ (۱) په بناء باندې د دې تلو بندیز قابل اعتراض نه دې. (۲) او که دا تلل په طور د حق شرعی (وصیت او غیرها) په

---

۱) (سورة التوبة، آیت: ۹۱)

۲) قال العلامة خیر الدین: کل من تصرف في خالص ملکه لا یمنع في الحکم وان کان یؤدي الي الحاق الضرر بالغیر.

(فتاوي خیریة علي هامش تنقیح الحامدیة ۲:۳۱۲ فصل في الحیطان والطرق)

وفي شرح المجلة: اذا کان له باب مفتوح من داره علي حائط في زقاق انکر اهل الزقاق ان یکون له حق المرور في زقاقهم فلهم منعه الا ان تقوم بینة علي ان له طریقا ثابتاً فیها.

(شرح المجلة لسیلم رستم باز ۱۱۵۵ فصل في دعوي الحائط والطریق)

بناء باندې وو نو د هغې بندیز قابل اعتراض دې. (۱) وهوالموفق

د ځمکې خرڅولو نه پس د غیر مقرر شوې لارې مطالبه کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپله ځمکه خرڅه کړه، د اخستلو او خرڅولو په وخت لاره نه وه مقرر شوې نو آیا د مشتری دپاره په دې کې د لارې حق شته یا نه؟ دلته موجوده څه عام لاره نشته صرف یو کور وو چې د هغه څه خاص لاره مقرره نه وه نو آیا د بائع نه د لارې اخستلو جواز شته یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حضرت جمال حقانی خطیب جی ټی ایس مسجد لوټبهر ۲۵ جولائی ۱۹۸۵ء

الجواب: کله چې د اخستلو او خرڅولو په وخت د لارې مسئله نه وه حل شوې نو اوس د دې هیڅ حل نشته. (۲)، (۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة خير الدين الرملي: ومن له المرور في محل له فتح باب فيه كما صرحت به علماؤنا قاطبة ولا يقدر احد علي منعه منه كما لا قدرة له علي منعه من المرور فيه.
(فتاوي خيرية علي هامش تنقيح الحامدية ۲:۳۱۴ فصل في الحيطان والطرق)

۲) وفي الهندية: ومن اشتري منزلا في دار او مسكنا فيها لم يكن له الطريق الي ذلك المشتري الا ان يشتريه بكل حق...اشتري دارا لا يدخل فيه الطريق من غير ذكر... واذا لم يدخل الطريق وليس له مفتح الي الشارع له ان يرد البيع ان لم يعلم بحال.
(فتاوي هندية ۳:۲۹ الباب الخامس فيما يدخل تحت البيع من غير ذكر الخ)

وقال العلامة الشامي: قال في الهداية من اشتري بيتا في دار او منزلا او مسكنا لم يكن له الطريق الا ان يشتريه بكل حق هو له... لانه خارج الحدود الا انه من التوابع فيدخل بذكر التوابع. (ردالمحتار ۴:۲۱۱ باب الحقوق)

۳) خو که لاره مستقل طور باندې واخلي. (مفتی سیف الله حقانی)

د بائع په مبيع باندې د مستحق دپاره اقرار کول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد په عمرو باندې يوه ځمکه خرڅه کړه بيا خالد د دې ځمکې په څه حصه باندې دعوى وکړه چې په دې خرڅه شوې ځمکه کې زما نيمه حصه ده، زيد (بائع) د خالد دپاره د نيمې حصې اقرار وکړو چې په دې خرڅه شوې ځمکه کې ستا نيمه حصه ده او ستا نيمه حصه ځمکه ما په عمرو باندې نه ده خرڅه کړې او زيد باقاعده ليکلې اقرار نامه د شاهدانو په وړاندې سره د ګوتو د نخښې خالد ته ورکړه، آيا خالد د زيد په اقرار باندې مستحق کيدې شي يا نه؟ او آيا د بائع پورته اقرار عند الشرع معتبر دې يا نه؟ او عمرو دا وويل چې دا حصه ځمکه د پنځوس کالو نه د ګانې د وجې نه زما د کروندې د لاندې ده، بيا زيد د اخستلو دعوى وکړه، د دې نه پس ئې د ملکيت دعوى وکړه او د خالد په دعوى باندې هغه وويل چې دا زائد الميعاد ده اوس د علماء اسلام نه استفتاء ده چې آيا د بائع اقرار للمستحق معتبر دې او د خالد دعوى د عمرو په پورته ذکر شوو نکاتو باندې معتبره ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: خير خان، سلطان خيل بالا دره دير .... ۲٦ جمادي الاول ۱٤۰۲ هـ

الجواب: په فتاوى أنقرويه ۲: ۱۷۸ کې دي: ولو اقام المشتري البينة على اقرار البائع انها ملك المستحق قبلت بينة الخ[۱] وايضاً في شرح المجلة ۲۲۹[۲] والخلاصة ٤: ۱۲۰ لو اقام البينة على اقرار البائع انه للمستحق رجع عليه[۳]

---

۱) (فتاوي انقروية ۱۷۸: ۲ باب الاستحقاق)

۲) قال العلامة سليم رستم باز: اما لو برهن علي اقرار البائع انه للمستحق يقبل لعدم التناقض.
(شرح المجلة ۲۲۹ باب الاستحقاق)

۳) خلاصة الفتاوي ۱۲۰: ٤ الفصل الخامس عشر في الاستحقاق)

وردالمحتار ۴: ۴۳۷(١). وهوالموفق

د غیر سپارلې شوې یا ګانه کړې ملکیت خرڅولو
په صورت کې به مشتري په بائع باندې رجوع کوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید بکر قتل کړو او د مقتول ځوئې کله چې بالغ شو نو هغه دا قاتل قتل کړو نو حاکم د قاتل ثانی نه زر درهم او یوه ځمکه واخستله کله چې دویم حاکم راغلو نو هغه ځمکه بیا خپل اصلی مالک نه واپس کړه د مالک په هغې باندې د لسو کالو نه تصرف کولو نه پس یو سړی دعوی وکړه چې دا ځمکه ما د حاکم اول نه په بیع اخستلې وه نو حاکم هغه ته په شریعت محمدی ﷺ باندې د فیصله کولو حکم ورکړو نو آیا دا دعوی شرعاً قابل سماعت ده یې نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم .... ۱۹ اکتوبر ۱۹۷۷ء

الجواب: که د مدعی علیه ملکیت سپارلې شوې یا ښکاره وی نو مدعی دې په بائع پسې اولګی او د هغه نه دې ثمن واپس واخلی (٢) او دده دپاره د ذوالید سره د خصومت حق نشته ځکه چې هغه په ید او تصرف سره د ځمکې حقدار دې. (٣) وهوالموفق

---

١) قال العلامة الشامي رحمه الله تعالي: اما لو برهن علي اقرار البائع انه للمستحق يقبل لعدم التناقض. (ردالمحتار ۴: ۲۱۷ باب الاستحقاق)

٢) وفي الهندية: وان يكون ملك البائع فيما يبيعه لنفسه فلا ينعقد بيع ماليس مملوكا له. (هندية ۳: ۳ كتاب البيوع، الباب الاول في تعريف البيع الخ)

وقال العلامة الحصكفي: ويثبت رجوع المشتري علي بائعه بالثمن اذا كان الاستحقاق بالبينة.
(الدرالمختار ۴: ۲۱۶ باب الاستحقاق، كتاب البيوع)

٣) قال العلامة ابن عابدين: ان وضع اليد والتصرف من اقوي ما يستدل به علي الملك.
(ردالمحتار ۳: ۲۸۱ مطلب القول لذي اليد ان الارض ملكه الخ)

موهوب له د موهوبه ځمکې د لارې نه منع کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی بل نزدې رشته دار ته غیر آباد ځمکه د کور جوړولو دپاره هبه کړی او په هغې کې کور تیار شی بیا دیرش څلویښت کاله پس د دې کور خلق د لارې نه منع کوی نو د کور مالک به د لارې حقدار وی یا نه؟

نوټ: هبه کونکې وفات شوې دې خو د هغه وریرونه وغیره د کور خلق منع کوی بینواتوجروا

المستفتی: مولانا کرامت شاه صاحب نوښار ...... ۶ جولائی ۱۹۷۶ء

الجواب: که دې واهب ځمکه سره د لارې نه هبه کړې وی نو د دې واهب د وارثانو دپاره د لارې نه منع کول جائز نه دی. (۱) او که دا وارثان ثابته کړی چې په دې لاره باندې تیریدل تبرع وو نو په دې صورت کې به منع کول جائز وی (۲) وهوالموفق

...

---

۱) قال العلامة خير الدين الرملي: ومن له المرور في محل له فتح باب فيه كما صرحت به علماء نا قاطبة ولا يقدر احد علي منعه منه كمالا قدرة له علي منعه من المرور فيه.

(فتاوي خيرية علي هامش تنقيح الحامدية ۲: ۳۱۴ فصل في الحيطان والطرق)

۲) وفي الهندية: اذا كان له باب مفتوح من داره علي حائط في زقاق انكر اهل الزقاق ان يكون له حق المرور في زقاقهم فلهم منعه الا ان تقوم بينة علي ان له طريقا ثابتا فيها كذا في المحيط. (فتاوي هندية ۴: ۱۰۴ الباب الحادي عشر في دعوي الطريق والمسيل)

(ومثله في شرح المجلة ۱۱۵۵ فصل في دعوي الحائط والطريق)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

اووم جلد

کتاب الوکالة والکفالة والحوالة

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

كتاب الوكالة والكفالة والحوالة

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

فَابْعَثُوا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَا اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ

(سورۃ الکہف)

وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا

(سورۃ آل عمران)

....

كتاب الوكالة والكفالة والحوالة

په عیب (نقصان) باندې د خبریدلو باوجود شراء نه څو وکیل واپس کولې شي او نه موکل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید عمرو د یو خچر په اخستلو باندې وکیل کړو. عمرو د بکر نه یو خچر واخستلو چې ډیر کمزورې وو نو زید وویل چې دې ډیر کمزورې دې عمرو وویل چې: دې تدبیر ماته راځی او هغه ته ئې تیل ورکړل چې د هغې نه خچر مړ شو او تیل ئې هم د مشتری په کور کې ورکړل نو اوس به د خچر قیمت درې زره روپئ عمرو ورکوی یا زید؟ او که د بکر خچر ضائع شو؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی صاحب بټل مانسهره ...... ۲۸ دسمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: کله چې وکیل په کمزورئ باندې د خبریدلو باوجود شراء کړې ده نوشرعادې مبیع (خچر)لره نه وکیل واپس کولې شی اونه مؤکل.(۱) خصوصا کله چې ئې علاج هم وکړې شو نو د واپس کولو حق بالکلیه منقطع شو. (۲) بهرحال وکیل باندې به ضمان نه وی ځکه چې اول دا وکالت مطلقه دې. (۳)

---

۱ ﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله بالعيب) اشار الي انه لو رضي بالعيب فانه يلزمه ثم المؤكل ان شاء قبله وان شاء الزم الوكيل وقبل ان يلزم الوكيل لو هلك يهلك من مال المؤكل. (ردالمحتار ۴:۴۴۹ باب الوكالة بالبيع والشراء)

۲ ﴾ قال العلامة المرغيناني: من اشتري جارية فوجدبها قرحا فداواها فهو رضا. (هداية ۳:۴۷ باب خيار العيب)

۳ ﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ان عمت) بان يقول ابتع لي ما رأيت لانه فوض الامر الي رأيه فأي شيئ يشتريه يكون ممتثلا. (ردالمحتار ۴:۴۴۸ باب الوكالة بالبيع والشراء)

ثانیا د مشتری موکل قبض هم کړې دې (۱) دا ټول مسائل هدایه او شامی د باب خیار العیب او باب الوکالة بالبیع والشراء نه ماخوذ دی وهوالموفق

د توکیل د اجازت نه کیدو په صورت کې وکیل اول ضامن دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید عمرو ته اووه سوه روپۍ ورکړې او ويې ويل چې دا بکر ته ورسوه. عمرو دا پیسې خپلې مور ته ورکړې تاسو خو هسې هم د بکر کور ته ځئ لهذا دا پیسې هم هغه ته ورسوئ خو په لاره کې دا پیسې ورکې شوې نو د دې پیسو وصولی به د عمرو نه کوی یا د هغه د مور نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: بخت حسین مصری بانډه اکوړه خټک....٦ رجب ١٤٠٢

الجواب: چونکې په ظاهره کې دې موکل دې وکیل ته (بکر ته) د توکیل اجازت نه دې ورکړې. لهذا په ظاهره کې په هغه باندې ضمان واجب دې، کما فی شرح المجلة ۲۸۷ لیس لمن وکل بأمر ان یوکل به غیره الا ان یکون الموکل قداذنه بذلك الخ (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة المرغيناني: واذا اشتري الوكيل وقبض ثم اطلع علي عيب فله ان يرده بالعيب مادام المبيع في يده... فان سلمه الي الموكل لم يرده الا باذنه لانه انتهي حكم الوكالة.

(هداية ١٨٢: ٣ باب الوكالة بالبيع والشراء)

۲) (شرح المجلة ٤٤٠: ٤ المادة ١٤٦٦)

وفي الهندية: ليس للوكيل ان يوكل غيره بما وكل الا ان يطلق له الذي وكله او يجيز امره فيما وكل به فيكون له ذلك.

(فتاويٰ عالمگيرية ٥٦٦: ٣ كتاب الوكالة، الباب الاول في بيان معناها شرعاً الخ)

د خصم د رضامندۍ نه بغیر د خصومت دپاره وکیل مقرر کول

سوال: ما قولکم دام فضلکم فی هذه المسئلة هل یصح التوکیل بالخصومة بغیر رضاء الخصم ام لا؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوی سلطان محمود پیش امام مسجد پراؤ دیر ... ۱ اگست ۱۹۷۲ء

الجواب: نعم! یصح التوکیل بالخصومة وان لم یرض به الخصم کما فی شرح المجلة: لکل من المدعی والمدعی علیه ان یوکل من شاء بالخصومة ولا یشترط رضا الآخر ولا فرق فیما اذا کان طالب التوکیل معذورا الخ(۸۲۰)(۱).

وهوالموفق

د یو دکاندار د بل دکاندار ګاهک ته سامان ورکولو باندې کمیشن اخستل توکیل بالاجرة جائز دې یا نه؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما په یو ځای کې لوستلې وو چې کوم مال چا سره نه وی په هغې باندې منافع اخستل حرام دی په دې سلسله کې وضاحت پکار دې، اصل کې زمونږ په علاقه یو رواج عام دې چې یو دکاندار د بل دکاندار نه د نوټونو هارونه یوسی او خپل ګاهک ته ئې ورکوی دغه شان پنځه روپئ په وړوکی هار کې او لس روپئ په لوئې هار کې کمیشن هغوی نه ملاویږی آیا دا کمیشن جائز دې؟

---

(۱) شرح المجلة لسلیم رستم باز: ۸۲۰ المادة ۱۵۱۶ الفصل الخامس في الوکالة بالخصومة)

وفي الهندیة: التوکیل بالخصومة بغیر رضا الخصم لا یلزم وقالا یلزم والفقیه ابو اللیث اختار قولهما للفتوی کذا في خزانة المفتیین وقال العتابي وهو المختار وبه اخذ الصفار کذا في البحر الرائق. (فتاوي هندیة ۶۱۵:۳ الباب السابع في التوکیل بالخصومة)

چه هر کله ئې خپل مال هم نه وی. په دکان کې ئې کینبودلې هم نه وی. څه محنت ئې هم نه وی کړې. صرف د یو دکان نه ورلو سره ګاهک نه ورکړې شی. بینواتوجروا

المستفتی: محبوب النبی اظهر کشمیر جنرل ستور اټک.....۲۱ صفر ۱۴۰۳ھ

الجواب: په ظاهر کې دا بیع المعدوم نه ده بلکې توکیل بالاجرة دې چې جائز دې.(۱) خو په هار کې وضع شوې نوټونو نه زیاتی نوټونو باندې اخستل خرڅول قابل اعتراض دی. (۲) (۳) والله اعلم.

د هنډۍ د رسم حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حمید او کریم دواړه په دبئ کې اوسیږی. د حمید ورور په پاکستان کې اوسیږی او د کریم هم. اوس حمید زر روپئ کټلو سره کور ته لیږل غواړی. حمید زر درهم کریم باندې خرڅ کړل او کریم حمید ته ووېل چې لس ورځې پس به درته په پاکستان کې درې زره ملاؤ شی اوس بې نه کریم ورکولې شی او نه حمید

---

۱) في شرح المجلة: اذا اشترطت الاجرة في الوكالة واوفاها الوكيل يستحقها.
(شرح المجلة ۴۴۵:۴ المادة ۱۴۶۷)

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: تصح الوكالة باجر وبغير اجر لان النبي ﷺ كان يبعث عماله لقبض الصدقات ويجعل لهم عمولة.
(الفقه الاسلامي وادلته ۴۰۵۸:۵ الوكالة باجر)

۲) وفي حاشية شرح الوقاية: واما النوت هو القرطس الرائجة تحكما فيها مكتوب ثمنه اي عشرة او عشرون او الف فهو مهلك في الروبية علي الصحيح لا نسبة له بالذهب فلا يجوز بيعه بالروبية الا متساويا بما كتب فيه.
(تكملة عمدة الرعاية علي شرح الوقاية ۸۷:۳ حاشية: ۶ كتاب الصرف)

۳) مروجه کرنسی چونکې د تجارت د متاع په حکم کې ده لهذا کله چه قدر سره جنس هم مفقود وی نو فضل او نسیئه دواړه قابل د اعتراض نه دی او په صورت د وجود کې د جنس فضل لا بأس به او نسیئه به ناجائز وی. (مفتي سيف الله حقاني)

غواړي، حمید په خوشحالئ سره په پاکستان کې غواړي. کریم خپل ورور ته خط ولیکلو چې د حمید رورته دري زره روپئ پاکستانئ ورکړئ. حمید هم ورور ته دغه شان ولیکل چې د کریم د ورور نه واخله خو د کریم ورور پنځلس ورځې پس ورکړې او دا چې د کرنسئ جنس غیر دې لاس په لاس هم نه دې. اوس که په دې معامله کې د حکومت په ذریعه دا پیسې ولیږلې شي نو د درې زرو به درته دوه نیم زره ملاویږي. اوس که کریم هم هغه زر درهم په بل چا باندې دوه سوه او درې زره باندې خرڅ کړي چې په پاکستان کې به زما ورور ته درې زره او دوه سوه روپئ ورکوې نو دا منافع د هغه دپاره څه حکم لري یا کریم هغه ته په زر درهم باندې کړه واخستله او په دې باندې پاکستان کې دوه سوه روپئ ګټه وشوه. د دې شرعی حکم څه دې دغه شان کله نقصان هم کریم ته کیږي؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی فضل الرحمن پوسټ بکس ۵۴۱۱

دبئ متحده عرب امارات... ۱۹/ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: د هنډي معامله ناجائز نه ده ځکه چې دا د نوټ وغیره کاغذات په حقیقت کې ثمن رائجه او ثمن عرفی دی ثمن خلقی نه دی. ثمن خلقی صرف سرو او سپینو زرو ته ته ویلې شی پس کله چې حمید کریم ته زر دراهم ورکړل چې هغه درې زره پاکستانی روپئ د ډاک په ذریعه د خپل ورور په ذریعه د حمید ورور ته ورکړي نو په حقیقت کې هم دې حمید د کریم سره بیع موجل کړې ده چې جائز ده (۱) (لعدم کونه بیع الصرف) او د دې نه علاوه حمید کریم د دې امر وکیل جوړ کړو چې دا ثمن زما ورور ته اصالة یا وکالة ورسوی. (۲) بهرحال دې هنډي او پاکستان ته تلونکي ملګري ته د پیسو

---

۱) قال العلامة الحصكفي: (وصح بثمن حال) وهو الاصل (ومؤجل الي معلوم) لئلا يفضي الي النزاع.
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۲۵ مطلب في الفرق بين الاثمان والمبيعات)

۲) قال العلامة ابن عابدين: (قوله وصح بايفائها) ...

[بقیهٔ بر صفحه آئنده...

ورکولو او د ډاک په ذریعه لیږلو کې هیڅ فرق نشته، په دري وارو کې د استبدال او توکیل نه خلاصي نشته. وهوالموفق

د هنډی حقیقت څه دي؟

سوال: چه فرمائد علماء کرام در این مسئله که حقیقت هندی چیست؟ جزاکم الله خیرا

المستفتی: عبد الحق پشین..... ۱۰ شوال ۱٤۰۸ھ

الجواب: این معامله جائز است این توکیل به اجرت است(۱) نه بیع است ،نه قرض ست نه سفتجه، نیز بیع ثوب هروي به ثوب مروي جائز است اگر چه نسیئه باشد، کما فی الدر المختار(۲)

...بقیه ازحاشیه گذشته] اي حقوق العباد اي يصح التوكيل بايفاء جميع الحقوق واستيفائها... والمراد بالايفاء هنا دفع ما عليه وبالاستيفاء القبض.

(ردالمحتار ۴۴۶: ۴ قبيل باب الوكالة بالبيع والشراء)

وقال الدكتور وهبة الزحيلي: تصح الوكالة باجر وبغير اجر.

(الفقه الاسلامي وادلته ۴۰۵۸: ۵ كتاب الوكالة باجر)

۱) وفي شرح المجلة: اذا اشترطت الاجرة في الوكالة واوفاها الوكيل يستحقها.

(شرح المجلة ۴۴۵: ۴ المادة: ۱۴۶۷)

وقال العلامة الدكتور وهبة الزهيلي: تصح الوكالة باجر وبغير اجر.

(الفقه الاسلامي وادلته ۴۰۵۸: ۵ الوكالة باجر)

۲) قال العلامة الحصكفي: (وان عدما حلا) كهروي بمرويين لعدم العلة فبقي علي اصل الاباحة. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۱۹۹: ۴ باب الربا)

وقال العلامة ابن نجيم: (وحلا بعد مهما) اي حل الفضل والنساء عند انعدام القدر والجنس فيجوز بيع ثوب هروي بمرويين نسيئة.

(البحر الرائق ۱۲۹: ۶ باب الربا)

فلوكان هذا بيعاً لكان مثل هذا فافهم. وهوالموفق

د مبيع د هلاکيدو په صورت کې په وکيل باندې د ضمان حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې دوه سړو په يو سړي دوه څراغه (لالټينونه) راوغوښتل هغه دواړه اخستلو سره بغير د تعين نه ملګري ته حواله کړل. اتفاقا په لار کې په هغې کې د يو څراغ (لالټينه) شيشه ماته شوه اوس علماء دين څه فرمائي چې مات شوې لالټين به د چا وي او ضمان به په چا باندې راځي؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمد خان ډيروی ......۹ نومبر ۱۹۸۳ء

الجواب: چونکې وکيل امين دې لهذا په هغه باندې ضمان نشته (۱) او د وکالة مطلقه د وجې نه دا شراء د هر دواړو موکل دپاره واقع شوې ده (۲) پس د عدم تعين د وجې نه به هالک هم مشترک وي او ثابت به هم مشترک وي. وهوالموفق

د وکالت مروجه پېشه

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو وکيل شپه ورځ محنت کوي او د خپل موکل دپاره په قانون رائج الوقت کې د براءت لاره ګوري او د هغه نه فيس وصولوي اکثر خلق دې ته حرام وائي حال دا چې

---

۱) وفي الهندية : ومنه انه امين فيما في يده كالمودع فيضمن بما يضمن به المودع ويبرأ به والقول قوله في دفع الضمان عن نفسه.

(فتاوي عالمگيرية ۳:۵۶۷ كتاب الوكالة، الباب الاول في بيان معناها شرعا وركنها وشرطها)

۲) قال العلامة ابن عابدين :(قوله ان عمت) بان يقول ابتع لي ما رأيت لانه فوض الامر الي رأيه فاي شيي يشتريه يكون ممتثلا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۴۴۸ باب الوكالة بالبيع والشراء)

يو مريض د ډاکټر نه تشخيص وکړي نو زيات نه زيات پنځه منټه صرف کوي او يو پرچي ليکلو سره د دوايئ نشاندهي کوي که هغه دوائي صحت بخش ثابت شي يا نه مگر فيس وصولوي خلق دې لره حلال گني. بنده ته جواب راکړئ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم ۷ جولائي ۱۹۸۶ء

الجواب: کوم وکيل چې د شريعت خلاف قوانينو کې د يوې مقدمې پيروي کوي نو د هغه فيس حرام دې دا د معصيت معاوضه ده. (۱) او کوم وکيل چې د شريعت سره د غير متصادم قوانينو پيروي کوي نو د هغه فيس حلال دې (۲) او د ډاکټر تجاويز هم کله حلال او کله حرام وي. **وهوالموفق**

د وکيل د موکل نه په مبيع باندې د منافع وصولولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد يوه چيلۍ د عمر د پاره په دوه سوه روپئ باندې واخستله. اوس زيد دا چيلۍ عمر ته په درې سوه روپئ باندې ورکوي آيا دا جائز دي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: هدايت ...... ۶ جمادي الاولى ۱۳۹۷ھ

---

(۱) قال العلامة المرغيناني: لا يجوز الاستيجار علي الغناء والنوح وكذا سائر الملاهي لانه استيجار علي المعصية والمعصية لا تستحق بالعقد.
(الهداية ۳:۳۰۳ باب الاجارة الفاسدة)

(۲) وفي شرح المجلة: اذا اشترطت الاجرة في الوكالة واوفاها الوكيل يستحقها وان لم تشترط ولم يكن الوكيل ممن يخدم بالاجرة يكون متبرعا وليس له المطالبة بالاجرة.
(شرح المجلة ۴:۴۴۵ المادة:۱۴۶۷)

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: تصح الوكالة باجر وبغير اجر لان النبي ﷺ كان يبعث عماله لقبض الصدقات ويجعل له عمولة.
(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۴۰۵۸ الوكالة باجر)

الجواب: كه زيد دا ځيز د خيل ځان دپاره اخستلې وي او د هغې نه پس ئې په عمر باندې خرڅوي نو دا منافع جائز دي كه د زيد د اخستلو او وكالت په حيثيت سره وي نو منافع ناجائز دي.(١) وهوالموفق

د وكيل د خصم د پاره د مدعى د يوې حصې په اقرار كولو باندې د معزول كيدو حكم

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې د ځمكې په يو دعوى كې څو سړو يو سړې وكيل مقرر كړو او مدعى به يوه ځمكه د؟ چې د هغې حدود مفصل بيان شوي دي شل حصې ځمكه ده د هرې حصې بيله بيله كرونده كولې شي دا ټوله مدعى به ده. اوس وكيل صرف يوه حصه ځمكه كې د مدعى عليه دپاره د ملكيت اقرار كړې دې. اوس د بعض مدعى به اقرار كولو سره باقى مدعى باندې به دعوى مسموع وي يا نه؟ يعنى باقى نورلس حصې په دې قول كې (من اقربعين لزيد ثم ادعى عليه لنفسه.....لا يملك ان يدعيه لا لنفسه ولا لغيره بوكالة اوبوصاية. د لاندې راتلې شي يا نه؟

بينواتوجروا

المستفتى: رؤف احمد تحصيل مونړه جندول ...٢١ جون ١٩٦٩ء

---

(١) قال العلامة الحصكفي: (ولو وكله بشراء شيئ بعينه... لا يشتريه لنفسه) ولا لموكل آخر... (وان) بشراء شيئ (بغير عينه فالشراء للوكيل الا اذا نواه للموكل) وقت الشراء (اوشراه بماله).

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله فالشراء للوكيلالمسئلة علي وجوه كما في البحر وحاصلها انه ان اضاف العقد الي مال احدهما كان المشتري له وان اضافه الي مال مطلق فان نواه للآمر فهو له وان نواه لنفسه فهو له.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ٤:٤٥٠ باب الوكالة بالبيع والشراء)

(وهكذا في الخانية علي هامش الهندية ٣:١٩ كتاب الوكالة، فصل في التوكيل بالبيع)

الجواب: (الف) این اقرار معلوم نیست که قبل از توکیل ست یا بعد از توکیل،

(ب) نیز این اقرار به استیفاء حق وابراء نیست ومبطل این ست،

وفی العنایة اذا اقر الوکیل بالخصومة علی موکله سواء کان موکله المدعی فاقر باستیفاء الحق اوالمدعی علیه فاقر بثبوته علیه الخ. درین صورت فقهاء کرام حکم به جواز وانعزال کرده اند[۱] لاکن در صورت مذکوره این نوع موجود نیست لهٰذا حکم به انعزال درست نیست. فقط

په حواله او ګانه کښې څه فرق دې؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې حواله او ګانه کښې څه فرق دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد مرزا واړی ضلع دیر ... ۲۷ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: په ګانه او حواله کښې د ځمکې او آسمان فرق دې. [۲] وهوالموفق

---

۱ ﴾ في العناية : اذا اقر الوكيل بالخصومة علي موكله سواء كان موكله المدعي فاقر باستيفاء الحق او المدعي عليه فاقر بثبوته عليه فانكان ذلک عند القاضي جاز والا فلا عند ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالي الا انه اذا اقر عند غير القاضي خرج من الوكالة فلا يدفع اليه المال ولو ادعي بعد ذلک الوكالة واقام علي ذلک بينة لم تسمع بينته لانه زعم انه مبطل في دعواه وقال ابويوسف رحمه الله تعالي جاز اقراره في الوجهين جميعا وقال زفر والشافعي رحمهما الله تعالي وهو قول ابي يوسف اولا لا يجوز في الوجهين جميعا.

(عناية علي هامش فتح القدير ۷:۱۰۶ كتاب الوكالة، باب الوكالة بالخصومة والقبض)

۲ ﴾ الرهن : هو حبس الشيي بحق يمكن اخذه منه. (شرح الوقاية ۴:۷۲ كتاب الرهن) والحوالة : هي شرعا نقل الدين من ذمة المحيل الي ذمة المحتال عليه.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۳۲۱ كتاب الحوالة)

په غیر اختیاري کارونو کې د چا ذمه داري اخستل

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې شیر افضل ولد محمد افضل ساکن مانکئ د سعودي عرب په یو کمپنئ کې کاریگر وو دهغه په نګرانئ کې تقریبا پنځه دیرش کسانو کارکولو، اوس په دې مذکوره سړو کې یو سړی دا دعوی کوي چې شیر افضل زمونږ ذمه داري اخستې وه چې تاسو د دې ځای نه مه ځئ ځکه چې زما بدنامي کیږي او ستاسو پیسې به زه درکوم یعني زما په ذمه دی بیا مونږ ناڅاپه اونیولې شو او مونږ ته پیسې هم ملاؤ نه شوې، شیر افضل وائي کله چې دا خلق په دوه درې ورځو کې نیولې کیدونکي وو نو ما هغوی ته وویل چې وتختئ ځکه چې تاسو نیولې کیدونکي یئ او شیرافضل د رقم د ذمه اخستلو نه هم منکر دې ګواهان موجود نه دي، اوس به د دې مسئلې حل څه وي؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد خان مانکئ تحصیل صوابي مردان ۱۲ اګست ۱۹۸۹ء

الجواب: ومنه الصدق والصواب: دا عوامي ذمه داري دی دا څه حوالې یا کفالې نه دی په دې کې په دې سړي (شیر افضل) باندې هیڅ ضمان او تاوان نشته. وهوالموفق

د سامان د هلاکت ضمان او د هغې په عوض کښې د حصو د استحقاق حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د تجارت سامان د جهاز یا د ریل په ذریعه راځي مات رامات شي او ضائع کیږي یا غلا یا ګډوډ شي دغه شان سوداګر ته ډیر لوئې نقصان رسیږي په بعض حالاتو کې که جهاز ډوب شي نو سوداګر دیوالیه کیدې هم شي په دې حالاتو کې یو سړې دا ضمانت اخلي چې دټول رقم ۱/۱۰۰ حصه ماته راکړه نو په مال رسیدو باندې چې څه نقصان هم وشي هغه به زه درکړم او دا وعده پوره کوی هم یعني کوم نقصان چې کیږي د هغې تاوان ادا کوی سوداګر دا عمل کوی

او دا ضروری دي آیا دا جائز دي یا ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: تول اینډ مشینری کمپنی پوسټ بکس ۷۵ لاهور ۱۶ کتوبر ۱۹۸۹ء

الجواب: دا ضمان او د هغې په عوض کښې د حصې استحقاق ناجائز دي (۱) وهوالموفق

د وکیل نه د مال هلاکیدو په صورت کښې ضمان اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زید عمرو د خپل کار دپاره کوفې ته ولیږلو. په لاره کښې عمرو ته نقصان ورسیدو. نو آیا زید د عمرو نه تاوان اخستلې شي یا نه؟ بینوا توجروا

الجواب: المال الذی اعطاه زید لعمرو یکون حکمه حکم الودیعة فلا ضمان علیه عند الهلاك (۲) نعم! یضمن عند الاستهلاك (۳) واما المال المملوك لعمرو فلا ضمان فی هلاکه علی زید والمسئلة واضحة مذکورة فی کتاب الودیعة فلیراجع. وهوالموفق

---

(۱) لکون هذه المعاملة من باب القمار فافهم. (سیف)

وقال الله تعالي: يٰأيها الذين امنوا انما الخمر والميسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون. (سورة المائدة: ۹۰)

وقال العلامة الحصكفي: ومن السحت ما يأخذه كاهن ومقامر وواشمة. (الدر المختار ۵:۳۰۱ كتاب الحظر والاباحة، فروع)

(۲) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالي "الوديعة امانة في يد المودَع إذا هلكت لم يضمنها لقوله عليه الصلوة والسلام ليس علي المستعير غير المغل ضمان ولا علي المستودَع غير المغلّ ضمان". (الهداية: ۳:۲۷۳ كتاب الوديعة)

(۳) وقال العلامة العثماني رحمه الله تعالي "أن الوديعة أمانة لا ضمان فيها إلاّ أن يتعدّي ، قال الموفق: فأما إن تعدي المستودع فيها أو فرط في حفظها فتلفت ضمن بغير خلاف نعلمه لأنه متلف مال غيره فضمنه". (اعلاء السنن ۱۶:۶۲ كتاب الوديعة)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

دوم جلد

کتاب القضاء والدعویٰ

....

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوىٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوىٰ فریدیہ

کتاب القضاء والدعوىٰ

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ

(سورۃ النسآء)

....

کتاب القضاء والدعوٰی

د قاضی او حکم تعریف

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په ملاکنډ ایجنسۍ کې اکثر خلق د مقدماتو فیصلې په عدالتونو کې د ملک د رواج یعنی د پلار نیکه د مقرر کړې قانون مطابق فیصله کوی، په دې وجه په عدالت کې د حکومت معین او مقرر تنخواه دار قاضی د قضاء دپاره نشته کله چې بعض خلق خپله فیصله په قانون شرعی باندې حل کوی نو فریقین په خپله مرضۍ باندې یو عالم یا قاضی د قوم یا امام مسجد حکم مقرر کولو. سره فیصله کوی، اوس قاضی محمد فیضان تقریبا د شپیتو کالو نه په یو مسجد کې امام دې کله چې فریقین د شریعت مطابق فیصله کول غواړی نو د شریعت مطابق فیصلې هم کوی او د عدالت په جامع مسجد کې دجمعې او عیدین مونځونه تر اوسه پورې اکثر وختونه قاضی محمد فیضان ورکړې دی نو د شریعت د قانون مطابق هغوی ته قاضی ویلې شی یا نه او د هغوی فیصله کله چې د شریعت د قانون مطابق برابر او صحیح وی نو د شریعت د وجې نه فسخ کیدې شی یا نه؟ بینوا بالکتاب توجروا یوم الحساب

المستفتی: عبدالرزاق پیش امام مسجد سید اباد ملاکنډ ایجنسی ۲۸ مئ ۱۹۶۹ء

الجواب: که قاضی محمد فیضان صاحب حکومت د مقدماتو د فیصلو دپاره مقرر کړې وی نو هغه قاضی دې کنه نو هغه حکم دې او قاضی نه دې. (قال فی الهندیة ۳:۳۷۶) وفی الشرع قول ملزم یصدر عن ولایة عامة کذا فی خزانة المفتیین (۱) وفی الدرالمختار: هو شرعاً فصل الخصومات وقطع

(۱) (فتاویٰ هندیة ۳:۳۰۶ کتاب ادب القاضي، الباب الاول)

المنازعات، قال العلامة الشامي ولابد ان يزاد فيه على وجه خاص(١) وفي الدرالمختار: والتحكيم عرفاً تولية الخصمين حاكماً يحكم بينهما(٢). فقط. وهوالموفق

په موجوده مسلمانانو باندشاهانو باندې د قضاة اطلاق صحيح دې يا نه؟

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې په موجوده مسلمانانو بادشاهانو باندې د قضاة اطلاق جائز دې يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: شير على مدرسه دار الارشاد چمن پهاټک كوئټه .... ١٤ ربيع الاول

الجواب: په موجوده مسلمان بادشاه باندې د قضاة اطلاق صحيح دې.

لان القاضي مأخوذ من القضاء، والقضاء قول ملزم يصدر عن ولاية عامة كذافي خزانة المفتيين (هندية ٣٧٦:٣)(٣).

او د قضاء د پاره عدالت شرط نه دې فاسق هم قاضي كيدې شي. **كما في** الهداية(٤) وشرح الهداية وسائرالفتاوى(٥) وهوالموفق

په حقه د ميراث دعوى، قسم خوړلو او قسم وركولو كې هيڅ ګناه نشته

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې زما والد صاحب

---

١) (الدرالمختار ٣٣٠:٤ كتاب القضاء)

٢) (الدرالمختار ٤: ٣٨٦ باب التحكيم)

٣) (فتاوى هندية ٣:٣٠٦ كتاب ادب القاضي، الباب الاول في تفسير معني الادب والقضاء)

٤) قال العلامة المرغيناني: والفاسق اهل للقضاء حتي لو قلد يصح الا انه لاينبغي ان يقلد. (هداية ٣:١٣٢ كتاب ادب القاضي)

٥) قال العلامة طاهربن عبد الرشيد: واختلفت الروايات في تقليد الفاسق بالقضاء والاصح انه يصح التقليد. (خلاصة الفتاوى ٣:٤ كتاب القضاء)

تقریبا پنځلس شپاړس کاله مخکې وفات شوي دي، او تره مې هم وفات شوې دې، زمونږ نیکه په سخاکوټ ملاکنډ ایجنسی کې څلوېښت جریب ځمکه اخستلې وه، د نیکه د وفات په وخت زما پلار او تره دواړه کم عمر ماشومان وو خو د ځمکې وارثان منلې شو خو زمونږ نورو رشته دارو موقع غنیمت اوګڼله او په ځمکه باندې ئې په زبردستئ قبضه وکړه او زما د تره او پلار په قتل پسې ولګیدل هغه خلقو د څو کالو نه زمونږ ځمکه مفته خوړله. بیامې پلار د انګریزی حکومت په وساطت سره خپله ځمکه واپس واخستله. نو هغه خلقو دشمنی غوره کړه نو والد صاحب د دشمنئ د وجې نه هغه ځمکه دوباره پریښودله. آخر دا چې والد صاحب خپله حصه په هغوی باندې په ۷۵ اویا روپئ فی جریب په حساب سره خرڅه کړه. او تره مې د خرڅولو نه انکار وکړو، او زما د تره ځامن د خپل پلار د حصې د اخستلو دعوی کوی نو آیا دا جائز ده؟ حال دا چې زمونږ تره دستخط نه وو کړې که مونږ د ټول ملکیت دعوی کړې وې نو هم دعوی کیدلې شوه. مهربانی وکړئ چې که مونږ د تره د حصې یعنی د شل جریب دعوی وکړو او هغوی نه د ځمکې نیم قیمت ورکړو او مونږ د دې خبرې قسم وکړو چې تره خو مو دا ځمکه نه وه خرڅه کړې نو څه نقصان خو به نه وی؟

نوټ: کومو خلقو چې زمونږ نه ځمکه اخستلې وه اوس هغوی په نورو خلقو باندې خرڅه کړې ده نو آیا اوس به مونږ په هغه نورو خلقو باندې دعوی کوو د قانون الهی نه مونږ خبر کړئ **بینواتوجروا**

المستفتی: ماسټر محمد خان سکنه نصیر کلے ډاکخانه هوتی مردان .... ۲ فروری ۱۹۶۹ء

الجواب: که تاسو ته یقینی طور سره معلومه وی چې تره مو خپله حصه نه وه خرڅه کړې نو تاسو ته (یعنی ستاسو د تره ځامنو ته) د میراث په دعوی کولو او قسم خوړلو کې هیڅ ګناه نشته (۱) **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة الد کتور احمد الزحیلي: الاصل في مشروعیة ...[بقیه برصفحه آئنده...

په بيع او مالکانه تصرفاتو باندې د خبريدلو باوجود په دعوی کې تاخير کول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد يوه ځمکه د ګواهانو په مخکې واخستله تقريبا د دوه کالو نه په هغې قابض او متصرف هم وو، د ځمکې څلور وارو طرفونو ته ئې ديوالونه هم اووهل او بوټي ئې هم وکرل. اوس يو سړې سره د نورو کسانو، کوم چې د دې کلي اوسيدونکې هم دي، په زيد باندې دعوی کوي چې دا زمونږ ملک دې د سابقه بائع نه دې حال دا چې دعوی کونکو د مشتری تصرف ته هم کتل، د دوه کالو نه د دعوی نه ساکت وو، اوس دعوی کوی آيا د سکوت باوجود دا دعوی قابل د اوريدو ده؟ مشتری او بائع د دعوی کونکو د خپلوانو نه نۀ دې. **بينوا توجروا**

المستفتي: احسان الله علاقه دير ...... ۱۲ محرم الحرام ۱۴۰۳ھ

الجواب: په مالکانه تصرفاتو باندې د خبريدو باوجود د تاخير د وجې نه دعوی ناقابل سماعت ده،

كما في تنقيح الحامدية ۳:۲: بخلاف الاجنبي فان سكوته ولو جاراً لا يكون رضاً الا اذا سكت الجار وقت البيع والتسليم وتصرف المشتري فيه زرعاً وبناءً فحينئذٍ

...بقيه ازحاشيه گذشته] الدعوي: الاصل في الدعوي قول النبي ﷺ لو يعطي الناس بدعواهم لادعي رجل اموال قوم ودماء هم لكن البينة علي المدعي واليمين علي من انكر. (الفقه الاسلامي وادلته ۸:۵۹۸۳ الفصل الثاني، الدعوي والبينات)

وقال ايضا: واليمين مشروعة بايات كثيرة في القرآن، منها قوله تعالیٰ: لا يؤاخذ كم الله باللغو في ايمانكم ولكن يؤاخذ كم بما عقد تم الايمان، وقد امر الله تعالیٰ نبيه ان يقسم علي الحق في ثلاثة مواضع من القرآن والله تعالیٰ لا يشرع محرما، ومشروعة باحاديث كثيرة ايضا، منها قوله عليه الصلاة والسلام لو يعطي الناس بدعواهم الخ.

(الفقه الاسلامي وادلته ۸:۶۰۶۴ المبحث الثاني: اليمين)

لاتسمع الدعوی علی ماعلیه الفتوی قطعاً للاطماع الفاسدة(١). والله اعلم

په کاغذاتو کې د غلطئ د وجې نه په ملکیت باندې هیڅ اثر نه پریوځی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې تقریبا د پنځه شپږو پشتو نه زمونږ په یوه ځمکه کې خاندانی تقسیم راروان دې، سائل د خپلې حصې امدنی بغیر د چا د شرکت نه تر ننه پورې ځمکه کې حاصلوی، په ۱۹۲۵ء کې حکومت په دې کې سړک ویستلو، د دې ځمکې څه ونې پرې کړې شو او د کاغذاتو د غلطې د وجې نه مالکانه حقوق نورو خلقو حاصل کړل، اوس د محکمه مال د دې غلطئ د وجې نه اصلی خاندانی مالک اراضی د خپل حق د ملکیت نه محروم کیدې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی سکندر خان مانسهره.... ۱۲ جون ۱۹۷۹ء

الجواب: هرکله چې په دې ځمکه باندې ستاسو ملکیت ومنل شوې دې نو د کاغذاتو د غلطئ د وجې نه ستاسو په ملکیت باندې هیڅ اثر نه پریوځی تاسو باقاعده دخپلې ځمکې مالکان یئ او د بل سړی دپاره دا اقدام کول حرام دې.(٢) **وهوالموفق**

د قاضی د شریعت او فقه حنفی خلاف فیصله کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که قاضی د شریعت محمدی ﷺ او فقه حنفی خلاف فیصله وکړې سهوا یا عمدا نو هغه به نافذ العمل وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: صوبیدار نور محمد. بکرا منډی راولپنډی

---

١) (فتاوی تنقیح الحامدیة ٣:٢ کتاب الدعوی)

٢) وفي المشکواة: عن سعید بن زید قال قال رسول الله ﷺ من اخذ شبرا من الارض ظلما فانه یطوقه یوم القیمة من سبع ارضین متفق علیه.
(مشکوٰة المصابیح ٢٥۴ باب الغصب)

الجواب: په شرط د ثبوت به دا فیصله رد کولې شی او د عمد په صورت کې به تعزیر هم ورکولې شی.

کما فی ردالمحتار ۴: ۳۳۵: والوجه فی هذا الزمان بقولهما لان التارك لمذهبه عمدا لا یفعله الا لهوی باطل لا لقصد جمیل واما الناسی فلان المقلد ما قلده الا لیحکم بمذهبه لا بمذهب غیره هذا کله فی القاضی المجتهد فاما المقلد فانما ولاه لیحکم بمذهب ابی حنیفة فلا یملك المخالفة فیکون معزولا بالنسبة الی ذلك الحکم(۱).

نوټ: د ضرورت شرعیه د وجې نه په غیرمذهب باندې فیصله کول عین حنفیت دې.(۲) وهوالموفق

د قاضی د خپل علم مطابق فیصله کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا قاضی د خپل علم مطابق فیصله کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: رحمٰن الدین معلم دینیات گورنمنټ مډل سکول شرینګل

---

۱) (ردالمحتار ۴: ۳۷۲ مطلب حکم الحنفي بمذهب ابي یوسف او محمد حکم بمذهبه)

وقال العلامة ابن عابدین: (قوله ارتحل الي مذهب الشافعي یعزر) اي اذا كان ارتحاله لا لغرض محمود شرعا.

(ردالمحتار ۳: ۲۰۸ مطلب فیما اذا ارتحل الي غیر مذهبه، باب التعزیر)

۲) قال العلامة عبد العزیز الفرهاري: اذا اشتدت الحاجة فیجوز الرجوع الي قاضي مذهب آخر لیفتي بحاجته وهذه الفوائد مما تحفظ.

(النبراس ۱۱۰ هل یجوز الرجوع من التقلید الخ)

وقال العلامة ابن عابدین: وقد کان بعض اصحابنا یفتون بقول مالک في هذه الحالة للضرورة.

(ردالمحتار ۳: ۳۶۲ کتاب المفقود، مطلب الافتاء بمذهب مالک)

الجواب: اصل مذهب اگر چې د جواز دې خو فتوی په عدم جواز باندې ده. کما فی رد المحتار ۳۴۵/۴. والفتوی علی عدمه فی زماننا کما نقله فی الاشباه عن جامع الفصولین.(۱) الخ. واضحه دې وی چې قاضی خو اصولی فیصله کوی نو دهغه دمجرم کیدو هیڅ وجه نشته او که هغه افغانی اود پښتو فیصله کول غواړی نو بل حاکم یا محکم ته دې په طورد گواه پیش شی. وهوالموفق

د معلومې ځمکې په دعوی کې حدود نه ذکر کول او په هغې باندې گواهان طلب کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د ځمکې په دعوی کې حدود ذکر نه کړی او قاضی د مدعی نه په دې باندې گواهان طلب کولو سره حکم صادر کړی، آیا دا حکم صحیح دې یا نه؟ او په غلطه دعوی باندې د مدعی نه گواهان طلب کول صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: لور محمد علاقه جندول ضلع دیر ..... ۷ فروری ۱۹۷۶ء

الجواب: که دا مدعٰی بِهٖ معلومه ځمکه وی نو د حدود د عدم ذکر به مضر نه وی کنه نو مضر به وی. (شامی) (۲)

---

۱) (ردالمحتار ۴:۳۸۳ مطلب في حكم القاضي بعلمه، كتاب القضاء)

وقال العلامة ابن نجيم : ورجح في جامع الفصولين قول محمد، قال: وينبغي ان يفتي به لما علم من احوال قضاة زماننا ثم نقل ان محمدا قال لا يقضي القاضي بعلمه ثم نقل عن عيون المذاهب ان بقوله يفتي.

(البحر الرائق ۶: ۲۵۸ كتاب القضاء)

۲) قال العلامةالحصكفي: ويشترط التحديد في دعوي العقار كما يشترط في الشهادة عليه... الا اذا عرف الشهود الدار بعينها فلا يحتاج الي ذكر حدودها.

(الدرالمختار ۴:۴۶۹ كتاب الدعوي)

په اول تقدیر سره به شهادت صحیح وی او په دویم تقدیر سره به غلط وی.

(شامی)(¹) وهوالموفق

د میراث د دعوې دپاره د سماع موده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د میراث د دعوې دپاره څه زمانه مقرر ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: په قضاء کې تحدید دې خو په تحکیم کې هیڅ حد نشته. صرح به العلامة الشامی ۴/۴۷۶. فی رد المحتار (²) وهوالموفق

د یو سړی د قوم د طرف نه بغیر د توکیل نه د مشترکه ځمکې دعوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو قوم د بل قوم نه په یو قبضه کړې شوې ځمکه باندې دوه درې کرته دعوی وکړه، خو آخر د هغه ملک صاحب دعوی د بعض امورو د وجې نه باطل او ناقابل سماع

---

١) قال العلامة الحصكفي : ومعلومية المال ... المدعي اذ لا يقضي بمجهول ... الي ان قال بعد ورقة واحدة (ويسأل القاضي المدعي عليه) عن الدعوىٰ ... (بعد صحتها والا) تصدر صحيحة (لا) يسأل لعدم وجوب جوابه (فان اقر) فيها (او انكر فبرهن المدعي قضي عليه).

(الدرالمختار ۴:۴۶۷،۴۷۰ كتاب الدعوي)

وفي الهندية: واما انواعها فثنتان دعوىٰ صحيحة ودعوىٰ فاسدة: فالصحيحة ما تتعلق بها احكامها وهي احضار الخصم والمطالبة بالجواب ووجوب الجواب واليمين اذاانكر والاثبات بالبينة ... والفاسدة مالا تتعلق بها الاحكام.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۴:۳ كتاب الدعوىٰ، الباب الاول في تفسيرها ... وانواعها)

٢) قال العلامة ابن عابدين : الثاني ان النهي حيث كان للقاضي لاينا في سماعها من المحكم. (ردالمحتار ۴:۳۸۱ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

شوه، او هغه سره د قوم د طرف نه څه لیکلې وکالت هم موجود نه وو، نو د هغه قوم د ملک د دعوی د مسموع نه کیدو په وجه باندې به د باقی قوم دعوی مسموع وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: رؤف احمد صاحب تحصیل موټړه علاقه چنډول ۲۱ جون ۱۹۶۹ء

الجواب: په شرط د صدق ددې ملک دعوی صحیح نه ده، ځکه چې د هغه دپاره د قوم د طرف نه توکیل ثابت نه دې،

لانه لا حق له فی الکل والدعوی قول مقبول عند القاضی یقصد به طلب حق الخ، هکذافی الدر المختار(۱) وهوالموفق

د خرڅې کړې شوې مستاجره ځمکې فیصله

الاستفتاء........۳۱ ستمبر ۱۹۸۷ء

فیصله نامه بابت مقدمه مسلی میر زمان وعنایت الله وغیره

د مدعی نوم مسمی میر زمان خان، مدعی علیه نوم مسمی عنایت الله و مسمی انوار الحق مدعی په باره د محدود ځمکې کې چې مثال یې لاندې ذکر دې.

کیفیت د دعوې : دا چې کومه ځمکه میر زمان خان سره په طور د اجاره زیر تصرف ده، د ځمکې مالک مسمی عنایت الله او مسمی انوار الحق باندې خرڅه کړه او د دې نه پس د دې ځمکې مالک د دې ځمکې نیمه حصه په مسمی میر زمان خان باندې خرڅه کړه، او په باقی نیمه باندې میر زمان د شفعې دعوی وکړه.

فیصله: که دا کیفیت باقاعده ثابت وی، نو ځمکه د میر زمان خان ملکیت شو، نیمه په طور د خرڅ او نیمه په طور د شفعې او اول خرڅیدل کوم چې په

(۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۴: ۴۶۶ کتاب الدعوي)

مسمى عنايت الله او مسمى انوار الحق باندې شوې وو هغه به كالعدم كولې شي لما في الهندية ۳:۱٥۳ : اذا باع الآجر المستأجر من رجل بغير اذن المستأجر ثم باعه من المستأجر جاز البيع من المستأجر وهو نقض البيع الاول(١). وهوالموفق

د نيكۀ د وفات نه پس د لمسى په دې بيع باندې د نه راضى كيدو دعوى

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې يو سړى په خپل ژوند كې ځمكه خرڅه كړه، د شلو كالو نه پس د هغه لمسى دا دعوى كوي چې زمانيكۀ چې كومه ځمكه خرڅه كړې ده، هغه زما د مرضئ موافق نه ده، لهذا زه په دې بيع باندې راضى نه يم، آيا د هغه دا دعوى شرعاً صحيح ده يا نه؟

المستفتي: فضل قادر بونير ...... ٢٤ ذي القعده ١٣٩٧هـ

الجواب: په مذكوره صورت كې نيكۀ كله چې خپله ځمكه خرڅه كړه نو هغه د دې مالک وو، ځكه چې په خپل ملكيت كې د ټولو تصرفاتو مالک وو، د نيكۀ د وفات نه پس د لمسى دعوى غلطه او بې بنياد ده. كما في الشامي في جلدخامس في مسائل شتى (٢) وهوالموفق

د دعوى د عدم سماع په موده كې مفتى به قول

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې د دعوى د ترک كولو د وجې نه د عدم سماع د مودې په مقدار كې چې د فقهاء كرامو كوم مختلف اقوال دى مثلاً درې كاله، پنځلس كاله، ديرش كاله، درې ديرش

---

(١) (فتاوي هندية ٣:١٠٠ الفصل الثالث في بيع المرهون والمستأجر الخ)

(٢) قال العلامة الحصكفي: باع عقارا او حيوانا او ثوبا وابنه او امرأته او غيرهما من اقاربه حاضر يعلم به ثم ادعي الابن مثلا انه ملكه لا تسمع دعواه.
(الدرالمختار ٥:٥٢٤ مسائل شتي)

کاله، په دې کې مفتی به قول کوم یو دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: ماش کل کوهستانی ... ۱۷ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: په دعوی کې فیصله وروسته کول د سماعت نه مانع نه دی، او په قضاء کې د مودې تعین د حاکم اعلی وغیره په اختیار کې دی. (شامی) (۱)

وهوالموفق

په سوال باندې د ورکړې شوې ځمکې په حاصلاتو باندې د معیر دعوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یوې زنانه خپل ورور ته ځمکه صرف د منافع حاصلولو دپاره ورکړه، هغه به دا ځمکه کرله او د هغې نه به ئې منافع حاصلوله. آخر هغه د هغه ځمکې په حاصلاتو باندې نوره ځمکه واخستله، اوس دا زنانه دعوی کوی چې په دې ځمکه کې زما هم حصه ده. ځکه چې په مشترکه حاصلاتو سره اخستلې شوې ده اوس د دې زنانه په دې ځمکه باندې دعوی کول صحیح دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: د دې زنانه دعوی غیر صحیح ده ځکه چې دا ځمکه په حاصلاتو سره اخستلې شوې ده، او حاصلات ټول په ټول د ورور وو. (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: قد استفيد من كلام الشارح ان عدم سماع الدعوي بعد هذه المدة انما هو للنهي عنه من السلطان فيكون القاضي معزولا عن سماعها لما علمت من ان القضاء يتخصص فلذا قال الا بامر اي فاذا امر بسماعها بعد هذه المدة تسمع.

وقال العلامة ابن عابدين: الثاني ان النهي حيث كان للقاضي لاينافي سماعها من المحكم. (ردالمحتار ۴:۳۸۱ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

۲) وفي فتاوي هندية: واما حكمها فهو ملك المنفعة للمستعير بغير عوض. (فتاوي عالمگيرية ۴:۳۶۳ كتاب العارية، الباب الاول في تفسيرها شرعا وركنها الخ)

وفي شرح المجلة: المستعير يملك منفعة العارية ... [بقيه برصفحه آئنده...

[بقيه برصفحه آئنده...

د هبې د مدعی او د منکر ترمینځه فیصله

فریق اول : زرو جان کنډه وارث خان (مدعیه)

فریق ثانی : دلیل خان (مدعیٰ علیه)

دعوی : په باره د کور د حصې کښې، مدعیه ددې حصې د حمید خان د طرف نه د هبه کیدو دعوی کوی او دلیل خان د دې نه انکاری دې.

فیصله : چونکې د مدعیه گواهان (د اعتراف مطابق نه وو) نو مدعیه د دې مدعی علیه په قسم باندې راضی شوه او مدعیه مدعی علیه (دلیل خان) ته قسم ورکړو، پس د دې په وجه باندې د مدعیه خلاف فیصله وکړې شوه. (۱)
وهوالموفق

د چرگې سره د زیاتی ځیزونو دعوی کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید په اووۀ روپۍ باندې یوه چرگه واخستله. اته میاشتې پس بکر په هغې باندې دعوی

...بقیه ازحاشیه گذشته] بدون بدل فليس للمعير ان يطلب من المستعير اجرتها بعد الاستعمال.

(شرح المجلة ۳:۳۱۱، المادة: ۸۱۲ الفصل الثاني في احكام العارية)

(۱) قال العلامة ابن نجيم: (قوله والا حلف بطلبه) اي وان لم يكن للمدعي بينة حلف القاضي المدعي عليه بطلب المدعي لقوله عليه الصلوٰة والسلام للمدعي ألک بينة فقال لا فقال لک يمينه.

(البحر الرائق ۷:۲۰۳ کتاب الدعوي)

وفي شرح المجلة: احد اسباب الحکم اليمين او النکول عنه ايضا وهو انه اذا اظهر المدعي العجز عن اثبات دعواه يحلف المدعي عليه بطلبه.

(شرح المجلة ۵:۳۹۴ المادة: ۱۷۴۲)

وکړه چې دا چرګه زما ده، حلفا هم وائي چې دا چرګه زما ده، زيد وائي چې دا چرګه ما د يوې نامعلومې بوډۍ زنانه نه اخستلې وه، کومه چې زما پيژندګلو نه وه او نه ئې اوس پيژنم زيد ظاهري لحاظ سره يو صالح سړې دې چې د مونځ او روژې پابند دې، يو منصف سړي نيمې پيسې ورکولو سره د چرګې په وړلو باندې فيصله وکړه خو په فيصله باندې بکر راضي نه شو، سره د دې چې هغه دا منی هم چې چرګه زيد نه ده غلا کړې، او د لاندې ذکر شوې امور تصفيه مطلوب ده:

۱: په ذکر شوې موده کې چې دې چرګې کومې هګۍ اچولې دی هغه د زيد دپاره حلال وې که حرام؟

۲: په پاللو باندې چې کوم اجرت خرچ شو د هغې معاوضه د بکر په ذمه لازم ده يا نه؟ که چرګه بکر يوسی يا قيمت مذکوره ادا کړی، فيصله د شريعت په رڼا کې سره د دليل نه وليکئ چې د دواړو ډلو دپاره د تسکين قلب باعث وی. بينواتوجروا

المستفتی: محمد اکبر ۲۳ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: په صورت مسئوله کې دا مدعی که صرف د چرګې دعوی کوی نو په هغه باندې ضروری ده چې دوه ګواهان پيش کړی او که شهادت ميسر نه وی، نو مدعی عليه ته به قسم ورکوی، **لحديث ﴿ البينة على المدعى واليمين على من انكر ﴾**(۱) پس که مدعی عليه قسم اوخوړلو نو هغه اوګټله او که انکار ئې وکړو نو مدعی اوګټله.(۲) او چرګه به هغه ته حواله

---

۱) ﴾(مشکوة المصابيح ۳۲۷ باب الاقضية والشهادات)

۲) ﴾وفي شرح المجلة: احد اسباب الحكم اليمين او النكول عنه ايضا وهو انه اذا اظهر المدعي العجزعن اثبات دعواه يحلف المدعي عليه بطلبه...لان النبي ﷺ قال للمدعي ألک بينة فقال لا فقال لک يمينه سئل ورتب اليمين...[بقيه بر صفحه آئنده

کولې شي، او د هګو يا د هغې د قيمت مستحق به نه وي. که مدعی د چرګې او هګو دواړو دعوی وکړه نو د ګټلو په صورت کې به هغه ته چرګه او هګۍ يا د هغې قيمت ورکولې شي.

كما في الدر المختار: وهذا اذا لم يدعه (الولد) المقرله فلو ادعاه يتبعها وكذا سائر الزوائد، نعم لاضمان بهلاكها، هامش ردالمحتار ۴: ۱۹۶(۱). وهوالموفق

عادة په ممتنع څيزونو باندې دعوی ناقابل سماعت ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د يو سړی په ځمکه کښې ونې ولاړې دی، بل دعوی کړې ده چې ستاسو په ځمکه کې ونې زمونږ دی، ځکه چې دا زما پلار لګولې دی، دمدعی پلار تقريبا څوارلس کاله مخکې وفات شوې دې، په دې څوارلس کالو کې هغه دعوی نه وه کړې او نه ورته د ځمکې مالک دا ځمکه چېرته په اجاره ورکړې وه هغه ته او د ځمکې مالک ته هم علم نشته چې ونې دهغه دی، تاسو راته جواب راکړئ بينواتوجروا

المستفتی: (شيخ الحديث) مولانا عبدالحليم ديروی

مدرس دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک. ۱۵ دسمبر ۱۹۸۶ء

الجواب: د دې مدعی دعوی ناقابل سماعت ده. لکه چې د هغه په عرب يا ايران کې په يو باغ باندې دعوی کول ناقابل سماعت دی. لانه من الممتنعات العادية فليراجع الى شرح المجلة ۵؍۴۳ المادة ۱۶۲۹(۲) وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه گذشته] علي فقدان البينة. (شرح المجلة ۵:۳۹۴ المادة: ۱۷۴۳)

۱) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۴:۲۱۸ باب الاستحقاق)

۲) وفي شرح المجلة: يشترط ان يكون المدعي به محتمل الثبوت بناء عليه لو ادعي ما وجوده محال عقلاً او عادة لا يصح الادعاء.

(شرح المجلة ۵:۵۳ المادة: ۱۶۲۹ كتاب الدعوي)

د هائی کورټ نه د منلې شوې حق ملکیت او د شراء قطعی د مدعیانو ترمینځه شرعی فیصله

شرعی فیصله

مدعی: محمد یوسف ولد عبدالغفار **مدعی علیه**: شیر افضل ولد شرنګ

بیان مدعی: د مدعی د زبانی لیکلو بیان خلاصه دا ده چې زما پلار عبدالغفار دا ځمکه متنازع فیه د مسمی شرنګ نه په بیع قطعی سره اخستلې ده او دا ځمکه زمونږ د قبضې او تصرف لاندې ده، اوس مونږ دا په اجاره او رهن باندې ورکړه ده

بیان مدعی علیه: د مدعی علیه د زبانی لیکلو بیان خلاصه دا ده چې د ملکیت حقوق د هائی کورټ پورې زمونږ ثابت شوې دی او قبضه هم مونږ سره ده

د فیصلې شرعی طریق: مونږ اولا د طرفین ترمینځه د مصالحت کوشش وکړو خو کامیاب نه شو، نو اصولا طریق د فیصلې ولیکلې شو هغه دا چې که هائی کورټ د مدعی علیه ملکیت منلې وی نو د قبضې حق به هم مدعی علیه ته ورکولې شی یعنی که مدعی علیه قبضه نه وی کړې نو مدعی به هغه ته قبضه ورکوی. (۱) او که هائی کورټ د مدعی علیه ملکیت نه وی منلې نو باقاعده د شهادت د عدم موجودګئ په وجه باندې به مدعی علیه ته قسم ورکولې شی. (۲) پس که مدعی علیه قسم اوخوړلو چې مونږ ته نه ده معلومه چې زمونږ پلار دا ځمکه خرڅه کړې ده نو د مدعی علیه په حق کې به فیصله کولې شی، او هغه ته به قبضه ورکولې شی. (۳) وهوالموفق

---

۱) وفي شرح المجلة: يعمل ايضاً بسجلات المحاكم اذا كانت قد ضبطت سالمة عن الفساد. (شرح المجلة ۵:۳۸۷، المادة: ۱۷۳۸ كتاب الشهادة)

۲) وفي الهندية: فان اقر او انكر فبرهن المدعي قضي عليه والاحلف بطلبه. (هندية ۴:۱۳ كتاب الدعوي الباب الثالث في اليمين الخ)

۳) قال العلامة الحصكفي: والتحليف علي فعل غيره يكون علي العلم اي انه لا يعلم انه كذلك لعدم علمه بما فعل غيره. (الدر المختار ۴:۴۷۳ كتاب الدعوي)

د زنانه د نکاح د انعقاد نه انکار باندې طريق فيصله

طريق فيصله : په باره د نکاح د ناهيده مقام جلبئ

مدعی : زدان شاه ولد قلندر شاه

مدعی عليه : ناهيده لور د اعتبار شاه

بيان مدعی : ما د مولوی صاحب د نکاح تړلو په وخت ګواهان ليږلې وو، او اجازت مې طلب کړې وو او دې زنانه د نکاح د انعقاد په وخت انکار نه وو کړې.

بيان مدعی عليه : (ناهيده) : (کومه چې حد بلوغ شپاړسو کالو ته تقريبا رسيدلې ده) ما د نکاح د انعقاد نه انکار کړې وو.

طريق فيصله : د دې بياناتو په وجه باندې طريقه فيصله دا ده چې که دې جينئ مسماة ناهيده د اعتبار شاه لور او دې هلک مسمی زدان شاه سره باقاعده شهادت انکار يا اجازت نه وی نو دې جينئ مسماة ناهيده ته به قسم ورکولې شی، چې د خبر ملاويدو په وخت تا انکار او نکاح رد کړې ده، که دې زنانه قسم اوخوړلو نو دا به آزاده متصور کولې شی او که د قسم نه ئې انکار وکړو نو منکوحه به متصور وی. ماخوذ از شرح تنوير على هامش رد المحتار ۲/۳۰۶(۱) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: قال الزوج للبكر البالغة بلغك النكاح فسكت وقالت رددت النكاح ولا بينة لها علي ذلک ولم يكن دخل بها طوعا في الاصح فالقول قولها بيمينها علي المفتي به وتقبل بينته علي سكوتها لانه وجودي بضم الشفتين ولو برهنا فبينتها اولي الا ان يبرهن علي رضاها او اجازتها. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۲:۳۲۸،۳۲۹ كتاب النكاح باب الولي)

په نهر باندې د مدعیان ملکیت ترمینځه فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د اوبو نهر د زید په ځمکه کې دې او عمرو په هغې باندې خپله ځمکه خړوب کوله. زید هم په دې نهر باندې د ملکیت دعوی وکړه او عمرو هم، په دې کې به شرعی گواهان د زید معتبر وی یا د عمرو؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شریف الله کوکارئ ضلع سوات.... ۱۵ اگست ۱۹۷۹ء

الجواب: د شرح مجلة وغیره نه معلومیږی کله چې مدعی به معروف او مشهور نه وی، نو ذکر د حدود وغیره ضروری دې، خو د ټول نهر حدود وغیره ذکر کول ضروری نه دی، د متنازع فیه مقدار حدود وغیره ذکر کول ضروری دی، کله چې معروف او مشهور نه وی (۱) بله دا چې ټولو فقهاء کرامو تصریح کړې ده چې د دعوی د صحت نه پس به طلب بینة وغیرها کولې شی. (۲)

په ظاهر کې زید او عمرو دواړه د ملک او ید مدعیان دی، پس په صورة مسئوله کې چې کوم طرف د بینة نه عاجز وی هغه اوبائیلله، او که دواړه عاجز شو نو نهر به په خپل حال وی، او که دواړو شهادت پیش کړو نو د

---

۱) وفي شرح المجلة: اذا كان المدعيٰ به عقارا يلزم ذكر بلده وقريته ومحلته وزقاقه وحدوده الاربعة اوالثلاثة واسماء اصحاب حدوده... لا يشترط بيان حدود العقار اذا كان مستغنيا عن التحديد لشهرته في الدعوي... والنهر لا يصلح حدا والأصح انه يصلح كالخندق وهل يشترط ذكر طول النهر وعرضه الأصح انه لا يشترط.
(شرح المجلة: ۵:۳۱ المادة: ۱۶۲۳ كتاب الدعوي)

۲) وفي الهندية: فان صحت الدعوي سأل المدعيٰ عليه عنها فان اقر او انكر فبرهن المدعي قضي عليه والا حلف بطلبه.
(هندية ۴:۱۳ كتاب الدعوي الباب الثالث في اليمين)

شرکت په شان معامله به کولې شی.([1]) وهوالموفق

فیصله د مسجد د تولیت او امامت په باره کښې

فیصله شرعی : ١٦ رجب المرجب ١٣٩٩ء

محترم جناب السلام علیکم!

د سلام نه پس عرض دا دې چې مورخه ١ جون ١٩٧٩ء باندې مسجد اخون اباد نمبر ۳ کې د مسجد د امامت او تولیت په باره کې د شرعی فیصلې دپاره طرفین مولوی محمد اسماعیل او حاجی سید غلام حاضر شو، مولوی محمد اسماعیل بغیر د چا د شرکت نه د مسجد د بانی کیدو دعوی وکړه، خو دا اعتراف ئې هم وکړو چې د خاص مقدار نه علاوه ځمکه ما اخستلې نه ده. بلکې هغه حاجی سید غلام ورکړې ده، او حاجی سید غلام وویل چې ما د کوارټر ځمکه خرڅه کړې ده. آبادی مې نه ده خرڅه کړې او دا ئې هم وویل، چې زه هم بانی یم ما هم په آبادئ کې حصه اخستلې ده او دا ئې هم وویل چې اهل محله د مولوی محمد اسماعیل په امامت باندې خوشحاله نه دی

فیصله : چونکې د دې مقدمې بنیاد د درې خبرو په تعین باندې دې ١: د واقف تعین، ۲: د بانی تعین، ۳: د اهل محله تعین، لهذا طرفین ته په ۱۳

---

[1] وفي شرح المجلة : فاذا اقام کل منهما البينة علي ذلک ثبت يدهما معاً علي العقار فيشترکان فيه واذا اظهر احدهما العجز عن اثبات وضع يده واقام الآخر البينة علي کونه واضع اليد يحکم بکونه ذا اليد ويعد الآخر خارجا وان لم يثبت احد من الخصمين کونه ذا اليد يحلف کل منهما بطلب الآخر علي عدم کون خصمه ذا اليد في ذلک العقار ويشترکان فيه، وان حلفا معاً فلا يحکم لاحد منهما بکونه ذا اليد ويوقف العقار المدعي به الي ظهور حقيقة الحال.

(شرح المجلة ٤٣٦:٥ المادة: ١٧٥٥، الباب الرابع في باب التنازع بالايدي)

جون ۱۹۷۹ء باندې د شهادت پیش کولو متعلق هدایات ورکړې شو، په ۱۳ جون ۷۹ء باندې طرفین حاضر شو.

د امر اول متعلق د اعتراف مطابق دوه وقف کونکی اوګنلې شو او هم د دې په بناء حق د مشری هم د فریقین حق ومنلې شو.(۱)

د دویم امر متعلق فریقینو شهادت قائم کړو نو هم د دې په وجه باندې حق امامت هم د فریقین حق ومنلې شو، یعنی فریقین به په اتفاق سره امام مقرر کوی (۲) او د اختلاف په صورت کې به حکومت یا محکمه اوقاف د امام تقرری کوی ځکه چې د دې مسجد متقرره محله مشکوکه ده نو په اکثریت باندې فیصله کول ناممکن دی. **وهوالموفق**

د معتمد ګواه نه بغیر په معلق بالشرط اقرار باندې فیصله کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې یو سړی د حیوان سره غیر انسانی او غیر فطری عمل وکړو، صرف یو سړی چې د مذهب په لحاظ شیعه دې هغه په داسې کولو باندې اولیدو او هیڅ د سترګو لیدلې ګواه ئې نشته، هغه فیصله یو عالم ته یوړه، ملزم صفا انکار وکړو، ملزم وویل چې دا ګواه دې قسم وکړی نو چې کومه سزا وی زه تیار یم، آخر ګواه (مذهبا شیعه) قسم وکړو، په دې باندې فیصله وکړې شوه چې د ملزم په وینا باندې ګواه قسم کړې دې په دې وجه دې د ملزم مخ تور کړې شی او په خر

---

۱) قال العلامة الحصكفي: جعل الواقف الولاية لنفسه جاز بالاجماع وكذا لو لم يشترط لاحد فالولاية له عند الثاني وهو ظاهر المذهب نهر وعليه الفتوي.
(الدرالمختار ۳:۴۲۱ كتاب الوقف: مطلب في اشتراط الواقف الولاية لنفسه)

۲) قال العلامة الحصكفي: الباني للمسجد اولي من القوم بنصب الامام والمؤذن في المختار.
(الدرالمختار ۳:۴۵۴ كتاب الوقف، قبيل مطلب في الوقف المنقطع الاول الخ)

باندې سورولو سره دې په ټول کلي کې وګرځولې شي او حيوان دې ذبح کړې شي، نو دغه شان وکړې شو. او حيوان ذبح کولو سره دفن کړې شو. آيا پورته ذکر شوې فيصله شرعا صحيح ده يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: احمد نواز سکنه کراړی کوټ تحصيل بهکر ضلع ميانوالی.. ١٦ جولائی ١٩٧٣ء

الجواب: واضحه دې وی چې دا پورته ذکر شوې فيصله صحيح نه ده ځکه چې نه دوه معتمد ګواهان موجود دې او نه د متهم د طرف نه اعتراف او اقرار موجود دې، ځکه چې اقرار معلق بالشرط نامنظور وی. **كما في شرح المجلة م١٥٨٤: ٨٧٢ الاقرار المعلق بالشرط باطل، والمراد بالشرط هنا ما كان على خطر كما تقدم وكقوله ان حلفت فلك ما ادعيت فلو حلف لا يلزمه ولو دفع بناءً على انه يلزمه فله ان يسترد المدفوع كما في البحر**(١). **وهوالموفق**

د وصيت نامې د مدعی په خپله ګواه کيدل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ١: د ميان مسرت شاه ښځې په خپل ژوند کې د خپل ځان دپاره په جائيداد کې يو کور سره د خالی ځمکې په پيښور ښهر کې سره د شرعی ګواهانو په موجودګئ کښې خپل يو هلک مسمی عصمت شاه باندې په قيمت خرڅ کړې وو، او ذکر شوې کور ئې عصمت شاه ته حواله هم کړو. ګواهان لا تر اوسه پورې ژوندی دی چې د هغې ليک په ٩ فروری ١٩٨١ء باندې وليکلې شو د شريعت په رڼا کې د دې بيع څه حيثيت دې؟

٢: د خاوند ميان مسرت شاه نور وارثانو د هغه د وفات نه پس يو تحريری

---

١ (شرح المجلة ٨٧٢ المادة: ١٥٨٤ المطبعة الادبية بيروت)

وقال العلامة ابن نجيم: (ولو وصل اقراره بان شاء الله بطل اقراره) وكذا كل اقرار علق بشرط علي خطر ولم يتضمن دعوي اجل كإن حلفت فلك ما ادعيت به.

(البحر الرائق ٧:٢٥٢ كتاب الاقرار، باب الاستثناء وما في معناه)

وصیت نامه راویستله چې په هغې کې دا مذکوره کور تقسیم کړې شوې دې په ذکر شوې لیک باندې خپله مدعیان شته د شریعت په رڼا کې دې وصیت قانوني پوزیشن څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: میان عصمت شاه..... ۱۵ مارچ ۱۹۸۷ء

الجواب: په غیر محفوظ کاغذاتو باندې فیصله نه شي کیدې (۱) خو په شهادت شرعیه باندې فیصله کول اصولي امر دې، پس که د وصیت نامې ګواهان خپله مدعیان وی نو دا شهادت به کالعدم وی. (۲) او که په بیع نامه باندې شهادت معتبره موجودوی نوبیع نامه به واجب العمل وی (۳) وهوالموفق

د ملک مطلق او د اشتراک د مدعیانو ترمینځه د فیصلې طریقه

د فیصلې طریقه د متنازعه دکانونو په باره کې: ۷ جولائی ۱۹۸۵ء

فریق اول: مسمی دادمے ولد اختر جان، مسمی شهزاد ګل ولد حمزه ګل

فریق ثاني: مسمی فیروزخان ولدحاجي بډول، مسمی جمیل ولد حاجي بډول

دعوی: په باره د دوه دکانونو کې چې یو غټ دې او یو وړوکې

د **فریق اول** د دعوې خلاصه دا ده چې وړوکې دکان صرف د اختر جان دې او لوئې دکان د حمزه ګل او فیروز خان ترمینځه مشترک دې

---

۱) وفي شرح المجله: لا يعمل بالخط والختم فقط ولكن اذا كان سالما عن شبهة التزوير والتصنيع يكون معمولا به يعني يكون مدارا للحكم لا يحتاج الي الثبوت بوجه آخر.
(شرح المجلة ۵:۳۸۴ المادة: ۱۷۳۶)

۲) قال العلامة الحصكفي: لا تقبل شهادة الانسان لنفسه.
(الدرالمختار ۴:۴۲۲ کتاب الشهادة، باب القبول وعدمه)

۳) وفي الهندية: فان اقر او انكر فبرهن المدعي قضي عليه.
(هندية ۴:۱۳ کتاب الدعوي، الباب الثالث في اليمين الخ)

د فريق ثاني د بيان خلاصه دا ده چې په دې دكانونو كې د فريق اول هيڅ حق نشته، په دې كې مونږ تصرف كړې دې او مونږ په كرايه وركړې دي او كرايه مو وصول كړې هم ده.

طريق د حكم شرعي: دا دې چې چونكې د فريق اول سره شهادت شرعي موجود نه دې، لهذا دويم فريق دې دا قسم وكړي چې د دې فريق اول په دې دكانونو كې هيڅ شراكت او حصه نشته. (۱)

نوټ: كه فريق اول شهادت شرعيه قائم كړو نو فيصله به د فريق اول په حق كې كولې شي. **وهوالموفق**

د مالك دعوى ناقابل سماع كيدو سره به د مشتري دعوى هم ناقابل سماع وي

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې ما د خپلې ځمكې په حد كې كوم چې په سركاري كاغذاتو كې موجود دى، څه حصه خپل ورور ته پريښودلو سره په باقي حصه كې بنيادونه قائم كړل، چې په هغې كې مې يو بنياد صرف د نخښې په طور او باقي پوره ديوالونه جوړ كړې شو، د پوره ديوال او د نخښې د بنياد ترمينځه مې دخپل ورور دپاره لاره پريښودله او د هغې د حدود مې خپل ګاونډيانو چې هغه وخت مالكان وو هغوى لره په موقع راوستلو باندې بنياد كيښودلې وو، كلونه پس زما خواته ګاونډى مالكانو خپله ځمكه په بل چا باندې خرڅه كړه اوس هغه موجوده مالك دعوى كوى چې زما د اخستلې شوې ځمكې حد ستا د دننه كيښودلې بنياد (پوره ديوال) پورې دې او كوم چې بهر د د بنياد نخښه ده

---

۱) وفي المشكوة: عن النبي ﷺ قال البينة علي المدعي واليمين علي المدعيٰ عليه، رواه الترمذي. (مشكوٰة المصابيح ۳۲۷ باب الاقضية والشهادات)

وقال العلامة ابن نجيم: (قوله والاحلف بطلبه) اي وان لم يكن للمدعي بينة حلف القاضي المدعيٰ عليه بطلب المدعي لقوله عليه الصلوٰة والسلام للمدعي ألك بينة فقال لافقال لك يمينه.

(البحر الرائق ۷:۲۰۳ كتاب الدعويٰ)

هغه زما د ځمکې په حد کې دې نو آيا د دې دعوى كونكى دعوى صحيح كيدې شي يا غلط؟ حال دا چې هغه سابقه مالكان موجود دى هغوى د دې نه مخكې ماته هيڅ هم نه دى ويلى چې ستاداد بنيادنځښه غلطه ده؟بينواتوجروا

المستفتي: باغلی شاه سکنه بختئے لاهور کینټ......٤مارچ ١٩٧٤م

الجواب: دا مشترى د اصل مالک قائم مقام دې او چونکې په صورت مسئوله کې د اصل مالک دعوى ناقابل سماعت ده لهذا د مشترى دعوى به هم ناقابل سماعت وى. يدل عليه ما فى ردالمحتار ٦٤٨/٥ وبه علم ان مجرد السكوت عند الاطلاع على التصرف مانع الخ(١) وهوالموفق

د دشمنۍ د وجې نه د غائبيدونكى مدعى د دعوې حكم

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد او بكر دواړه ورونه دى، د خپلو خپلوانو سره په يو كلى کې اوسيږى په كور کې د پلار د جائيداد مالكان دى، په ۱۹۲۳ء کې زيد حكومت ته درخواست وكړو چې زمونږ د پلار جائيداد دې سركارى طور په مونږ کې تقسيم كړې شى، چونكې مونږ د جائيداد اصل وارثان وو لهذا جائيداد سركارى طور تقسيم كړې شو، عابد يو غير سړې دې د زيد او بكر سره ئې لرې رشته هم نشته، د حكومت په كاركنانو کې ئې تعلق دې، هغه په ۱۹۷۰ء کې د متعلقه حكام سره يوځاى كيدو باندې د زيد او بكر پوره جائيداد په پټه په خپل نوم باندې كړو او په ۱۹۷۵ء کې ئې د زيد او بكر په پوره جائيداد باندې دعوى وكړه، خو عابد سره د مضبوط جواز د نه كيدو په وجه باندې انگريزى قانون زيد او بكر د جائيداد اصل وارثان ومنل. اوس عابد خپله او د حكومت د ملازم په ذريعه زيداو بكر لره تنگوى، بيا په ۱۹۷۲ء کې عابد سره د ځامنو او ملگرو د زيد او بكر سره په جنگ شو او په دې جنگ کې د عابد ځوئې قتل شو، نو د قتل كيس شروع شو، چونكې په حكومت کې عابد تعلق ډير لرلو او د حكومت افسران د هغه طرفدار وو نو حكومت

١) (ردالمحتار ٥:٥٢٤ مسائل شتي)

هغوی دواړو ته پهانسی ورکړه او باقی رشته دار ئې جلاوطن کړل، او د هغوی په جائیداد باندې عابد خپله قبضه وکړه، او د زید او د بکر رشته دارو د ویرې د وجې نه دعوی ونکړې شوه بیا د زید او بکر لمسو په ۱۹۷۹ء کې حکومت پاکستان ته درخواست ورکړو خو هیڅ جواب ئې رانغلو، او د هغې نه پس د ایوب خان په دور کې د زرعی اصلاحاتو په موقع باندې ئې منډه تره اووهله، خو هغه اصلاحات هم د عابد د اهل و عیال په اثر او رسوخ سره په هغه علاقه کې نافذ نه شو، او معامله هم هغه شان پاتې شوه، د دې نه علاوه د زید او بکر خپلوانو د ۱۹۸۵ء پورې عدالتی مقدمات چلولې وو، او فیصله هم د هغوی په حق کې وه خو د هغې باوجود هم هغوی دا جائیداد حاصل نه کړې شو تاسو ته درخواست دې چې د دې مسئلې حل کولو سره په دواړو جهانو ثواب حاصل کړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: شماس خان کلیاس تحصیل چارسده.... ۱۳ جولائی ۱۹۷۳ء

الجواب: په صورت مسئوله کې د زید او د بکر د لمسو دعوی محکم یعنی پو عالم ته صحیح ده، اګر چې د قاضی او حاکم په نزد ناقابل سماعت ده، خصوصا کله چې دا مدعی ډله د دشمنئ د وجې نه غائب وو.

فی رد المحتار: الثانی ان النهی حیث کان للقاضی لاینافی سماعها من المحکم ۴:۳۴۳ وفیه ایضا قال المتاخرون من اهل الفتوی لا تسمع الدعوی بعد ستة وثلاثین سنة الا ان یکون المدعی غائبا او صبیا او مجنونا ولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیر جائر ۴:۳۴۴([1]) ویؤیده مافی الاشباه ان الحق لایسقط بتقادم الزمان([2]) قلت ومنع الفقهاء عن السماع انما هو للقضاة دون المحکمین فافهم وکذا کل متغلب فی حکم الامیر الجائر. وهوالموفق

---

[1] (ردالمحتار ۳۸۲، ۳۸۱: ۴ مطلب هل یبقي النهي بعد موت السلطان)

[2] (الاشباه والنظائر ۲۲۲ کتاب القضاء والشهادات والدعوي)

د ملک مطلق او د شاملات د مدعیانو ترمینځه فیصله

فیصله: په باره دځمکې دحضرت خان او حضرت عمر ترمینځه ۳۱ دسمبر ۱۹۲۸ء

فیصله: د لیکلې او زبانی بیان نه معلومه شوه چې حضرت خان د ځمکې د دې حصې د ملکیت مدعی دې او حضرت عمر وغیره د دې شاملات د حصې (موات) مدعی دې او په زبانی بیان سره معلومه شوه چې حضرت خان او د هغه پلار به په دې حصه کې د ګیا او د اونو د پرې کولو تصرف کولو، پس په صورت مذکوره کې که حضرت خان په خپل ملکیت باندې حجت قائم نه کړو نو د حضرت عمر وغیره په حضرت خان باندې دعوی صحیح نه ده. (۱) ځکه چې حضرت خان د هغوی هیڅ حق شرعی نه دې ضائع کړې. بیشکه د حضرت خان د حجت قائمولو نه مخکې هغه ته د نورو کسانو یعنی حضرت عمر وغیره دتصرف نه منع کول ناجائز دی او په حضرت خان باندې ضروری ده چې کومه صلح د هغوی ترمینځه واقع شوې ده په هغې باندې ثابت قدم پاتې شی چې قتل او جنګ ته پکې خبره او نه رسیږی. (۲) **فقط**

د وراثت او د اشتراک مدعیان خارج اود ذوالید ترمینځه طریق فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه جبار ګل د ګلا جان بن سلطان جان بن عبدالله جان ځوئې یم. د دې عبدالله جان دوه ځامن سلطان جان، میرعجان وو، د دې دواړو ځامنو دپاره چې د پلار نه کوم میراث پاتې شوې وو په هغې کې څه میراث هغوی تقسیم کړې وو، او

---

۱) وفي شرح المجلة: يلزم اثبات وضع اليد بالبينة في العقار المنازع فيه... اعلم ان الحكم بالملكية في العقار لا يكون الا بعد اثبات وضع اليد بالبينة.
(شرح المجلة ۴: ۲۳۳ المادة: ۱۷۵۴ الباب الرابع في باب التنازع بالايدي)

۲) وقال العلامة سليم رستم باز: يجوز لكل واحد الانتفاع بالمباح ... ليس لواحد قبل اخذ الشيئ المباح واحرازه ان يمنع الآخر عنه.
(شرح المجلة ۶۸۱ المادة: ۱۲۵۵، ۱۲۵۴ الفصل الثالث في احكام الاشياء الخ)

څه مشترک وو، اوس ګلا جان ولد سلطان جان وائي چې دا مشترک میراث دې مهربان ولد میرعجان ما سره تقسیم کړی، او مهربان ولد میرعجان وائي چې زه دا مشترک میراث نه تقسیموم ځکه چې دا ماته د والد صاحب د طرف نه ملاؤ شوې دې، په دې کې ستاسو هیڅ حق نشته، ګلا جان وائي چې زمونږ پلارانو چې څه مشترک پرېښودلي وو هغه اوسه پورې مشترک دی، زما او ستاسو ترمینځه د هغې تقسیم نه دې شوې، او ماته په مشترک حصه کې هیڅ حصه نه ده ملاؤ شوې، او حق، د زمانې په تیریدلو سره نه ساقط کیږی، که مهربان سره څه شرعی ګواهان په دې تقسیم باندې موجود وی چې ګلا جان خپله حصه اخستلې ده نو هغه دې پیش کړی، که نه وی نو بیا دې دا مشترک حصه تقسیم کړی ځکه چې دا زمونږ مشترک نیکۀ وو مونږ ته دهغه په میراث کې برابر حصه ملاویږی، اوس تاسو صاحبان په دې کې د مدعی او مدعی علیه تعین وکړئ چې څوک دې؟ ځکه چې ګلا جان په ظاهر کې د تقسیم نه منکر دې، او وائي چې مونږ نه دې تقسیم کړې اوس زه تقسیمول غواړم، ځکه چې میراث زمونږ د نیکۀ وو، د بل ځای نه نۀ دې راغلې، مهربان وائي چې ماته د پلار نه ملاؤ شوې دې که یو قاضی، ګلا جان لره مدعی علیه او مهربان لره مدعی جوړ کړی په دې بناء باندې چې مهربان هم د دې ځمکې د وارث کیدو دعوی کوی بغیر د دلیل شرعی نه، ځکه چې ګلا جان د خپلې حصې د پوره اخستلو نه منکر دې، چې ماته پوره حصه میراث نه دې ملاؤ شوې، که ملاؤ شوې وی نو مهربان دې هغه ماته اوښائی ددې قاضی دا مسئله صحیح ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: جبار ګل پاره چنار....... ۲۷ جولائی ۱۹۷۸ء

الجواب: په دې ځمکه متنازع فیه کې به نیمه مهربان ته ورکولې شی، او په باقی نیمه کې به د هغه سړی قول منظور وی کوم چې باقاعده شهادت پیش کړی (۱) او که دواړه شهادت پیش کړی نو د خارج قول به

---

۱) وفي شرح المجلة: واذا عجز احدهما عن الاثبات واثبت الاخر يحكم له بكون ذلك العقار ملكه مستقلا لان البينة اقوي من وضع اليد. ...[بقيه بر صفحه آئنده...

منظور وی (١) او كه دواړه پیش نه كړې شي نو ذواليد به قسم كوي (٢) مأخوذازمجلة وتكمله.....وهوالموفق

د بيع د مدعى او د هغې د منكر ترمينځه طريق فيصله

شريعت نامه

فريق اول : حاجى شهزاد لنډی كوتل

فريق ثاني : شيخ مجان وملئ لنډی كوتل

كيفيت : اول فريق دا دعوى كوى چې مونږ دا ځمكه د دويم فريق نه په بيع اخستلې ده او دويم فريق انكارى دې.

طريق فيصله : كه فريق اول سره سركارى محفوظ كاغذونه نه وى نو فريق اول دې كم از كم دوه معتمد ګواهان پیش كړى چې دا جائيداد دويم فريق په فريق اول باندې خرڅ كړې دې، نو په دې تقدير باندې به ئې اول فريق اوګټى او دويم فريق به ئې بائيلى.
او كه اول فريق د داسې ګواهانو د پیش كولو نه عاجز وى نو دويم فريق ته به په قرآن كريم وغيره باندې قسم وركولې شي چې تاسو دا ځمكه په فريق اول

...بقيه ازحاشيه گذشته]
(شرح المجلة ٥:٤٤٧ المادة: ١٧٥٦ الفصل الثاني في ترجيح البينات)
١ ﴾ وفي التكملة : ادعيا ملكا ارثا لابيه والعين في يد احدهما لم يؤرخا يقضي للخارج.
(تكملة ردالمحتار ٢:١٥ باب دعوي الرجلين)
٢ ﴾ وفي شرح المجلة : ان اقر المدعي عليه صاحب اليد للخارج المدعي بالملكية يحكم عليه برده له وان انكر فعلي حسب شرح الفقرة الآنفة تطلب البينة من الخارج فان اثبت اخذ العقار والا يحلف المدعي عليه ذواليد فان نكل يحكم للمدعي الخارج وان حلف يترك في يده. (شرح المجلة ٥:٤٣٩ المادة: ١٧٥٥)

باندې نه ده خرڅه کړې؟ پس که دویم فریق قسم وکړو نو هغه به ئې اوګټي، او که د حلف نه انکاری شو نو وبه ئې بائیلي. (مأخذ فیصله حدیث «البینة علی المدعی والیمین علی من انکر» (۱) وشرح المجلة ۱۱۷۹ مادة : ۱۸۱۸ تا ۱۸۲۰. (۲) وهوالموفق

صرف په کاغذونو باندې فیصله کول بې قاعدې امر دې

دوزیرستان د قوم فیصله......۱اپریل ۱۹۸۵ء

بسم الله الرحمٰن الرّحیم

واضحه دې وی چې د دې متعلقه لیکلو په بناء باندې مسمی غازی ذوالید قابض دې او مسمی زار خان خارج او مدعی دې، اودا دې هم واضحه وی چې مسمی غازی د دې مدعی به د پلارنیکه د ملکیت دعوی کوی او په تصرفاتو باندې تمسک کوی پس چونکې ډیر کرته په سرکاری کاغذونو کې لیکلې شوې مالک څه حصه خرڅوی یا ئې هبه کوی او د بل سړی په نوم باندې انتقال نه شی لیکلې، لهذا صرف په کاغذاتو باندې فیصله کول بې قاعدې امر دې، او ذوالید ته قسم ورکول ضروری دی چې دا ځمکه مونږ

---

۱) (سنن الترمذي ۱۶۰ ابواب الاحکام: باب ماجاء في ان البینة علي المدعي والیمین علي المدعيٰ علیه)

۲) وفي شرح المجلة: اذا اثبت المدعي دعواه بالبینة حکم الحاکم بذلک وان لم یثبت یبقي له حق الیمین فان طلبه کلف الحاکم المدعي علیه الیمین، فان حلف المدعي علیه او لم یحلفه المدعي منع الحاکم من المعاوضة للمدعي علیه، اذا نکل المدعي علیه عن الیمین حکم الحاکم بنکوله.

(شرح المجلة ۱۱۲، ۱۱۰، ۱۰۷، ۶:المادة: ۱۸۲۰، ۱۸۱۹، ۱۸۱۸)

سره په سوال نه ده، بلکې د پلار نیکهٔ ملکیت دی، خو مسمی غازي باندې ضروري ده چې مالکانه تصرفات په مشاهده یا بینه سره ثابت کړي. (۱)

نوټ: که زارخان سره معتمد غیر جانبدار شهادت وي نو هغه د غازي په قسم باندې مقدم دی. (۲) **وهوالموفق**

په مړي باندې د قرض د دعوی فیصله

طریق فیصله: په باره د دوه ډلو کې د لنډي کوتل .... ۵ مئي ۱۹۸۳ء

محترم المقام جناب تحصیلدار صاحب لنډي کوتل السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

اما بعد! پس واضحه دې وي چې چونکې طرفین یعنی اختر جان او فیروز خان وغیره په مقرر تاریخ باندې په یو وخت حاضر نه شو. لهذا مثل واپس کولې شی، او طریق فیصله لیکل مناسب معلومیږي او هغه دا دې چې:

د کالي خان شرعی وارثان دوه دې لور او د ترهٔ ځوئي اختر جان او فیروز خان د عصبه بعیده کیدو د وجې نه وارث نه دې، خو که دا فیروز خان د دوه معتمد غیر جانبدار ګواهانو په ذریعه په کالي خان متوفی باندې قرض ثابت کړي نو هغه به د دې قرض مستحق شی. (۳) او د باقاعده شهادت نه کیدو په صورت کې به اختر جان ته قسم ورکوی. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة سلیم رستم باز: یلزم اثبات الید بالبینة في العقار المتنازع فیه.
(شرح المجلة ۱۱۰۸ المادة: ۱۷۵۴ الباب الرابع في التنازع بالایدي)

۲) قال العلامة سلیم رستم باز: واذا عجز احدهما عن الاثبات واثبت الآخر حکم له بان ذلک العقار ملکه بالاستقلال.
(شرح المجلة ۱۱۱۵ المادة: ۱۷۵۶ الفصل الثاني في ترجیح البینات)

۳) وفي شرح المجلة: اذا ادعي احد من الترکة کذا دینا وشهدت الشهود بان للمدعي في ذمة المیت مقدار ما ادعي من الدین یکفي.... [بقیه بر صفحه آئنده...

د وراثت نه محرومې لوڼې د اوږدې

مودې نه پس هم دعوی کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو وفات شوي سړي صرف څلور لوڼې دی او وارثانو میراث غصب کولو سره دا لوڼې محرومه کړې، اوس ئې درې لوڼې مړې شوې دی او یوه ژوندئ ده آیا هغه د شریعت او اسلامی حکومت په ذریعه خپل حق غوښتلې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد یوسف مفتی دار العلوم حقانیه اکوړه ختک......٦ جولائی ۱۹۷۲ء

الجواب: دا ژوندئ لور او ابناء البنات باقاعده دعوی کولې شی او خپل شرعی حق حاصلولې شی اګر چې سل کاله پس وی.

لان الحق لا یسقط بتقادم الزمان (اشباه) (۱) ولان الترك لایمکن الاعند تحقق القاضی المامور بالسماع فالبلاد اللتی جرت فیها غصب المیراث وقضاتها یحکمون بالرسوم المعروف لا بد من سماع الدعوی بعد زوال شوکة امراءهم لان هذا التاخیر لایسمی ترکاً. وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته]

(شرح المجلة ۵:۲۴۱، المادة: ۱۶۹۴)

وایضا قال العلامة محمد خالد الاتاسي: وفي البحر الرائق وحاصل ما ذکره الصدر في دعوي الدین علي الوارث ان القاضي یسئل المدعي علیه اولاً عن موت ابیه لیکون خصما فان اقر به یستو فیه المدعي من نصیبه فقط، وان انکر فبرهن المدعي استوفاه من الترکة والا وطلب یمینه استحلفه القاضي علي العلم فان حلف انتهت والا قضي علیه. (شرح المجلة ۵:۴۱۶ المادة: ۱۷۴۸)

۱) (الاشباه والنظائر ۲۲۲ کتاب القضاء والشهادات والدعوي)

د ځمکې په فیصله کې شرعي طریق کار

طریق فیصله

دحاجی قریب خان او ګل زمان وغیره ترمینځه د دې تنازعه فیصله دا ده چې اول دې دټولې مدعٰی به ځمکې تعین وکړې شي. (۱)

دویم دې دا ثابته کړې شي چې خارج څوک دې او ذوالید څوک دې چې په فیصله کولو کې آساني وي. (۲)

دریم دې دا ثابته کړې شي چې آیا د سماعت نه مانع امر موجود دې یا نه؟

څلورم دې دا وکتلې شي چې مدعی علیه د دفع او ابراء وغیره دعوی کوی یا نه.؟

پنځم اثبات دفع یا اثبات اصل مدعٰی کې دې دبینه او حلف نه کار واخستلې شي. وهوالموفق

په مشترکه چینه باندې آبادی کونکې ذوالید نه دې

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په یوه چینه باندې د څلورو قبیلو دعوٰی ده چې دا زمونږه ده او ګواهان چا سره هم نشته او هره قبیله په دې باندې قسم هم خوري.

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: وشرطها معلومية المال المدعي...ويشترط التحديد في دعوي العقار كما يشترط في الشهادة عليه.
(الدرالمختار ۴:۴۶۷،۴۶۹ كتاب الدعوي)

(۲) وفي شرح المجلة: اعلم اولا ان معرفة الخارج من ذي اليد عند التنازع بالايدي مهم جداً لان بذلك يتميز المدعي من المدعي عليه ويترتب علي ذلك تعين المحل الذي تطلب فيه اليمين ومن يكون خصما في الدعوي ومن لا يكون وفي اي حالة يقضي قضاء ملك واستحقاق وفي اي حالة يقضي قضاء ترك الي غير ذلك من الاحكام.
(شرح المجلة ۵:۴۳۱ الباب الرابع في باب التنازع بالايدي)

۲: دا چینه تقریبا د یو سل څلوېښتو کالو نه غیر آباد ده نن هم په دې باندې د چا آبادی نشته.

۳: زمونږ د غر هر طرف ته حدود معلوم دی او زمونږ دا درې قبیلې منی چې دا غر مشترک دې او دا چینه په دې غر کې ده.

۴: یوې قبیلې په دې باندې آبادی شروع کړه او بلې هغه آبادی را وغورځوله، اوس به په دې سره اوله قبیله ذوالید ثابتیږی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: ملا عبدالستار ۳۰ اگست ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې په دې چینه باندې نه د چا ید موجود دې. او نه د ملکیت گواهان موجود دی او نه په ملکیت خاصه کې ظاهره شوې ده. لهذا دا چینه به شریکه ساتلې شی، او دا آبادی کونکې به ذوالید نه وی.

یدل علیه ما فی التکملة (۲: ۱۱) ولو غصب ارضا وزرعها فادعی رجل انها له وغصبها منه فلوبرهن علی غصبه واحداث یده یکون هوذاید والزارع خارجا ولولم یثبت احداث یده فالزارع ذوید والمدعی هوالخارج، بیده عقارا حدث الآخر علیه یده لا یصیربه ذاید فلوادعی علیه انك احدثت الید وکان بیدی فانکر، یحلف اه وبه علم ان الید الظاهر لا اعتبار بها(۱) انتهی ما فی التکملة. فافهم

په اجاره باندې د اخستلې شوې ځمکې په غاصب باندې د مستاجر دعوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مسمی میردل سره د شهاب الدین ځمکه په قلنگ باندې ده یعنی د ځمکې مالک ته د کال څه نقدې پیسې د اجارې په شکل ورکوی، اوس میردل په خپل گاونډی نذیر احمد باندې دعوی کوی چې تا زما د قلنگی ځمکې څه حصه په خپله

---

۱) (تکملة ردالمحتار ۱۲: ۲ کتاب الدعوی مطلب من اهم مسائلة دعوی الرجلین معرفة الخارج من ذی الید)

اخستلې شوې ځمکه کې شاملولو سره قبضه کړې ده، نذیر احمد وائی چې
نه د ځمکې اصل مالک نه ئې، او نه د ځمکې د مالک وکیل او مختار ئې
بلکې اصل مالک شهاب الدین دې. زه ستا د دې دعوې هیڅ جواب نه
درکوم نه قلنگی ئې نو د نذیر احمد دا خبره چې زه د مدعی سره هیڅ فیصله
نه کوم صحیح ده یا غلطه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نذیر احمد باړه.......۲۵ اگست ۱۹۷۵ء

الجواب: په صورت مسئوله کې د میردل دعوی صحیح ده، او د نذیر احمد دفع باطل ده، كما في شرح المجلة ۹۴۱: ولكن اذا غصب الوديعة اوالمستعار اوالماجور اوالمرهون فللوديع والمستعير والمستاجر والمرتهن ان يدعى بها على الغاصب وحده ولايلزم حضور المالك([1]). وهوالموفق

د مقدمې په دوران کښې د مدعی د وفات کیدو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عبدالشکور او عبدالقدیر وغیره مدعیان د نوټس ۲۴ مارچ ۵۱، په ذریعه، او فیصله ۱۸ جون ۵۳ په ذریعه او فیصله ۱۸ مارچ ۶۰، په ذریعه د مدعی په حیثیت
مدعی مقتضی اظهار حقیقت صداقت او تصدیق دی.
درخواست په نوم د قیصر خان ۲۵ اگست ۴۷ء او فیصله ۱۹۵۲ء او دخول
نصیر الدین په ذریعه د سروے رجسټر ۵۵ء او فیصله د ۲۲ جون ۱۹۲۹ء
مدعا علیه

---

(۱) (شرح المجلة ۹۴: ۵ المادة: ۱۶۳۷، كتاب الدعوي)
وفي الهندية: واذا ادعي المستأجر بغير حضرة الآجر تسمع دعواه كذا في المحيط... آجر داره وسلمها ثم غصبها من المستاجر غاصب لا تصح دعوي المالک علي الغاصب بلا حضور المستأجر.
(فتاوي عالمگيرية ۳۷: ۴ الباب الخامس فيمن يصلح خصما لغيره)

جناب عالی ! دا مقدمه د سماعت دپاره د سول جج صاحب په عدالت پیښور کې زیر بحث ده خو په دواړو مقدمو کې مدعی عبدالقدیر فوت شو او عدالت ته د مدعی د وفات خبر په وخت اونه شو په دې وجه باندې عدالت مقتضی د سماعت نه دې، نو عرض دې چې د مدعی وفات او قاضی ته د عدم اطلاع او د سماعت په حقیقت باندې څه اثر پریوځی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالشکور

الجواب: که د مدعی څوک قائم مقام موجود وی مثلا وکیل یا وصی وغیره نو سماعت او فیصله مشروع ده.

کما یقتضیه مافی الدر المختار: ولا یقضی علی الغائب ولاله الا بحضور نائبه أی من یقوم مقام الغائب حقیقة کوکیله ووصیه، وفی ردالمحتار (۴: ۶۳۳) فان المیت غائب ووصیه قائم مقامه حقیقة الخ(۱). فقط

قضاء علی الغائب بغیر د ضرورت نه ناجائز ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دوه سړو ترمینځه مقدمه شروع شوه، قوم دا فیصله وکړه او یو سړی ته ئې وویل چې که تاسو په فلانی تاریخ باندې د مقدمې دپاره حاضر نه شوئ نو ستاسو دعوی به ابراء کولې شی هغه دا وعده هم وکړه چې زه به دعوی ابراء کوم دا

---

۱) (الدر المختار مع ردالمحتار ۴:۳۷۳ مطلب فی القضاء علي الغائب)

وفي شرح المجلة: ومنها لوقامت البينة علي المورث فمات وحضر وارثه او قامت البينة علي وارث فغاب وحضر وارث آخر يقضي علي الذي حضر بتلك البينة ومنها الوصي سواء كان وصي الميت فهو نائب عن الميت بانابته أو وصي القاضي فبانابة الشرع يحكم عليه بالبينة التي أقيمت علي الميت قبل موته.

(شرح المجلة ۶:۱۳۸ المادة: ۱۸۳۰ الفصل الأول في بيان شروط الحكم)

دعوی د ابراء په مذکوره صورت کې په شرط د تعليق قضاء صحيح ده یا نه؟

بينوا توجروا

المستفتي: مولوی محمد اکبر، واله کیمپ ویره اسماعیل خان

الجواب: دا سړې د وعدې په وجه باندې نیولې کیدې شی (١) په حقیقت کې فیصله نه ده شوې ځکه چې دا په حقیقت کې د قضاء على الغائب طرف ته راجع کیږی کوم چې د احنافو په نزد (بغیر د ضرورت نه) ناجائز ده. (٢) وهوالموفق

د پلار نیکهٔ د وخت نه په مقبوضه ځمکه باندې دعوی ناقابل سماعت ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په یو کلی کې یو مسجد دې او د هغې جائیداد (سیرئ) ده. په دې مسجد باندې دوه قبیلې آبادې دی. ١: خواجه خیل، ٢: بابا خیل. بیا دا دواړه په پنځو پنځو وړو وړو قبیلو کې تقسیم دی، نو ټولې لس قبیلې جوړیږی، تقریبا د پنځه اویا کالو نه بلکې د دې نه هم مخکې دې قوم (یعنی پنځو قبائلو خواجه خیل او څلور قبائلو بابا خیل یعنی کل نهه قبائلو) خپله حصه سیرئ یو امام صاحب ته قطعی طور باندې ورکړې وه او په باباخیل کې یوې قبیلې خپله لسمه حصه

---

١) وفي التفسير المظهري: (واوفوا بالعهد) اي بما عاهد كم الله من تكاليفه وما عاهدتم الناس عهداً مشروعا (ان العهد كان مسئولاً)أي مطلوبا يطلب من العاهد ان لا يضيعه ويفي به أو مسئولاً عنه فيسأل عن الناكث ويعاتب عليه.
(التفسير المظهري ٢٤٦: ٤ سورة الاسراء آيت: ٣٤)

٢) وفي الهندية: القضاء بالبينة علي الغائب أو للغائب لا يجوز الا اذا كان عنه خصم حاضر اما قصدي وذلك بتوكيل الغائب اياه واما حكمي وذلك بأن يكون المدعي علي الغائب سببا لثبوت المدعي علي الحاضر لا محالة أو شرطا له.
(فتاوي عالمگيرية ٤٣٣: ٣ الباب الحادي والثلاثون في القضاء علي الغائب)

وفي شرح المجلة: اعلم أو لاًن القضاء علي الغائب وله لا يجوز عندنا الا اذا حضر من يقوم مقامه حقيقة أوحكما.
(شرح المجلة ١٤٦: ٦ الفصل الثاني في بيان الحكم الغيابي)

سیریٔ بل امام ته ورکړې وه، دغه شان وخت تیریدلو کله چې حکومت پاکستان زمونږ په علاقه کې د ځمکې پیمائش شروع کړو نو هغه امام (کوم ته چې لسمه حصه بوې قبیلې ورکړې وه) دعوی وکړه چې د دې ځمکې په سیریٔ کې زما نیم حق دې خو قوم ووېل چې تاسو سوا د لسمې حصې حقداران نه یئ په دې وجه باندې هغه د خپلې دعوې نه واپس شو. هغه وخت په پیمائش کې لسمه حصه سرکاري طور سره د هغه امام صاحب په نوم باندې ولیکلې شوه، او باقي نهه حصې د بل امام صاحب په نوم باندې سرکاري طور سره ولیکلې شوې، اوس د هغه امام صاحب چې د هغه ۱/۱۰ حصه ده دوباره دعوی کړې ده چې زه په دې ځمکه (سیریٔ) کې د نیمې حصې حقدار یم مهرباني وکړئ تفصیلي جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد شفیع ۲۵ جون ۱۹۷۵ء

الجواب: که دا مدعی علیه امام صاحب د دې نهو حصو د پلار نیکه د زمانې نه قابض او متصرف وی نو بیا به د مدعی امام دعوی ناقابل سماعت وی، کما في ردالمحتار ۵: ۴۴۹ وفي الحامدية عن الولوالجية رجل تصرف زمانا في أرض ورجل آخر يرى الأرض والتصرف ولم يدع ومات على ذلك لم تسمع بعد ذلك دعوى ولده فتترك على يد المتصرف اه والظاهر أن الموت غير قيد(۱). وهو الموفق

د دري سوه کالو نه مقبوضه ځمکې باندې د دعوی حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ یوه ځمکه ده چې د هغې اکثر حصه په ځنګلو باندې مشتمل ده کوم چې تقریبا د دري سوه کالو نه زمونږ په قبضه کې ده. چې په هغې باندې پنځه پښتونه قابض پاتې شوې دی د هغې آمدني بغیر مونږ د شریک نه حاصل کړې ده اوس زمونږ په پنځم پښت کې یو رشته دار دعوی کوی چې زمونږ په دې ځنګلو

(۱) (ردالمحتار ۵۲۴:۵ مسائل شتی)

کې حصه ده اول خو هغه په عدالت کې دعوی وکړه، بیا ئې د هغې نه پس د خپلې غلطئ اعتراف وکړو، اوس هغه ته دوباره د دعوی کولو حق حاصل دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید مظفر شاه ...... ۲ اپریل ۱۹۷۴ء

الجواب: دا دعوی ناقابل سماعت ده، یدل علیه مافي ردالمحتار ۵:۴۴۹:

رجل تصرف زمانا في أرض ورجل آخر يري الأرض والتصرف ولم يدع ومات علی ذلک لم تسمع بعد ذلک دعوی ولده فتترک علی يد المتصرف(۱). وهو الموفق

محفوظ خطوط حجت وی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په ۱۳۵۲ء کې د دیر د نواب په زمانه کې د ځمکې بیع قطعی شوې وه او د بیع نامه په وخت کې چې کوم ګواهان موجود وو هغوی مړه شوې دی صرف په بیع نامه کې د نواب دستخط او د دیر د تحصیلدار مهر موجود دې، نو آیا د وخت د حاکم مهر او دستخط به معتبر وي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد مرزا.... نهاګ دره، واړی ضلع دیر.... ۲۷ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: محفوظ خطوط حجت وی او غیر محفوظ حجت نه شی کیدې (شرح مجلة) (۲) وهو الموفق

---

۱) (ردالمحتار ۵:۵۲۴ مسائل شتّي)

وفي شرح المجلة: اذا ترک احد الدعوي بلا عذر ووجد مرور الزمان فكما لا تسمع تلک الدعوي منه في حياته كذلک لا تسمع من ورثته بعد مماته أيضا.

(شرح المجلة ۵:۱۸۷ المادة: ۱۶۶۹ الباب الثاني في حق مرور الزمان)

۲) وفي شرح المجلة: لا يعمل بالخط والختم فقط ولكن اذا كان سالما عن شبهة التزوير والتصنيع يكون معمولًا به يعني يكون مداراً للحكم لا يحتاج الي الثبوت بوجه آخر.

(شرح المجلة ۵:۳۸۴، ۱۷۳۶)

...بقیه برصفحه آئنده...

د خارج د ذوالید په ځمکه باندې د میراث د دعوی حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید په عمر باندې دعوی وکړه چې دا کومه ځمکه ستاسو په لاس کې ده دا ماته زما د پلار په میراث کې ملاؤ شوې ده او ای ذوالید! نه د ګانې د وجې نه د دې ځمکې پیداګیر خورې، او دې مدعی علیه دا دعوی کړې ده چې دا ماته زما د پلار په میراث کې ملاؤ شوې ده او زما پلار تر سلو کالو پورې خوړلې ده؛ او چا هم په دې باندې دعوی نه ده کړې نو دا دعوی به عند الشرع مسموع وی یا نه او که مسموع وی نو بینة پیش کول د چا په ذمه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالمستعان مهمندی.. متعلم دارالعلوم حقانیه... ۲جولائی ۱۹۸۶ء

الجواب: دا دعوی د حکم سره نابل سماعت دی

کما ورد فی ردالمحتار: وفی الحامدیة عن الولوالجیة رجل تصرف زماناً فی ارض ورجل آخر یری الأرض والتصرف ولم یدع ومات علی ذلك لم تسمع بعد ذلك دعوی ولده فتترك علی ید المتصرف اه والظاهر أن الموت غیر قید بدلیل أنهم لم یقیدوه به ههنا، ردالمحتار ۵:۶۴۹ (۱)؛ البته محکم سره قابل د سماعت ده. کما فی ردالمحتار ۴:۳۴۳ (۲). وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وقال العلامة ابن عابدین: وان ابن شحنة وابن وهبان جزما بالعمل بدفتر الصراف ونحوه لعلة امن التزویر کما جزم به البزازي والسرخسي وقاضي خان، قال ان هذه العلة في الدفاتر السلطانیة أولي . (ردالمحتار ۵:۴۳۵ مطلب في العمل بما في الدفاتر السلطانیة)

۱ ﴾ (ردالمحتار ۵:۵۲۴ مسائل شتّي)

۲ ﴾ قال العلامة ابن عابدین: الثاني أن النهي حیث کان للقاضي لا ینافي سماعها من المحکم بل قال المصنف في معین المفتي أن القاضي لا یسمعها من حیث کونه قاضیا فلو حکمه الخصمان في تلك القضیة التي مضي علیها المدة المذکورة فله أن یسمعها. (ردالمحتار ۴:۳۸۱ قبیل مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثین سنة لا تسمع)

د عذر د وجې نه د ډیرې زمانې نه پس د دعوې کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د بل سړي جائیداد قبضه کړې دې. غریب سړي د ویرې د وجې نه په دې باندې دعوی او نه کړه، وروستو څه وارثان په دې باندې دعوی کوي آیا دعوی دخپلې ځمکې یا جائیداد دعوی کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد حاجي، مسجد شاه منصور صوابي......۲۶ ستمبر ۱۹۷۲ء

الجواب: دا سړي په دې غاصب باندې دعوی کولې شي،

أما عند المحكم فواضح(۱) وأما عند القاضي فلما في شرح المجلة ۹۹۰: المعتبر في هذا الباب انما هو مرور الزمان الواقع بلا عذر أما الزمان الذي مر بعذر شرعي كما لو كان المدعي صغيرًا او مجنونًا او معتوها أو كان في ديار بعيدة مدة سفر أو كان خصمه من المتغلبة فلا يعتبر الخ(۲). وهو الموفق

د اورېدې مودې د تیریدلو نه پس د خارج په ذوالید باندې د ځمکې دعوی

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې پنځه پنځوس کاله مخکې زما والد صاحب د اوبو والا ځمکه په بیع قطعی سره اخستلې وه، دې دوران کې چا هم څه قسم دعوی نه وه کړې او زما والد صاحب تقریبا دولس کاله شوې دی وفات شوې دې او پورته ذکر شوې ځمکه ماته په میراث کې ملاؤ شوه، اوس یو سړی دعوی وکړه چې دا ځمکه زما حق دې

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: الثاني أن النهي حيث كان للقاضي لا ينافي سماعها من المحكم بل قال المصنف في معين المفتي أن القاضي لا يسمعها من حيث كونه قاضيا فلو حكمه الخصمان في تلك القضية التي مضىٰ عليها المدة المذكورة فله أن يسمعها.

(ردالمحتار ۴:۳۸۱ قبيل مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة لا تسمع)

(۲) (شرح المجلة ۵:۱۷۶،۱۷۷ المادة: ۱۶۶۲ الباب الثاني في حق مرور الزمان)

او د دعوې اصل دا دې چې زمونږ ځمکې ته نژدې د دعوی کونکي خرڅه کړې ځمکه باندې مونږ د شفعې دعوی وکړه او د زمیندارو او کرونده کونکو په شرارت سره مدعی د دعوې خلاف وکړل چې حق شفعه ساقط شی لهذا د پورته ذکر شوې مسئلې په باره کې مفصل جواب سره د حوالې ولیکئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی فضل مولی...... علاقه میدان ۲۸ اپریل ۱۹۷۵ء

الجواب: دا دعوی د زائد المیعاد کیدو د وجې نه ناقابل سماعت ده کمافي ردالمحتار: رجل تصرف في ارض زماناً ورجل آخر يرى تصرفه فيها ثم مات المتصرف ولم يدع الرجل حالة حياته لاتسمع دعواه بعد وفاته(۱). وهوالموفق

په اشارې سره د معلومې ځمکې په حدود کې غلطی کول نقصاني نه دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما د ځمکې څه حصه په ۱۹۴۲ء کې اخستلې وه، چې په هغې کې د چا هم شرکت نه وو، هغه وخت مونږ خپل استامپ پرچې لیکلې وو، خو د لیکلو په وخت د ځمکې په حدود اربعه لیکلو کې معمولی شان غلطې وشوې، مونږ څلور کرته هغه ځمکه ګانه ساتلې ده چې د هغې استامپ پرچې هم مونږ سره موجود دی خو اوس زما وریرونو هم د دې غلطۍ نه فائده اوچتولو سره په ځمکه باندې دعوی کړې ده، آیا د هغوی دا دعوی صحیح ده یا نه؟ او په استامپ پرچې کې چې کوم ګواهان لیکلې شوې دی په هغې کې صرف یو سړې ژوندې دې باقی ټول وفات شوې دی نو که هغه د ګواهۍ ورکولو نه انکار وکړی نو بیا به څه حکم وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: غلام محمد

الجواب: که دا ځمکه په اشاراتو سره معلومه وه، نو د حدود په ذکر او عدم ذکر او هغې کې غلطی نقصانی نه دې، لما في الدرالمختار: لا يشترط ذلك

---

(۱) (ردالمحتار ۵:۵۲۴ مسائل شتی)

(معرفة قدر وصف) في مشار اليه لنفي الجهالة بالاشارة (١) فافهم.... او كه دا استامپ پرچې حكومت سره محفوظ نه وي نو دوه ګواهان په ضروري دي (٢) وهوالموفق

په دعوى كې بغير د عذر نه تاخير كول د سماعت نه مانع ده

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې كه په يو معامله كې د ديرشو يا څلويښتو كالو پورې تاخير وكړې شى نو زائد الميعاد كيدو سره شرعا دا دعوى قابل سماعت ده يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمد مرزا، وارى ضلع دير.... ٢٧ مارچ ١٩٨٥ء

الجواب: په دعوى كولو كې تاخير بغير د عذر نه د سماعت نه مانع دې شرح مجلة (٣)

---

١) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ٢٤: ٤ كتاب البيوع)

٢) وفي شرح المجلة: لا يعمل بالخط والختم فقط ولكن اذا كان سالما عن شبهة التزوير والتصنيع يكون معمولاً به يعني يكون مداراً للحكم لا يحتاج الثبوت بوجه آخر... الي أن قال بعد ورقة يعمل أيضا بسجلات المحاكم اذا كانت قد ضبطت سالمة عن الفساد... وان لم تكن كذلك لا يومن من وقوع تصنيع أو تزوير فلا يعمل بها حينئذ الا اذا شهد الشهود علي أن الحاكم حكم بمضمونها عند المرافعة بحضورهم.

(شرح المجلة ٣٨٧، ٣٨٤: ٥ المادة ١٧٣٨، ١٧٣٦)

٣) وفي شرح المجلة: النوع الثالث السكوت بمعني ترک الدعوي مدة طويلة بغير عذر... وقد اختلف الفقهاء في تحديد هذه المدة فقيل هي ثلاث سنوات وهو قول مهجور لا ينفذ القضاء به... وقيل هي ثلاثون سنة وقيل ثلاث وثلاثون وقيل ست وثلاثون سنة ونقل في التنقيح عن جامع الفتاوي أن المتاخرين من أهل الفتوي قالوا لا تسمع بعد ست وثلاثين سنة الاأن يكون المدعي غائبا أو صبيا أو مجنونا وليس لهما ولي أو المدعي عليه اميراً جائراً يخاف منه. (شرح المجلة ١٦٧، ١٦٦: ٥ الباب الثاني في حق مرور الزمان)

شامي (١) وغیره.... وهوالموفق

ظالم حاکم څوک دي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ظالم حاکم څوک دي په دلائل شرعیه سره د دې وضاحت وفرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد علي المهاجر، ابوظهبي.....٨٠٠٤١.... ٢٨ شعبان ١٤٠٢هـ

الجواب: ﴿ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئك هم الظالمون﴾ (٢) وهوالموفق

د غیر آباد ځمکې ترمینځه د ملکیتي ځمکې حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زید د جائیداد سره متصل یو غیر آباد ځمکه د د کومه چې به دهغه پلار نیکهٔ به طور د چراګاه استعمالوله، مذکوره ځمکې ته نژدې د عمر نیکهٔ راتلو سره آباد شو، وروستو د نسل د ترقئ په وجه باندې د عمر اولاد یو څوا بل څوا غیر آبادې ځمکې آبادولو سره په هغې باندې قبضه وکړه، تردې چې مذکوره ځمکې ته څواوښا ځمکې ئې هم آبادې کړې، صرف د زید جائیداد سره متصل ځمکه هغه خلقو آباده نه کړې شوه، اوس د زید د غریبۍ او بې وسئ د وجې نه پورته ذکر شوي موصوف حضرات په دې ځمکه باندې هم قبضه کول غواړي او په دلیل کې وائي چې د متنازعه ځمکې درې واړو طرفونو ته زمونږ د حق د احاطې باوجود په مینځ کې ځای د زید حق کیدل عجیبه دی.

---

١) قال العلامة ابن عابدين: فانه لو طالت مدة دعواه بلا عذر ثلاثا وثلاثين سنة لا تسمع كما افتي به في الحامدية أخذا مما ذكره في البحر في كتاب الدعوي عن المبسوط اذا ترك الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة ولم يكن مانعا من الدعوي ثم ادعي لا تسمع دعواه.
(ردالمحتار ٥: ٣٨٢ مطلب اذا ترك الدعوي ثلاثاو ثلاثين سنة لا تسمع)

٢) سورة المائدة آیت: ٤٥)

د شریعت په رڼا کې متنازعه ځمکه یقینا د زید حق دې یا که د عمر د اولاد دعوی صحیح ده حال دا چې دا خبره یقینا ثابت ده چې د زید نیکونه د دې علاقې اصل اوسیدونکې دې او د عمر نیکهٔ وروستو استوګنه اختیار کړې ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبیدالله متعلم حقانیه......... یکم اپریل ۱۹۷۵

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت په دا ځمکه د زید حق وی. الاذاثبت أنها موات فتکون لمن أحیاها(۱) یدل علی المراد مافي تنقیح الفتاوی ۱: ۱۲۱ ولاینزع شيءٌ من ید أحد الابحق ثابت معروف(۲). وهوالموفق

په مملوکه او غیر مملوکه ځمکه کې د لګولې شوو اونو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی مثلا زید ما سره جهګړه ده او جهګړه دا ده چې زما په قبضه کې څه ونې دی بعض ونې د پاکستان نه مخکې او بعض د پاکستان جوړیدو نه پس. اوس زید د دې اونو متعلق دعوی ظاهر کړې ده.

د دعوی خلاصه: دوه نالې (نهرونه) بالکل یوځای بهیږی یوه ناله خاص زموږ د جرندې ده او دویمه ناله د عام خلقو ده او د دې نالو ترمینځه او په غاړو باندې دا ونې دی او د دې اونو پرې کول او حفاظت زما د نیکهٔ د وخت نه ما پورې تړلې دې او د دې نالو دواړو طرفونو طرف ته سرکاری ځمکه ده، اوس د دې ځمکې کروند ه کونکې (زید) د کروندې د وجې نه د حفاظت او جوړولو د ذمه دارئ نه بغیر د دې اونو دعوی کوی ځمکه تر اوسه پورې د

---

۱) وفي شرح الجملة: اذا أحیی شخص ارضا من الأراضي الموات بالاذن السلطاني صار مالکا لها.

(شرح المجلة ۴: ۲۰۴ المادة ۱۲۷۲ الفصل الخامس في احیاء الموات)

۲) (تنقیح الفتاوی الحامدیة ۱: ۱۲۱ کتاب الوقف)

گورنمنټ (حکومت) به نوم یادیږي ده. جناب عالی (دا دعوی صحیح ده یا نه؟ د پاکستان د جوړیدو نه مخکې د دې ځمکې مالک هندو وو او هندو زما نیکهٔ ددې اونو د جوړولو نه منع نه کړو او دا ونې قدرتی طور پیدا شوې وې او مونږ به د پیداوار سره د هغې حفاظت هم کولو، لهذا تاسو د دې مسئلې جواب راولیږئ چې آیا دا ونې زمونږ دی یا که د دې سرکاری زمیندار (زید)؟ ټولې اوکه بعض؟ یا که د حکومت به اختیار کې دی ځکه چې ځمکه د حکومت ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد شیر گل. ټانک وړه اسماعیل خان.... ۹ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې که د دې اونو کرلو والا معلوم نه وی یا هغه ونې خودرو وی نو دا ونی به د ځمکې تابع وی یعنی د ځمکې د مالک مملوک به وی. (ماخوذ از رد المحتار ۱۱۰/٤) (۱) والهندیة ۴۵۵/۲ (۲) او که دا ځمکه به کومې چې ونې شوې دی د چا ملک نه وی نو تاسو د تصرف د

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: والشجر له ساق فلا تدخل فيه حتي يجوز بيعها اذانبتت في أرضه لكونها ملكه. (شامي ۱۲۳: ۴ قبيل مطلب صاحب البئر لا يملك الماء)

وفي شرح المجلة الاشجار النابتة بلا غرس في ملك احد هي ملكه ليس لآخر ان يحتطب الا باذنه. (شرح المجلة ۱۸۲: ۴ المادة ۱۲۴۴)

(۲) وفي الهندية: مقبرة عليها أشجار عظيمة فهذا علي وجهين اما ان كانت الأشجار نابتة قبل اتخاذ الأرض مقبرة أو نبتت بعد اتخاذ الأرض مقبرة ففي الوجه الأول المسألة علي قسمين اما ان كانت الأرض مملوكة لها مالك أو كانت مواتا لامالک لها واتخذ أهل القرية مقبرة ففي القسم الأول الأشجار بأصلها علي ملك رب الارض يصنع بالاشجار واصلها ماشاء وفي القسم الثاني الاشجار باصلها علي حالها القديم وفي الوجه الثاني المسألة علي قسمين اما ان علم لها غارس أو لم يعلم ففي القسم الأول كانت للغارس وفي القسم الثاني الحكم في ذلك الي القاضي ان رأي بيعها أو صرف ثمنها الي عمارة المقبرة فله ذلك. (فتاوي عالمگيرية ۴۷۲، ۴۷۳: ۲ والمسائل التي تعود الي الاشجار في المقبرة)

وجې نه ذوالید یئ او دا مدعی خارج دی، پس اولاً دا دعوی زائد المیعاد ده، ناقابل سماعت ده.(۱) او دې مدعی سره د علم بالتصرف تاخیر کړی دې، او ثانیاً په هغه باندې دا ضروری ده چې په شهادت سره ملکیت یا غرس ثابت کړي. (۲) وهوالموفق

مملوکه، موات او سرکاری ځمکه کې د اونو د ملکیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی مثلاً زید سره زما دا جهګړه ده چې زما په قبضه کې څه ونې دی او زید په هغې اونو باندې دعوی کړې ده، د دعوې خلاصه دا ده چې دوه لختی متصل روان دی، یو لختې خاص زمونږ د جرندې دې، او دویم د عام خلقو دې او د دې نالو دواړو طرفونو نه سرکاری ځمکه ده، په هغې کې څه ونې دی اوس د دې سرکاری ځمکې زمیندار (چه زید دې) په دې اونو باندې دعوی کړې ده او د هغه اونو حفاظت ئې زما د نیکه نه احستلې دې کوم چې مسلسل راروان دي او بعض ونې په هغې کې د هندوانو د زمانې دی، او د دې ځمکې هندو مالک زما نیکه په دې اونو کې د تصرف کولو نه نه وه منع کړې، خو دا ونې قدرتی طور د ځمکې پیدا کیږی او مونږ به په خپل پیداوار سره د دې حفاظت کولو، اوس د ځمکې زمیندار زید د کروندې په

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين : فانه لو طالت مدة دعواه بلا عذر ثلاثا وثلاثين سنة لا تسمع كما أفتي به في الحامدية أخذا مما ذكره في البحر في كتاب الدعوى عن المبسوط اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة ولم يكن مانعا من الدعوي ثم ادعي لا تسمع دعواه (ردالمحتار ۵:۳۸۲ مطلب اذاترک الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة لا تسمع)

(۲) وفي شرح المجلة : يلزم اثبات وضع اليد بالبينة في العقار المتنازع فيه... اعلم أن الحكم بالملكية في العقار لا يكون الا بعد اثبات وضع اليد بالبينة.
(شرح المجلة ۵:۴۳۳ المادة ۱۷۵۴)

ذریعه په ما باندې د ټولو اونو دعوی کړې ده او زه د وجې د قبضې او حفاظت نه مدعی علیه یم. لهذا دا ونې زمونږ حق دي یا که دا د زید کروندہ ګونکی دی او که د حکومت ملکیت دي؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد شیر ګل، ټانګ ویره اسماعیل خان .... ۲۳ اپریل ۱۹۷۵ء

الجواب: دا ونې به د ځمکې تابع وی او که دا ځمکه مملوک وی نو د دې ځمکې مالکان به د دې اونو هم مالکان ګڼلې شی او که دا ځمکه موات وی نو قابض سره به برقرار ساتلې شی او که دا ځمکه سرکاری وی نو دا ونې به هم سرکاری ګڼلې شی. والاصل مسطور فی شرح الهدایة(۱) فقط وهوالموفق

د شرعی فیصلې نه د انکار کونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د شرعی فیصلې نه انکاری دې د داسې سړی دپاره شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عمل دین، پیش امام قوم عباس خیل

موضع اسماعیل خیل نوښار ۱۱ مئی ۱۹۷۲ء

الجواب: دا سړې مومن نه دې (قال الله تعالی: فلا وربك لا یؤمنون حتی

---

(۱) قال العلامة ابن الهمام: فان الأشجار والبناء اذا کان في عقار وقفه دخلت في الوقف تبعا ولو نبتت فیها بعد الوقف ان علم غارسها کانت للغارس وان لم یعلم فالرأي فیها للقاضي ان رأي بیعها وصرف ثمنها علي عمارة المقبرة فله ذلک وتکون في الحکم کانها وقف ولوکانت قبل الوقف لکن الأرض موات لیس لها مالک فاتخذها اهل القریة مقبرة فالأشجار علي ما کانت علیه قبل جعلها مقبرة.

(فتح القدیر شرح الهدایة ۵:۴۴۹ کتاب الوقف، قبیل الفصل الأول في المتولي)

(ومثله في خلاصة الفتاوي ۴:۴۱۹،۴۲۰ کتاب الوقف، الفصل الثالث في صحة الوقف)

يحكموك في ما شجر بينهم الاية(١) وفي الهندية ٢٩٩/٢ قال بالفارسية بامن بشرع اوقال خصمه بياده بيارتا بربے جبر نروم يكفر لانه عاند الشرع الخ(٢) وهوالموفق

په دعوی کښې د تناقض حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې يو سړې په رښا ورځ باندې قتل کړې شو، د مقتول وارثانو د دوه سړو سوال او سيدا جان په نوم باندې د قتل دعوی وکړه، تر يو کال پورې ئې د هغوی خلاف عدالت کښې مقدمه اوچلوله. بيا ئې هغوی سره په راضی نامه وکړه او د دې نه پس ئې هغوی دواړه پريښودل او معاف يې کړه او د هم هغه کلی په يو بل سړی بخت محمد باندې ئې د قتل دعوی وکړه

د شرعی قانون په رڼا کښې د دې وارثانو د بخت محمد خلاف دعوی صحيح ده يا نه؟ او کله چې دا وارثان اقرار وکړی چې هغوی واقعی اول په سوال او سيدا جان باندې دعوی کړې وه او وروستو ئې هغوی پريښودل او د بخت محمد خلاف ئې دعوی وکړه، مهربانی وکړې ددې متعلق بادليل فتوی ليکلو سره د شکريه ويلو موقع راکړئ. بينواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: چونکې مدعی متناقض ده لهذا د هغوی دعوی ناقابل التفات او مردود ده. وفی الخلاصة: وفي الفتاوى الصغرى التناقض كما يمنع الدعوى لنفسه يمنع الدعوى لغيره (٢: ٢٥٦)(٣) وفي الهندية ٤: ٦٣: متى ثبت عند الحاكم تعارض القولين المتضادين المتناقضين من المدعي في الدعوى يمنع استماع الدعوى كذا في محيط السرخسي انتهى(٤) وهكذا في غير واحد من الفتاوى فقط. وهوالموفق

---

١) (سورة النساء آيت: ٦٥)
٢) (فتاوي هندية ٢: ٢٧١ الباب التاسع في أحكام المرتدين، ومنها ما يتعلق بالعلم والعلماء)
٣) (خلاصة الفتاوي ٤: ٩٠ كتاب الدعوي، الفصل الأول جنس آخر في التناقض)
٤) (الفتاوي الهندية ٤: ٦٣ كتاب الدعوي، الباب الثامن...[بقيه بر صفحه آئنده...

د شپیتو کالو نه د تصرف لاندې ځمکه باندې د ګاڼې دعوی او په هغې باندې د غاصبانه قبضې قضاءً او دیانةً حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: یوه ځمکه ده کومه چې د زید د نیکهٔ نه د عمرو نیکهٔ ته منتقل شوې ده، او د هغه د طرف نه د زید نیکه ته څه پیسې وصول کیدل هم معلوم دی. چې د هغې زید خپله هم اقرار کوی او هم دا ځمکه د عمر د نیکهٔ پورې شپیته اویا کاله د تصرف لاندې پاتې شوې ده هم په دې زمانه کې نه خو د زید پلار او نه د هغه نرهٔ د ګاڼې دعوی کړې ده او نه زید د دیرشو کالو پورې د دې ګاڼې دعوی دائر کړې ده. اوس دومره موده پس زید د ګاڼې دعوی وکړه. آیا د دې ځمکې په باره کې د ګاڼې دعوی کول د شریعت په نزد مسموع ده؟

۲: که بغیر د ثبوت او اثبات نه زید په دې ځمکه باندې قبضه وکړه نو آیا دا قبضه به د شریعت په نزد ظلم او غصب وی او که نه؟ مهربانی وکړئ دا مسئله په شرعی دلائلو او فقهی جزئیاتو سره واضحه کړئ، او د دار العلوم په مهر سره ښکلې کولو باندې هم د شکریه موقع راکړئ! بینوا توجروا

المستفتی: میاں ضیاء الدین، دار العلوم اشاعت التوحید والسنة

کریم پوره پیښور ښهر. ۲۳ ربیع الثانی ۱۳۹۰ھ

الجواب: ۱: د زید د ګاڼې کولو دعوی (ملکیت) حکم یا بادشاه سره منظور ده، خو قاضی او حاکم سره نامنظور ده في الدرالمختار: ويتخصص (القضاء) بزمان ومكان وخصومة حتى لوأمر السلطان بعدم سماع الدعوى بعد خمسة عشر سنة فسمعها لم ينفذ(۱) (وفي ردالمحتار ۵: ۴۴۹) وفي الحامدية عن

...بقیه ازحاشیه گذشته] فيما يقع به التناقض الخ)

وفي شرح الوقاية: اعلم ان التناقض انما يمنع صحة الدعوي اذا كان الكلام الأول قد ثبت لشخص معين حقا.

(شرح الوقاية ۳:۱۴۴ مسائل شتى)

۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۴:۳۸۰ كتاب القضاء)

الولوالجية رجل تصرف زماناً فی أرض ورجل آخر یری الأرض والتصرف ولم یدع ومات علی ذلك لم تسمع بعد ذلك دعوی ولده فتترك علی ید المتصرف انتهی (۱) وفی ردالمحتار ۴: ۳۴۳: الثانی أن النهی حیث كان للقاضی لا ینافی سماعها من المحكم (۲) وفی الاشباه ان الحق لا یسقط بتقادم الزمان ویجب علیه (السلطان) سماعها (۳).

۲: قضاءً ظلم او غصب دې خو فيما بينه وبين الله د ظلم او غير ظلم دواړو احتمال لري. وهوالموفق

د قاضی د خپل مذهب خلاف فیصله کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مدعی او مدعی علیه ترمینځه یو قاضی شرعی فیصله وکړه. بیا یو جید عالم او معتمد مفتی د هغه شرعی فیصلې د غلط کیدو فتوی ورکړه، اوس نور علماء دین اوهغه قاضی په خپله هغه فتوې ته صحیح وائی د هغې باوجود د خپلې شرعی فیصلې غلط کیدل نه منی او د هغې دلیل دا وایي چې په فیصله کې به اول د قاضی اعتبار وی آیا د شریعت مصطفوی ﷺ په رڼا کې د هغه د قضاء اعتبار کیدلې شی، حال دا چې مفتی صاحب په واضح الفاظو کې د هغه فیصلې ته غلط ویلې دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: ....نامعلوم

الجواب: چونکې دا قول په کوم باندې چې قاضی اعتماد کړې دې نه قول صحیح دې او نه قول ضعیف، بلکې دا د یو امام مسلک نه دې. لهذا دا به قضاءً نا منظور وی لما فی الدرالمختار، قضی من لیس مجتهدًا كحنفية

---

۱) (ردالمحتار ۴: ۵۲۴ مسائل شتّي)

۲) (ردالمحتار ۴: ۳۸۱ قبیل مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثین سنة لا تسمع)

۳) (الأشباه والنظائر ۲۲۲ کتاب القضاء)

زمانناً بخلاف مذهبه عامدًا لا ينفذ اتفاقًا وكذا ناسياً عندهما ولو قيده السلطان بصحيح مذهبه كزماننا تقيد بلا خلاف لكونه معزولا عنه، (وفي ردالمحتار۴: ۳۳۵) والفتوٰی علی قولهما الخ(۱). فقط وهوالموفق

د شاه جم خان او قوم ملک دیناني ترمینځه د ځمکې فیصله

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو دعوی د قوم ملک دینائی ده، قوم ملک دینائی په تنګی کې پیړۍ په پیړۍ آباد راروان دی چې د هغې تفصیل دا دې: ۱: زمونږ نیکۀ مون خیل ملک دینائی،
۲: عظمت بن مون خیل، ۳: خلوت بن عظمت، ۴: شهاب الدین بن بهوت،
۵: کلیم ګل بن شهاب، ۶: نصر الله بن قاسم ګل.

د موسی مون خیل ملک دینائی وراثت پیړۍ په پیړۍ راتلو سره نصر الله ته سپارلې شوې دې، اوس موجوده آبادی د نصر الله د دور پورې په ځلویښتو کورونو باندې مشتمل ده د ملکیت حدود لاندې لیکلې شي:

۱: مشرق طرف ته زمونږ حدود د مداد خیل او سیني اتمزائی د حدود سره ملاویږي. ۲: دمغرب طرف ته زمونږ حدود د مسته خیل حدودو سره ملاویږي.
۳: د شمال طرف ته د قوم مداد خیل سره یوځای کیږي.
۴: په شمال مشرق کې زمونږ حدود کوکټ خیل او داني خیل شمکۍ د حدود سره ملاویږي، د دې حدود ترمینځه ملکیت زمونږ دې، ګاجی خیلو د آخری خلقو مخکې ابرا کړې ده.

میراحد عمرون، د عمر ولد میر، د میر ولد عیاشاه، د عیاشاه ولد زار خان،

---

(۱) (ردالمحتار مع الدرالمختار ۵:۳۷۲ مطلب حکم الحنفي بمذهب أبي يوسف أو محمد حکم بمذهبه)

وقال العلامة المرغيناني: لو قضٰي في المجتهد فيه مخالفا لرأيه ناسيا لمذهبه نفذ عند أبي حنيفة وان كان عامدا ففيه روايتان... وعندهما لا ينفذ في الوجهين... وعليه الفتوٰي. (هداية ۳:۱۴۲ كتاب أدب القاضي)

آیا د هغې نه پس باقي وروڼو ته په دې ملکیت کې د حصه داریځ حق ملاویدې شي، (حال دا چې پلار د هغه په نوم باندې په خپل ژوند کې د:هبې دپاره تصدیق کړې وو) یا نه شي ملاویدې، شرعي فیصله څۀ ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد نواز ډاک، بانډه کرک. یکم ذي قعده ۱٤۰۱ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې به دا وړوکې خوئې په قسم یا شهادت سره په تملیک باندې فائز وي، که د دې مدعیانو سره د میراث شهادت موجود نه وي نو بناء په حدیث باندې. البینة علی المدعی والیمین علی من انکر (۱) وبناءعلی ان بینة الدفع معتبرة من المدعی علیه ....دا دافع (وړوکې خوئې) دې اولا په هبه او تملیک باندې شهادت قائم کړي، که شهادت نه وي نو دې مدعیانو ته دې قسم ورکړي که دا مدعیین قسم وکړي نو د هغې نه پس دې دا مدعیین شهادت علی الارث قائم کړي او که شهادت په ارث نه وي نو دې مدعی ته دې قسم ورکړې شي. (شرح المجلة، ۹۳۱، م ۱٦۳۲) (۲) فلیراجع. وهوالموفق

د مصالح عامه د وجې نه د تقادم زمان نه پس به دعوی مسموع نه وي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د فقه په کتابونو کې لیکلې شوې دي چې د زمانې تیریدل د دعوی د سماع نه مانع دي حال دا چې بل سړې په څمکه کې د لږې مودې نه تصرف کوي، او په خزانة المفتیین کې د اقوال فقهاء مخالف جزئیة راغلې ده او هغه دا ده:

المدعی اذاترک دعواه یترک ولایجبرعلیه ولم تسقط بالتاخیروان مضت مدة

---

۱) (سنن الترمذي ۱٦۰، أبواب الاحکام، باب ماجاء في أن البینة علی المدعي الخ)

۲) وفي شرح المجلة: اذاثبت من ادعی دفع الدعوی دفعه تندفع دعوی المدعي والا یحلف المدعي الأصلي بطلب صاحب الدفع فان نکل المدعي عن الیمین ثبت دفع المدعی علیه وان حلف تعود دعواه الأصلیة.

(شرح المجلة ۷۵:۵ المادة: ۱٦۳۲)

مديدة وان مات المدعى ينتقل الى الورثة وان سفل ومامذهب بعض الناس أنه قال ومن له حق فى الدار فلم يخاصم صاحب الحق سنين وهو فى المصر فى تلك المدة بطل حقه لأن هذا القول ليس فى الأرض فلا ينفذ فيه قضاء القاضى لأنه خالف الكتاب لأن الميراث حق ثابت بالنص للوارث فلا ينتقل ولا يصير ملكا لغيره الا بتمليكه كذا فى جامع الرموز وبه يفتى. خزانة المفتين ۲۳۳ .بينواتوجروا

المستفتی: مولوی زلفی خان ... ۲۷ اگست ۱۹۸۶ء

الجواب: أرباب التحقيق من أهل الافتاء والقضاء ذهبوا الى أن حق المدعى لا يسقط بتقادم الزمان ومروره كما صرح به الشامى (۱) وابن نجيم (۲) لكن لا يسمع دعواه ببعض المصالح العامة وقالوا يتحمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام من فتح باب الحيل والتزوير (۳) فافهم. وهوالموفق

د وعدې دعوٰی ناقابل سماعت او د بیع وفا دعوٰی قابل سماعت ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زما د ځمکې سره نژدې لګیدلې دوه نیم کناله ځمکه خرڅیدله، هغه وخت زه موجود نه اوم، نو زما مهربان ورور زما د طرفه وکیل جوړیدو سره زما دپاره هغه ځمکه واخستله چې د هغې په سرکاری کاغذاتو کښې انتقال شوې دې، زما ورور ماته صرف دا وویل چې ستا دپاره ما ځمکه اخستلې ده او انتقال ئې هم شوې دې، د دې الفاظو نه علاوه ئې نور هیڅ هم او نه ویل، د دې نه پس

---

۱) في ردالمحتار: ان الحق لا يسقط بتقادم الزمان.
(ردالمحتار ۴:۳۸۱ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

۲) (و مثله في الأشباه والنظائر ۲۲۲)

۳) وفي شرح المجلة: يتحمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام... وهذه قاعدة مهمة من قواعد الشرع مبنية علي المقاصد الشرعية في مصالح العباد.
(شرح المجلة ۱:۶۶ المادة: ۲۶)

زما ورور تقریبا اته لس کاله ژوندي وو، اوس زما د وروړ د وفات پنځه کاله شوي دي، اوس د ځمکې مالک په ما باندې دعوی کړې ده چې ستا وروړ ماسره دا اقرار کړې وو کله چې تا ته توفیق ملاؤ شي او دا پیسې ماته واپس کړې نو مونږ به تاته ځمکه واپس کړو، لهذا اوس مونږ پیسې در واپس کوو او تاسو ځمکه واپس کړئ.

اول خو مدعی ته ګواهان نه ملاویدل، خو اوس په څه طریقه باندې هغه ته ګواهان هم ملاؤ شوي دی که رشتیني وی یا دروغژن، اوس مسئله حل طلب دا ده چې آیا د وروړ اقرار په ما باندې لازم دې یا نه؟ حال دا چې ماته د دې اقرار هیڅ علم نشته.؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا احمد سعید، ټانک دی آئی خان..... ۵ جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دا سړې صرف د وعدې کولو مدعی وی نو د وعدې کولو دعوی ناقابل سماعت ده، وعده د قاضی د قضاء د لاندې نه داخلیږی، (شرح المجلة ۵۶) (۱) او که د بیع وفا مدعی وی، نو د هغه ګواهان منظور دی. (شرح المجلة ۱۱۳۳) (۲) **والله اعلم**

د خوی دپلار د وفات نه پس د غیر مقبوض هبه دعوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عبدالرحمن په خپلو دوه ځامنو عبدالرحیم او محمد امین کې خپل جائیداد په ۱۹۵۶ء کې تقسیم کړې وو، څه موده پس یو ځوی (فضل الرحیم) وفات شو نو عبدالرحیم واپس په ذکر شوې جائیداد باندې قبضه وکړه، دوه کاله پس عبدالرحیم هم هغه جائیداد د فضل الرحیم ځوی عبدالرزاق او محمد امین ترمینځه په

---

۱) وفي شرح المجلة: المواعيد اذا اكتست بصور التعاليق تكون لازمة... اعلم أن الوعد المجرد لا يلزم الوفاء به شرعاً. (شرح المجلة ۵۶ المادة: ۸۴)

۲) وفي شرح المجلة: ترجيح بينة البيع علي بينة الهبة والرهن والاجارة... لو اختلفا في البيع البات والوفاء فبينة مدعي الوفاء أولي.
(شرح المجلة ۱۱۳۳: ۵ المادة: ۱۷۶۴)

۱۹۲۱ء کې دوباره تقسیمولو نه پس سره د قبضې نه حواله کړو، خوني محمد امین ئې د ۱۹۲۱ء په اقرار نامه کې مقر او بیانی دې چې کوم تقسیم زمونږ پلار زما او زما د ورور دپاره کړې دې، د بیا دپاره زمونږ خپل مینځ کې دعوی پاتې نه شوه، اوس محمد امین په عبدالرزاق باندې د پاؤ باندې دوه گزه ځمکې دعوٰی کوی چې د فضل الرحیم د خوی په حصه کور کې زما پلار عبدالرحیم پاؤ باندې دوه گزه لار مقرر کړې وه، حال دا چې:

۱: چې محمد امین په فضل الرحیم باندې د ۱۹۵۶ء د تقسیم نه پس دعوٰی نه وه کړې. ۲: په ۱۹۲۱ء کې د دوباره تقسیم په وخت محمد امین مې پلار عبدالرحیم ته نه وو ویلی. ۳: په دوباره تقسیم کې عبدالرحیم د عبدالرزاق د کور په حصه کې د محمد امین دپاره د لارې استثناء نه وه کړې

۴: د محمد امین سره داسې هیڅ شهادت نشته چې هغه د ۱۹۵۲ء د اول تقسیم کوم چې د فضل الرحیم او محمد امین خپل مینځ کې شوې وو، په یو خاص معین ځای باندې گواهی ورکړې نو اوس به د محمد امین دا دعوٰی د شریعت په رڼا کښې څنگه حل کیږې چې د نوی سر نه نۀ محمد امین سره قبضه شته او نه په معین او مقرر ځای باندې مستقل شهادت پیش کولې شی، او نه د ۱۹۲۱ء په دویم تقسیم کې د هغه دپاره پاؤباندې دوه گزه لاره مقرر شوې ده. ۵: محمد امین چې د کوم کور دپاره د پاؤ باندې دوه گزه لارې دعوی کوی هغه کور هغه په بیع قطعی سره خرڅ کړې دې، اوس د هغه ملکیت هم نه دې. بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرزاق، امام ملی خیل اله وهنډ دهیری ملاکنډ ایجنسی. ۱۲ ربیع الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: ومنه الصدق والصواب: د پلار په اولاد باندې تقسیمول په حقیقت کې هبې وی، او د هبې پوره کیدل په قبض باندې موقوف وی پس کله چې پلار (عبدالرحیم) دې خوی (محمد امین) ته د پاؤ باندې دوه گزه ځمکې قبضه نه وه ورکړې نو دې شرعی مالک نه شو، او د هغه دعوی غلطه او

ناقابل سماعت ده، يدل عليه مافي التكملة ۲:۳۹۲:منهاأن يكون الموهوب مقبوضا حتى لا يثبت الملك للموهوب له قبل القبض وأن يكون الموهوب مقسوما الخ(۱). والله أعلم

د مصالحت او ابرا نه پس دعوی کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې زيد د بکر نه ځمکه واخستله چې دهغې انتقال په محکمه مال کې وکړې شو، دوه مياشتې پس عمر هم د بکر نه په باقی ځمکه کې څه حصه ځمکه واخستله چې دهغې انتقال هم وکړې شو او بکر فوت شو، په زيد باندې چې کومه ځمکه بکر خرڅه کړې وه هغه د يو دريم سړی سره ګانه وه، کله چې بکر وفات شو، نو عمر مرهونه ځمکه واپس کولو سره قبضه حاصل کړه، زيد هغه ته ووېل چې دا ځمکه زما ده، دا ما اخستلې ده، عمر دا خبره رد کړه او وې نه منله، په دې باندې د زيد او عمر ترمينځه مقدمه شروع شوه او عدالت د زيد په حق کې فيصله وکړه، بيا عمر په عدالت کې صلح نامه وليکله چې د دې ځمکې قبضه ما زيد ته حواله کړه وروستو هيڅ جهګړه پاتې نه شوه، د څو ورځې تيريدلو نه پس عمر د قبضې پريښودلو نه انکار وکړو، آيا د شريعت په رڼا کې عمر بيا د دې ځمکې دعويدار کيدې شی يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: محمد ايوب، سکنه جبر مانسهره.....۲۱ ربيع الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: ومنه الصدق والصواب: د مصالحت او د ابراء د دعوې حق ساقط کړي لمافي شرح المجلة ۸۴۵ اذا تم الصلح فليس لواحد فقط من الفريقين

(۱) (تکملة ردالمحتار ۲:۳۲۸ کتاب الهبة)

وفي الهندية: ومنهاأن يكون الموهوب مقبوضا حتي لا يثبت الملک للموهوب له قبل القبض وأن يكون الموهوب مقسوما اذا كان مما يحتمل القسمة.

(فتاوي عالمگيرية ۴:۳۷۴ كتاب الهبة، الباب الأول في تفسير الهبة وركنها وشرائطها)

الرجوع عنه(۱)... وفيه ۸۴۷ اذا قال واحد ليس مع فلان دعوى أونزاع... فيكون قد أبرأه... واذا أبرأه واحد آخرمن حق سقط ذلك الحق ولايبقى له أن يدعى به(۲). وهوالموفق

په مړي باندې دعوى كې د فيصلې په وخت د يو وارث موجوديدل

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې د يو پلار څلور ځامن دى، د هغوى په ځمكه باندې اختلاف واقع شوې دې، يو د هغوى نه قاضى سره حاضر وو او باقى درې د فيصلې په وخت موجود نه وو او نه ئې هغه ته اختيار نامه وركړې وه، آيا د وړوكى ورور په حاضريدلو باندې د باقى دريو حق (د ځمكې حصه) ضائع كيږى؟ بينواتوجروا

المستفتي: مياں گل جان..... سكنه دير.... ۲۹ اپريل ۱۴۰۱هـ

الجواب: په ظاهره كې دا فيصله صحيح ده هركله چې دعوى دغصب د هغوى په والد صاحب باندې شوې وى، لما في شرح المجلة ۹۴۷: يصح أن يكون أحد الورثة خصمًا في الدعوى التي تقام على الميت أوله(۳). وهوالموفق

د غير قابض (د خارجين) په يو بل باندې دعوى كول

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې په يو ځاى كې د زيد او عمر اختلاف دې او په هغوى دواړو كې هر يو هغه د خپل پلار ملكيت او په هغې باندې د خرڅ كولو دعويدار دې، او بل طرف ته بكر په هغه متنازعه فيه ځاى باندې تقريبا د شپاړسو كالو نه قابض دې، بله دا چې

---

۱) (شرح المجلة ۵۶۹:۴، المادة ۱۵۵۶ الباب الرابع في بيان أحكام الصلح والابراء)

۲) (شرح المجلة ۵۷۵:۴، المادة ۱۵۶۱ الفصل الثاني في بيان المسائل المتعلقة بأحكام الابراء)

۳) (شرح المجلة ۱۰۶:۵ المادة ۱۶۴۲)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله وكذا بعض الورثة) أي يقوم مقام جميعهم فيما للميت أوعليه. (ردالمحتار ۴۴۴:۳ مطلب فيمن ينتصب خصما عن غيره)

د هغوی دوارو په شان هغه هم د خپل پلار د ملکیت او په هغې باندې د خرچ کولو دعوی لري، نو آیا د بکر نه د تپوس کولو نه بغیر زید او عمر په دې ځای باندې فیصله کولې شي. یا د دریم په دعوی باندې هغه د هغوی نه د تپوس کولو نه بغیر په شریعت کې فیصله کولې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سلطان محمد وزیرستانی..... ۲ ذی القعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: چونکې خصم ذوالید وی نه غیر ذوالید، **کمافی** شرح المجلة ۹۳۸: **الخصم فی دعوی العین هوذوالید فقط** (۱) پس د دې دوارو خارجین په یو بل باندې دعوی کول بې قاعدې امر دې. **والله تعالیٰ اعلم**

صرف په قبضه او تصرف سره یو سړې د بل د ځمکې مالک نه شي جوړیدې.

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یوه حصه د ځمکې په حکومت کې د مدعیان حاجی نصر الله، شیر احمد او غلام محمد په نوم باندې لیکلې شوې ده، مالیه وغیره هم مدعیان مذکور حکومت ته ورکوی خو په دې ځمکه باندې قبضه د مدعی علیهم شیرعلی خان او حاجی عبدالله ده، اوس کله چې مدعیانو ته پته ولګیده چې زمونږ په ځمکه باندې هغوی قبضه کړې ده نو هغوی په مدعی علیهم باندې د ځمکې قبضه ختمولو سره د هغې د حواله کولو مطالبه وکړه نو هغوی په جواب کې وویل چې په دې ځمکه باندې د کافی مودې نه زمونږ قبضه راروانه ده د دې قبضې د وجې نه دا ځمکه ستاسو د ملکیت نه خارج شوې ده او اوس د قبضې د وجې نه زما شوې ده، مدعیان وائی چې مونږ ته علم نه وو کنه نو مونږ به تاسو قبضې کولو ته نه وئ پریښودلې، اوس د پوښتنې خبره دا ده چې آیا په قبضې سره څوک د بل د ځمکې مالک کیدې شي؟ که کیدې شي نو د هغه

---

(۱) (شرح المجلة ۵:۸۹ المادة ۱۶۳۵)

وقال العلامة المرغيناني: وذكر أنه في يد المدعي عليه لابد منه لأنه انما ينتصب خصماً اذا كان في يده. (الهداية ۳:۲۰۲ كتاب الدعوىٰ)

دپاره څه موده معین ده یا نه؟ د اصل مالک عدم علم د هغه په مالک کیدو باندې اثر انداز کیدې شي یا نه؟ او آیا په بعض ځمکه باندې قبضه کولو سره د ټولې ځمکې مالک کیدې شي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: ابراهیم شاه پیروی ..... ۱۶ مئ ۱۹۷۲ء

الجواب: واضحه دې وی چې څومره مقدار په ځمکه کې مدعی علیه تصرف کړې دې نو په هغه مقدار باندې د مدعی دعوی د حاکم سره ناقابل سماعت ده، وفي الخلاصة: رجل تصرف في أرض زماناً ورجل آخر يرى تصرفه فيها ثم مات المتصرف ولم يدع الرجل حال حياته لا تسمع دعواه بعد وفاته،(تنقيح الحامدية ۲: ۳ وفيه بعد أسطر والظاهر أن الموت ليس بقيد وأنه لا تقدير بمدة مع الاطلاع على التصرف لما ذكره في تنوير الأبصار وشرحه الدر المختار في مسائل شتى الخ وفيه أيضاً ۲: ۴ ثم اعلم أن عدم سماع الدعوى بعد مضي ثلثين سنة أو بعد الاطلاع على التصرف ليس مبنياً على بطلان الحق في ذلك وانما هو مجرد منع للقضاة عن سماع الدعوى مع بقاء الحق لصاحبه حتى لو أقر به الخصم يلزمه الخ(۱)

البته د محکم او ثالث په نزد قابل سماعت ده. وفي رد المحتار: الثاني ان النهي حيث كان للقاضي لا ينافي سماعها من المحكم.(۳۴۲/۴) (۲)
اوس که مدعی علیه دا اعتراف وکړو چې دا ځمکه د مدعی ملک دې خو د قبضې او تصرف د وجې نه زه دهغې مالک شوې یم نو د دې اعتراف په وخت به د مدعی دعوی قابل سماعت وی، كما تدل عليه العبارة الثالثة وصرح به في رد المحتار ۳۴۳/۴ (۳) او د دې عبارت نه دا هم معلومیږی چې

---

۱) (تنقيح الفتاوي الحامدية ۴،۳: ۲ كتاب الدعوى)
۲) (ردالمحتار ۳۸۱: ۴ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)
۳) وفي ردالمحتار: الثالث عدم سماع القاضي لها انما هو عند انكار الخصم فلو اعترف تسمع (ردالمحتار ۳۸۱: ۴ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

مدعی علیه په تصرف او قبضې سره مالک نه جوړیږی او په آخرت کې به په دې باندې ماخوذ وی. فی رد المحتار ۶۴۹/۵ فلاتسمع الدعوی فی هذه المسائل مع بقاء الحق للآخرة ولذا لواقر به الخصم یلزمه(۱) او دا دې هم واضحه وی چې تاخیر بغیر د عذر نه د سماعت نه مانع دې خو فقهاء کرامو عدم علم په عذر کې نه دې شمار کړې، فلیراجع الی ردالمحتار ۳۴۳/۴، ۳۴۴ (۲) وهوالموفق

د حکومت په ورکړې شوې ځنګل کې د شرکت دعوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو کلې د بیوړی بالا په نوم باندې مشهور دې په هغې کې یو لوئې ځنګل دې حکومت دا فیصله کړې ده چې د ځنګل په آمدنۍ کې به شپیتۀ فیصده د قوم وی او باقی ځلوینښت فیصده به د حکومت وی، په ذکر شوې کلی کې د ځنګل مارکنګ شوې دې نو د پیسو په باره کې د درې کلو والا د استحقاق دعوی کوی صورت حال دا دې چې د هغوی ترمینځه ځمکه او علاقه تردې چې ځنګل هم منقسم دې ددې مدعیانو د مدعی علیهم په حصه کې څه اشتراک هم نشته او هغه ځنګل په کوم کې چې مارکنګ (په اونو باندې نخښې) شوې دی هلته د بیوړی بالا ځمکې واقع دی بعض حصه د هغه ځنګل د نهر نه لاندې ده او بعض حصه ئې په نهر دپاسه ده او هغه هم تقسیم شوې ده او د بیوړی بالا والو حصه ده څنګه چې د ځمکو حدود متعین دی دغه شان د ځنګل هم حدود متعین دی انګریزانو هم په علاقائی تقسیم کې دا متنازع فیه علاقې نه د بیوړی والو حصه ویلې ده تر اوسه پورې د ځنګل د حفاظت په سلسله کې هم هغوی نه ذمه دار ویلې شوې دی او په ځنګل کې د نقصان راتلو په صورت کې د هغوی نه حکومت جرمانه وصول کړې ده یا ئې معاف کړې ده

---

۱) (ردالمحتار ۵:۵۲۴ مسائل شتّي)

۲) قال العلامة ابن عابدين : لا تسمع الدعوي بعد ست وثلاثين سنة الاأن يكون المدعي غائبا أو صبيا أو مجنونا وليس لهما ولي أو المدعي عليه اميراً جائراً اه.
(ردالمحتار ۴:۳۸۲ مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة الخ)

او د نامعلوم قتل په صورت کې ئې هم د هغوی نه دیت وصول کړې دې چې دا قتل ستاسو په حصه کې شوې دې، سره ددې کله چې د رقم د حصول دپاره باقی درې کلو والا مدعیان جوړ شو چې په دې ځنګل کې زمونږ حصه ده دغه شان قانون دیر، کوهستان، سوات او هزاره کې هم رائج دې چې کوم ځنګل کومې علاقې ته نزدې وی نو د رائلټی پیسې هم د هغې په خلقو باندې تقسیم کړې شی، نو بیوړی والا د نورو دعوی منلو ته بالکل تیار نه دی بلکې د اشتراک په صورت کې د قتل او قتال خطره ده. لهذا تاسو ته درخواست کولې شی چې په دې باره کې فتوی ورکولو سره د شکریه موقع راکړئ چې دفتنې او فساد نه محفوظ شو بینواتوجروا

المستفتی: عبدالله .... دار العلوم سرحد

الجواب: که دا شرکت د مدعی علیهم په نزد منلې شوې نه وی او نه باقاعده په شهادت سره ثابت شوې وی نو چونکې عرف د مدعی علیهم دپاره موئد دې لهذا قول به د هغوی معتبر وی او قسم به په هغوی باندې وی. لان الاعتبار لقول من یشهد له الظاهر کما صرحوا به(۱) وهوالموفق

د اوبو پخوانی لارې بندول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زید د ښارې ځمکې ته د اوبو چینه راوځی او د هغه ځای نه اوبه لاندې راځی لاندې په څه فاصله باندې عمر نومې سړی په دې اوبو باندې نهر تړلې دې او د پیړو نه ئې په دې اوبو باندې هم دا ځمکه خړوب کوله او زید هم په اوبو کې دا تصرف لیدلو او هیڅ قسم مداخلت ئې نه کولو، اوس زید د عمر په اوبو کې د تصرف حق منع کوی او وائی چې دا اوبه زما په ځمکه کې راوځی، زه ئې نه پریږدم، او عمر وائی چې د دومره مودې پورې تاسو خاموش ولې وې، لهذا درخواست دې چې د دې اوبو منع کول څنګه دی؟

---

۱) وفي شرح المجلة: البينة لاثبات خلاف الظاهر واليمين لابقاء الأصل... ثم انه يؤخذ من هذه القاعدة أن كل من يتمسك بالظاهر القول قوله بيمينه.
(شرح المجلة ۲۱۸،۲۱۹:۱ المادة ۷۷)

په دې صورت کې به د زید دعوی ثابت وي یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاري عبدالوحید خطیب، جي ایچ کیو (G.H.Q) پنډۍ. ۱۹ رجب۱٤٠۱ھ

الجواب: د عاریت یا غصب د باقاعده ثبوت نه بغیر به عمر د تصرف نه نۀ شي منع کولې، لان الاصل بقاء ما کان علی ما کان .....(شرح المجلة ۲۰/۵) (۱) وهوالموفق

د پرمټ د جعلي کیدو د دعوی طریق فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه ډلې، چې په هغې کې د یوې نوم سهراب وو او د بلې نوم حاجی عازل، حاجی عازل په مسمی سهراب باندې دا دعوی کړې ده چې د هغې خلاصه دا ده:

حاجی عازل: ما د سهراب نه د پنځه اویا زرو پرمټ (دیرویشت زره ریال) د فی نفر په حساب سره واخستلو، چې د هغې په بدله کې ما سهراب ته (اووۀ اتیا زره ریال) نقد ورکړل او سهراب ماته پرمټ راکړو، ما پنځه اویا کسان پنډۍ ته ورسول چې هغوی ابوظهبی ته د هوائی جهاز په ذریعه باندې ورسوم، خو پرمټ صحیح نه وو په دې وجه زما هغه پنځه اویا کسانو ته د تلو اجازت ملاؤ نه شو او په هغوی باندې زما یو لاک روپۍ د خپل جیب نه خرچ شوې د پرمټ ماته اصلی کاپی ملاؤ نه شوه بلکې فوټو سټیټ وو. په دې وجه پنځه اویا کسان پاتې شو، او تقریبا یو لاک روپۍ خرچه وشوه، او زۀ د سهراب نه اووۀ اتیا زره ریاله او تقریبا یو لاک روپۍ د شریعت رڼا کې غواړم.

مدعٰی علیه سهراب: حاجی عازل باندې ما پرمټ خرڅ کړې دې او اووۀ اتیا زره ریال مې وصول کړې دی، خو پرمټ صحیح وو، ځکه چې هغه پرمټ حاجی عازل ډیرو خلقو ته ښودلې دې او حکومت هم د هغې تصدیق کړې وو، ددې نه علاوه پنځویشت بنګالیان په دې پرمټ باندې ابو ظهبی ته رسیدلې دی، او د دې نه علاوه د پرمټ د صحیح کیدو ما سره دوه ګواهان

---

۱) وفي شرح المجلة: الأصل بقاء ماكان علي ماكان يعني ان الذي ثبت علي حال في الزمان الماضي ثبوتا أو نفيا يبقي علي حاله ولا يتغير مالم يوجد دليل يغيره. (شرح المجلة ۱:۲۰ المادة۵)

حاجی عمر دره آدم خیل قوم ثانی خیل او دویم گواه دلاور حسین علی زئی قوم احمد خیل دې، ما حاجی عازل ته صحیح پرمټ ورکړې دې په دې وجه باندې د اووۀ اتیا زره ریال نه علاوه د پرمټ باقی پاتې پیسې هم تر اوسه پورې هغه نه دی ادا کړې، کومې چې تقریبا دوه لاکه روپۍ پاکستانۍ جوړیږی حال دا چې هغوی په پنډۍ کې د ادا کولو وعده کړې وه او دا ئې هم ویلې وو چې که په پنډۍ کې ئې درنکړم نو مهران هوټل پیښور ته به ئې د فلانی سړی په نوم باندې پنځه ورځې پس در ولیږم، د وعدې د خلاف ورزۍ د وجې نه دې هغه ما ته نورې دوه لاکه روپۍ راکړی، سهراب حاجی عازل ته د یو لاک خرچ متعلق داسې وائی چې ما د یو لاک هیڅ وعده نه وه کړې.

حاجی عازل ته د مدعی علیه سهراب په ګواهانو باندې اعتراض دې چې دا دواړه په کاروبار کې د سهراب سره شریک دی او په پنډۍ کې ما دوه لاکه روپۍ نه دی تسلیم کړې، شرعی حکم بیان کړئ. بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد شریف صاحب، ټل ضلع کوهاټ.... ۲۵ جمادی الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې طریقه فیصله دا ده چې ۱: دا مدعی حاجی عازل دې په شهادت شرعیه سره ثابته کړی چې دا عیب د بائع سهراب سره موجود وو ۲: که شهادت نه وی نو سهراب به قسم وخوری چې دا عیب ماسره موجود نه وو ۳: او که دا سهراب د قسم نه انکار وکړی نو دا پرمټ به هغه نه واپس کولې شی، او صرف اووۀ اتیا زره ریال به واپس کوی.

(ماخوذازکتاب العیب، شامی (۱) هدایة (۲) وغیرة. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصكفي: ادعي عيبا موجبا لفسخ أو حط ثمن بعد قبضه المبيع لم يجبر المشتري علي دفع الثمن للبائع بل يبرهن المشتري لاثبات العيب أو يحلف بائعه علي نفيه ويدفع الثمن ان لم يكن شهود ... ولزم العيب بنكوله أي البائع عن الحلف.
(الدرالمختار ۴:۹۷ كتاب البيوع، باب خيار العيب)

۲) قال العلامة المرغيناني: ومن اشتري عبدا فقبضه فادعي عيبا لم يجبر علي دفع الثمن حتي يحلف البائع أو يقيم المشتري البينة أما اذانكل الزم العيب.
(الهداية ۳:۴۵ باب خيار العيب)

په کومو علاقو کې چې شرعي قاضي موجود نه وي نو هلته هر وخت د دعوی سماع کیدې شي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید بائع خپله ځمکه د دوه ګواهانو مخکې په عمر باندې خرڅه کړه اوس بکر مدعی دعوی کړې ده چې د زید خرڅه کړې ځمکه کې زما حصه ده، تقریبا د دوه سوه کالو د میراث دعوی ده او دا زما د مور (کومه چې د زید د نیکهٔ د پلار لور جوړیږی) نه په میراث ملاؤ شوې ده او تر اوسه پورې دا ځمکه د زید د تصرف لاندې ده، اوس عرض دا دې چې (۱): عمر د زید نه ځمکه اخستلې ده او بکر مدعی جبرا هغه په ځمکه کې د تصرف کولو نه منع کړې دې آیا په ځمکه خرڅولو سره بائع ذوالید جوړیدې شي یا نه؟ ۲: بکر مدعی که شریعت کوي نو د مشتری سره به کوي که د بائع سره. ۳: د بکر مدعی عیني شاهد نشته ځکه چې د مخکې زمانې خبره ده نو آیا په تسامع سره شهادت ورکولې شي یا نه؟ ۴: په بکر مدعی باندې عیني شاهد سره د خپل مورث ملک ثابتول ضروري دي یا نه؟ ۵: آیا د شپیتو اویا کالو پورې د یک طرفه تصرف باوجود اوس د بکر دعوی قابل سماع ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سراج الدین... ۱۲ ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې بکر مدعی د میراث دې، او خارج دې او عمر مشتری مدعی علیه دې او په ظاهر کې ذوالید دې. **وفی شرح المجلة** ۹۳۸م ۱۶۳۵: **الخصم فی دعوی العین هوذوالید فقط** (۱) پس دا مدعی علیه چې دافع دې، په شهادت سره دې دا ثابته کړي چې دا اخستلې شوې ځمکه صرف د زید ملکیت وو په هغې کې د بکر د مور ارث نه وو او که داسې

---

۱) (شرح المجلة ۵:۸۹ المادة: ۱۶۳۵)

شهادت نه وی نو بکر ته به قسم ورکولې شی که بکر د قسم خوړلو نه انکار وکړو نو معامله ختم شوه او که قسم ئې اوخوړلو نو د هغې نه پس به بکر د میراث شهادت د مور نه پیش کوی او که شهادت نه وی نو قسم دې ورکړی. (ماخوذ از شرح المجلة ۹۳۱) (۱)

نوټ: په کومو علاقو کې چې شرعی قضاة نه وی نو هلته هر وخت د دعوې سماعت کیدې شی. (۲) بله دا چې د زمانې تیریدل د سماعت نه نهٔ مانع کیږی. (۳) والله اعلم

د اجیر د مستاجر دپاره کور جوړولو سره په هغې باندې د ملکیت دعوی کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې مدعی په خپله رضاباندې د مدعی علیه سره تعاون کولو باندې په یوه محدوده ځمکه کې د مدعی علیه دپاره داستوګنې کورونه جوړکړل، د ډیروکلونو تیریدلو نه پس د مدعی په دې ځمکه باندې دحقدارئ دعوی صحیح کیدې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: بابوفضل ربانی، سکنه چترال.....۲۲جون ۱۹۷۰ء

الجواب: کور جوړول د تملیک دلیل نه دې بلکې کله د اعارې او اجارې په

---

۱) وفي شرح المجلة: اذا أثبت من ادعي دفع الدعوي دفعه تندفع دعوي المدعي والا يحلف المدعي الأصلي بطلب صاحب الدفع فان نكل المدعي عن اليمين يثبت دفع المدعي عليه وان حلف تعود دعواه الأصلية.

(شرح المجلة ۷۵:۵ المادة ۱۶۳۲)

۲) قال العلامة ابن عابدين: الثاني أن النهي حيث كان للقاضي لا ينافي سماعها من المحكم. (ردالمحتار ۳۸۱:۴ قبيل مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة لاتسمع)

۳) قال العلامة ابن عابدين: ان الحق لا يسقط بتقادم الزمان اه، ولذا قال في الأشباه أيضًا ويجب عليه سماعها.

(ردالمحتار ۳۸۱:۴ قبيل مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثين سنة الخ)

طورهم د جوړولو اجازت ورکولې شی لهذا دعوی صحیح ده.(۱) وهوالموفق

په ځمکه کې بوټی لګول د ملکیت دلیل نه دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یوه محدوده ځمکه څو کرته په سیلاب سره تباه شوې ده، مدعی علیه په خپل اخراجات او محنت سره هغه ځمکه آباده کړې ده او په هغې کې ئې بوټی لګولې دی، نن صبا هغه بوټی لوئې لوئې ونې دی، مدعی د بوټو لګولو په وخت مدعی علیه ته هیڅ او نه ویل، ځمکه او ونې د مدعی علیه په قبضه کې دی، او د هغې نه فائدې حاصلوی، څو کاله پس د مدعی دعوی په دې ځمکه کې صحیح کیدې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: باېو فضل ربانی، سکنه چترال.... ۲۲ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: چونکې بوټی د اعارې او اجارې په طور هم لګولې شی لهذا دا مقدار د تصرف د ملکیت دلیل نه شی کیدې، یعنی دا مالکانه تصرف نه دې.(۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: والحاصل أن رواية الجامع أن الاستيام والاستيجار والاستعارة ونحوها اقرار بالملک للمساوم منه والمستأجر منه ورواية الزيادات أنه لا يكون ذلک اقرار بالملكية وهو الصحيح كذا في العمادية وحكي فيها اتفاق الروايات علي أنه لا ملک للمساوم ونحوه فيه وعلي هذا الخلاف ينبغي صحة دعواه ملكا لما ساوم فيه لنفسه أو لغيره... ونقل السائحاني عن الأنقروي ان الأكثر علي تصحيح مافي الزيادات وأنه ظاهر الرواية قلت فيفتي به لترجحه لكونه ظاهر الرواية. (ردالمحتار ۴:۵۰۴ كتاب الاقرار)

۲) قال العلامة ابن عابدين: والحاصل أن رواية الجامع أن الاستيام والاستيجار والاستعارة ونحوها اقرار با لملک للمساوم منه والمستأجر منه ورواية الزيادات أنه لا يكون ذلک اقرار بالملكية وهو الصحيح كذا في العمادية، وحكي فيها اتفاق الروايات علي أنه لا ملک للمساوم ونحوه فيه وعلي هذا الخلاف ينبغي صحة دعواه ملكا لما ساوم فيه لنفسه أو لغيره... عن الأنقروي أن الأكثر علي تصحيح ما في الزيادات وأنه ظاهر الرواية: قلت فيفتي به لترجحه لكونه ظاهر الرواية. (ردالمحتار ۴:۵۰۴ كتاب الاقرار)

آیا ښځه د میراث د وصولولو نه پس په یو کال تیریدلو باندې څه دعوی کولې شی؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو مړی دوه کندې ښځې وی، د عدت پوره کیدو تر وخت پورې په هغوی کې چا هم څه دعوی ونکړه، د قرآن او سنت مطابق چې هغوی ته څه ملاویدل هغه ئې وصول کړل ددې نه کال پس څه دعوی صحیح کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شوکت علی، خیبر ایجنسی پیښور.... ۲۷ اگست ۱۹۷۵ء

الجواب: کنډه د ثمن یا ربع (۱) او هم دغه شان د مهر مستحق ده. (۲) اګر که وادهٔ نه کوی یا وادهٔ د داسې سړی سره وکړی چې هغه سره د اولیاء الزوج مرضی نه وی. وهوالموفق

د مستعیر په عاریت باندې اختلې ثوې ځمکه باندې د ملکیت دعوی کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د بل نه مخصوص جائیداد عاریة طلب کړو، ددې استعارې نه پس په جائیداد باندې د حقدارئ دعوی صحیح ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: بابو فضل ربانی، سکنه چترال ۲۲ جون ۱۹۷۰ء

---

۱) قال الله تبارک وتعالي: ولهن الربع مما ترکتم ان لم یکن لکم ولد، فان کان لکم ولد فلهن الثمن مما ترکتم من بعد وصية توصون بها اودين.
(سورة النساء آيت: ۱۲)

۲) وقال العلامة المرغيناني: ثم المهر واجب شرعا ابانة لشرف المحل.
(هداية ۲: ۳۲۳ باب المهر)

الجواب: صحیح ده (۱) په داسې حال کې چې د بل سړی د غاصب کیدو یا د هغه نه په بیع اخستل ثابت کړی **وهوالموفق**

د واهب په خپل ژوند کې د جائیداد تقسیمول او د هغه د وفات نه پس د وارثانو خپل مینځ کې اختلاف کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی اووه ځامن دی پلار د هغوی ترمینځه په خپل ژوند کې ټول جائیداد تقسیم کړو او ټول په دې تقسیم باندې راضی شو، د پلار د وفات نه پس تر پنځه دیرشو کالو پورې هر یو په خپله ځمکه کې تصرف وکړو، اوس ئې یو ورور وفات شو، د هغه په ځامنو باندې ترونو دعوی وکړه چې مونږ تاسره په فلانئ ځمکه کې شریک یو، اوس شریعت د دې په باره کې څه وائی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی صاحب، مدرس شواړګی، ډاکخانه زیم بنګله چارسده.....٤ جون ۱۹۹۰ء

الجواب: د پلار په ژوند کې تقسیمول په حقیقت کې هبه ده او فقهاء کرامو فرمائیلې دی چې د قبض نه پس او د مرګ نه پس هبه لازمیږی، خصوصا کله

(۱) قال العلامة ابن عابدين: والحاصل أن رواية الجامع أن الاستيام والاستيجار والاستعارة ونحوها اقرار بالملک للمساوم منه والمستأجر منه ورواية الزيادات أنه لايكون ذلک اقرار بالملكية وهو الصحيح كذا في العمادية وحكي فيها اتفاق الروايات علي أنه لا ملک للمساوم ونحوه فيه وعلي هذا الخلاف ينبغي صحة دعواه ملكا لما ساوم فيه لنفسه أو لغيره... ونقل السائحاني عن الأنقروي أن الأكثر علي تصحيح ما في الزيادات وأنه ظاهر الرواية : قلت فيفتي به لترجحه لكونه ظاهر الرواية.
(ردالمحتار ۴:۵۰۴ كتاب الاقرار)

چې محارم وی، صرح به فی رد المحتار(۱) والبحر(۲) والهداية(۳) وغيرها....

لهذا دا ورونه ټول په ټول مالکان جوړ شوي دی ځاته چې د کوم مقدار قبضه ملاؤ شوې ده هغه د هغه ده.(۴) په دې باندې دعوی نامنظور ده بیشکه که پلار د څه ځمکې وغیره تقسیم نه وی کړې یا ئې قبضه نه وی ورکړې نو هغه مشترکه ده. **فقط**

نوټ: د دعوې د تاخیر د وجې نه نامنظور کیدل د حکم په مخکښې مراد نه دی بلکې د حاکم او قاضی په مخکښې مراد دی. صرح به فی رد المحتار... ۳۴۳/٤(۵) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصكفي: ويمنع الرجوع فيها حروف دمع خزقه ...والميم موت احد العاقدين بعد التسليم فلو قبله بطل... والقاف قرابة فلو وهب لذي رحم محرم منه نسبا ولو ذميا أو مستأمنا لايرجع.

(الدرالمختار ۵۷۸،۵۷۶،۵۷۴:۴باب الرجوع في الهبة)

۲) قال العلامة ابن نجيم: ومنع الرجوع دمع خزقه...والميم موت أحد العاقدين... والقاف القرابة فلو وهب لذي رحم محرم منه لايرجع لحديث الحاكم مرفوعاً اذاكانت الهبة لذي رحم محرم لم يرجع فيها وصححه.

(البحر الرائق ۲۹۴،۲۹۲،۲۹۱:۷باب الرجوع في الهبة)

۳) (الهدايه ۲۹۰،۲۸۹:۳باب ما يصح رجوعه وما لا يصح)

٤) وفي شرح المجلة: يملک الموهوب له الموهوب بالقبض.

(شرح المجلة ۳۸۱:۳، المادة: ۸۶۱)

۵) قال العلامة الشامي: الثاني أن النهي حيث كان للقاضي لا ينافي سماعها من المحكم.

(ردالمحتار ۳۸۱:۴ كتاب القضاء مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

په يو عدالت کښې د هبې دعوىٰ کولو سره په بل عدالت کښې د تمليک دعوى کول

سوال: څه فرمائى علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې که هبه او تمليک جدا جدا وى يعنى هبه خاص او تمليک عام وى نو يو سړې په اسلامى عدالت کښې د هبې دعوى وکړى او په بل عدالت کښې د تمليک دعوى وکړى نو آيا د هغه په دعوى کښې تناقض شته؟ بينواتوجروا

المستفتى: بابو فضل ربانى، سکنه تحصيل و ضلع چترال... ۲۲ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: هيڅ تناقض نشته. (۱) وهوالموفق

د حقوق مجهوله نه ابرا کول

سوال: څه فرمائى علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې مسمىٰ خالد په خپله خور باندې په محکمه شرعيه کښې دا دعوى کړې ده چې زه خپلې خور د خپلې دعوې نه برى الذمه کړې يم. آيا دا د مجهول د دعوې نه ابراء شرعا صحيح ده يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتى: نثار احمد چترالى، ضلع پيښور علاقه ډبګرى غلام مسجد ۵ اپريل ۱۹۷۳ء

الجواب: په شرط د ثبوت دا ابرا صحيح ده، فى شرح المجلة ۸۵۳، ولکن الابرا عن الحقوق المجهولة جائزة (۲). وهوالموفق

---

(۱) وفي شرح المجلة: قال السيد الحموي اعلم أن التمليک يکون في معني الهبة ويتم بالقبض واذا عري عن القبض والتسليم اختلف العلماء فيه فقيل يجوز وقيل لا يجوز قياساً علي الهبة.

(شرح المجلة ۳۵۱:۳ الماده ۸۳۸) (ومثله في تکملة ردالمحتار ۳۸۶:۲ مطلب في معني التمليک)

(۲) (شرح المجلة لسليم رستم باز: ۸۵۳ المادة: ...[بقيه بر صفحه آئنده...

د شفیع او دافع ترمینځه طریق فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې شیروان، حیدر زمان او حاجی سید محمد په یوه ځمکه کې داسې شریک دی چې دا ځمکه د شیروان او حیدر زمان موروثي ده او سید محمد د یو خاص کردار په حیثیت سره د ځمکې د زمیندارئ څه حصه د قادر جان وغیره نه اخستلې ده، اوس د سید محمد هم دا فرائض دی چې مذکوره ځمکې له کرولو سره هغوی دواړو ته د خپلو حاصلاتو نیمه حصه ورکړي.
اوس شیروان او حیدر زمان د خپل جائیداد ملکیت یو ځلورم سړی محمد صادق ته په طور د هبې بغیر د عوض نه ورکړې دې، پس د دې ځمکې نه محمد صادق تر دوه کالو پورې باقاعده طور حاصلات د شیروان او حیدر زمان په ځای وصول کړی دی، بیا دوه کاله پس سید محمد خپل ځان شفیع اود ځمکې نه مشاع جوړه کړه، اوس د سید محمد دعوی په مشاعیت په محمدصادق باندې صحیح ده یا نه؟ حال دا چې شیروان او حیدر زمان اوس هم په خپله هبه باندې د موهوب له دپاره قائل دی، او هغوی وائی چې موهوب له محمد صادق زمونږ په ځای باقاعده مالک دې.
۲: ډاکټر محمد صادق د اخستلو نه مخکې د ځمکې موهوب له خلیط مالک هم وو او حاجی سید محمد صرف ګاونډی وو، په دې شفعه کې حق اولیت دچا دپاره دې؟ ۳: د طرفین نه مدعی او مدعی علیه څوک څوک دی؟ مهربانی اوکړئ په شرعی دلائلو سره فیصله وکړئ چې دا موهوبه ځمکه د فساد نه بچ شی، د طرفین دعوې او جوابونه منسلک دی. **بینواتوجروا**

المستفتی: ډاکټر محمد صادق، ضلع دیر..... یکم جولائی ۱۹۷۵ء

...بقیه ازحاشیه گذشته] ۱۵۶۷ الفصل الثاني في المسائل المتعلقة بأحکام الابراء)...
وقال العلامة الشامي :فهو مثل الابراء عن المجهول فانه جائز عندنا.
(ردالمحتار ۲۲۲:۴باب الاستحقاق)

الجواب: په صورت مسئوله کې حاجی سید محمد (شفیع) دې او ډاکټر محمد صادق مدعی علیه او دافع دې، یعنی دعوی د هبې د وجې نه دفع کوی، پس که په دې دواړو کې یو کس شهادت قائم کړو نو هغه به فائز وی او که دواړو ګواهان قائم کړل نو په ترجیح کې اختلاف دې، کما فی الهندیة ۵/۲۱۰ فلیراجع (۱) او د مدعی دا قول چې دا هبه ده د مشاع او دا غیر مشروع ده د شفیع د پاره مفید نه ده، کچېرته دې د پاره دلائل بیان کړی مثلاً ارث یا شراء یا تصدق یا قبول وصیت وغیره اسباب شرکت باندې ئې منور کړی. **وهوالموفق**

مزارع د قبضې او ګرداوری د وجې نه مالک نه جوړیږی

الجواب: زبانی استفتاء:

هیڅ مزارع د قبضې او ګرداوری د وجې نه مالک نه جوړیږی د هغه مالک جوړیدل د ډیرو وجوهاتو په بناء باطل دی:

۱: دا چې د ځمکې مالک بالاتفاق شرعی مالک دې، نو په دې زیر بحث دفعه باندې ایمان لرونکو باندې ضروری ده چې هغوی په دې دفعه باندې شرعی دلائل پیش کړی، چې په دې قبضه او تصرف سره د سابق ملک ملکیت ختم شو، او د مزارع ملکیت حاصل شو.

---

(۱) وفي الهندية: ولو قال المشتري وهب لي هذا البيت مع طريقه من هذه الدار ثم اشتريت بقيمتها وقال الشفيع لا بل اشتريت الكل فللشفيع الشفعة فيما أنه اشتري ولا شفعة فيما ادعي من الهبة وايهما أقام البينة قبلت بينته وان أقاما جميعا البينة فالبينة بينة المشتري عند ابي يوسف رحمه الله تعالي لانها تثبت زيادة الهبة وينبغي أن تكون البينة بينة الشفيع عند محمد رحمه الله تعالي لأنها تثبت زيادة الاستحقاق. (فتاوي عالمگيرية ۵:۱۸۹ الباب العاشر في الاختلاف الواقع بين الشفيع والمشتري والبائع والشهادة في الشفعة)

(ومثله في بدائع الصنائع ۴:۱۴۰ كتاب الشفعة، بيان حكم اختلاف الشفيع والمشتري)

۲: دا چې اوبو اوړونکې مملوکه ځمکې لره د آبادولو او د کروندې د قابل کولو او په هغې کې د کروندې کولو نه د مالک ملکيت نه زائل کيږي،
کما في كتاب الخراج ۹۲ ولوان رجلا أحيى من ذلك شيئا (أي من أجمة أوبحر أو برشيئا) قد كان له مالك قبله رددت ذلك الى الأول ولم أجعل للثاني فيه حقا(۱) پس د آبادۍ او کروندې قابلې ځمکې نه به ئې په طريق اولی ملکيت نه زائل کيږي.
۳: دا کله چې مزارع د ځمکې د مالک د اعتراض په صورت کې د فصل حقدار نه جوړيږي نو د ځمکې مالک کيدل به څنګه جائز شي. رسول الله ﷺ فرمائی: من زرع في أرض قوم بغير اذنهم فليس له من الزرع شيئ وله نفقته، رواه ابوداؤد والترمذی (مشکواة شريف ۲۷۸)(۲). وهوالموفق

د سيرۍ متعلق يو شرعي فيصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د نن نه تقريبا يو سل لس کاله مخکې د سرخ ډهيرۍ د مياګانو نيکه ميان برهان الدين زمونږ نيکه ته د ځمکې يو ټکړه او د کور دپاره څو مرلې ځمکه ورکړې وه، په دې خيال سره چې دا خلق به زمونږ امام وي، پس هم هغه امامت اوس پيړۍ په پيړۍ راروان دې، دې دوران کې زمونږ نيکه د ارت دپاره په دې موهوبه ځمکه کې يو کوهۍ آباد کړو، او قبرستان ئې هم جوړ کړو، دې سره سره مونږ يو نيم پخته کهنډر جوړ کړو، بل طرف ته په لالی يکر کنبې تقريبًا پنځه مرلې ځمکه کې د کور دپاره زمونږ مشرانو اول کچه آبادی جوړه کړه او

---

۱) (كتاب الخراج ۲۰۰ في الجزائر في دجله والفرات والغروبه)
۲) (مشكوة شريف ۲۵۷ باب المساقات والمزارعة)
وفي الهندية: غصب من آخر أرضا فزرعها ونبت فلصاحبها أن يأخذ الأرض ويأمر الغاصب بقلع الزرع تفريغا لملكه فان أبي أن يفعل فللمغصوب منه أن يفعله بنفسه فان لم يحضر المالک حتي أدرک الزرع فالزرع للغاصب وللمالک أن يرجع علي الغاصب بنقصان الأرض. (فتاوي هندية ۱۴۳:۵ الباب العاشر في زراعة الأرض المغصوبة)

بیا ئې د ضرورت په بناء باندې پخه آبادي وکړه چې د هغې اتلس کاله شوي دي، اوسه پورې ئې هم دا قبضه بغير معاوضې وه او د هغه خلقو د موجودګئ او کتلو باوجود وه، اوس چونکې مذکوره ځمکه شاړه پاتې شوې ده، اوکلي ته د نزدې کيدو د وجې نه د کروندې قابله پاتې نه شوه، او زما ځامنو ته په هغې کې د آبادئ ضرورت محسوس شو، پس اوس مونږ اراده کړې ده چې په هغې کې آبادي وکړو نو هغوی مونږ د قانون په جال کې ګير کړو، ځکه چې دا خلق د انګريزانو د دور نه مالي لحاظ سره طاقتور دي او د حکومت په ادارو کې په لوئې لوئې منصبونو باندې فائز دي په دې وجه تاسو ته درخواست دې چې شرعي نقطه نظر سره د دې موهوبه شرعي حيثيت اوښايئ. بينواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد عاشق، مقام سرخ ډهيرئ ضلع مردان.....۲۶ محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: د فريق اول دعوی په فريق ثاني (د برهان الدين په اولاد) باندې ناقابل سماعت ده، ځکه چې فريق اول سره د دې ځمکې عاريت يا وقف على المسجد کيدو دپاره ګواهان موجود نه دي، لکه چې دويمې ډلې سره د هبې او تمليک ګواهان موجود نه دي او د عرف سابق په بناء به دې ته هبة او تمليک ويلې شي ځکه چې زمونږ په صوبه کې امام وغيره ته ځمکه په طور د تمليک په دې اعتماد باندې ورکولې شوه چې دا خلق به زمونږ پيړئ په پيړئ امام وی، او د داسې تمليک متعلق (شامی ۵۲۰/۴ (۱) بحر (۲) او

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصكفي: (جاز العمري) للمعمر له ولورثته بعده لبطلان الشرط،
وقال العلامة ابن عابدين: العمري هي أن يجعل داره له عمره فاذا مات ترد عليه.
(شامي ۵۸۰: ۴ كتاب الهبة، فصل في مسائل متفرقة)

۲ ﴾ قال العلامة ابن نجيم: ومن وهب أمة الا حملها أو علي ان يردها عليه أو يعتقها أو يستولدها أو دارا علي أن يرد عليها شيئا منها أو يعوضه منها شيئا صحت الهبة وبطل الاستثناء والشرط... والهبة لا تبطل... بالشروط الفاسدة... وصح العمرى للمعمر له حال حياته ولورثته بعده. (البحر الرائق ۲۹۵،۲۹۶: ۷ كتاب الهبة، قبيل كتاب الاجارة)

عالمگیری (۱) په کتاب الهبة کې لیکلې شوې دی چې هبه نافذ کیږی او دا شرط ضرری نه دې، بله داچه شرعا هغه دعوی کومه چې د مالکانه تصرفاتو نه د خبریدو باوجود وروستو کړې شوې وی، ناقابل سماعت وی.

كما في ردالمحتار ۵: ۶۴۶: في الحامدية عن الولوالجية رجل تصرف زمانا في أرض ورجل آخر يرى الأرض والتصرف ولم يدع ومات على ذلك لم تسمع بعد ذلك دعوى ولده فتترك على يد المتصرف اه والظاهر أن الموت غير قيد بدليل أنهم لم يقيدوه به هنا، وبه علم أن مجرد السكوت عند الاطلاع على التصرف مانع الخ(۲). وهوالموفق

د میراث په دعوی کونکو کې به د چا په گواهانو باندې فیصله وی؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زما (عبدالجبار) مقام خادگزئی معروف باداره کې درې جیربه ځمکه د پلار نیکۀ ملکیت دې تقریبا دیرش، څلویښت کاله مخکې زما پلار د قتل او دشمنۍ په سلسله کې قید شوې وو، د قید نه په آزادیدلو باندې وفات شو. مسمیان حمد خان، محمد زرین، اسم خان، ایراسان، عبدالمتین، سیب خان سکنه تنگی په ټول جائیداد باندې قابض وو، زما د پلار میراث ټول جائیداد څلور جریبه ځمکه وه، په ذکر شوې جائیداد کې عبدالمتین چې زما د ترۀ ځوئې دې هغه درې جریب ځمکه قبضه کړې ده، په ذکر شوې ځمکه کې یو جریب ځمکه د چالوان نه واپس شوې ده، او درې جیربه ځمکه عبدالمتین سره باقی پاتې شوه، تقریبا دیارلس کاله مخکې کله چې عبدالمتین وفات شو نو ذکر شوې درې جیربه ځمکه د حزب الله خان سره گانه وه، چونکې عبدالمتین او حزب الله رشته دار وو، حزب الله خان وروستو جائیداد حمد

---

۱) (هكذا في الفتاوى الهندية ۴: ۳۹۶ الباب الثامن في الشرط في الهبة)

۲) (ردالمحتار ۵: ۵۲۴ مسائل شتى)

خان ته حواله کړو، او د حمد خان نه ئې د ګور او کفن نه د زياتي رقم مطالبه وکړه، نو ذکر شوې رقم حمد خان حواله نه کړو، د غلام محمد د عبدالمتين سره نزدې رشته وه، په دې وجه غلام محمد صرف اولس سوه روپئ ورکولو سره په ذکر شوې ځمکه باندې قبضه وکړه، چونکې اوس زه د عبدالمتين رشته داريم نو د عبدالمتين د جائيداد حقدار زه يم. (بيان مدعي عبدالجبار)

د غلام محمد جواب دعوى :

المستفتي: ۱: مدعى عليه غلام محمد ولد فقير سكنه باغ تحصيل تيمر گره ضلع دير

۲: اراضي چې دعوى پرې شوې ده دا زما د پلار نيکهٔ موروثي جائيداد دې چې په هغې باندې زه مسلسل د جد امجد د زمانې نه قابض او متصرف يم، د نيکهٔ، د پلار او پخپله زه د درې زمانو نه قابض او متصرف راروان يم چې د هغې تصديق او توثيق کې زه څو ګواهان نه بلکې د پوره علاقې په عوام الناس باندې، د نيکه نه په تواتر سره زما د موروثي جائيداد او قبضې او تصرف ګواهان او شاهدين دي. چونکې دا جائيداد څو کرته مونږ خپل مينځ کې تقسيم کړې دې، د ډيرو کلونو نه مونږ په دې باندې مزارعين لګولې دي او تر اوسه پورې زما په قبضه او تصرف کې دي.

۳: د مدعي مذکور په دعوى کې بنيادي تناقض او تضاد بغير د شک او شبهې نه موجود دې ځکه چې مدعي مذکور يو کرت خو د پلار نيکهٔ د وراثت دعوى کوى او په دويم کرت د تره د ځوى عبدالمتين خان د وراثت دعوى کوى.

۴: مدعي په خپل بيان کې د څلويښتو کالو پورې د جائيداد نه محروميدل بيانوى او د هغه په جائيداد کې دومره اوږدې تبديلئ او مقدمې کيږي څومره چې هغه په خپل بيان کې ښکاره کوى نو په دې موجوده ترقي يافته زمانه کې ئې څه بندوبست ولې ونکړو؟ په دې وجه دا په مونږ باندې يو زائد الميعاد او دروغژنه دعوى ده.

۵: په حقيقت کې دا مقدمه د يو بې بنياده سازش د وجې نه زما خلاف روانه کړې شوې ده. کنه نو زه په مخکې زمانه کې د حکومت د سزا د وجې نه

جلاوطن ووم او زما تول جائیداد بې وارثه موجود وو، نو که دا د بل چا وې
نو هغه بغیر د څه مزاحمت نه په هغې باندې قبضه ولې ونکړه؟
لهذا د عدالت شرعیه نه التماس کوم چې که د مدعی مذکور دعوی د اصول
شرعیه مخالف وی نو د هغه نه احقر ته خلاصې ورکولو سره د دواړو جهانو
ثواب حاصل کړئ. **بینوا توجروا**

المستفتی: ۲: غلام محمد ولد فقیر، سکنه باغ تحصیل تیمرگره ضلع دیر. ۶ فروری ۱۹۷۲م

الجواب: د مدعی مسمی عبدالجبار د بیان خلاصه دا ده چې دا جائیداد
زما ملکیت دې اول خو په دې وجه چې دا ماته زما د پلار نه په میراث کې
ملاؤ شوې دې، دویم په دې وجه چې (که بالفرض دا د عبدالمتین جائیداد
وی) نو زه د عبدالمتین وارث یم او د مدعی علیه مسمی غلام محمد د بیان
خلاصه دا ده چې دا ځمکه ماته د پلار نیکهٔ نه په میراث کې ملاؤ شوې ده،
پس دواړه فریقین د میراث مدعیان دی او په هغوی کې عبدالجبار خارج او
غلام محمد ذوالید دې لهذا چې د کوم فریق گواهان موجود وی هغه به
کامیاب وی. (۱) او که د دواړو گواهان موجود وی نو د عبدالجبار گواهان
به منظور وی. **ولو ادعیا ملکا ارثا لابیه ان کانت العین فی ید احدهما ولم
یورخا اوارخا سواء یقضی للخارج** (تکملة ۲/ ۱۴) (۲) **فقط**

نوټ: د محکم په مخکښې د تاخیر د وجې نه دعوی نه ناقابل سماعت
کیږی. (رد المحتار ۴/ ۴ باب القضاء) (۳) **وهو الموفق**

---

۱) وفي شرح المجلة: واذا عجز أحدهما عن الاثبات وأثبت الأخر يحكم له بكون
ذلک العقار ملکه مستقلا لأن البينة أقوي من وضع اليد.
(شرح المجلة ۴۴۷: ۵، المادة: ۱۷۵۶، الفصل الثاني في ترجيح البينات)
۲) (تکملة ردالمحتار ۱۵: ۲ باب دعوي الرجلين)
۳) قال العلامة ابن عابدين: الثاني أن النهي حيث کان للقاضي لاينافي سماعها من المحکم
(ردالمحتار ۳۸۱: ۴ قبيل مطلب اذا ترک الدعوي ثلاثا وثلاثين الخ)

د شریعت او د قانون په رڼا کې د ځمکې د ملکیت مستحق څوک دې؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې حکومت د محمد علي خان ځمکه د خلقو په نوم باندې الاټ کړې ده د چا دپاره چې حکم وو چې د چا سره قبضه وي، د هغه حق دې د دې وجې نه زید یوه ټکړه د ځمکې اتۀ کاله مخکې یوځل ئیوه (هل) ګرځولو سره د مزارعت دپاره یو فصل استعمال کې راوستلو، او ناقص او ناقابل زراعت نه کیدو د وجې نه ئې پرېښودله، اتۀ کاله تیر شو او وروستو حکومت هم دا ځمکه د بکر په نوم باندې الاټ کړه، او د الاټمنټ په دوران په دې باندې د چا هم قبضه نه وه او زید او بکر دواړه د خان موصوف اجاره دار وو، خو د دې حصې نه علاوه د ځمکې نوره حصه د اجارې په خط محمد علی خان کړې، په شرعی حکم سره به قبضه د چا دپاره ثابت وي؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: محمد شیر، مردان...... ۲۵ جمادی الثانی ۱٤٠۲ھ

الجواب: د شریعت په رڼا کې دا ځمکه د هغه سړي ملکیت دې چا ته چې محمد علی خان مالک اوائی، خو د قانون په رڼا کې هغه سړې مالک دې چې د چا په نوم باندې الاټمنټ (لیکل شوي) وي. (۱) **وهوالموفق**

د دعوې د عدم سماعت د مودې تعین کول د حکومت ذمه داري ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د خپلې ځمکې یوه حصه په ژوند باندې خرڅه کړه، بیا وفات شو، چې کوم سړي اخستلې ده هغه سړې اوسه پورې په هغې باندې قابض دې، د دیرشو کالو نه زیاته موده ئې شوې ده، د دیرشو کالو پورې ئې وارثان خاموش وو د هغې نه

(۱) قال العلامة الحصکفي: اعلم أن اسباب الملک ثلاثة، ناقل کبیع وهبة وخلافة کارث واصالة ،وقال العلامة ابن عابدین: (قوله ناقل) أي من مالک الي مالک.
(شامي ۵:۳۲۹ کتاب الصید)

پس هغوی دعوی وکړه، اوس آیا په اسلامی قانون کې دا دعوی صحیح کیدې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: عباس خان.... دیر..... ٦اپریل ١٩٨٤ء

الجواب: د عدم سماعت د مودې تعین د حکومت ذمه داري ده، دا په هر دور کې مختلف کیږي، خو فقهاء کرامو د دیرشو کالو د مودې تعین کړې دې فلیراجع الی شرح المجلة ٩٨٢ (١) وهوالموفق

د قوم سرګړه او زخیل ترمینځه د ځمکې د اوبه خور فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د قوم زخیل مانده لرې ده کوم چې د عادت په لحاظ سره د هغوی ملک دې کنه نو قوم زخیل کنده نه ده کړې، په عرف کې هغې ته مانده وائی، په دې مانده کې اوبه دی او د قوم سرګړه او زخیل یو مشترکه کاریز د دې مانده غاړې ته راځي قوم سرګړه لاندې دې، او د فریقین په اقرار سره او د سرګړه د پلار نیکهٔ نه ددې مانده اوبه په خپل کاریز کې یوځای کولو سره خپلې ځمکې اوبه کړې دی اوس اختلاف دا دې چې قوم زخیل وائی چې کاریز خو مشترک جوړ شوې دې خو مانده زمونږ په ځمکه کې ده، سرګړه لاندې دی د هغوی هیڅ حق نشته. شپیتهٔ کاله چې سرګړه کوم استعمال کړې دې هغه زمونږ احسان دې کنه نو د هغوی څه لازم حق نه دې

نوټ: د قوم سرګړه د مانده د اوبو نه د کروندې ځمکې موجود دی او د قوم

---

١) وفي شرح المجلة: وقد اختلف الفقهاء في تحديد هذه المدة فقيل هي ثلاث سنوات وقيل هي ثلاثون سنة وقيل ثلاث وثلاثون وقيل ست وثلاثون سنة... ثم لما كثر الفساد في الزمان وفشي التزوير والتحيل في كل مكان صدر الأمر السلطاني من لدن سيدنا أمير المؤمنين كما اشعرت به المادة الآتية وذلک تبعا لأوامر أسلافه الكرام من خلفاء آل عثمان العظام بمنع القضاة عن سماع كل دعوي تركها المدعي خمس عشرة سنة بلا عذر.
(شرح المجلة ١٦٧،١٦٦:٥ الباب الثاني في حق مرور الزمان)

زخیل تر اوسه پورې لاره استعمال نشته. **بینواتوجروا**

المستفتي: مولوی عبیدالله عرف گل خان، لور آلائی........۲۸ رجب ۱٤٠۱ھ

الجواب: که دا قوم زخیل د یو ثالث قوم په شهادت سره د هغه دور نه د قوم سرگړه اوبه خور لره حادث او احسان ثابت نه کړې شي نو ﴿ **القدیم یترك علی قدمه** ﴾(شرح المجلة ۲۱) (۱) په بناء به دا کوهې د مځکې په شان استعمالولې شي، او په ملک خاصه یا مشترکه باندې د اقامت بینة نه مځکې به دا کوهې د هغوی مملوک وی چاته چې باقاعده قسم ورکړې شو. **وهوالموفق**

د تقسیم او بیع منکر اود مدعی ترمینځه طریق فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نوشید او صالح رحمن دواړه وروڼه دی د هغوی پلار په ژوند کې نوشید ته یو محدود ځمکه په تقسیم کې ورکړې وه. نوشید څه موده په هغې کې تصرف وکړو بیا هغه په اکرم خان باندې ځمکه خرڅه کړه، بیا نوشید مړ شو او ځمکه د اکرم خان په تصرف کې وه، د اکرم خان د وفات نه پس د هغوی په وارثانو کې جائیداد تقسیم کړې شو نو دا ځمکه د اکرم خان د ځوی حبیب الله په حصه کې راغله، اوس هغه هم وفات شوې دې او ذکر شوې ځمکه د حبیب الله د ځامنو سره ده، او مدعی صالح رحمن د تقسیم او بیع منکر دې، نو په دې صورت کې به گواهان د چا معتبر وی؟ په داسې حال کې چې مدعی خارج او مدعی علیه قابض دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: محمد رسول، شاټ کس تحصیل و ضلع دیر ... ۱۷ جمادی الاول ۱٤٠۱ھ

الجواب: د شرعی قواعدو په رڼا کې د صالح رحمن دعوی ناقابل سماعت ده، ځکه چې دې د مالکانه تصرفاتو نه د خبریدلو باوجود خاموش پاتې

---

۱ ﴾(شرح المجلة ۲۳: ۱ المادة: ٦)

شوې دې. لما في شرح التنوير ۶۴۹/۵: باع عقارا او حيوانا او ثوبه وابنه او امراته وغيرهما من أقاربه حاضر يعلم به ثم ادعى الابن مثلا انه ملكه لا تسمع دعواه (۱) خو دا ذواليد به دا دفع په بينه سره منور كوي، او د بينه په عدم موجودګئ كې به دې مدعى خارج ته د تقسيم او بيع په وقوع باندې قسم وركولې شي، كه قسم ئې اوخوړلو نو دا خارج به اصل دعوې لره په شهادت سره منور كوي. كما في شرح المجلة ۹۳۰ فليراجع (۲) وهوالموفق

د ښځې په كالو باندې اختلې شوې ونې به د چا وې

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې زما پلار زما د مهر كالي خرڅولو سره په هغې باندې شپيتۀ د مالتو بوټې واخستل، او باغ ئې ولګولو، خو مور مې ورته د كالو پيسې هبه وغيره نه كړې، د پلار د فوت كيدو نه پس مې مور وائي چې هغه شپيتۀ د مالتو بوټې زما دى لهذا شرعى حكم به څه وى؟ بينوا توجروا

المستفتي: حميد الرحمٰن، ضلع دير.....۸ رجب ۱۴۰۱ھ

الجواب: كه پلار ئې دا اعتراف كړې وى چې دا بوټې د فلانئ بى بى په پيسو اختلې شوې دى نو دا به د هغه فلانئ (مور) وى. (۳) او كه دا بوټې

---

۱) (الدر المختار ۵:۵۲۴ مسائل شتّى)

۲) وفي شرح المجلة: اذا أثبت من ادعي دفع الدعوىٰ دفعه، تندفع دعوىٰ المدعي والا يحلف المدعي الأصلي بطلب صاحب الدفع، فان نكل المدعي عن يمين يثبت دفع المدعىٰ عليه وان حلف تعود دعواه الأصلية. (شرح المجلة ۵:۷۵ المادة ۱۶۳۲)

۳) قال العلامة خير الدين: ولو قال يعني في صحته جميع ما هو داخل في منزلي لامرأتي غير ما علي من الثياب ثم مات فادعي ابنه أن ذلك تركة أبيه قال أبوالقاسم ههنا حكم وفتوى فالحكم اذا ثبت هذا الاقرار وجب القضاء لها بما كان في الدار يوم الاقرار وفي الفتوىٰ اذا علمت المرأة أن الزوج صادق في اقراره وأن جميع ذلك كان لها ببيع أوهبة أو ما أشبه ذلك فهي في سعة من أن تمنع ذلك عن الوارث. (فتاوى خيرية علي هامش تنقيح الحامدية ۲:۱۵۴ كتاب الاقرار)

پلار د خپل ځان دپاره اخستلې وي نو مور به پکې صرف د مهر په مقدار مستحقه وي، په دې شرط چې مور ورته کالي د تمليک په طور نه وي ورکړې. وهوالموفق

د مقبوضه غرونو او ځنګلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې په ځنګلو کې چې کوم قومونه دپخوا زمانې نه آباددي دهغوی ترمينځه د پخوا زمانې نه دخپل رسم مطابق حد بندی واقع ده، حدی بندی په نالو وغيره سره وی اول د لويو لويو قومونو تقسيم دې بيا هريو قوم په خپلو خاندانونو کې تقسيم کوی دا قوم او قبيلې په خپلو حدودو باندې قابض وی، بعض وخت داخلق په ټيکدارانو باندې په کميشن خرڅوی نو آيا د شريعت په نزد دا تصرفات معتبر دی يا نه، او ددې مقبوضه غرونو او ځنګلو په شريعت کې څه حکم دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: محمد شفيع عفاالله عنه ضلع ډيره اسماعيل خان.... ٢٦ جمادی الثانی ١٤٠١هـ

الجواب: د دې تصرف او تمانع نه ظاهرا دا معلوميږی چې د ځمکې دا حصه د دې قوم مشترکه ملکيت دې. كمايدل عليه مافي الخلاصة ٢: ٢٦٠: واليد في الأجمة والغيضة انمايثبت بقطع الشجر وبيعها في غيرمنازع (١) وفي الهندية ٥: ٤٢١: ولو كان أجمة أوغيضة فقطع قصبها أوأشجارها فسواها فهواحياء، (٢) وفي ردالمحتار ٣: ٣٥٤: اليد دليل الملك (٣)

پس ترڅو پورې چې د دې نه قوی دليل معارض موجود نه وی هم په دې

---

١) (خلاصة الفتاوي ٤:٩٥ كتاب الدعوي، الفصل الثاني في دعوي الضياع الخ)

٢) الفتاوي الهندية ٥:٣٨٧ كتاب احياء الموات، الفصل الأول)

٣) (ردالمحتار ٤:٤٩٣ كتاب الدعوي قبيل باب دعوي النسب)

وقال العلامة ابن عابدين: فان الأصل بقاء الملكية واليد أقوي دليل عليها فلا تزول الا بحجة ثابتة. (ردالمحتار ٣:٢٨١ مطلب فيما وقع من الملك الظاهر بيبرس من ارادته انتزاع العقارات الخ)

ظاهر باندې په عمل کولې شي. وهوالموفق

د موات د آبادولو نه پس په هغې باندې جاری اوبه بندول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د يو سړی په ځمکه کې کومه چې پيړئ په پيړئ آباده او اوبووالا وه دهغې اوبو دارومدار په متصل غير آباد غريزو چينو باندې وو کوم چې دوه درې خايه د دې غر نه راوځی اوس دا غير آباد غر يو سړی د حکومت په اجازت باندې د کروندې دپاره آباد کړې دې او اوس هغه دا اوبه په اول سړی باندې بندوی خپله اوچه ځمکه آبادوی او نورې آبادې ځمکې شړوی او وائی چې دا زما د ځمکې نه راوتلې دی، شرعی حکم څۀ دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: ماسټر نذير، ثمرباغ ضلع دير .... ٢٥ رمضان ١٤٠٢هـ

الجواب: ﴿القديم يترك علی قدمه﴾(١) په بنياد باندې دا دويم سړې د دې اوبو د بندولو مجازنه دې، بله داچې داحياء الموات د وجې نه د چا حق نه شی ضائع کولې نظيره مافی الهندية٥:٣٨٧ رجل احيٰی أرضا ميتة ثم جاء انسان وأحيا أراضی حولها حتی أحاط الاحياء بجوانبها الأربعة كان له ان يتطرق الی أرضه من الأرض التی أحياها آخر،انتهٰی ووجه الالحاق ان الأول صار مالكا قبل الثانی والشرب والطريق ممايتوقف عليهما الانتفاع فافهم(٢). وهوالموفق

په پخوانی غير آباد او شړې ځمکې باندې د قبضې حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ کلی اضاخيل بالا د کافی زمانې نه آباد شوې دې د دې کلی اوسيدونکی د شروع نه دلته راتلو سره په خپله خوښه باندې چېرته چې ئې غوښتل کور جوړولو سره آباد شوې دی چېرته چې ئې غوښتل مسجداوحجره ئې جوړه کړې ده، او

(١) ﴿شرح المجلة ٢٣:١ المادة: ٦﴾
(٢) ﴿فتاوي عالمگيرية ٥:٣٨٧ الباب الأول في تفسير الموات، كتاب احياء الموات﴾

څه ځای ئې د فصل کرلو دپاره برابر کړو، اوپه څه غیرآبادې ځمکې باندې ئې هم داسې قبضه وساتله، کومه چې اوس دهغوی اولاد آبادوی او څه غیر آباد ځمکه اوس هم په خپل سابقه حالت باندې موجود ده او د هغه خلقو اولاد په هغې باندې قابض دې، اودا درې واړه قسمه ځمکې دمیراث په طور څو کرته تقسیم شوې دی، او د هغې مطابق هغه حصې هم د هغه خلقو په نوم باندې د مال په سرکاری کاغذونو کې لیکلې کیدې، او هغوی ته سپارلې شوې ده، تاسو مهربانی کولو سره د دې شرعی حیثیت واضح وفرمایئ چې دا آبادې او غیر آبادې ځمکې د هغوی ملکیت شوې دې یا نه؟ بعض خلق دې وخت کې دا تقسیمول غواړی لهذا د دې شرعی وضاحت وفرمایئ. **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی عاشق حسین صاحب، اضاخیل بالا نوښار ۲۰/۲ فروری ۱۹۸٦ء

الجواب: د صاحب بدائع (۱) د قاعدې په بناء دا متعلقه اراضی که موات وی نو هر سابق لاحق آباد کونکې به د دې مالک وی، او که مملوکه وی نو په ټول کلی اضاخیل بالا کې چې څومره حصې دی په دې ټولو حصو باندې دا ټول سابق لاحق غیر آبادی ځمکه تقسیم کړې شی، پس چا چې د خپلې حصې نه زیاتی آباد کړې وی (د پټی یا کور دپاره) ئې آباد کړې وی هغه دې زیاتی واپس کړی او که مقامی خلقو ته جزوی طور سره نه حصې معلومې وی او نه د موات ځمکې یا د مملوکه کیدو نه خبر وی نو مونږ د دې قابض کیدو او غاصب کیدو فتوی نه شو ورکولې. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) دا ضابطه په بدائع جلد ۵ کې ده: (والمملوكة نوعان عامرة، خراب) وبيان حكم كل نوع منها وأما الأراضي المملوكة العامرة فليس لأحد أن يتصرف فيها من غير اذن صاحبها لأن عصمة الملك تمنع من ذلك وكذلك الأرض الخراب الذي انقطع مائها ومضي علي ذلك سنون لأن الملك فيها قائم وان طال الزمان حتي يجوز بيعها وهبتها واجارتها وتصير ميراثا اذا مات صاحبها. (۵:۲۸۱ كتاب الأراضي) ...رشيد احمد عفى عنه

۲) قال العلامة الحصكفي: اذا أحيا مسلم أو ذمي أرضا غير منتفع بها وليست بمملوكة لمسلم ولا ذمي فلو مملوكة لم تكن مواتا ... فلو لم يعرف ...[بقيه بر صفحه آئنده...

په خپله ځمکه کې د تصرف د وجې نه گاونډی ته نقصان رسول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د شیر محمد ځمکه د غرۀ په لمن کې د اتیا کالو نه آباده ده، حاجی شیر محمد د غر طرف ته د خورو اوبو دپاره دوه لختی جوړ کړې دی هغه لختو د نهر شکل اختیار کړې دې، خو کنستلې شوې نه، د لختی نه علاوه ئې بل هیڅ تصرف نشته، د حاجی رازګل ځمکه پورته طرف ته د شېږ دیرشو کالو نه غیر آباده پرته وه اوس د دویشتو کالو نه هغه آباده شوې ده، راز ګل لوئې لختې د خپلې ځمکې په احاطه کې جوړ کړو او د شیر محمد په لختی باندې ئې خاوره واچوله، دا مغربی طرف ته دې مشرقی طرف ته د بل سړی ځمکه ده، بهر حال هغه د ځمکې د احاطې دپاره لختې جوړ کړو او د شیر محمد په لختی باندې ئې خاوره واچوله.
اوس راز ګل وائی چې زه حقدار یم ستا لختې ختم شو، د قبضې حق اوس زما دپاره دې، شیر محمد وائی چې زه قدیم یم زه ستا نه مخکې محرز یم، زما قبضه مخکې ثابته شوې وه لهذا تاسو د دې مسئلې شرعی وضاحت وکړئ. بینواتوجروا

المستفتي: مولوی عبیدالله، مدرسه نعمانیه عربیه کوټه ..... ٦ رمضان ١٤٠٩ھ

...بقیه ازحاشیه گذشته] مالکها فهي لقطة.
وقال العلامة الشامي: (قوله فلو لم يعرف مالكها فهي لقطة) قال في الملتقي، الموات أرض لا ينتفع بها عادية أو مملوكة في الاسلام ليس لها مالک معين مسلم او ذمي وعند محمد ان ملكت في الاسلام لا تكون مواتا.
(شامي ٥:٣٠٦ كتاب احياء الموات)
وقال أيضاً: فأولي أن يقولوا ببقاء تلك الأراضي بيد من هي تحت أيديهم باحتمال أنها كانت مواتا فأحييت أو أنها انتقلت اليهم بوجه صحيح.
(ردالمحتار ٣:٢٨١ مطلب ليس للامام ان يخرج شيئ من يد أحد الخ)

الجواب: ومنه الصدق والصواب: د حاجی رازگل دا تصرف ناجائز دی،
کما فی شرح المجلة ۳۲ المادة ۳۰: درء المفاسد أولی من جلب المنافع ومما یتفرع من هذه القاعدة أن الرجل یمنع من التصرف فی ملکه اذا کان تصرفه یضر بجاره ضررًا فاحشًا(۱). وهوالموفق

حکام به د زائد المیعاد دعوی دوباره سماعت خپله کوی که نورو ته حکم وکړی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د کلی ریګی مشرانو په خپله ځمکه "ریګی میره" (چه په هغې باندې د اورکزئی قبیلې څو خاندانونو ناجائز قبضه کړې وه)، باندې د سینئر سول جج نه واخله تر د پېښور هائی کورټ پورې مقدمې دائر کړې، خو سینئر سول جج، ډسټرکټ جج پېښور او هائی کورټ پېښور یعنی ټولو عدالتونو دعوی زائد المیعاد کیدو په بناء باندې دا مقدمه خارج کړې ده.
دا فیصلې ذکر شوی عدالت د انګریزی قانون په رڼا کې کړې دی او دغه شان مونږ ټول مالکان د ریګی، کوم چې پیړئ په پیړئ د دې ځمکې مالکان دی، د خپل میراث نه محروم شو، لهذا شرعی حکم بیان کړئ؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عبدالحمید خان، آف ریګی .... ۳۰ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې په حکام بالا باندې شرعا ضروری ده چې

---

(۱) (شرح المجلة ۳۲: ۱ المادة ۳۰ طبع بیروت المطبع الأدبیة)
وقال العلامة الحصکفي: له التصرف في ملکه وان تضرر جاره في ظاهر الروایة الکل في الأشباه وفي المجتبیٰ وبه یفتیٰ وفي السراجیة الفتویٰ علی المنع.
وقال العلامة ابن عابدین: قال العلامة البیري والذي استقر علیه رأي المتأخرین أن الانسان یتصرف في ملکه وان أضر بغیره مالم یکن ضررا بینًا.
(ردالمحتار ۱۹۱: ۵ قبیل کتاب المزارعة)

دې مقدمې په خپله سماعت وکړي یا نورو سره ته د سماعت حکم وکړي كما في ردالمحتار ۴: ۳۴۳: ويجب عليه سماعها اه أي يجب على السلطان الذي نهى قضاته عن سماع الدعوى بعد هذه المدة أن يسمعها بنفسه أو يأمر بسماعها كيلا يضيع حق المدعي (۱). وهوالموفق

په متعينه ځمکه باندې د ميراث د دعوی کولو نه پس د مدعی عليه نه د شراء دعوی کول

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد په عمر باندې دعوی وکړي چې کومه ځمکه ته خورې دا ځمکه ماته د ورور په ميراث کې پاتې شوې ده، اوس ته دا ځمکه څه په ځانه باندې خورې او څه په مزارعت باندې خورې، او مدعی عليه دا وائي چې دا ځمکه ماته د پلار نه ملاؤ شوې ده او په دې باندې چا دعوی نه ده کړې بيا دا مدعی وائي چې دا ځمکه ما د مدعی عليه نه په پيسو باندې اخستلې ده په دې مسئله کې تناقض دې يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: حاجي فضل الرحمن متعلم ..... ۱۲ جون ۱۹۷۲ء

الجواب: که دقاضي په مخکښې دا بيانات ثابت شوي وي نو دا تناقض دې او مردود دې، او د دعوې د عدم صحت د وجې نه به د بينه طلب بې قاعدې وي. في الهندية: متى ثبت عند الحاكم تعارض القولين المتضادين من المدعي في الدعوى يمنع استماع الدعوى كذا في محيط السرخسي (۲). فقط

---

۱) (ردالمحتار ۳۸۱: ۴ مطلب هل يبقى النهي بعد موت السلطان)

۲) (فتاوى عالمگيرية ۶۳: ۴ كتاب الدعوى، الباب الثامن فيما يقع به التناقض)

وفي الخلاصة: وفي الفتاوى الصغرى التناقض كما يمنع الدعوى لنفسه يمنع الدعوى لغيره.

(خلاصة الفتاوى ۹۰: ۴ كتاب الدعوى، الفصل الأول جنس آخر في التناقض)

د ځمکې د میراث په دعوی کې تاخیر د جر میراث، اصحاب حدود او وارثانو لره نه ذکر کول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید مدعی علیه په خپل ملکیت کې تقریبا د دیرشو پنځه دیرشو کالو نه تصرفات کوی او د دې نه مخکې د هغه پلار د اوږدې مودې پورې مالکانه تصرفات کړی دی، اودعمرو مدعی د پلار نه د زید مدعی علیه په پلار باندې دعوی کړې وه او نه عمرو په دومره موده کې د زید مالکانه تصرفات کتلو سره دعوی کړې ده.
١: آیا په دومره موده کې چې کوم سړی بغیر دشرعی عذر نه سکوت وکړی او بیا د میراث دعوی وکړی د هغه اصحاب حدود ذکر هم ونکړی، او حدود هم غلط بیان کړی، او د میراث په دعوی کې وارثان هم بیان نه کړی او د جر ذکر هم نه کوی نو بیا د دومره مودې نه پس به دا دعوی مسموع وی یا نه؟
٢: بغیر د حدود د ذکر کولو نه او بغیر د ذکر د اصحاب حدود نه به دعوی مسموع وی یا نه؟ ٣: د میراث دعوی بغیر د جر د ذکر نه او بغیر د وارثانو د عدد بیانولو نه به مسموع وی یا نه؟

الجواب: ١: په مورث باندې ترک دعوی او ذکر شوې مودې پورې ترک دعوی په وارث مدعی علیه باندې دلیل د عدم حقیقت د مدعی او کذب د دعوې دې. په دې وجه د داسې قسم زائد المیعاد دعوی عند الحکام مسموع نه ده، په دې قسم دعوی باندې د فتنو دروازې پرانستلې کیږی.
٢: د زمکې په دعوی کې ذکر د حدود صحیحه او ذکر د اصحاب حدود هم ضروری دې او د دې شرط په نه کیدلو کې به دعوی قابل سماعت نه وی.
٣: د میراث په دعوی کې مورث او د مورث نه وارث پورې جر او بیان عدد د وارثانو او نفی د غیر هم ده، د دې شرطونو نه بغیر دعوی قابل سماعت نه ده، د دې وجوهاتو په بناء باندې د عمر مدعی دعوی په زید باندې د قاضی په وړاندې واجب الرد ده. دلائل لاندې لیکلې شی!

أما اذا مضى على الدعوى ثلاثون سنة بلا عذر فلا تسمع الدعوى الخ، رد المحتار ٤:٩٧٢ وأيضا فى المجلة ٩٨٤، وأيضا فى شرح المجلة ٩٩٣، وأيضا فى التكملة ٤٨٧، وفى الشامية ٥:٤٣٢، وفى المجلة ١١٣٠، وأيضا فى الخيرية ٢:٢٩، وأيضا فى الخانية ٢:٤٧٩، وأيضا فى شرح الالياس ٤٦: وكذا فى الكاملية ١٨٣ وأيضا فى التكملة ٧:٣٤٧ وكذا فى الأشباه والنظائر ٢١٤

په شرط د صحيح كيدو ددې جواب تصديق فرمائيلو سره د شكريه موقع راكړئ...... بينوا توجروا

المستفتي: شنكار مدعى عليه، سندري تحصيل واړى ضلع دير ... ٥ ربيع الاول ١٤٠٢هـ

الجواب: دا جواب صحيح دي او دا دعوى به د قاضى په مخكښې ناقابل سماعت وى، او د ميراث دعوى به هم د ميراث د تاخير د وجې نه ناقابل سماعت وى. كما فى ردالمحتار ٤/٣٤٣ (١) وتنقيح الفتاوى ٢/٥ (٢) او قطع د اشجار دليل د ملک دي، كما فى الخلاصة ٢/٢٦٠. واليد فى الاجمة والغيضة انما يثبت بقطع الشجر وبيعها من غير منازع، (٣) وفى رد المحتار ٣/٣٥٤ واليد

---

١) قال العلامة ابن عابدين: وقد نقل في الحامدية عن المهمنداري أنه كتب علي سوال آخر فيمن تركت دعواها الارث بعد بلوغها خمس عشرة سنة بلا عذر ان الدعوي لا تسمع الا بأمر السلطاني.
(ردالمحتار ٤:٣٨١ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطاني)

٢) وفي فتاوي تنقيح الحامدية: (سئل) في رجل يريد الدعوي علي زيد بميراث أمه المتوفاة من أكثر من خمس عشرة سنة وزيد يجحد ومضت هذه المدة من بلوغه رشيدا ولم يدع بذلک ولا منعه مانع شرعي وهما مقيمان في بلدة واحدة فهل تكون دعواه بذلک غيرمسموعة للمنع السلطاني (الجواب) نعم (فتاوي تنقيح الحامدية ٥:٢ كتاب الدعوي)

٣) (خلاصة الفتاوي ٤:٩٥ كتاب الدعوي، الفصل الثاني في دعوي الضياع الخ)

دليل الملك(١) وهوالموفق

منلې شوې حق د دعوې د تاخير د وجې نه نهٔ ساقط کيږي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد په عمر باندې ځمکه خرڅه کړه، هغه سره په دې ځمکه کې د خوئيندو حصه وه، خوئيندو په زيد باندې هيڅ دعوی ونکړه، تردې چې هغه وفات شوې په دې باندې اتيا کاله تير شو، نو اوس د هغه خوئيندو اولاد دعوی کولې شي يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: عالمگير کوهستاني

الجواب: که دا ماما د خپلو خوئيندو د ميراث حق منی خو د دعوی د تاخير د وجې نه ئې ورکولو ته تيار نه وی نو په دې صورت کې د خوئيندو اولاد ته د خور حصه ورکول قضاء او ديانة ضروری دی، لانهم صرحوا بأن الحق لا يسقط بتقادم الزمان اهـ (٢) وبأنها تسمع لو اعترف الحق، فليراجع الى رد المحتار.٥/٤٢ (٣) حلبي. وهوالموفق

د انګريزانو خانانو ته د ورکړې شوې ځمکې حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې اکثر ځمکې په طور د جاګير انګريزانو خانانو ته ورکړې وې، هغه ځمکو لره زمونږ پلار نيکهٔ د هغه وخت نه کرل شروع کړې وو کله چې دا بالکل شاړه او غير آباد وې، په دې کې به خلقو ګډې بيزې څرولې پس هغوی ترې

---

١) (ردالمحتار ٣:٤٩٣ كتاب الدعوي، قبيل باب دعوئ النسب)

٢) (الأشباه والنظائر ٢٢٢ كتاب القضاء والشهادات)

٣) قال العلامة ابن عابدين: الثالث عدم سماع القاضي لها انما هو عند انكار الخصم فلو اعترف تسمع ... اذ لا تزوير مع الاقرار.

(ردالمحتار ٤:٣٨١ مطلب هل يبقي النهي بعد موت السلطان)

نه فالتو بوټی لرې کړل او د کروندې قابله ئي کړه.

اوس حکومت پاکستان هم هغه ځمکې د زرعی اصلاحاتو د قانون د لاندې زمونږ په نوم باندې الاټ (ثبت) کړې دی خو د ځمکې مالکانو د دې حکم خلاف په عدالت کې مقدمه دائر کړې ده مونږ دا مقدمه په هائی کورټ او سپريم کورټ (عدالت) کې اوګټله

اوس څو ورځې مخکې اسلامی شرعی عدالت پاکستان د دې الاټ (ثبت شوي) کړې ځمکو په باره کې فيصله ورکولو سره د دې الاټمنټ احکاماتو ته خلاف شرع ووېل، لهذا مونږ ته د دې شرعی حکم بيان کړئ؟ **جزاكم الله خيرا**

المستفتي: حاجی گل محمد، مندنی تحصيل تنگی ضلع چارسده. ۲۱ ستمبر ۱۹۸۹ء

الجواب: کومه علاقه چې د انګريزانو د دور نه مخکې دار الاسلام وه نو د انګريزانو د دور نه پس به دا علاقه د امام ابوحنيفه رحمه الله د اصولو مطابق د مخکې په شان دارالاسلام وی، هغه اوصول د ردالمحتار ۳۴۹/۳ په حاشيه باندې موجود دې (۱) نو هرکله چې انګريزان د دې علاقو مالک نه دی جوړ شوی نو د هغوی چاته ورکول د ملک سبب نه شی جوړيدې، خو د موات آبادونکې د هغې مالک کيږی، **كما هو لفظ الحديث وذهب اليه ابويوسف ومحمد رحمهما الله تعالى** (۲) **وهو الموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي: لا تصير دارالاسلام دارحرب الا بأمور ثلاثة (باجراء أحكام اهل الشرك وباتصالها بدار الحرب وبان لايبقي فيها مسلم أو ذمي آمنا بالأمان الأول.
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳:۲۷۷ قبيل باب العشر والخراج)

۲) قال العلامة السهارنفوري: حدثنا محمد المثني ... عن سعيد بن زيد عن النبي ﷺ من احيي أرضا ميتة اي غير مملوكة لمسلم ... فهي له أي صارت تلك الأرض مملوكة له ولكن اذن الامام شرط له عند أبي حنيفة وخالفه صاحباه والشافعي وأحمد محتجين باطلاق الحديث.
(بذل المجهود علي سنن ابي داؤد ۴:۱۶۹ باب احياء الموات)

د غصب په دعوی کې ذوالید او خارج څوک دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د ځمکې د مالک زید نه بکر ځمکه غصب کړلو سره په هغې باندې قابض شو، یو کال پس هغوی په شریعت باندې فیصله کول وغوښتل نو آیا غاصب (بکر) ذوالید دې یا نه؟ که ذوالید دې نو د غاصب دپاره قسم شته یا نه؟ حال دا چې د غاصب دپاره څوک ګواه نشته؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم..... ١٧ جولائی ١٩٧٦ء

الجواب: که زید دا ثابته کړي چې په دې ځمکه باندې بکر په طور د غصب قبضه کړې ده نو زید به ذوالید وی کنه نو ذوالید به نه وی.

کما فی التکملة ٢: ١٧ ولو غصب أرضا وزرعها فادعی رجل أنها له وغصبها منه فلو برهن علی غصبه واحداث یده یکون هو ذاید والزارع خارجا ولو لم یثبت احداثه فالزارع ذوید والمدعی هو الخارج الخ(١). وهوالموفق

د دعوې د عدم سماعت په وجه د مقدمې نقصان د حکومت نه وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو تعلق دار چالاک سړې د غیرمسلم د پریښودلې شوې کورونو دخل او قبضه په ذریعه د سپارلو حاصله کړې او وروستو منکر کېدو سره د ملکیت دعویدار وی، او د مالکانو قبضه په ذریعه د نوټس د حکومت په نوم ٢۴ مارچ ۵١ء او فیصله ١٨ جون ۵٣ء، ١٣ فروری ۵٢، ١٩ اګست ۵٦ء، ٨ دسمبر ۵٢ء، ١٨ جولائی ٢٠ء باندې ثابت شی، او وروستو د سروے په ذریعه د رجسټر د ١١ جولائی ۵۵ء دعوی د مهاجر کشمیری نصیر الدین په ذریعه د تکذیب فیصله جات ١٨ مارچ ٢٠ء وغیره وکړی، او مدعیان د تکمیل د درخواست په ذریعه د سماعت تکمیل طلب کړی خو بغیر د سماعت نه یك طرفه فیصله وشی، مدعیان د دې فیصلې خلاف دعوی د تکمیل د سماعت دپاره د سول

---

١) (تکملة رد المحتار ١٢: ٢ باب دعوی الرجلین، مطلب من أهم مسائل دعوی الرجلین معرفة الخارج من ذي الید)

جج په عدالت کې دائر کړی خو د مقدمې دوران عبدالقدیر وفات شی، او عدالت په وخت باندې خبر نه کړې شی، په دې وجه باندې دعوی د سماعت نه مانع شی، اګر چې د عبدالقدیر مدعی په ځای د مقدمې فیصله جات جواب طلب دی نو عرض دې چې د عدم سماعت په صورت کې هم مدعیان د نوټس په ذریعه او د حکومت په فیصلو سره د خپلې مقدمې د نقصان وکیل وغیره د طلب کولو حقدار دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالشکور وغیره، مدعیان ساکنان پیرپیائی نوښار، ۲۵ جنوری ۱۹۷۲م

الجواب: شرعا د دې نقصان نه ادا کول ضروری دی او نه نهٔ ادا کول. لهذا د مروجه قانون مطابق ستاسو وصول د مواخذې قابل نه دې. (**المسلمون عند شروطهم**) الحدیث.(١) **فقط**

پیسې اخستلو سره د حق شفعه نه د لاس اخستلو نه پس د ملکیت دعوی کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې دترهٔ اود وریرونو بیله بیله ځمکه وه، خو د دې ځمکې حدود بیل وو بیا دې ترهٔ خپله ځمکه په نورو ورونو باندې خرڅه کړه، نو دهغه ورارهٔ د هغه په ژوند کې په خرڅه کړې ځمکه باندې د شفعه دعوی وکړه، نو هغوی هغه ته د فیصلې کولو دپاره وویل خو مدعی حاضر نه شو، بیا د دې دواړو ورونو د وفات نه پس د هغوی په اولاد باندې دې مدعی تقریبا دیرش څلویښت کاله پس د دعوې اظهار وکړو، نو د دې دعوې په بناء قوم دا فیصله وکړه چې مدعی ته دې څلویښت زره روپئ ورکړې شی نو هغه به خپله دعوی پریږدی، د دې ذکر شوې فیصلې ګواهان موجود دی خو د دې باوجود دا مدعی تقریبا اتهٔ کاله پس دا دعوی کوی چې ما فیصله صرف د شفعې په باره کې کړې وه او زما د حق دعوی باقی ده کومه چې ما نه ده مغاف کړې، نو اوس د دې مدعی دا دعوی د خپل حق په باره کې څنګه ده؟ د هغه حق ثابتیدلې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خواجه عبدالماجد صدیق متعلم حقانیه......۷ ستمبر ۱۹۸۱م

---

(١) (صحیح البخاري ١:٣٠٣ کتاب الاجارة، باب أجرة السمسرة)

الجواب: دا مدعی نه د ځلورو زرو روپو مستحق دې او نه د شفعه کولو،

أما الأول فلما في شرح التنوير على هامش ردالمحتار ٤:٤ ١٤: لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة، وأما الثاني فلما في ردالمحتار ٤:٤ ١٤: قال في الأشباه فلو صالح عنها بمال بطلت ورجع (١)

پس د هغه د دعوې حق ساقط دې، او كه مدعی دا دعوی کوی چې د هغه په خرڅه شوې ځمکه کې زما حصه ده نو چې هر کله ددې مدعی او مدعی علیه ځمکه تقسیم شوې ده او بیله بیله ده او په قسمت کې غبن فاحش هم نه مسلم دې اونه ښکاره، نو دهغه دعوی غیر اصولی دعوی ده (٢) وهوالموفق

د مدعی او مدعی علیه ترمینځه د اختلاف په صورت کې به مقدمه کوم قاضی ته وړل وی

سوال: مايقول العلماء الكرام في المسئلة الآتية: ان المدعي والمدعى عليه كلاهما سكان الجيان خيل أفغانستان، والمدعي الآن يسكن في الباكستان ويريد مدافعة الخصومة الى قاضي الباكستان. والمدعى عليه ينكر ذلك ويقول اني أريد مرافعة الخصومة الى قاضي الجيان خيل في افغانستان، لأن المتنازع فيه موجود في الأفغانستان والمدعى عليه يسكن في الجيان خيل أفغانستان فقول من صحيح؟ بينوا توجروا

المستفتی: حاجی محبوب، گیان خیل مهاجر ... ١٧ ربیع الاول ١٤٠٣هـ

---

١) (ردالمحتار ٤:١٥ ٤ كتاب البيوع، مطلب لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة)

٢) قال العلامة الحصكفي: (ولو ادعي أحدهم أن من نصيبه شيئا) وقع (في يد صاحبه غلطا وقد) كان أقر بالاستيفاء او لم يقر به (لم يصدق الا ببرهان) أو اقرار الخصم او نكوله... (ولو اقتسما دارا وأصاب كلا طائفة فادعي أحدهما بيتا في يد الآخر أنه من نصيبه وانكر الآخر فعليه البينة (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ٥:١٨٦ كتاب القسمة)

الجواب: هذامما اختلفوافيه لكن المفتى به أن الخيار للمدعى عليه، كما فى الشامية۴:۴۱۹: قاضيان فى مصر طالب كل واحد منهما أن يذهب الى قاض فالخيار للمدعى عليه عند محمد وعليه الفتوىٰ(۱)، كذا فى خزانة المفتيين۳:۱۲۸ .والله أعلم

د مسلم يا مبرهن جاگير د الاټمنټ (ثبت كولو) حكم

سوال: څه فرمائى علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې په موجوده وخت كې چې د ځمكو كوم الاټمنټ حكومت كوى، آيا دا جائز دې؟ په داسې حال كې چې بعض ځمكه داسې هم وى كومه چې انګريزانو په خپل دور اقتدار كې موجوده ملكونو ته د جاګير په طور وركړې وى يعنى اخستلې جائيداد نه وى او موجوده حكومت د قابل الاټمنټ ځمكې څه نه څه قيمت هم د ځمكې مالک ته وركوى؟ بينواتوجروا

المستفتى: نثار احمد هيرو شاه، ملاكنډ ايجنسى ۱۹ جولائى ۱۹۷۹ء

الجواب: كه د دې ځمكو جاګير كيدل او د قومى دشمن صله كيدل مسلم يا مبرهن وى،نو دهغې الاټمنټ بغير د شک او شبهې نه جائزدې (۲) خصوصا دهغه جاګيردارانو ځمكې كوم چې د مستربهټو حمايت كونكى وو. وهوالموفق

---

۱) (ردالمحتار ۴:۴۶۶ كتاب الدعوى)

وقال العلامة ابن عابدين: (سئل) فيما اذا كان بالبلدة قاضيان فوقعت الخصومة بين المتد اعيين فالمدعي يريد أن يخاصمه الي قاض منهما و المدعي عليه يريد الآخر فلمن يكون الخيار (الجواب) الخيار للمدعي عليه عند محمد وعليه الفتوي كما في البزازية وبمثله افتي ابن نجيم صاحب البحر والشيخ الحانوتي والعلامة الرملي كما في فتاوٰه.

(فتاوي تنقيح الحامدية ۱:۳۱۷ كتاب القضاء، هل العبرة بقاضي المدعي الخ)

۲) وفي المرقاة: وقال قوم ان صلات السلاطين تحل للغني والفقير اذا لم يتحقق أنها حرام وانما التبعة علي المعطي قالوا لأن النبي ﷺ قبل ...[بقيه برصفحه آئنده...

د دفع د مدعی دپاره په دفع باندې معتبر شهادت ضروري دي

الاستفتاء: ١٦ اګست ١٩٨٦م

فیصله نامه

مدعی نمبر ۱: ګل ضمیر، خان ضمیر، مدعی نمبر ۲: خان مدار

مدعی علیه: ملا میر او جیلانی

په باره د معلومې او محدودې ځمکې کومه چې د مدعی علیه په قبضه کې ده (کیفیت) ګل ضمیر او خان ضمیر په دې ځمکه کښ، کومه چې په بیع اخستلې شوې ده د پلار نیکهٔ جائیداد نه دې، باقاعده د حصې دعوی کوی او خان مدار وائی چې د دې ځمکې د خرڅونکی زه هم وارث او رشته دار یم، ځکه چې دا اخستونکی د دې بائع رشته دار او وارثان دی، او دا دواړه مدعی علیه د دې درې واړو دعوی کونکو د دعوې نه انکاری دی یعنی وائی چې دا ځمکه په بیع اخستلې شوې ده، او په دې کې مونږ ګل ضمیر او

...بقیه ازحاشیه ګذشته] هدیة المقوقس ملک الاسکندریة واستقرض من الیهود مع قوله تعالیٰ اکٰلون للسحت قالوا وقد أدرک جماعة من الصحابة رضي الله تعالیٰ عنهم أیام الظلمة... وأخذوا منهم فمنهم أبوهریرة وابن عباس وابن عمروغیرهم رضي الله عنهم. (مرقاة المفاتیح ١٤٨:٦باب العطایا)

وقال العلامة المفتي محمد شفیع : د اقطاع یو صورت دادې چه چاته ځمکه ورکړې شي هغه مالک جوړکړې شی په دې صورت کې به دهغه د بیع او شراء وغیره ټول مالکانه تصرفات جائز وی. (اسلام کا نظام اراضی ۲۵، اقطاع یعنی عطاء جاگیر کی مختلف صورتیں)

وقال العلامة اللکهنوی: کومې بادشاهی عطایانې چه د همیشه انعام په طور وی، اود معطی له په قبضه کې راشی هغه د معطی له ملک جوړیږی، او دهغه د بیع او هبې وغیره ټول ملکیه تصرفات صحیح وی.

... وفي الواقعات الانعام المخلدوالمؤبد بمنزلة الملک یجوز بیعه وشراوه علي الصحیح. (مجموعة الفتاوي ١٣٥:٢ کتاب البیع، شامی عطااور وظائف کے متعلق مسئلہ)

خان ضمیر شریک وو خو دې دعوی کونکو خپله توله ځمکه په مونږ باندې
د عوضانه په معاوضه کښې خرڅه کړې ده او مونږ سره ئې صلح کړې ده

فیصله : چونکې خان مدار نه اخستل او خرڅول کړی دی او نه هغه په وخت
باندې د شفعې مقدمه دائر کړې ده لهذا د هغه دعوی او استحقاق ختم دې،
او چونکې ملا میر او جیلانی د نفس شرکت قائل دی خو دفع او مدافعت
کوی چې دې دعوی کونکو مونږ سره په معاوضه کې مصالحت کړې دې نو
اول دې دا مدافعین شهادت شرعیه حلفیه پیش کړی او که هغوی سره
باقاعده شهادت نه وی نو گل ضمیر وغیره دې قسم وکړی، الی ماذکرفی
شرح المجلة ۹۳۱: م ۱۶۳۲ (۱) نو هم د دې قاعدې په بناء باندې ملا میر او
جیلانی درې گواهان پیش کړل (۱) مسمی محمد نذیر ولد تازه میر ۲
مسمی شیر حسن ولد لعل ۳ مسمی کله داد ولد راز میر، هر یو پټه په قسم
سره شهادت ورکړو چې دا اخستلې شوې ځمکه کومه چې متنازع فیه ده، د
عوضانه په معاوضه کې ملا میر او جیلانی ته ورکړې شوې ده، په دې کې د
گل ضمیر او خان ضمیر هیڅ حصه باقی نه ده، او دا معاوضه کلکه ده پس
په دې بناء باندې دا فیصله شرعیه واورولې شوه، چې دا اخستلې شوې
ځمکه د ملا میر او جیلانی ملکیت دې په دې کې د نورو دعوی کونکو هیڅ
حصه نشته، خو که په دې ځمکه کې د فریق مخالف آبادی شوې وی نو
هغوی ته به صرف د آبادئ قیمت ورکولې شی (۲) **وهوالموفق**

---

۱) وفي شرح المجلة :اذا أثبت من ادعي دفع الدعوي دفعه تندفع دعوي المدعي والا يحلف المدعي الأصلي بطلب صاحب الدفع فان نكل المدعي عن اليمين، يثبت دفع المدعي عليه وان حلف تعود دعواه الأصلية (شرح المجلة ۷۵: ۵ المادة: ۱۶۳۲ کتاب الدعوي)

۲) وفي شرح المجلة : اذا بني أحد أصحاب الحصص لنفسه في الملک المشترک القابل للقسمة بدون اذن الآخرين ثم طلب الآخرون القسمة تقسم فان اصاب ذلک البناء حصة بانيها فيها وان أصاب حصة الآخر فله أن يكلف بانيه هدمه ورفعه أي اذا لم يرض بدفعه قيمته له. (شرح المجلة ۱۱۸: ۴ المادة: ۱۱۷۳ کتاب الشركة)

د بیع د عقد نه پس د وفا یا د ګاڼې دعوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې (زید) خپله ځمکه په بل سړي بکر باندې په پنځلس سوه شل روپۍ (١٥٢٠) باندې بغیر د شرط او وعدې نه په بیع قطعی خرڅه کړې وی او دا بیع نامه بائع (زید) په خپل قلم سره لیکلې وی او د بیع قطعی سند ورکولو باندې اقراری هم وی او د مشتری (بکر) په قبضه کې ځمکه د لسو کالو نه پاتې شوې وی او دستوری حکومتی ټیکس ئې هم ادا کړې وی، د دې نه وروستو بکر د بل سړی (خالد) په لاس باندې په درې زره روپۍ باندې خرڅه کړې وی، او دویم مشتری (خالد) هم د یو نیم کال پورې قابض پاتې شوې وی او دویم بائع (بکر) په بیع قطعی باندې اقراری وی او بائع اول (زید) په خپل کلی کې موجودیدو سره قصدا په دې بیع باندې خبریدلو سره سکوت هم کړې وی بیا څو میاشتې پس اولنی بائع (زید) اول مشتری (بکر) ته تلو سره مشتری ثانی (خالد) نه زیاتې پیسې ورکولو سره طلب شراء کړې وی، هم دغه شان دواړه سندونه. د حکومتی ټیکس رسیدونه او بغیر د شرط او بغیر د وعدې نه د مذکوره محدود ځمکې په بیع قطعی باندې ګواهان هم موجود وی اوس بائع اول (زید) دبیع وفا یا رهن دعوی وکړی، نو آیا د هغه دعوی د شریعت په رڼا کې قابل سماع کیدې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سید غفار. J.A.V ټیچر سنګوا چترال.....١٢١ کتوبر ١٩٦٩ء

الجواب: په صورت مسئوله کې کله چې طرفین د ځمکې په بیع او ګاڼه کیدو کې مختلف دی یا د بیع وفا او بیع قطعی په تعین کې مختلف دی لهذا په هغوی کې چې کوم سړې ګواهان پیش کړی هغه اوګټله (١) او که

---

(١) وفي شرح المجلة: اذا أظهر الطرف الراجح العجز عن البينة تطلب البينة من الطرف المرجوح وان أثبت فبهاوالا يحلف معلوم أن الطرف الراجح اذا أقام البينة يحكم له. (شرح المجلة ٥:٤٩٤ المادة: ١٧٦٩)

دواړه پیش کړي نو د بیع د مدعي قول به منظور وي. (۱) لان المدعی فی الحقیقة مدعی البیع والآخر منکر فافهم. فقط

د ملکیتي نهر په غاړه باندې ونې کرل

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې د کلي نه بهر یو حوض دې چې په هغې کښې د یوې غریزې نالې نه اوبه راځي د دې حوض نه د کلي خلق په طور د استحقاق خپل خپل پټي خړوب کوي، حوض او د هغې نه وتلې شوې نهر د زید ملکیت دې د حوض په غاړه باندې تقریبا د ځلویښتو کالو نه د زید ډیرې ونې ولاړې دي عمر (کوم چې د دې حوض نه استحقاقا خپل پټي خړوب کوي) زید ته ویلې دي چې دا ونې د حوض اوبه جذب کوي د دې نه په اوبو کښې کمې راځي کوم چې زمونږ دپاره مضر دې لهذا دا ونې ویستل پکار دي، زید په جواب کښې وائي چې دا نهر او غدیر (حوض) دواړه زما موروثي ملکیت دې او د دومره اوږدې مودې نه د اونو په باره کښې چا هم اعتراض نه دې کړې، مهرباني کولو سره د دې مسئلې وضاحت وکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی سیف الله جدانی. فاضل حقانیه... ۲٦ جولائی ۱۹۵٦ء

الجواب: که دا حوض او نهر د زید ملکیت وي نو دا ونې به برقرار ساتلې شي. بناءاعلی الأصل المشهور أن القدیم یترك علی قدمه(۲) ولا یمنع أحد

---

۱) وأیضا فیها: ترجح بینة البیع علي بینة الهبة والرهن والاجارة... مثلا اذا ادّعي أحد علي آخر بقوله بعتک المال الفلاني أعطني ثمنه وقال المدعي علیه انت کنت وهبتني ذلک وسلّمتني اياه ترجح بینة البیع.

(شرح المجلة ٤٨٦:٥ المادة ۱۷٦٤)

۲) (شرح المجلة ۲۳:۱ المادة:٦)

من التصرف فی ملکه أبداً الا اذا أضر بغیره ضرراً فاحشا،(شرح المجلة ۶۵۷ م:۱۱۹۷)(۱) والأصل الأول فیها ۲۱م:۶_ او دا ضرر فاحش نه دې ځکه چې د حوائج اصلیه نه مانع نه دې، بله دا کله چې د اغیارو د نهر په غاړه ونې لګول ممنوع نه دی، نو د مملوکه نهر په غاړه ونې لګول به په طریق اول ممنوع وی. کما فی الهندیة ۴۳۵/۶ نهر ساقیة القوم فی بستان رجل فلصاحب البستان ان یغرس علی حافتیه(۲) وهوالموفق

د خوی په څادرو خرڅولو سره حاصل شوو پیسو باندې د پلار د اخستلې شوې ځمکې حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د منګا خان په دوه ځامنو کې میان محمد، څادرې رنګ کولې او هغه څادرې به د هغوی والد صاحب په بل کلی کې خرڅولې، په دې کاروبار سره میان محمد سره کافی پیسې راجمع شوې چې په هغې سره هغوی ځمکه واخستله، د میان محمد او منګا خان د بې تعلیمه کیدو د وجې نه د هغوی د ترۀ خوی فضل الهی د دې ځمکې انتقال د هغه د پلار (منګا خان) په نوم باندې وکړو، والد هغه وخت هم وویل چې انتقال د میان محمد په نوم باندې کول پکار وو ځکه چې دا ما د هغه په پیسو باندې اخستلې ده، او په مرض الوفات او یوم وفات کې ئې هم دا وویل،د پلار د وفات نه پس تر دولسو کالو پورې ځمکه میان محمد خوړله او حکومت د دې ځمکې انتقال د هغه دوه ځامنو (میان محمد او ګوهر دین) او یوې لور په نوم باندې وکړو، لور ئې وویل زه حصه نه اخلم او د ګوهر دین نه ئې کله چې د انتقال د واپسئ مطالبه وکړې شوه نو هغه میان محمد ته وویل چې فصل ته خوره ځمکه دې زما په نوم باندې وی، اوس د کورنئ جهګړې په وجه باندې ګوهر دین د میان محمد نه د خپلې

---

۱ ﴾ شرح المجلة ۱۴۰:۴ المادة ۱۱۹۷)

۲ ﴾ (فتاوی عالمگیریة ۱۰۴:۵ الباب الثالث فیما یحدثه الانسان وما یمنع منه الخ)

حصې طلب ګار دي، ځکه چې ځمکه د هغه په نوم باندې هم ده او میان محمد وائي چې ځمکه زما ده ځکه چې زما په پیسو باندې اخستلې شوې ده، لهذا تاسو شرعي فیصله بیان کړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: امام دین، فضل الهی، کیمل پور .... ۱۶ مارچ ۱۹۶۹ء

الجواب: که د ګوهر دین په اقرار یا د میان محمد د ګواهانو نه دا ثابته شي چې منګا خان د شرکت په طور دا ځادر نه خرڅولو بلکې د اعانت او امداد په طور ئې خرڅولو نو په دې صورت کې د ګوهر دین دپاره ضروري ده چې د هغه انتقال واپس کړي. (۱) او که ګوهر دین د خپل پلار د شرکت د حصه دارئ مدعي وی او میان محمد د ګواهانو په ذریعه دا ثابته نه کړې شي نو میان محمد په قسم خوړلو سره هم کامیابیدلې شي. (۲) **وهوالموفق**

د دعوې د ابراء طریق فیصله

فیصله او طریق فیصله

طرفین: ۱: مسمی معرفت شاه او مسمی صاحب شاه او مسمی خانه دین وغیره

---

۱) قال العلامة المرغيناني: واذا أقر الحر العاقل البالغ بحق لزمه اقراره مجهولا كان ما أقربه أومعلوما. (الهداية ۳:۲۳۱ كتاب الاقرار)

وفي شرح المجلة: ادعي ارثا فبرهن المدعٰي عليه أن مورثه أقر أن المدعٰي ليس له أو هو ملك المدعٰي عليه أو علي اقرار الوارث قبل موت مورثه أو بعده أنه لم يكن لأبيه أو علي اقراره أن أباه مات والدار ليست له كان كله دفعا.
(شرح المجلة ۵:۷۳ فروع المادة ۱۶۳۱)

۲) وفي شرح المجلة: اذا أثبت من ادعٰي دفع الدعوٰي دفعه تندفع دعوٰي المدعي والايحلف المدعي الأصلي بطلب صاحب الدفع فان نكل المدعي عن اليمين يثبت دفع المدعٰي عليه وان حلف تعود دعواه الأصلية.
(شرح المجلة ۵:۷۵ المادة: ۱۶۳۲)

۲: مسمی طراز گل، مسمی احبار گل، مسمی محمد غلام، مسمی محب گل او مسمی واحد شاه

دعوی په باره د ځمکې کښې

مسمی طراز گل وغیره دا دعوی کوی چې مسمی معرفت شاه او مسمی صاحب شاه وغیره مونږ ته ابراء کړې ده، او د خپلې دعوې نه ئې لاس اخستلې دې او مسمی معرفت شاه وغیره انکاری دی.

طریق فیصله دا ده چې مسمی طراز گل وغیره دې په شهادت شرعیه سره ابراء ثابت کړی.

فیصله: دمسمی طرازگل وغیره دوه گواهانو ۱: مسمی محمدرسان ولد محمد رسول ۲: مسمی آدم خان ولد میر شاه حلفیه شهادت ورکړو چې دې معرفت شاه، چې د ټولو طرفونو مختار او وکیل وو، دې طراز گل وغیره ته ابراء کړې وه، پس د دې شهادت په بناء دا ځمکه د مدعی طراز گل وغیره ملک شو، او د طرف مخالف معرفت شاه وغیره په دې کې هیڅ حق پاتې نه شو.(۱) بدهشعبان ١٤٠٤هانگشت: معرفت شاه، انگشت: صاحب شاه، انگشت: خانه دین، انگشت: محمد رسان، انگشت: طراز گل، دستخط: احبار گل، انگشت: محمد غلام، انگشت: محب گل، انگشت: واحد شاه، دستخط: آدم خان.

د هبې مدعی او د میراث د مدعی ترمینځه طریق فیصله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې دعوی کوی چې دا جائیداد ماته پلار په ژوند باندې راکړې وو، بل ورور منکر دې، که گواهان وی او که نه وی څه حکم به وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: (مفق) محمد سردار (شیخ الحدیث) دارالعلوم عربیه تل.. صفر ١٤٠٥هـ

---

۱) قال العلامة ابن الهمام: قال وما سوي ذلک من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين أو رجل وامرأتين سواء كان الحق مالًا او غير مال مثل النكاح والطلاق... والهبة والاقرار والابراء. (فتح القدير ٦:٤٥١ كتاب الشهادة)

الجواب: په دې کې بعض د میراث دعوی کونکی دی او بعض د هبې لوکه دهبې د مدعی قابض کیدل نه مسلم وی او نه مبرهن، نو د هغه دعوی به کالعدم کیدو سره به جائیداد باقاعده تقسیمیږی (۱) اوکه د موهوب له قابض کیدل ثابت شی نو دا مدعی علیه دې او دافع دې، که هغه سره شهادت شرعیه نه وی نو دا مخالف به قسم خوری. (۲)
بهر حال د طرفین د بیاناتو نه به معلومیږی چې دا دعوی ا لرجلین ده یا دعوی او دفع د دعوې ده. وهوالموفق

د ناحق دعوې د وجې نه د مدعی نه د عدالت خرچه اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید په عمرو باندې ناحق دعوی وکړه. عمر د شریعت په رڼا کې ځمکه وګټله. اوس عمرو وائی چې په دې مقدمه باندې چې زما څومره خرچه راغلې ده، نو آیا د هغې زه د زید نه د اخستلو حقدار یم یا نه؟ حال دا چې زه د زید نه په وصولولو باندې قادر هم یم. نو آیا د هغه نه په وصولولو باندې به زه مجرم جوړیږم یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا بدر منیر مهتمم دار العلوم مدنیه بټ خیله ملاکنډ ۱۶ جون ۱۹۸۶ء

---

۱) وفي الهداية :و تصح بالإيجاب والقبول والقبض...والقبض لا بد منه لثبوت الملک...ولنا قوله عليه السلام لا يجوز الهبة إلا مقبوضة والمراد نفي الملک.
(هداية ۲۸۳ : ۳ كتاب الهبة)

۲) وفي شرح المجلة "اذاأثبت من ادعي دفع الدعوي دفعه تندفع دعوي المدعي والا يحلف المدعي الأصلي بطلب صاحب الدفع فانِ نكل المدعي عن اليمين يثبت دفع المدعي عليه وان حلف تعود دعواه الأصلية.
(شرح المجلة ۵:۷۵ المادة ۱۴۳۲ كتاب الدعوي ،الفصل الثاني في دفع الدعوي)

الجواب: چونکې دا مدعی نه د دې خرچ مباشر دې او نه مکره دې لهذا په هغه باندې به خرچ واجب الادا نه وی (١) وهوالموفق

....

١) وفي شرح المجلة: اذااجتمع المباشروالمتسبب يضاف الحكم إلي المباشر ...المباشر هوالذي حصل التلف مثلا بفعله بلا واسطة ...والمتسبب ما حصل التلف لابمباشرته وفعله بل بواسطةهي العلة... وأما فعله فلاتاثيرله سوي أنه مفض إليه فان اجتمعا يضاف الحكم الي المباشر.
(شرح المجلة للاتاسي رحمه الله ٢٤٩:١المادة ٩٠)

باب التحکیم

د حکم په فیصله باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو عالم دې کله چې هغه فیصله کوی او حکم د کتابت نه ورکوی نو هغه د مدعی او مدعی علیه نه تقریبا شپیتۀ روپۍ اخلی او کله چې هغه په کتابت سره حکم نه ورکوی نو روپۍ وغیره نه اخلی هم دغه شان حکم ورکوی نو دا پیسې اخستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا عبدالله جان، موسی خیل لورالائی بلوچستان

الجواب: چونکې کتابت صفت دې لهذا په دې باندې اجرت اخستل جائز دی او صرف په فیصله باندې د اجرت جواز د مستثنیاتو نه دې، او رزق په قدر د کفایت د قاضی دپاره جائز دې، نو د حکم دپاره هم جائز دې،

لانه محبوس فی حقهما کما أن القاضی محبوس فی حق المسلمین فکما أن رزقه من بیت المال فیکون رزق المحکم من مال الخصمین فافهم ولم أجده صریحًا(١). وهوالموفق

---

١) قال العلامة الحصکفي: یستحق القاضي الأجر علي کتب الوثائق والمحاضر والسجلات قدر ما یجوز لغیره کالمفتي فانه یستحق أجر المثل علي کتابة الفتوي لأن الواجب علیه الجواب باللسان دون الکتابة بالبنان...وفي الصیرفیة: حکم وطلب أجرة لیکتب شهادته جاز. (الدرالمختار ٥:٦٣ مسائل شتي، کتاب الاجارة)

وأیضًا قال: وجواز رزق القاضي من بیت المال لو بیت المال حلالًا جمع بحق والا لم یحل وعبر بالرزق لیفید تقدیره بقدر ما یکفیه وأهله في کل زمان ولو غنیا. (الدرالمختار ٥:٢٧٥ کتاب الحظر والاباحة، فصل في البیع)

...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده...

د فیصلې کولو نه پس په محکمین کې د بعضو د فیصلې نه انکار کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دوه ډلو ترمینځه یوه معامله ده د هغې دپاره د قوم پنځلس معتبر اشخاص مقرر کړې شو، کوم چې نه علماء دی او نه قاضیان، نو دې معتبر کسانو فیصله وکړه، د فیصله کولو نه پس په دې معتبر کسانو کې څو کسانو انکار وکړو، چې مونږ د مدعی او مدعی علیه ترمینځه فیصله نه ده کړې، اوس په دوی کې د څلورو پنځو مقرر کړې شوې سرو د فیصلې نه انکار کول به قبول وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سید احمد وزیرستانی متعلم دارالعلوم حقانیه.........۱۹۶۹ء | ۲ | ۱۶

الجواب: که د فیصلې دعوی کونکی شهادت خارجیه پیش کړی نو د هغوی قول به منظور وی، کنه نو نامنظور وی،

(فی الهندیة ۳:۴۷۰) ولو حكما رجلين لابد من اجتماعهما حتى لو حكم أحدهما دون الآخر فإن ذلك لايجوز (ولا يصدقان على ذلك الحكم بعد القيام من المجلس الحكومة حتى يشهد(۱). وهوالموفق

د یوې ډلې د حکم معزول کولو نه پس فیصله کول کالعدم ده

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې فریقین دوه

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وقال العلامة أشرف علي التهانوي: په قضا باندې اجرت اخستل جائز نه دی. البته د بیت المال نه دکفایت په اندازه دنفقې اخستلو مستحق دې، په دې وجه چې داسرې د مسلمانانو په حق کې محبوس (ګیر) دې، او بیت المال د مسلمانانو مال دې، او د محبوس نفقه د من له الحبس د مال نه په وجه د جزاء الحبس وی، پس په دې وجه دې مفتش او محکم لره اجرت اخستل جائزنه دی خو چونکې دا د یو خاص وخته پورې دهغه په کار کې مشغوله دې ددې وخت دپاره به دده ضروری نفقه د معاملې والا د مال نه اخلی، نود ضروری نفقې په اندازه ددې وخت اخستل به جائزوی. (امداد الفتاوی ۳:۴۲۹ کتاب القضاء)

۱) (فتاوي عالمگيرية ۳:۳۹۹ كتاب أدب القاضي، الباب الرابع والعشرون في التحكيم)

علماء کرام د څمکې په باره کې په طور د ثالث تسلیم کړل، خو یو فریق ته په حکمین باندې د قوی قرائن د وجې نه یقین راغلو چې هغوی طرفداری کوی، په دې وجه د حکم اورولو نه مخکې یوې ډلې حکمین لره د معزول کولو اظهار وکړو او لیکلې عزل نامه ئې هم ورکړه، او په مجلس کې ئې اعلان وکړو چې دا حکمین مونږ ته منظور نه دی، او یو فریق د مجلس نه لاړو نو آیا د مجلس نه د تلو نه پس او د یوې ډلې عدم موجودګی او د عزل د اظهار باوجود حکمین د حکم اورولو او د شرعی فیصلې د صادر کولو شرعا مجاز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی سمندر خان، دره آدم خیل کوهاټ.... ۲۵ مئی ۱۹۸۹ء

الجواب: ومنه الصدق والصواب: په شرط د صدق او ثبوت دا تحکیم کالعدم او دا فیصله غیر نافذ ده، کذافی تحکیم الهدایة (۱) ورد المحتار (۲) والبحر والهندیة وغیرها. وهوالموفق

تحکیم بعد التحکیم جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دا یوه فتوی ستاسو مخې ته ده (کومه چې ما ته ملاؤ شوه)

دویم دا چې تحکیم بعد التحکیم جائز دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالستار، بلوچستان.... ۳۰ جون ۱۹۷۵ء

الجواب: این حکم وطریق حکم درست و موافق شرع متین اند، نیز واضح

---

(۱) قال العلامة المرغيناني: ولكل واحد من المحكمين أن يرجع مالم يحكم عليهما لأنه مقلد من جهتهما فلا يحكم الا برضاهما جميعا. (الهداية ۱۴۴: ۳ باب التحكيم)

(۲) وقال العلامة الحصكفي: وينفرد أحدهما بنقضه أي التحكيم بعد وقوعه كما ينفرد أحد العاقدين... فان حكم لزمهما ولا يبطل حكمه بعزلهما لصدوره عن ولاية شرعية. (الدرالمختار ۳۸۷: ۴ باب التحكيم)

بادکه تحکیم بعد التحکیم درست است، کما فی ردالمحتار ۴: ۳۴۹ وفی البحر ولورفع حکمه الی حکم آخر حکماه بعد، فالثانی کالقاضی یمضیه ان وافق رأیه والا أبطله(۱). وهوالموفق

د خصمین محکم له معزول کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د قوم میروزئ او شبوزئ ترمینځه د زمکې اختلاف وو، په دې اختلاف کې د قوم بابکرزئی دعوی وه، نو غیر حکومتی قاضی په تاریخ ۱۳ ستمبر ۱۹۸۱ء په انمبرک کې موقع او بیانات قلم بند کړل، او د قوم بابکرزئی مشهور ملک چهارشمه د قاضی مولوی دین محمد ولد ملا محمد جان خودیزئ ته د دعوی درخواست ورکړو، وروستو په ۱ اکتوبر ۸۱ء باندې قاضی دین محمد په تحصیل کې د فیصلې اورولو دپاره د دواړه قومونه مثلا قوم میروزئ او شبوزئ طلب کړل نو ملک چهارشمه جج صاحب ته د کوئټې نه اړډر راوړلو، خو قاضی صاحب د شریعت فیصله منع نه کړه او د دواړو قومونو ترمینځه ئې فیصله واوروله، لهذا په دې یو طرفه حالاتو باندې تاسو غور وکړئ چې آیا داسې صحیح ده؟ بینوا

المستفتی: ملک چهارشمه بابکرزئ...... ۲ ذی قعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: کله چې دا فیصله کونکې غیر حکومتی قاضی دې هغه لره څوک جج وغیره د فیصلې کولو نه‌نهٔ شی منع کولې، ځکه چې دا فیصله کونکی محکم دې، خو دا طرفین یا یو طرف هغه معزول کولې شی، پس که معترض والا طرف دا قاضی د تحکیم نه معزول کړو نو صحیح ده کنه نو دا طرف والا د دوباره فیصله کولو مجاز نه دی.(۲) والله اعلم بالصواب

---

۱) (ردالمحتار ۳۸۸: ۴ باب التحکیم)

۲) قال العلامة الحصکفي: ویتفرد أحدهما بنقضه أي التحکیم بعد وقوعه... فان حکم لزمهما ولا یبطل حکمه بعزلهما لصدوره عن ولایة شرعیة. ...[بقیه بر صفحه آئنده...

د حکم گواهانو ته د ښځې په طلاق باندې قسم ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد او عمرو د شرعی فيصلې دپاره يو عالم دين حکم مقرر کړو. عمرو کله چې دعوی وکړه او دوه معزز سړی ئې په طور د گواه پيش کړل نو حکم ښځې ته د طلاق ورکولو په قسم باندې اصرار وکړو، پس مدعی او گواه بغير د فيصلې کولو نه واپس راغلل آيا په شريعت محمدی ﷺ کې حکم ته حق شته چې گواهانو ته قسم ورکړی؟ او بيا په قرآن هم قسم ورکړی او په طلاق هم؟ بينواتوجروا

المستفتی: محمد رفيق

الجواب: چونکې د حکم (ثالث) دپاره تزکيه کول گران دی لهذا که حکم گواهانو ته قسم ورکړی نو جائز ده.

يدل عليه ما روي في تنقيح الفتاوی ١: ٣٧٩ وفی زماننا لما تعذرت التزکية بغلبة الفسق اختار القضاة تحليف الشهود کما اختاره ابن أبي ليلى لحصول غلبة الظن (١) وفی الدرالمختار: وقيل ان مست الضرورة فوّض (التحليف بالطلاق والعتاق) إلى القاضی (٢). وهوالموفق

...

[...بقيه ازحاشيه گذشته]

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ٥: ٣٨٧ باب التحکيم)... وقال العلامة المرغيناني: ولکل واحد من المحکمين ان يرجع مالم يحکم عليهما... واذا حکم لزمهما لصدور حکمه عن ولاية عليهما.

(الهداية ٣: ١٤٤ باب التحکيم)

١ ﴾ (فتاوي تنقيح الحامدية ١: ٣٤٩ کتاب الشهادة)

٢ ﴾ (الدر المختار ٤: ٤٧٥ کتاب الدعوي)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوٰی فریدیہ

کتاب الشهادة واليمين

قال اللہ تبارك وتعالٰی:

وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ
وَمَنْ يَّكْتُمْهَا فَإِنَّهٗ آثِمٌ قَلْبُهٗ ؕ
(سورة النسآء)

قال رسول اللہ صلّی اللہ علیہ وسلّم:

اَلبیّنة علی المدّعی والیمین علی مَن اَنکر
(الحدیث)

....

کتاب الشّهادة والیمین

د شهادت نه د انکار کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: د حق د شهادت ورکولو نه د زید انکار کول د قرآن پاک د صریح احکاماتو منافی دی یا نه؟

۲: که د حق په شهادت ورکولو باندې د جناب انکار کول د قرآن د صریح احکاماتو خلاف ورزی ده نو د دې اثر به د هغه په منصب امامت باندې مرتب کیږی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مختیار احمد، لنک روډ، ایبټ آباد.... ۶ جولائی ۱۴۰۱ھ

الجواب: د نظام شرعی د رائج کیدو نه مخکې د یو شاهد د شهادت نه انکاری کیدل جرم شرعی نه دې که حاکم مسلمان وی، مرزائی شیعه وغیره نه وی او په شهادت باندې مبنی کیدونکې فیصله د شریعت سره متصادم نه وی او د دې مدعی نور ګواهان هم نه وی نو د شاهد انکار جرم دې. صوناً للحقوق عن الضیاع(۱). وهوالموفق

---

۱) قال العلامة المرغیناني: الشهادة فرض تلزم الشهود ولا یسعهم کتمانها اذا طالبهم المدعي لقوله تعالیٰ: ولا یأب الشهداء اذا ما دعوا، و قوله تعالیٰ: ولا تکتموا الشهادة ومن یکتمها فانه آثم قلبه. (الهدایة ۳:۱۵۴ کتاب الشهادة)

وفي الأشباه والنظائر: کتمان الشهادة کبیرة ویحرم التأخیر بعد الطلب إلا في مسائل: أن یکون عاجزاً عن الذهاب وفیما إذا قام الحق بغیره وأن یکون الحاکم جائراً.

(الأشباه والنظائر علي هامش الحموي ۲:۳۶۸، کتاب القضاء والشهادة)

د ړوند سړي د ګواهئ حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د ړوند سړي ګواهي په شريعت کې څه حيثيت لري؟ په شريعت کې د ړوند سړي ګواهي په کومو امورو کې مسموع او مشروع ده؟ آيا د ړوند سړي ګواهي د يو بينا سړي د ګواهئ برابر کيدې شي؟ حال دا چې په امر مشروع کې يو هم بينا سړې د ګواهئ دپاره تيار نه شي او يو ړوند سړې فردا ګواهي ورکړي او هغه هم صرف د خپلولئ په خاطر، آيا دا جائز ده؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: حافظ مياں ګل، مقام تنګی تحصيل هنګو .....۵ جولائی ۱۹۶۹ء

الجواب: ړوند سړې ګواه جوړيدې شي خو د حاکم په نزد ګواهي نه شي ورکولې، يعنی د حاکم په نزد په ټولو امورو کې د هغه ګواهي نامنظور ده اګر چې بل څوک ګواه په دې علاقه کې نه وی، هم دا د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دې او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد د ړوند سړي ګواهي په هغه امورو کې صحيح ده په کومو کې چې اوريدل کافي وی مثلا، نسب، نکاح، دخول وغيره، او په کومو کې چې تسامع کافی نه وی په هغې کې هم د ړوند سړي ګواهي صحيح ده خو په دې شرط چې د سماع په وخت بينا وی.

في الهندية ۳:۵۳۷: ولا تقبل شهادة الأعمى مطلقًا سواء عمي قبل التحمل أو بعده فيما تجوز الشهادة فيه بالتسامع أولا تجوز، وقال أبو يوسف رحمه الله تجوز فيما طريقه السماع وما لا يكفي فيه السماع إذا كان بصيرًا وقت التحمل أعمى عند الأداء إذا كان يعرفه باسمه ونسبه كذا في فتح القدير، هذا إذا كان المدعى شيئًا لا يحتاج إلى الإشارة إليه وقت الاداء أما إذا كان شيئًا يحتاج إلى الإشارة فلا تقبل شهادته إجماعًا هكذا في البدائع (۱) فقط. وهو الموفق

---

۱ ﴾ (فتاوي هندية ۴۶۵، ۴۶۴ :۳، الباب الرابع فيمن لا تقبل شهادته)

وفي البحر الرائق :قوله (ولا تقبل شهادة الأعمي) ...[بقيه بر صفحه آئنده...

د فاسق د شهادت حکم

سوال: چه میفرمایند علماء کرام و بزرگان دین متین اندریں مسئله که در حادثه از قاضیانِ حکم شرعي صادر شود بجانب مدعي گواهان مطابق شریعت مقرر کند بعد ازان مدعٰي علیه بر گواهانِ مدعي هر قسم اعتراضات جراحات خیال دارد، لهٰذا برائے علماء دین متین باعث استفتاء گر دیدم که موجوده وقت چگونه شهادت عند الشرع قبول و منظور است نفس شهادت و شهادة علي الشهادةدر تواسع فرق دارد یاندارد،فسق مانع شهادت است یا مانع نیست ،موجوده وقت و زمان کدام طعنات و اعتراضات بر شاهد وارد خواهد کرد، از هر گونه و پهلو سوج و نظر عمیق تفصیلاً ضرورة عنایت فرمائید، احتیاج کثیر الوقوع افتاده و پیش آمده دلشکني و ناراضگي مفرمائید تاکید زائد دانید.والسلام

المستفتي : متعلم دار العلوم

الجواب: در کتب فقه مسطور است که مناسب عدم قبول شهادة فاسق است و اگر قبول کند صحیح بود،قال فی الهداية:فإنه لاینبغی أن یقبل القاضی شهادته ولوقبل جازعندنا،(کتاب أدب القاضی) (۱)واعتراضات و

...بقیه ازحاشیه گذشته] فشمل الأعميٰ وقت الشهادةقبل التحمل أو بعده ...و شمل ما كان طريقه السماع خلافًا لأبي يوسف رحمه الله تعاليٰ كما في فتح القدير. (البحر الرائق)
و قال العلامة ابن عابدين : قال الرملي عبارة الفتح و قال ابو يوسف رحمه الله يجوز فيما طريقه السماع وما لا يكفي فيه السماع إذا كان بصيراً وقت التحمل أعمي عند الأداء إذا كان يعرفه باسمه و نسبه .
(منحةالخالق علي هامش البحر الرائق ۷:۷۷،باب من تقبل شهادته)

۱) (الهداية ۳:۱۳۲،کتاب أدب القاضي)

طعنات درباب من لا یقبل شهادته مسطور اند(١)و فرق درین طعنات باعتبار زمانه نیست فقط.وهوالموفق

د ګیره خرئیلی سړی د شهادت حکم

سوال: حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم! د ګیره خرئیلی په باره کې شرعی حکم او په هغې باندې وعیدونه مفصل بیان کړئ او د ګیره خرئیلو د ګواهئ څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اشرف جنجوعه، کراچی.... ١٨اګست ١٩٧٩ء

الجواب: ګیره ساتل واجب او سنت المرسلین دی.(٢) او د دې خرئیل حرام دی.(٣)

---

(١) و في كنز الدقائق :ولا تقبل شهادة الأعمي والمملوك والصبي والمحدود في قذف والولد لأبويه و جديه و عكسه وأحد الزوجين للآخر والسيد لعبده و مكاتبه والشريك لشريكه فيما هومن شركتهما والمخنث والنائحةوالمغنية والعدو إ نت عداوة دنيوية و مد من الشرب علي اللهو و من يلعب بالطيور و يغنّي للناس أو يرتكب ما يوجب الحدالخ.

(كنز الدقائق ٣: ٢٩٠كتاب الشهادة ،باب من تقبل شهادته و من لا تقبل)

(٢) عن عائشة رضي الله تعاليٰ عنها قالت قال رسول الله ﷺ عشر من الفطرة أي عشر خصال من سنة الأنبياء الذين أمرنا أن نقتدي بهم فكأنا فطرنا عليها، قص الشارب و إعفاء اللحية ...الخ.(مرقاة المفاتيح ٢:٤ ٢،باب السواک)

و قال المحدّث الدهلوي رحمه الله تعاليٰ:حلق كردن حرام است وروش افرنج و هنود است و گذا شتن آن بقدر قبضه واجب است و او راسنت گويند بمعني طريقه مسلوكه در دين است يا به جهت آن كه ثبوت آن به سنت است چنانكه نمازِ عيد را سنت گفته اند.

(أشعة اللمعات ١:٢١٢،باب السواک)

(٣) في فيض الباري : و أما قطع ما دون ذلک فحرام إجماعًا بين الائمة رحمهم الله تعالي.

(فيض الباري ٤:٣٨٠،باب إعفا اللحي)

او دا سړي مردود الشهادة دي. (١) كما في تنقيح الفتاوى ١: ٣٥١: المرأة إذا قطعت شعر رأسها أثمت ولعنت ولذا يحرم للرجل قطع لحيته وفيه أيضا وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم فحيث أدمن على فعل هذا المحرم يفسق (٢). وهوالموفق

د فاسق او د مستور الحال د شهادت حكم

سوال: څه فرمائی علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې په يوه ځمكه باندې اختلاف واقع شو، قاضی صاحب د مدعی نه شهادت طلب كړو خو مدعی عليه اعتراض وكړو چې د عادل شهادت پكار دې په دې زمانه كې عادل نشته اوس څه وكړو د كوم سړی شهادت قبول دې. بينواتوجروا

المستفتی: مولوی گل ولی خان ١٥ جنوری ١٩٦٩ء

الجواب: كله چې عادل موجود نه وی نو زمونږ په مذهب كې د فاسق (٣)

---

١) قال العلامة السغدي رحمه الله تعالي: و أما التي ترد لأجل التهمة فهي علي ستة عشر وجها...والثاني معلن الفسق والفجور.
(النتف في الفتاوي ٤٩٠، كتاب الشهادات)

٢) (فتاوي تنقيح الحامدية ١: ٣٥١، كتاب الشهادة)

٣) في شرح المجلة :فالفاسق أهل للقضاء فلو قلد يصح إلا أنه لا ينبغي أن يقلد كما في حكم الشهادة فإنه لا ينبغي أن يقبل القاضي شهادته ولو قبل جاز عندنا و أثم. (شرح المجلة ٦: ٣٥، المادة ١٧٩٤)

و قال الحصكفي رحمه الله تعالي: و شرط أهليتها (الشهادة) شرط أ هليته ...والفاسق أهلها فيكون أهله.
(الدر المختار ٤: ٣٣٣، كتاب القضاء)

او مستورالحال (۱) شهادت قاضی منظورولې شی. وهوالموفق

کیسټ د ګواهئ قائم مقام نه دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې او ښځه زنا وکړی، درې سړې د هغوی د زنا د فعل نه ویډیو کیسټ ډک کړی بیا هغه دریم سړې هغه کیسټ قاضی صاحب ته اوښائی نو آیا دا کیسټ د څلورو ګواهانو قائم مقام کیدې شی یا نه؟ ځکه چې په دې کې د دروغو احتمال هم نه وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ رفیع الله، متعلم دار العلوم اسلامیه چارسده..... ۲۸ شعبان ۱۴۰۹ھ

الجواب: چونکې تصویر او آواز ډیر کرته متشابه وی په دې نوعیت باندې هیڅ مسلم یا غیر مسلم حکم او فیصله نه کوی. (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة حسام الدين رحمه الله تعالیٰ: والمستور كالفاسق لا يكون خبره حجة في باب الحديث، وفي حاشيته: احترزبه عن باب القضاء إذ القاضي لو قضىٰ بشهادة المستور جاز عند أبي حنيفة نظراً إلى ظاهر العدالة.

(حسامي ۷۱حاشيه ۱۰ بحث السنة)

(۲) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالیٰ "لا بد في القرينة من أمرين: (۱)أن يوجد أمر ظاهر معروف يصلح أساسا للاعتماد عليه (۲)و أن توجد صلة موثرة بين الأمر الظاهر والأمر الخفي...ولا يحكم عند جمهور الفقهاء بهٰذه القرائن في الحدود.

(الفقه الاسلامي و أدلته ۸:۶۱۲۸، المبحث الرابع : القضاء بالقرائن)

و في شرح المجلة: الشهادة هي الإخبار بلفظ الشهادة يعني بقول أشهد بإثبات حق واحد في ذمة الآخر ...و يقال للمخبر شاهد... و للمخبرله مشهود له وللمخبر عليه مشهود عليه.

(شرح المجلة ۱۰۰۲، المادة ۱۶۸۴، الباب الأول في الشهادة)

د ټولو ګواهانو نه اجتماعا په یو کرت ګواهی اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بعض خلق وائی چې که زیات خلق د ګواهئ دپاره حاضر شی او هغوی ټول په یو کرت ووائی چې مونږ د الله پاک دپاره ګواهی ورکوو نو د هغوی ګواهی صحیح ده، موږ وایو چې نه د فرد واحد نه د شریعت او دعوی مطابق ګواهی اخستل صحیح دی د دې په باره کې تصریح وفرمایئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: اول ذکر شوې شهادت بغیر د قاعدې نه دې، او آخر ذکر شوې باقاعده دې.(١) فقط وهوالموفق

د فریقینو نه د ملکیت د وجې پوښتنه نه کول او د مدعی علیه نه ګواه طلب کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د فریق اول (مدعی) مطالبه ده چې ګواهان پیش کول زما حق دې او دویم فریق وائی چې ګواهان پیش کول زما حق دې قاضی صاحب د اول فریق په خبره باندې غوږ او نه ګرولو، او د ګواهانو پیش کولو دپاره ئې مدعی علیهم (دویم فریق) ته وویل، نو ګواهان پیش کول د چا په ذمه دی؟ قاضی صاحب د ملکیت د وجې پوښتنه نه خو د مدعی نه وکړو او نه د مدعی علیه نه او نه د ګواه نه، آیا د ملکیت د وجې پوښتنه کول د قاضی صاحب دپاره ضروری دې یا نه؟ د

---

١) في شرح المجلة :الشهادة هي الإخبار بلفظ الشهادة يعني بقول أشهد بإثبات حق واحد في ذمة الآخر ...و ركن الشهادة لفظ أشهد.
(شرح المجلة ١٠٠٢ ،المادة ١٦٨٤ :الباب الأول في الشهادة)

دې دوارو وجوهاتو په بناء د قاضي فيصله مجروح (منسوخ) كيدې شي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام حسن باچه، دير ..... ٢٩ اپريل ١٤٠١هـ

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا فيصله خلاف قاعده ده.

لان الأصل أن البينة على المدعي واليمين على من أنكر، (١) ولما في شرح المجلة ١٠٦٦: إذا شهد الشهود سأل الحاكم المشهود عليه ما تقول في شهادة هٰذين، أهما صادقان أم لا الخ (٢). وهوالموفق

د اجرتي قاتل د ګواهۍ او وعده معاف ګواه شرعي حيثيت

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې د اسلامي شريعت په رڼا كې د لاندې ذكر شوې خصوصياتو والا انسان د شريعت مطابق ګواه جوړيدې شي يا نه؟

١: داسې سړې چې اجرتي قاتل دې.
٢: د خپل قاتل كيدو اعتراف ئې كړې دې.
٣: د وعده معاف ګواه شرعي حيثيت څه دې؟ كه داسې اجرتي قاتل له وعده معاف ګواه جوړ كړې شي نو آيا د هغه شهادت قبليدلې شي يا نه؟ د پورته ذكر شوی سړی د شرعي حيثيت وضاحت فرمائيلو سره خپله مذهبي فريضه پوره كولو سره د شكريه موقع راكړئ؟

المستفتي: مولانا حافظ حسين احمد، مردان

الجواب: د پورته ذكر شوې خصوصياتو والا سړی ګواهي مردود او ناقابل سماعت ده، په دې وجه چې دا ګواه فاسق او فاجر دې. وفي شرح المجلة ١٠٣٥: م

---

١) (شرح المجلة: ٢١٤:١، القاعدة ٧٦)

٢) شرح المجلة: ١٠٦٦، المادة ١٧١٦، الفصل السادس في تزكية الشهود)

١٧٠٥ **يشترط ان يكون الشاهد عدلا.**[١] دويم په دې وجه چې دا ګواه په دې مقدمه کې طرف دار شوې دې. وفى شرح المجلة ١٠٣٦ : م ١٧٠٣ **والاصل ان كل من صار خصما فى حادثة لاتقبل شهادته**[٢]، او دريم په دې وجه چې دا ګواه د دې شهادت نه فائده حاصلوی، وفی شرح المجلة١٠٢٣ : م ١٧٠٠ : **يشترط ان لايكون فى الشهادة دفع مغرم اوجر مغنم يعنى ان لا تكون داعية لدفع المضرة اوجلب المنفعة.**[٣] وهوالموفق

د قاتل د قتل د مکان نه علاوه په بل مکان کې په موجوديدو باندې ګواه قائمول

سوال: څه فرمائی علماء کرام او مفتيان عظام د لاندې ذکر شوې فريقينو ترمينځه د فيصلې په باره کې:

١: فريق اول: يو سړې په ځنګل کې په ټوپک باندې زخمی شو، هغه په څوارلسو کسانو باندې دعوی وکړه چې په هغې کې يو هغه له زخمی کړې دې بيا ئې په هغه باندې دا دعوی هم وکړه چې هغه د زخمی کولو اقرار هم کړې دې د اعتراف ګواهان ئې هم پيش کړل.

جواب دعوی: مدعی عليهم منکر دی چې مونږ نه دې زخمی کړې بلکې په خپل ټوپک سره زخمی شوې دې بله دا چې د جرم د اقرار منکر دی بلکې دا

---

١) (شرح المجلة: ١٠٣٩، المادة١٧٠٥)

٢) (شرح المجلة ١٠٣٦ ، المادة١٧٠٣)

٣) (شرح المجلة ١٠٢٣ ،المادة ١٧٠٠)
و في الهندية :ولا يجر الشاهد إلي نفسه مغنماً ولا يدفع عن نفسه مغرماً و أن لايكون خصماً والعدالة و هي شرط وجوب القبول علي القاضي لا جوازه كذا في البحر الرائق.
(الفتاوي الهندية : ٣:٤٥٠،كتاب الشهادات :الباب الأول)

۱۷۰۵ **يشترط ان يكون الشاهد عدلا**.(١) دویم په دې وجه چې دا ګواه په دې مقدمه کې طرف دار شوې دې. وفی شرح المجلة ۱۰۳۶: م ۱۷۰۳ **والاصل ان كل من صار خصما فى حادثة لاتقبل شهادته**(٢). او دریم په دې وجه چې دا ګواه د دې شهادت نه فائده حاصلوی، وفی شرح المجلة ۱۰۲۳: م ۱۷۰۰: **يشترط ان لايكون فى الشهادة دفع مغرم اوجر مغنم يعنى ان لاتكون داعية لدفع المضرة اوجلب المنفعة**.(٣) **وهوالموفق**

د قاتل د قتل د مکان نه علاوه په بل مکان کې په موجودیدو باندې ګواه قائمول

سوال: څه فرمائی علماء کرام او مفتیان عظام د لاندې ذکر شوې فریقینو ترمینځه د فیصلې په باره کې:

۱: فریق اول: یو سړی په ځنګل کې په توپک باندې زخمی شو، هغه په څوارلسو کسانو باندې دعوی وکړه چې په هغې کې یو هغه لره زخمی کړې دې بیا ئې په هغه باندې دا دعوی هم وکړه چې هغه د زخمی کولو اقرار هم کړې دې د اعتراف ګواهان ئې هم پیش کړل.

جواب دعوی: مدعی علیهم منکر دی چې مونږ نه دې زخمی کړې بلکې په خپل توپک سره زخمی شوې دې بله دا چې د جرم د اقرار منکر دی بلکې دا

---

۱) (شرح المجلة: ۱۰۳۹، المادة ۱۷۰۵)

۲) (شرح المجلة ۱۰۳۶، المادة ۱۷۰۳)

۳) (شرح المجلة ۱۰۲۳، المادة ۱۷۰۰)

و في الهندية: ولا يجر الشاهد إلي نفسه مغنماً ولا يدفع عن نفسه مغرماً و أن لايكون خصماً والعدالة و هي شرط وجوب القبول علي القاضي لا جوازه كذا في البحر الرائق.

(الفتاوي الهندية: ۳:۴۵۰، كتاب الشهادات: الباب الأول)

وائی چې مدعی چې دکومې ورځې د اقراردعوی کوی هغه ورځ هغه د دعوې په مقام باندې موجود نه وو، او د جرح په طریقې ئې گواهان هم پیش کړل چې مدعی په مدعی علیه باندې د اقرار کومه دعوی کوی هغه باطل ده بلکې مدعی علیه په دې وخت کښ، چې د هغې مدعی دعوی کوی، مونږ سره موجود وو، نوپه دې کې د ثبوت گواهان مقدم دی که د جرح؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن فاضل حقانیه، ضلع دیر..... ۳ رمضان ۱٤۰۲ھ

الجواب: که د دې مدعی علیه په دې دویم کور کې موجودیدل په تواتر سره ثابت نه وی نو د دې مدعی علیه دا شهادت قائمول بې فائدې دی. (۱)

نظیره ما فی الفتاوی الأنقرویه ۱: ۳۹٦: شهد أنه استقرض من فلان یوم فلان فی یوم کذا فی بلد کذا فبرهن علی أنه لم یکن فی ذلک المکان بل فی مکان آخر لا تقبل لأن قوله لم یکن فیه نفی صورة ومعنی وقوله بل کان فی کذا نفی معنی وأصله ما ذکر فی النوادر. وهوالموفق

د تواتر خلاف د گواهۍ ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په موجوده وخت کې که حکومت د یو داسې واقعې گواهی طلب کړی چې د هغې عینی

---

(۱) في شرح المجلة: إذا قام رجل البينة علي آخر أنه قتل أباه عمداً في ربيع الأول فأقام المدعي عليه البينة أنه رأوا أباه حيا بعد ذلک الوقت ...فالبينة بينة المدعي ولا يلتفت إلي بينة المدعي عليه إلا أن تأتي العامة وتشهد بذلک فيؤخذ بشهادتهم.
(شرح المجلة ٥: ٣٧٩، المادة ١٧٣٤)

وفي الهندية: شاهدان شهدا علي رجل بقول أو بفعل يلزمه بذلک إجارة ...أو قصاص ...فأقام المشهود عليه بينة أنه لم يكن في ذلک الموضع أو لا في ذلک اليوم في الموضع الذي وصفاه لم تقبل منه البينة علي ذلک.
(فتاوي هنديه ٣: ٥١٢ الباب التاسع في الشهادة علي النفي)

لیدل نه وی شوې، خو په تواتر سره د هغه واقعې علم هغه سړی ته حاصل دې مثلا په یو ځای کې د ورځې څو کسانو یو کس قتل کړو او د کومو خلقو مخکې چې د هغه قتل وشو، هغه خلقو د هغه سړی مخکې ګواهي ورکړه بلکې په تواتر سره هغه ته د قاتلینو علم وشو په داسې حالت کې که حکومت هغه سړې مجبور کړی چې هغه ګواهي ورکړی او قاتلین د حکومت مخکې ښکاره کړی نو په دې صورت کې به دا ګواه د الله پاک په نزد ماخوذ وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: میاں ولایت شاہ، تحصیل چارسدہ.... ۲۶ نومبر ۷۲ء

الجواب: کوم امر چې د حاکم په نزد په تواتر سره ثابت شي نو دهغې خلاف به دعوی او ګواهي مردود وی.

یدل علیه ما فی شرح المجلة ١٠٨٦: التواتر یفید علم الیقین فلا تقام البینة علی خلاف المتواتر کما ذکر آنفا ولا تسمع الدعوٰی بخلافه لأن ذلك تکذیب الثابت بالضرورة(۱) الخ. وهوالموفق

د خورنی. اوخی او وراره د ګواهئ حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مدعی په خپله څه مقدمه کې خورئې، اوخې (د ښځې رور) وراره یا څوک نزدې رشته دار په

---

۱) (شرح المجلة ١٠٨٦، المادة ١٧٣٣)

و قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی "البینة إذا قامت علي خلاف المشهور المتواتر لا تقبل...قال في المحیط إن تواتر عند الناس و علم الکل عدم کونه في ذلک المکان أو الزمان لا تسمع الدعوٰي علیه لأنه یلزم تکذیب الثابت بالضرورة.

(فتاوٰي تنقیح الحامدیة ١:٣٦١، قبیل کتاب الوکالة)

طور د گواه پیش کولې شی یا نه؟ او بله دا چې کوم کوم رشته دار گواهان جوړیدې شی او کوم کوم نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاضی عبدالسلام، نوښار صدر

الجواب: که په صورت مسئوله کې نور موانع د شهادت موجود نه وی نو صرف دا مذکوره رشتې موانع د شهادت نه دی،

كما فى شرح المجلة ١٠٢٨ تا ١٠٣١: لا تقبل شهادة الأصل للفرع والفرع للأصل يعنى لا تقبل شهادة الآباء والأجداد والأمهات والجدات لأولادهم وأحفادهم، ولا شهادة الأولاد والأحفاد للآباء والأجداد والأمهات والجدات، وهكذا شهادة أحد الزوجين للآخر و أمّا ما عدا هؤلاء من الأقارب فتقبل شهادة أحدهم للآخر[1]. وهوالموفق

دښمن، زوم، سخر او د لور د سخرګنی د ګواهی حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زید او بکر په یوه ځمکه باندې دعوی وکړه، د زید گواه عمر دې کوم چې د زید زوم دې آیا د عمر گواهی د زید په حق کې د بکر خلاف صحیح ده؟

۲: زید او بکر په یو څیز باندې دعوی وکړه د بکر د لور کویژدن عمر سره شوې ده آیا د عمر گواهی د بکر په حق کې د زید خلاف قابل قبول ده؟

۳: د زید او بکر په یوه ځمکه باندې جهګړه ده د عمر لور د بکر د ځوی په نکاح کې ده آیا د عمر گواهی د بکر په حق کې د زید خلاف قابل قبول ده؟

---

۱ (شرح المجلة: ١٠٣١، ١٠٢٨، المادة ١٧٠٠)

و قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: و تقبل لأخيه و عمّه ومن محرم رضاعاً أومصاهرة ولا تقبل شهادة الزوجة لزوجها و هو لها والفرع لأصله و إن علا و بالعكس للتهمة.

(الدر المختار ٤: ٤٢٢، باب القبول و عدمه، كتاب الشهادة)

۴: زید او بکر په یوه ځمکه باندې دعوی وکړه د زید د عمر سره زړه دښمني ده کومه چې ښکاره ده آیا عمر، د زید خلاف ګواهي ورکولې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: تاج محمد، راولپنډی صدر

الجواب: سوا د آخری نه د ټولو ګواهي مقبول ده، کما لایخفی علی من راجع الی شهادة الهندية(۱) وردالمحتار(۲) والفتح(۳) وغیره،فقط

د میراث په دعوی کې د مورث د ملک د ثبوت ګواهان ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی دعوی وکړه چې دا ځمکه زما پلار ته د خپل پلار نه په میراث کې ملاؤ شوې ده، اوس به قاضی صاحب د دې زمانې ګواهان طلب کوی یا د نیکهٔ د زمانې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی گل ولی خان ... ۱۵ جنوری ۱۹۶۹ء

---

۱) في الهندية :و تقبل شهادة الرجل لأم مرأته و أبيها و لزوج ابنته.
(فتاوي هندية ۴۷۰:۳كتاب الشهادة :الفصل الثالث)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي''و تقبل لأم امرأته و أبيها و لزوج ابنته ولامرأة ابنه ...أن شهادة العدو علي عدوه لا تقبل و إن كان عدلا،و صرح يعقوب باشافي حاشيته بعدم نفاذ قضاء القاضي بشهادة العدو علي عدوه .
(ردالمحتار ۴۱۹،۴۲۴:۴كتاب الشهادات :باب القبول و عدمه)

۳) و قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالي''و تقبل لأم امرأته و أبيها و لزوج بنته ولامرأة ابنه ...الي أن قال بعد خمسة أوراق :إذ مجرد العداوة مانع من القبول كما في مسلم يعادي مسلماً.
(فتح القدير ۴۷۹،۴۸۹:۶،باب من يقبل شهادته و من لا يقبل)

الجواب: چې کومه دعوی وی په هغې باندې به گواهان قائم کولې شی، پس د میراث په دعوی کې ضروری ده چې داسې گواهان قائم کړې شی چاته چې د مدعی د والد ملکیت معلوم وی. (۱) وهوالموفق

د شراء د مدعی او په مدعی د ارث کې د چا شهادة معتبر دې؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دوه سړو يو نهر (چه پښتانهٔ ورته ورخ وائی) باندې اختلاف دې يو حاجی غلام او بل حاجی نازک، د حاجی غلام دا دعوی ده چې دا اوبه د څلويښتو کالو نه ما استعمال کړی دی، يعنی د کاروبار او د څاروو د څښلو دپاره، حال دا چې د حاجی غلام په دې ځای باندې نه ځمکه ده نه ئې هغې ته نزدې کورونه دی، او نه دا نهر د هغوی ځمکه ده او هغه دا دعوی کوی چې دا ځمکه د نهر په خوا کې مونږ اخستلې ده حال دا چې د دې خبرې نه هغه سره څوک گواه شته

---

(۱) قال الحصكفي رحمه الله تعالى: و لزم في صحة الشهادة (الجر) بشهادة إرث بأن يقولا مات و تركه ميراثا للمدعي (إلا أن يشهدا بملكه عند موته)".

و قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله الجر) أي النقل أي أن يشهد بالانتقال و ذلك إما نصا كما صوره الشارح أو بما يقوم مقامه من إثبات الملك للميت عند الموت.

(الد ر المختار مع رد المحتار ۴۳۵: ۴، باب الاختلاف في الشهادة)

و في الهندية: إذا ادعي دارا في يد إنسان أنها له ورثها من أبيه و جاء بشهود شهد وا أنها كانت لأبيه إلي أن مات و تركها ميراثا لا نعلم له وارثا غيره أو شهدوا أنها كانت لأبيه يوم الموت فالقاضي يقبل هذه الشهادة.

(فتاوي هندية ۴۹۱: ۳، الباب السادس في الشهادة في المواريث)

نه څه لیک، او د هغې د استعمال دپاره نور هم ځایونه شته. او د حاجی نازل دعوی ده چې دا ځمکه زمونږ د پلار نیکة ده او فی الحال په موقع باندې هم د حاجی نازک ځمکه ده او په ځمکه باندې هغوی سره ګواه هم موجود دی، او هغې ته نژدې کورونه هم دی تاسو راته جواب راکړئ. بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم ١٥ جولائی ١٩٨٦ء

الجواب: حاجی غلام د شراء مدعی دې، او حاجی نازک د میراث مدعی دې پس چا سره چې شهادت شرعیه موجود وی نو د هغه قول به معتبر وی (١) او که دواړو سره شهادت شرعیه موجود دې نو د خارج شهادت به منظور وی (شرح المجلة) (٢). والله اعلم بالصواب

د بیع د مدعی او د امانت په مدعی کې د چا ګواهان مقدم دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید په یوه ځمکه باندې د دیرشو کالو نه قابض دې او په هغې کې ئې ونې هم لګولې

---

١) في شرح المجلة: إذا أظهر الطرف الراجح العجز عن البينة تطلب البينة من الطرف المرجوح فان أثبت فبها وإلا يحلف. (شرح المجلة ١١٣٦، المادة ١٧٦٩)

٢) في شرح المجلة: ترجح بينة الخارج أيضا علي بينة ذي اليد في دعاوي الملك المقيد بسبب قابل للتكرار ... إذا ادعي واحد علي آخر دكانا في يده بأنه ملكه اشتراه من زيد و مع هذا وضع هذا الرجل يده عليه بغير حق و قال ذواليد إني اشتريته من بكر أو ورثته من والدي ولذلك وضعت يدي عليه ترجح بينة الخارج و تسمع. (شرح المجلة ١١١٨، المادة ١٧٥٨)

وفي التكملة: ادعيا ملكا بسببين مختلفين من اثنين والعين في يد أحدهما ولم يورّخا يقضي للخارج.

(تكملة ردالمحتار ٢:٢٥، مسئلة ٩٣، باب دعوي الرجلين)

دی او هغه تر اوسه پورې په دې باندې پنځوس زره روپۍ خرچ کړې دی، اوس عمر دعوی کړې ده چې دا ځمکه ما زید ته په طور ته امانت ورکړې ده او د زید نه مې نولس روپۍ قرض اخستلې وې شرط دا وو چې کوم وخت زید د مودعه ځمکې نه دا پیسې د پیداوار په ذریعه پوره کړې نو ځمکه به واپس کوی، زید وائی چې نه! تاسو (عمر) دا ځمکه د امانت په طور نه وه ورکړې بلکې په بیع قطعی باندې دې ورکړې وه، اوس دواړه په شریعت باندې فیصله کوی زید د بیع قطعی دعوی کوی او هغه سره د بیع قطعی ګواهان هم موجود دی او عمر د امانت دعوی کوی او هغه سره د امانت ګواهان هم موجود دی شریعت دا ځمکه چاته ورکوی او د چا ګواهان معتبر دی؟ د حوالو سره مسئله زر راولیږئ ځکه چې جهګړه د استفتاء پورې موقوف ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی اکبر زمان، پهاړ خیل بنوں... ۲۱ اپریل ۷۰ء

الجواب: په صورت مسئوله کې به د ذوالید ګواهان مقدم کولې شی.

وقال فی الهدایة: وإن أقام الخارج البینة علی الملك المطلق وصاحب الید البینة علی الشراء منه کان صاحب الید أولی (۱) وهکذا فی

۱) (الهدایة: ۳:۲۲۲، کتاب الدعوي: باب ما یدعیه الرجلان)

وفي شرح المجلة: ترجح بینة التملیک علي بینة العاریة والإیدع والغصب مثلًا إذا ادعي واحد المال الذي هوفي يد الآخر قائلاً إني کنت أعرته إیاه وأراد استرداده وقال المدعٰي علیه کنت بعتني إیاه أوو هبتنیه تُرجّح بینة البیع أوالهبة. (شرح المجلة ۱۱۳۲، المادة ۱۷۶۳)

الدرالمختار(١)

او په ظاهر کې هم دا معلومیږی چې ذوالید مدعی دې د شراء او خارج منکر دې ځکه چې اصل ملک خو د خارج دپاره د جانبین د طرف نه مسلم دې او باقی پاتې شو دا سوال چې خارج دفعل زائد یعنیٰ د ودیعت یا رعایت دعوی کوی لهذا دا به مقدم وی، لما فی ردالمحتار: الااذاادعی الخارج علیه فعلی غصب او ودیعة او اجارة ونحوها فی روایة درر (٢) انتهی . نو دا په هغه صورت کې ده چې په سبب مکرر باندې ګواه قائم کولې شی. (٣) نو په دې صورت کې اګر چې خارجی دسبب مکرر دعوی نه کوی خو بهر حال د هغه ګواهان به د زیادت د اثبات د وجې نه مقدم کولې شی (٤) هذا ماعندی ولعل عندغیری احسن منه.

د میراث په دعوی کونکو کې د چا ګواهان معتبر دی؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې : د سوال خلاصه دا ده چې په اول صفحه کې د مفتی صاحب نه رائې طلب کول دی او په دویمه صفحه کې د میراث د دعوې ذکر دې، په دریمه صفحه کې د یو عدد دکان او د دوه عدد دکانونو ذکر دې، په څلورمه صفحه کې د دعوې اثبات دې، په

---

١) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي" فإن برهن خارج علي الملك و ذواليد علي الشراء منه فذو اليد أحق من الخارج اجماعاً. (الدرالمختار ٤:٤٨٩باب دعوي الرجلين)
(الدرالمختار ٤:٤٩٠،باب دعوي الرجلين)

٢) (الدرالمختار ٤:٤٩٠،باب دعوي الرجلين)

٣) في شرح المجلة :ترجح بينة الخارج أيضاً علي بينة ذي اليد في دعاوي الملك المقيد بسبب قابل للتكرار ولم يبين فيها التاريخ كالشراء....ومثل الشراء أيضاًكل سبب قابل للتكرار. (شرح المجلة ١١١٨،المادة ١٧٥٨)

٤) في مجموعة قواعد الفقه : البينة المثبتة للزيادة هي المقدمة.
(مجموعة قواعد الفقه ٦٧ :القاعدة ٦٨)

پنځمه صفحه کې جعلي شریعت نامه ده، په اوومه صفحه باندې د هبې اقرار، په اتمه صفحه کې فیصله ده په حق د مختیار احمد، په نهمه صفحه کې صلح نامه او په لسمه صفحه کې فیصله په خلاف د مختیار احمد ذکر ده، په دې کې د فیصلې طریقه اوښایئ؟

الجواب: په صورت مسئوله کې دواړه طرفونه د میراث مدعی دی لهذا چې کوم بینة پیش کړي د هغه په حق کې به فیصله کولې شي،

وفي التکملة: ولو ادعیا ملکا إرثا لأبیه والعین في ید أحدهما لم یؤرّخا یقضی للخارج أو أرّخا تاریخا واحدا یقضی للخارج ۲ :۱۸(۱). فقط وهو الموفق

د ګاڼې په مدعی او د بیع په مدعی کې د چا ګواهان معتبر دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید وفات شو، یوه ښځه او درې لونه ئې باقی پاتې شوې، زید خپله ځمکه پخپل ژوند کې بکر او عمر سره ګاڼه کیښودلې وه، او د ګاڼې پیسې ئې وصول کړې وې چې د هغې ګواهان موجود دی خو په ګاڼه کیدو کې پنځوس کاله تیر شو اوس د زید وارثان بکر او عمر ته د رهن پیسې ورکوی خو بکر او عمر وائی چې مونږ دا ځمکه په بیع قطعی باندې اخستلې ده لهذا مدعی څوک دې؟ او د دې تصفیه به څنګه کولې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: خاکسار عبدالرزاق. شبقدر فورټ چارسده، ٦ صفر المظفر ۱٤۰۳ھ

الجواب: که دې مدعی علیه (بکر او عمر) سره د بیع ګواهان مقبول الشهادة وی نو د دې مدعی علیه ګواهان (کوم چې د دفع ګواهان دی) به مقدم دی،

---

۱ (تکملة رد المحتار ۵: ۱۲، باب دعوي الرجلين)

و في شرح المجلة : لو ادعي صاحب اليد الإرث عن أبيه و ادعي الخارج مثل ذلک و أقاما بينة يقضي للخارج في قولهم جميعاً .

(شرح المجلة ۵: ٤۵۳، المادة ۱۷۵۷، الفصل الثاني في ترجيح البينات)

كما فى شرح المجلة ١١٣٣:م١٧٦٤: ترجح بينة البيع على بينة الهبة والرهن،(١) وبمعناه فى شرح التنوير على هامش الشامية ٣٨٨:٤.(٢)وهوالموفق

د بيع قطعي او د بيع وفا په مدعيانو کې د چا گواهان معتبر دى

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره کې چې په بيع بات او بيع وفا کې د اختلاف په وخت باندې به د چا گواهانو ته ترجيح ورکولې شي؟ بينواتوجروا

المستفتي: شاه وزير. ڇهوک دره دير ٤شوال ١٤٠٣هـ

الجواب: په بيع وفا او بيع بات کې د اختلاف په وخت به گواهانو د بيع وفا ته ترجيح ورکولې شي.

كمافى شرح المجلة١١٣٣: ولكن لواختلفافى البيع البات والوفاءفبينة الوفاء أولى(٣) كمافى الدر المختار على هامش ردالمحتار ٣٨٨:٤.(٤) وهوالموفق

---

١) (شرح المجلة: ١١٣٣: المادة ١٧٦٤)

٢) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي "ورهن مع قبض أحق من هبة بلا عوض معه استحساناًولو به فهي أحق لأنها بيع انتهاءً والبيع ولو بوجه أقوي من الرهن. (الدر المختار ٤٨٨:٤، باب دعوي الرجلين)

٣) (شرح المجلة ١١٣٣: المادة ١٧٦٤)

٤) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي :ادعي البائع وفاء والمشتري باتاً أو عكسا فالقول لمدعي البات....أن المعتمد في المذهب أن القول لمدعي البات منهما و أن البينة بينة مدعي الوفاء منهما. (ردالمحتار ٢٧٦:٤،مطلب في بيع الوفاء،قبيل كتاب الكفالة)

د وقف د اثبات د پاره شهادت بالتسامع صحيح دي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد د خپل پلار نيکهٔ د زمانې نه په يو کلي کې د امامت فرائض ادا کوي، في الحال اهل محله هغه د امامت نه معزول کړې دې چې مونږ په تاپسې مونځ نه کوو نه زمونږ د طرف نه رخصت ئې، او د ځمکې هغه حصه کومه چې د مسجد په نوم زمونږ پلار نيکهٔ وقف کړې وه هغه مونږ ته واپس کړه، زيد وائي چې که تاسو په ما پسې مونځ نه کوئ نو بيشکه مه کوئ خو د ځمکې دا حصه زه نه پرېږدم ځکه چې دا زمونږ د نيکونو د زمانې نه زمونږ د قبضې د لاندې راروانه ده او دا زمونږ حق دې، اهل محله وائي چې په مينځ کې بل امام هم په دې مسجد کې د امامت فرائض ادا کوي او دا ځمکه (سيرئ) د هغوی په قبضه کې پاتې شوې ده، ستاسو که حق وې نو د هغه امام نه به دې خپله اجاره وغيره وصولولې خو تا هيڅ حق طلبي نه ده کړې چې د هغې نه صفا معلومېږي چې دا ځمکه (سيرئ) محرابي وه، کوم سړې چې د مسجد په محراب کې د امام فرائض ادا کوي هغه ځمکه هم د هغه په قبضه کې وی او په دې ملک کې دا اصطلاح ده کله چې په کلي کې نوې مسجدونه تعمير کيږي نو د مسجد په نوم باندې څه ځمکه د محلې خلق (د مسجد جوړونکي) وقف کوی چې د مسجد او امام ضروريات په فراخئ سره پوره کړې شي او هغه ځمکې سره گزاره کوی کله چې هغه امامت پرېښودلو سره لاړ شي يا ناقابل امامت اولاد پرېښودلو سره وفات شي نو نوې امام په دې ځمکه باندې د اهل محله د طرف نه قابض او متصرف جوړولې شي هم دا د دې ملک قاعده او دستور دې، اوس د سوال خلاصه دا ده چې زيد کوم چې د مسجد امام دې دا دعوی کوی چې دا ځمکه (سيرئی) د مسجد په نوم باندې وقف نه ده بلکې زمونږ پلار نيکهٔ ته ذاتي طور ورکړې شوې وه، او زمونږ مملوکه ده د هغه دا دعوی بغير د دليل نه صحيح ده يا نه؟ که نه وی نو بيا د اهل محله شهادت په دې خبره باندې، چې مونږ د خپل پلار نيکهٔ نه په تواتر سره اوريدلې دی چې دا ځمکه هغوی د زيد امام نيکهٔ ته کله چې هغه د دې

مسجد امام مقرر کړې شوې وو د مسجد د سيرئ په طور وقف کړې وه، آیا دا شهادت بالتسامع عند الشرع معتبر دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مسعود الحق، اوګۍ تحصیل مانسهره ضلع هزاره

الجواب: وهوالموفق للصواب: شهادت بالشهرة بالتسامع بلا دعوی کسے برائے اثبات وقف کافی است. فی الهندية: الشهادة على الوقف بالشهرة تجوز وكذا الشهادة بالتسامع فلو أنهما شهدا بالتسامع و قالا نشهد بالتسامع تقبل شهادتهما وإن صرحا به لأن الشاهد ربما يكون سنه عشرين سنة وتاريخ الوقف مائة سنة فيتيقن القاضي أن الشاهد يشهد بالتسامع لا بالعيان فإذن لافرق بين السكوت والإفصاح،(١) انتهى

وفي وقف الدر المختار: وتقبل فيه الشهادة بالشهرة لإثبات أصله وإن صرحوا به أي بالتسامع في المختار حفظًا للأوقاف القديمة عن الاستهلاك بخلاف غيره،(٢)، انتهٰى

وفي شهاداته: لايشهد أحد بما لم يعاينه بالإجماع إلا في النسب والموت والنكاح والدخول بزوجته وولاية القاضي وأصل الوقف(٣) انتهٰى،

وفي الهداية: أما الوقف فالصحيح أنه تقبل الشهادة بالتسامع في أصله دون شرائطه لأن أصله هو الذي يشتهر انتهى، وهٰذا استحسان والقياس أن لا تجوز لأن الشهادة مشتقة من المشاهدة وذٰلك بالعلم ولم يحصل فصار كالبيع، وجه الاستحسان أن هٰذه أمور تختص بمعاينة أسبابها خواص من الناس ويتعلق بها أحكام تبقى على انقضاء القرون فلو لم تقبل فيها

---

١ ﴾(فتاوٰي هندية ٢:٤٣٨، كتاب الوقف : مطلب الشهادة بالشهرة علي أصل الوقف)

٢ ﴾(الدر المختار ٣:٤٤١،٤٤٢، كتاب الوقف : مطلب في الشهادة علي الوقف بالتسامع)

٣ ﴾(الدر المختار ٤:٤١٧، كتاب الشهادات)

الشهادة بالتسامع أدی ذلك إلی الحرج و تعطيل الأحكام (١)، وفی الأشباه و حاشيته للحموی: تقبل الشهادة حسبة بلا دعوٰی، يعنی ويقضی بها فی طلاق المرأة وعتق الأمة والوقف (٢) انتهٰی.

و در صورت عدم نص شارع عرف است ،در صورت عدم نص واقف نيز اعتبار عرف خواهد شد ،وإلا يلزم إبطال كثير من الأقاف القديمة ،و متعارف اين است كه واقف هر گاه مسجد را وقف مے ساز دكاكين وغيره نيز برائے مصالح مسجد وقف ميسازد،علي الخصوص هر گاه مسجد كلاں باشد و تعمير كردهٔ كسي امير يا نواب باشد ،در أشباه مي آرد :نصوص الواقف كنصوص الشارع،(٣) وفيما لا نص فيه من الأموال الربوية يعتبر فيه العرف ولا خصوصية للربوا وإنما العرف غير معتبر فی المنصوص عليه (٤)،انتهی،

و هر گاه وقف دكاكين وغيره ثابت شد تمليكِ آں بطريق بيع يا هبه يا رهن جائز نخواهد شد ،فی الدر المختار :فإذا تم ولزم لا يملك ولا يملك ولا يعار ولا يرهن (٥)،والله أعلم. هوالمصوب

فی الواقع جواز شهادة بالشهرة وشهادة علی الشهادة وبالتسامع برائے ثبوت اصل وقف شهادة كتب فقهيه معتمده ثابت است،فی العالمگيريه: تقبل الشهادة علی الشهادة فی الوقف،كذا شهادة النسآء مع الرجال كذا فی الظهيرية وكذا الشهادة بالتسامع فلو أنهما شهدا بالتسامع وقالا نشهد بالتسامع تقبل وإن

---

١) (الهداية ٣: ١٦٠،١٥٩، كتاب الشهادات)

٢) (شرح الأشباه والنظائر للحموي ٢: ٤٠٢، كتاب القضاء والشهادة)

٣) (الأشباه والنظائر ١٩٥، كتاب الوقف)

٤) (الأشباه والنظائر ٩٣ :القاعدة السادسة : العادة محكمة)

٥) (الدر المختار ٣: ٤٠٢، كتاب الوقف ،مطلب في شرط واقف الكتب)

صرحا به(۱)،انتهی

و هر گاه که شهادة بالتسامع برائے ثبوتِ وقف کافي شد بهر تقدیر ثبوت وقف دکاکین مذکوره باني مسجد یا ورثهٔ او یا شخص دیگر را اختیار بیع یا هبه یا رهن وغیره نیست ،در ردالمحتار ذیل قول صاحب در مختار :لایملك ولا یملك مے نویسند: قوله لایملك ولا یملك أی لایکون مملوکا لصاحبه ولا یملك أی لا یقبل التملیك لغیره بالبیع ونحوه لاستحالة تملیك الخارج عن ملکه(۲) هو المصوب.

در وقف شهادت بالتسامع و شهادت بالشهرة مقبول ست، في الذخیرة: تقبل الشهادة علی الشهادة وکذا الشهادة بالتسامع من الرجال ،انتهی وفیها أیضًا :و تقبل الشهادة علی أصل الوقف بالشهرة،انتهی وفی خزانة المفتیین :لو أشهد بالتسامع و صرحا به تقبل شهادتهما ،انتهی و این قسم دکاکین در عرف موقوف میشوند برائے مصالح مسجد و عرف مثلِ نص است ،وفی شرح الأشباه للبیری عن المبسوط :إن الثابت بالعرف کالثابت بالنص انتهی وفی الذخیرة: إذا قال أرضی هٰذه للسبیل ولم یزد علیه فإن کان هذا وقفًا فی عرفهم وقف(۳)،انتهی. هو المصوب

بلا ریب شهادة بالتسامع برائے اثباتِ وقف معتبر است و بهر تقدیر فقدانِ شهادت بالعیان این چنین شهادت کافي خواهد شد،في جامع المضمرات فی النصاب :هل یجوز الشهادة علی الشهادة بالتسامع؟ المختار أنه

---

۱ ﴾ (فتاوي هندیة ۲:۴۳۸،کتاب الوقف ،مطلب الشهادة بالشهرة الخ)

۲ ﴾ (رد المحتار ۳:۴۰۲،کتاب الوقف ،مطلب في شرط واقف الکتب)

۳ ﴾ وفي الهندیة :ولو قال أرضي هذه للسبیل فإن کان في بلدة تعارفوا مثل هذا وقفًا صارت الأرض وقفًا.(فتاوي هندیة ۲:۳۵۹،فصل في الألفاظ التي یتم بها الوقف)

يجوز فإنه لولم يجز لأدى ذلك إلى استهلاك الأوقاف القديمة وبه أخذ الفقيه أبو الليث حتى لو استولى على الوقف ظالم وأنكر الوقف كان لأهل القرية أن يشهدوا لذلك، انتهى وفي الفتاوى الخيرية: قد ذكر في جامع الفصولين وافرا للعهدة: ينبغي أن تقبل أي الشهادة بالتسامع لو كان قديما، وقف مشهور قديم لا يعرف واقفه استولى عليه ظالم فادعى المتولي أنه وقف على كذا مشهور و شهدا كذلك فالمختار أنه يجوز[1]، انتهى. وفي الكفاية: قال الإمام ظهير الدين لابد من بيان الجهة بأن يشهدوا أن هذا وقف على المسجد أو المقبرة أو نحو ذلك حتى لو لم يذكروا ذلك في شهاداتهم لا تقبل شهادتهم وتأويل قولهم لا تقبل الشهادة على شرائط الوقف أنهم بعد ما شهدوا أن هذا وقف على كذا لا ينبغي لهم أن يشهدوا ويبدءمن غلته فيصرف إلى كذا[2]، انتهى

و هر گاه شهادت بالتسامع برائے اثبات وقف دکاکین وغیره مذکورة الصدر كافي شد ،پس بعد ثبوتِ وقف آنها تصرف مثل بيع و هبه وغيره جائز نيست ،شيخ الاسلام بدر الدين عيني رحمه الله در شرح هدايه مے نويسند: إذا صح الوقف لم يجز بيعه ولا تمليكه لما ذكر في أوائل الكتاب من قوله عليه السلام لعمر رضي الله تعالى عنه تصدق بأصلها لا يباع ولا يوهب ولا يورث[3]، انتهى ملخصًا.

واضحه دې وى چې د سيرئ په وقف، هبة او عاريت كې فيصله كول گران كار دي، لأن الملاك لم يصرحوا به والعرف مختلف، نعم! المعروف في بلادنا هو الهبة كما فيما يعطونهم إلى الصلحاء ومرشديهم على اعتماد اداء فرائض الإمامة نسلًا بعد نسل، ونظيره العمرى فيبطل الزعم والشرط ولزمت الهبة كما صرحوا به

---

[1] (جامع الفصولين ١٣٠:١: الفصل الثالث عشر في دعوي الوقف والشهادة عليه)

[2] (الكفاية علي هامش فتح القدير ٤٦٩:٦، كتاب الشهادة، فصل يتعلق بكيفية الآداء الخ)

[3] (البناية علي الهدايه ٦٢٢:٩، كتاب الوقف)

فی باب الهبة(١) فما أوردته إنما تفید إذا ثبت کون المتنازع فیه موقوفاً وهو فی معرض الخفاء، وهو الموفق ولیس عندی ولا عند أحد من أقربائی هذا النوع من الأرض.

شهادت علی الاستقلال ته ترجیح حاصل ده په شهادت علی الاشتراک باندې

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې زید او بکر په قومی مشترکه ځمکه باندې قبضه وکړه. زید او بکر دواړه یوځای تصرف کوی او بکر دا دعوی کوی چې ټوله ځمکه زما ده او ماته په وراثت کې ملاؤ شوې ده د زید دعوی دا ده چې دا ځمکه زما او ستا شریکه ده ځکه چې د دواړو قبضه ده په شرعی اصطلاح کې به ګواهی د زید د طرف نه وی یا د بکر دطرف نه یا د دواړو دطرف نه؟ شرعی حکم واضح وفرمایئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: غلام حیدر، سکنه بشام کوهستان... ١٢ جمادی الاول ١٤٠٣هـ

الجواب: په صورت مسئوله کې د زید دعوی غلط او ناقابل سماعت ده ځکه چې د مشترکه ځمکې آبادول د ملک سبب نه دې او سبب د ملک دې که دا ځمکه موات ثابته شی او که په هغې باندې ګواهان قائم کړې شی نو ګواهان د بکر معتبر دی،

کما فی شرح المجلة ١١٨٢: إذا ادعی اثنان مالًا أحدهما بالاستقلال والآخر بالاشتراک وکل منهما متصرف فیه ای ذو ید علیه فبینة الاستقلال اولی یعنی إذا اراد کلاهما اقامة البینة ترجح بینة الذی ادعی الاستقلال علی بینة الذی ادعی الإشتراک.(٢) وهو الموفق

---

١) وفی الهندیة :لو قال هذه الدار لک عمرې أو عمرک أو حیاتی أو حیاتک فإذا مت فهور دعلی جازت الهبة وبطل الشرط (هندیة ٣٧٥: ٤، کتاب الهبة، الباب الأول)

٢) (شرح المجلة ٤٤٠: ٥ المادة ١٧٥٦، الفصل الثانی فی ترجیح البینات)

ګواهانو ته قسم ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې د اوږدې مودې نه د شريعت مطابق فيصلې وی او د ګواهانو نه شهادت حلفًا اخلی او لفظ ﴿ اشهد ﴾ هم نه پريږدی ځکه چې زمونږ خلق د لفظ ﴿اشهد﴾ په معنی نه پوهيږی او نه د دې نه ويريږی د دې د وجې نه دګواهانو قسم اخلی او که د ګواهانو نه قسم وانخستلې شی نو د ټولو قومونو ترمينځه اختلاف پيدا کيږی، اوس بعض علماء کرام فرمائی چې دا حلفًا ګواهی د شريعت په رڼا کې جائز نه ده، آيا زمونږ د علاقې د محکمينو دا عمل جائز دې يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم.....

الجواب: استحلاف ګواهان جائز است.

قال الحموی فی شرح الأشباه: وفی تهذيب القلانسی وفی زماننا لما تعذر التزكية لغلبة الفسق اختار القضاة استحلاف الشهود كما اختاره ابن أبی ليلی لحصول غلبة الظن (۱) انتهی. وهوالموفق

د غير قاضی مخې ته د قسم خوړلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو امام يا عام

---

(۱) غمز عيون البصائر شرح الأشباه والنظائر ۲: ۳۷۳، كتاب القضاء والشهادات)
و في شرح المجلة: إذا ألحّ المشهود عليه علي الحاكم بتحليف الشهود علي أنهم لم يكونوا في شهادتهم كاذبين و كان هناک لزوم لتقوية الشهادة باليمين فللحاكم أن يحلف الشهود.
(شرح المجلة ۵: ۳۵۲، المادة ۱۷۲۷، الفصل السادس في تزكية الشهود)

سرې بل ته قسم ورکولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل احمد، قاری گورنمنټ هائی سکول پېچی، نوښار

الجواب: قسم کول مباح دی، پس که سړې د یو امام وغیره په مخکې قسم وکړی یا هغه ته قسم ورکړې شی دا ممنوع نه دې خو په دې سره الزام او فیصله نه شی کیدې فیصله او الزام په هغه قسم سره کیدې شی کوم چې د قاضی یا محکم (ثالث) مخکې مدعی علیه ته ورکړې شی.(۱) بهرحال دا قسم چې د کوم متعلق سوال کړې شوې دې ممنوع نه دې او ملزم، چې په هغې سره بائیلل یا ګټل راشی هم نه دې. وهوالموفق

ګواهانو ته د طلاق قسم ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما په یوه مقدمه کې شهادت ورکړو څنګه چې حق وو خو عدالت په دې باندې هیڅ غور ونکړو هم دغه شان ما د بلې مقدمې په موقع باندې هم هغه شهادت ورکړو او د وکیل په سوال باندې ما په مذهبی جوش سره صفا اویل چې د ایمان قسم خو نه خو د جائیداد قسم خوړلو سره اقرار کوم چې که مهر نامه غلطه ثابته شوه نو زما ټول جائیداد دې ضبط کړې شی خو هیڅ غور ونکړې شو،

---

۱) في شرح المجلة :لاتكون اليمين إلا في حضور الحاكم أو نائبه ولا اعتبار بالنكول عن اليمين في حضور غيرهمالأن اليمين لقطع الخصومة والخصومةإنما تكون في حضور الحاكم.

(شرح المجلة ۴۰۴:۵،المادة ۱۷۴۳)

و قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالي' "اليمين هي توكيد الشئ أو الحق أوالكلام إثباتًا أو نفيا بذكر الله تعالي'أو صفة من صفاته،أما تعريف اليمين القضائية لإثبات الدعوي'فهي تاكيد ثبوت الحق أو نفيه أمام القاضي بذكر اسم الله تعالي'أو صفة من صفاته.

(الفقه الاسلامي و أدلته ۶۰۶۳:۸،المبحث الثاني : اليمين)

د تپوس په غرض دا عرض کوم چې د شریعت په رڼا کې ګواه خپل شهادت لره په ذریعه د حد د تصدیق مجاز دې یا نه؟ صفا دا ظاهر وفرمایئ ځکه چې زه په مذهبی غیرت سره خپل ټول جائیداد بلکه د نفس او مال د قربانۍ دپاره تیار یم او په عدالت کې د ایمان قسمونه یو رواج جوړ شوې دې زه د دې بندول غواړم.

المستفتی: عبدالشکور

الجواب: کله چې د حاکم او جج په نزد ګواهان قابل اعتماد نه وی نو د قسم او طلاق وغیره امورو په ذریعه اطمینان حاصلولې شی. (۱) او د ګواه دپاره د قسم او طلاق وغیره پیش کول هم غوره دی خو مدعی علیه ته به قسم په الله او د هغه په بعض صفاتو باندې ورکولې شی (۲) په نوې طریقې سره ورکول ئې ناکافی دی بلکې غیر مشروع دی. وهوالموفق

د مدعی د مدعی علیه په ذمه صرف د قسم حق دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید په بکر باندې الزام لګولې دې چې بکر جرم کړې دې چې په هغې باندې بکر صفائی پیش کړه او د جرګې مخکې ئې په قرآن کریم باندې قسم وکړو خو مدعی د دې خبرې نه انکار کولو سره اویل چې زه قرآن نه منم بیا بکر وویل زه د

---

(۱) وفي شرح المجلة :إذا ألحّ المشهود عليه علي الحاكم بتحليف الشهود علي أنهم لم يكونوا في شهادتهم كاذبين وكان هناك لزوم لتقوية الشهادة باليمين فللحاكم أن يحلف الشهود. (شرح المجلة ۵:۳۵۲،المادة ۱۷۲۷،الفصل السادس في تزكية الشهود)

و قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي :و قيل إن مست الضرورة فوض (التحليف بالطلاق والعتاق) إلي القاضي .(الدر المختار ۴:۴۷۵ كتاب الدعوي)

(۲) و في الهداية :واليمين بالله دون غيره لقوله عليه السلام من كان منكم حالفًا فليحلف بالله أو ليذر و قد يؤكد بذكر أوصافه و هو التغليظ و ذلك مثل قوله قل والله الذي لا إله إلا هو عالم الغيب والشهادة هو الرحمٰن الرحيم الذي يعلم من السر والخفاء الخ.

(الهداية ۳:۲۰۷، كتاب الدعوي :باب اليمين)

طلاق قسم اضافي اوچتوم چې ما جرم نه دي کړي خو زيد د هغې د منلو نه هم منکر شو د هغې نه وروستو مقدمه تهانيدار ته لاړه هلته بکر ووېل چې زه مسلمان يم په قرآن باندې ايمان لرم يا زيد دې د قرآن کريم قسم وخوري چې دې مجرم دې يا دې په ما قسم وخوري او يقين دې وکړي. زيد بيا هم هغه خبره وکړه آخر د تهانيدار په خبره منلو باندې رضامند شو. اوس شرعي طور د زيد دپاره څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: معلوميږي چې د زيد د بکر په قسم او طلاق باندې هيڅ اعتماد نشته او په داسې صورت کې حکم شرعي دا دې چې دا مدعي دې په قسم باندې اکتفاء وکړي او يا دې د دعوې نه واپس شي

كما ورد في حديث أبي داوٗد ٢: ٥١٠ قال فلك يمينه قال يا رسول الله إنه فاجر ليس يبالي ماحلف ليس يتورع من شئ فقال ليس لك منه إلا ذلك(١) انتهى. وهوالموفق

مدعي ته قسم ورکول صحيح نه دي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آيا مدعي ته قسم ورکړې کيدې شي؟ بينواتوجروا

المستفتي:......نامعلوم

الجواب: شرعا د مدعي قسم کالعدم او نامنظور وي كما في فتاوى

---

١) (سنن أبي داوٗد ٢: ٥١٠ باب الرجل يحلف علي علمه فيما غاب عنه)
وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالي: والحديث الثالث (البينة علي المدعي واليمين علي من أنكر) خير المدعي بين أمرين لا ثالث لهما إما البينة أو يمين المدعي عليه والتخيير بين أمرين يمنع تجاوز هما إلي غيرهما أو الجمع بينهما.
(الفقه الإسلامي وأدلته ٨: ٥٩٩٩: القضاء بشاهد و يمين)

عالمگیري ٢٥٨/٤ ان اصطلحا علی ان یحلف المدعی علی دعواه ... الی ان قال والصلح باطل. (١) وهوالموفق

د غل نه علاوه بل سړی ته قسم ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی غلا وکړه نو آیا د هغه غل په ځای بل څوک په قسم باندې مجبورولې شی، یعنی غل او غیر غل لره (د غل ورور یا پلار) په قسم باندې مجبورول آیا دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: سوا د مجرم نه په بل سړی باندې مثلا د غل پلار یا ورور ته قسم ورکول ناجائز دی.

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یجنی علیك ولا تجنی علیه(٢) أوكما قال علیه الصلوٰة والسلام، وجه الدلالة ظاهر، فلذا لا یجری الخلافة فی الیمین كما صرحوا به فی باب الاستحلاف. (٣) وهوالموفق

...

١) (فتاوي هندية ٢٥٩:٤ كتاب الصلح: الباب الحادي عشر في الصلح في اليمين)
وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي "وكذا لو اصطلحا أن المدعي لو حلف فالخصم ضامن للمال وحلف أي المدعي لم يضمن الخصم لأن فيه تغيير الشرع. (الدر المختار: ٤٧١:٤: كتاب الدعوىٰ)

٢) (سنن أبي داوٗد ٦١٧:٢، باب لا يؤخذ الرجل بجريمة أبيه أو أخيه: كتاب الديات)

٣) وفي شرح المجلة: تجري النيابة في التحليف ولكن لا تجري في اليمين. (شرح المجلة: ٤٠٦:٤، المادة ١٧٤٥)
وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي "النيابة تجري في الاستحلاف لا الحلف. (الدر المختار ٤٧٣:٤، كتاب الدعوىٰ)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

اووم جلد

کتاب الصلح والاقرار

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

کتاب الصلح والاقرار

قال الله تبارك وتعالىٰ:

وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ط

(سورۃ النسآء)

ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ط

(سورۃ آل عمران)

....

كتاب الصّلح والاقرار

د صلح نه د مخالفت کونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دوه ډلو ترمینځه یو ثالث صلح وکړه، د صلح کولو نه پس یو فریق د هغې نه مخالفت کوی نو د دې څۀ حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد سلیم خان بلیکوټ د مری په لار.

الجواب: کومه راضی نامه چې د فریقین په رضامندئ سره شوې وی او د اصول شریعت نه مخالف او متصادم نه وی نو د هغې مخالفت کونکې ګنهګار دې.(۱) او د هغه بائیکاټ کول پکار دی. **وهوالموفق**

په ملکیتی ځمکه کې په لاره باندې د صلح کولو نه پس دوباره بندول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مشترکه چراګاه دپاره د خالد په ځمکه کې د طارق لاره تیریږی، کوم چې د ډیرې زمانې نه هم دغه شان مستعمل ده څۀ موده مخکې دا لاره خالد بنده کړه چې په هغې باندې جهګړه وشوه د دې نه وروستو دواړو د خاندان جرګې ته د فیصلې کولو مکمل اختیار ورکړو چې کومه فیصله جرګه وکړی هغه به دواړو ډلوته منظور وی، جرګې فیصله د طارق په حق کې وکړه او وې ویل

---

۱) وفي شرح المجلة: واذا تم الصلح فليس لواحد فقط من الفريقين الرجوع عنه. (شرح المجلة ۸۴۵، المادة: ۱۵۵۶ الباب الرابع في احكام الصلح)

وفي الانقروية: وفي البزازية ومجمع الفتاوي عن المبسوط بعد تمام الصلح بينهما بالتراضي ليس لواحد منهما ان يرجع عنه.

(فتاوي انقروية ۲:۲۴۰ كتاب الصلح، نوع في الصلح عن دعوي النكاح)

چې طارق د دې لارې د استعمال د مخکې په شان حقدار دې دا فیصله خالد هم ومنله خو څه موده پس ترې دوباره منحرف شو او لاره ئې بنده کړه، شرعی حکم چې د دې په باره کې څه وی د هغې نه مو خبر کړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: فیض عالم خان پنډئ .... ٢٤ شعبان ١٤٠٣ھ

الجواب: د باقاعده مصالحت او راضی نامې نه پس یو طرف هم د انحراف حقدار نه دی (١) پس په صورة مذکوره کې کله چې خالد دا صلح، کومه چې په حقیقت کې ابراء ده ومنله نو دوباره د هغه حق نه شی راواپس کیدې. کما فی شرح المجلة ٨٤٨: اذاابراواحدالاخرمن حق سقط ذلك الحق ولايبقى له ان يدعى به(٢) والله اعلم بالصواب

د مقتول د خوی په موجودګۍ کې ورور د قاتل سره صلح نه شی کولې

سوال: مايقول العلماء الكرام والمفتيان العظام فى المسئلة الآتية: قتل جماعة رجلاً متعمداً فصالح اخ المقتول مع القاتلين وكان ابن المقتول صغيراً

---

١) وفي شرح المجلة: اذا تم الصلح فليس لواحد فقط من الفريقين الرجوع عنه.
(شرح المجلة ٨٤٥، المادة ١٥٥٦ الباب الرابع في احكام الصلح)

وفي الانقروية: فى البزازية ومجمع الفتاوي عن المبسوط بعد تمام الصلح بينهما بالتراضي ليس لواحد منهما ان يرجع عنه.
(فتاوي انقروية ٢:٢٤٠ كتاب الصلح،نوع في الصلح عن دعوي النكاح)

٢) شرح المجلة ٨٤٨ المادة: ١٥٦٢ الفصل الثاني في المسائل المتعلقه باحكام الابراء)

وفي جامع الفصولين: لو قال برأت من دعواي في هذه الدار لا يبقي له حق فيه وكذا لو قال برأت من هذا القن او خرجت من هذا القن بطل دعواه.
(جامع الفصولين ١:٩٢ الفصل العاشر في التناقض في الدعاوي)

في حين المصالحة، فلما كبر قتل احد قاتلي ابيه هل لهذا (ابن المقتول) قصاص املا؟ وان مصالحة العم هل يصح في اوان صغر ابن المقتول املا؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...... متعلم دار العلوم حقانيه اكوړه ختك..... ٣ دسمبر ١٩٨٣ء

الجواب: الاخ لا يملك الصلح ولا العفو، كما في رد المحتار ٥: ٤٧٦: واذا قتل قريب الصبي فلابيه القود والصلح لا العفو وللوصي الصلح فقط، وليس للاخ ونحوه شيئ من ذلك(١) انتهى بحذف يسير. وهو الموفق

د صلح کولو نه پس د مدعي نه رجوع کول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زيد او عمر ترمينځه په يو ځمکه باندې جهګړه ده ځمکه د زيد په تصرف کې ده عمر په دې باندې د شرکت دعوی کړې ده وروستو د قاضي مخکې پيش شو قاضي صاحب د عمر نه شهادت طلب کړو عمر د ګواهانو په لټون کې وو چې په دې وخت کې بعض خلقو د مدعوی ترمينځه صلح بالخمس وکړه او وې ويل چې مونږ به تقسيم کولو دپاره راشو خو لا ئې تقسيم نه وو کړې چې زيد په دې صلح باندې د ناراضتيا اظهار کولو سره عمر ته وويل چې ما ته صلح منظور نه ده ته ګواهان اولټوه زيد د صلح د عدم اتمام د وجې نه رجوع کولې شي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: ماش کل کوهساتي متعلم حقانيه هذا.... ١٧ مارچ ١٩٨٥ء

الجواب: که دې مدعی په دې مصالحت باندې د رضامندئ اظهار وکړو نو هم دا مصالحت ناقابل رجوع دې، کما في شرح المجلة اذا تم الصلح فليس

---

١) (ردالمحتار ٥: ٣٨٣ كتاب الجنايات، فصل فيما يوجب القود ومالا يوجبه)

لواحد فقط من الفریقین الرجوع عنه(١) فقط

د زنا د وجې نه ښځې لره قتل کولو نه پس د زانی خاوند ته په صلح کې د پیسو ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپله ښځه د زنا په حالت کې نیولو سره قتل کړه او زانی اوتختیدلو اوس هغه زانی سړې د دې قتل شوې زنانه د خاوند سره صلح کول غواړی او پیسې په صلح کې ورکولو ته تیار دې آیا دې خاوند له دا پیسې اخستل جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله شاه متعلم حقانیه اکوړه خټک .... ٢٥ دسمبر ١٩٨٨ء

الجواب: هذا الصلح باطل لانه وقع عن حق الله تعالٰی، وهذا المال مردود علی الزانی بحدیث ورد بذلک فلیراجع الی حدود المشکوٰة(٢) والله اعلم بالصواب

---

١) (شرح المجلة ٨٤٥، المادة ١٥٥٦ الباب الرابع في احكام الصلح)

وفي الانقروية: وفي البزازية ومجمع الفتاوي عن المبسوط بعد تمام الصلح بينهما بالتراضي ليس لواحد منهما ان يرجع عنه.

(فتاوي انقروية ٢:٢٤٠ كتاب الصلح، نوع في الصلح عن دعوي النكاح)

٢) وفي المشكوة المصابيح: عن ابي هريرة وزيد بن خالد ان رجلين اختصما الي رسول الله ﷺ فقال احدهما... قال ان ابني كان عسيفا علي هذا فزني بامرأته فاخبروني ان علي ابني الرجم فافتديت منه بمائة شاة وبجارية لي ثم اني سألت اهل العلم فاخبروني ان علي ابني جلد مأة وتغريب عام وانما الرجم علي امرائة فقال رسول الله ﷺ اما والذي نفسي بيده لا قضين بينكما بكتاب الله اما غنمک وجاريتک فرد عليک واماابنک فعليه جلد مائة وتغريب عام.

(مشكواة المصابيح ٣٠٩ كتاب الحدود، الفصل الاول)

وفي الهندية: رجل زني بأمراة رجل فعلم الزوج واراد حدهما... [بقيه برصفحه آئنده...

المرء یوخذ باقراره

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو متنازع فیه ځای د دوه ډلو ترمینځه دې او هر یوه ډله د خپل ملکیت دعوی کوی حال دا چې د یوې ډلې هم په دې کې قبضه او تصرف نه وو د دواړو ډلو په رضا سره یو حکم راوستلې شو دواړو ډلو متنازع فیه ځای حکم ته ورکړو او یو ډلې د متنازع فیه ځای نه علاوه هم هغې سره متصل ځای باندې حکم ګرځولې هم دې یعنی هغه ته ئې ویلې دی چې دا هم متنازع فیه ځای دې دویمه ډله په خبریدلو باندې راپاڅیدل چې دا زموږ د خپلوانو ځای دې حکم د فریقین نه اختیار اخستلو سره په نیم نیم باندې صلح وکړه او د متنازع فیه ځای نه علاوه ځای د دویمې ډلې په حصه کې راغلو آخر کله چې په دې ځمکه (غیر متنازع فیه په حقیقت) کې مالک خبردار شو نو هغوی وویل چې دا ځای زموږ دې دا موږ یوې ډلې ته هم نه شو ورکولې او دا په متنازع فیه کې شامل نه دې لهذا د دې به څه حکم وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد رقیب وزیرستانی ..... ٤ ذوالقعده ١٤٠٢ھ

الجواب: اصل ﴿ المرء یوخذ بأقراره ﴾ (١) په بناء باندې دا حصه معهوده به دهغه اقرار کونکو نه اخستلې شی او د غیر اقرار کونکو نه به هیڅ بدل نه شی اخستلې خو که دا ثابته شی چې دا اقرار د جهالت وغیرها وجوهاتو د وجې نه صحیح نه دې (٢) نو بدل به ورکولې شی. والله اعلم بالصواب

...بقیه ازحاشیه گذشته] فصالحاه معاً او احدهما علي دراهم معلومة او شيئ آخر علي ان یعفو عنهما کان باطلا لا یجب المال وعفوه باطل سواء کان قبل الرفع او بعده. (فتاوي هندیة ٢٨٣:٤ کتاب الصلح، الباب الحادي والعشرون في المتفرقات)

١ ﴾ في شرح المجلة: المرء مواخذ باقراره. (شرح المجلة ١:٢٢٦ المادة ٧٩)

٢ ﴾ قال العلامة الحصکفي: اقر حر مکلف او عبد بحق معلوم او مجهول صح لان جهالة المقربه لاتضر الااذابین سبباتضره الجهالة کبیع واجارة (الدرالمختار ٥٠٠:٤ کتاب الاقرار)

په جبر او اکراه سره د يو څيز اقرار کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو خاندان په يو ملک کې نوابان وی او په هغه ملک کې د هغوی حکم چلیږی، عوام قتل او جلاوطن کولې شی او په هغه ملک کې د عوامو څوک فرياد اوريدونکې نه وی او دا حکمران جبرا د عوامو نه دا دستخط واخلی يا يو فرد مثلا د غلام حسن نه چې ته دا اقرار او دستخط وکړه چې ستا فلانۍ ځمکه د امان الله او ګل بادشاه ملکيت دې او غلام حسن دا اقرار ونکړی نو هغه جلاوطن کولې شی حال دا چې دا ځمکه د غلام حسن پلار آباده کړې ده او په دې باندې کورونه او باغونه هم د هغه دی نو د دې جبری دستخط څه حکم دې او په دې اقرار باندې دې د خپلې ځمکې نه محروم کيدې شی يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: غلام حسن دير ..... ٢٩ ربيع الثانی ١٤٠١هـ

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا اقرار او دستخط نامنظور او کالعدم دې. لما فی شرح المجلة ٨٦٢ : **يشترط فی الاقرار رضا المقر فالاقرار الواقع بالجبر والاكراه لايصح**(١) وهوالموفق

د وکيل صلح لره فسخ کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دوه قبيلو خپل مينځ کې د اوبه خور په نمبر باندې جهګړه شوه، زيد د خپل طرف نه اصالةً د خپلې قبيلې د طرف نه وکالةً مختار شو او عمر د خپلې قبيلې د طرف نه وکالةً اود خپل طرف نه اصالة مختار شو، د قاضی محکمه په

(١) (شرح المجلة ٨٦٢ المادة: ١٥٧٥ الكتاب الثالث عشر في الاقرار)

وقال العلامة الحصكفي: والرضا شرط لصحة هذه العقود وكذا لصحة الاقرار. (الدرالمختار ٥:٩٠ كتاب الاكراه)

حضور کې وکیلان سره د فریقینو د شرعی فیصلې دپاره پیش شو، وکیلانو خپل خپل صورت حال بیان دعوی او جواب دعوی ولیکل د محکمې قاضی او ثالثانو وکیلانو او موکلانو ته د صلح ترغیب ورکړو او وکیلان او موکلان په صلح باندې راضی شو، قاضی موصوف د زید د قبیلې دپاره د اوبه خور نمبر په طور د صلح مقرر کولو سره ورکړو او هر یو خپل خپل لیکل د قاضی موصوف د طرف نه یوړل، د یو کال مودې پورې دواړو ډلو په چپ چاپ د خپلې دعوې نه خاموش وو، د یو کال د تیریدلو نه پس زید خپلې قبیلې ته دهوکه ورکولو سره په دعوی کولو باندې تیار کړو او خپله ئې هم په جوش او غصه کې راتلو سره د اوبه خور د مذکوره نمبر دعوی په عدالت کې دائر کړه، اوس زید غواړی چې د پورته صلح نقض او فسخ وکړی نو آیا زید د شریعت په رڼا کې دا فسخ کولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی : فضل ودود علاقه جندول ضلع دیر ... ۲۸ شوال ۱۴۰۳هـ

الجواب: زید وکیل په پورته صلح کې حقدار د نقض او فسخ نه دی. په مجلة ۳۰۳ کې دی : **اذا تم الصلح فليس لواحد من الطرفين فقط الرجوع عنه ويملك المدعي بالصلح بدله ولا يبقى له حق في الدعوى وليس للمدعى عليه ايضاً استرداد بدل الصلح منه(۱) وايضاً في المجلة ۳۰۴(۲) والكاملية ۱۶۱،۱۶۲(۳) وايضاً في الخيرية ۱۰۳(۴) اذا جرى الصلح بين المتداعيين وكتب الصك وفيه**

---

۱) (شرح المجلة ۵۶۹: ۴، المادة: ۱۵۵۶ الباب الرابع في بيان احكام الصلح)

۲) في شرح المجلة: اذا ابرأ واحد آخر من حق يسقط حقه ذلك ليس له دعوي ذلك الحق... اما اذا ابرأه عن دعواها كان سقوطها قضاء وديانة. (شرح المجلة ۵۷۶: ۴، المادة ۱۵۶۲ الفصل الثاني في بيان المسائل المتعلقة باحكام الابراء)

۳) (فتاوي كامليه ۱۶۰،۱۵۹ كتاب الصلح والابراء)

۴) (فتاوي خيرية علي هامش تنقيح الحامدية ۱۶۲: ۲ كتاب الصلح)

المتداعيين وكتب الصك وفيه ابراء كل منهما الاخرعن دعواه الخ،فان حاكما او حكم ببطلان هذا الصلح لا يتمكن المدعى من اعادة دعواه، وايضاً في فتاوى انقروية ۲۴۰ (۱) وتكملة ردالمحتار ۸: ۲۳۰ (۲) وردالمحتار ۳: ۵۶ (۳) وايضا فى الهندية ۵: ۳۵۴، ۳۵۵ وايضا فى المجلة ۳۳۳ وكذلك صالح احد مع آخرعن دعوى بينهما واقرفى حضور الحاكم بأن ذلك الصلح قد عقد صحيحاً وربط اقراره هذا بسند ثم ادعى بأن ذلك الصلح كان بشرط مفسد فلا تسمع دعواه (۴). والله اعلم

کاتب: مولانا فضل ودود ... دستخط: حضرت مفتی صاحب

د خور د میراث نه د خپلې خوښې ځېز اخستلو سره د ورونو دپاره باقی میراث پرینودل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې خور په میراث کې خپله برخه یا بعض حصه خپلو ورونو ته معاف کولې شي یا نه، که هغه

---

۱ ﴾ في الانقروية: واذا جري الصلح بين المتداعيينو كتب الصک وفيه ابراء كل واحد منهما لصاحبه عن الدعوي ثم ظهر ان الصلح وقع باطلا بفتوي الائمة فاراد المدعي ان يدعي ما ادعي لا تصح دعواه للابراء السابق. (الفتاوي الانقروية ۲: ۶۴۱ كتاب الصلح والابراء)

۲ ﴾ في تكملة ردالمحتار: ادعي عليه مالا معلوما فصالحه علي الف درهم وقبض بدل الصلح وذكر في آخر الصک وابراء المدعي عن جميع دعواه وخصوماته ابراء صحيحا عاما فقيل لم يصح الصلح ... فلا تسمع دعوي المدعي بعده للابراء العام. (تكملة ردالمحتار ۷: ۱۷۳ الجزء الثاني كتاب الصلح)

۳ ﴾ (ومثله في ردالمحتار ۴: ۵۲۶ كتاب الصلح)

۴ ﴾ (شرح المجلة ۵: ۱۵۵، المادة ۱۶۵۸)

په رضا او رغبت سره خپله حصه معاف کول غواړي نو د هغې دپاره صحيح صورت څه دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: عبدالمنان ...... ١٤ اگست ١٩٧٠ء

الجواب: د خور وغيره دپاره جائز دي چې د ميراث نه معمولي څيز اخستلو سره باقي ټول د ورونو وغيره دپاره پريږدي.

كمافي الشريفية ٨٥ (١) وهوالموفق

...

١) في الشريفية: والمراد به هٰهنا ان يتصالح الورثة علي اخراج بعضهم عن الميراث بشيئ معلوم من التركة وهو جائز عند التراضي.
(الشريفية ٧٣ فصل في التخارج)
وفي الهندية: اذا كانت التركة بين ورثة فاخرجوا احدهم منها بمال اعطوه اياه والتركة عقار او عروض صح قليلا كان ما اعطوه او كثيرا.
(فتاوي هندية ٢٦٨: ٤ كتاب الصلح، الباب الخامس عشر في صلح الورثة)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوٰی فریدیہ

کتاب المضاربة

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

وَاٰخَرُوْنَ یَضْرِبُوْنَ فِی الْاَرْضِ
یَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰہِ ۙ
(سورة المزمل)

كتاب المضاربة

بهر ملك ته د تلو دپاره د مضاربت د مال نه په ويزه وغيره باندې د خرچ كولو حكم

سوال: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې مثلا يو سړى بل ته پنځلس زره روپئ وركوي چې دا په مضاربت كې شامل كړه تا ته مطلق اجازت دې كه په دې سره خپله تجارت كوې او كه د بل چا سره شراكت كوې يا په دې سره خپله اجاره وغيره كوې يا كه بل چاته ئې په اجاره وغيره باندې وركوې غرض دا چې تا ته مكمل اجازت دې چې په دې پيسو سره په حلال طريقه باندې د عقد مضاربت په طور ګټه وكړې ګټه به نيمه نيمه تقسيم كړو يا دوه حصې ګټه زما يا دريمه او يا حصه نفع د بل. او كه نقصان وشو نو هغه به د پيسو وركونكى په ذمه وى. اوس دا مضارب (پيسې اخستونكي) پيسې اخستلو سره پاسپورټ ويزه وغيره اخستلو سره قطر يا ابوظهبى ته لاړ شى او د هغه ځاى نه ګټه راوړى او الله پاک مه كړه كه دا پيسې د دې مضارب نه په څه طريقه يا بغير د ارادې نه هلاكې شوې نو دا پيسې د رقم وركونكى هلاكې شوې، او د مضارب نه به د دې مطالبه نه كوى نو دا مضاربت جائز دې يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: شهباز خان...... بنوں...... ۱۹ رمضان المبارک ۱۳۹۷ھ

الجواب: كه دا مضارب قطر وغيره ته د تجارت دپاره ځى نو د رب المال په اجازت سره به په پاسپورټ او ويزه باندې خرچ كول جائز وى، او دا خرچ به د مال د مضاربت نه شمار كيږى (۱) او كه هلته د ملازمت دپاره ځى نو دا

---

(۱) في شرح المجلة : اذا ذهب المضارب في عمل المضاربة الي محل غير البلدة التي وجد فيها ياخذ مصرفه بالقدر المعروف من مال المضاربة... والمراد من المصرف في قوله يأخذ مصرفه، طعامه وشرابه وكسوته وركوبه اي ما ركب ولو بكراء وكل ما يحتاجه في عادة التجار فدخل فيه غسل ثيابه واجرة من يخدمه من الخبز الخ.
(شرح المجلة ۳۵۳:۴ المادة ۱۴۱۹ كتاب المضاربة)

معامله په مضاربت نه وي، يعنی د ملازمت نه حاصل شوې رقم به منافع نه شمار كيږي. وهوالموفق

په مضاربت كې په نيمه باندې وركړې شوې رقم كې نفع هره مياشت بغير د حساب نه د اندازې مطابق وركول

سوال: څه فرمائی علماء كرام د دې مسئلې په باره كې چې زما يو ورور دكاندار دې تقريبا د يو لاک روپو كاروبار كوی مانه زما ورور شل زره روپۍ په دې شرط باندې واخستلې چې په شلو زرو روپو چې به كومه ګټه وركړې كيږی هغه به نيمې نيمې اخلو. ورور وائی چې زه هره مياشت حساب نه شم كولې او اندازه كولو سره به ئې دركوم. لهذا هغه ماته هره مياشت كله سل كله درې سوه او كله يونيم سل روپۍ راكوی او دكمی زياتی مونږ معافی كوواوس زما په زړه كې وسوسه راغلې ده چې دا خو سود دې ما ورور ته وويل چې زه دا كار كول نه غواړم څكه چې د قيامت په ورځ باندې به جواب وركوم، سوال دا دې چې آيا دا منافع يا كاروبار زما دپاره جائز دې يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: فضل داد پنډی ..... ٣٠ جولائی ١٩٨٦ء

الجواب: چونكې په صورت مسئوله كې نفع د تحری نه معلومولې شی، د مخكې نه ئې تعين نه دې شوې لهذا دې ته سود نه شی ويلې كيدې (١) **والله اعلم بالصواب**

---

(١) وفي الهندية: ومنها ان يكون نصيب المضارب من الربح معلوما علي وجه لا تنقطع به الشركة في الربح كذا في المحيط.

(فتاوي هندية ٤:٢٨٧ كتاب المضاربة، الباب الاول في تفسيرها... وشرائطها)

وفي شرح المجلة: يشترط في المضاربة كشركة العقد كون رأس المال معلوماوتعين حصة المتعاقدين من الربح جزأ شايعا كالنصف والثلث.

(شرح المجلة ٤:٣٣٢ المادة ١٤١١)

د حکومت نه اخستلې شوې غنمو کې په شرائطو باندې مضاربت صحیح دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ولی خان د یو قومی ډپو کار کوی حکومت ولی خان ته د اوړو هره بورئ په ۸۷ روپئ باندې د میاشتې ورکوی بیا هغه بورئ په ۹۰ روپئ قیمت باندې خرڅوی، یعنی درې روپئ په هره بورئ کې ګټی، اوس ولی خان حاجی محمد نور صاحب ته ویلې دی چې تاسو ماته هره میاشت ۹۰۰۰ روپئ راکوئ، چې کومه درې روپئ ګټه کیږی په هغې کې نیمه ستاسو او نیمه زما، ګټه د هرې میاشتې یقینی وی د نقصان احتمال هم نشته، اوس دا صورت یعنی نیمه حصه د ولی، د حاجی محمد نور صاحب دپاره جائز ده یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عادل شاه دکاندار سدا کوهاټ.... ۱۹ اګست ۱۹۷۷ء

الجواب: ۱: که ولی خان او حاجی محمد نور صاحب په نیمه نیمه باندې فیصله کړې ده نو دا مضاربت صحیح دې کنه نو فاسد دې.

کما فی شرح التنویر: شرطها امور سبعة الی ان قال وکون الربح بینهما شائعاً فلو عین قدرا فسدت، هامش ردالمحتار ۴:۴۸۵ (۱)، قلت والمفسد شرط الخسران علی المضارب کما فی ردالمحتار فی الصفحة المذکورة لا عدم احتمال الخسران (۲) فافهم.

۲: که ولی خان مشتری وی نو په دې کې باک نشته، او که د حکومت امین او وکیل وی نو دا مخالفت او خیانت دې (۳) والظاهر هو الاول لان الضیاع علیه فافهم. وهو الموفق

---

۱) (الدر المختار ۴:۵۳۹،۵۴۰ کتاب المضاربة)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله بطل الشرط) کشرط الخسران علي المضارب. (ردالمحتار ۴:۵۴۰ کتاب المضاربة)

۳) قال العلامة الکاساني: واما الوکیل بالبیع فالتوکیل بالبیع لا یخلو اما ان یکون مطلقا واما ان یکون مقیدا فان کان مقیدا یراعي فیه القید بالاجماع حتي اذا خالف قیده لا ینفذ علي الموکل ولکن یتوقف علي اجازته. (بدائع الصنائع ۵:۲۶ کتاب الوکالة)

په مضارب باندې د لارې خرچ، دکان پورې د رارسولو او په مال کې د نقصان د ذمه دارئ شرطونه

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: یو سوداګر افغانستان ته روان دې بل سړی ورته پیسې ورکړې چې زما دپاره په دې پیسو باندې فلانئ کپړه راوړئ او د اصلی قیمت نه علاوه په تهان کې شل روپئ ستاسو په ما باندې شوې او د لارې کرایه او خرچ هم ستاسو دې او مال به په ذمه دارئ سره دکان ته رارسوې، آیا دا سودا جائز ده یا ناجائز؟

۲: یو سوداګر افغانستان ته روان دې بل ورته پیسې ورکړې چې په دې پیسو باندې کپړه راوړه زما او ستاسو نفع او نقصان به شریک وی او دکانه پورې راوړل به ستاسو ذمه داری وی که په لاره کې د مال نقصان وشو نو سوداګر به ذمه دار وی، او خرچه، کرایه وغیره به مشترک وی آیا دا جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مصباح الدین ضلع کوهاټ ۸ محرم ۱٤٠٣هـ

الجواب: صورت اول، دویمه معامله فاسده ده (۱) مناسب دا ده چې دا سوداګر خپلې پیسې په خپله ذمه دارئ سره دا کپړه واخلی او دا دکاندار ئې د هغه سوداګر نه په نقد یا د سابق لاحق قرض په عوض واخلی. **والله اعلم**

• دمضارب دپاره په رأس المال باندې داخستلې شوې حیوان توابع استعمالول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مضارب د رب المال په اجازت سره په د رأس المال نه پنځه ګډې واخستل د هغوی پئ په

---

(۱) قال العلامة الحصکفي: کل شرط یوجب جهالة في الربح او یقع الشرکة فیه یفسدها والابطل الشرط وصح العقد اعتبارا بالوکالة.

وقال العلامة ابن عابدین: (قوله بطل الشرط) کشرط الخسران علي المضارب. (الدرالمختار مع ردالمحتار ٤: ٥٤٠ کتاب المضاربة)

شریعت مطهره کښې څه تفصیل لری او دهغې استعمال جائز دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی عبید الله عرف گل خان بلوچستان ۷ جولائی ۱۴۰۱ھ

الجواب: پئ، وړئ او بچې تول په تول په مال مضاربت یا گټه کښې داخل دی، د دې استعمال بغیر د اجازت نه ممنوع دې د هغې قیمت د فقهاء کرامو د قاعدې مطابق کله په راس المال کښې داخل وی او کله په گټه کښې (ماخوذ از هندیة) (۱) وهوالموفق

د رب المال د مضارب سره په عمل کښې د شرکت شرط لګول

سوال: چه فرمودند علماء کرام دریں مسئله که شرکت رب المال مع المضارب جائز اند یا غیر جائز اند خواه شرکت تجارت گوسفندان باشد یا فروختن رخت یعني کپڑا بوعده سال اگر جائز باشد مثلاءمطلق اند یا مقید بشرط ؟ بینواتوجروا

المستفتي: ملا بارک الدین صاحب ډیره اسماعیل خان

الجواب: شرکت بطریق اشتراط ناجائز است . لما فی الدرالمختار: وکونه مسلما الی المضارب، وفی ردالمحتار ۴: ۴۸۵ فلوشرط رب المال ان یعمل مع المضارب لاتجوزالمضاربة(۲). وهوالموفق

---

۱) وفي الهندية : واما حكمها فانه اولا امين وعند الشروع في العمل وكيل واذا ربح فهو شريك. (فتاوي عالمگيرية ۴: ۲۸۸ كتاب المضاربة، الباب الاول)

وقال العلامة سليم رستم باز : المضارب امين فرأس المال في يده في حكم الوديعة اما من حيث تصرفه في رأس المال فهو وكيل رب المال واذا ربح كان شريكا فيه. (شرح المجلة ۷۴۸ المادة: ۱۴۱۳ الفصل الثالث في احكام المضاربة)

۲) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۴: ۵۴۰ كتاب المضاربة)... وفي الهندية :منها ان يكون المال مسلما الي المضارب لا يد لرب المال فيه فان شرطا... [بقيه بر صفحه آئنده...

په مضاربت او شرکت کښې د ګټې تعین عقد لره فاسد کونکې دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې يو موچی سره زما شراکت داسې دې چې د موچی خپل دکان دې کاريګر هم د موچی دی، څه چپل د کمپنۍ نه اخستلو سره راوړی، او څه په خپل لاس او کاريګرو باندې جوړوی، په دې صنعت او کاروبار کښې خساره بالکل نه وی، صرف ګټه وی، اوس د تپوس کولو امر دا دې چې ما د دې شراکت خواهش ظاهر کړو نو هغه ووئيل چې تاسو ماته شل زره روپۍ راکړئ او زما نه فی جوړه خرڅه شوې کښې به څلور روپۍ تاسو ته ملاويږی د مياشتې به حساب وی، څومره جوړې چې خرڅې شوې هغه هومره پيسې به تاسو ته ملاويږی مثلا سل جوړې خرڅې شوې نو څلور سوه روپۍ به تاسو ته ملاويږی، آيا دا شرکت جائز دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: مولوی فضل مولا باجوړی ..... ۱۳ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: په مضاربت او شرکت کښې تعين د ګټې مفسد د عقد دې. (شرح المجلة ۷۱۳، ۷۴۷) (۱) وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه گذشته] ان يعمل رب المال مع المضارب تفسد المضاربة.
(فتاوي هندية ۲۸۶:۴ كتاب المضاربة، الباب الاول في تفسيرها)

(۱) قال العلامة سليم رستم باز: فاذا اتفق الشركاء علي اعطاء احدهم قدرا معينا كانت الشركة باطلة... فلو شرط لاحدهما قدر معين كمائة مثلاً فسدت المضاربة لقطع الشركة في الربح. (شرح المجلة ۷۴۷، ۷۱۳ المادة ۱۳۳۷، ۱۴۱۱)

وفي الهندية: ومنها ان يكون نصيب المضارب من الربح معلوما علي وجه لا تنقطع به الشركة في الربح فان قال علي ان لک من الربح مائة درهم او شرط مع النصف او الثلث عشرة دراهم لا تصح المضاربة.
(فتاوي هندية ۲۸۷:۴ كتاب المضاربة، الباب الاول في تفسيرها)

د خساري او د هلاکت د ضمان په مضارب باندې شرط ګرول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی بل سړی ته لس زره روپئ په مضاربت باندې د تجارت دپاره ورکړې په دې صورت کې که مال تجارت ضائع شی يا په تجارت کې څه نقصان راشی نو مضارب او رب المال به دواړه په هغې کې شريک وی يا که صرف رب المال، بله دا چې که مضارب د پيسو اخستلو په وخت نقصان اومنی نو بيا د نقصان نه پس به په هغه باندې خساره لازم وی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.. ١٦ مارچ ١٩٨٦ء

الجواب: دا د مضاربت مال د مضارب سره امانت دې د دې د ضياع يا هلاکت په صورت کې په مضارب باندې ضمان نه راځی. (هداية [١] شامی [٢])، او تاوان تول په رب المال باندې دې د تاوان په مضارب باندې شرط کول نامنظور او ناجائز دی. **كما في شرح المجلة ٧٥٧ الضرر والخسارة يعود في كل حال على رب المال واذا اشترط ان يكون مشتركا بينه وبين المضارب فلا يعتبر ذلك الشرط [٣]. وهو الموفق**

د مديون د قرض په مال سره د مضاربت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی په بل

---

١) قال العلامة المرغيناني: وما هلک من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال... فان زاد الهالک علي الربح فلا ضمان علي المضارب لانه امين. (الهداية ٣:٢٦٦ كتاب المضاربة)

٢) وقال العلامة الحصكفي: وما هلک من مال المضاربة يصرف الي الربح لانه تبع فان زاد الهالک علي الربح لم يضمن لانه امين. (الدرالمختار ٤:٥٤٦ كتاب المضاربة)

٣) (شرح المجلة ٤:٣٦٤ المادة ١٤٢٨ الفصل الثاني في بيان شروط المضاربة)

سړی باندې د دوه زره روپو مال خرڅ کړو او بیا ئې وویل چې زما چې ستاسو په ذمه کومې پیسې دی په هغې باندې تاسو مضاربت وکړئ او په هغه مال کې دا پیسې ولګوئ کوم چې ما تاسو ته درکړې دې کله چې راس المال ماته وصول شی نو باقی مال به زمونږ او ستاسو ترمینځه نیم نیم تقسیم کولې شی. آیا دا صورت په مضاربت کې داخیدلې شی یا نه؟ او په دې صورت کې د پیو وغیره د منافع څه حکم دې؟ دلته دا رواجونه ډیر دی آیا دا په مضاربت کې داخلیدې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی شیر الله صدر بازار لورالائی..... ۲۴ مئی ۱۹۷۲ء

الجواب: دا مضاربت صحیح نه دې. فی الدر المختار : **واما المضاربة بدین فان علی المضارب لم یجز وان علی ثالث جاز وکره**،هامش رد المحتار ۴۸۴/۴ (۱) او واضحه دې وی چې پئ وغیره به تول د مالک وی.

کما فی الخلاصة والحادث کلا لصاحب البقر وفیها ایضا وله علی المالك قیمة علفها واجر المثل فی قیامه علیها ۱۰۹:۲ (۲). وهوالموفق

په مضارب باندې د شرط د مخالفت د وجې نه د ضمان حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید عمر ته یو لاک روپئ ورکړې چې په دې باندې د کپړو تجارت کوه او دا رقم په طور د مضاربت ورکړې شو، کله چې رب المال د مضارب نه حساب وغوښتلو نو هغه وویل چې ما د کپړو تجارت نه دې کړې، د تیلو تجارت مې کړې دې، په هغې کې نقصان هم شوې دې اوس رب المال د مضارب نه راس المال غواړی، شرعی فتوی او حکم په دې معامله کې څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد عبدالله

---

۱) (الدرالمختار ۴:۵۴۰ کتاب المضاربة)

۲) (خلاصة الفتاوي ۳:۱۱۴ کتاب الاجارات، الجنس الثالث في الدواب)

الجواب: په دې مضارب باندې د شرط د مخالفت د وجې نه د ټول راس المال واپس کول ضروري دي

يدل عليه ما في الهندية: ان خص له رب المال التصرف في بلد بعينه او في سلعة بعينها تتقيد به ولم يجز له ان يتجاوز ذلك (الى ان قال) فان اخرج الى غير ذلك البلد فاشترى ضمن وكان ذلك له وله ربحه وعليه وضيعته۴:۲۹۵ (۱). وهوالصواب

مضارب ته د میاشتې د مخصوص رقم مقرر کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عمر د زید نه څه رقم واخستلو، عمر زید ته وائي چې زما کار (تجارت) کې نقصان نه کیږي، زه به د میاشتې تاسو ته یو مخصوص رقم درکوم، آیا دا په سود کې شامل دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: جمروز خان دره آدم خیل..... ۱۷ اکتوبر ۱۹۷۸ء

الجواب: دا معامله د مضاربت فاسده ده او ناجائز ده.

كما في شرح التنوير: كل شرط يوجب جهالة في الربح او يقطع الشركة فيه، وفي ردالمحتار ۴:۴۸۵ كما لو شرط لاحدهما دراهم مسماة يفسدها (۲). وهوالموفق

---

۱) (فتاوي عالمگيرية ۴:۲۹۷ كتاب المضاربة، الباب السادس فيما يشترط علي المضارب)

۲) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۴:۵۴۰ كتاب المضاربة)

وفي الهندية: ومنها ان يكون نصيب المضارب من الربح معلوما علي وجه لا تنقطع به الشركة في الربح، فان قال علي ان لک من الربح مائة درهم او شرط مع النصف او الثلث عشرة دراهم لا تصح المضاربة.

(فتاوي هندية ۴:۲۸۷ كتاب المضاربة، الباب الاول في تفسيرها)

په حرام مال باندې د مضاربت کولو نه د حاصل شوې نفع حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې په محکمه ايری ګيشن (پائپ لائن) کې د اکاؤنټينټ په حيثيت سره خدمات ادا کوی او هغه ته د تنخواه نه علاوه نورې ډيرې پيسې ملاويږی او په نه اخستلو باندې ئې سټاف تنګوی، بيا د هغه نه يو سړې يو لاک روپئ د مضاربت دپاره واخلی او مضارب هغه ته نيمه ګټه ورکوی، آيا په دې پيسو باندې به مضاربت صحيح وی؟ که مضاربت والا طالب علم ته د تعليم د حصول دپاره دا پيسې ورکړی نو آيا په دې پيسو باندې به د دينی علومو حصول جائز وی يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: نامعلوم.....۱ جنوری ۱۹۸۶ء

الجواب: د حرام مال نه حاصل شوې ګټه حلال ده، اګر چې دا معامله حرام ده.(۱) لعدم جرى العادة على تعين الدراهم عند الشراء بها. پس په دې نفع سره د هر فقير او غنی اعانت جائز دې. بخلاف المال الحرام.(۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الشامي: (قوله اكتسب حراما الخ)توضيح المسألة ما في التتارخانية حيث قال: رجل اكتسب مالا من حرام ثم اشتري فهذا علي خمسة اوجه، اما ان دفع تلك الدراهم الي البائع اولاً ثم اشتري منه بها او اشتري قبل الدفع بها ودفعها، او اشتري قبل الدفع بها ودفع غيرها، او اشتري مطلقا ودفع تلک الدراهم، او اشتري بدراهم اخر ودفع تلک الدراهم، قال ابونصر يطيب له ولا يجب عليه ان يتصدق الا في الوجه الاول... وقال الكرخي في الوجه الاول والثاني لا يطيب،وفي الثلاث الاخيرة يطيب، وقال ابوبكر لا يطيب في الكل، لكن الفتوي الآن علي قول الكرخي دفعا للحرج عن الناس.
(ردالمحتار ۴:۲۴۴ مطلب اذا اكتسب حراما ثم اشتري فهو علي خمسة اوجه)

(۲) في شرح المجلة: لانه اما غاصب او مستودع، وكل منهما استربح فيما في يده لنفسه، يكون ربحه له لا للمالک لكن يملكه ملكاً خبيثاً سبيله التصدق به علي الفقراء. (شرح المجلة ۴:۳۰ المادة: ۱۰۹۰)

په مضاربت کې د خیانت ثابتیدلو نه پس د مال مضاربت د تقسیم طریق کار

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې زید او بکر د مضاربت کاروبار شروع کړو، زید دوه لاکه روپئ سرمایه ولګوله او بکر مضارب ته ئې په نیمه ورکړه. بیا بکر زید سره د مشورې کولو نه بغیر یو ملازم وساتلو، زید په دې اعتراض وکړو نو بکر په جواب کې وویل چې دا زما معتمد دوست دې، په دې باندې زید خاموش شو، یو نیم کال پس زید ته معلومه شوه چې په دکان کې دیارلس نیم زره روپئ نقصان شوې دې، بکر او عمر غلا کړې ده، بکر هم په دې موده کې د خپلو ضروریاتو دپاره د دکان نه پنځه ځلویښت زره روپئ اخستلې وې او زید ته ئې د مطالبې باوجود هیڅ ورنکړل، اوس بکر وائی چې ما په دکان کې محنت کړې دې لهذا ماته د دې عوض ملاویدل پکار دی، د فیصلې دپاره دوه علماء کرام ثالث مقرر کړې شو هغوی حساب کتاب کولو سره آخر دا فیصله واوروله چې دکان دې زید سره وی او بکر ته دې د محنت په عوض کې پنځه ځلویښت زره روپئ ورکړې شی کومې چې ئې مخکې اخستلې دی، دغه شان زید (رب المال) اتۀ پنځوس زره روپئ نقصان برداشت کړو، اوس سوال دا دې چې دا فیصله شرعا صحیح ده یا نه ده؟ د مذکوره فیصلې د شرعی نه کیدو په صورت کې شرعی فیصله هم ولیکئ؟ جزاکم الله خیرا

المستفتی: ډاکټر اسماعیل میمن مدینه منوره ..... ۲۶ مئ ۱۹۸۷ء

الجواب: که زید په شهادت شرعیه سره دا ثابته کړی چې بکر خیانت او غلا کړې ده نو د هغه خیانت عهده په بکر باندې راځی (۱) او د هغې نه پس کله

---

(۱) في الهندية: فان صحت الدعوي سأل المدعي عليه عنها فان اقر او انکر فبرهن المدعي قضي عليه. (فتاوي هندية ۱۳: ۴ الباب الثالث في اليمين)

وقال العلامة الكاساني: فاذا خالف شرط رب المال صاربمنزلة الغاصب ويصير المال مضمونا عليه.

(بدائع الصنائع ۱۲۰:۵ كتاب المضاربة، فصل في بيان حكم المضاربة)

چې ټول سامان (کېږي) خرڅې شي نو اصل رقم دې زید (رب المال) ته ورکړې شي او زیادت دې په اصل رقم باندې (مثلاً په دوه لاکهو باندې) مساوي تقسیم کړې شي. (۱) او کوم رقم چې بکر د اخراجاتو دپاره اخستلې دې هغه دې د بکر د حصې د کټې نه کټ کړې شي. وهوالموفق

د مضارب نفقه او په هغه باندې د مال مضاربت د تاوان حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید بکر ته لس زره روپئ ورکړې او وې ویل چې پنځه زره روپئ قرضه ده او پنځه زره روپئ زمونږ دپاره په طور د مضاربت استعمال کړه، که ټول رقم هلاک شي نو تاسو به د پنځه زره روپو ضامن یئ او تاسو ته د دې رقم نه د خوراک اجازت دې، د دې مضاربت څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: گل محمد بلوچستانی متعلم حقانیه .... ۲۱ جولائی ۶۸ء

الجواب: دا سړې د قرض مال ضامن دې. (۲) نه د مال مضاربت (۳) او که دا

---

(۱) قال العلامة ظفر احمد العثماني: وفي العالمگيرية: سئل ابو بكر عن شريكين جن احدهما وعمل الآخر بالمال حتي ربح او وضع قال الشركة بينهما قائمة الي ان يتم اطباق الجنون عليه فاذا قضي ذلک ينفسخ الشركة بينهما فاذا عمل بالمال بعد ذلک فالربح كله للعامل والوضيعة عليه وهو كالغصب بمال المجنون فيطيب له من الربح حصة ماله ولا يطيب له من مال المجنون فيتصدق به قال الشامي وفي القهستاني وله ان يؤديه الي المالک ويحل له التناول لزوال الخبث (۵:۱۸۴) اود مضاربت دپاره هم دا حکم دې چې که ټوله مقرر نفع دده ملك دې ليكن كوم شريك چې دده سره د مضاربت عقد كړې دې دهغه د حصې موافق حلاله ده. او زياتي حلاله نه ده، بلكه نورو شريكانو ته دې وركړې يا دې فقيرانو ته وركړې. وهذا هو مقتضي القواعد ولم اره صريحا.

(امداد الاحكام ۳:۳۲۰ كتاب الشركة والمضاربة)

(۲) وفي شرح المجلة: هو عقد مخصوص يرد علي دفع مال مثلي لردّ مثله".

(شرح المجلة ۲:۴۳۷ كتاب البيوع، احكام القرض)

(۳) وفي الهداية: ثم المدفوع الي المضارب امانة في يده لأنه قبضه بأ مر مالكه لا علي وجه البدل والو ثيقة.

...بقيه برصفحه آئنده...

سرې تجارت په خپل ښهر کې کوی نو د هغه ګټه په خپل مال کې ده نه په مال د مضاربت کښ. (شامی) (۱) والله اعلم

د مهتمم د زکوة مال په مضاربت ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زکاة د مال فنډ کوم چې د مدرسې دپاره جمع کړې شوې دې که په هغې کې په طور د مضاربت په مشوره د متولی او اراکین مدرسه د مدرسې دپاره تجارت وکړې شی نو جائز دې یا نه دې؟ جواب راکولو سره مهربانی وکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: سید جلال الدین، مهتمم مدرسه زرگری ضلع هنگو ... ۲۱ جنوری ۱۹۶۹ء

الجواب: چونکې په مضاربت صحیحه کې د اصل مال کل یا بعض د هلاکت خطره موجود ده، پس د مالکانو د ښکاره اجازت نه بغیر د زکاة مال په مضاربت باندې ورکول خیانت دې. (۲) فقط.....وهوالموفق

...

...بقیه ازحاشیه گذشته]

(الهداية : ۳:۲۵۷ کتاب المضاربة)

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي" (وإن عمل في المصر) سواء ولدفيه أو اتخذه داراً (فنفقته في ماله) كدوائه علي الظاهر".

(الدرالمختار ۴:۵۴۶ كتاب المضاربة، فصل في المتفرقات)

(۲) وفي شرح المجلة : لا يجوز لأحد أن يتصرف في ملک غيره بلا إذنه أووكالة منه أوولاية عليه وإن فعل كان ضامنا".

(شرح المجلة لسيلم رستم باز رحمه الله تعالي، ۶۱ المادة ۹۶)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

كتاب الشركة

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

فَإِنْ كَانُوٓا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ

(سورۃ النسآء)

....

کتاب الشّرکة

په مشترکه مال سره د یو ورور په حاصل کړې ګټه کې د شرکت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مونږ څلور ورونه یو، زمونږ والد محترم په ۷۷ء کې وفات شوې دې، د هغوی د چائې کاروبار وو او دوه ورونه صاحبان د ملک نه بهر دی (یو ډاکټر او بل انجینئر)، زمونږ د والد صاحب نه په میراث کې پنځه دیرش زره روپئ پاتې شوې وې، د پلار د وفات نه پس مشر ورور هغه کاروبار اوچلولو، هم په هغه پیسو باندې ئې کاروبار شروع کړې وو او سرمایه ئې ډیره مخکې کړه، هغه وخت ما په سکول کې سبق ویلو کله کله به دکان ته راتلم، بیا د میټرک نه پس زه په ۱۹۸۳ء کې دکان ته مسلسل راتلم، په ۱۹۹۷ء کې مې ورور وویل چې زه کاروبار بیلول غواړم او وې ویل چې تاته به د دې مال نه نۀ بلکې د والد صاحب د میراث د پنځه دیرشو زرو روپو نه نیمې درکوم، مشران ورونه وائی چې مونږ خپله حصه تاسو ته پریښودلې ده، ځکه چې مونږ په دې کاروبار سره تعلیم حاصل کړې دې، اوس سوال دا دې چې د دې ورونو دا حصه څنګه وه؟ او زما حصه به آیا صرف د والد صاحب په میراث کې وی او که په ټوله ګټه کښې؟

ما پرائیویټ وکالت (L-B-B) هم کړې دې، زمونږ یو کتاب دې "اسلامک لاء" په هغې کې شرعی فیصلې لیکلې شوې دی، په هغې کې لیکلې شوې دی چې که دپلار پریښودلې شوې کاروبار هغه وخت تقسیم نه کړې شی او هم په هغه مال باندې کاروبارشروع کړې شی نودهغې په ګټه کې به ټول وارثان شریک وی اوچلونکی به صرف امین وی، ددې لږوضاحت وکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: ارشد میاں مردان...... ۵ شوال المکرم ۱۴۱۰ھ

الجواب: دا د اسلامک لاء والا مسئله مجمل ده مفصل مسئله دا ده چې که وارث دا تصرف او تجارت د نورو وارثانو د اجازت نه بغیر کړې وی نو دا گټه به صرف د هغه وارث وی، لکه چې تاوان به هم صرف په هغه باندې وی، او که دې وارث د شرکت او وکالت په طور (یعنی د هغوی په اجازت باندې) دا تصرف کړې وی نو گټه او تاوان به په ټولو باندې عائد کیږی، **وهو مجزم على التقدير الاول دون الثاني** (شرح المجلة ۶۱۰ المادة: ۱۰۹۰ (۱)) **والله اعلم**

د ورور په ځمکه باندې بغیر د اجازت نه د کور جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې درې ورونو خپل مینځ کې د ځمکې یوه حصه تقسیم کړه، د ورور په عدم موجودگئ کې وړوکی ورور دهغه په حصه دارئ کې کور جوړ کړو، مشر ورور په راتلو باندې وړوکی ورور ته خبردارې ورکړو چې تا زما په حصه کې کور ولې تعمیر کړو؟ د کور د تعمیر نه لس کاله پس وړوکی ورور په بل ځای کې په خپله حصه کې کور جوړ کړو د زوړ کور څه حصه ئې ورانه کړه او څه حصه ئې باقی ده، مشر ورور وویل چې زما د حصې نه باقی کور هم وران کړه خو هغه نه منی. آیا مشر ورور په حقه دې یا نه؟ شرعی فیصله څه ده؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: سید عمر شاه... کوهاټ..... ۲۹ جولائی ۱۹۸۶ء

الجواب: که دې کشر ورور د مشر ورور د اجازت نه بغیر د هغه په حصه کې کور جوړ کړې وی نو په دې کشر ورور باندې ضروری ده چې د هغه مشر

---

(۱) وفي شرح المجلّة :اذا أخذ أحد الورثة مبلغًا من الدراهم من التركة قبل القسمة بدون اذن الآخرين وعمل فيه وخسر تكون الخسارة عائدة اليه، كما أنه اذا ربح لايسوغ لبقية الورثة طلب حصّة منه.

(شرح المجلّة ۴:۲۹،۳۰ :المادة ۱۰۹۰ "الفصل الثاني في بيان كيفية التصرّف الخ")

وروز حصه خالی کړي (شرح المجلة) (١) وهوالموفق.

د یو وروړ په مال کې تجارت کولو سره د حاصلې کړې شوې گټې حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید او عمر دواړه اعیاني ورونه دي، په یو کور کې اوسیدل، شریکه ئې خوړله څښله، بغیر د حساب کتاب نه دواړو جائیداد اخستلو سره بعض سهام په دواړو نومونو باندې، بعض په رجسټرو باندې اخستلو، دواړه بال بچه دار شو، دواړه د جائیداد د تقسیمولو نه بغیر جدا شو، درې څلور کاله پس کشر ورور عمر سهامونه او رجسټرئ کومې چې هغه سره د امانت په طور موجود وې پټولو سره بعض جائیداد په پټه خپل نوم باندې منتقل کړو، او مشر وروړ ته ئې وویل چې په دې جائیداد کې د خوراک څکاک نه علاوه ستا هیڅ حق نشته، او نه خو زما مزدور وې، او حال دا وو چې مشر وروړ ئې د پنځه شپږ سوه روپو مالک وو او کشر وروړ سره هیڅ پیسې نه وې او هر څه مشر وروړ کړې وو او کشر وروړ د نقصان او خسارې نه علاوه د هیڅ هم نه وو، مهرباني وکړئ او بیان کړئ چې دهغه متعلق په شرع محمدی ﷺ کې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی رحمان الدین مردان....٢٨جون ١٩٦٢ء

الجواب: په صورت مسئوله کې که دې وروڼو د خپل پلار په جائیداد کې تصرف کړې وي یا د عدیم المال کیدو د وجې نه دواړو مزدوری کړې وي نو

---

(١) وفي شرح المجلّة: دارمشتركة بين قوم...ليس له أن يحفر فيهابئراًاويبني فيهابناء بغيراذن شريكه وان حفراوبنيٰ ضمن النقصان ويومربرفع البناء. (شرح المجلّة١٦: ٤: المادة١٠٧٥)

د هغوی په اخستلې شوې جائیداد کې به یو شان حصه وی.

یدل علیه مافی ردالمحتار ۳:۴۸۳ ''فصل فی الشرکة الفاسدة'' یوخذ من هذا ما أفتی به فی الخیریة فی زوج امرأة وابنها اجتمعا فی دار واحدة وأخذ کل منهما یکتسب علی حدة ویجمعان کسبهما ولا یعلم التفاوت ولا التساوی ولا التمییز فأجاب بأنه بینهما سویة وکذلك لو اجتمع إخوة یعملون فی ترکة أبیهم ونما المال فهو بینهم سویة ولو اختلفوا فی العمل والرأی(۱).

او که دا خبره ثابته شی چې مال صرف د زید وو او په دې کې به دواړو تجارت کولو نو ګټه به د زید وی او عمر ته به باقاعده اجرت ورکولې شی،

(لمافی ردالمحتار ۳:۴۸۳)قوله والربح الخ حاصله أن الشرکة الفاسدة اما بدون مال أوبه من الجانبین أومن أحدهما فحکم الأولی أن الربح فیها للعامل والثانیة بقدر المال والثالثة لرب المال وللآخر أجر مثله(۲) بحذف یسیر. وهوالموفق

په مشترک ګټې سره د یو ورور د خپل ځان دپاره ځمکه اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې پنځه ورونه د خپل پلار په موجودګئ کې او د وفات نه پس تر اوسه پورې په روزګار باندې مشترک راروان دی، اوس د څه وجې نه بیلیدل غواړی چې ټول ورونه خپله ګټه مشترک طور خرچ کوی، مثلا وادهٔ ښادی، تعلیمی اخراجات وغیره او د ځمکې اخستل هم په مشترکه ګټه باندې کیږی او ټول ورونه پکې برابر شریک دی، اوس یو رور، کوم چې د ټولو نه مشر دې او د کور په ټولو کارونو (اخستل او خرڅول هم د هغوی په لاس باندې کیږی) د ځمکې یوه حصه د حکومت نه په قسطونو باندې اخستلې ده په دې کې نورو ورونو

(۱) (ردالمحتار ۳:۳۸۳ ''کتاب الشرکة، فصل فی الشرکة الفاسدة'')

(۲) (ردالمحتار ۳:۳۸۳ ''فصل فی الشرکة الفاسدة: مطلب یرجح القیاس'')

لره په دې وجه نه شریکوي چې ذکر شوې د ځمکې حصه ماته د سابقه فوجي کیدو په حیثیت سره ملاؤ شوې ده او زه خانله د دې مالک یم، حال دا چې د ځمکې د دې حصې د اخستلو په خرچه کې د مخکې په شان هر څلور واړه ورونه شریک دی، اوس د پوښتنې خبره دا ده چې:

۱: آیا په دې صورت کې د ځمکې په ذکر شوې حصه کې ټول ورونه برابر حصه دار دی یا نه؟

۲: آیا د شریعت په رڼا کې دا د هم هغه یو ورور ملکیت دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: سردار، گوهر رحمن هزاره

الجواب: که مشر ورور دا ثابته کړی چې ما دا حصه د ځمکې صرف د خپل ملکیت په ارادې سره اخستلې ده نو په هغه باندې دا ضروری ده چې چونکې د دې حصې قیمت د مشترکه مال نه ورکړې شوې دې نو نورو ورونو ته دې خپله خپله حصه قیمت واپس کړی(۱) او که مشر ورور دا ثابته نه کړې شي نو دا حصه به هم مشترک شمارکولې شي فی الدرالمختار: القول لمنکرالشرکة، وفی ردّالمحتار ۳: ۴۸۷ اذاکان المال فی یده فادّعی علیه آخرانّه شارکه مفاوضة فالقول للجاحد مع یمینه وعلی المدّعی البینة الخ(۲). فقط

د پلار او ځوی په مشترکه ګټه کې د پلار د وفات نه پس د نورو ورونو د شریکیدلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې وفات

---

۱ ﴾ قال العلّامة سلیم رستم بازرحمه الله تعالي: وماشتراه أحدهم لنفسه یکون له ویضمن حصّة شرکائه من ثمنه اذادفعه من المال المشترک.
(شرح المجلّة ۷۲۵: المادة ۱۳۶۱ "الفصل الخامس في شرکة المفاوضة")

۲ ﴾(الدّرالمختارمع ردّالمحتارص ۳۸۶، ج ۳ "کتاب الشرکة، فصل في الشرکة الفاسدة")

شو او د هغه میراث نقدې پیسې دی او هم دغه شان غوا، میخه او فصل یعنی غنم او بهس وغیره. او دا پورته ذکر شوې ځیزونه د هغه ځمکې پیداوار دی او هغه وخت کې مړی او د هغه ځوی شکور دواړو مشترک کار کولو. دا پورته ذکر شوې ځیزونو پرېښودلو سره پلار وفات شو او د مړی بل ځوئې دوست محمد (کوم چې د هغوی نه بیل وو) په دې ذکر شوې ځیزونو کې د حصې اخستلو دعوی وکړه، آیا هغه د دعوی مستحق دې یا نه دې؟ او شکور د خپل پلار سره په ګاڼه باندې ځمکه اخستلې ده او د څو کورونو دپاره ئې ځمکه اخستلې ده شکور په هغې باندې قبضه کړې ده آیا په دې کې د بل ځوی حصه شته یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: که شکور کار د خپل پلار سره د معاونت په طور کړې وی نو په دې غوا، میخه او نقد وغیره کې دوست محمد د مساوی حصې حقدار دې. او که شکور د حصې او شرکت په طور کړې وی نو د ربع دوست محمد حقدار دې، (یدل علیه ما فی ردالمحتار ۳: ۴۸۳) الأب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة لم یکن لهما شئ فالکسب کله للأب ان کان الابن فی عیاله لکونه معینا له([1]). وهوالموفق

د مروجه کورنی شرکت په صورت کې د ګټلې شوی مال حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه وروڼه یوځای اوسیږی او په دې حالت کې د هغوی هر یو ځیز مشترک دې، یو ورور ئې انګلینډ ته تلو سره ګټه وکړه او بل ورور ئې د زمینداری کار شروع کړو هغه خپله هم اوخوړله او د بل ورور په اهل وعیال باندې ئې هم اوخوړله. اوس د انګلینډ والا ورور کور اخستلې دې، د بل ورور ئې په هغې

---

[1] (ردالمحتار ۳: ۳۸۳ "کتاب الشرکة، فصل في الشرکة الفاسدة")

کې حصه نه ده ساتلې نو شرعي حکم د دې په باره کې څه دې چې کوم ورور ئې په کور کې وو د هغه حصه به د بل ورور سره وی او که نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا محمد شفیع صاحب غورغشتوی اټک ... ٤ ذوالحجة ١٤٠٣ھ

الجواب: دا معامله د شرکت فاسده ده، په دې کې په دواړو وروڼو باندې د تقسیم طریقه دا ده چې که د دواړو ګټه مجهول التفاوت والتساوی او غیر متمیز وی نو په دواړو باندې به مساوی طور سره دا ټول مالونه تقسیم کولې شی. او که د هغوی دواړو ګټه متمیز وی د یو ګټه غله او ترکاری وغیره وی او د بل ګټه روپۍ وغیره وی نو په هغوی باندې مساوی طور سره تقسیم کول صرف رواجی امر دې کما یشیر الیه فی ردالمحتار ٣:٤٨٣ یوخذ من هذا ما أفتی به فی الخیریة فی زوج امرأة وابنها اجتمعا فی دار واحدة وأخذ کل منهما یکتسب علی حدة ویجمعان کسبهما ولا یعلم التفاوت ولا التساوی ولا التمیز فأجاب بأنه بینهما سویة(١) فافهم. وهوالموفق

په مشترکه ځمکه کې د لګولې شوو اونو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مثلاً زید مړ شو، د هغه څلور ځامن پاتې شو اوس یو ځوی په مشترکه ځمکه کې باغ ولګولو څو کاله پس کله چې باغ میوه ورکول شروع کړل نو د زید باقی درې واړو ځامنو وویل چې په دې کې زمونږ هم حق دې ځکه چې ځمکه مشترک ده او چا چې باغ لګولې دې هغه انکار کوی، نو آیا د زید باقی درې واړه ځامن د هغه سره هم په دې باغ کې شریکیدلې شی یا نه، او هغه ته دا حق حاصل دې چې هغوی د باغ نه اوباسی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالحمید خانقاه پنساله ضلع ډیره اسماعیل خان ١٥ ذی الحجة ١٣٨٩ھ

١) (ردالمحتار ٣:٣٨٣ "کتاب الشرکة، فصل فی الشرکة الفاسدة")

الجواب: کومې ونې چې خپله راختلې وی هغه د ځمکې تابع دی او د ځمکې د مالک مملوک وی، لما فی رد المحتار ٤/١١٠ ﴿الشجر له ساق فلا تدخل فیه حتی یجوز بیعها اذا نبتت فی ارضه لکونها ملکه انتهی﴾ (١) خو کومې ونې چې لګولې دی نو هغه به د نال کونکی مملوک وی، که په اجازت سره لګولې وی او که بغیر د اجازت نه وی. خو کومې ونې چې په اجازت سره لګولې وی نو د تقسیم نه پس چې کومې ونې د غیر غارس په حصه کې راشی د هغې راویستل او په قیمت باندې اخستل د هغه په مرضی باندې موقوف دی. یدل علیه مافی الدرّالمختار علی هامش ردّالمحتار ٥:٢٣٣ بنی أحدهما أی أحدالشریکین بغیراذن الآخر (وقال العلامة ابن عابدین: وکذالوبأذنه لنفسه لأنّه مستعیرلحصّة الآخر) فی عقارمشترک بینهما فطلب شریکه رفع بناءه قسم العقارفان وقع البناء فی نصیب الباقی فبها ونعمت والاهدم البناء وقال الشامی أوأرضاه بدفع قیمته وحکم الغرس کذلک فقط (٢). وهوالموفق

د غرونو، ځنګلونو ملکیت او د هغې په منافع کې د شرکت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په یوه علاقه (کوهستان) کې تقریبا د درې څلورو کالو نه درې ډلې اوسیږی، یوې ډلې غیر آباد (شاړه) ځمکه آباده کړې ده، بلې ډلې غیر آباد علاقه د فریق اول نه قیمتا اخستلو سره آباده کړه او دریم فریق د جائیداد وغیره سره هیڅ تعلق او نه لرلو بلکې څاروی ساتلو یا تجارت کولو سره ئې ژوند تیر کړو. د فریق اول د آبادې کړې ځمکې نه علاوه غرونه او ځنګلې دی (یعنی تقریبا ۳۰، ۴۰ میله پورې غیر آباد غرونو کې قدرتی ځنګلې دی) په پخوا زمانه کې د هغې دومره اهمیت نه وو چې د هغې نه نفع وغیره حاصل کړې شوې وې خو اوس دا غرونه او ځنګلې وغیره کافی قیمتی دی او په هغې باندې د حکومت

---

١ ﴾ (ردّالمحتار ٤:١٢٣ "قبیل مطلب صاحب البئر لایملک الماء")

٢ ﴾ (ردّالمحتار مع الدرّالمختار ٥:١٨٨ "کتاب القسمة")

قبضه ده او دهغې نه ددې ځای اوسیدونکو خلقو ته یو خاص حصه (رائیلتی کښ) ورکوی. اوس صورت حال داديې چې د حکومت په حصه کې د ورکولو د وجې نه بعض ډلې دملکیت ذاتی دعوی کوی اوبعض دشرکة فی الاستحقاق په شریعت کې د دې څه حکم دې چې غیر آباد غرونه او ځنګلې د چا ذاتی ملکیت جوړیدې شی یا نه؟ ټولې ډلې د دې غرونو او ځنګلاتو ملکیةً مستحق دی یا بعض ډلې؟ که ملکیةً مستحق نه وی نو آیا ټولې ډلې شریک فی المنافع دی یا بعض (یعنی چاته چې ئې حکومت ورکوی)؟ دا غرونه او ځنګلې په مباح الاصل څیزونو کې داخل دی یا نه؟ حدیث مبارک دې : ﴿الناس شرکاء فی ثلاثة اشیاء الماء والنار والکلاء الخ﴾ نو غرونه او خپله راختلې ځنګلات ﴿الکلاء﴾ ټ ی داخل دی یا نه؟ د ﴿الناس﴾ مصداق عوام الناس دی یا خواص؟ په مباح الاصل څیزونو کې د نفع د مستحق کیدو دپاره د جائیداد مالک کیدل شرط دی یا نه؟ د متعدد کتابونو د حوالې نه سره د تعین د صفحې، د مذهب ظاهر الروایة نه جواب راکولو سره د شکریه موقع راکړئ. بینواتوجروا

المستفتی: قوم کوهستان بذریعه فضل الرحمن متعلم دار العلوم سیدو شریف

الجواب: اعلم أنّ الکلأ مغایر عن الشجر ذاتاً وحکماً یدلّ علیه ما فی ردّالمحتار ۴: ۱۱۰ قال فی البحر ویدخل فیه جمیع أنواع ما ترعاه المواشی رطباً کان أو یابساً بخلاف الأشجار لأنّ الکلأ ما لا ساق له والشجر ماله ساق فلا تدخل فیه حتّی یجوز بیعها اذا نبتت فی أرضه لکونها ملکه والکمأة کالکلأ انتهی (۱) فعلم منه أنّ الأشجار تابعة للأرض ان کانت مملوکة والّا فلا. فلابدّ علینا من تعرف أراضی الجبال اوّلا لیکون ذریعة الی تعرف حکم الأشجار وثمنها فأقول وبالله التوفیق:

---

۱ ﴾ (ردّالمحتار ۴: ۱۲۳ "باب بیع الفاسد")

''الأراضي في الأصل نوعان:أرض مملوكة وأرض مباحة غير مملوكة، والمملوكة نوعان:عامرة وخراب،والمباحة نوعان أيضًا:نوع هومن مرافق البلدة محتطبًا لهم ومرعًى لمواشيهم ونوع ليس من مرافقها وهوالمسمّى بالموات''(۱) (بدائع ۶:۱۹۲،۱۹۳)ثمّ قال في صفحة ۱۹۴''وأمّا أرض الموات فالكلام فيها في مواضع في تفسيرأرض الموات وفي بيان مايملك الامام من التصرف في الموات وفي بيان مايثبت به الملك في الموات ومايثبت به الحق فيه دون الملك.

أمّا الأوّل فالأرض الموات هي أرض خارج البلد لم تكن ملكًا لأحدٍ ولاحقًّا له خاصًّا فلايكون داخل البلد موات أصلًا وكذا ماكان خارج البلد من مرافقها محتطبًا لأهلها أومرعًى لهم لايكون مواتًا حتّى لايملك الامام أقطاعها لأنّ ماكان من مرافق أهل البلدة فهوحق أهل البلدة كفناء دارهم وفي الأقطاع ابطال حقهم''انتهى مافي البدائع(۲).

وأرض الجبال غيرمملوكة كمالايخفى(۳)،ولهذا لايجري فيها التوارث وغيرهٗ فكذلك أشجارها لاتكون مملوكة وكذا ليس فيها حق الملك لأحد لعدم اذن الامام بأحياءها،نعم!في بعضها حق الانتفاع أي ماقربت منها وأمّا البعيدة فهي موات محض ليست بمملوكة ولافيها حق الملك والانتساب الصرف لايفيد فجاز للحاكم بيع مابعد وجازله التصرف في الثمن كيف يشاء ولم يجزله بيع ماقرب لأنّ فيها ابطال حق أهلها(۴) فقط. وهوالموفق

---

۱) (بدائع الصنائع ۵:۲۸۱ كتاب الأراضي)

۲) (بدائع الصنائع ۵:۲۸۳ كتاب الأراضي)

۳) لانها من الموات ولم تحي وان احييت فبغير اذن الامام (مفتي سيف الله حقاني)

۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي: اذا أحيا مسلم أوبقيه بر صفحه آئنده...

د حکومت د طرف نه ملاؤ شوې مال کې د ورونو حصه غوښتل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: د زید، عمر او بکر درې وارو مشترکه جائيداد په هندوستان کې وو او د هغې د کتنې نه د زید په نوم باندې يو پلاټ واخستلې شو چې په هغې باندې خرچې کولو سره څه تعمير وکړې شو او د تعمير خرچه مشترکه وشوه.

۲: د دې نه پس د عمر او د بکر په نوم باندې دويم پلاټ واخستلې شو، نيم د عمر په نوم او نيم د بکر په نوم، کوم چې د قيمت په لحاظ سره د زيد د پلاټ نه پنځلس چنده زيات ماليت باندې واخستلې شو او خلق د هغې نه پس د هندوستان نه پاکستان ته منتقل شو، حکومت پاکستان د هغه متروکه کورونو د معاوضې ورکولو اعلان وکړو، اوس زيد په قانونی مهارت سره د خپل پلاټ د قيمت زياتولو دپاره ناجائزې حربې استعمال کړې چې د هغې د وجې د هغې قيمت څو چنده زيات حاصل کړې شو او د رشوت په وجه زيد ته زياته منافع او معاوضه ملاؤ شوه.

۳: د دې په مقابله کې عمر او بکر د شريعت د پابندئ د وجې نه د خپل پلاټ د اصلی خريدارئ د قيمت تقاضه وکړه، د نور قيمت ناجائز حربې استعمالولو نه ئې د الله پاک د ويرې نه انکار وکړو چې د هغې د وجې نه د هغوی د اصلی اخستلې شوی قيمت منظوری وشوه، اوس د عمر او بکر نه د زيد نه د ناجائز حاصل کړې جائيداد حصه غواړی، آيا عمر او بکر د زيد نه د هغه ناجائز حاصل کړې شوی جائيداد په حصه کې په نزد د شريعت محمدی د حصه اخستلو حقدار دی يا نه؟ چې د خپل جائيداد د ناجائز قيمت زياتولو نه ئې په وجه د غير مشروع کيدو انکار کړې دې. شرعا د دې مسئلې

...بقيه ازحاشيه گذشته]

ذمي أرضا غير منتفع بها و ليست بمملوكة لمسلم و لا ذمي و هي بعيدة من القرية ملكها و اعتبر محمد رحمه الله عدم ارتفاق اهل القرية ... و لا يجوز احياء ما قرب من العامر بل يترك مرعي لهم و مطرحا لحصائدهم لتعلق حقهم به فلم يكن مواتا و كذا كان محتطبا.

(الدر المختار: ۶:۳۰۸،۵:۳۰۶ ''كتاب احياء الموات'')

وضاحت وکړئ. بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالجلیل محله قوی آباد نواب شاه مارکیت روډ سندهـ

الجواب: د کفارو چې کوم اموال منقوله وغیره منقوله په پاکستان کې پاتې شوې دی، هغه د بیت المال او حکومت حق دې. الله پاک فرمائی:
﴿وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ (۱) وفی ردّالمحتار ۳: ۳۱۵ ناقلاعن الهندیة ''وما أخذ منهم بلاحرب ولاقهر کالهدیة والصلح فهولاغنیمة ولافئ وحکمهٗ حکم الفئ لایخمس ویوضع فی بیت المال'' (۲) لهٰذا دا مالونه چې کومو خلقو ته د حکومت د طرف نه ملاؤ شوی دی هغوی به مالکان متصور کولې شی که په هندوستان کې د هغوی مالونه وی او که نه وی، که کم وی او که زیات وی، پس د زید سره د باقی ورونو هیڅ حصه نشته. فقط

په شرکت د خسارې د ضمان اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې خالد د لسو لاکهو روپو سرمایه په کاروبار کښې ولګوله، هغه ته ضرورت راغلو چې پنځه لاکه روپئ ورته نورې ملاؤ شي یا نور څوک سرمایه دار د هغه سره یوځای شی نو هغوی به په منافع کې هم شریک کړې شی، د هغه دوست رشید هغه ته د عبدالحمید ذکر وکړو چې هغه سره یو لاک روپئ بغیر د سود نه پرتې دی او هغه ته ئې اویل چې تقریبا په کال کې به تاسو ته ۲۰ فیصده منافع ملاؤ شی، عبدالحمید کور ته راغلو چې دا خو سوداګری ده ممکن ده چې تاوان راشی، رشید هغه ته وویل چې که نفع وشوه نو هغه به ستاسو وی او که نقصان وشو نو هغه به زه د خپل جیب نه ادا کوم د پیسو ورکولو په وخت د عبدالحمید په زړه کې راغلل چې صرف د اصل سرمایه ذمه داری

---

۱ ﴾ (سورة الحشر، آیت: ۶)

۲ ﴾ (ردّالمحتار ۳: ۲۵۰ ''کتاب الجهاد، باب المغنم والقسمة'')

خو معمولي خبره ده ممکن ده چې نفع ورته حاصل شي په دې وجه ئې د رشيد نه بيا تقاضه وکړه چې که ستاسو د قول مطابق ۲۰ فيصده نفع وشوه نو تاسو په طور د ثالث ذمه داري واخلئ او دا وعده وکړئ چې تاسو به د خپل مال نه ماته کم ازکم لس فيصده نفع ضرور راکوئ، نو په دې وعده باندې يو لاک روپئ د خالد په حواله کړې کومې چې خالد په کاروبار کې ولګولې، عبدالحميد ته يو عالم وويل چې جائز تجارت خو هغه دې چې په هغې کې د نفع سره خساره هم برداشت کړې شي او که داسې ضمانت وي نو هغه سودي منافع ده اوهغه د ضمان الخسران باطل فقهي عبارت پيش کړو. عبدالحميد د بل عالم نه تپوس وکړو چې هرکله د رشيد دې کاروبار سره هيڅ تعلق نشته او هغه لس فيصده ضمانت ورکړې دې نو ديانة په دې کې هيڅ باک نشته دا هغه تاسو سره يو لوظ کړې دې چې دهغې پوره کول د هغه اخلاقي ذمه داري ده که په دې سره نفع ملاؤشي نو هغه به جائزوي آيا په دې سره که عبدالحميد ته لس فيصده ګټه ملاؤ شي نو هغه به په سود کې داخل وي؟ بينواتوجروا

المستفتي: عبدالرحمن بمعرفت قاري محمد ايوب انور علوي اسلام آباد ۲۶ شعبان المعظم ۱۴۰۳ھ

الجواب: د عبدالحميد دا معامله خلاف شرع ده دا عبدالحميد د شرکت خواهشمند نه دې بلکې په قرض باندې د ګټې خواهشمند دې والاصل (ان كل قرض جرنفعاً فهوربا)(۱) او د متعين نفع خواهشمند دې کومه چې د فقهاء کرامو د تصريح مطابق ممنوع ده. (۲) او دا عبدالحميد د رشيد نه د ضمان الخسران" اخستلو عاقد دې او هغه هم ممنوع دې.

كما في شرح المجلة. ص ۳۴۱: ضمان الخسران باطل فلوقال بايع فلاناً على أنّ ما أصابك من الخسران فعلي أو استأجر طاحونة فلان. وما أصابك من الخسران فعلي لم تصح الكفالة(۳). وهوالموفق

---

۱) (الدر المختار ۴: ۱۹۴ "فصل في القرض، مطلب كلّ قرض جرّنفعاً حرام")

۲) قال العلّامة الحصكفي رحمه الله: "وعدم مايقطعها كشرط دراهم مسمّاة من الربح لأحدهما لأنّه قد لا يربح غير المسمّى". (الدر المختار ۳: ۳۶۹ "كتاب الشركة")

۳) (شرح المجلّة لسليم رستم باز رحمه الله ۳۴۱، المادة ۶۳۰ الفصل الثاني في الشرائط الخ)

په مشترکه ځمکه کې حقدار ته خپله برخه یا دهغې قیمت ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ یو مشترکه ځمکه وه چې په هغې کې د محمد عثمان ۲۹ حصې وې، د نادر شاه ۲۲ حصې او د حبیبه، زینب او فاطمه ۱۹ حصې وې، ټوله ځمکه دوه اویا (۷۲) حصې وه، د دې حصو مطابق محمکه ریلوې په ۱۹۵۰ء کښې زمونږ مشترکه ځمکه په قبضه کې واخستله. په ۱۹۵۹ء کې مونږ ته رقم په بدل کې پیسې راکړل شوې، چونکې مونږ زنانه وو، زمونږ څوک پلار یا ورور نه وو په دې وجه په ۱۹۶۴ء کښې زمونږ ټوله حصه ریلوې ته منتقل کړې شوه، او په ۱۹۵۴ء کې استیشن جوړ شوې وو، او د پیسو اخستلو هم پنځه کاله تیر شو، اوس په هغې کې یو فریق نادر شاه دا بیان ورکوی چې ستاسو ځمکه ما سره موجود ده او کله چې مو خوښه وی جدا ئې کړئ او دویمه ډله مسمی عثمان د ځمکې د ورکولو نه انکاری دې او په پیسو ورکولو باندې راضی دې حال دا چې مونږ د ځمکې مطالبه کوو، درخواست دې چې تاسو مونږ ته د شریعت په رڼا کې بیان کړئ چې مونږ د ځمکې حقدار یو یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیبه، فاطمه، زینب لونړه دا کبر ... چارسده ..... ۲۵ جمادی الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورة مسئوله کې دا زنانه د خپلو حصو حقدارې دی، دا ترونه وغیره به هغوی ته ځمکه یارائج الوقت قیمت باقاعده ورکوی.[1] وهوالموفق

---

[1] عن أبي حرّة الرقاشي عن عمّه قال قال رسول الله ﷺ: ألالاتظلموا، ألالايحلّ مال امرئٍ الّابطيب نفس منه. (مشكوٰة المصابيح ۲۵۵، باب الغصب والعارية)

وقال العلّامة ظفرأحمدالعثماني رحمه الله تعالي "عن يزيدبن سائب قال قال رسول الله ﷺ: لايأخذنّ أحدكم متاع أخيه جاداً ولالاعباً، واذاأخذأحدكم عصاأخيه فليردّها اليه" وأجمع المسلمون علي تحريم الغصب في الجملة، وانّمااختلفوافي فروع منه، اذاثبت هذا فمن غصب شيئالزمه ردّماكان باقيامن غيرخلاف نعلمه لقول النبي ﷺ: "علي اليدماأخذت حتّي تؤديه... فان تلف في يده لزمه بدله.

(اعلاء السنن ۱۶:۳۲۴ "كتاب الغصب: باب ردّعين المغصوب اذاكان قائماً")

په شاملاتو کې د نورو شریکانو د اجازت نه بغیر تصرف کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د کلی یو شاملات، کوم چې د درې سوه نه د زیاتو کسانو ترمینځه مشترک دې، د ذکر شوې ځمکې د مالکانو د اجازت نه بغیر په دې باندې مسجد او کورونه او مدرسه وغیره جوړولو سره قبضه کول یا دهغې په عوض کې یو لوئې رقم ورکول یا پس د استحقاق نه د هغې خرڅول جائز دی یا نه؟ حال دا چې مالکانو اخستونکې بار بار منع کړې هم دې، جواب راکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: ماستر همداد ضلع اټک.... ۲۵ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: که شاملات د املاک غیر تقسیم شده نوم وی نو په دې کې د ټولو شریکانو د اجازت نه بغیر تعمیر او اخستل او خرڅول ناجائز دی.

(الافی مقدارحصّتہ)،فی شرح المجلّة: کلّ من الشرکاء فی شرکة الملك أجنبی فی حصّة سائرهم فلیس أحدهم وکیلًاعن الآخرولایجوزلهٔ أن یتصرّف فی حصّة شریکه بدون اذنه([1]). وهوالموفق

د ځامنو پلار ته په ورکړې مال کې د شرکت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زید ډیر بچی دی او ټول ورونه او پلار مشترکه خوراک کوی، په هغې کې دوه ورونه ملازمت وغیره کولو سره ګټه کوی او باقی ورونه مختلف قسم کورنې کاروبار کوی. آیا دا ګټه د ټولو ورونو مشترک ده یا صرف د هغوی ده چا چې ګټه کولو سره جمع کړې ده؟ که په ګټه کې ټول ورونه مشترک وی نو په هغه ورونو کې یو ورور که بیل شی نو آیا والد صاحب هغه د مشترک جائیداد نه محروم کولې شی یا نه؟ ځکه چې دا په ټولو ورونو کې مشترک دې بینواتوجروا

المستفتی: الحاج مولانا محمد حقانی میران شاه، وزیرستان... ۲ نومبر ۱۹۸۳ء

۱) (شرح المجلّة لسلیم رستم باز رحمه الله ۱/ ۶۰۱، المادة: ۱۰۷۵)

الجواب: ۱: که دا ټول ځامن پلار ته خپله خپله ګټه په طور د تمليک ورکوي نو پلار به د ټولو مالونو، او په هغې سره د اخستلې شوې جائيداد به واحد مالک وی.(۱) او د دې جائيداد نه به يو ځوئې هم بغير د اجازت شرعی نه نۀ محروم کوی.(۲)

۲: که دې ځامنو دا ګټه په طور د اباحت ورکړې وی نو صرف ګټه کونکی ځامن به په دې کې شريک او حقدار وی نه ټول ځامن. (۳) وهوالموفق

په شرط ختميدو باندې هريو ته خپل راس المال او د شرط مطابق نفع ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې سرور خان او محمد علی دواړه د دوايئ دکان کې کاروبار کوی، خو لائسنس د سرور خان په نوم باندې دې، سرور خان محمد علی خان ته ووېل چې دکان خو زما دې خو زه د دې د کنټرول کولو قابل نه يم تاسو ما سره کار کوئ زه به تاسو ته نيمه حصه درکوم، خو محمد علی ووېل چې ما سره پيسې نشته زه به څنګه شرکت وکړم، سرورخان ووېل چې که تاسو سره پيسې نه وی نو هم زه به تاسو ته نيمه حصه نفع او نقصان درکوم آخر محمد علی ورته څلور زره روپئ ورکړې، سرور خان د څوارلس زرو روپو سرمايه جمع کړه خپل مينځ

---

۱) وفي شرح المجلّة: يملك الموهوب له الموهوب بالقبض.

(شرح المجلّة ۳:۳۸۱: المادة ۸٦۱ کتاب الهبة، الباب الثالث في بيان أحكام الهبة)

۲) وفي الدّرالمختار: ولووهب في صحّته كل المال للولد جازوأثم.

(الدّرالمختار ۵۷۳: ٤ کتاب الهبة)

۳) قال العلّامة ابن نجيم رحمه الله تعالي: (قوله الكسب للعامل وعليه أجرمثل ماللآخر) لوجودالسبب منه وهوالأخذوالاحراز، أفادأنّهمالوأخذاه معًافهوبينهمانصفان لاستوائهمافي سبب الاستحقاق وانّه لوأخذه أحدهماولم يعمل الآخرشيئًافهوللعامل ولاشي عليه للآخر.

(البحرالرائق ۵:۱۸٤ "فصل في الشركة الفاسدة")

کې شریک شو، نیمه حصه په نفع او نقصان کې دې دواړو درې کالو پورې مشترک تجارت وکړو اوهریو نیمه نیمه حصه نفع اونقصان واخستلو، د دریم کال په ختمیدو باندې د حکومت دطرف نه بهرملک کې د دکان پرمټ (سند) ملاؤ شو، پرمټ د سرورخان په نوم باندې وو، په حقیقت کې دا پرمټ د دکان وو، اوس سرور خان دا پرمټ د پنجاب په دوائی خرڅونکی باندې خرڅوی او وائی چې پرمټ زما په نوم باندې راوتلې دې او محمد علی وائی چې پرمټ د دکان دې ځکه چې درې کاله مونږ په دکان کې شریک وو او سرور خان وویل چې که ته زما نه پرمټ غواړې نو زه به شرکت نه کوم. اوس تاسو ته دا عرض دې چې د دې څه حساب دې؟ تفصیلی جواب ولیکئ. **بینوا توجروا**

المستفتی: ډاکټر وزیر محمد ضلع ډیره اسماعیل خان

الجواب: ۱: د شرکت کولو په وخت چې څومره مال شریک ورکړې وو دومره مقدار به هر یو واپس اخلی او باقی مال په حقیقت کې ربح او ګټه ده هغه به نیمه نیمه تقسیموی ځکه چې هغوی دا اشتراط کړې وو.(۱) ۲: باقی د پرمټ اخستل او خرڅول ناجائز دی او بیع باطل ده ځکه چې دا استحقاق او حق دې. **فقط(۲) وهوالموفق**

---

۱) وفي الهندية: وحكم شركة العقد صيرورة المعقود عليه ومايستفادبه مشتركاًبينهما.
(فتاوىٰ هندية ۲: ۳۰۲ كتاب الشركة: الباب الأوّل في أنواع الشركة)

وأيضًافيها: (وان قلّ رأس مال أحدهماوكثررأس مال الآخرواشترطاالربح بينهماعلي السواء أوعلي التفاضل فانّ الربح بينهماعلي الشرط).
(فتاوىٰ هندية ۲: ۳۲۰ كتاب الشركة الفصل، الثاني في شرط الربح)

۲) وقال العلّامة الحصكفي رحمه الله تعالي: وفي الأشباه لايجوزالاعتياض عن الحقوق المجرّدة كحق الشفعة.
(الدرالمختار ۴: ۱۵ مطلب لايجوزالاعتياض عن الحقوق المجرّدة)

د یو شریک ځامنو ته په کاروبار کې د کار کولو اجر مثل ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه وروڼه دی د هغوی سرمایه یوځائ او برابر وه او کاروبار ئې هم یوځای وکړو. اوس د څو کالو نه د یو ورور هلکان هم په کاروبار کولو کې شریک دی چې ځوانان دی او ښه محنت کوی، اوس چې د کوم ورور ځامن دی هغه وائی چې هغه هلکانو ته دې باقاعده حصه ورکړې شی او په املاک کې به شریک وی، بل ورور وائی چې نه! دې هلکانو ته خو به صرف د محنت معاوضه ورکولې شی ځکه چې دا د مال مالکان نه دی، اوس شریعت د هغوی متعلق څه فیصله کوی؟ بینوا توجروا

الجواب: که طرفین مصالحت ونکړې شی نو دې ځامنو ته به اجر مثل ورکولې شی.(١) او د دې نه زائد مقدار رقم نه جانب مخالف خپله حصه پټه وصولولې شی. وهوالموفق

چه د مشترکې ځمکې نه خپله حصه خرڅه کړی نو په ثمن کې نور وروڼه شریک نه دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام ؒ د دې مسئلې په باره کې چې د مسمی حسن متروکه ځمکه یولس کناله وه، په دې کې پنځه وروڼه او درې خوئیندې شریکې دی. مشر ورور حاجی رمضان خپلو نورو وروڼو ته وویل چې دا ځمکه به مونږ په اشتمال کې بل ځای ته منتقل کړو ځکه چې موجوده ځای فائده مند نه دې، د منتقل کولو نه نورو وروڼو انکار وکړو چې مونږ د منتقل کولو نه عاجز یو. پس احمد رمضان وویل چې زه او یو بل ورور خپله

---

(١) قال العلّامة ابن عابدین رحمه اللّٰه تعالي ''(قوله والربح)حاصله أنّ الشرکة الفاسدة امّابدون مال أوبه من الجانبین أومن أحدهمافحکم الأولي أنّ الربح فیهاللعامل والثانیة بقدرالمال والثالثة لربّ المال وللآخر أجر مثله''.بحذف یسیر.
(ردّالمحتار ٣:٣٨٣ مطلب یرجّح القیاس :فصل في الشرکة الفاسدة)

حصه منتقل کوو، هغه ورونو خپله حصه یولس کناله بل خای ته منتقل کړه، دې دواړو خپله څمکه خرڅه کړه، اوس ذا باقي ورونه وائي چې مونږ هم په دې روپو کې شریک یو حال دا چې هغوی په منتقل کولو باندې هیڅ خرچه هم نه ده کړې. بینواتوجروا

المستفتي: عبدالرحمن کندیان ضلع میانوالی ۱۰ رمضان ۱٤۰۵ھ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت د دې پیسو صرف دوه ورونه مستحق دی، په دې کې د نورو ورونو هیڅ حصه نشته. (لان الانتقال بیع فی الحقیقة) (۱) وهوالموفق

د مشترکه دیوال د جوړولو د اخراجاتو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مشترکه دیوال تاوان به په چا باندې وی؟ بینواتوجروا

المستفتي: حاجی زئی شبقدر فورټ چارسده

الجواب: د قواعدو په رڼا کې په مشترکه دیوال باندې به مشترک تاوان کولې شی. (۲) وهوالموفق

---

۱ ﴾ وقال العلّامة ابن عابدين رحمه الله تعالي "(قوله وحكمه ثبوت الملک) أي في البدلين لكل منهما في بدل وهذاحكمه الأصلي.

(ردّالمحتار ۶:۴ "كتاب البيوع ،مطلب شرائط البيع أنواع أربعة")

۲ ﴾ قال العلّامة ابن عابدين رحمه الله :وفي جامع الفصولين :حائط بينهماوخيف سقوطه فأراد أحدهمانقضه وأبي الآخر يجبر علي نقضه ولو هدما حائطا بينهما فابي احدهما عن بنائه يجبر ولو انهدم لا يجبر ولكنه يبني الآخر فيمنعه حتي يأخذ نصف ما انفق لو انفق بامر القاضي ونصف قيمة البناء لوأنفق بلاأمر القاضي.

(ردّالمحتار ۳:۳۸۸ "كتاب الشركة .مطلب مهم فيمااذاامتنع الشريک الخ")

وفي شرح المجلّة :"ومن فروع هذه القاعدة ما ... [بقيه بر صفحه آئنده...]

د لفظ شرکت د استعمال په صورت کې

ګټه نه کونکې ورور په مال کې شریکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه سکه ورونه د ماشوموالی نه خپل مینځ کې مشترک راروان دی، او د هغوی دوه نور سکه ورونه وو خو هغوی دواړه د هغوی نه او خپله هم د یو بل نه جدا شوې وو، اوس پاتې شوه د دې دواړو مسئله هغه داسې ده چې ټول دولت صرف یو کس ګټلې وو، او د بل کار صرف د کور کار خیال ساتل وو، ځکه چې ګټه کونکې یو تعلیم یافته سرکاری ټیکیدار وو او بل بې تعلیمه وو چې د کور د خیال ساتلو نه علاوه ئې بل هیڅ کار نه شوکولې په دې وجه د بهر نه ئې د دولت په ګټلو کې څه حصه نه شوه اخستلې، اوس دواړه وفات شوې دی او د دې دواړو اولاد بیلتون غواړی، د کلی ټول خلق او علاقې والا د هغوی دواړو د شرکت شهادت ورکوی، خو د هغې سره دا ګواهی هم ورکوی چې ټول دولت دې ذکر شوی تعلیم یافته ورور ګټلې وو، اوس د دې دواړو ورونو د اولاد ترمینځه څنګه د شریعت مطابق بیلتون وکړې شی؟ ځکه چې د تعلیم یافته ورور اولاد د تړۀ ځامنو ته وائی چې زمونږ د پلار دا هم احسان وو چې خپله ئې اوګټله او ستاسو په پلار ئې اوخوړله، په مونږ باندې ستاسو هیڅ حق نشته چې مونږ ئې تاسو له درکړو، او نور وائی چې بیشکه ګټه خو کړې ده ستاسو پلار، خو د مشترک اوسیدو د وجې نه زمونږ حق ضرور شته په دې وجه تاسو مونږ سره شرعی فیصله وکړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی حبیب الله ډیره اسماعیل خان ۱۳ فروری ۱۹۷۵م

...بقیه ازحاشیه گذشته] لواحتاج الملک المشترک الي العمارة فطلب أحدالشريکين عمارته وأبي الآخرفانّه يجبرعليه بل اذاکان الملک المشترک قابلًاللقسمة يقسم...وان لم يکن قابلًاللقسمة يأذن الحاکم لطالب العمارة بالتعميرويحبس العين الي أن يستوفي من شريکه قدرما أصاب حصتّه من النفقة.

(شرح المجلّة لسليم رستم باز ۲۹ :المادة۱۹ :القاعدة لاضررولاضرار)

الجواب: دا شرکت یو رسمی شرکت دې شرعي شرکت نه دې.

لعدم العقد ولعدم الشركة في السعي أو البذر إلا إذا ثبت أن الأخ الملازم العامل قال لأخيه أشركتك فيما اكتسبته لأن لفظ الشركة يفيد التمليك في البعض. (كما في ردالمحتار ۲:۳۶۸(۱)). وهوالموفق

د پلار د خوی په ګټه باندې د هغه د پاره اخستلې شوې ځمکه کې د بل ورور عدم شرکت

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې ډیر قرضدارې وو، او بل څه انتظام د هغه سره نه وو، د هغې نه پس د هغه یو ځوئې بهر ملک ته لاړو، مزدوری کولو سره هغه قرضه ختم کړه او ورسره ئې ډیرې پیسې هم اوګټلې نو پلار د هغه نه خوشحالیدو سره ددې ځوی په زیاته ګټه باندې ځمکه واخستله او په کاغذاتو کې ئې هم د هغه ځوی نوم ولیکلو او ورسره ئې دا هم وویل چې تا محنت ډیر وکړو په دې وجه دا باقی ګټه ستا دپاره مخصوص ده او د پلار په ژوند باندې ئې دا ځوئې کور ته راغلو او ټول اختیارات ئې هغه ته ورکړل او د دې ذکر شوی سړی دوه ځامن نور دی، په هغوی کې کشر ځوی سفر کولو سره ډیرې پیسې اوګټلې چونکې صاحب اختیار مشر ځوئې وو او پلار ئې یو اړخ ته شوې وو نو مشر ورور چې د کشر ورور په ګټه باندې کومه ځمکه اخستلې ده یا ئې ګانه کړې ده هغه کاغذونه ئې هم د هغه په نوم باندې لیکلې دی او د پلار د مړ کیدو نه پس هم کاغذونه د هغه وړوکی ورور په نوم باندې شو. اوس پاتې شو مینځنې ورور، چا چې سفر نه وو کړې او په کور باندې ئې پټې وغیره سنبهال کړې دې او بیا ئې څو کاله د حکومت نوکری هم کړې ده او درې واړو ورونو

---

۱) قال العلّامة ابن عابدين رحمه الله تعالي :وفي التتارخانية عن التتمّة :سئل عن والدي عن أحدشريكي عنان اشتري بمافي يده من المال عروضاثمّ قال لأجنبي أشركتك في نصيبي ممّااشتريت قال يصير شريكاًله شركة ملك.
(ردّالمحتار ۳:۳۸۵ "فصل في الشركة الفاسدة")

شراکت باندې ژوند تیر کړې دې، فی الحال ټول واده کړی دی او تقسیم کول غواړي. اوس مشر ورور وائی چې د پلار اصلی جائیداد چې کوم دې هغه تقسیم کړئ او کومه ګټه چې ما زیاته کړې ده او په کاغذونو کې زما په نوم ده هغه زما ده ځکه چې پلار په خپل ژوند کې مخصوص کړې ده او کوم چې د وړوکی ورور په نوم باندې په کاغذاتو کې ده هغه د هغه ده ځکه چې د پلار په ژوند کې دهغه په نوم باندې شوې ده او هغه انکار نه دې کړې او کوم ملازمت چې تا کړې دې دهغې په اندازه به تاته هم (یعنی د مینځنی ته) پیسې یا ځمکه ملاویږی خو مینځنې ورور وائی چې نه، دا اصل جائیداد او ټوله ګټه شریکه ده ټول به تقسیمول وی اوس د شریعت مطابق زمونږ ترمینځه فیصله وکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: مخور بمعرفت ابوالاحسان سوات... یکم اکتوبر ۱۹۷۰ء

الجواب: کومه ځمکه چې د مشر ورور په نوم باندې اخستلې شوې ده هغه د مشر ورور ده په هغې کې د چا هم شرکت نشته او دغه شان چې کومه ځمکه د کشر ورور په نوم اخستلې شوې ده هغه د کشر ورور ده یعنی دا په مشترک مال کې نه دی داخل (۱) مینځنی ورور به هغه وخت اعتراض کولې چې پلار مثلا دا ځمکه په خپل نوم یا د درې واړو په نوم باندې اخستلې وې لهذا د مینځنی ورور د دې دواړو سره شرکت نشته، خو د رورولئ د لحاظ د وجې نه د نیک سلوک انجام بنه وی. فقط وهوالموفق

---

(۱) قال العلّامة ابن عابدين رحمه الله تعالي: وماشتراه أحدهم لنفسه يكون له ويضمن حصّة شركائه من ثمنه اذادفعه من المال المشترك وكل ماستدانه أحدهم يطالب به وحده. (ردّالمحتار ۳:۳۷۰ مطلب فيمايقع كثيرفي الفلاحين ممّاصورته شركة الخ)

وقال العلّامة ظفرأحمدالعثماني رحمه الله تعالي: رجل تصرف زماناًفي أرض ورجل آخررأي الأرض والتصرف ولم يدّع ومات علي ذلك لم تسمع بعد ذلك دعوي ولده فتترك في يدالمتصرف لأن الحال شاهد اه (۲:۱۶) قلت والشراء علي اسمه تصرف قوي وكذالادخال والاخراج علي اسمه واداء خراج الحكومة من لوازم البيع باسمه.
(امدادالاحكام ۳:۳۱۸ "كتاب الشركة والمضاربة")

د داسې شرکت حکم چې په هغې کې قرض د شراکت په شرط ورکړې شوې وي

سوال: (۱)زیدازبکرپنج هزارروپیه قرض طلب کردبرائے کدام تجارت، بکر گفت که من پنج هزارروپیه قرض میدهم لاکن برین شرط که من پنج هزاردیگرکنیم وباشما درین تجارت شریک شویم بغیرازشراکت قرض نه دهند،پس زیداین شرط تسلیم کردوکدام معامله که بودشریک شدندپس این جائزاست یانه؟

(۲)پس برین صورت اگرزیدیکصدروپے ازملک خودبرپنج هزار زائد کرد، ونیز ازبکرپنج هزار بایکصد زائدطلب کرد،مجموع هردویاده هزار دوصد یاده هزار یکصد شد. پس برین یکصدروپیه که ازخود زائد کرد، صورت دوم ازاوّل جداشدیانه؟ پس حکم اوّل ودوم متحداست یانه، اگرمتحدنباشدچه حکم دارد؟بینواتوجروا

المستفتي: گل نورتاجر.....۱۲ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: د قواعدو په رڼا کې دا قرض صحیح دې او دا شرکت باطل او غیر لازم دې، لمافي شرح التنویرمع ردّالمحتار۴:۲۲۸ مایصح ولایبطل بالشرط الفاسدأي یصح في نفسه ویلغوالشرط،القرض والهبة والصدقة(۱).

پس کله چې سره د غیر لازم کیدو زید او بکر دا د عمل لاندې راوستل نو بالضرورة به په دې کې د شرکت ټول احکام جاری کولې شي. (۲) وهوالموفق

---

۱) (الدرّالمختارمع ردّالمحتار ۴:۲۵۴ مایبطل بالشرط الفاسدولایصح تعلیقه به)

۲) قال العلّامة ابن عابدین رحمه الله تعالي :"(قوله والربح)حاصله أنّ الشرکة الفاسدة امّابدون مال أوبه من الجانبین أومن أحدهمافحکم الاولي أنّ الربح فیهاللعامل والثانیة بقدرالمال والثالثة لربّ المال وللآخرأجرمثله" بحذف یسیر.

(ردّالمحتار ۳:۳۸۳ مطلب یرجح القیاس :فصل في الشرکة الفاسدة)

په شراکت کښې شریک د موکل د حضور نه بغیر وکیل جوړیدل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زید او بکر دواړو د شرکت معامله وکړه، د زید د تلو په صورت کښې خالد د زید د قائم مقام کیدو دعوی کړې ده چې زه د هغه وکیل یم خو بکر د هغه وکالت نه منی بلکې وائی چې اول خپله حاضر شه او وروستو به هغه لره حاضرولو سره ته وکیل ئې خو هغه انکار کوی، آیا په دې صورت کښې خالد بغیر د حاضریدلو نه د زید وکیل جوړیدې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد شریف.....۱۲۴کتوبر ۱۹۷۸ء

الجواب: مناسبه ده چې خالد اول په خپل وکالت باندې ګواه قائم کړی، دویم بکر دا ثابته کړی چې شرکت ختم شوې دې او دا زید زما باقی دار دې (۱) وهوالموفق

د حکومت په طور د شراکت د کور دپاره پیسې ورکولو سره د ګټې سره کرایه په کور کښې وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې حکومت پاکستان یو کس ته د کور جوړولو دپاره پیسې په طور د شراکت د کور په کرایه کښې ورکوی د دې طریقه دا ده چې مثلا د کور جوړولو په وخت شپیتۀ زره روپۍ ورکړی او په دې پیسو باندې په کرایه کښې د شرکت په بنیاد باندې حکومت په پنځلس کالو کښې نفع مقرر کوی، دیرش زره روپۍ، میزان نوی زره روپۍ. پورته ذکر شوې پیسې په پنځلسو کالو باندې تقسیمولو سره شپږ زره روپۍ جوړیږی، شپږ زره روپۍ په دولسو میاشتو باندې تقسیم کولو سره د میاشتې پنځه سوه روپۍ حکومت د مالک مکان نه په پنځلس

---

(۱) قال العلّامة المرغيناني رحمه الله تعالي :وماسوي ذلک من الحقوق يقبل فيهاشهادة رجلين أورجل وامرأتين سواء کان الحق مالًاأوغيرمال مثل النکاح والطلاق والوکالة والوصية ونحوذلک.

(الهداية ۳:۱۵۴ کتاب الشهادة)

کاله کې وصولولو سره شراکت ختموي، او کور د کور د مالک شي آیا دا طریقه شرعا جائز ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالستار کوئټه.....ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: که د دې کور آبادي د اولې ورځ نه د هغه سړي ملکیت شمارلې کیږي نو حکومت ته به دیرش زره روپۍ په طور د کرایه د شرکت په بناء ورکول اخستل حرام وي.(۱) د چا په ملکیت کې په کرایه کې شرکت بې معنې امر دې. او که د دې کور آبادي في الحال د حکومت ملکیت وي او نتیجة د هغه سړي په ملکیت کې راتلونکې وي نو دې ته قرض ویل بې معنې دي. وهوالموفق

د فاسد شرکت په صورت کې سابق او لاحق ګټه په رؤس باندې تقسیمول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زرمت او ګل باس خان دوه ورونه دي، کاروبار او جائیداد د دواړو مشترکه دې، ګل باس خان څو کاله سفر کولو سره ګټه وکړه او زرمت خان په کور باندې اوسیدو سره کاروبار وکړو، اوس د زرمت خان دوه ځامن دي چې سفرونه کوي او ګټه کوي او ګل باس خان د کور کاروبار کوي اوس هغه خانله وي ګل باس خان وائي چې د پیسو تقسیم به په نیمه باندې وي او زرمت خان وائي چې نه زما دواړو ځامنو سفر کړې دې او ګټه ئې کړې ده تقسیم به په افرادو باندې وي. اوس سوال دا دې چې آیا دا تقسیم به په افراد باندې وي او که په نیمه باندې؟ بینواتوجروا

المستفتي: قطب الدین تحصیل هنګو ضلع کوهاټ... ۹ جنوري ۱۹۸۶ء

الجواب: دا شرکت شرکت فاسده دې، دا نه شرکت املاک دې او نه د شرکت

---

۱) قال العلّامة ابن عابدین رحمه الله تعالي: "(قوله کل قرض جرّنفعاً حرام) أي اذاکان مشروطاً".
(ردّالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب کلّ قرض جرّنفعاً حرام)

عقود په څلورو قسمونو کې یو قسم دی، پس د قواعدو په رڼا کې ټول سابق او لاحق ګټه به په رؤوس (افراد) باندې تقسیمولې شي. (۱) او د ګل باس خان ګټه دې نیمه کړې شي او د کور ګټه دې هم نیمه کړې شي او د زرمت خان د ځامنو ګټه دې څلور حصې کړې شي نو په دې مصالحت کې د جانبینو خیر او ښیګړه ده. **وهوالموفق**

په باز نیولو کې شرکت کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مثلا ۱: پنځه سړي خپل مینځ کې یو بل سره دا عهد کوي چې که په مونږ کې یو کس هم باز اونیولو نو هغه به خرڅولو سره قیمت برابر تقسیموو.

۲: ذکر شوې پنځو کسانو په سابقه طریقه باندې عهد وکړو خو په دې پنځو کې یو په کور باندې په آرام ناست دې صرف د هغوی دپاره د خوراک څکاک ذمه داری ده او باقی څلور واړه شپه او ورځ په باز پسې لګیدلې دی نو آیا په دې کې به ټول شریکان، پنځه په پنځه شریک وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ۱۳ اکتوبر ۱۹۸۶ء

الجواب: دا دواړه اقسام د شرکت شرعیه نه دی، صرف د هغه باز نیونکې بغیر د بل چا د شرکت نه مالک شرعی دې **کمافی ردالمحتار ص ۴۶۵، ج ۳:**

قوله فلاتصح فی مباح کاحتطاب واحتشاش واصطیاد وتکدفان الملك فی کل ذلك یختص بمن باشرالسبب (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلّامة ابن عابدین رحمه الله: یوٴخذمن هذاماأفتي به في الخیریة في زوج امرأة وابنهااجتمعافي دارواحدة وأخذ کل منهمایکتسب علي حدة ویجمعان کسبهما ولایعلم التفاوت ولاالتساوي ولاالتمیزفأجاب بأنه بینهماسویة.

(ردّالمحتار ۳:۳۸۳ "کتاب الشرکة، فصل في الشرکة الفاسدة")

(۲) (ردّالمحتار ۳:۳۶۹ "کتاب الشرکة: مطلب شرکة العقد")

بغیر د اجازت نه پخوانئ آبادی راغورځولو سره نوي آبادي کولو باندې د نورو شریکانو نه خرچ طلب کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یوزیارت نه نزدې یو بنیاد (آبادی) کوم چې د مخکې نه جوړ وو د خاندان یو کس د ضعف د وجې نه هغه راوغورځولو او نوې ئې تعمیر کړو، اوس هغه خرچ کړې شوې پیسې د ټول خاندان نه طلب کوی، آیا د خاندان په افرادو باندې د هغې ادا کول لازم دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد حاجی ارت مسجد حافظان شاه منصور صوابی..... ۲۶ ستمبر ۱۹۷۲ء

الجواب: این شخص باني نه ماموراست ونه مجبوراست، لهٰذارجوع اوبردیگر شرکاء غیرمشروع است. یدلّ علیه مافی الهندیة: ولیس لهٗ (للشریك) أن یحفرفیها (الدارالمشترکة) بئرًا أویبنی بناء بغیراذن شریکه وان بنی أوحفر ضمن النقصان ویؤمربرفع البناء کذافی الفتاوی العتابیه.(هندیه ۴۰۵:۵)(۱). وهوالموفق

په پنشن کې د نورو ورونو د شرکت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په دوه ورونو کې یو ملازم وو او دواړه به یو ځای اوسیدل، مال ئې شریک وو، څه موده پس جدا شو، د حساب کولو نه پس نوکری د ملازم ورور په نوم پاتې شوه، خو دا معلومه نه شوه چې دې دواړو ورونو د نوکرئ حساب کړې وو یا نه.. بیا دوی مړه شو او نوکری د ملازم ورور ځوی په خپل نوم باندې ولیکله. څه موده پس دبل وفات شوی ورور ځوی دعوی وکړه چې د هغه د نوکرئ وظیفه (پنشن) د نیمې حصې زه حقداریم آیا دا شرعا صحیح کیدې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم متعلم دار العلوم حقانیه..... ٤ مئی ۱۹۹۱ء

---

۱) (فتاوي عالمگیریة ۵:۳۷۰ "کتاب الکراهیة، الباب التاسع والعشرون في الانتفاع بالأشیاء المشترکة")

الجواب: این ملازمت ازقبیل عطاء سلطاني است،درین دیگرشرکاء حصص نه دارند.این محض حق این ملازم است بلا شرکت غیرے.کمافی المبسوط للسرخسی ۱۱:۱۸۹ ولایشارك أحدهما صاحبهٔ فیمایرث من میراث ولا جائزة یجیزها السلطان لهٔ أوهبة أوهدیة(۱). وهوالموفق

د پلار او څوی په مشترکه تجارت کې به ګټه د چا وی؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که پلار په شریک کور کې په خپلو ځامنو کې خپل یو ځوی په خپله سرپرستئ کې په کاروبار باندې ولګوی. په ځانی او مالی هر ممکن امداد سره د هغه امداد او حوصله افزائی کوی. ورسره دا چې د هغه د وادهٔ، میلمه، خپلو خپلوانو خرچه، د کور او دکان داخلی خارجی وغیره ټول اخراجات هم یوائې پلار برداشت کوی، پلار په خپله د نورو بچو په ذریعه برابر هغه سره امداد کوی، په دې یقین باندې چې ځوئې حقیقی او کاروبار خپل دې خو دې کاروباری سرمایه ته د شریک کور کار آمد تجارتی امامت ګڼلو سره د کور مصارف وغیره په هیڅ ضرورت کې په هیڅ کار نه راولی. د دې نه علاوه د پلار په سرپرستئ کې په تجارتی نفع سره ځوی د پلار دپاره غیر منقوله جائیداد، دکانونه او کورونه واخلی خو د مور پلار د مرضئ خلاف د هغوی نه په پټه هغه جائیداد په خپل نوم باندې کړی او په ټولو دکانونو او تجارتی سرمایه باندې قابض شی. اوس به د پورته بیان د صدق په صورت کې د شریعت په

---

۱) (المبسوط للسرخسي ۱۱:۱۸۹ ''کتاب الشرکة،باب خصومة المفاوضین فیما بینهما'')

وقال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالي :والعطاء للذي جعل الامام العطاء له لأنّ الاستحقاق للعطاء باثبات الامام لادخل له لرضاء الغیر.

(الأشباه والنظائر ۱۲۵،القاعدة الخامسة،تصرف الامام علي الرعیة منوط بالمصلحة)

رنا کې د پلار او ځامنو په شریک کور اود اشتراک عمل په حالت کې د داسې ځامنو په تجارتي تصرفاتو سره پیدا شوي نفع او نقصان د چا طرف ته واپس کیږي. خاص کر کله چې سرمایه د پلار وي او د آخري وخته پورې خرچه، خدمت او مشري هم هغه کړې وي؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالجلیل شبقدر فورت چارسده....۵ سمتبر ۱۹۷۲ء

الجواب: که څوک ته د پیسو ورکولو په وخت د معاملې تعین شوې وي مثلا قرض، مضاربت، بضاعت، نو په دې مال کې به د هغه عقود احکام نافذ کولې شي او که د معاملې تعین نه وي شوې نو د عرف په بناء باندې به پلار مالک او څوئې معاون وي. في شرح المجلة ۳۷ : **المعروف عرفاً کالمشروط شرطاً(۱) فقط وهوالموفق.**

د یو شریک مشترکه ځمکې لره د خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه ورونو ته په وراثت کې دوه حصې ځمکه ملاؤ شوې ده. د تقسیم نه مخکې یو ورور د بل ورور په عدم موجودګئ کې د هغه د اجازت نه بغیر د ځمکې یو حصه خرڅه کړه،آیا د بل ورور په عدم موجودګئ او رضامندئ دځمکې دایوه حصه خرڅول جائزدی؟ بله داچې دخرڅې کړې شوې حصې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: سید محمد بلوچستانی کوئټه.... ۲۳ ذوالقعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: که دې دواړو ورونو باقاعده تقسیم نه وی کړې او دا دواړه حصې

---

۱) (شرح المجلّة ۱:۱۰۰ ،المادة ۴۳)
(ومثله في الأشباه والنظائر ۹۹ ،القاعدة السادسة العادة محكمة)
قال العلّامة الشامي رحمه الله تعالي :الأب وابنه يكتسبان في صنعة واحدة ولم يكن لهماشي فالكسب كله للاب ان كان الابن في عياله لكونه معينًاله.
(ردّالمحتار ۳:۳۸۳ باب الشركة ،فصل في الشركة الفاسدة ،مطلب اجتماعافي داروا حدة الخ)

په خپل حال مشاع وی نو د دې خرڅونکی ورور بیع به په نصف مشاع کې صحیح وی (۱) اوپه باقی نیم مشاع کې صحیح نه ده. لعدم صحة بیع ملک الغیرالاباذنه.(۲) او دویمه حصه به د دواړو ورونو ترمینځه باقاعده مشترک وی. وهوالموفق

د یتیم په مال سره شرکت کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یتیم په مال سره غیر وارث په شراکت باندې تجارت کولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: حضرت کلیم الله شاه صاحب. مسکین پوره شریف
ضلع مظفر گړه ...۱۵ مارچ ۷۳ء

الجواب: جائز دې(۳) کما فی اداب الاوصیاء علی هامش جامع الفصولین. ۲۳۲/۲ وهوالموفق

---

۱) قال العلامة خالد الاتاسي: بیع حصة شائعة معلومة كالنصف والثلث والعشر من عقار مملوك قبل الافراز صحيح لانه لا يشترط في صحة البيع الافراز عند التسليم لا تفاقهم علي صحة بيع مشاع لا يمكن افرازه.
(شرح المجلة ۱:۱۰۷، المادة:۲۱۵،۲۱۴ الفصل الثاني فيما لا يجوز بيعه ومالايجوز)

۲) قال العلامة سليم رستم باز: كل واحد من الشركاء في شركة الملك اجنبي في حصة سائرهم... ولا يجوز له ان يتصرف في حصة شريكه بدون اذنه.
(شرح المجلة ۶۰۱، المادة:۱۰۷۵ الفصل الثاني في كيفية التصرف في الاعيان الخ)

۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي "ولا يتجرالوصي في ماله أي اليتيم لنفسه وجاز لواتّجر من مال اليتيم لليتيم. (درمختار)
وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالي ...[بقیه برصفحه آئنده...

...بقیه از حاشیه گذشته]

" وفي الحاوي الزاهدي القاضي يأمر لوصي بالإتجار والشركة في مال اليتيم دون المعاملة لأجل الربح .

(رد المحتارمع الدرالمختار : ۵:۵۰۳ . باب الوصي)

وفي الهندية " للوصي أن يدفع مال الصغير مضاربةوأن يشارک به غيره وأن يبضعه كذافي المحيط.

(فتاوي هندية ۱۴۷:۶الباب التاسع في الوصي و ما يملكه)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

کتاب الاجارۃ

قال اللہ تبارک وتعالیٰ:

قَالَتْ إِحْدٰىهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ
إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ ﴿٢٦﴾

(سورۃ القصص)

....

کتاب الاجارة

باب ما یجوز من الاجارة وما لا یجوز

د کفارو د ملازمت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه ډاکټر یم، ایرانی حکومت زه د ملازمت دپاره په ایران کې منتخب کړې یم اوس پوښتنه دا ده چې ایران ته د دې مقصد دپاره د ملازمت په سلسله کې تلل جائز دی یا نه؟ بله دا چې په دې ملازمت سره حاصله شوې ګټه به حلاله وی که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتی: عمر فاروق الیکټریکل ډیپارټمنټ یو سی ای ټیکسلا .... ۱۹۸۶ء | ۷ | ۸

الجواب: د شیعه او انګریز وغیره ملازمت جائز دې اګر چې دا کفار محارب وی خو په دې شرط چې په دې ملازمت کې د اسلام یا مسلمان سپکاوې نه وی لان خباب بن الارت رضی الله تعالی عنه عمل لعاص باجرة ولم ینکر علیه النبی ﷺ رواه البخاری (۱) ولما یشیر الیه کلام ابن الملک فی شرح المجمع لو استاجر الکافر مسلما للخدمة جاز اتفاقا ولکنه یکره لان فیه استهانة صورة انتهی (۲). والله اعلم

---

۱) حدثنا عمر بن حفص ... ثنا خباب قال کنت رجلا قینا فعملت للعاص بن وائل فاجتمع لي عنده فاتیته اتقاضاه فقال لا والله لا اقضیک حتي تکفر بمحمد فقلت الخ.
(الصحیح للامام البخاري ۳۰۴:۱ باب هل یواجر الرجل نفسه من مشرک في ارض الحرب)

۲) في الهندیة: المسلم اذا اجر نفسه من کافر لیخدمه جاز ویکره قال الفضلي لا یجوز للخدمة وما فیه الاذلال بخلاف الزراعة والسقي.
(فتاوي هندیة ۴۳۵:۴ کتاب الاجارة، الباب الحادي عشر في الاستیجار للخدمة)

په کمیشن باندې د مدرسې دپاره سفیر ساتل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مدارسو سفیران عام طور د چندې ثلث یا ربع اخلی آیا دا جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نور الحق ملک ګرهم باره پیښور ..... ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا معامله اجاره فاسده ده. لوجوه، الاول عدم وجود الاجرة حين العقد، والثاني عدم تعين الاجرة(۱) والثالث عدم صحة الزكوٰة اجرة(۲) الافی صورة العامل الشرعی(۳) فافهم. وهوالموفق

---

(۱) في شرح المجلة: كل ما افسد البيع مما مر في البيوع يفسد الاجارة كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل.

(شرح المجلة ۲:۵۳۸ المادة: ۴۶۰)

(۲) قال العلامة الحصكفي: هي تمليك جزء مال عينه الشارع من مسلم فقير غير هاشمي ولا مولاه مع قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالیٰ. قال العلامة ابن عابدين: متعلق بتمليک اي لاجل امتثال امره تعالیٰ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۲:۳،۴ كتاب الزكاة)

وفي الهندية: ولو نوي الزكاة بما يدفع الخليفة الي المعلم ولم يستأجره وان كان الخليفة بحال لو لم يدفعه يعلم الصبيان ايضا اجزأه والا فلا.

(فتاویٰ عالمگيرية ۱:۱۹۰ الباب السابع في المصارف)

(۳) في الهندية: (ومنها العامل) وهو من نصبه الامام لاستيفاء الصدقات والعشور.

(فتاویٰ عالمگيرية ۱:۱۸۸ الباب السابع في المصارف)

امام ته زکاة د اجرت او بدلې په طور ورکول

سوال: مایقول العلماء الکبار فی المسئلة الآتیة: قدروج فی دیارنا ان یتفق اهل المحلة علی ان یقوم الامام فی المسجد وینعقد معه علی ان یعطی له من العشر والزکوٰة الثلث اوالربع مثلا فهو یؤذن لهم ویصلی لهم وغیرذلک من التجهیز والنکاح، هل تجوز الامامة باخذ الزکاة ام لا؟ علی تقدیر الجواز هل یصح العقد بالثلث مثلاً ام لا؟ والثانی هل یجوز اخذ الزکاة للامام ام لا؟ وعلی تقدیر الجواز هل الفرق بین المشغول بالتدریس وغیر المشغول به ام لا؟ وعلی التقدیر الاول ان کان له کفایة فهل یجوز له الاخذ ام لا؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعید محمد حقانی فاضل حقانیه.....٤ فروری ١٩٧٥ء

الجواب: اذا کان الانعقاد علی اعطاء الزکاة اجرة فیکون هذا العقد غیر مشروع واذا کان صلة مشروطة او معروفة فیکون مشروعاً عند فقر الامام سواء کان معلماً اومتعلماً اوغیرهما، اما الاول فلعدم کونه لله تعالی وهو الشرط کما صرح به فی الدر المختار وغیره(١) واما الثانی فلأن الصلة لا تنافی العبادة کما فی حدیث زینب امرأة عبد الله بن مسعود رضی الله عنه لهما اجران اجر القرابة

---

١) قال العلامة الحصکفي: هي تملیک جزء مال عینه من مسلم فقیر غیر هاشمي ولا مولاه مع قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ.

وقال العلامة ابن عابدین: متعلق بتملیک اي لاجل امتثال امره تعالیٰ.

(شامي ٢:٤٠٣ کتاب الزکاة)

(ومثله في الهندیة ١:١٧٠ کتاب الزکاة)

واجر الصدقة(۱) فافهم، واما الثالث فلما قال العلامة ابن عابدین فی ردالمحتار ۲:۸۱ فی رد ما نسب الی الواقعات من ان طالب العلم یجوز له اخذ الزکوة ولو غنیاً الخ، ولم یعتمده احد انتهی (۲) قلت والعلماء لا یدخلون فی العاملین علیها لان الامام لم یبعثهم ولم ینصبهم. وهوالموفق

مجبورسړی نه فورا د روزګار ورکولو په بدل کې په تنخواه کې کمې کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د بې روزګارئ نه مجبور دې روزګار غواړی هغه ته روزګار ورکولې شی، خو مزدوری ورته صرف دومره ملاویږی چې دوډئ جامه په تنګسیا سره ملاویږی څکه چې هغه ته فورا روزګار ورکولې شی او د فوری روزګار ورکولو د وجې نه هغه ته مزدوری کمه ملاویږی، کومه چې هغه مجبورا قبلوی څکه چې هغه ته معلومه ده چې د انکار په صورت کې به لوږو سره مخامخ کیږی نو دې مجبور سړی ته فورا د روزګار ورکولو په بدل کې په مزدورئ کې کمې کول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ټول اینډ مشینری کمپنی پوسټ بکس ۱۷۵ لاهور. ۱٦ کتوبر ۱۹٦۹ء

الجواب: د رضا په وخت جائز ده. (۳) خو غوره نه ده. (٤) وهوالموفق

---

۱) (مشکوة المصابیح ۱۷۱ باب افضل الصدقة)

۲) (ردالمحتار ۲:٦٥ باب المصرف)

۳) في شرح المجلة: يشترط صحة الاجارة رضا العاقدين (شرح المجلة ۲:٥۳۱ المادة: ٤٤٨)

٤) في المرقاة: (نهي رسول الله ﷺ عن بيع المضطر)... والثاني ان يضطر الي البيع لدين ركبه او مؤنة ترهقه فيبيع ما في يديه بالوكس للضرورة وهذا سبيله في حق الدين والمروءة ان لا يبايع علي هذا الوجه ولكن يعار ويقرض الي الميسرة او يشتري الي الميسرة او يشتري السلعة بقيمتها فان عقد البيع مع الضرورة علي هذا الوجه صح مع كراهة اهل العلم له.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ٦:٨٠ باب المنهي عنها من البيوع)

په ختم القرآن باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې خلق علماء او صوفیاء جمع کوی بیا د کلام الله شریف تلاوت شروع کوی او ختم فرمائی بعض خلق په مړی پسې او بعض خلق د تبرک او د مریض د شفاء دپاره لولی بیا هم په هغه ورځ هم هغه علماء او صوفیاء ته خوراک هم ورکوی او څه نقدې پیسې هم په طور د زکاة یا عشر یا خیرات ورکوی. دا اجرت علی القراءت دې یا نه؟ او که په خوله باندې ووائی چې زمونږ نیت اجرت نه دې، ورکونکی هم دا وائی او اخستونکی هم دا وائی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم........

الجواب: که دا ختم د دنیوی اغراضو دپاره وی نو په دې باندې اجرت اخستل او خوراک کول جائز دی یدل علیه ما روی مرفوعاً: ان احق ما اخذتم علیه اجرا کتاب الله تعالیٰ (۱) ورد فی الرقیة ولا یصح التخصیص بالحربی، والمقاصد الدنیویة فی حکم الرقیة (۲) او که دا ختم د ایصال ثواب دپاره وی نو که دا پیسې وغیره اجرت وی نو ناجائز دی (۳) او که دا د صله یا اعزاز یا تصدق د ابتداء په طور وی نو جائز دی (۴)

---

۱) (الصحیح للامام البخاري ۲:۸۵۴ باب الشرط في الرقیة بقطیع من الغنم)

۲) قال الشیخ الانور: نعم لو کان الختم لمطالب دنیویة طاب له الاجرة... قوله (احق ما اخذتم علیه اجرا کتاب الله)... هو عندنا محمول علي الرقیة ونحوها.
(فیض الباري علي صحیح البخاري ۲۷۷،۲۷۶ باب ما یعطي من الرقیة)

۳) قال العلامة ابن عابدین: لا یصح الاستیجار علي القرأة واهدائها للمیت لانه لم ینقل عن احد من الائمة الاذن في ذلک.
(ردالمحتار ۵:۳۹ مطلب في تحریر مُهِمّ في عدم جواز الاستیجار علي التلاوة الخ)

٤) قال العلامة العیني: (وقال الشعبي: لا یشترط المعلم الا ان یعطي شیئا فلیقبله) هذا یدل علي ان اخذ الاجر بالاشتراط لا یجوز فان اعطي من غیر ...[بقیه بر صفحه آئنده...

يدل عليه ما رواه الترمذي: عن انس رضى الله عنه ان رجلا من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال يا رسول الله انا نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة انتهى(١) وعند التصريح بالصدقة جاز الاخذ في الفتوى دون التقوى. فقط

بغیر د خبر ورکولو نه په تدریس شروع کولو باندې د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مدرس یا ناظم د شوال د میاشتې حقدار دې یا نه دې؟ حال دا چې هغوی د مهتمم یا متولی د وینا مطابق د خپلې حاضرئ لیکلې خبر نه دې ورکړې، او نه مهتمم ته دا علم شته چې هغه خپل سپارل شوی کار کړې دې حال دا چې د طالبانو داخله هم نه ده شوې. بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد دین اشرفیه کتب خانه کوهاټی بازار راولپنډی ۲۹ رمضان المبارک

الجواب: که د دې ادارې په قوانینو کې دا قانون مطبوع وی چې ملازم به بغیر د تحریری اطلاع نه مستحق نه وی، او یا که ملازم د دې التزام کړې وی نو تنخواه وضع کول به صحیح وی، کنه نو غلط به وی. وهذا بناء على ما ذكروه ان العادة محكمة.(٢) وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه گذشته] شرط فانه يجوز اخذه لانه اما هبة او صدقة وليس باجرة واصحابنا الحنفية قائلون بهذا. (عمدة القاري ١٢:٩٧ باب ما يعطي في الرقية)

١) (سنن الترمذي ١:٣٧٢ باب ماجاء في كراهية عسب الفحل)

٢) في شرح المجلة: العادة محكمة يعني ان العادة عامة كانت او خاصة تجعل حكما لاثبات حكم شرعي. (شرح المجلة ١:٧٨ المادة ٣٦)

وقال العلامة ابن نجيم: العادة محكمة...واعلم ان اعتبار العادة والعرف يرجع اليه في الفقه في مسائل كثيرة حتي جعلوا ذلك اصلا.

(الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ١:٢٩٥ القاعدة السادسة العادة محكمة)

شاملات یا مملوک ځمکې لره د څاروو د څرولو او آبادۍ کولو دپاره په اجاره ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید خالد ته ووېل چې تاسو سره چې په فلانی ځای کې کومه شاړه ځمکه ده هغه مونږ ته راکړئ مونږ به د هغې نه فوائد حاصلوو څاروی به هم پکې څروو او استوګنه به هم ساتو او د سرې دپاره به هم هغه ځای استعمالوو، غرض دا چې منافع ئې متعین کړل او زید خالد ته ووېل چې مونږ به د منافع معلوم په عوض کې تاسو ته شپږ سوه روپئ درکوو، او اصل مالکان به هم تاسو یئ مونږ به ستاسو د مالکانه حقوقو او انفرادی مالکیت احترام هم برقرار ساتو کله چې تاسو غواړئ نو ځمکه به درته خالی کړو نو آیا دا عقد جائز دې؟ زید ته بعض خلقو ووېل چې تاسو دا رشوت ورکړې دې ځکه چې دا بیع هم نه ده او نه هبه، عاریة او وقف دې، زید وائی چې دا رشوت نه دې ځکه چې اول خو په دې باندې د رشوت تعریف نه صادقیږی، دویم د رشوت چې کوم علت عند الشرع دې هغه بالکل منتفی دې ځکه چې رشوت حرام او ظلم دې په دې وجه زید وائی چې دا رشوت نه دې بلکې اجاره ده او اجاره د ځمکې هم جائز ده او په دې معامله کې د اجارې تعریف او شرائط موجود دی، مثلا عقد علی المنافع بالخصوص هم دې او منافع هم معلوم او مقرره دی او اجرت هم معلوم، شپږ سوه روپئ او موده ئې هم عرفا معلومه ده، لهذا د دې تعلق د اجارې سره دې حال دا چې په فقه کې دا صورت موجود دې.

ویجوزان یستأجر الساحة لیبنی فیها اویغرس فیها نخلاً اوشجراً فاذاانقضت مدة الاجارة لزمه ان یقلع البناء والغرس ویسلمها فارغة، آیا دا عقد ناجائز دې؟ او آیا زید طرف ته رشوت منسوب کول صحیح دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: شیر محمد خطیب ۲۷ ایف ایف ۲۳ جولائی ۱۹۷٤ء

الجواب: که دغه ځمکه د خالد ملکیت نه وی بلکې موات او شاملات وی نو دا اجاره باطل ده. **لان من شرائطها الملك كما فی الهندیة ٤١٩/٤** (۱) او

---

۱ ﴾ (فتاوی هندیة ٤١٠: ٤ الباب الاول فی تفسیر الاجارة ... وشرائطها)

که دا مملوک وی نو د چراګاه او د خاروو دپاره اجاره صحیح نه ده. کمافی الهندیة ۴۶۸/۴. (۱) والهدایة ۵۴/۳ (۲) بیشکه د آبادئ دپاره صحیح ده. کما هومسطورفی الاستفتاء(۳) وهوالموفق

په نکاح تړلو باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په نکاح تړلو باندې اجرت اخستل څنګه دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرؤف معلم اسلامیات ګورنمنټ هائی سکول صوابی... ۱۵ صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا اجرت په تعلیم باندې دې. (۴) هوالموفق

---

۱) وفي الهندية: ولا يجوز بيع الكلاء واجارته وان كان في ارض مملوكة.
(فتاوي هندية ۳:۱۰۹ الفصل الثاني في بيع الثمار وانزال الكروم الخ)

۲) قال العلامة المرغيناني: ولا يجوز بيع المراعي ولا اجارتها. (هداية ۳:۵۴ باب البيع الفاسد)

۳) (هداية ۳:۲۹۸ باب مايجوز من الاجارة ومايكون خلافا فيها، كتاب الاجارة)

۴) وفي الهندية: ولو استأجر لتعليم ولده الكتابة او النجوم او الطب او التعبير جاز بالاتفاق وفي فتاوي الفضلي ولو استاجر المعلم علي حفظ الصبيان او تعليم الخط او الهجاء جاز (فتاوي عالمگيرية ۴:۴۴۸ الباب السادس عشر في الاستيجار علي الطاعات)
وقال العلامة قاضي خان: اختلف المشائخ في الدلالة في النكاح هل يكون لها الاجر قال الشيخ الامام ابوبكر محمد بن الفضل لا اجر لها لانه لا منفعة للزوج من كلامها بغير عقد وانما منفعة الزوج في العقد والعقد ما قام بها وقال غيره من المشائخ لها اجر مثلها لان معظم الامر في النكاح يقوم بالدلالة فان النكاح لا يكون الا بمقدمات تكون من الدلالة فكان لها اجر المثل بمنزلة الدلال في البيع فانه يستحق الاجر.
(فتاوي خانية علي هامش الهندية ۲:۳۲۷ باب الاجارة الفاسدة)

د مدرس د پاره د حج د ورځو اجرت اخستل

سوال: مايقول العلماء الكرام والمفتيون العظام في المسئلة الاتية: هل يستحق المدرس الاجرة ايام فريضة الحج؟ بينوا توجروا

المستفتي: صدر الشهيد متعلم دار العلوم حقانيه اكوړه خټك ... ۵ ذي الحجة ۱۳۸۹ھ

الجواب: د ايام حج د اجرت د استحقاق متعلق روايات حديثيه او فقهيه دواړو كښې څه تصريح نشته لهذا كه د تقرر په وخت د دې څه فيصله نه وى شوې نو د هغې دارومدار به د مدارس په عرف باندې وى، په دې شرط چې د هغه ادارې څه مقرر قانون او اصول نه وى او په موجوده وخت كښې د لوئې مدارسو عرف دا دې چې د يوې نيمې مياشتې تنخواه وركوى لهذا هغه معمول ساتل پكار دى يدل عليه ما في الأشباه والنظائر ۷۹، القاعدة السادسة: العادة محكمة واصلها قوله عليه الصلوٰة والسلام ما راه المسلمون حسنا فهو حسن عند الله تعالى، قال العلائى لم اجده مرفوعا في شيئ من كتب الحديث ولا بسند ضعيف بعد طول البحث وكثرة الكشف والسوال وانما هو قول عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه موقوفا عليه اخرجه احمد في مسنده انتهى(١) قلت لكنه مرفوع حكما،

د دې نه معلومه شوه چې عادت او عرف باندې بناء كول يعنى چېرته چې نص نه وى اصل او قاعده ده، ويدل عليه جزئيات آخر مذكورة في الاشباه.(٢)

---

(١) (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۲۹۵: ۱ القاعدة السادسة، العادة محكمة)

(٢) قال العلامة ابن نجيم: فما فرع علي هذه القاعدة حد الماء الجاري الاصح انه ما يعده الناس جاريا، ومنها وقوع البعر الكثير في البئر الاصح ان الكثير ما يستكثره الناظر، ومنها حد الماء الكثير الملحق بالجاري الاصح تفويضه الي رأي المبتلي به لاالتقدير بشيي من العشر ونحوه، ومنها الحيض والنفاس قالوا لو زادالدم علي اكثر الحيض والنفاس يرد الي ايام عادتها ومن ذلك العمل المفسد للصلاة مفوض الي العرف ...[بقيه برصفحه آئنده ...

والدرالمختار(۱) فقط وهوالموفق

په موقت او غیر موقت اجاره کې مستاجر له خارج کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې څه موده مخکې مونږ په کوهاټ کې ۳۸ کناله ځمکه اخستلې وه د ذکر شوې زمکې مخکښنې مالک یو اجاره دار ته د کال په اجاره باندې ورکړې وه، چې په هغې باندې تقریبا په شپږ کنالو باندې امرود هم سابقه مالک لګولې وو اوس اجاره دار مونږ ته د دې ځمکې قبضه په دوه لاکه روپۍ پریږدی حال دا چې په دې ځمکه باندې دې اجاره دار هیڅ ترقیاتی کار نه دې کړې، د درې کالو نه مونږ ته حاصلات هم نه راکوی په دې صورت کې که مونږ د حکومت په ذریعه قبضه واخلو نو آیا شریعت مونږ ته اجازت راکوی؟ بینواتوجروا

...بقیه ازحاشیه گذشته]

لو کان بحیث لوراه یظن انه خارج الصلاة، ومنها تناول الثمار الساقطة وفي اجارة الظئر وفیما لا نص فیه من الاموال الربویة یعتبر فیه العرف في کونه کیلیاً او وزنیاً.

(الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۲۹۶: ۱ القاعدة السادسة، العادة محکمة)

۱) قال العلامة الحصکفي: (وجاز اجارة الحمام) لانه علیه الصلوة والسلام دخل حمام الجحفة، وللعرف وقال علیه الصلوة والسلام ما راه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن قلت والمعروف وقفه علي ابن مسعود کما ذکره ابن حجر.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳۵،۳۶: ۵ باب الاجارة الفاسدة)

وقال العلامة الحصکفي: في کتاب الایمان: فان الایمان مبنیة علي العرف فما تعورف الحلف به فیمین ومالا فلا (لا) یقسم (بغیر الله تعالي کالنبي والقرآن والکعبة) قال الکمال ولا یخفي ان الحلف بالقرآن متعارف فیکون یمینا واما الحلف بکلام الله فیدور مع العرف وقال العیني وعندي ان المصحف یمین لا سیما في زماننا.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵۶: ۳ کتاب الایمان)

المستفتی: عبدالشکور پراچه مین بازار کوهاټ.... ۲۶ دسمبر ۸۸ء

الجواب: که دا اجاره غیر موقت وی نو د کال په شروع کښې هغه لره بغیر د معاوضې نه خارج کول جائزدی (۱) اگر چې د پولیس په ذریعه وی او که موقت وی نو دوخت نه مخکښې د معاوضه ورکولو اجازت شته (۲) وهوالموفق

د افسرانو په اجازت یا بغیر د اجازت نه د مسجد د امام دپاره تنخواه مقرر کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې د اکثر سرکاری او غیر سرکاری ادارو سره تړلې مسجدونو کښې د هغه ادارو ملازمین مونځ ادا کوی ملازمین په هغه مسجدونو کښې یو پیش امام مقرر کوی د امام صاحب نوم د ملازمینو په فهرست کښې چوکیدار (لائن مین) یا د فټر وغیره په حیثیت سره لیکلې شی او دغه شان هغه ته د ادارې د طرف نه د ملازمینو

---

(۱) قال العلامة الحصکفي: (آجر حانوتا کل شهر بکذا صح في واحد فقط) وفسد في الباقي لجهالتها... واذا مضي الشهر فلکل فسخها بشرط حضور الآخر لانتهاء العقد الصحيح. (الدرالمختارعلي هامش ردالمحتار ۵:۳۴،۳۵ باب الاجارة الفاسدة)

وفي شرح المجلة: لو انقضت الاجارة واراد الآجر قبض ماله یلزم المستأجر تسلیمه ایاه. (شرح المجلة ۲:۶۹۴ المادة: ۵۹۳)

(۲) قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلي: ولان المستأجر یملک المنفعة فله ان یتنازل عنها بعوض کالاجارة وبغیر عوض کالاعارة... اذا تم الاتفاق بین المالک وبین المستأجر اثناء مدة الاجارة علي ان یدفع المالک الي المستأجر مبلغا مقابل تخلیه عن حقه الثابت بالعقد في ملک منفعة بقیة المدة فان بدل الخلو هذا جائز شرعاً لانه تعویض عن تنازل المستأجر برضاء عن حقه في المنفعة التي باعها للمالک.

(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۸۲۶ عقد الایجار)

په شان تنخواه ورکولې شي عرض دا دې چې د دې کار دپاره اداري تنخواه نه ده مقرر کړې نو آيا په پورته ذکر شوې صورت کې دا (تنخواه) جائزکيدې شي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: شمس الحق محله اياخيل نوښار کلان پيښور.... ۱۹ ذوالقعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: که د دې ملازمينو دا رعايت د پورته افسرانو په اجازت سره وي نو په دې تنخواه کې هيڅ قانوني يا شرعي قباحت نشته او که دا رعايت بغير د اجازت نه وي نو په دې کې (دې تنخواه کښ) صرف قانوني قباحت دې شرعي قباحت نشته، د حکومت يو ذمه داري دا هم ده چې د امامانو او د مسجدونو د ضرورت مطابق انتظام وکړي (۱) **وهوالموفق**

په مالکانو کې د يو مستاجره ځمکه خرڅول او مشتري ته په قبضه کې ورکول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې فضل احد، غلام احد او د هغوی ورونو د محمد سعيد، محمد ظاهر خان نه آباد دکان د کال دپاره په پنځه زره روپۍ کرايه باندې واخستلو، د لسو کالو کرايه يعني پنځوس زره روپۍ پيشګي ورکړه، فضل احد، غلام احد او دهغوی ورونو د دکان په مالکانو باندې دا شرط کيښودلو چې ترڅو پورې د لسو کالو ميعاد ختم شوې نه وي دا دکان به نه شي خرڅولې او نه به ئې ګانه کولې

(۱) في شرح العقائد: والمسلمون لا بد له من امام يقوم بتنفيذ احكامهم... وامامة الجمع والاعياد. وفي حاشيته: (قوله من امام)... ويأخذ العشر والخراج علي الوجه المشروع ويعطي العلماء والخطباء والقضاة والمفتين والمدرسين والمتعلمين والحافظين وغير ذلک من بيت المال. (شرح العقائد ۱۱۰ حاشيه ۴)

وقال العلامة ابن عابدين: (ثالثها حواه مقاتلونا)...يصرف في مصالحنا کسد الثغور... وکفاية العلماء والقضاة...والمساجد (ردالمحتار ۲:۶۳ قبيل باب المصرف)

شی، پورته ذکر شوې دکان د تره او ورارهٔ دې او دا دکان د دواړو مشترک دې. تقریبا په نیم میعاد تیریدلو باندې فضل احد، غلام احد او وروڼو د مالک یعنی محمد ظاهر خان نه دهغه پوره حصه یعنی نیم دکان په بیع قطعی باندې واخستلو او پیسې ئې ادا کړې، اوس مالک یعنی محمد سعید خان وائی چې چونکې پورته ذکر شوې شرط (خرڅولې نه شی) ختم شو لهذا د کرایه رسید باطل شو، او اوس به زه (محمد سعید ته) دخپلې خوښې کرایه ورکوم، تاسو ته درخواست دې چې د شریعت په رڼا کې د دې مسئلې جواب څه دې؟

المستفتی: فضل احمد وغیرهم بټ خیله ... ۲۹ جون ۱۹۸۶م

الجواب: د مالکانو دا بیع نافذ ده خو د اجارې د مودې د لسو کالو ختمیدو نه مخکې نه دا د دکان مالک په دې دکان باندې جبرا قبضه کولې شی او نه دا مشتری دا دکان قبضه کولې شی. کما فی شرح المجلة ۱: ۶۹۰ م ۵۹۰: لوباع الآجر المأجور بدون اذن المستأجر یکون البیع نافذا بین البائع والمشتری ولم یکن نافذا بحق المستأجر الی آخره(۱). وهوالموفق

د عرف موافق په صنعت باندې مزدور د مزدورئ مستحق دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو زرګر د یو سړی سره د کالو جوړولو په وخت دا شرط ولګولو چې زه به د دوه سوه روپو

---

۱) (شرح المجلة ۲: ۶۹۰ مادة ۵۹۰ الفصل الثانی فی تصرف العاقدین فی الماجور الخ)
وقال العلامة الحصکفی: بیع ما آجره فانه ایضا لیس بعذر بدون لحوق دین کما مر ویوقف بیعه الی انقضاء مدتها. (الدرالمختار ۵: ۵۷ باب فسخ الاجارة)
وفی الهندیة: ولو باعها الآجر بغیر اذن المستأجر وردالمستأجر البیع هل ینفسخ البیع اختلف المشائخ فیه والاصح انه لیس له ان یفسخ.
(فتاوی عالمگیریة ۴: ۴۶۰ الباب التاسع عشر فی فسخ الاجارة بالعذر الخ)

فی توله جوړولو مزدوری اخلم، اخستونکی سړی هم دا ومنله چې مزدوری به دوه سوه روپۍ درکوم خو شرط به دا وی چې کالی به خالص وی اوس زرګر کالی جوړ کړل خو کله چې اخستونکی سړې راغلو نو هغه وویل چې په دې کې غش (چل) دې زه دا نه اخلم، حال داچه زرګر وائی چې یوه توله سرۀ زر بغیر د یوه رتۍ غش نه نۀ جوړیږی د دې متعلق شرعی حکم څه دې؟ آیا هغه د دې ریټ مستحق دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالجبار مدرسه عربیه شمس المدارس احمد آباد

تحصیل وضلع کرک، ۲۳ شعبان ۱٤۰۸هـ

الجواب: دې زرګر د عرف مطابق کار کړې دې لهذا دې به د مزدورۍ مستحق وی خو که د نورو زرګرانو په نزد ریټ کم وی نو هغه ته دې ریټ (نرخ) کم ورکړې شی. (۱) وهوالموفق

په اجاره کې د اقالې د وعدې حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې یوه ځمکه په شل روپۍ کال باندې په اجاره واخلی او دا سړی هغه سړی ته اتۀ سوه یا زر روپۍ د پیشګی په طور ورکړی او ورسره دا هم ووائی چې دوه کاله پس که تاسو په دې اجاره باندې راضی نه وئ نو د شل روپۍ کال په حساب سره د تیرو کلونو پیسې کټ کړه، ته به ماته باقی پاتې واپس کوې

(۱) في شرح المجلة: العادة محكمة يعني ان العادة عامة كانت او خاصة تجعل حكما لاثبات حكم شرعي... واعلم انه يرجع في مسائل كثيرةالي العرف والعادة حتي جعلوا ذلک اصلا. (شرح المجلة ۷۸،۷۹: ۱ المادة: ۳٦)

وقال العلامة ابن نجيم: العادة محكمة... واعلم ان اعتبار العادة والعرف يرجع اليه في الفقه في مسائل كثيرة حتي جعلوا ذلک اصلا.
(الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۲۹۵: ۱ القاعدة السادسة، العادة محكمة)

او زه به تاته خمکه درکړم. مهرباني اوکړئ دلائل لیکلو سره د دې جواب راکړئ چې عند الشرع جائز ده یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی عبدالواحد الیان کورونه ئړد کوټ تحصیل چارسده... ۱۱ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: که په دې اجاره کې د مودې تعین شوې وی نو دا جاره صحیح ده، په دې شرط چې د اقالې وعده په درمیان د عقد کې نه وی یعنی د عقد نه خارج د خاطر په طور شوې وی.

لما فی الهداية: ولا يصح حتى تكون المنافع معلومة والاجرة معلومة لما روينا والمنافع تارة تصير معلومة بالمدة الخ ۳:۲۷۷(۱) وفيها ايضا ۲۶۵: الاجارة تفسدها الشروط كما تفسد البيع لانه بمنزلته(۲). وهوالموفق

د هړتال د ورځو د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې استاذان د خپلو مطالباتو د منلو دپاره تدریسی بائیکاټ کولې شی یا نه؟ د دې بائیکاټ د ورځو تنخواه اخستل جائز دی یا نه دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: قاضی محمد شریف گورنمنټ مډل سکول

گلشن آباد راولپنډی... ۹ جون ۱۹۹۶ء

الجواب: چونکې په جمهوری حکومت کې هړتال کول او سره د هغې خپله تنخواه وصولول قانونی امور دی لهذا د دې ملازمینو دپاره دا تنخواه ګانې اخستل جائز دی، کما فی شرح المجلة: ۳۴، المادة: ۳۶: العادة محكمة يعني ان

---

۱) (الهداية ۳:۲۹۳ كتاب الاجارات)

۲) (الهداية ۳:۳۰۱ كتاب الاجارات، باب الاجارة الفاسدة)

وقال العلامة الحصكفي: (تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضي العقد فكل ما افسد البيع) مما مر (يفسدها) كجهالة ماجور او اجرة.

(الدرالمختار ۵:۳۲ باب الاجارة الفاسدة)

العادة عامة اوكانت خاصة تجعل حكما لاثبات حكم شرعي. (١) وهوالموفق

د غنمو په لو کولو یا د تهریشر په مزدورۍ کې لسمه حصه ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې مزدور ته د غنمو په لو کې مزدوری ورکول مثلاً لسمه او دغه شان په تهریشر وغیره کې د غنمو لسمه ورکول جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی جعفر خان باجوړ ایجنسی...٦ اپریل ١٩٩٠ء

الجواب: چونکې د دې فاسد معاملې نه خواص هم نه شی بچ کیدې، لهذا ددې دجوازفتوی ورکول قابل اعتراض نه دی. کما افتی به مشائخ بلخ (٢) وهوالموفق

---

١ ﴾(شرح المجلة ٧٨:١ المادة ٣٦)

وقال العلامة ابن نجيم :العادة محكمة... واعلم ان اعتبار العادة والعرف يرجع اليه في الفقه في مسائل كثيرة حتي جعلوا ذلک اصلا.

(الاشباه والنظائر ٢٩٥:١ القاعدة السادسة، العادة محكمة)

٢ ﴾وفي الهندية :صورة قفيزالطحان ان يستأجرالرجل من آخرثوراليطحن به الحنطة علي ان يكون لصاحبها قفيز من دقيقها او يستأجر انسانا ليطحن له الحنطة بنصف دقيقها او ثلثه او ما اشبه ذلک فذلک فاسد... دفع غزلا الي حائک لينسجه بالنصف فالثوب لصاحب الغزل ومشائخ بلخ جوزوا هذه الاجارة لمكان الضرورة والتعامل.

(فتاوي عالمگيرية ٤٤٤،٤٤٥:٤ الفصل الثالث في قفيز الطحان وما هو في معناه)

وقال العلامة ابن عابدين :(قوله كما زعمه مشائخ بلخ) قال في التبيين ومشائخ بلخ والنسفي يجيزون حمل الطعام ببعض المحمول ونسج الثوب ببعض المنسوج لتعامل اهل بلا دهم بذلک ومن لم يجوزه قاسه علي قفيز الطحان والقياس يترک بالتعارف.

(ردالمحتار ٤٠:٥ مطلب يخص القياس والاثر بالعرف العام دون الخاص)

د حجام د مزدورئ حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د ګیره خرونکی نائی د مزدوئ څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: ګل حبیب صوابئ..... ۱۹ ستمبر ۱۹۷۲ء

الجواب: د دې نائی مزدوری حرام ده، فی الدر المختار : ولا لاجل المعاصی، هامش رد المحتار ٤/٥ (۱) وهوالموفق

د ګورنمنټ نه الاؤنس (روپئ) د کور د کرایه د پاره د وصولولو حیله کول چې سړې د پلار په کور اوسیږی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه یو سرکاری ملازم یم زما استوګنه مستقل طور په ټیکسلا کې ده د سرکاری قواعدو د لاندې د میاشتې د تنخواه نه علاوه یو خاص قسم الاؤنس (الاؤنس دپاره د کور د کرایه) ورکولې شی کوم چې د هغه ملازمینو دپاره دې چاته چې د ګورنمنټ دطرف نه سرکاری استوګنه نه وی ملاؤ او هغه ملازمین په کرایه باندې کور اخستلو سره اوسیږی ما چونکې په کرایه باندې کور نه دې اخستلې بلکې د خپل پلار سره په ذاتی کور کې اوسیږم، د الاؤنس اخستلو دپاره متعلقه دفتر ته د کور د کرایه رسید خودل غواړی لهذا تاسو دا بیان کړئ چې زه الاؤنس په دې صورت کې اخستلې شم یا چې والد صاحب ته څه پیسې د تنخواه د کرایه په طور ورکړم او یا په بل څه صورت باندې اخستل جائز وی؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد رفیق راولپنډی.... ۲۵ جولائی ۱۹۷۲ء

---

۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۵:۳۸ باب الاجارة الفاسدة)
وقال العلامة المرغيناني : ولا يجوز الاستيجار علي الغناء والنوح وكذا سائر الملاهي لانه استيجار علي المعصية والمعصية لا تستحق بالعقد.
(هداية ۳:۳۰۳ باب الاجارة الفاسدة)

الجواب: تاسو د پلار دا ذاتی کور د هغوی نه یا د هغې څه حصه د پلار نه په اجاره باندې واخلئ او پلار وغیره ته د استوګنې اجازت ورکړئ، په دې تدبیر سره به تاسو د ګناه نه محفوظ یئ. **وهوالموفق**

د مستعفی مدرس د شعبان او رمضان د تنخواه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مدارس عربیه چې کوم تعطیلات د شعبان المعظم نه کیږی که یو مدرس په شعبان کې د مدرسې نه مستعفی شی او د بل کال دپاره په مدرسه کې اوسیدل نه غواړی یا مهتمم مدرس په شعبان کې فارغ کړی نو آیا شرعی طور مدرس مذکور په دواړو صورتونو کې دشعبان او رمضان دتنخواه مستحق دې یانه؟**بینواتوجروا**

المستفتی: اعجاز علی مدرس جامعه رشیدیه بهکر میانوالی.... ۹ ستمبر ۱۹۷۶ء

الجواب: د کوم دار العلوم مطبوعه آئین او قانون چې موجود وی نو په دواړو صورتونو کې به د هغې پابندی ضروری وی او د کوم دارالعلوم چې آئین او قانون نه وی نو د نورو مدارسو د قوانینو پابندی به ضروری وی.

الا ان یکون قانونهم مصادما بالمنصوص کالجمع بین الوقت والعمل(۱) والاصل فیه ما فی الاشباه والنظائر: العادة محکمة انتهی(۲) یعنی ان العادة عامة کانت او خاصة تجعل حکما لاثبات حکم شرعی کما فی شرح المجلة ۳۴ فلیراجع (۳)،او که دا امور نامعلوم وی، یا مضطرب وی نو په مستعفی کیدو او کولو دواړو صورتونو کې به دا مدرس د ایام تعطیل

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصکفي: (او) استاجر (خبازا لیخبزله کذا) کقفیز دقیق (الیوم بدرهم) فسدت عند الامام لجمعه بین العمل والوقت، ولا ترجیح لاحدهما فیفضي للمنازعة. (الدرالمختار علي هامش ردالحتار ۵:۴۱ باب الاجارة الفاسدة)

۲ ﴾ (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۱:۲۹۵ القاعدة السادسة)

۳ ﴾ (شرح المجلة ۱:۷۸ المادة: ۳۶)

مستحق وی، لان شعبان ورمضان من آخر السنة التعليمية كوقت العصر في صورة المياومة وفي ردالمحتار ۳: ۳۸۰، فحيث كانت البطالة معروفة في يوم الثلاثاء والجمعة وفي رمضان والعيدين يحل الاخذ، وكذا لو بطل في غير معتاد لتحرير درس الا اذا نص الواقف على تقييد الدفع باليوم الذي يدرس فيه كما قلنا(۱) انتهى بقدر الضرورة. وهوالموفق

د مستاجر ځمکه په مزارعت باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد بکر ته ځمکه په اجاره باندې ورکړه اود اجارې قيمت ئې مخکې وصول کړو بيا بکر هم هغه ځمکه په طور د مزارعت په نيم فصل باندې ورکړه آيا دا مزارعت جائز دې يا ناجائز؟ د شريعت په رڼا کې د دې حکم واضح کړئ؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: حکيم رفيق صوابي مردان ... ٢٤ رمضان المبارک ١٤٠٥هـ

الجواب: که بکر دا ځمکه زيد ته په طور د فصل ورکړې وی نو ناجائز ده دا د امام محمد رحمه الله آخری قول دې او معتمد عليه او اصح دې.

كما في ردالمحتار ٦: ٢٨٤ قبيل كتاب المساقاة، وقال محمد رحمه الله تعالى: لو البذر من المستأجر او المؤجر يجوز ثم رجع وقال لا وهو المأخوذ به... وذكر في المنح ايضا انه الاصح(۲). وهوالموفق

---

۱) (ردالمحتار ۳: ٤١٦ مطلب في استحقاق القاضي والمدرس الوظيفة في يوم البطالة)

۲) (ردالمحتار ٥: ١٩٩ قبيل كتاب المساقاة)

وفي البزازية: استأجر ارضا ودفعها الي صاحبها مزارعة فان البذر من قبل ربها لم يجز فهذه مناقضة وان من قبل المستأجر جاز وذكر هنا مسئلة تخالفه وهي استأجر ارضا ودفعها الي ربها مزارعة والبذر من قبل المستأجر او المؤاجر قال محمد يجوز ثم رجع وقال لا وهو المأخوذ. (الفتاوي البزازية علي هامش الهندية ٦: ١٠٠ كتاب المزارعة، قبيل نوع في زرع ارض الغير بغير اذن)

د مستاجر موجر ته ځمکه په اجاره باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما د سل روپۍ فی جریب په حساب سره ځمکه په اجاره باندې اخستلې ده او کل رقم دولس سوه روپۍ پیشګی مې د ځمکې مالک ته ورکړې دی اوس د ځمکې مالک زمانه دوباره خپله ځمکه په یولس سوه روپۍ فی جریب حساب سره اخستلې ده یعنی ماته په کال تیریدلو باندې شپږ شلې روپۍ ګټه ملاویږی اصل خبره دا ده چې زما سرمایه هغه سره ده او هر کال ماته شپږ شلې روپۍ منافع راکوی آیا په شریعت اسلامی کې دا اخستل جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمود الدین کل آباد چارسده...۲٤ فروری ۱۹۷۳ء

الجواب: د مستاجر دپاره په هیڅ حال کې جائز نه دی چې د دې ځمکې په مالک باندې اجاره وکړی.

وفی الهندية ٤:٤٣٥، وكان الامام ابوعلی النسفی يحكی عن استاذه ان المستاجر لو آجره من المواجر لا يصح (الی ان قالوا) وقال الامام الحلوانی روی عن محمد رحمه الله تعالی ان الاجارة من المالك لا تجوز مطلقا تخلل الثالث اولا وبه قال عامة المشائخ وهو الصحيح وعليه الفتوی(۱). وهو الموفق

د مستاجر ځمکه په اجاره باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که زید د عمر نه دوه کناله ځمکه په اجاره باندې واخستله او په دې دوه کناله ځمکه کې څه ځمکه د شاملات ده او دا دوه کناله ځمکه هغوی په سل روپۍ باندې واخستله اوس زید په ځمکه کې د تصرف کولو نه بغير دا ځمکه په بکر باندې په دوه سوه روپۍ خرڅوی یا اصل ځمکه خپل ځان سره ساتی او

---

۱) (فتاوی عالمگیرية ٤:٤٢٥ الباب السابع في اجارة المستأجر)

وفي شرح التنوير علي هامش ردالمحتار: (للمستأجر ان يؤجر المؤجر) بعد قبضه قيل وقبله (من غير مؤجره واما من موجره فلا) يجوز وان تخلل ثالث به يفتي.

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ٥:٦٢ مطلب في اجارة المستأجر للمؤجر وغيره)

شاملات په سل یا دوه سوه روپئ باندې خرڅه کړي یا په دوه کنالو کې یو کنال خان ته د کروندې دپاره پریږدی او بل کنال په بکر باندې په دوه سوه روپئ خرڅه کړي آیا په دې صور مسئوله کې دا ټول جائز دی یا ناجائز؟ زمونږ په علاقو کې د دې ټولو صورتونو اجراء کیږي او عام عرف جاری دې او د هندیة باب تصرف الاجیرنه عدم جواز معلومیږي؟ بینواتوجروا

المستفتی: حضرت العلامه مولانا فضل مولی صاحب مدرس دار العلوم هذا

۲۷ ربیع الاول ١٤٠٢هـ

الجواب: دا بیع یعنی دویمه اجاره جائز ده خو دا زائد رقم به خیرات کوی، كما فى الهندية: اذا استأجر وقبضها ثم آجرها فانه يجوز ان آجرها بمثل ما استأجرها او اقل وان آجرها باكثر مما استأجرها فهي جائزة ايضا الا انه ان كانت الاجرة الثانية من جنس الاجرة الاولى فان الزيادة لا تطيب له ويتصدق بها(١). وهوالموفق

ملازم په چهٹیانو کې کور پریښودلو او د واپسۍ اراده نې ده نو د اجارې حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو ملازم په شل روپئ باندې د میاشتې یو کور په کرایه باندې واخلی او کور د هغه په عدم موجودګئ کې خالی وی کله پکې د ضرورت سامان پروت وی او کله نه،
ب: کور خالی پاتې شو خو د ملازم د درې میاشتو د رخصت تیرولو نه پس

---

١) (فتاوي عالمگيرية ٤٢٥:٤ الباب السابع في اجارة المستأجر)
وقال العلامة ابن عابدين: (قوله للمستأجر ان يوجر المؤجر الخ) اي ما استأجره بمثل الاجرة الاولي او بأنقص فلو باكثر تصدق بالفضل الا في مسئلتين كما مر اول باب ما يجوز من الاجارة.
(ردالمحتار ٦٢:٥ مسائل شتي، مطلب في اجارة المستأجر للمؤجر ولغيره)

د واپس راتلو اراده ده اوس دوه صورتونه پیدا کیږی ۱: یو دا چې کور خالی پریښودلو سره د کور مالک ته هیڅ او نه وائی په دې صورت کې ښکاره ده چې ملازم د کور نه لاس واخستلو.
۲: د کور مالک ته اووائی چې زه به د درې میاشتو تیرولو نه پس انشاء الله واپس ضرور راځم او بیا به هم دا کور په کرایه باندې اخلم، نو آیا د کور مالک د درې میاشتو د کرایه حقدار دې یا نه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحمید ایس وی..... ٦ مئی ۱۹۷۳ء

الجواب: واضحه دې وی چې په دویم صورت کې اجاره ختمه شوې ده، لکه د چې "بیا به ئې په کرایه باندې اخلم" نه واضحه ده. لهذا مالک مکان بل چاته په کرایه باندې د ورکولو اجازه لري. **لوجود ما یقتضی الفسخ ویدل علیه ما فی الدرالمختار: آجر حانوتاً کل شهر بکذا صح فی واحد فقط، وفسد فی الباقی لجهالتها واذا مضی الشهر فلکل فسخها بشرط حضور الآخر لانتهاء العقد الصحیح، هامش ردالمحتار ٥: ٤٢(۱). وهوالموفق**

د مزدور د پاره په سرکاري وختونو کې فرض، نفل مونځ او د مطالعه کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په سرکاری وخت کې دننه فرضاو نفل مونځ ادا کول څنګه دی؟ مثلاً د چاشت مونځ وغیره که څه کار نه وی بلکې فارغ وی نو د اسلامی کتابونو مطالعه یا دینی مسائلو باندې ځان پوهه کول جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد رفیق راولپنډی... ۲٥ جولائی ۷۲ء

---

۱) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۳٥، ۳٤: ٥ باب الاجارة الفاسدة)

وقال العلامة المرغيناني: ومن استأجر دارا كل شهر بدرهم فالعقد صحيح في شهر واحد فاسد في بقية الشهور الا ان يسمي جملة الشهور معلومة... واذا تم كان لكل واحد منهما ان ينقض الاجارة لانتهاء العقد. (الهداية ۲: ۳۰۲ باب الاجارة الفاسدة)

الجواب: فرض بهرحال کولې شي، د نوافل او مطالعې دپاره په سرکاري کار کې نقصان کول ناجائز دي.(۱) که څه کار نه وي نو بيا هيڅ باک نشته. وهوالموفق

د تصوير ويستونکي د مزدورئ حکم:

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا چې کوم خلق د تصوير ويستلو کار کوي د هغوي دپاره د شريعت نه د جواز څه ضرورت راوځي يا نه؟ جواب د حوالې سره راکړئ؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمد مصري کشمير فوټو سټوډيو آزاد کشمير ... ۸ ستمبر ۱۹۷۲ء

الجواب: چونکې د ګټې ذرائع ډيرې دي لهذا د تصوير ويستلو کار کونکې مجرم او د هغه ګټه حرامه ده. يدل عليه ما رواه البخاري: عن سعيد بن ابي الحسن قال كنت عند ابن عباس اذ جاء رجل فقال يا ابن عباس اني رجل انما معيشتي من صنعة يدي واني اصنع هذه التصاوير فقال ابن عباس لا احدثك الا ما سمعت من رسول الله ﷺ سمعته يقول من صور

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله وليس للخاص ان يعمل لغيره) بل ولا ان يصلي النافلة قال في التتارخانية وفي فتاوى الفضلي واذا استأجر رجلا يوما يعمل كذا فعليه ان يعمل ذلک العمل الي تمام المدة ولا يشتغل بشيئ آخر سوي المكتوبة وفي فتاوي سمرقند وقد قال بعض مشائخنا له ان يؤدي السنة ايضا واتفقوا انه لا يؤدي نفلا وعليه الفتوي.

(ردالمحتار ۵:۴۸ مطلب ليس للاجير الخاص ان يصلي النافلة)

وفي الهندية: اذا استأجر رجلا يوما ليعمل كذا فعليه ان يعمل ذلک العمل الي تمام المدة ولا يشتغل بشيئ آخر سوي المكتوبة وفي فتاوي اهل سمرقند قد قال بعض مشائخنا رحمهم الله تعالي ان له ان يؤدي السنة ايضا واتفقوا انه لا يؤدي نفلا وعليه الفتوي.

(الفتاوي الهندية ۴۱۶:۴ كتاب الاجارة، الباب الثالث في الاوقات التي يقع عليها عقد الاجارة)

صورة فان الله معذبه حتى ينفخ فيه الروح وليس بنافخ فيها ابداً فربا الرجل ربوة شديدة واصفر وجهه، الحديث (مشكوٰة) (١). وهوالموفق

د چیلی د چیلئ سره په یو ځای کولو باندې د مزدورئ حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید نر چیلې پاللې دې او هغه دا کاروبار اختیار کړې دې کله چې څوک چیلئ راولی نو مسمی مذکور خپل نر چیلې په ښځه چیلئ باندې هله پرېږدی چې یو روپئ د چیلئ والا نه وصول کړی د شریعت په رڼا کې دا ګټه حلال ده که حرام؟ او دا کاروبار جائز دې یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالله باباکبیرپوره لوښار .... ٢٦ ستمبر ١٩٦٩ء

الجواب: که زید دا پیسې د اجرت او عوض په طور اخلی نو ناجائز دی. (٢) او که هغه ته دا پیسې اعزازی طور ورکولې شی نو جائز دی.

من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال يارسول الله انا

---

١) (مشكوٰة المصابيح ٣٨٦ باب التصاوير)

وقال العلامة المرغيناني : ولا يجوز الاستيجار علي الغناء والنوح وكذا سائر الملاهي لانه استيجار علي المعصية والمعصية لا تستحق بالعقد.

(الهداية ٣:٣٠٣ كتاب الاجارات)

٢) قال العلامة الحصكفي : (لاتصح الاجارة لعسب التيس) وهو نزوه علي الاناث.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ٥:٣٨ باب الاجارة الفاسدة)

وقال العلامة المرغيناني :ولا يجوز اخذ اجرة عسب التيس وهو ان يواجر فحلا لينزو علي اناث لقوله عليه السلام ان من السحت عسب التيس والمراد اخذ الاجرة عليه. (الهداية ٣:٣٠٣ باب الاجارة الفاسدة)

نطرق الفحل فنكرم فرغض له في الكرامة(¹). فقط وهوالموفق

دڅاروو په پالنه باندې اجرت کې لیلة (د کال نه کم عمر بچې) ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د څاروو مالک. د پالنې په خاطر پالنه کونکی ته د هر کال په آخره کې د "لیله" ورکولو اقرار کوی. د لیله نه مراد د بیزې هغه بچې دې کوم چې د کال نه د کم عمر وی لهذا فتوی لیکلو سره مهربانی وکړئ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحمید ایس وی معلم مډل سکول ۲۵ فروری ۱۹۷۲ء

الجواب: که دا معامله اجاره وی نو د اجرت د جهالت د وجې نه فاسد ده. (²) وهوالموفق

د کور مالک یوه میاشت مخکې نه خبرولو باندې د یوې میاشتې زیاته کرایه وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو کرایه دار د مالک مکان سره تحریری معاهده کوی کله چې هغه د کور د پریښودلو اراده وکړی نو یوه میاشت مخکې دې مالک مکان خبر کړی کنه نو د یوې میاشتې کرایه به زیاته وصولولې شی نو هغه یوه ورځ مخکې د کور مالک خبردار کړو اوس که دکور مالک ددې معاهدې د لاندې د یوې میاشتې کرایه وصول کړی نو دا جائز ده یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد سعید اکبرپوره

---

¹) (سنن الترمذي ۱:۳۷۲ باب ماجاء في كراهية عسب الفحل)

²) قال العلامة الحصكفي: كل ما افسد البيع مما مر في البيوع يفسد الاجارة كجهالة مأجور او اجرة او مدة او عمل. (شرح المجلة ۲:۵۳۸ المادة: ۴۶۰)

وفي الهندية: الفساد قد يكون لجهالة قدر العمل... وقد يكون لجهالة البدل.

(فتاوی هندية ۴:۴۳۹ الفصل الاول فيما يفسد العقد فيه)

الجواب: دا عقد هم ناجائز دي (۱) او د يوې مياشتې کرايه وصولول هم ناجائز دی. (۲) وهوالموفق

د امامت د فرائض ادا کولو نه د عاجز امام تنخواه او د هغه د معزول کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد يو امام بيمار شو څلور پنځه مياشتې په بستره پروت وو، طالب علم ورته مونځ ورکولو، د محلې والو يو بل مولوی صاحب امام جوړ کړو او د مسجد امام منظورولو سره د خليفه نه اقرار نامه واخستله، چې د امامت د حاصلاتو نه به دوه حصې تاته درکوم، او دريمه حصه به زه اخلم، چې په هغې باندې موجود حاضرينو دستخطې وکړې څو ورځې تيريدلو نه پس خليفه د فقر او غريبئ اظهار وکړو نو شرارت کونکو وويل چې د مسجد امام هغه ته خرچه ورکړی امام وويل چې ما هغه سره هيڅ اقرار نه دې کړې چې په حاضر وخت کې به زه تاته غله درکوم نو محلې والو لس سيره غله جمع کړه او دوه سړی د مسجد امام ته راغلل د مسجد امام شل روپئ ورکړې، خو دې دواړو پيسې وانخستلې، او مسجد ته تلو سره ئې خليفه ته وويل چې ته زمونږ امام ئې خليفه نه ئې، آيا د دې خليفه امامت صحيح دې او دمخکې امام د اجازت نه بغير د خلقو مونځ صحيح دې يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: مولوی عبدالرحمن توردهير ..... ٢٤ فروری ١٩٧٥م

---

۱ ﴾ في الهندية : والاجارة تفسدها الشروط التي لا يقتضيها العقد ... وان تكاراها الي بغداد علي انها ان بلغته بغداد فله اجر عشرة دراهم الا فلا شيئ له فالاجارة فاسدة وعليه اجر مثلها بقدر ما سار عليها... او شرط انه ان لم يبلغه الي موضع كذا اليوم فلا اجر عليه فسد كله وعليه اجر مثل ماركب.

(فتاوي هندية ٤٤٣،٤٤٢:٤ الفصل الثاني فيما يفسد العقد فيه لمكان الشرط)

۲ ﴾ في المشكوة : عن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا يحل مال امرئ الا بطيب نفس منه.

(مشكوة المصابيح ٢٥٥ باب الغصب والعارية)

الجواب: که دا زوړ امام د امامت د فرائض ادا کولو نه عاجز وی نو د وظیفې مستحق به نه وی خو د مروت تقاضه دا ده چې هغه سره باقاعده اعانت وکړې شی، بل دا اهل حل وعقد دپاره جائز دی چې هغه د عدم اهلیت د وجې نه معزول کړی.

فی ردالمحتار ۳:۵۶۴، قال الطرسوسی: ومقتضاه ان المدرس ونحوه اذا اصابه عذر من مرض اوحج بحیث لا یمکنه المباشرة لا یستحق المعلوم الخ(۱) وان العزل فلعدم اهلیة یدل علیه مافی ردالمحتار ۳:۵۳۴(۲). وهوالموفق

د کمیټۍ په عدم پابندۍ سره د استاذانو تدریس پریښودل

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې په یو کلی کې څو معززین او د کلی ټول خلق جمع کیدو سره دخپل مولوی صاحب سره دا عهد وکړی چې تاسو زمونږ بچوته دینی تعلیم ورکړئ او درس تعلیم القرآن شروع کړئ ټولو خلقو یوځای کیدو سره سیکرټری او خزانچی مقرر کړو او استاذ ته ئې وویل چې تاسو ماشومانو ته درس ورکوئ او د تنخواه ذمه دار به خزانچی او سیکرټری وی، عوام به هغه سره چنده جمع کوی او څه موده پس هغوی په خپل عهد باندې پوره اونه ختل او استاذئې ناحق پریشان کړو آیا د داسې خلقو په وعده خلافئ سره استاذ درس پریښودلې شی یانه؟ بینواتوجروا

المستفتی: فیض الحنان... راولپنډی... ۱۷ مارچ ۱۹۷۵ء

---

۱ ﴾ (ردالمحتار ۳:۴۴۷ قبیل مطلب في الغیبة التي یستحق بها العزل، کتاب الوقف)

۲ ﴾ قال العلامة الحصکفي: (وینزع) وجوبا (لو) الواقف درر فغیره بالاولي (غیر مأمون) او عاجزا. (درمختار ۳:۴۲۱)

وقال العلامة ابن عابدین: اذا ولي السلطان مدرسا لیس باهل لم تصح تولیته لان فعله مقید بالمصلحة.

(ردالمحتار ۳:۴۲۳ مطلب لا یصح عزل صاحب وظیفة بلا جنحة او عدم اهلیة)

الجواب: د کمیټۍ د عدم پابندۍ د وجې نه استاذان هم د تعلیم پرېښودلو اجازه لري. (۱) وهوالموفق

په شوال کې د مدرس په مقرر کولوباندې د ټولې میاشتې د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د یو مدرس تقرر کله چې د پنځلسم شوال نه مخکې یا د پنځلسم شوال نه پس شوې وي نو آیا هغه مدرس د شوال د پوره میاشتې د تنخواه حقدار دې یا کوم وخت چې هغه سبق خودل شروع کړي دي تاسو د خپلې مدرسې د معمول مطابق زمونږ رهنمائي وکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد شاه نور دهیر ... ۲ دسمبر ۱۹۷۳ء

الجواب: که د تقرر په وخت تصفیه نه وي شوې او د دې دار العلوم مطبوعه آئین نه وي نو د عرف مطابق به دا مدرس د ټول شوال د مشاهرې مستحق وي. فلیراجع الی الاشباه والنظائر ۷۹: القاعدة السادسة: العادة محکمة واصلها قوله علیه الصلاة والسلام مارآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن (رواه احمد) (۲). وهوالموفق

---

۱) في الهندية : الاجارة تنقض بالاعذار عندنا وذلک علي وجوه اما ان یکون من قبل احد العاقدين ... وكل عذر لا يمنع المضي في موجب العقد شرعا ولكن يلحقه نوع ضرر يحتاج فيه الي الفسخ واذا تحقق العذر ومست الحاجة الي النقض ... والصحيح ان العذر اذا كان ظاهرا يتفرد.

(فتاوي عالمگيرية ۴۵۸:۴ الباب التاسع عشر في فسخ الاجارة)

۲) (الاشباه والنظائر ۹۳)

وفي شرح المجلة : العادة محكمة يعني ان العادة عامة كانت او خاصة تجعل حكما لاثبات حكم شرعي.

(شرح المجلة ۷۸:۱ المادة ۳۶)

د قیدی د خلاصی د پاره مزدور جوړیدو سره د خپل خدمت مزدوری اخستل جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې بغیر د څه شرعی جرم نه په جیل کې قید دې که زه هغه سره خبره وکړم چې زه به تا په درې زره روپئ باندې خلاص کړم او هغه ماته په خوشحالئ باندې هغه پیسې راکړی زه د هغې نه زر روپئ نه کمې یا زیاتې افسر ته ورکړم او افسر هغه سړې راخلاص کړی نو دا باقی دوه زره روپئ زما دپاره جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: ظفر احمد صاحب الریاض سعودیة...... ١٤ شعبان ١٤٠٥ھ

الجواب: که تاسو په دې ورځو کې یعنی څومره ورځې چې د هغه سړی د خلاصی متعلق خرچه کړې وی خپل نفس د هغه قیدی اجیر او مزدور مقرر کړئ وی نو ستاسو دپاره به دا رقم حلال وی. (۱) **وهوالموفق**

د مدرس د چندې نه د خپلې تنخواه وصولولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې یو مهتمم صاحب یو مدرس د تدریس دپاره مقرر کړو لس کاله هغه تدریس وکړو اوس مهتمم صاحب د یو کال تنخواه خو ورکړه او باقی د نهوکالو تنخواه ئې ورنکړه اوس دا مدرس د چندې نه خپله تنخواه وصولولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ...۱۱ جنوری ۱۹۷٦ء

الجواب: که دې مدرس د شروع نه په خپله رضا باندې تدریس شروع کړې

---

(۱) قال العلامة المرغيناني : والاجير الخاص الذي يستحق الاجرة بتسليم نفسه في المدة وان لم يعمل كمن استوجر شهراً للخدمة ولرعي الغنم.
(الهداية ۳۱۰:۳ كتاب الاجارات، باب ضمان الاجير)
وفي شرح المجلة: يجوز اجارة الآدمي للخدمة او لاجراء صنعة ببيان مدة او بتعيين العمل بصورة اخري. (شرح المجلة ٦٦:۲ المادة: ٥٦۲ الفصل الرابع في اجارة الآدمي)

وی نو دا مدرس د تیرې مودې مطالبه نه شي کولې. (۱) او که د شروع نه میاشتنی تنخواه مقرر شوې وی نو د دې مدرسې د چندې نه خپل حق وصولولې شی. (۲) وهوالموفق

په مملوکه ځمکه کې د استوګنې او د ګیا د قلنګ اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ څاروی د سپرلی نه تر خزان پورې په غریزه علاقه کې اوسیږی او زمونږ د علاقې خلق هم خپل مالونه بوتلو سره تقریبا څلور میاشتې هلته څروی او آبادئ ئې هم هلته جوړې کړې دی، زمونږ خوانه ګجر قوم هم دې نو زمونږ خلق د هغه ګجرانو نه د دې څرولو اجاره وغیره وصولوی او حال دا چې ځمکه زمونږ ده زمونږ په کلی کې څلور نیمه سوه کسان دی او په هغې کې دا ګوجر وغیره په قلنګ باندې اوسیږی آیا دا حلال ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل حق دا کخانه کلکوټ دیر ... ۲ ذوالقعده ۱۴۰۲ھ

---

(۱) وفي شرح المجلة: لو خدم احد آخر بناء علي طلبه من دون مقاولة اجرة فله اجر مثله ان كان ممن يخدم بالاجرة والا فلا التقييد بكون الخدمة بناء علي طلب المخدوم يشير الي انه لو خدمه بلا طلب فلا اجرة له وان كان ممن يخدم بالاجرة لانه يكون متبرعا وهو ظاهر.

(شرح المجلة ۶۶۱:۲ المادة ۵۶۳ الفصل الرابع في اجارة الآدمي)

(۲) قال العلامة ابن عابدين: (قوله يعني بلا امره) لان للدائن ان يأخذ بيده اذا ظفر بجنس حقه بغير رضا المدين فكان للقاضي ان يعينه... قال الحموي في شرح الكنز ان عدم جواز الاخذ من خلاف الجنس كان في زمانهم لمطاوعتهم في الحقوق والفتوي اليوم علي جواز الاخذ عند القدرة من اي مال كان لا سيما في ديارنا لمداومتهم العقوق.

(ردالمحتار ۱۰۵:۵ كتاب الحجر)

الجواب: که دا قلنګ د ګیا معاوضه وی نو حرام دي.(۱) او که په مملوکه ځمکه کې د استوګنې معاوضه وی نو حلال دي. (۲) **وهوالموفق**

په مستاجره ځمکه کې افیون کرل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي خپله ځمکه په اجاره باندې ورکړی او اجاره اخستونکې په هغې باندې افیون اوکری نو دهغې اجرت اخستل دځمکې دمالک دپاره حلال دی یانه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: یارملادیر......۱۹جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: په ظاهره دې کې هیڅ ګناه نشته لکه چې په هوټل کې په مزامیر وغیره استعمالولو سره مالک ته په کرایه اخستلو باندې هیڅ ګناه نشته، فافهم(۳) **وهوالموفق**

د مدرس د تنخواه نه متعین کولو په صورت کې هغه د اجر مثل مستحق دي

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید

---

۱) في الهندية: ولا يجوز بيع الكلاء اجارته وان كان في ارض مملوكة.
(فتاوي هندية ۳:۱۰۹ الفصل الثاني في بيع الثمار والانزال والكروم والاوراق الخ)

۲) قال العلامة برهان الدين المرغيناني: والمنافع تارة تصير معلومة بالمدة كاستيجار الدور للسكني والارضين للزراعة فيصح العقد علي مدة معلومة.
(الهداية ۳:۲۹۳ كتاب الاجارات)

۳) في خلاصة الفتاوي: واذا استاجر الذمي من المسلم دارا ليسكنها فلا بأس به وان شرب الخمر او عبد فيه الصليب لم يلحق المسلم شيئ كما لو أجر داره من فاسق يعصى الله فيها.
(خلاصة الفتاوي ۳:۱۵۰ كتاب الاجارات، الفصل العاشر في الحظر والاباحة)

مهتمم دار العلوم، بکر مدرس د کال په دوران کې مثلاً په جمادی الثانی کې مطالبه کوی چې د بیا دپاره دستخط وکړه، بکر مدرس وائی چې اوس د کال دورانیه ده ډیره موده باقی ده زه څنګه فیصله کولې شم نه د کال اختتام دې او نه د کال د شروع زمانه ده او نه دار العلوم نه د مطالبې زمانه ده خو مهتمم صاحب د هغوی نه په دستخط اخستلو باندې اصرار کوی او مدرسین مضطر او مجبور دی چې څه وکړی، بکر مدرس وائی چې ښه زه دستخط کوم خو زه په حالیه تنخواه باندې راضی نه یم هغه وائی چې هر څه به وشی، او بیا د رمضان نه پس وائی چې د تنخواه فیصله به کمیټی کوی او تاسو مدرسینو دستخط کړې دې د معاهدې پابند ئې خو نه د کمیټئ او ممبرانو پته لګی، نه د بل چا، آیا دا د اجارې عقد صحیح دې یا فاسد یا هیڅ عقد نشته؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: مولانا آزاد گل مدرس مدرسه تعلیم القرآن عمرزئی چارسده ۳۰ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: د کوم دار العلوم په آئین کې چې د دواړو طرفونو (مهتمم او عمله) حقوق مقرر شوې نه وی نو هغه آئین نه اسلامی آئین دې او نه جمهوری آئین، زمونږ د علاقو اکثر مدارس هم دا نوعیت لری په دې بناء باندې د بل کال د تعلیم دپاره، کوم چې د شوال نه شروع کیږی، ستاسو دا معامله اجاره فاسده ده. (۱) **لعدم یقین الاضافة لانصاً ولا عرفاً** او تاسو د اجر مثل مستحق ئې، **کما هو الاصل عند فساد الاجارة صرح به فی ردالمحتار** (۲) **وغیره** (۳). **وهو الموفق**

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصكفي: فكل ما افسد البيع مما مر يفسدها كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل. (الدر المختار ۵:۳۲ باب الاجارة الفاسدة)

۲ ﴾ في ردالمحتار: (وحكم الاول) وهو الفاسد (وجوب اجر المثل) اي اجر شخص مماثل له في ذلك العمل. (ردالمحتار ۵:۳۱ باب الاجارة الفاسدة)

۳ ﴾ قال العلامة ابن نجيم: الكلام في اجرة المثل تجب في مواضع احدها الاجارة في صور منها الفاسدة. (الاشباه والنظائر ۳۶۵ الكلام في اجرة المثل)

په اجاره کې غله په طور د اجرت مقرر کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې دا رواج دې کله چې يوه ځمکه په اجاره باندې ورکوی نو وائی چې مثلا د دې ځمکې نه به په خزان کې پنځه منه غنم ماته راکوئ هم دغه شان جوار وغیره، بعض وخت فصل زيات وی او کله کم وی مهربانی وکړئ شرعی حکم راته بيان کړئ. **بينواتوجروا**

المستفتي: عبدالله سی او ډيلکس بيکری کريم پوره پيښور ... ۱۱ جنوری ۸۷ء

الجواب: دا اجاره ناجائز او فاسد ده خو چې د کومې ځمکې د پيداوار نه د ورکولو تخصيص نه وی کړې شوې نو هغه جائز دې (۱) والله اعلم بالصواب

ځاروې په نيم قيمت باندې د پاللو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په خلقو کې دا رواج دې چې د غوا يا ميخې بچې د پئ د څښلو نه د فارغ کيدو نه پس يو غريب ته د پالنې دپاره ورکوی او په بازار کې د هغه قيمت مقرر کوی کال دوه کاله پس هغه خرڅ کړی څومره قيمت چې د هغه زيات شی هغه خپل

---

۱ ﴾ قال العلامة ابن عابدين : وسئل قاريُ الهداية هل يجوز استيجار ارض للزراعة بكذا ارداب غلة ام لا فاجاب نعم، يجوز اذا كانت الاجرة مشارا اليها او موصوفة في ذمته ولا تكون من الغلة التي تخرج من زرع الارض المستأجرة.
(فتاويٰ تنقيح الحامدية ۲:۱۱۹ كتاب الاجارة)

وفي الكاملية : سئلت فيمن استأجر ارضا بيضاء للزراعة بكذا وكذا قفيزا من الغلة هل يجوز ذلک فالجواب نعم، يجوز اذا كانت الاجرة مشارا اليها او موصوفة في ذمته ولا تكون من الغلة التي تخرج من زرع الارض المستأجرة.
(فتاويٰ كاملية ۱۹۱ كتاب الاجارة)

مينځ کې نيم نيم تقسيم کړي نو آيا په شريعت کې دا اجاره جائز ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: فضل ربي ډاک بي سود... ٤ شعبان المعظم ١٤٩٦هـ

الجواب: دا معامله اجاره فاسده ده،

لجهالة الاجرة(١) ولعدم وجودها وقت العقد(٢) ولانها تفضى الى المنازعة فى الجلد واللحم عند الهلاك(٣)، فافهم. نعم قال الشيخ الانور هى فاسدة قضاء فقط لا ديانة(٤) فالامر عنده واسع، حضرت مفتي صاحب د داسې سوال په بل جواب کې دا وجه هم ليکلې ده چې:

---

١) في شرح المجلة: كل ما افسد البيع مما مر في البيوع يفسد الاجارة كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل. (شرح المجلة للاحكام ٢:٥٣٨ المادة ٤٦٠)

٢) وفي الهندية: واما شرائطها... ومنها قيام المعقود عليه.

(فتاوي عالمگيرية ٤:٤١١ الباب الاول في تفسير الاجارة... وشرائطها)

٣) قال العلامة الكاساني: واما الذي يرجع الي المعقود عليه فضروب منها ان يكون المعقود عليه وهو المنفعة معلوماً علما يمنع من المنازعة فان كان مجهولا ينظر ان كانت تلك الجهالة مفضية الي المنازعة تمنع صحة العقد والا فلا.

(بدائع الصنائع ٤:٢٤ كتاب الاجارة شرائط الصحة)

٤) قال الشيخ الانور: ان من البيوع الفاسدة ما لو اتيَ بها احد جازت ديانة وان كانت فاسدة قضاء وذلک لان الفساد قد يكون لحق الشرع بان اشتمل العقد علي ما ثم فلا يجوز بحال وقد يكون الفساد لمخافة التنازع ولا يكون فيه شيئ آخر يوجب الاثم فذلک ان لم يقع فيه التنازع جاز عندي ديانة وان بقي فاسداً قضاءً.

(فيض الباري ٣:٢٥٨ كتاب البيوع، باب من اجري امر الامصار)

ولانها من قبيل قفيز الطحان (۱) وهوالموفق

څاروی لره په نیم قیمت ساتلو بانديې د پاللو حیله

سوال: څه فرمائي علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې یوسړی خپل څاروی چاته په منافع باندې ورکول غواړي هغه خلق به دهغې حفاظت او نگرانی کوی گیاه به هم پرې خوروی د خرڅولو نه پس به منافع نیمه د هغوی او نیمه زمونږ ترمینځه وی، دا طریقه د شریعت په رڼا کې جائز ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالروف زبیر صاحب سخاکوټ... ۱۶ ستمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: دا معامله اجاره فاسده ده، **لکون الاجر فيها معدومة ومجهولة**، پس غوره دا ده چې د دې د پاللو دپاره مثلاً د دوه کالو د څرولو پنځه سوه روپۍ مزدوری مقرر کړې شی او د مودې د ختمیدو نه پس هغه مزدور ته د هغه پیسو په عوض کې نیم څاروې ورکړې شی. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) في شرح المجلة: ويفسدها ايضا جعل الاجرة بعض ما يخرج من عمله كأن يدفع غزلا لآخر لينسجه بنصفه... والاصل في ذلك نهيه ﷺ عن قفيز الطحان.
(شرح المجلة ۲:۵۳۸ المادة ۴۶۰ الفصل الرابع في فساد الاجارة)

وفي الهندية: دفع بقرة الي رجل علي ان يعلفها وما يكون من اللبن والسمن بينهما انصافا فالاجارة فاسدة. (فتاوي هندية ۴:۴۴۵ الفصل الثالث في قفيز الطحان)

۲) وفي الهندية: دفع بقرة الي رجل علي ان يعلفها وما يكون من اللبن والسمن بينهما انصافا فالاجارة فاسدة وعلي صاحب البقرة للرجل اجر قيامه وقيمة علفه ان علفها من علف هو ملكه لا ما سرحها في المرعي. (فتاوي هندية ۴:۴۴۵ كتاب الاجارة، الفصل الثالث في قفيز الطحان)

وقال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: وفي فتاوي النسفي رجل دفع بقرة الي رجل بالعلف منها صفة وهي التي بالفارسية كا وينم سود بان دفع علي ما يحصل من اللبن والسمن بينهما نصفان فهذا فاسد والحادث كله لصاحب البقرة والاجارة فاسدة.
(خلاصة الفتاوي ۳:۱۱۴ كتاب الاجارات، وما يتصل بهذا)

د موجر او مستاجر د پيسو په وصولئ کې د اختلاف حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد مستاجر ځمکه په اجاره باندې اخستلې ده او قبضه کولو سره پرې فصل کری اوس د موجر عمرو او زيد ترمينځه د پيسو د وصولولو په باره کې اختلاف واقع شوې دې، موجر عمر وائی چې ماته پيسې نه دی ملاؤ شوې او زيد ورته د ټول رقم د اداکولو وائی فی الحال ګواه د چا سره هم نشته او قسم دواړه خوری شرعا د دې څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: صالح محمد سکنه سرګودها پنجاب ... ۱۹ جمادی الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: د (المدعی من اذا ترك تُرِك) په بناء باندې موجر مدعی دې او مستاجر منکر دې.[۱] او دافع، پس که دا مستاجر ددې دفع د ثابت کولو نه عاجز وی نو دې مستاجر ته به قسم ورکولې شی چې آيا ستا په ذمه دا رقم واجب الاداء نه دې. (شرح المجلة باب الدفع)[۲] وهوالموفق

د مزدور د مزدورئ نه د پيسو کټ کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په دفتر کې

---

۱) في شرح المجلة: ثم ان المدعي من اذا ترك ترك والمدعي عليه بخلافه.
(شرح المجلة ٥:٥ المادة: ١٦١٣ الكتاب الرابع عشر في الدعاوي)

۲) في شرح المجلة: اذا اثبت من ادعي دفع الدعوي دفعه تدفع دعوي المدعي والا يحلف المدعي الاصلي بطلب صاحب الدفع فان نكل المدعي عن اليمين يثبت دفع المدعي عليه وان حلف تعود دعواه الاصلية.
(شرح المجلة ٥:٧٥ المادة: ١٦٣٢ الفصل الثاني في دفع الدعوي)

وايضا فيها، وان حلف بطل دفع المدعي عليه وبقي المدعي علي دعواه يقيم البينة او يحلف المدعي عليه اذا انكر. (شرح المجلة ٦:١٢١ المادة ١٨٢٣)

مونږ کاریګران وغیره د تنخواه جوړولو په وخت داسې کوو چې د چا د ورځې دیاړی ۱۷،۷۲ ده نو مونږ ۱۷،۷۰ ورکوو که ۱۷،۷۳ وی نو مونږ ۱۷،۷۵ ورکوو زمونږ دا عمل جائز دې یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: گل محمد ټائم آفس ډی ایم ټیکسټائل ملز راولپنډی... ۷ نومبر ۱۹۸۴ء

الجواب: چې د مزدورانو په اذن او اجازت سره وی نو په دې کې هیڅ باک نشته. (۱) یا که د طرفین ترمینځه متعارف وی نو بیا هم څه پرواه نشته. (۲) وهوالموفق

د ځمکې نه سوا نور ځیزونه په نیمه اجاره باندې ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د خط او کتابت ټیپ بل سړی ته په دې شرط باندې ورکړو چې تاسو په دې باندې مزدوری کوئ او روزانه خپله مزدوری وصولوئ او کومې پیسې چې ستاسو د مزدورئ نه زیاتی وی هغه به زما او ستاسو ترمینځه نیمې تقسیمیږی، اوس که دا مشین خراب شی نو ځوک به دا جوړوی مالک یا مزدور؟ که بالفرض زه یو مشین واخلم او بل سړی ته ئې په مزدورئ باندې ورکړم نو د هغې به څه حکم وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد خان تحصیل هنګو، ۵ رمضان المبارک

الجواب: د قواعدو په بناء باندې دا معامله سوا د مزارعت نه په نورو مقاماتو باندې فاسد ده، (لکون الاجرة فیها مجهولة ومعدومة عند عقد الاجارة

---

(۱) قال الله تعالیٰ: ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل. (سورة النساء آیت: ۲۹)
وقال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه.
(مشکوٰة المصابیح ۲۵۵ باب الغصب)

(۲) في شرح المجلة: العادة محکمة یعني ان العادة عامة کانت او خاصة تجعل حکما لاثبات حکم شرعي. (شرح المجلة ۷۸: ۱ المادة ۳۶)

وهما مما یفسد الاجارة کما صرح به في اجارة الهندیة (۱) ورد المحتار (۲) پس مناسبه ده چې رقم متعین کړی. وهوالموفق

د بیرونی ملکونو دپاره په رهبری باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې مقرر رقم د چا نه اخلی چې زه به تاسو د بهر ملک فلانی ښهر ته رسوم دهغه دپاره دا پیسې اخستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد سعید

الجواب: واضحه دې وی چې دمسلمان دپاره هراسلامی ملک ته تلل مشروع دی ممنوع نه دی لهٰذا یو مسلمان منع کول یا دهغه نه پیسې اخستلو سره اجازت ورکول به ناجائز وی پس په صورة مسئوله کې که دې رهبر ته اجیر اویلې شی نو دهغه پیسو اخستل او ورکول به بذات خود جائز شی. (۳)

---

۱) في الهندیة: الفساد قد یکون لجهالة البدل.

(فتاویٰ هندیة ۴:۴۳۹ الباب الخامس عشر في بیان مایجوز من الاجارة ومالایجوز)

۲) قال العلامة الحصکفي: فکل ما افسد البیع، مما مر (یفسدها) کجهالة ماجور او اجرة اومدة او عمل ....(و)تفسد (بعدم التسمیة اصلا).... (درمختار ۵:۳۲،۳۳ باب الاجارة الفاسدة)

وفي الهندیة: واذا دفع الرجل الي رجل دابة لیعمل علیها ویواجرها علي ان ما رزق الله تعاليٰ من شيئ فهو بینهما فان آجر العامل الدابة من الناس واخذ الاجر کان الاجر کله لرب الدابة وللعامل اجر مثله... واذا دفع الرجل الي رجل بعیرا لیسقي به الماء ویبیع علي ان ما رزق الله تعاليٰ في ذلک من شيئ فهو بیننا نصفان فهذا فاسد.

(هندیة ۴:۴۴۵ الفصل الثالث في قفیز الطحان)

۳) في شرح المجلة: یجوز اجارة الآدمي للخدمة او لاجراء صنعة ببیان مدة او بتعیین العمل بصورة اخري.

(شرح المجلة ۲:۶۶۰ المادة ۵۶۲ الفصل الرابع في اجارة الآدمي)

خو د شرط فاسد د وجې نه به دا معامله اجاره فاسده وی (۱) او که دا رهبر مزدور مقرر نه کړې شی نو د دې پیسو اخستل به حرام وی. ماخوذ از رد المحتار ۳۰۴/۴ (۲) وهوالموفق

د حکومت د مستاجر بې دخلی بندولو یا په کرایه کې د زیادت ختمولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عمر زید ته دکان په کرایه باندې ورکړو اوس ئې هغه واپس اخستل غواړی خو حکومت بې دخلی بند کړې ده او د کرایه زیادت حکومت د قانون خلاف کړې دې اوس عمر څه وکړی؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل احد بن خیله ملاکنډ ایجنسی... ۲ رجب المرجب ۱۳۹۷ھ

الجواب: شرعا په زید باندې ضروری ده چې د عمر په وینا باندې دکان

---

۱) قال العلامة المرغيناني: الاجارة تفسدها الشروط كما تفسد البيع لانه بمنزلته.
(هداية ۳:۳۰۱ باب الاجارة الفاسدة)

۲) قال العلامة ابن عابدين: (قوله ان دلني الخ) عبارة الاشباه ان دللتني وفي البزازية و والو لوالجية: رجل ضل له شيئ فقال من دلني علي كذا فله كذا فهو علي وجهين ان قال ذلک علي سبيل العموم بان قال من دلني فالاجارة باطلة ... وان قال علي سبيل الخصوص بان قال لرجل ان دللتني علي كذا فلک كذا ان مشي له فدله فله اجر المثل للمشي لاجله لان ذلک عمل يستحق بعقد الاجارة الا انه غير مقدر بقدر فيجب اجر المثل... قال امير السرية من دلنا علي موضع كذا فله كذا يصح ويتعين الاجر بالدلالة فيجب الاجر.
(ردالمحتار ۵:۶۵ مطلب ضل له شيئ فقال من دلني عليه فله كذا)
وقال العلامة الحصكفي: استاجره ليذهب لموضع كذا ويدعوا فلانا باجر مسمي فذهب للموضع فلم يجد فلانا وجب الاجر.
(درمختار ۵:۱۴ كتاب الاجارة)

خالي کړي او امانت واپس کړي بغير د رقم اخستلو نه (١) حکومت ته دا اختيار نشته چې هغه بې دخلي بند کړي يا په کرايه کې زيادت ختم کړي (٢) وهوالموفق

د مودې د تعين نه کيدو د وجې نه متعاقدين اجاره فسخ کولې شي

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا زمونږ د علاقې خلق د اجارې ګاډې د يو بل نه اخلي او معامله داسې کوي چې مثلا زيد د عمرو نه يو ګاډې واخستلو او عمرو ته ئې وويل چې زه به تا ته لس زره روپۍ د مياشتې درکوم د تيلو خرچه به خپله برداشت کوم او د خرابيدلو په صورت کې هم يو مقدار معين کولې شي او دا چې زه به ذکر شوې د مياشتې خرچه درکوم که ګاډې چلوم يا په کور باندې ولاړ وي آيا ذکر شوې اجاره صحيح ده يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: مولوی رقيب جان وزيرستان ...١٠ نومبر ١٩٨٩ء

الجواب: چونکې په دې اجاره کې د مودې تعين نه دې شوې لهذا د مياشتې د ختميدو په وخت په موجر او مستاجر کې هر يو دا اجاره فسخ کولې

---

١) في شرح المجلة: يلزم المستاجر رفع يده عن الماجور عند انقضاء الاجارة بمضي المدة اذا كان المعقوْد عليه المدة... ليس للمستاجر استعمال الماجور بعد انقضاء الاجارة الا باذن صاحبه فلو فعل كان غاصبا... لان الماجور امانة كالوديعة في يده.

(شرح المجلة ٢:٦٩٣،٦٩٤ المادة: ٥٩١،٥٩٣ الفصل الثالث في بيان مواد تتعلق برد الماجور واعادته)

٢) قال العلامة المرغيناني: ولا ينبغي للسلطان ان يسعر على الناس لقوله عليه الصلاة والسلام لا تسعروا فان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق ولان الثمن حق العاقد فاليه تقديره فلا ينبغي للامام ان يتعرض لحقه الا اذا تعلق به دفع ضرر العامة.

(الهداية ٤:٤٧١ فصل في البيع، كتاب الكراهية)

شی.(۱) بل په دې قسم اجاره کې دا ګاډی د دې مستاجر سره امانت دې او په امانتي څیزونو کې د هلاکولو په صورت کې ضمان عائد کیږي نه پخپله د هلاکیدو په صورت کښې. (۲) خو که په طیب خاطر سره التزام کوي نو ممنوع نه دې (ماخوذ از هدایه شامی) وهوالموفق

مزدور ته د اجرت په بدل کې د څمکې په اجاره بانډې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ما یو مزدور د میاشتې وساتلو او مزدوری مې ورله سل روپۍ د میاشتې مقرر کړه مزدور موصوف ماته وویل چې ما (مزدور) ته د دې عمل په عوض څه څمکه راکړئ، چې په هغې کې زه کرونده کوم نو ما هغه ته د ټول کال د پاره د دولس سوه

۱ ﴾ قال العلامة الحصكفي: آجر حانوتا كل شهر بكذا صح في واحد فقط وفسد في الباقي لجهالتها... واذا مضي الشهر فلكل فسخها، وقال العلامة ابن عابدين: (قوله حانوتا) مثال لانه لو استاجر ثورا ليطحن عليه كل يوم بدرهم فالحكم كذلك طوري. (شامي ٥:٣٤،٣٥ باب الاجارة الفاسدة)

وقال العلامة المرغيناني: ومن اجر داره كل شهر بدرهم فالعقد صحيح في شهر واحد فاسد في بقية الشهور... واذا تم كان لكل واحد منهما ان ينقض الاجارة لانتهاء العقد الصحيح. (هداية ٣:٣٠٢ باب الاجارة الفاسدة)

٢ ﴾ وايضا قال: الوديعة امانة في يد المودع اذا هلكت لم يضمنها. (هداية ٣:٢٧٣ كتاب الوديعة)

وقال العلامة الحصكفي: (وهي امانة) هذا حكمها مع وجوب الحفظ والاداء عند الطلب (فلا تضمن بالهلاک)..
(درمختار ٤:٥٥١ كتاب الايداع)

روپو په عوض یوه ځمکه ورکړه چې هغه پکې کرونده کوی نو آیا دا معامله جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: وحید الله دیر

الجواب: د قواعدو په رڼا کې دا معامله جائز ده. یدل علیه ما في شرح التنویر علی هامش رد المحتار ۵/۵۲: اجارة المنفعة بالمنفعة تجوز اذا اختلفا جنسا(۱) وهوالموفق

مستاجر مړ شو نو د مزدور د اجرت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دوه معزز سړو یو ټیکیدار ته درې پلاټونه په ټیکه باندې ورکړل، کله چې د درې وارو تعمیر مساوی (یو) حده پورې ورسیدلو نو ټیکه دار دمالکانو نه د پیسو تقاضه وکړه، تقریبا پنځه څلویښت زره روپۍ د ټیکه دار خرچ شوې وې په مالکانو کې یو د شپاړسو زرو روپو چیک د یوې میاشتې په میعاد باندې ورکړو هم په دې دوران کې ټیکه دار د پیسو د نیشتوالی د وجې نه کار بند کړو کله چې د چیک د کیش کیدو وخت راغلو نو ټیکه دار چیک بینک ته یوړلو نو د بینک منیجر ټیکه دار ته وویل چې د کهاته دار په کهاته کې دومره پیسې نشته کله چې ټیکه دار مالک ته رجوع وکړه نو مالک وویل چې ویریږه مه حساب کتاب کولو سره به تاته پیسې درکولې شی دې دوران کې د چیک مالک ناڅاپه مړ شو کله چې ټیکه دار دویم شریک پلاټ ته رجوع وکړه نو هغه د خلقو مخکې قسم اوخوړلو او په طور د سند ئې ولیکل چې په پلاټ باندې زما هیڅ حق نشته دا درې واړه پلاټونه د مړ کیدونکی

۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۵:۴۳ قبیل باب ضمان الاجیر)

وفي شرح المجلة: وتفسد ایضا اجارة المنفعة بالمنفعة اذا اتحد جنسا کاجارة سکني دار بسکني دار اخري... واما لو اختلف المنفعتان جنسا کاستئجار سکني دار بمزارعة ارض فانها تصح.

(شرح المجلة ۲:۵۴۱ المادة ۴۶۰ الفصل الرابع في فساد الاجارة وبطلانها)

وو چې د هغې په یو حصه باندې مړ کیدونکی زما کور جوړول غوښتل کله چې ټیکه دار د مړی د وارثانو نه د پیسو تقاضه وکړه نو وارثانو جواب ورکړو چې روره! مونږ ته هیڅ پته نشته خو ته داسې وکړه چې د پلاټونو نه ملبه اوچته کړه، اوس سوال دا دې چې ټیکه دار په څه صورت باندې د موجوده مالکانو نه خپل خرچ کړې پیسې وصول کړی؟ په داسې حال کې چې ټیکه دار سره اقرار نامه او ذکر شوې چیک موجود دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مستری غلام محمد ... حیدر آباد سنده

الجواب: د دې مړی په وارثانو باندې دا ضروری ده چې دې ټیکه دار ته اجرت باقاعده ادا کړی، **لما صرح به الفقهاء: ثم تقدم دیونه التي لها مطالب من جهة العباد،**(هامش رد المحتار ۶۴۳/۵) (۱) او که دې ژوندی سړی باقاعده ټیکه ورکړې وی نو په هغه باندې هم اجرت (مزدوری) ورکول ضروری دی. (۲) **وهوالموفق**

په لا مذهب سکول کې د ملازمت (مزدوری) حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې د مجبورئ د وجې نه په لا مذهب سکول کې ملازمت کوی نو دا جائز دې ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: ماستر غلام نبی بهکر میانوالی ... ۱۲ صفر ۱۳۹۲ه

الجواب: واضحه دې وی چې تاسو ته که په بل ځای کې ملازمت نه ملاویږی نوپه دې سکول کې دضرورت د وخته پورې ملازمت اختیارولې شئ ځکه چې د یو مجبور مقروض دپاره د سوال د ذلت برداشت کول جائز دی، **لحدیث**

---

۱) (الدر المختار علي هامش ردالمحتار ۵:۵۳۶ کتاب الفرائض)

۲) في الهندیة: ثم الاجرة تستحق باحد معان ثلاثة... او باستیفاء المعقود علیه فاذا وجد هذه الاشیاء الثلاثة فانه یملکها.
(فتاوي عالمگیریة ۴:۴۱۳ الباب الثاني في بیان انه متي تجب الاجرة)

ورد بذلك (١) نو د دې ادنى ذلت برداشت کول به ورله په طريق اولى جائز وى لانه من ابتلى ببليتين فليختار اهونهما (٢) وهوالموفق

د بس چلولو پرمټ په کرايه باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائى علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زيد د ګورنمنټ نه د بس چلولو دپاره پرمټ حاصل کړو خو د پرمټ دپاره بس وانخستلې شو، اوس زيد په ځاى د بس اخستلو صرف هم دا پرمټ په کرايه باندې ورکول غواړى نو آيا د دې کرايه اخستل شرعا جائز دى يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتى: محمد عبدالرزاق ذريعه کرنل عبدالجبار خان مردان چهاؤنى ٢ صفر ١٣٨٩ھ

الجواب: چونکې زيد د پرمټ په ذريعه يو استحقاق حاصل کړې دې کوم چې مقبوض هم نه دې او د مجرد حق بيع او اجاره صحيح نه ده (٣) لهذا د پرمټ بيع او اجاره غير صحيح ده. ونظيره بيع الصكاك انكره ابوهريرة رضى الله تعالى عنه (رواه مسلم ٥/٢) (٤) وهوالموفق

---

(١) في المشكوة: عن حبشي بن جنادة قال قال رسول الله ﷺ ان المسئلة لا تحل لغني ولا لذي مرة سوي الا لذي فقر مدقع او غرم مفظع.
(مشكوة المصابيح ١٦٣ باب من لا تحل له المسئلة ومن تحل له)

(٢) قال العلامة الحصكفي: والضابط ان من ابتلي ببليتين فان تساويا خير وان اختلفا اختار الاخف. (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ١:٣٠٣،٣٠٤ باب شروط الصلاة)

وفي شرح المجلة: يختار اهون الشرين.
(شرح المجلة للاحكام ١:٧٥ المادة ٢٩)

(٣) في الدرالمختار: وفي الاشباه لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة.
(درمختار ٤:١٥ مطلب لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة)

(٤) عن ابي هريرة رضي الله عنه: انه قال لمروان احللت بيع الربا فقال مروان ما فعلت فقال ابوهريرة احللت بيع الصكاک وقد نهي رسول الله ﷺ عن بيع الطعام حتي يستوفيه فخطب مروان الناس فنهي عن بيعها.
(مسلم شريف ٢:٥ باب بطلان بيع المبيع قبل القبض)

د افیون راویستلو مزدوری اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د افیونو د راویستلو د مزدورئ څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: غلام حبیب چارسده

الجواب: د تعاون علی المعصیت یا عین معصیت کیدو په وجه باندې ناجائز دې (شامی: ٥) (١)، (٢) وهوالموفق

وراره لره د حقیقی خوی په نوم باندې په مزدورئ لګولو سره د هغه د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپل ورارهٔ د خپل حقیقی ځوی په نوم باندې یو ځای کې په نوکرئ باندې ولګولو اوس آیا د هغه تنخواه حلاله ده یا حرامه؟ او چا چې هغه خپل حقیقی ځوئې متعین کړې دې آیا د هغه په نکاح باندې څو څه اثر نه پریوځی؟ **بینواتوجروا**

---

١) قال العلامة الحصكفي: قلت وقد مناثمه معزيا للنهر ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريما والا فتنزيها... (و) جاز (حمل خمر ذمي) بنفسه او دابته (باجر) لا عصرها لقيام المعصية بعينه. وتحته في الشامية: (قوله لا عصرها لقيام المعصية بعينه) فيه منافاة ظاهرة لقوله سابقا لان المعصية لا تقوم بعينه وهو مناف ايضا لما قدمناه عن الزيلعي من جواز استيجاره لعصر العنب او قطعه ولعل المراد هنا عصر العنب علي قصد الخمرية فان عين هذا الفعل معصية بهذا القصد. (الدرالمختار مع ردالمحتار ٥:٢٧٧ فصل في البيع كتاب الكراهية)

٢) د مفتی هند مولانا مفتی کفایت الله د تحقیق مطابق لا بأس به دې.

(مفتی سیف الله حقانی)

المستفتي: جمعه خان آف پراله ضلع راولپنډي... ۳۰ جمادی الثاني ۱۳۹۷ھ

الجواب: که دا سړې د دې کار په کوم چې متعین کړې شوې دې، اهلیت لري نو دا سړې به د دروغ ویلو د وجې نه ګناهګار وي (۱) خو کټه ئې حلاله ده. (۲) او په نکاح باندې ئې هیڅ اثر نه پریوځي. وهوالموفق

جرندې والو ته په مزدورۍ کې اوړه ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کښې په جرندو کې مالکان په مزدورئ کې اوړه اخلی او دا دستور دې او زمونږ علماء کرامو تر اوسه پورې دې ته حرام نه دی ویلې خو د څو ورځو نه څو نوې طالب علمان راغلی دی او هغوی دې ته حرام وائی مهرباني وکړئ د دې شک او شبهې نه مو خلاص کړئ. بینواتوجروا

المستفتي: عبدالمتین تحصیلدار اسلام آباد بازار

پشاور... ۲۹ ربیع الثاني ۱٤۰۲ھ

الجواب: جرندې والو ته په اجرت کې اوړه اخستل او ورکول ناجائز دی. (۳)

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: كل مقصود محمود يمكن التوصل اليه بالصدق والكذب جميعا فالكذب فيه حرام.
(ردالمحتار ٥:۳۰۳ من فروع كتاب الحظر والاباحة)

۲) قال العلامة ابن نجيم: واما ركنها فهو الايجاب والقبول والارتباط بينهما واما شرط جواز ها فثلاثة اشياء: اجر معلوم وعين معلوم وبدل معلوم... واماحكمها فوقوع الملک في البدلين ساعة فساعة. (البحر الرائق ۸:۳ كتاب الاجارة)

۳) قال العلامة المرغيناني: فيصير في معني قفيز الطحان وقد نهي النبي ﷺ عنه وهو ان يستاجر ثورا ليطحن له حنطة بقفيز من دقيقه. (الهداية ۳:۳۰٥ باب الاجارة الفاسدة)

لحدیث ورد بذلك (۱) پیسې یا غله ورکول پکار دی. (۲) وهوالموفق

د وکالت په فیس او د ډاکټر په فیس کې فرق

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا په وکالت باندې فیس ګټل جائز دی یا نه؟ څنګه چې ډاکټر په دوه منټه کې تشخیص کولو سره نسخه لیکی او ډیر فیس اخلی. بینواتوجروا

المستفتی: حاجی شیر بهادر خان ساکن کاکړ ضلع دیر ... ١٥ رمضان المبارک ١٤٠٥هـ

الجواب: معالجه جائز ده.(۳) او د ما انزل الله خلاف فیصلې ناجائز دی.(۴) پس د ډاکټر فیس د جائز شرعی معاوضه ده او د غیر اسلامی قانون

---

۱) قال العلامة الزيلعي: وقد نهي النبي ﷺ عنه يعني قفيز الطحان قلت اخرج الدار قطني ثم البيهقي في سننهما في كتاب البيوع ... عن ابي سعيد الخدري قال نهي عن عسب الفحل وعن قفيز الطحان.

(نصب الراية لاحاديث الهداية ٤:١٤٠ باب الاجارة الفاسدة)

۲) قال العلامة ابن عابدين: قال الرملي وبه علم بالاولي جواز ما يفعل في ديارنا من اخذ الاجرة من الحنطة والدراهم معاً ولا شک في جوازه.

(ردالمحتار ٥:٤٠ قبيل مطلب يخص القياس والاثر بالعرف العام)

۳) قال العلامة النووي: (قوله ﷺ لكل داء دواء فاذا اصيب دواء الداء برأ باذن الله تعالي) وفي هذا الحديث اشارة الي استحباب الدواء وهو مذهب اصحابنا وجمهور السلف وعامة الخلف.

(حاشية النووي علي الصحيح للامام المسلم ٢:٢٢٥ باب لكل داء دواء واستحباب التداوي)

٤) قال الله تبارک وتعالي: ومن لم يحكم بما انزل الله فاولئک هم الفاسقون.

(سورة المائدة آيت ٤٧)

د جج او وكيل فيس وغيره د حرام شرعي وغيره معاوضه ده.(١) خو كه تاسو داسې كيس اخلئ كوم چې د شريعت سره متصادم نه وي نو هيڅ باک نشته (٢) وهوالموفق

د ډاکټر د فيس حکم

سوال: ماذا تقول العلماء المحققون في هذه المسئلة: ان الطبيب والدكتور يأخذ من المريض نقدا على التشخيص بدون ايتاء اى شيئ منه هل هو جائز ام لا؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد علي مهاجر ابوظهبي برج زاهدا ... ۸۰۰٤ ... ۲۸ شعبان ۱٤۰۲ھ

الجواب: تشخيص المريض عمل مشروع لا منع من اخذ الاجرة عليه (٣) وهوالموفق

---

١) قال العلامة المرغيناني: لا يجوز الاستيجار علي الغناء والنوح وكذا سائر الملاهي لانه استيجار علي المعصية والمعصية لا تستحق بالعقد.
(الهداية ٣:٣٠٣ باب الاجارة الفاسدة)

٢) في شرح المجلة: اذا اشترطت الاجرة في الوكالة واوفاها الوكيل يستحقها وان لم تشترط ولم يكن الوكيل ممن يخدم بالاجرة يكون متبرعا وليس له مطالبته باجرة.
(شرح المجلة ٤٤٥:٤ المادة ١٤٦٠)

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: تصح الوكالة باجْر وبغير اجر.
(الفقه الاسلامي وادلته ٥:٤٠٥٨ الوكالة باجر)

٣) وفي فتاوي تنقيح الحامدية: (سئل) في رجل به داء في ظهره اتفق مع طبيب علي مداواته وجعل له اجرة ولم يضرب له مدة وداواه... ويريد الطبيب اجرة مثله وما انفقه في ثمن الادوية فهل له ذلك الجواب نعم، والمسئلة في الخيرية من الاجارة....

...[بقيه بر صفحه آئنده...

په رمضان کښې د ډوډئ نه خوړلو په عوض کښې د مزدورئ د زیاتولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زمونږ د کار کونکو (ترکاڼانو) مزدوری آتهٔ روپئ د ورځې او د سحر خوراک د ماښام چائې مقرر وه اوس په رمضان شریف کښې هغوی بالقطع لس روپئ د ورځې مقرر کړی دی اصل مزدوری خو اتهٔ روپیي وه خوراک خو یو فاضله او اخلاقی معیار وو کوم چې په مزدورئ کښې نه شی شاملولې، بیا مزدورئ کونکې سرې د تیر وخت نه یو ساعت مخکښې هغوی ته رخصت ورکوی قیاسا د ډوډئ نه خوړلو معاوضه د نقدو په صورت کښې حاصلولو سره د هغې په تصرف کښې راوستل او هغې لره حلال او جائز حق تصور کول د ډوډئ خوړلو مترادف کیدې شی یا نه؟ نو آیا مزدور پیشه مسلمانانو ته د مشقت دوران د ډوډئ نه خوړلو په عوض د (مخکښې) معمول مطابق د ورځنی اجرت نه علاوه نوره معاوضه حاصلول جائز دی یا نه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شیر محمد قریشی ډسترکټ راولپنډی... ۷ شوال ۱۳۹۹ھ

الجواب: که په رمضان کښې دا اجرت د دواړو طرفونو په مرضئ سره مقرر شوې وی او د هغې نه وروستو مزدورانو مشقت شروع کړو نو په دې کښې د جانبینو هیڅ حرج او گناه نشته او که دا مقدار معروف وی نو بیا هم دا حکم

...بقیه ازحاشیه گذشته]

(فتاوي تنقيح الحامدية ۲:۱۵۱ كتاب الاجارة)

وقال العلامة خير الدين: (سئل) في رجل به داء في انفه اتفق مع طبيب علي مداواته وجعل له اجرة ولم يضرب لذلک مدة وداواه فما الحكم (اجاب) للطبيب اجرة مثله وما انفق في ثمن الادوية لفساد الاجارة علي الوجه المذكور والله اعلم.

(الفتاوي الخيرية علي هامش تنقيح الحامدية ۲: ۱۸۲ كتاب الاجارة)

دي.(۱) او که دمعمار سره د فیصلي کولو نه بغیر په مشقت کې شروع شو نو جانبین مجرمان دی، فقط وهوالموفق

د معزول مدرس د شعبان، رمضان او شوال د تخواه ګانو اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو مهتمم صاحب يو مدرس معزول کړو اوس معزول شوي مدرس د شعبان، رمضان او شوال تنخواه غواړي او مهتمم صاحب ئې نه ورکوی، آیا معزول مدرس د دي میاشتو حقدار دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: فضل کل علاقه غیر تیراه... ۱۳ نومبر ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې شعبان او رمضان د تير کال نه حساب دی لهذا د دې اجرت به مدرس مستحق وی د کال ټول کار هغه پوره کړې دې، الا ان يشترطوا عدم الاخذ عند ابتداء الامر فافهم.(۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن نجيم : العادة المطردة هل تنزل منزلة الشرط قال في اجارة الظهيرية : والمعروف عرفا كالمشروط شرعا.

(الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۱:۳۰۶ القاعده السادسة، العادة محكمة)

وفي شرح المجلة : العادة محكمة يعني ان العادة عامة كانت او خاصة تجعل حكما لاثبات حكم شرعي. (شرح المجلة ۱:۷۸ المادة۱۶)

(۲) قال العلامة ابن عابدين : فحيث كانت البطالة معروفة في يوم الثلاثاء والجمعة وفي رمضان والعيدين يحل الاخذ وكذا لو بطل في يوم غير معتاد لتحرير درس الا اذا نص الواقف علي تقييد الدفع باليوم الذي يدرس فيه.

(ردالمحتار ۳:۴۱۶ مطلب في استحقاق القاضي والمدرس الوظيفة في يوم البطالة)

وقال العلامة ابن نجيم: ومنها البطالة في المدارس كأيام الاعياد ويوم عاشوراء وشهر رمضان في درس الفقه لم ارها صريحة في كلامهم والمسألة علي وجهين فان كانت مشروطة لم يسقط من المعلوم شيئ... [بقيه بر صفحه آئنده...

د مزدور دپاره د تنخواه نه د زیاتی مراعاة اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې زه یو سپرنټنډنټ یم او د حکومت نه دیرش روپئ د میاشتې اخلم اوس زما د کور کرائی دیارلس روپئ ده او باقی اولس روپئ د خپل ځان دپاره خرچ کوم نو آیا د شریعت په رڼا کې د اولس روپو نه زیات اخستل جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمدنواز ..... ۲۰ فروری ۱۹۷٤ء

الجواب: ستاسو دپاره دا مراعاة یعنی دیرش روپئ وصولول جائز دی خو د دروغو رسید پیش کول ناجائز دی.(۱) **وهوالموفق**

هندوانو ته د عبادت دپاره کور په کرایه باندې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زما د دوستانو

...بقیه ازحاشیه گذشته]

والا فینبغي ان یلحق ببطالة القاضي وقد اختلفوا في اخذ القاضي ما رتب له من بیت المال في یوم بطالته فقال في المحیط انه یأخذ في یوم البطالة لانه یستریح للیوم الثاني وقیل لا یأخذ.

(الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۱:۳۰۰،۳۰۱ القاعدة السادسة: العادة محکمة)

۱) عن سفیان ابن اسد الخضرمي قال سمعت رسول الله ﷺ یقول کبرت خیانة ان تحدث اخاک حدیثا هو لک به مصدق وانت به کاذب.

(مشکوة المصابیح ۴۱۲ باب حفظ اللسان والغیبة والشتم)

وقال العلامة ابن عابدین: ان کل مقصود محمود یمکن التوصل الیه بالصدق والکذب جمیعا فالکذب فیه حرام.

(ردالمحتار ۵:۳۰۳ کتاب الحظر والاباحة)

یو کور دې هغوی هغه کور د کلی څو هندوانو ته د هغوی د عبادت دپاره په کرایه باندې ورکړې وو هندوان دا هم وائی چې مونږ د بت پرستئ قائل نه یو او نه کوو صرف عبادت د خپل مذهب په طریقه باندې کوو آیا هغوی ته دا کور په کرایه باندې ورکول صحیح دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: **محمد رفیق خوازه خیله...سوات...یکم محرم الحرام ۱۴۰۳ھ**

الجواب: په پاکستان کې هندوانو ته د عبادت دپاره کور په کرایه ورکول ناجائز دی، ځکه چې په دې علاقو کې شعائر اسلام ظاهر او شائع دی. **کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار: ۳۲۶/۵: واما الامصار وقری غیرالکوفة فلا یمکنون لظهور شعائر الاسلام فیها(۱) والله تعالی اعلم**

د هیډ ماسټر (سرمعلم) غیر حاضر استاذ لره حاضر لګول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په سرکاری سکولونو کې د استاذانو دپاره د چُټیانو مقرره نصاب لس ورځې مقرر دې، که یو استاذ د خپلو لسو ورځو رخصت پوره کړی او بیا د دې نه د زیاتو چُټیانو کولو دپاره مجبور شی او هیډماسټر (سرمعلم) کوم چې خودمختار افسردې هغه دهٔ لره په زیاتی ورځو کې د غیر حاضر لګولو په ځای د

---

(۱) (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:۲۷۸ فصل في البيع كتاب الحظر والاباحة)

وقال العلامة ابن نجيم: (واجارة بيت ليتخذ بيت نار او بيعة او كنيسة او يباع فيه خمراً بالسواد) يعني جاز اجارة البيت لكافر ليتخذ معبدا او بيت نار للمجوس او يباع فيه خمر في السواد وهذا قول الامام، وقالا: يكره كل ذلک... وانما قيده بالسواد لانهم لا يمكنون من ذلک في الامصار ولا يمكنون من اظهار بيع الخمر والخنزير في الامصار لظهور شعائر الاسلام فلا يعارض بظهور شعائر الكفر قالوا في هذا سواد الكوفة لان غالب اهلها اهل ذمة واما في غيرها فيها شعائر الاسلام ظاهرة فلا يمكنون فيها في الاصح.
(البحر الرائق ۸:۲۰۲ كتاب الكراهية، فصل في البيع)

حاضرئ د دستخط اجازت ورکړی نو آیا دا جائز ده؟ یا د اختر ځنیانی د حکومت د طرف نه پنځه ورځې مقرر شوې دی او مدرس که یو دوه ورځې مخکې لاړنشی نو هغه اختر له کور ته نه شی رسیدې نو آیا د هغه دپاره به د دې ورځو تنخواه حرام وی؟ مهربانی وکړئ جواب راکړئ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحمید معلم گورنمنټ هائی سکول

ډیره اسماعیل خان ... ٤ ذی القعده ۱۳۸۹ھ

الجواب: هیډ ماسټر (سرمعلم) ته د حکومت د طرف نه دا اجازت نشته چې غیر حاضر لره حاضر ولګوی لهذا د غیر حاضرئ په صورت کې د حاضرئ دستخط ناجائز دې.(۱) بله دا چې د معروف ورځو نه علاوه د رخصت اخستلو په وخت د تنخواه نه اخستل ضروری دی (۲) **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة انور شاه الكشميري: (قوله ﷺ المسلمون عند شروطهم الخ يعني يلزمهم كل شرط تتحمله قواعد الشرع فعليهم الايفاء بها.

(فيض الباري علي صحيح البخاري ۳:۲۷۶ كتاب الاجارات، باب اجرة السمسرة)

(۲) قال العلامة الحصكفي: الاجير الخاص... يستحق الاجر بتسليم نفسه في المدة وان لم يعمل... وليس له ان يعمل لغيره ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل (الدرالمختار) وقال العلامة ابن عابدين: واذا استأجر رجلا يوما يعمل كذا فعليه ان يعمل ذلک العمل الي تمام المدة ولا يشتغل بشيئ آخر سوي المكتوبة... نجار استوجر الي الليل فعمل لآخر دواة بدرهم وهو يعلم فهو آثم وان لم يعمل فلا شيئ عليه وينقص من اجر النجار بقدر ما عمل في الدواة.

(ردالمحتار ۵:۴۸ كتاب الاجارة، مطلب ليس للاجير الخاص ان يصلي النافلة)

وفي شرح المجلة: الاجير الخاص يستحق الاجرة اذا كان في مدة الاجارة حاضرا للعمل... لكن ليس له ان يمتنع عن العمل واذا امتنع لا يستحق الاجرة.

(شرح المجلة ۲:۴۸۷ المادة: ۴۲۵ كتاب الاجارة، الباب الاول في بيان ضوابط العمومية)

د استاذ د حکومتي قانون د مخالفت نه کولو د وجې نه د غیر حاضرۍ په ورځو کې فرضي حاضري لګول

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ اتفاقیه رخصت د لسو په ځای پنځویشت ورځې کړې شوې دې او په ټول کال کې دا رخصت هر ملازم په وخت د ضرورت استعمالولې شي خو د انګریزي قانون د لاندې محکمه تعلیم دا شرطونه مقرر کړي دي ۱: یو ملازم د شپږو ورځو نه زیات په یو وخت رخصت نه شي اخستلې.
۲: د هائي سکول هیډ ماسټر ته د لسو ورځو پورې اختیار حاصل دې او ضلع انسپکټر صاحب په وخت د ضرورت ملازم ته کله د څلورو او کله د درې او کله د دوه ورځو رخصت ورکولې شي.
۳: کله چې یو معلم پوره لس ورځې رخصت اتفاقیه استعمال کړو او اوس هغه ته د نور رخصت ضرورت هم راغلو نو باقي زیاتي پنځلس ورځو د رخصت منظوري به مجاز افسر ډائریکټر صاحب دمحکمه تعلیم نه طلب کوي د هغه ځای نه په اجازت ملاویدو باندې به ضرورت مند معلم ته رخصت ورکوي هسې خو دا شرط عارضي دې ځکه چې افسر مجاز پورته ذکر شوې ضرورت مند مدرس ته د رخصت ورکولو نه پس ډائیریکټر صاحب ته صرف خبر ورکوي کنه نو دا پنځویشت ورځې خو د مرکزي حکومت نه بالکل منظور شده دي، هسې دا شرط د پابندۍ او ضبط قائمولو په غرض باندې دې که یو معلم دوه درخواستونه جوړ کړي یو د شپږو ورځو او دویم د څلورو ورځو او په رجسټر مدرسین کې په حاضرۍ کې د شپږ ورځو او څلور ورځو په مینځ د څو ورځو د حاضرۍ دستخط وکړي چې حکومت ته قانونا دا ظاهره شي چې په یو وخت لس ورځې رخصت نه دې اخستلې شوې که پورته ذکر شوې طریقه استعمال کړې شي چې په هغې سره حکومت او قوم ته نقصان نه وي مګر د نفس په خاطر د دروغو شک ضرور وي نو داسې کول جائز دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالحمید ایس وی معلم مډل سکول کهوټی ډهیره ... ۱ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: چونکې ملازم د ټولو قوانینو او شرطونو په منظورئ باندې دستخط کړې دې لهذا داسې کول جائز نه دی (۱) ددې فرضی حاضرئ نه د غیر حاضرئ د نقصان تحمل غوره دې. بیشکه کوم قوانین چې خلاف شرع وی د هغې نه مخالفت بهر حال جائز دې. (۲) وهوالموفق

په مشترکه کور کې د اوسیدو په صورت کې د کرایه حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د والد صاحب نه یو کور په میراث کې پاتې شوې وی او په هغې کې د پلار بعض اولاد اوسیږی او باقی اولاد په مختلفو ځایونو باندې وی کور ته هم ځی راځی، اوس په کور کې د اوسیدونکو ورونو نه کرایه طلب کولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: منور حسین مغل پوره لاهور... ۱۵...۱۰ اگست ۱۹۸۳م

الجواب: په مشترکه کور کې د اوسیدو په صورت کې کرایه واجب الادا نه

---

۱) قال الله تبارک وتعالی: یایها الذین امنوا اوفوا بالعقود.
(سورة المائدة آیت: ۱۰)
وفي الهندية: وفي فتاوي الفضلي اذا استأجر رجلا یوما لیعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلک العمل الي تمام المدة ولا یشتغل بشيئ آخر سوي المکتوبة.
(فتاوي هندية ۴:۷۱۶ الباب الثالث في الاوقات التي یقع علیها عقدالاجارة)
۲) قال العلامة السهارنفوري: قال رسول الله ﷺ المسلمون علي شروطهم زاد الترمذي والحاکم الا شرطا احل حراما او حرم حلالا وزاد البیهقي ما وافق الحق لقوله ﷺ کل شرط لیس في کتاب الله فهو باطل.
(بذل المجهود في حل ابي داؤد ۴:۳۱۰ کتاب القضاء، باب في الصلح)
وقال انور شاه الکشمیري: قوله المسلمون عند شروطهم الخ یعني یلزمهم کل شرط تتحمله قواعد الشرع فعلیهم الایفاء بها.
(فیض الباري علي صحیح البخاري ۳:۲۷۶ کتاب الاجارات، باب اجرة السمسرة)

وی ځکه چې عقد اجاره موجود نه وی.(۱) (ماخوذ از هندیة) وهوالموفق

د ډیوټۍ په وخت د متعلقه کار نه علاوه نور کار کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې اول به زمونږ په دفتر کې چې چا تنخواه ادا کوله یعنې په خلقو باندې به ئې تنخواه تقسیم کوله نو هغه ته به د حکومت د طرف نه پنځویشت روپۍ الاؤنس ملاویدو خو اوس دا الاؤنس ختم کړې شوې دې او د دې پیسو په عوض کې هر سړې کله چې تنخواه ادا کوی نو خپل اوور ټائم اپلائی کړی او دا مقدار دده ددې رقم مطابق جوړیږی. نزدې نزدې دومره ساعته اوورټائم اپلائی کړی حال دا چې اوور ټائم په هغه صورت کې ملاویږی چې د ډیوټۍ نه پس څومره وخت کار وکړې شی د هغې معاوضه ملاویږی. اوس د نیمې ډیوټۍ نه پس خو کینی نه خو د لیک په طور کیناستل ظاهرولو سره د تنخواه د ادا کولو الاؤنس اخلی، آیا دا جائز ده؟

---

(۱) في الهندية: لو استأجر من صاحبه بيتا او حانوتا لا يجب الاجر وذكر القدوري ان كل شيئ لا يستحق به الاجرة الا بايقاع العمل في العين المشتركة فاذا استأجر احد الشريكين الآخر لم يجز.

(فتاوي عالمگيرية ۴:۴۵۷ الباب الثامن عشر في الاجارة التي تجري بين الشريكين)

وقال العلامة الطاهر بن عبد الرشيد: واجمعوا انه لو اجر من شريكه يجوز سواء كان مشاعا يحتمل القسمة او لا يحتمل القسمة وسواء استاجر كل نصيبه او بعضه وعن ابي حنيفة انه لا يجوز ايضا من شريكه.

(خلاصة الفتاوي ۳:۱۰۹ كتاب الاجارات)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله فلا يعول عليه) بل المعول عليه علي ما في الخانية ان الفتوي علي قول الامام وبه جزم اصحاب المتون والشروح فكان هو المذهب افاده المصنف وعليه العمل اليوم.

(ردالمحتار ۵:۳۳ قبيل مطلب في اجارة البناء)

۲: د اوور ټائم لګولو دا پيسې اخستل څنګه دي؟ يعنې کار نه کوي خو د افسرانو سره په يو ځای کيدو باندې ئې په ليک کې راولي؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمد اسلم کوارټر ۶،۶،۴۵ پي اين واه کينټ، ۲۸ جمادی الاول ۱۴۰۳هـ

الجواب: د ډيوټئ په وخت کښې د متعلقه کار نه علاوه بل کار کول ناجائز دی. (۱) چې په هغې کې تقريبا اکثر افسران او سپاهيان اخته دی ۲: په ټائم لګولو يا نه لګولو سره عملی خلاف ورزی نه ختميږی. (۲) وهوالموفق

بينک جوړول او هغه په کرايه باندې ورکول او د دې موجر د کور نه د خوراک کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې د حکومت نه قرضه سود اخستلو سره يو کور جوړ کړی يا بينک جوړ کړی يا خپله ځمکه د بينک دپاره ورکړی، او د هميشه دپاره کرايه اخلی نو په

---

۱) في الهندية: وفي فتاوي الفضلي اذا استأجر رجلا يوما ليعمل كذا فعليه ان يعمل ذلک العمل الي تمام المدة ولا يشتغل بشيئ آخر سوي المكتوبة وفي فتاوي اهل سمرقند قد قال بعض مشائخنا رحمهم الله تعالي له ان يؤدي السنة ايضا واتفقوا انه لا يؤدي نفلا وعليه الفتوي.
(فتاوي هندية ۴۱۷،۴۱۶:۴ الباب الثالث في الاوقات التي يقع عليها عقد الاجارة)

۲) قال العلامة الحصكفي: (وليس للخاص ان يعمل لغيره ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل (الدرالمختار)، وقال العلامة ابن عابدين: (قوله وليس للخاص ان يعمل لغيره بل ولا ان يصلي النافلة قال في التتارخانية وفي فتاوي الفضلي واذا استأجر رجلا يوما يعمل كذا فعليه ان يعمل ذلک العمل الي تمام المدة ولا يشتغل بشيئ آخر سوي المكتوبة... نجار استوجر الي الليل فعمل لآخر دواة بدرهم وهو يعلم فهو آثم وان لم يعلم فلا شيئ عليه وينقص من اجر التجار بقدر ما عمل في الدواة. (ردالمحتار ۴۸:۵ كتاب الاجارة مطلب ليس للاجير الخاص ان يصلي النافلة)

پورته ذکر شوې صورتونو کې د فقه حنفي مطابق څه حکم دې؟ او د داسې سړي سره معامله کول څنګه دي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: عبدالله ارمړیان ..... ۱۹ مارچ ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې د بینک نه سود اخستل حرام دی، ﴿لان النبی ﷺ لعن اکل الربا وموکله﴾(۱) وهذا الشخص مؤکل، هم دغه شان بینک جوړول یا د هغې دپاره په کرایه باندې کور ورکول حرام دی، ﴿قال الله تعالی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان﴾(۲) بلکه دا چې دې موجر ته خالص د سود نه کرایه ورکولې شی چې د هغې پخپله خوړل او په بل خوړل حرام دی. (۳) ونظیر الثانی عصر العنب لیتخذ منه الخمر وهو حرام کما فی الدر المختار علی هامش رد المحتار ۵: ۳۴۵، قلت ولظهور شعار الاسلام فی بلادنا لایمکن الفسقة والکفرة بالربا وغیره کما فی الدر المختار بعد اسطر فلیراجع (۴)

پس د داسې سړي سره لین دین کولو کې احتیاط ضروری دې. **وهوالموفق**

---

۱ ﴾(مشکوٰة المصابیح ۲۴۴ باب الربوا)

۲ ﴾(سورة المائدة آیت: ۲)

۳ ﴾في الهندية: آكل الربا و كاسب الحرام اهدي اليه او اضافه وغالب ماله حرام لا يقبل ولا يأكل ما لم يخبره ان ذلك المال اصله حلال ورثه او استقرضه وان كان غالب ماله حلالا لا بأس بقبول هديته والاكل منه. (فتاوي هندية ۵: ۳۴۳ الباب الثاني في الهدايا والضيافات)

۴ ﴾قال العلامة الحصكفي: وجاز تعمير كنيسة (وحمل خمر ذمي) بنفسه او دابته (باجر) لا عصرها لقيام المعصية بعينه (و) جاز (اجارة بيت بسواد الكوفة لا بغيرها على الاصح) واما الامصار وقري غير الكوفة فلا يمكنون لظهور شعار الاسلام فيها... (ليتخذ بيت نار او كنيسة او بيعة او يباع فيه الخمر) وقالا لا ينبغي ذلك لانه اعانة على المعصية وبه قالت الثلاثة زيلعي. (الدر المختار ۲۷۸،۲۷۷:۵ كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع)

په مستاجره گاډۍ کې سمګلنګ (غیرقانوني شیانو د یو ځای نه بل ځای ته د انتقالولو) سره د نیولې کیدو په صورت کې به د ګاډۍ تاوان په مستاجر وی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د خالد نه ټیکسی په کرایه باندې واخستلو او کوټټې ته د تلو اراده ئې وکړه زید خالد ته د ویلو نه بغیر په ټیکسی کې د سمګلنګ (غیرقانونی شیان) سامان کینبودلو، په کسټم پوسټ باندې د چیکنګ په دوران کښې ددې ټیکسی نه سامان راووتلو کسټم حکام ټیکسی او سامان ضبط کړو، وروستو خالد په پنځوس زره روپۍ خرچې سره ټیکسی د کسټم والو نه خلاص کړو آیا خالد د زید نه د دې پنځوس زرو روپو د اخستلو حقدار دې یا نه؟ ځکه چې خالد ته د زید د وجې نه دا نقصان شوې دې، شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ مطیع الرحمٰن خطیب مرکزی جامع مسجد چمن بهر بلوچستان .... ۲۷ ربیع الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت دا ضمان به په دې مستاجر (زید) باندې وی، یدل علیه مافی شرح المجلة (۴۳۱) المادة: ۷۷۹ فعل مالا یرضی به المودع فی حق الودیعة تعد(۱) والله اعلم

د کارخانو نوکری کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عام طور سره د

---

۱) (شرح المجلة لسليم رستم باز: ۴۳۱ المادة ۷۷۹ الفصل الثاني في احكام الوديعة)

قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: تعتبر يد المستاجر علي العين المستاجرة في اجارة المنافع يد امانة فلا يضمن ما يتلف بيده الا بالتعدي او التقصير في الحفظ، ويتقيد في الانتفاع بمقتضي العقد وما شرط فيه وما جري به العرف... قد تتغير صفة الامانة الي الضمان في الاحوال الآتية، اولا ترک الحفظ ثانيا الا تلاف والافساد، ثالثا مخالفة المستاجر شرط المؤجر نصا او دلالة، المخالفة سبب لوجوب الضمان، وللمخالفة صور وهي اما في الجنس او في القدر او في الصفة او في المكان اوفي الزمان.

(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۸۵۷، ۳۸۵۰ المبحث الخامس، ضمان العين المستاجرة)

کارخانه دارو کاروبار د بینکونو سره دې د دې کارخانه دارو په کارخانو کې نوکری کول او مزدوری کول او د دې خلقو د جوړو کړو څیزونو نه فائده اوچتول، د هغوی په مساجدو کې مونځ کول، د هغوی خیرات او صدقه اخستل جائز دی یا ناجز؟ بینواتوجروا

المستفتی: گل مست خان پېښور

الجواب: د کارخانو نوکری جائز ده (۱) ځکه چې کومې پیسې نوکر او مزدورانو ته ورکولې شی نو په دې کې د سود کیدو احتمال وی هغه یقینا یا ظنا سود نه وی. (۲) وهوالموفق

د یوې ادارې ملازم ته د رخصت ورکولو په صورت کښې د اعزاز په طور پیسې ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې په یوه اداره کې ملازم دې څه اختیارات هم هغه ته حاصل دی د ادارې سربراه او اهل شوری خپل مینځ کې مشوره کولو سره دې سړی لره د ملازمت نه ختمول غواړی او اعزازی طور هغه ته پنځوس زره روپئ ورکوی آیا ذکر شوې پیسې د دې سړی دپاره حلال دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: فقیر الله مانسهره.....۲ رمضان المبارک ۱۴۱۰هـ

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله وكل انواع الكسب) اي انواعه المباحة بخلاف الكسب بالربا والعقود الفاسدة ونحو ذلك... فالمراد من قولهم كل انواع الكسب في الاباحة سواء انها بعد ان لم تكن بطريق محظور لایذم بعضها وان كان بعضها افضل من بعض. (ردالمحتار ۵:۳۲۸ كتاب الصيد)

(۲) قال العلامة بدرالدين العيني: والشبهة هي المعتبرة دون النازل عنها اي عن الشبهة لان شبهة الشبهة اذا اعتبرت ينسد باب العقود اذ لا يخلوا عن شبهة الشبهة فما دونها. (البناية في شرح الهداية ۱۰:۳۱۸ باب البيع الفاسد)

وفي الاشباه والنظائر: اليقين لا يزول بالشك. (الاشباه والنظائر ۵۶)

الجواب: د اهل حل وعقد دپاره دا رخصت کول او ملازم ته دا اعزازی پیسې ورکول جائز دی دا پیسې رشوت نه دې دا جبیره او اکرام دې (۱) **وهوالموفق**

استاذ ته د تنخواه نه ورکولو په صورت کې د محکمې نه حق وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه په ۱۹۷۹ء کې د بی ایډ کورس دپاره لاړم نو محکمې زما د چھټی درخواست مسترد کړو او وې ویل چې د دې درې واړو میاشتو دپاره یو درخواست ولیکه په دې باندې محکمې ما سره زیاتې وکړو، ځکه چې د یو ټرینډ استاذ کیدو سره د هغه تنخواه د حکومت په ذمه واجب الادا ده، نو پورته ذکر شوی موقف د شریعت په رڼا کې صحیح دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: توحید الله موضع صریخ شبقدر فورټ چارسده ... ۹ رجب ۱۴۰۱ھ

الجواب: که واقعی په تاسو باندې زیاتې شوې وی نو تاسو خپل حق په نورو طریقو سره هم حاصلولې شئ (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلي : والهبة مشروعة مندوب الیها لقوله تعالي فان طبن لکم عن شیئ منه نفسا فکلوه هنیئا مریئاً ... ولقوله ﷺ تهادوا تحابوا ... وانعقد الاجماع علي استحباب الهبة بجمیع انواعها قال الله تعالي: وتعاونوا علي البر والتقوي.
(الفقه الاسلامي وادلته ۵:۳۹۸۱،۳۹۸۲ الفصل السادس، الهبة)

۲) قال العلامة الحصکفي : لیس لذي الحق ان یاخذ غیر جنس حقه وجوزه الشافعي وهو الاوسع. (الدرالمختار ۵:۳۰۰ کتاب الحظر والاباحة فروع ، فصل في البیع)
وقال العلامة الدکتور وهبة الزحیلي : وقال الشافعیة لصاحب الحق استیفاء حقه بنفسه باي طریق سواء کان من جنس حقه ام من غیر جنسه ... ووافق الحنفیة علي رأي الشافعیة فیما اذا کان الماخوذ من جنس حقه لا من غیره والمفتي به الیوم کما قال ابن عابدین جواز الاخذ من جنس الحق او من غیره.
(الفقه الاسلامي وادلته ۴:۲۸۵۸ المبحث الرابع : احکام الحق، استیفاء الحق)

د حکومت د نوکرئ حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د حکومت آمدنی زیات ترد ټیکسونو نه حاصلیږی په دې وجه د دې متعلق ولیکئ چې د حکومت نوکری کول جائز دی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: گل مست خان پیښور

الجواب: د جمهور علماء کرامو په نزد د ټیکس مال حرام دې، لهٰذا د دې اخستل او په دې کې نوکر کیدل د هغوی په نزد ناجائز دی او د لعنت سبب دی.(۱) **وهوالموفق**

په جعلی سند باندې د ملاؤ شوې ملازمت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه په دار العلوم اسلامیه دره آدم خیل کې سبق وایم اوس زمونږ په کور کې څه مشکلات پیدا شوې دی چې د هغې د وجې نه ما سبق پریښودلو. صحت هم د لوستلو اجازت نه راکوی، حافظه مې هم د حد نه زیاته کمزورې ده زما د سکول

---

(۱) في حاشية شرح الوقاية: قوله كالجبايات هي المصادرة وما ياخذ الظلمة قهرا وظلما وقال ابن عابدين الوظائف التي وضعها الفارس علي رعاياهم من الخياط والصباغ والحداد كل يوم اوشهر كذا فهو لايحل اخذه كذلك الوظائف السلطانية اليوم في بلادنا علينا المسماة به (ټيكس) لانهم ياخذونها حيث ما ذكرنا مسانهة والعذر بانهم يصرفون الي حوائجنا مردود لان خزائنهم معمورة تزيد كل يوم الي ما شاء الله تعالي عاقبة امرها فلاحاجة الي اموال الناس ومثل ذلك المحصولات المتعددة الموضوعة علي التجار علي كل مار والمعصية كلها علي الآخذ والآمر وان تبعوا النصاري في هذه النهب والاخذ ومن يتبع اهوائهم فماله من الله من ولي ولا نصير. (تكملة عمدة الرعاية حاشية الوقاية ۱۰۹ كتاب الكفالة)

تعلیم د مدل پورې دې که زه سند په پیسو واخلم او د سکول ماسټر جوړ شم نو آیا دا به د بنده دپاره جائز وي یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد نور زاهد مارکیټ کوهاټ... ۲۵ دسمبر ۱۹۸۵ء

الجواب: که تاسو د دې کار اهلیت لرئ نو ستاسو تنخواه به حرامه نه وي، جائز او حلاله به وي. (۱) خو دروغ او دهوکه باندې به غور کول غواړي (۲) وهوالموفق

په سکول کې د اسلامیات د معلم په حیثیت سره د تنخواه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې په سکول کې د اسلامیات د معلم په حیثیت سره تنخواه اخلی دا د هغه دپاره جائز ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: نامعلوم..... یکم اگست ۱۹۸۴ء

---

(۱) قال العلامة ابن نجیم : واما رکنها فهو الایجاب والقبول والارتباط بینهما اما شرط جوازها فثلاثة اشیاء: اجر معلوم وعین معلوم وبدل معلوم ومحاسنها دفع الحاجة بقلیل المنفعة واما حکمها فوقوع الملک في البدلین ساعة فساعة.

(البحر الرائق ۳:۸ کتاب الاجارة)

(۲) وفي المشکوة : عن سفیان بن اسد الحضرمي قال سمعت رسول الله ﷺ یقول کبرت خیانة ان تحدث اخاک حدیثا هو لک به مصدق وانت به کاذب.

(مشکوة المصابیح ۴۱۳ باب حفظ اللسان والغیبة)

وقال العلامة ابن عابدین: کل مقصود محمود یمکن التوصل الیه بالصدق والکذب جمیعا، فالکذب فیه حرام.

(ردالمحتار ۵:۳۰۳ من فروع کتاب الحظر والاباحة)

وقال الامام البخاري تعلیقا: قال النبي ﷺ الخدیعة في النار.

(الصحیح للامام البخاري ۱:۲۸۷ باب النجش)

الجواب: د دې ملازمت او تنخواه حرمت ثابت نه دی په دې کې هیڅ ګناه نشته (۱) وهوالموفق

د قانون خلاف د ملازمت حاصلونکو د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو طالب العلم د وفاق المدارس د دویمې درجې امتحان پاس کړې دی په دې سند باندې طالب علم د اسلامیات ماستر لګیدلې دی هغه ډیوټی هم کولې شی خو یو مقامی عالم وائی چې دا طریقه صحیح نه ده اوس سوال دا دی چې د هغه تنخواه حلال ده که حرام؟ بینواتوجروا

المستفتی: خلیل احمد عاشق کالونی کوهاټ.... ۱۹ مئی ۱۹۸۹ء

الجواب: داسې د قانون خلاف ملازمت حاصلونکی کله چې متعلقه خدمت پوره کولې شی نو د هغوی تنخواه حلاله ده (۲) خو دروغ ویل او دهوکه ورکول حرام امور دی (۳) وهوالموفق

---

۱) في شرح التنوير علي هامش ردالمحتار: (والثاني) وهو الاجير (الخاص) ويسمي اجير وحد (وهو من يعمل لواحد عملا موقتا بالتخصيص ويستحق الاجر بتسليم نفسه في المدة وان لم يعمل كمن استوجر شهراً للخدمة.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ۵:٤۸ مبحث الاجير الخاص، كتاب الاجارة)

۲) قال العلامة ابن نجيم: واما ركنها فهو الايجاب والقبول والارتباط بينهما اما شرط جوازها فثلاثة اشياء: اجر معلوم وعين معلوم وبدل معلوم ومحاسنها دفع الحاجة بقليل المنفعة واما حكمها فوقوع الملک في البدلين ساعة فساعة. (البحر الرائق ۸:۳ كتاب الاجارة)

۳) وفي المشكوة: عن سفيان بن اسد الحضرمي... قال سمعت رسول الله ﷺ يقول كبرت خيانة ان تحدث اخاک حديثا هو لک به مصدق وانت به كاذب. (مشكوة المصابيح ٤۱۳ باب حفظ اللسان والغيبة)

...بقيه برصفحه آئنده...

د امام د پاره د حج یا د تبلیغ د ورځو د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه د یو جامع مسجد پیش امام یم یو مقتدی ماته د خبر راکولو نه بغیر د حج دپاره زما په نوم باندې داخله اخستلې ده او هغه منظور شوې ده اوس مسئله دا تپوسل دی چې حج ته په تلو راتلو کې به څلویښت پنځوس ورځې لګی د دې ورځو تنخواه اخستل زما دپاره څنګه دی؟ د مسجد والو نه هم د چُټیانو اخستلو د مخکې نه رواج نشته زه په کال کې چله هم لګوم د هغې تنخواه هغوی راکوی بینواتوجروا

المستفتی: خلیل احمد عاشق کالونی کوهاټ ... ۱۸ مئی ۱۹۸۹ء

الجواب: که د چُټیانو د دې مسجد د کمیټئ سره مطبوعه قانون نه وی نو د نورو لویو جامع مسجدونو په قوانین باندې فیصله وکړئ (۱) خو حج نفلی عبادت دې او د تبلیغی جماعت سره چله تیرول بدعت حسنه دې صرف خود

...بقیه ازحاشیه گذشته]

وقال العلامة ابن عابدين: كل مقصود محمود يمكن التوصل اليه بالصدق والكذب جميعا فالكذب فيه حرام. (ردالمحتار ۵:۳۰۳من فروع كتاب الحظر والاباحة)

وقال الامام البخاري تعليقا: قال النبي ﷺ الخديعة في النار.

(الصحيح للامام البخاري ۱:۲۸۷ باب النجش)

(۱) قال العلامة ابن عابدين: حيث كانت البطالة معروفة في يوم الثلاثاء والجمعة وفي رمضان والعيدين يحل الاخذ وكذا لو بطل في يوم غير معتاد لتحرير درس الا اذا نص الواقف علي تقييد الدفع باليوم الذي يدرس فيه كما قلنا. (ردالمحتار ۳:۴۱۶كتاب الوقف)

وقال العلامة ابن نجيم: ومنها البطالة في المدارس كأيام الاعياد ويوم عاشوراء وشهر رمضان في درس الفقه لم ارها صريحة في ...[بقیه برصفحه آئنده

ساخته اصلاحی پروگرام دي نو دا فرق بې تمیزی ده وهو الموفق

په اجاره کې د پیشګی رقم ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید خپل ځلور کناله پټې عمر ته د دوه سوو روپو په حساب د کال په اجاره باندې ورکړی خو دوه زره روپۍ پیشګی ورته ورکوی آیا مذکوره اجاره شرعا جائز ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مسافر شاه شبقدر چارسده ... ۱۶ ذوالقعده ۱۳۹۷هـ

الجواب: که دا دوه زره روپۍ پیشګی اجرت وی نو په دې کې هیڅ باک نشته (۱) او که په دې کې بعض اجرت او بعض قرض وی نو دا اجاره د دې شرط د وجې نه ناجائز ده، کما فی الهدایة ۳/۳۰۱: **الاجارة تفسدها الشروط کما تفسد البیع لانه بمنزلته الا تری انه عقد یقال ویفسخ** (۲) او که دا نورې پیسې کلاً یا بعضاً په طور د ګانې اخستلې شی نو په دې کې به تصرف ممنوع وی. (۳) **وهوالموفق**

...بقیه ازحاشیه گذشته] کلامهم والمسألة علي وجهين فان كانت مشروطة لم يسقط من المعلوم شيئ والا فينبغي ان يلحق ببطالة القاضي وقد اختلفوا في اخذ القاضي ما رتب له من بيت المال في يوم البطالة فقال في المحيط انه يأخذ في يوم البطالة لانه يستريح لليوم الثاني وقيل لايأخذ (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ۱:۳۰۰ القاعدة السادسة ،العادة محكمة)

۱) في شرح المجلة: تلزم الاجرة بالتعجيل يعني لو سلم المستاجر الاجرة نقدا ملكها الآجر وليس للمستأجر استردادها. (شرح المجلة ۲:۵۵۱ المادة ۴۶۷ الفصل الثاني في بيان المسائل المتعلقه بسبب لزوم الاجرة)

۲) (الهداية ۳:۳۰۱ باب الاجارة الفاسدة)

۳) في شرح المجلة: وليس للمرتهن الانتفاع بالرهن بدون اذن الراهن لا باستخدام ولا سكني ولا يلبس ولا بأخذ ثمرة ولا لبن ولا باجارة ولا باعارة. ...[بقيه برصفحه آئنده

[بقيه برصفحه آئنده

په اجاره کښې په مالک باندې د عشر د واجب کولو د پاره د نادر صورت رعایت ضروری نه دې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې د ځمکې اجاره لس زره روپئ وی او په کرونده باندې خرچ پنځه زره روپئ وی چې د هغې مجموعه پنځلس زره وی د فصل نه آمدن دولس زره وی او اووه نیم سوه روپئ آبیانه وی، اوس به د هغه د عشر څه معامله وی حال دا چې اجاره دار په تاوان کښې دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حضرت مولانا سید گوهر شاه صاحب مهتمم دار العلوم اسلامیه چارسده...... یکم ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: د داسې نادر صورت رعایت ضروری نه دې کنه نو د مالک ټوله اجاره به په عشر کښې لاړه شی. (۱) وهوالموفق

په اجاره کښې به عشر په موجر باندې وی یا مستاجر باندې؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې زید خپله مزروعه ځمکه عمر مستاجر ته په نقد زر روپو باندې د یو کال دپاره، یعنی د خزان او د سپرلی د فصل دپاره ورکړی، او زید عمر ته وائی چې د اوچې او اوبه هر دواړو فصلونو مالیه به هم ته حکومت ته ورکوې او زکاة د ما خرج من الارض عشر به هم ستا په ذمه وی په دې صورت کښې به زید چې د ځمکې مالک دې د ځمکې د زکاة نه بری الذمه شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: میاں مسرت شاه حکمت آباد تحصیل چارسده... ۳ جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

...بقیه ازحاشیه گذشته] (شرح المجلة ۱۹۴،۱۹۳:۳ المادة ۷۵۰ الفصل الثاني في تصرف الراهن والمرتهن في الرهن)

۱) قال العلامة ابن عابدین: قلت ولکن في زماننا عامة الاوقاف من القري والمزارع لرضاالمستأجر غراماتها ومؤنها یستأجرها بدون اجر المثل بحیث لا تفي الاجرة ولا اضعافها بالعشر او خراج المقاسمة فلا ینبغي العدول عن الافتاء بقولهما.
(شامي ۲:۶۰ قبیل مطلب هل یجب العشر علي المزارعین في الاراضي السلطانیة)

الجواب: چونکې مستاجر ته غالبا د اجرت نه څو چنده زيات بچت کيږی لهذا عشر به په مستاجر باندې واجب وی او دا اشتراط به مفسد د عقد نه وی، وفی الدرالمختار: والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستأجر وفی الحاوی وبقولهما نأخذ وقال العلامة ابن عابدین فی ردالمحتار بعد ذکر جماعة افتوا بقول الامام، قلت لکن فی زماننا عامة الاوقاف من القری والمزارع لرضا المستأجر غراماتها ومؤنها یستأجرها بدون اجر المثل بحیث لا تفی الاجرة ولا اضعافها بالعشر اوخراج المقاسمة فلاینبغی العدول عن الافتاء بقولهما الخ(۲:۷۵)(۱) د دې عبارت نه معلومیږی کله چې حاصلات او بچت په نسبت د اجرت څو چنده زيات وی نو هلته د صاحبين په مذهب باندې فتوی ورکول ډیر مناسب دی. **فقط وهوالموفق**

د دکان یا کور پټکې

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا دکان یا کور چې په کرایه باندې ورکولې شی نو د کرایه دار نه پټکې اخستلې شی کوم چې یو جبری قرضه یا جبری امانت دې د دکان یا کور مالک په هغې باندې تجارت کولو سره بنه ګټه کوی د دې شرعی حکم څه دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: داکتر غلام فرید شفاخانه حیوانات پیښور ..... ۲۳ مئی ۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا پټکی د کرایه معجل نوم وی نو په دې کې څه باک نشته. (۲) او که د قرض یا امانت نوم وی او په کرایه باندې ورکونکی د طرف نه دا ضروری وی، شرط وی نو دا معامله اجاره فاسده او ناجائزه. (۱) **وهوالموفق**

---

۱) (ردالمحتار ۲:۶۰ قبيل مطلب هل يجب العشر علي المزارعين في الاراضي السلطانية)

۲) في شرح المجلة: تلزم الاجرة بشرط التعجيل يعني لو شرط كون الاجرة معجلة يلزم المستأجر تسليمها ان كان عقد الاجارة واردا علي الاعيان ...[بقيه بر صفحه آئنده...

په مقرره پیسو یا د پیداوار په حصه باندې ځمکې ته اوبه ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زمونږ په علاقه کې د ټیوب ویل مالک ځمکې ته د دریمې حصې پیداوار په بدله کې اوبه ورکوی آیا دا جائز ده یا ناجائز؟ ۲: په بل صورت کې د ټیوب ویل مالک د ځمکې د مالك نه شل روپئ د یو ساعت اخلی د دواړو صورتونو وضاحت وکړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: اورنگ زیب حقانی متعلم حقانیه....۱۱ دسمبر ۱۹۸۵ء

الجواب: صورة اولی ناجائز(۲) اودویم صورت جائزاواجاره ده.(۳) والله اعلم

...بقیه ازحاشیه گذشته] او علي العمل.
(شرح المجلة ۲:۵۵۱ المادة ۴۶۸ الباب الثالث، كتاب الاجارة)

۱ ﴾ قال العلامة المرغيناني: الاجارة تفسدها الشروط كما تفسد البيع لانه بمنزلته.
(هداية ۳:۳۰۱ باب الاجارة الفاسدة)

وقال الدكتور وهبة الزحيلي: قرار مجمع الفقه الاسلامي في جدة رقم ۶ لعام ۱۴۰۸ه الموافق ۱۹۸۸م: اولا اذا اتفق المالک والمستأجر علي ان يدفع المستأجر للمالک مبلغا مقطوعا زائدا عن الاجرة الدورية (وهو ما يسمي في بعض البلاد خلوا) فلا مانع شرعا من دفع هذا المبلغ المقطوع علي ان يعد جزأ من اجرة المدة المتفق عليها.

وايضا: قال في الصفحة السابقة: ويعد الماخوذ جزأ معجلا من الاجرة المشروطة في العقد. (الفقه الاسلامي وادلته ۳۸۲۶، ۵:۳۸۲۴ عقد الايجار، مقابل الخلو)

۲ ﴾ قال العلامة الحصكفي: (فكل ما افسد البيع) مما مر (يفسدها) كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل. (درمختار ۵:۳۲ باب الاجارة الفاسدة)

وفي شرح المجلة: كل ما افسد البيع مما مر في البيوع يفسد الاجارة كجهالة ماجور واجرة او مدة... ويفسدها ايضا جعل الاجرة بعض ما يخرج من عمله كان يدفع غزلا لآخر لينسجه بنصفه... والاصل في ذلک نهيه ﷺ عن قفيز الطحان.
(شرح المجلة ۲:۵۳۸ المادة ۴۶۰ الفصل الرابع في فساد الاجارة)

۳ ﴾ وفي الهندية: واما شرائط الصحة فمنها ان تكون الاجرة معلومة.[بقيه بر صفحه آئنده

د قرض په عوض کې کور په اجاره باندې ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی چاته پیسې قرض ورکړې قرض داری پیسو والا ته کور د وثیقه په طور ورکړو او کرایه هم د دې مالک مکان دپاره مقرر کړې شوه آیا دا جائز ده یا ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا سید گوهر شاه حقانی مهتمم دار العلوم اسلامیه

چارسده... یکم مئی ۱۹۸۴ء

الجواب: په صورة مسئوله کې به ګاڼه کالعدم متصور کولې شی او دا اجاره به صحیح وی په دې شرط چې دا اجرت د هغه قرض د وجې نه کم نه وی مقرر شوې، اما الاول فلما فی الهندية ۵: ۴۹۰،وکذلك لو استأجره المرتهن صحت الاجارة ويطل الرهن(١) واما الثانی فللاصل المشهور کل قرض جر نفعاً فهوربا(٢). وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه گذشته]

(هندية ۴:۴۱۱ الباب الاول في تفسير الاجارة)

وقال العلامة ابن البزاز الكردري: ولا يجوز عقدها حتي يعلم البدل والمنفعة وبيان المنفعة باحد ثلاث بيان الوقت وهو الاجل وبيان العمل والمكان.

(الفتاوي البزازية علي هامش الهندية ۵:۱۱ كتاب الاجارات، الاول في المقدمة)

١) (فتاوي هندية ۵:۴۶۵ الباب الثامن في تصرف الراهن اوالمرتهن في المرهون)

وقال العلامة الحصكفي: (بخلاف الاجارة... من مرتهن او من اجنبي اذا باشرها احدهما باذن الآخر) حيث يخرج عن الرهن ثم لا يعود الا بعقد مبتدإ لانها عقود لازمة. (درمختار ۵:۲۶۴ باب التصرف في الرهن)

٢) قال العلامة ابن عابدين: (قوله كل قرض جر نفعا حرام) اي اذا كان مشروطا. (ردالمحتار ۴:۱۹۴ مطلب قوله كل قرض جر نفعا حرام)

بهر ملک ته د ملازمت دپاره تلل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بهر ملک ته د ملازمت دپاره تلل څنګه دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد علی رائے ونڈ لاهور... ۳۰ جون ۱۹۹۵ء

الجواب: نه ممنوع دی او نه مطلوب دی البته د خیرالقرون نه ترننه پورې معمول دې(۱). وهوالموفق

په نتیجه ښودلو باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بعض دکانداران د میټرک نتیجه (د کتاب په شکل کښې) راوړی او په شل یا دیرش روپو کې هریو ته نتیجه ښائی که کامیاب وی یاناکام، آیادا پیسې جائزدی؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم... ۲۳ اکتوبر ۱۹۸۸ء

الجواب: دا اجاره ناجائز ده، کما فی شرح التنویر علی هامش رد المحتار ۲۹/۵ اوکتابا ولوشعرالیقراه اومصحفا شرح وهبانیة(۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الکاسانی: وعلی ذلک جرت العادة من تجار الامصار انهم یدخلون دارالحرب للتجارة من غیر ظهور الرد والانکار علیهم الا ان الترک افضل لانهم یستخفون بالمسلمین ویدعونهم الی ما هو علیه فکان الکف والامساک عن الدخول من باب صیانة النفس عن الهوان والدین عن الزوال فکان اولی.

(بدائع الصنائع ۶:۶۵ بیان ما یکره حمله الی دارالحرب ومالایکره)

(۲) فی الدرالمختار: (لا) تصح (اجارة الدابة لاجل ان یربطها علی باب داره) وکذا لو استأجر بیتا لیصلی فیه او طیبا لیشمه او کتابا ولو شعرا لیقرأه او مصحفا شرح وهبانیة.

(درمختار ۵:۲۳،۲۴ باب مایجوز من الاجارة وما یکون خلافا فیها)

وفی الهندیة: ولو استأجر کتبا لیقرأ فیها شعرا کان او فقها... [بقیه برصفحه آئنده]

[بقیه برصفحه آئنده]

رشوت ورکولو سره د ملازم د تنخواه حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې بعض وخت د یو سړی نمبرې کمې وی خو رشوت ورکولو سره ورته نوکری ملاؤ شی او بعض وخت ئې نمبرې ښه وی خو د رشوت نه ورکولو په وجه باندې د نوکرئ نه محروم وی، اوس څه وکړی صرف په قابلیت باندې هم کار نه کیږی، که په رشوت باندې ئې نوکری حاصله کړه نو آیا د ټول عمر ګټه به ئې حرامه وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: لطف الرحمٰن ساکن میرو کلے شبقدر چارسده... ۱۱۳ کتوبر ۹۰ء

الجواب: کله چې ناجائز طور ملازمت حاصل کړې شی مثلاً په رشوت ورکولو سره نو دا کار ناجائز دې (۱) خو تنخواه به حلاله وی په دې شرط چې کله د متعلقه ډیوټئ پوره کولو اهلیت موجود وی. (۲) والله اعلم

...بقیه ازحاشیه گذشته] او غیر ذلک لا یجوز ولا اجرله وان قرأ وکذلک اجارة المصحف.

(فتاوي عالمگیرية ۴۴۹:۴ الباب السادس في مسائل الشیوع في الاجارة)

(۱) قال العلامة ابن عابدینؒ: وفي الفتح ثم الرشوة اربعة اقسام: منها ما هو حرام علي الآخذ والمعطي وهو الرشوة علي تقلید القضاء والامارة...الثالث اخذ المال لیسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو حرام علي الآخذ فقط.

(شامي ۳۳۸:۴ مطلب في الکلام علي الرشوة والهدیة)

(۲) قال العلامة ابن نجیم: واما رکنها فهو الایجاب والقبول والارتباط بینهما واما شرط جوازها فثلاثة اشیاء اجر معلوم وعین معلوم وبدل معلوم... واما حکمها فوقوع الملک في البدلین ساعة فساعة. (بحرالرائق ۳:۸ کتاب الاجارة)

که د ځمکې په اجرت کې غله مقرر وی نو آیا د غلې په ځائ د هغې د قیمت ورکولو اجازت شته؟

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په صوبه سرحد کې په بعض ځایونو کې دا رواج دې چې موجر د مستاجر سره څه شرح (یعنی د ځمکې اجرت د غلې څه مقدار فی کنال) مقرر کړی نو دا جائز دې یا نه؟ که جائز وی نو موجر د هغوی نه د غلې قیمت اخستلې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سید شبیر احمد کاکاخیل اسسټنټ انجنیئر سی این ایس
راولپنډی... ۲۵ ربیع الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: د اجارې عوض د پیسو په ځای غله مقرر کول صحیح دی کله چې د غلې تقید هم د دې ځمکې د حاصلاتو نه نۀ وی شوې. **لما فی الکاملیة ۱۹۱: سئلت فیمن استأجر ارضا بیضا للزراعة بکذا وکذا قفیزا من الغلة هل یجوز ذلک قلت نعم، یجوز اذا کانت الاجرة مشارا الیها او موصوفة فی ذمته ولا تکون من الغلة التی تخرج من زرع الارض المستأجرة کذا فی فتاوی قارئ الهدایة**(۱) او د اجارې د عوض (غلې) په بدل کې د حال د نرخ مطابق پیسې اخستل هم جائز دی. **لحدیث ابی داؤد والنسائی: عن ابن عمر کنت ابیع الابل بالنقیع بالدنانیر فآخذ مکانها الدراهم وابیع بالدراهم فآخذ مکانها الدنانیر فاتیت النبی ﷺ.... فقال لا بأس ان تاخذها بسعر یومها (مشکوٰة ۲۶۸)**(۲). **وهوالموفق**

اجاره بشرط الاقراض او د انتفاع بالمرهون حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې که زید عمر ته ووائی چې ماته یو کنال ځمکه، په دوه زره روپۍ باندې ګاڼه راکړه او عمر ووائی چې د یو کنال اجرت رواجی سل روپۍ دې نو زه به تاسو ته سل روپۍ درکړم او زه به د دې کنال ځمکې نه فائده اخلم خو یقینی خبره دا ده چې که

---

۱) (فتاوی کاملیة ۱۹۱: ۲ کتاب الاجارة)
۲) (مشکوٰة المصابیح ۲۴۸ باب المنهی عنها من البیوع)

زید عمر ته دوه زره روپۍ نه ورکوی اګر چې رواجی اجرت سل روپۍ دي نو په صورت مذکوره کې د زید په ګانې باندې د قبضې حق ثابت شو او هغه نفع بالاجرة اخلی نو آیا صورت مذکور د ﴿ کل قرض جر نفعاً فهو ربا الخ ﴾ د لاندې راځی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حضرت مولانا فضل مولی مدرس دار العلوم هذا ... ۲۷ ربیع الاول ۱٤۰۲ھ

الجواب: دا معامله اجارة علی شرط الاقراض ده او په دې شرط کې د موجر نفع موجود ده، پس د قواعدو په رڼا کې دا اجاره د بیع په شان ناجائز ده، کما فی الهدایة ۳۰۱/۳. الاجارة تفسدها الشروط کما تفسد البیع لانه بمنزلته الا تری انه عقد یقال ویفسخ (۱). په ظاهر کې دا د انتفاع بالمرهون صورت دې او انتفاع بالمرهون جائز نه ده. (سیف) وهوالموفق

په تراویح کې په ختم قرآن باندې د اجرت ورکولو او اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په تراویح کښې په ختم قرآن باندې اجرت اخستل د علماء کرامو ترمینځه مختلف فیه ده، د دې په باره کې ډیر شکی یم. د دې د حقیقت نه خبرولو سره زما زړه او ذهن ته د سکون اسباب برابر کړئ. بینواتوجروا

سائل ... خادم العلماء حافظ بشیر حسن ایبټ آباد

الجواب: واضحه دې وی چې د مفتی به قول په بناء په امامت باندې اجرت اخستل جائز دی (۲) او په تلاوت مجرده باندې اجرت اخستل مختلف فیه

---

۱ ﴾ (الهدایة ۳:۳۰۱ باب الاجارة الفاسدة)

وفي الهندية: الاجارة تفسدها الشروط التي لا يقتضيها العقد كما اذا شرط علي الاجير الخاص ضمان ما تلف بفعله او بغير فعله.

(فتاوي هندية ٤:٤٤٢ الفصل الثاني فيما يفسد العقد فيه لمكان الشرط)

۲ ﴾ قال العلامة الحصكفي: ويفتي اليوم بصحتها لتعليم القران والفقه والامامة؛

(الدر المختار ٥:٣٨ باب الاجارة الفاسدة)

دی. بحر (١)، الاشباه والنظائر (٢) او هندیة (٣) کې جواز مصرح دې او په اکثر فتاوی کې حرمت ته ترجیح ورکړې شوې ده. (٤)

او دا دې هم واضحه وی چې څنګه د اجرت دوه قسمونه دی مشروط او معروف، دغه شان د اکرام هم دوه قسمونه دی مشروط او معروف.

کما فی حدیث انس رضی الله تعالی عنه: ان رجلا من کلاب سئل النبی صلی الله علیه وسلم عن عسب الفحل فنهاه فقال یارسول الله انا نطرف الفحل فنکرم فرخص له فی الکرامة (٥).

دا دې هم واضحه وی چې معتبر د دافع نیت او قول دې نه د آخذ. کما فی التکملة ٣٥٩/١ (٦) پس د دې مقدماتو په بناء باندې په تراویح کې په ختم کولو او حافظ وغیره ته په پیسو ورکولو کې هیڅ باک نشته. څکه چې اول خو دا پیسې وغیره د اکرام او شکرانې په طور ورکولې شی د چنده ورکونکو هم دا نیت وی.

---

١) قال العلامة ابن نجیم: فان المفتي به جواز الاخذ علي القراءة.
(البحر الرائق ٥:٢٢٨ باب الوقف)

٢) (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموي ٢:٢٢٩ کتاب الوقف)

٣) (فتاوي هندية ٤:٤٤٩ کتاب الاجارة، الباب السادس في مسائل الشيوع، مطلب الاستيجار علي الطاعات)

٤) قال العلامة الشامي: ان القرآن بالاجرة لا يستحق الثواب لا للميت ولا للقاري وقال العيني في شرح الهداية ويمنع القاري للدنيا والآخذ والمعطي آثمان.
(ردالمحتار ٥:٣٩ باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستيجار علي التلاوة)

٥) (سنن الترمذي ١:١٥٣ باب ماجاء في كراهية عسب الفحل)

٦) وفي التكملة: القول للدافع لانه اعلم بجهة الدفع.
(تكملة ردالمحتار ١:٣٩١ مطلب في واقعة الفتوي، فروع)

دویم دا چې که دا پیسې اجرت هم ومنلې شي نو دا اجرت على الامامة الخاصة دي کوم چې جائز دي، دلیل په دې باندې دا دې چې که دا حافظ په دې مسجد کې د تراویح نه خارج ختم وکړی نو دې د پیسو وغیره مستحق نه شي ګڼلې، نو معلومه شوه چې دا پیسې وغیره صرف د تلاوت معاوضه نه ده.

بله دا چې که دا حافظ په تراویح کې امام جوړیدو سره په ﴿الم ترکیف﴾ باندې تراویح وکړی نو په دې صورت کې هم مستحق نه شي ګڼلې نو معلومه شوه چې دا صرف د امامت اجرت نه دې خو کله چې په تراویح کې ختم قرآن واوروی نو هغه مستحق شمار کولې شي نو د دې نه معلومه شوه چې دا اجرت على الامامة الخاصة دي، کوم چې جائز دي لکه چې که یو قوم لره د فجر یا د جمعې امام مقرر کړی او دا شرط ولګوی چې ﴿الم تنزیل﴾ سورة دهر، سورة جمعة او منافقون وغیره به لوستل وی. نو دا یو صحیح غرض دې په دې سره په اجرت اخستلو کې هیڅ حرمت نه پیدا کیږی. (۱) چونکې دا مسئله زمونږ د اکابرو ترمینځه مختلف فیه ده لهذا په دې کې د نورو لیکلو نه معذور یم. فتأمل فی حدیث الترمذی فانه سیف صارم على عنق کل شاتم. وهوالموفق

---

۱ ﴾وفي المنهاج : واما ما يعطي الحفاظ في رمضان عند ختم القرآن فالحق انه جائز لانها هدية معروفة ليست بأجرة ويشهد له حديث الترمذي عن انس رضي الله تعالي عنه ان رجلا من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال يا رسول الله انا نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة والاعتبار لنية الدافع دون الآخذ فافهم ولو سلم انه اجرة فلا حرج فيه ايضا لانها ليست عوض التلاوة البحتة بل هي عوض الامامة المسنونة المخصوصة ولا ضير في اخذ الاجرة علي الامامة المقيدة بمكان او زمان او قراء ة سورة وسور هذا.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۲:۹۰ باب كراهية ان يأخذ المؤذن علي الاذان الاجر)

په خاندانی منصوبه بندئ کښ ملازمت کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښ چې په خاندانی منصوبه بندئ کښ ملازمت کول جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالقدوس... کیمل پور

الجواب: چونکښ د دې محکمې بهبودیانې د هاتهی غابښونه دی، د ډیرو مفاسدو دپاره منتج دی په دې وجه په دې محکمه کښ ملازمت کول د مذهبی او قومی غیرت خلاف ده.(۱) وهوالموفق

په امامت باندې د اجرت اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کښ چې په امامت باندې اجرت اخستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالخالق، سکنه خانپور ضلع دیر

ملاکنډ ډویژن... ۲۰ رمضان المبارک ۱۴۱۰ھ

الجواب: په امامت باندې اجرت اخستل که پنځه وخته وی یا صرف تراویح وغیره، بیشکه او بې شبهې جائز دې (۲) وهوالموفق

د ایصال ثواب او دم په طور په ختم قرآن باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام په ختم قرآن باندې د اجرت اخستلو په باره

---

(۱) قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي :سد الذرائع اصل من اصول الشريعة الاسلامية... سد الذرائع لا يقتصر علي مواضع الاشتباه والاحتياط وانما يشمل كل ما من شأنه التوصل به الي الحرام... وضابط منع الذريعة ان تكون من شأنها الافضاء الي المفسدة لا محالة (قطعاً) او كثيرا او ان تكون مفسدة الفعل ارجح مما قد يترتب علي الوسيلة من المصلحة.
(الفقه الاسلامي وادلته ۷:۵۲۵۸ بشأن سد الذرائع)

(۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله "لا تصح الاجارة لاجل الطاعات مثل الاذان والحج والامامة وتعليم القرآن والفقه و يفتي اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والأمامة والاذان.
(الدر المختار ۵:۳۸ باب الاجارة الفاسدة)

کله چې اجرت معین وی یا غیر معین وی، د مریض د شفاء د خاطره وی یا د مړی د دفن کولو نه پس کړې شوې وی، یعنی مړی ته د ایصال ثواب دپاره کړې شوې وی، په دواړو شقونو کې په جدا جدا تفصیل سره د جواز او عدم جواز د ټولو صورتونو وضاحت وکړئ؟ والسلام

المستفتی: میاں خان صاحب جان، کاکاخیل... ۱۳ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: ۱: قرآن کریم لره د دم په طور لوستلو باندې مال اخستل جائز دی که اجرت د مخکې نه مقرر کړې شوې وی او که نه وی. یدل علیه مارواه البخاری مرفوعا: ان احق ما اخذتم علیه اجرًا کتاب الله(۱) وفی رد المحتار ۴۸:۵: وما استدل به بعض المحشیین علی الجواز بحدیث البخاری فی اللدیغ فهو خطاء لان المتقدمین المانعین الاستیجار مطلقاً جوزوا الرقیة بالاجرة ولو بالقرآن کما ذکره الطحاوی(۲) او کله چې دمخکې نه معین نه وی نو دا هم جائز ده ځکه چې دا اجاره فاسده نه ده. بلکې په طریق د جعل او په طریق د مروت ورکولې شی. یدل علیه ما رواه احمد وابوداؤد فی حدیث رقیة المعتوه "فاعطونی جعلاً فقلت لا حتی اسئل رسول الله ﷺ فقال کل، فلعمری لمن اکل برقیة باطل لقد اکلت برقیة حق"(۳)

نو په دې صورت کې مال د مخکې نه نهٔ وو متعین شوې. خو رسول الله ﷺ د دې تردید اونه کړو بلکه تقریر ئې اوکړو.

د ایصال ثواب په طور کله چې قرآن اولوستلې شی نو په هغې باندې اجرت اخستل مختلف فیه دی. د علامه شامي وغیره رائې د عدم جواز ده.

وفی رد المحتار ۴۷:۵: قال العینی فی شرح الهدایة: ویمنع القاری للدنیا والاخذ والمعطی آثمان فالحاصل ان ما شاع فی زماننا من قرآة الاجزاء

---

۱) (الصحیح البخاري ۳۰۴:۱ باب مایعطي في الرقیة)

۲) (ردالمحتار ۳۹:۵ باب الاجارة الفاسدة مطلب تحریر مهم في عدم جواز الاستیجار علي التلاوة)

۳) سنن أبي داود ۵۴۴:۲ باب کیف الرقي

بالاجرة لا یجوز لان فیه الامر بالقرأة واعطاء الثواب للآمر والقرأة لاجل المال فاذا لم یکن للقاری ثواب لعدم النیة الصحیحة فاین یصل الثواب الی المستأجر ولولا الاجرة ما قرء احد لاحد فی هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظیم مکسبا ووسیلة الی جمع الدنیا انا لله وانا الیه راجعون. (۱) او د بعض فتاوی نه جواز معلومیږی وفی الهندیة۴:۴۶۱ واختلفوا فی الاستئجار علی قراءة القرآن علی القبرمدة معلومة قال بعضهم لا یجوز وقال بعضهم یجوز وهو المختار وکذا فی السراج الوهاج(۲) د دې نه معلومه شوه چې د متاخرینو په نزد په دې کې اختلاف دې اګر چې په تعلیم وغیره باندې اتفاق دې فما قال صاحب البحر۵:۲۲۸: ان المفتی به جواز الأخذ علی القراءة (۳) محمول علی الظاهر مما قاله الرملی والشامی ان المراد منه جواز الأخذ علی تعلیم القراءة(۴) پس احتیاط په نه اخستلو کې دې او په اخستونکو باندې سخت انکار نه دی کول پکار. فقط،(وصرح الشاه عبدالعزیز فی فتاواه بان الاعطاء تصدقا صلة جائز فلیراجع(۵)). وهوالموفق

---

۱) رد المحتار ۵:۳۹ مطلب تحریر مهم في عدم جواز الاستیجار علي التلاوة)

۲) (فتاوي عالمگیریة ۴:۴۴۹ کتاب الاجارة، الاستیجار علي الطاعات)

۳) (البحر الرائق ۵:۲۲۸ کتاب الوقف)

۴)قال العلامة ابن عابدین رحمه الله "وقد رده الشیخ خیر الدین الرملي في حاشیة البحر في کتاب الوقف حیث قال اقول المفتي به جواز الاخذ استحسانا علي تعلیم القرآن لا علي القراءة المجردة. (ردالمحتار ۵:۳۹ باب الاجارة الفاسدة)

۵) قال العلامة الشاه عبدالعزیز "دریم صورت دا دې چې یو کس خالص دالله دپاره د خپل تلاوت ثواب بل چاته اوبخښي یا هغه بل کس ته د ثواب رسولو په غرض سره اووائي اود عوض اخستلو خیال دده په زړه کې بالکل تیر نه شي او دغه بل سړې ددې لوستلو په عوض کې د لوستلو نه وروسته یا د لوستلو په مینځ کې، لوستونکي ته څه ورکړي یا بل څه احسان ورسره اوکړي .... دا صورت بې شکه چې جائز دې بلکه مستحب دې څکه چه د احسان په بدله کې احسان کول جائز دی (فتاوي عزیزیه ۴۹۰، عبادات واعمال کو اجرت پر دینے کا حکم)

د خوشحالئ دپاره په ختم القرآن باندې
د خوراک کولو او د اجرت اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د خوشحالئ دپاره ختم القرآن کولې شی په هغې باندې خوراک یا پیسې اخستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا فضل خالق... ۲۶ اگست ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې دا خوراک د اکرام او اعزاز (یعنی شکرانې) په طور ورکولې شی. لهذا د دې په اخستلو کې هیڅ باک نشته

یدل علیه حدیث الترمذی ''ان رجلا من کلاب سئل النبی ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال الرجل انا نطرق الفحل فنکرم فرخص له فی الکرامة(اوکما قال النبی ﷺ). (۱) وهوالموفق

د استشفاء او دنیاوی حاجتونو دپاره په ختم القرآن باندې اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د بیمارئ نه د جوړیدو دپاره په ختم القرآن باندې اجرت اخستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالودود خاص مقام چارسده

الجواب: د قرآن کریم تلاوت کله چې د استشفاء دپاره وی نو په هغې باندې اجرت اخستل جائز دی، لحدیث رواه البخاری وغیره: ان أحق ما أخذتم علیه اجرًا کتاب الله تعالیٰ (۲) اوکما قال ﷺ وقال العینی فی شرح البخاری ونقله (جوازاخذالأجرة) القرطبی عن أبی حنیفة فی الرقیة، (۳)

---

۱) (سنن الترمذي ۱:۳۷۲ باب ماجاء في كراهية عسب الفحل)
۲) (الصحيح البخاري ۱:۳۰۴ باب مايعطي في الرقية)
۳) (عمدة القاري ۱۲:۹۵ باب ما يعطي في الرقية)

او هم دغه شان د نورو دنیاوی حاجتونو دپاره په تلاوت باندې اجرت اخستل به هم جائز وی ځکه چې دلته ایصال ثواب مقصود نه دې وصرح به الشاه عبدالعزیز فی الفتاوی العزیزیة (۱) وهوالموفق

د ګجرانو نه قلنګ اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې آیا د ګجرانو نه د غرونو قلنګ اخستل جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: امیر رحمٰن ضلع سوات.... ۲۹ رمضان المبارک ۱۴۱۰ھ

الجواب: د ګجرانو نه قلنګ اخستل جائز دی (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الشاه عبدالعزیز رحمه الله: پنځم صورت دادې چه څوک قرآن شریف اووائی او دهغه نیت د عبادت نه وی بلکه صرف دې خیال سره ئې اووائی چه قرآن شریف وئیل مباح دی اوپه دې باندې اجرت واخلی. مثلاً دم ئې کړی یا ئې اولیکی او تعویذ ورکړی یا د قرآن شریف بعضې سورتونه په دې غرض سره اووائی چه څه خاص دنیوی مطلب حاصل شی........ دا هم بغیر د کراهته جائز دی او همدا ددې حدیث نه مراد دی ان احق ما اتخذتم علیه اجراً کتاب الله".

(فتاوی عزیزیه ۴۹۱ عبادات واعمال کو اجرت پر دینے کا حکم)

۲) وفي الهندیة: ولا یجوز بیع الکلاء واجارته وان کان في أرض مملوکة.

(فتاوی هندیة ۳:۱۰۹ الفصل الثاني في بیع الثمار الخ)

وقال العلامة الحصکفي: وفسد بیع المراعي أي الکلاء واجارتها اما بطلان بیعها فلعدم الملک لحدیث: الناس شرکاء في ثلاث في الماء والکلاء والنار واما بطلان اجارتها فلأنها علي استهلاک عین. (الدر المختار ۴:۱۲۳ مطلب في البیع الفاسد)

وفي دررالحکام "لکل أحد أن یطعم حیوانه الکلاء النابت في المحال التي لاصاحب لها کالجبال والأراضي الموات ولیس لأحد منعه لأن الکلاء مباح.

(دررالحکام ۱۰:۲۸۰ المادة ۱۲۵۶)

د میاشتې د کرایه نه علاوه پیشکی اجرت اخستل جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د زید په یو بازار کې ډیر دکانونه دی. کله چې یو دکان په کرایه باندې ورکوی اول د هغه نه زر روپۍ پیشگی اخلی، دا زر روپۍ نه خو په کرایه کې شمارلې شی، او نه داکله واپس کولې شی. دا پیسې د زید دپاره اخستل جائز دی یانه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: په ظاهر کې دا پیسې اجرت معجلة دې (۱) او د دې د اجرت مرتبه سره څه تعارض نشته. هذاماعندي ولعل عندغیري احسن منه.

د ثالثانو په فیصلې باندې د اجرت اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د دوه کسانو په ځمکه باندې جهګړه راغله، طرفین د جرګې په فیصله باندې راضی شو، اوس د جرګې والا وائی چې تاسو مونږ ته چیلې یا پنځه سوه روپۍ راکړئ حال دا چې پیسې ورکونکی د دې نه نفرت کوی، مجبورا ئې ورکړې، نو آیا په شریعت کې داسې پیسې اخستل جائز دی یا ناجائز؟ او چا چې پیسې ورکړی دی د هغه څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: زیر بهادر خان گیس کمپنی مدینة المنورة سعودی عرب... ٦ مئی ١٩٨٨ء

الجواب: دا په حقیقت کې اجرت علی التحکیم دې چې ممنوع دې. (۲) که

---

۱ ﴾ وفي الهندية "ثم الأجرة تستحق بأحد معان ثلاثة اما بشرط التعجيل أوبالتعجيل أو باستيفاء المعقود عليه فاذاوجد أحدهذه الأشياء الثلاثة فانه يملكها. (فتاوی هندیه ۴۱۳:۴ الباب الثاني في بيان أنه متي تجب الأجرة)

۲ ﴾ وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالي "هل يستحق الأجرام لا؟ قال الزاهدي في شرحه للقدوري لايستحق الأجر وإنمايستحقه إذا... ...[بقیه بر صفحه آئنده...

دا پیسې طرفین مساوي طور په طور د هبې یا ډالئ ورکړي نو په دې کې هیڅ تهمت نشته.(۱) وهوالموفق

...

...بقیه ازحاشیه گذشته]لم یکن له في بیت المال شيٌ.
(الطحطاوي ۳:۲۲۶ قبیل کتاب الشهادات)
وقال العلامة اشرف علي التهانوي رحمه الله تعالیٰ :
سوال : مدعی چې کله په عدالت کې دعویٰ داخلوی نو بعضې ځل اشخاصو لره حَکم گرځولې شی چه هغې ته ثالث وائی، چه هغوی تحقیقات کولو سره فیصله ورکړی، په دواړو صورتونو کې د فریقینو نه څه رقم وصولولې شی،او هغه کمیشن او ثالث ته ورکولې شی، ایا دا رقم اخستل جائز دی یا نه؟
الجواب :. دا تحقیق او فیصله دواړه د قضا د باب ځینې دی اوپه قضا باندې اجرت اخستل جائز نه دی، البته د بیت المال نه د کفایت په اندازه د نفقې اخستلو مستحق دې.ځکه چې دا سړې بحق المسلمین محبوس دې اود محبوس نفقه د من له الحبس د مال نه په وجه د جزاء الحبس وی، پس په دې وجه دې مفتش او حکم لره اجرت اخستل جائزنه دی خو چونکې دا د یو خاص وخته پورې دهغه په کار کې مشغوله دې ددې وخت دپاره به دده ضروری نفقه د معاملې والا د مال نه اخلی نود ضروری نفقې په اندازه ددې وخت اخستل به جائزوی، باقی کوم چې زیاتی وی هغه دې معاملې والا ته واپس کړی
(امدادالفتاوي ۳:۴۳۹ حکم اجرت حَکم بتجویز عدالت انگریزي)
۱ ﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ "لم أرحکم قبول الهدیة و إجابة الدعوة و ینبغي أن یجوز له لانتهاء التحکیم بالفراغ إلا أن یهدي إلیه وقته من أحد هما فینبغي أن لا یجوز.
(ردالمحتار ۵:۳۸۹ قبیل باب کتاب القاضي إلي القاضي)

باب اجرة الدلال والنوائب

(د دلال اجرت، د چونگی او ټیکسونو بیان)

په منډو کې د زمیندارانو او سوداګرو نه کمیشن اخستل

سوال: څه فرمائي علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې په منډیانو کې د زمیندار او بیوپاریانو دواړو نه کمیشن اخستلې کیږي، آیا دا جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: رضوان الله سردهیري ... ٤ جون ١٩٧٥ء

الجواب: د زمیندار نه چې کوم آړهت (رقم) اخستلې شي هغه په اجرت دلال کې داخل دې او د تعامل د وجې نه فتوی په جواز ده، كما في ردالمحتار ص٣٩، ج٥: اجارة السمسار والمنادي والحمامي والصكاك وما لايقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة(١) وفيه أيضا ص٥٣، ج٥: وفي الحاوي سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار فقال أرجو أنه لا بأس به وان كان في الأصل فاسدا لكثرة التعامل(٢)

او کوم چې د سوداګر نه اخستلې شي (بورۍ او رونکو یا د بندونکو د پاره) نو د معین کیدو په صورت کې هغه هم جائز دی. (٣) وهوالمصوب.

---

١) (ردالمحتار ٥: ٣٢ "باب الاجارة الفاسدة")

٢) (ردالمحتار ٥: ٤٤ "مطلب في أجرة الدلال، كتاب الاجارة")

وفي الخلاصة: وفي الأصل أجرة السمسار والمنادي والحمامي والصكاك وما لاتقدير فيه للوقت ولامقدار لما يستحق بالعقد لكن للناس فيه حاجة جاز.

(خلاصة الفتاوي ٣: ١١٦، جنس آخر في المتفرقات وفيه الاستيجار علي المعاصي)

٣) وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: يشترط لصحة الاجارة شروط تتعلق بالعاقد والمعقود عليه أن يكون المعقود عليه وهو المنفعة معلوما علما يمنع من المنازعة.....والعلم بالمعقود عليه يكون ببيان محل المنفعة وبيان المدة... [بقيه بر صفحه آئنده...

د تخم دپاره د قرضه ورکونکی کمیشن ایجنټ

په لاس باندي د مال خرڅولو نه پس کمیشن اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې کمیشن اینجنټ حضرات، چې د هغوی فیصدی کمیشن مقرر دې، او د مال د خرڅیدلو نه پس ئې وصولوی، اوس مسئله دا ده چې کمیشن ایجنټ د فصل د کروندې په وخت زمیندارو ته د تخم او سرې دپاره قرض ورکوی، کله چې د زمیندارو فصل تیار شی نو زمیندار خپل مال دې کمیشن ایجنټ ته یوسی، کمیشن ایجنټ مال خرڅولو سره خپلې پیسې هم وصول کړی او کمیشن هم اخلی.

نوټ: کمیشن ایجنټ هم هغه فیصدی کمیشن وصولوی کوم چې د هر مال راوړونکی نه وصولوی که قرضه ئې ورکړې وی او که نه وی، کمیشن نه زیات وصولوی او نه کم، آیا دا جائز دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: علی محمد بلوچ لورالائی بلوچستان...۱۱ ذوالقعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: په ظاهر کې دا معامله په ﴿کل قرض جرنفعافهوربا﴾ کې داخل نه ده بلکې د سوداګرئ په اصولو کې داخل ده چې د رعایت او حسن سلوک د وجې نه خپل ګاهک زیات کړې شی. (۱) **وهوالموفق**

...بقیه ازحاشیه گذشته] وبیان العمل في استیجار الصناع والعمال......وأمّاشروط الأجرة فهي اثنان: أوّلاً أن تکون الأجرة مالاًمتقوّماًمعلوماً.

(الفقه الاسلامي وأدلّته ۳۸۲۲،۳۸۰۸: ۵ ''شروط صحة الاجارة'')

۱﴾ قال العلّامة بدرالدین العیني رحمه الله تعالیٰ: ''عن جابربن عبدالله رضي الله عنهما أنّ رسول الله ﷺ قال رحم الله رجلاً سمحاً اذاباع واذااشتریٰ واذا اقتضي......وروي الترمذي والحاکم من حدیث أبي هریرة مرفوعاً... أنّ الله یحبّ سمح البیع سمح الشراء سمح القضاء......وفي الحدیث الحضّ علي المسامحة وحسن المعاملة واستعمال محاسن الأخلاق ومکارمهاوترک المشاحة في البیع....

[بقیه برصفحه آئنده...

د محصول ادا کول یا د هغې مطالبه کول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د محصول ادا کول یا د هغې مطالبه کول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: توکل خان C/O مکان نمبر 89D/ مسجد وړور

پاړه چنار ... ۳۰ جمادی الثانیه ۱۴۰۱ھ

الجواب: بغیرد محصول د نظام نه د ښهرنظام او سهولتونه نه شی برابریدلې خو د بعض مفاسدو د وجې نه مونږ عام فتوی نه شو ورکولې. **هوالموفق**

په اډه کې د تلو راتلو ټیکس اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید یوه اډه په ټیکه باندې واخستله، اوس هغه د خپل طرف نه بعض ټیکس وصولوی مثلاً کوم ټرک چې ددې اډې نه مال وړی یا سورلۍ وړی دهغوی نه هم دا ټیکس وصولوی حال دا چې د حکومت د طرف نه دا ټیکس مقرر نه دې، آیا د زید دپاره دا زیاتی ټیکس وصولول جائز دی یانه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: شیخ عبدالمنعم مدرس مدرسه مفتاح العلوم دومیل وزیرستان

الجواب: که دا ټیکس د تلو راتلو اجرت وی نو د دې اخستل او ورکول جائز دی، خو په دې شرط چې دا اډه د حکومت اخستلې او مملوکه وی. او که دا اډه وغیره شاملات وی نو د دې ټیکس د جواز هیڅ صورت نشته (۱)

...بقیه ازحاشیه گذشته] (عمدة القاري شرح الصحیح البخاري ۱۱:۱۸۸باب السهولة والسماحة في الشراء والبیع الخ)

۱) قال حکیم الأمة رحمه الله :اگرآں زمین مملوک آں زمینداراست بطریق شرعي، پس کرایه اش گرفتن ازگزرندگان یااوربر کرایه سالانه دادن هردو جائزست .في الدرالمختار: باب مایجوز من الاجارة...[بقیه برصفحه آئنده...

الان تكون اجرة المرمة وغيرها (۱) وهوالموفق

بغیر د ضرورت شرعی نه محصول وصولول اوهغه په ټيکه باندي ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د علاقې باجوړ نواب صاحب محصول یعنی ټیکس مقرر کړو لکه چې د دیر نواب صاحب په چکدره کې ټیکس مقرر کړې دې، بیا هغه په ټيکه باندې ورکړې شوې دې، په شریعت محمدی ﷺ کې د دې ټیکس څه حکم دې؟ ځکه چې پل وغیره نه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: گل زمان زوبند والا باجوړ ټهر ... ۲۵ نومبر ۱۹۷۲ء

الجواب: بغیر د ضرورت شرعی نه داسې محصول وصولول ظلم دې. لحديث ابی داؤد، (لايدخل صاحب مكس الجنة) (۲) او د دې ټيکه حرام ده لانها اجارة فاسدة (۳) او په دې خلقو باندې خرڅول جائز دی.

...بقیه ازحاشیه گذشته] وتصحّ اجارة الأرض للبناء والغرس وسائر الانتفاعات.
واگر طریق حق عام است پس محصول گرفتن برآن حرام است.
(امدادالفتاوي ۳: ۳۹۸ ''کتاب الاجارة: راه داري مقرر کردن زمیندار'')

۱) وقال العلّامة الدكتوروهبة الزحيلي: يشترط لصحّة الاجارة شروط تتعلق بالعاقد والمعقود عليه...وهي رضاالمتعاقدين...أن يكون المعقودعليه وهوالمنفعة معلوما علما يمنع من المنازعة...أن تكون المنفعة المعقودعليهامباحة شرعًا...أن تكون المنفعة مقصودة يعتاداستيفاء هابعقدالاجارة ويجري بهاالتعامل بين الناس. (الفقه الاسلامي وأدلّته ٥: ۳۸۰۸,۳۸۲۱، شروط صحّة الاجارة)

۲) (سنن أبي داود ۲: ٤٠٨ كتاب الخراج: باب في السعاية علي الصدقة)

۳) وفي البحر: (ولايجوزعلي الغناء والنوح والملاهي)لأن المعصية لايتصور استحقاقًا بالعقد فلايجب عليه الأجرمن أن يستحق عليه.
(البحرالرائق ۸: ۲۰، باب الاجارة الفاسدة)

لأنهم يشترون مطلقاً ثم يدفعون من تلك الأموال وهوجائز (۱) صرح به العلامة الشامی فی ردالمحتار ۴:۲۱۹ وعلی هٰذا الدفع يكون من غيرهٰذا المال وكذا يكون بعد الاختلاط. فافهم. وهوالموفق

د بائع مشتري ته د شرط نه بغير كميشن وركول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه دلته د يوې کمپنۍ دپاره سودا کوم، په دې سودا باندې که دکاندار ماته د زړه نه څه رقم راکړي نو آيا دا حلال دې؟ کله چې پيسې نه وی مقرر کړې شوې چې څومره به وی؟ او که د اخستلو نه مخکې مخصوص پيسې مقرر کړې شی نو بيا به څه حکم وی؟ او که دکاندار پوره کوشش کولو سره په کم قيمت باندې سودا واخلی او په خپله خوشحالۍ سره څه ورکړي نو بيا به څه حکم وی؟

المستفتی: عبدالرحمن عباسی حالا مقيم سعودی عرب

الجواب: د دکاندار (بائع) د طرف نه دې اخستونکی ته څه پيسې وغيره ورکول ناجائز نه دی، د تاجرانو د طرف نه دا اکرام د تجارت د ترقۍ دپاره کولې شی، دا د تجارت د اصولو نه شمار کولې شی خو د دې اخستونکی دپاره اخستل هغه وخت جائز دی کله چې په باقاعده کوشش سره دا څيز واخلی، او د مخکښې نه د کميشن اخستلو شرط او نه لګوی، او زړه د طمع

(۱) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: رجل اكتسب مالاًمن حرام ثم اشتریٰ فهذاعلي خمسة أوجه: امّاان دفع تلک الدراهم الي البائع أولاًثم اشتریٰ منه بها، أواشتریٰ قبل الدفع بهاودفعها، أواشتریٰ قبل الدفع بهاودفع غيرها، أواشتریٰ مطلقاًودفع تلک الدراهم، أواشتریٰ بدراهم أخرودفع تلک الدراهم... وقال الكرخي في الوجه الأول والثاني لايطيب، وفي الثلاث الأخيرة يطيب، وقال أبوبكرلايطيب في الكل، لٰكن الفتوي الآن علي قول الكرخي دفعاًللحرج عن النّاس.

(ردالمحتار ۴: ۲۴۴ مطلب اذا اكتسب حراماً ثم اشتریٰ فهوعلیٰ خمسة أوجه)

نه خالي کړي یعنی دا فیصله وکړي چې که دا دکاندار کمیشن رانکړي نو زه به سوا د طبعي بوجهه نه د نورو څیزونو نه نۀ متاثر کیږم، ونظیره فی رد المحتار ۳۶۲/۴ فی اقسام الرشوة: ولو قضی حاجته بلا شرط ولا طمع فاهدی الیه بعد ذلك فهو حلال لا بأس به(۱) وهوالموفق

دوکیل د اخستلې شوې څیز، زیات قیمت د موکل نه په نوم د کمیشن وصولول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زید د عمرو سره په کاروبار کې شریک دې، د کاروبار نوعیت څه داسې دې چې عمرو په مختلف ادارو کې (مثلا د کالجونو، سکولونو وغیره) ضروریات (مثلا د سائنس د لیبارټرئ سامان) راوړي، او هغه د دې ادارو په لاس باندې خرڅوي، د دې څیزونو د اخستلو سامان مثلا بکر ته اوسپارلې شي، هغه د سامان سودا د عمر سره په دې شرط باندې کوی چې هغه به د سامان د قیمت لس فیصده مثلا د کمیشن په طور پریږدي، پس چې د کوم سامان قیمت عمرو نهه زره روپئ وصولوی د هغې سودا د بکر سره په نهه زره روپو کې کولو سره د لسو زرو روپو بل بکر ته ورکوی، هغه نهه زره وصولوی او بکر بل پیش کولو سره لس زره روپئ د ادارې نه وصولوی، زید وائی چې د لس فیصده کمیشن طریقه زمونږ ملګري، بکر او هم دغه شان د نورو ادارو وکیلانو ته صرف د اخستلو د ترغیب دپاره اختیارولې شي، او کله کله د عمرو سره سودا کوی خو په بل کې لیکلې شوې پیسې وصولوی نو په دې صورت کې: ۱: آیا د عمرو بکر ته زر روپئ پریښودل د رشوت په شمیره کې راځي او دا عمل جائز دې یا نه؟

---

۱) (ردالمحتار ۳۳۸: ۴ مطلب في أقسام الرشوة)
وقال ابن نجیم رحمه الله تعالی: وان طلب منه أن یسوّي أمره ولم یذکر له الرشوة وأعطاه بعدمایسوّي اختلفوافیه قال بعضهم لایحلّ له أن یأخذوقال بعضهم یحلّ وهوالصحیح لأنّه یرید مجازاة الاحسان فیحل.
(البحر الرائق ۲۶۲: ج ۶ ''کتاب القضاء'')

۲: که ناجائز وي نو د عمر دپاره په کړې شوې سودا کې به زید په پیسو وصولولو باندې ګناهګار وي یا نه؟
۳: که جائز وي نو د بکر د ادارې نه زیاتی رقم وصولول یا د بل چا په دې امر کې د تعاون کولو څه حکم دې؟ واجرکم علی الله الشکور

المستفتی: اصلاح الدین حقانی... ۲ ستمبر ۱۹۸۷ء

الجواب: ﴿لن یصلح العطاء ما افسده الدهر﴾ مونږ دهوکې او دروغ ویلو ته څنګه جائز اوایو (۱) خو که دا بکر (کاغذی کارروایئ لره برطرف کولو سره) د خپل ذات دپاره واخلی او په اداره ئې د خپل طرف نه خرڅ کړی نو په دې نیت سره به څه جواز پیدا شي. **هوالموفق**

د دلال د اجرت حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې عمر تجارت کوی خو د هغه دومره اثرورسوخ نشته چې خپل مال پخپله خرڅ کړی په دې وجه هغه خپل مال د زید په په واسطه په طور د دلالئ خرڅوی، زید دا مال بل ځای ته لیږی او بیا یې په طور د دلالئ خرڅوی، نو په دې مال سره زید او بکر دواړه دلالی اخلی، په صورت مسئوله کې آیا د زید او بکر دواړو دپاره د دلالئ اجرت اخستل جائز دی؟ حال دا چې د دواړو په فائده او نقصان کې هیڅ برخه نشته، یا د یو دپاره جائز دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی حبیب الرحمن شهباز ګړهی مردان... ۱۳ رمضان المبارک ۱۳۸۵ھ

---

۱) قال الله تعالیٰ: {وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ} (سورة الحج آیت نمبر ۳۰) وقال الله تعالیٰ: {لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ}. (سورة ال عمران آیت ۶۱)
عن أبي هريره رضي الله تعاليٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: اية المنافق ثلاث... اذاحدث كذب. (مشكوة المصابيح: ۱۷ كتاب الايمان، باب الكبائر وعلامات النفاق)
وفي البخاري قال النبي ﷺ "الخديعة في النار. (الصحيح البخاري ۱: ۲۸۷ باب النجش)

الجواب: که د اجرت او مودې تعین کړې شوې وی نو دلال ته ورکول او د هغه دپاره اخستل جائز دی او د تعین د نه کیدو په صورت کې د اعانت او مساوات په طور به اخستل ورکول جائز وی او د اجرت په طور ورکول اخستل ناجائز دی. قال فی البزازیة علی هامش الهندیة ۵:۴۸۴:الاجارة علی البیاعة لاتجوزولایطیب له الأجرمالم یذکروقتاًمعلوماًبأن استأجرتك الیوم بدرهم تشتری لی هذه الأثواب أوتبیع فانّه یجوزولایستأجره فیشتری له ماشاء ثمّ یواسیه بأجرجزاءلعمله(۱) فقط. وهوالموفق

د کورونو د ټیکس حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې د زید د استوګنې کور په پېښور کې موجود دې خو هغه د کاروبار په سلسله کې په بل ښهر کې په کرایه باندې اوسیږی آیا د اسلامی قانون په رڼا کې په دې خالی کور باندې حکومت ټیکس لګولې شی؟ او که کورونه زیات وی نو بیا ټیکس لګولې شی؟ که هغه په کرایه باندې ورکړی نو بیا د ټیکس د لګولو په باره کې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: میاں عصمت شاه دارالعلوم حقانیه... ١٦ رجب المرجب ١٤٠٥ھ

الجواب: د کور ټیکس غیر اسلامی ټیکس دې، شرعاً د دې اخستل ناجائز دی که په مسلمان باندې وی یا غیر مسلم باندې،

---

۱) (البزازیة علی هامش الهندیة ۵:۴۸۲ "کتاب الوکالة،الفصل الرابع،نوع فی المستبضع")

وفی ردّالمحتار: وفی الحاوی سئل محمّدبن سلمة عن أجرة السمسارفقال أرجوأنّه لابأس به وان کان فی الأصل فاسداًلکثرة التعامل.

(ردّالمحتار ۵:۴۴ "مطلب فی أجرة الدلال،کتاب الاجارة")

کمافی عشرشرح التنویرعلی هامش ردّالمحتار۲ : ۷۲ "ولاشئ فی داره ومقبرة ولولذمی، وفی ردّالمحتار: لأنّ عمررضی الله تعالی عنه جعل المساکن عفوًاوعلیه اجماع الصحابة(۱). والله الموفق

په سړکونو باندې د مالونو محصول نه ورکول

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې د مال محصول نه ورکول حرام دی یا حلال؟ د دې شرعا څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: کچکول شیدوا کوره.... ۱۹ جولائی ۱۹۸۶ء

الجواب: دا انتظامی امور دی، بغیر د دې نه به په سړکونو وغیره باندې په تلو راتلو کې مشکلات جوړیږی، پس د دې نه بچ کیدل د قانونی جرم نه علاوه بد اخلاقی هم ده. وهوالموفق

مشروط یا معروف کمیشن اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې کمیشن اخستل څنګه دی؟ پس د کمیشن بیوپاری ګورنمنټ (حکومت) هم د څه حده پورې جائز کړې دې او دا کمیشن ټیکیدارانو، دکاندارانو وغیره نه اخستلې شی که دا کمیشن جائز وی نو آیا بیا د دې نه صدقه او خیرات کیدې شی؟ او که ناجائز وی نو صرف د معاشرې د مجبورئ نه اخستلو سره په غریبانانو تقسیم کړې شی نو بیا به څنګه وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: ولایت شاه افیسر سپرنټنډنټ کنټونمنټ بورډ بنوں ۳۰ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

---

۱) (ردّالمحتار ۵۷ : ۲ "باب العشر، کتاب الزکاة")

قال العلّامة ابن نجیم رحمه الله تعا تعالیٰ: (قوله وداره حر) لأنّ عمررضي الله تعالیٰ عنه جعل المساکن عفوًاوعلیه اجماع الصحابة.

(البحرالرائق ۲۳۹ : ج ۲ باب العشر، کتاب الزکوٰة)

الجواب: په خوشحالئ سره مشروط یا معروف کمیشن اخستل جائز دی.

يدل عليه ما في ردّالمحتار ۴۳:۶ الطبع المصطفى البابي، وفي الحاوي سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار فقال أرجو أنه لابأس به وان كان في الأصل فاسدًا لكثرة التعامل(۱). وهو الموفق

د دلال د وکیل کیدو په صورت کې د جانبینو نه اجرت اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې دلال یا کمیشن ایجنټی یا پراپرټی ډیلر (ځمکو خرڅولو کاروباری) د خلقو جائیداد خرڅولو سره د دواړو طرفونو نه دلالی یاکمیشن والا پیسې اخستل حلال دی یا حرام؟ داسې ګڼه به د قرآن او حدیث په رڼا کې حلاله ګڼه وی که حرامه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شاهد محمد فیصل آباد ۱۲ جون ۱۹۹۰م

الجواب: که دا دلال د جانبینو وکیل او مختار وی نو صرف د یو طرف نه اجرت اخستلې شی نه د دواړو طرفو نه.(۲) او که رضاکار وی نو د یو طرف نه هم پیسې نه شی اخستلې. والله اعلم بالصواب

---

۱) (ردّالمحتار ۵: ۴۴ "مطلب في أجرة الدلال، كتاب الاجارة")
وفي الهندية: وفي الدلال والسمسار يجب أجر المثل... دفع ثوبًا اليه وقال بعه بعشرة فمازاد فهو بيني وبينك... ولو باعه باثني عشر أو أكثر فله أجر مثل عمله وعليه الفتوى.
(فتاوى هندية ۴: ۴۵۱،۴۵۰ كتاب الاجارة، الباب السادس عشر في مسائل الشيوع الخ)

۲) قال العلامة ابن عابدين: وفي الحاوي سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجو انه لابأس به وان كان في الاصل فاسداً لكثرة التعامل.
(ردالمحتار ۵: ۴۴ مطلب في اجرة الدلال، كتاب الاجارة)
وفي الخلاصة: اجرة السمسار والمنادي والحمامي والصكاك ومالاتقدير فيه للوقت ولا مقدار لما يستحق بالعقد ولكن للناس فيه حاجة جاز. (خلاصة الفتاوى ۳: ۱۱۶ جنس آخر في المتفرقات وفيه الاستيجار على المعاصي) ...[بقيه برصفحه آئنده...

د طرفینو نه کمیشن اخستل

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې زه د یو پراپرټی ډیلر (ځمکو خرڅولو کاروباری) سره په شراکت باندې کار کول غواړم، دینی لحاظ سره د قرآن او حدیث په رڼا کې زما رهنمائی وکړئ چې دا کار زما دپاره جائز ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد مدثر شاهد آزاد کشمیر... ١٤ مئی ١٩٩٠ء

الجواب: د طرفینو نه کمیشن اخستل ناجائز دی، خو د یو طرف نه اخستل جائز دی.(١) والله الموفق.

....

...بقیه ازحاشیه گذشته] وفي المنهاج: واجرة السمسار جائزة اذا کان سمسارا من جانب واحد لکن بشرط ان تکون متعینة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ٤:٥ ابواب البیوع باب ماجاء في التجار)

وقال المفتي محمد شفیع: سوال: دلالی اخستل جائزده یا نه؟ هرکله چه دلالی د مشتری نه وصولولې شی نو څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

الجواب: که د بائع یعنی د مالك په اجازت سره پخپله دلال مال خرڅوی نو دهغې اجرت او دلالی د بائع په ذمه ده او که دلالی محض کوشش کونکې او معامله کونکې دې او خرڅونکې پخپله بائع دې نوپه دې کې به د عرف او د رواج اعتبار وی، د رواج مطابق چې دچا په ذمه دلالی وی دهغه نه به اخستل جائز وی، په درمختار کې دی. واما الدلال بان باع العین بنفسه باذن ربها فاجرته علي البائع وان سعي بینهما وباع المالک بنفسه یعتبر العرف فتجب الدلالة علي البائع او المشتري او علیهما بحسب العرف جامع الفصولین، شامي لیکن جواز د مسئلې مختلف فیه دې، احتیاط په ترک کې دې، صرح به الشامي في الاجارات. (امداد المفتیین ٢:٧٠٥،٧٠٦ کتاب الحظر والاباحة، دلالی لینے کا حکم)

(١) د ماقبل مسئلې تول حواله جات اوګورئ

فتاوی یوسفیه مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

سره د حوالو او تخریجه

د پنځم جلد اجمالي فهرست

د زکوٰة مسئلې، نفلي صدقات،
د حج مسئلې، د قرباني مسئلې،
د غیرمسلم د ذبیحې حکم، د عقیقې حکم،
د حلال او حرام خاړوو مسئلې،
د دریابي ښناورو مسئلې،
د مرغانو او د هغوی د هګیو مسئلې،
د تریخي او لړي مسئلې،
د سپي مسائل، د قسم کولو مسئلې،

مؤلف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي شهید
مفتي اعظم کراچي

تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا سید شیر علي شاه مدني مدظله
شیخ الحدیث دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله
شیخ الحدیث دارالعلوم نعمانیه اتمانزئي

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه
قصه خواني بازار محله جنګي پشاور
091-2580074